بسم اللہ الرحمن الرحیم

من یرد اللہ بہ خیرا یفقہہ فی الدین

الحق الصریح

تحقیق و شرح

مشکوٰۃ المصابیح

تالیف:

فضیلۃ الشیخ ابو محمد امین اللہ البشاوری حفظہ اللہ

ترجمہ و ترتیب: ابو زهیر سیف اللہ غفرلہ



مکتبہ محمدیہ

بیرون کچی گیٹ مسگر مارکیٹ پشاور

بسم الله الرحمن الرحيم

من یرد الله به خیرا یفقهه فی الدین (الحدیث)

الحق الصریح

پښتو شرح

مشکوٰة المصابیح

تالیف:

فضیلة الشیخ ابو محمد امین الله البشاوری حفظه الله

جمع وترتیب ابو زهیر سیف الله غفرله

۸

الحمدلله په دې کتاب کښې د څلور سوه دیرشو (۴۳۰) احادیثو تشریح کړې شوې ده

مکتبہ محمدیہ

بیرون گنج گیت
منگل مارکیت
پېښور

د كتاب نوم ــــــــــــــــ الحق الصريح شرح مشكاة المصابيح (اتم جلد)

افادات ــــــــ الشيخ ابو محمد امين الله البشاوري حفظه الله ورعاه

جمع وترتيب ــــــــ از ابوزهير سيف الله غفر له شيخ آباد پشاور۔

سنۀ طباعت ــــــ ذى القعده ۱٤۳۸/۲۹ هجري الموافق : (۲۱ اگست/۲۰۱۷ء)

فن ــــــــــــــ حديث

ناشر مكتبه محمديه ګنج پېښور

د ملاوېدو پته

۱- مكتبه محمديه

بيرون ګنج ګېټ پهندو روډ منګل مارکيټ پېښور پاکستان

ولي الله :03118828402/ 03018828402 ابوسلمان : 03025953513 ابوزهير : 03075924001

۲- ايوب مكتبه واسلامي كيسټ مركز، عقب قصه خواني پېښور۔

۳- معراج كتب خانه قصه خواني بازار محله جنګي پېښور۔

٤- نوروز كتب خانه صوابي اډه پاکستان۔

۵- دار الكتاب والسنة، نيو حاجي كيمپ سلطان آباد كراچي : 03002615402

٦- مسلم كتاب پلورنځي، جلال آباد اسحاق زئي ماركيټ۔

۷- مكتبه محمديه، جلال آباد تالاشئ چوك ګمرك مسجد ترخنګ دكان نمبر ۲

بسم الله الرحمن الرحيم

۵– كِتَابُ فَضَائِلِ الْقُرْآنِ

د قرآن كريم د فضائلو بيان

د قرآن كريم مناسبت د روژو سره ډير زيات دے، د ورځے به روژه نيسے او د شپے به قرآن لولے۔

د قرآن كريم د الفاظو فضائل هم شته او په معنىٰ باندے د ځان پوهه كولو او ددے د تعليم او تعلم فضائل هم شته او بيا په هغے باندے د عمل كولو هم۔

فائده : د قرآن كريم الفاظ هم مقصود دى او معنىٰ ئے هم مقصود ده، په خلاف د نورو كتابونو چه هلته صرف معنىٰ مقصود وى۔

قانون : د قرآن كريم فضائل په دوه قسمه دى، يو فضائل د ټول قرآن دى، او بل فضائل د سورتونو دى نو په فضائلو د قرآن كى ډير زيات صحيح احاديث راغلى دى او پدے باندے مستقل كتابونه هم ليكلے شويدى او په فضائلو د سورتونو كى اكثر حديثونه موضوع او ضعيف دى صرف د يو څو سورتونو د فضائلو په باره كى حديثونه صحيح دى لكه فاتحه، بقره، آل عمران، سورة الكهف، سورة الفتح، قل يا ايها الكافرون، قل هو الله احد، قل اعوذ برب الفلق، قل اعوذ برب الناس، اذا زلزلت، التكاثر، اذا جاء او داسے بعض نور دى۔

خو د نورو سورتونو فضائل اكثر موضوع دى چه نوح بن ابى مريمؒ يو داسے اوږد حديث د ځان نه جوړ كړے چه د (۱۱٤) سورتونو فضائل ئے پكى په يو ځاى راوړيدى چا

ورته وویل: دا دې ولې جوړ کړې؟ نو هغه وویل: دا مې ځکه جوړ کړو چه خلك ((کتاب الام)) د امام شافعیؒ ته متوجه شویدی، دا اړوی راړوی نو ما اراده وکړه چه د دوئ مخونه قرآن کریم ته راواړوم،

او دا روایت عام مفسرین په خپلو تفسیرونو کې د فضائلو دپاره راوړی په هر سورت کې یوه یوه جمله راخلی او هیڅ پرواه ئې نهٔ لری نو دا ډیر لوی تساهل دې لکه دا کار تفسیر د ثعالبی، کشاف د زمخشری، تفسیر کبیر، تفسیر الدر المنثور د سیوطیؒ، البیضاویؒ، واحدیؒ وغیره. بعض غټ خلك وی خو خبرې ته ئې فکر نهٔ وی، ډیره پرواه ورسره نهٔ وی.

قرآن: دا په معنیٰ د قراءت سره دې مصدر په معنیٰ د مفعول سره یعنی مقروء. یعنی هغه کتاب چه د لوستلو لائق دې، وروکې کتاب نهٔ دې.

یا د فُعلان وزن دې د قراءت نه په معنیٰ د جمع سره دې ځکه چه ددې سورتونه راجمع دی او پدې کې مختلف قسم علوم راجمع دی.

د قرآن تعریف او نومونه او ددې نور تفصیلات زمونږ په کتاب ((اصول التفسیر وعلوم القرآن)) کې وګورئ.

الفصل الأول

- 2109(1) عَنْ عُثْمَانَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: "خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه: سیدنا عثمان بن عفان ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: غوره په تاسو کې هغه څوك دې چه قرآن زده کړی او بل ته ئې وښائی. (بخاریؒ)

تشریح: لکه څنګه چه قرآن کریم او ددې علوم د دنیا د ټولو کتابونو او علومونه اُوچت او غوره دی نو دغه شان د قرآن کریم د علومو زدهٔ کونکې او بیا بل ته خودونکې هم د ټولو خلکو نه ډیر اُوچت او غوره دې.

د قرآن زدهٔ کونکې او بل ته خودونکې ځکه ډیر غوره دې چه دهٔ دوه فائدې راجمع کړې، د خپل ځان او د بل، پدې وجه دا ډیر غوره شو په نسبت د هغه چا چه قرآن ئې زده کړې وی او بل ته ئې نهٔ بیانوی. بیا د قرآن کریم ددې تعلیم نه مراد یواځې الفاظ خودل نهٔ

دى بلكه ددے مسائل او ددے علوم زدهٔ كول او خودل ټول مراد دى بلكه همدا ئے اصل مراد دے، ځكه چه ددے حديث اول مخاطبين هغه كسان وو چه هغوى فقهاء اهل اللسان وو، هغوى د قرآن كريم معانى په سليقه سره پيژندلے۔

او د (خَيْرُكُمْ) معنىٰ دا نهٔ ده چه دا انسان په ټول عالَم كى د هر چا نه غوره دے بلكه معنىٰ دا چه دا هم په غوره خلكو كى شمار دے لكه په احاديثو كى (خَيْرُكُمْ) د ډيرو خلكو دپاره استعمال شويدے نو دا اعتراض نهٔ واردېږى چه كوم يو د ټولو نه زيات غوره شو۔

دارنګه دے سره به دا خبره هم واخلے چه قرآن زدهٔ كونكے او بل ته خودونكے غوره صفت والا دے ترڅو پورے چه ددے سره بل شے معارض نهٔ وى راغلے لكه يو انسان قرآن هم وائى او بيا منكرات هم كوى نو دا منكرات دهٔ لره د خيريت نه راغورزوى، يا دا چه د قرآن زدهٔ كول او بل ته خودل سره د لحاظ د عمل نه مراد دى ورنه كه څوك د قرآن لحاظ نهٔ ساتى او عمل پرے نهٔ كوى نو دا په جاهلانو كي شمار دے۔

مګر حقه خبره دا ده چه دلته مقصد دا دے چه دا عمل انسان لره غوره ګرځوى قطع نظر د نورو څيزونو نه۔ نو قرآن كريم سره تعلق ساتلو سره بنده په غوره خلكو كى شمارلے كيږى۔ يا دا چه په ټولو فضائلو كى قيد د مانع مراد وى يعنى دا فضيلت به ورته حاصل وى كله چه مانع نهٔ وى موجود۔

په بخارى كى راغلى دى ابوعبد الرحمن السلمى رحمه الله فرمائى : دے حديث زهٔ كينولے يم چه خلكو ته قرآن بيان كرم نو دهٔ به په زمانه د خلافت د عثمان ﷺ كى تر زمانے د حجاج پورے بل ته قراء ت كولو د وجه ددے حديث نه ځكه چه دے انسان ته خير والا وئيل شويدے۔ (بخارى : ۵۰۲۷)

د بخارى په يوه نسخه كى د يو روايت داسے الفاظ دى : (اَوْ عَلَّمَهٗ) يعنى په (اَوْ) سره ذكر دے، نو بيا د نفس يادولو او ځان پو هه كولو فضيلت هم ثابت شو، اګركه دواړه ئے نهٔ وى جمع كړى وكذا فى مسند احمد رقم (۴۱۲)

- 2110 (2) وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: خَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَنَحْنُ فِى الصُّفَّةِ فَقَالَ : اَيُّكُمْ يُحِبُّ اَنْ يَغْدُوَ كُلَّ يَوْمٍ اِلٰى بُطْحَانَ اَوِ اِلَى الْعَقِيْقِ فَيَاْتِيَ مِنْهُ بِنَاقَتَيْنِ كَوْمَاوَيْنِ فِى

غَيْرِ إِثْمٍ وَلَا قَطْعِ رَحِمٍ؟". فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ نُحِبُّ ذٰلِكَ قَالَ : "أَفَلَا يَغْدُوْ أَحَدُكُمْ إِلَى الْمَسْجِدِ فَيُعَلِّمُ أَوْ يَقْرَأُ آيَتَيْنِ مِنْ كِتَابِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ خَيْرٌ لَهُ مِنْ نَاقَةٍ أَوْ نَاقَتَيْنِ وَثَلَاثٌ خَيْرٌ لَهُ مِنْ ثَلَاثٍ وَأَرْبَعٌ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَرْبَعٍ وَمِنْ أَعْدَادِهِنَّ مِنَ الْإِبِلِ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سیدنا عقبه بن عامر ﷺ فرمائی : مونږ ته رسول الله ﷺ راووتو او مونږ په (صفه) چبوتره کې ناست وو نو وې فرمایل: کوم یو په تاسو کې دا خوښوی چه هره ورځ سهار کې بطحان یا عقیق علاقې ته لاړ شي او د هغې نه د دوه غټو قبونو والا اُوښې راولی بغیر د ګناهګاریدو او بغیر د قطع رحمئ نه۔ نو مونږ ووېل یا رسول الله ! مونږ دا غواړو۔ وې فرمایل: آیا یو تن ستاسو سهار کې مسجد ته نۀ ځی چه یاد کړی یا ولولی دوه آیتونه د الله عز وجل د کتاب نه دا بهتر ده دۀ لره د یوې اُوښې یا د دوه اُوښو نه او درې آیتونه دۀ لره بهتر دی د درې اُوښو نه او څلور آیتونه دۀ لره بهتر دی د څلورو اُوښو نه او ددې (آیتونو) په شمار د اُوښانو نه بهتر دی۔ (مسلمؒ)

تشریح : وَنَحْنُ فِي الصُّفَّةِ : صفه د سورې والا چبوتره وه چه د مسجد نبوی په یو طرف کې جوړه شوې وه او هغه مهاجرین صحابه کرام چه د هغوی نۀ کور وو او نۀ ئې ښځه او بچې وو او د الله بندګی به ئې کوله نو هغوی به په همدې ځای کې وسیدل او د رسول الله ﷺ نه به ئې دین زدۀ کولو او د دین په خدمت کې به ئې وخت تیرولو او مسجد نبوی اوله مدرسه او تربیتی مرکز او درسګاه وه۔

بُطْحَانَ : دا مدینې ته نزدې یو خوړ دې، دغه شان عقیق هم د یو ځای نوم دې چه د مدینې په مضافاتو کې دې، تقریباً درې څلور میله جدا دې پدې دواړو ځایونو کې به په هغه زمانه کې بازار لګیدو چه هلته به د اُوښانو اخستل خرڅیدل کیدل۔

دلته نبی علیه السلام په ډیر ناشنا انداز باندې صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین ته د هغه شي ترغیب ورکړو چه هغه همیشه باقی پاتې کیدونکې دې او د هغه شي نه ئې نفرت ورکړو چه هغه د دنیا په لحاظ اګرکه ډیر قیمتي وی لیکن د مآل او انجام په اعتبار سره فناء او ختمیدو والا دې،

او چونکه اُوښان عربو ته ډیر قیمتي وو ځکه ئې دا په مثال کې ذکر کړل ورنه د دنیا د

هر ...ی نه د الله د کتاب لوستل ډیر بهتر دی۔

كَوْمَاوَيْنِ : تثنیه ده کوماء ده، [اَیِ الْعَظِيْمَةِ السَّنَامِ] یعنی لوی قوبونو والا۔ گوم په اصل کی اُوچت ځای ته وائی دلته ئې تشبیه په غټ والی کی ده۔ یعنی لوی او چاقې اُوښانې۔

وَمِنَ أَعْدَادِهِنَّ مِنَ الْإِبِلِ : دا جمع د عدد ده او (من الابل) د هغې بیان دے۔ نو ددے بیا دوه مطلبه دی (۱) یو دا چه دا د محذوف سره لګی یعنی : زیات د څلور آیتونو نه غوره دی د شمار ددے د اُوښانو نه، او پنځه آیتونه غوره دی د شمار د پنځو اُوښانو نه۔ او دغه شان پسے ورځه۔

(۲) دویم مطلب دا دے چه دوه آیتونه غوره دی د دوه اُوښو مؤنثو نه او د هغې په شمار د دوه اُوښانو نه او درے آیتونه د درے مؤنثو اُوښو نه او ددے په شمار د مذکر اُوښانو نه غوره دی۔ حاصل دا چه دوه آیتونه د دوه مذکر او د دوه مؤنثو اوښانو نه غوره دی او دغه شان وریسے ورځه۔ او ددے وجه دا ده چه د قرآن تلاوت په دنیا او آخرت کی دومره لویه فائده کوی چه هغه په اوښانو کی نشته۔

- 2111 (3) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: "أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ إِذَا رَجَعَ إِلٰى أَهْلِهِ أَنْ يَّجِدَ فِيْهِ ثَلَاثَ خَلِفَاتٍ عِظَامٍ سِمَانٍ". قُلْنَا: نَعَمْ. قَالَ : "فَثَلَاثُ آيَاتٍ يَقْرَأُ بِهِنَّ أَحَدُكُمْ فِيْ صَلَاتِهٖ خَيْرٌ لَهٗ مِنْ ثَلَاثِ خَلِفَاتٍ عِظَامٍ سِمَانٍ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: آیا په تاسو کی یو تن دا خوښوی چه کله خپل کور والو ته واپس شی چه هلته کی درے حمل والا غټې څربې اُوښې مونده کړی؟ مونږ وویل : آؤ، وے فرمایل : نو درے آیتونه چه دا په تاسو کی یو تن په خپل مانځه کی ولولی دا غوره ده دهٔ لره د درے اُوښو غټو څربو نه۔ (مسلمؒ)

تشریح : خَلِفَاتٍ : په زبر د خاء او زیر د لام سره حاملو اُوښو ته وائی۔ او دا عربو ته ډیر عزتمند مال وو۔ ځینی وائی خَلِفَه هغه حاملې اُوښې ته وائی چه په هغې باندے نیمائی موده تیره شوی وی د هغې نه پس ورته عُشَرَاء وائی۔

عِظَامٍ : یعنی چه لوی وی په قیمت کی۔ (سمان) چه غوښې او وازده پکی زیاته وی۔
ددے نه معلومه شوه چه قرآن کریم په مانځه کی لوستلو کی د بهر د مانځه په نسبت زیات اجر لري۔

- 2112 (4) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :" اَلْمَاهِرُ بِالْقُرْآنِ مَعَ السَّفَرَةِ الْكِرَامِ الْبَرَرَةِ وَالَّذِیْ یَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَیَتَتَعْتَعُ فِیْهِ وَهُوَ عَلَیْهِ شَاقٌ لَهٗ أَجْرَانِ " مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ

ترجمه : او ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : هغه شخص چه په قرآن کی ماهر وی د هغه ملائکو سره به وی چه سفیران دی عزتمند دی، نیکان دی او هغه شخص چه قرآن لولی او د هغے په لوستو کی ترتړ کوی (یعنی ژبه ئے پرے کار نهٔ کوی) او هغه په دهٔ باندے مشقت وی د هغه دپاره دوه اجره دی. (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : "اَلْمَاهِرُ بِالْقُرْآنِ : د قرآن د مهارت نه مراد یا مضبوط یادول یا غوره طریقے سره بغیر د انختلو نه الفاظ لوستل یا دواړه مراد دی۔

امام نوویؒ وائی : ماهر، هغه کامل حفظ والا چه په قراء ت کی نهٔ ایساریږی او قرائت پرے گران نهٔ وی ځکه چه مضبوط ئے یاد کړے او پوخ کړے ئے وی۔

السَّفَرَةِ : جمعه د سَافِرٌ ده استازی ته وائی ددے نه مراد هغه ملائك دی چه خلکو ته د الله تعالیٰ پیغامات رارسوی، یا ددے نه مراد هغه ملائك دی چه د لوح محفوظ سره تعلق لرونکی دی لکه الله فرمائی: ﴿ بِاَیْدِیْ سَفَرَةٍ كِرَامٍ بَرَرَةٍ ﴾ عبس:۱۵)

او دوی ته سفیران ځکه وائی چه دوی د الله تعالیٰ کتابونه او پیغامات انبیاؤ ته رانقل کوی۔

ځینی وائی ددے نه مراد هغه ملائك دی چه د بندگانو د عملونو په لیکلو باندے مامور دی۔

او د قرآن ماهر به ددے ملائکو سره څنگه وی ؟ یعنی الله تعالیٰ ته به په نزدیکت او تقرب کی ددے ملائکو په شان وی چه دا الله تعالیٰ ته ډیر نزدے دی۔

یا مطلب دا چه دا به په آخرت کی ددے ملائکو سره ملگری وی۔

قاضي عياضؒ وائي : دا احتمال هم شته چه مطلب دا وي چه دے به د ملائکو سره وي يعني دهٔ لره به په آخرت کې داسے ځايونه او مقامات وي چه دے به په هغے کې د ملائکو ملګرے وي ځکه چه دهٔ کې هم ددے ملائکو په شان صفت راغلے دے چه د الله کتاب ئے پورته کړيدے او ياد کړے ئے او بيا ئے لولي او دا طريقه بعينه د ملائکو ده نو تشبه بالملائکه راغله او (مَنۡ تَشَبَّهَ بِقَوۡمٍ فَهُوَ مِنۡهُمۡ) قاعده ده۔

يا لکه څنګه چه ملائك د وحي امينان دي د الله په کتاب، انبياؤ ته د الله تعالىٰ دغه وحي وړاندے کوي او هغوي باندے چه کوم ځاى کې التباس راځي نو هغه ورته تشريح کوي نو دغه شان دا ماهر هم دے چه امت ته د الله د کتاب حقائق او رازونه راښکاره کوي۔ (توربشتيؒ)

وَيَتَتَعۡتَعُ فِيۡهِ : تَعۡتَعَهُ په تلاوت کې تړ تړ او ګوډ کيدو ته وائي يعني تلاوت کې ژبه انښتل يا په تلاوت کې تلل راتلل او ښوے نهٔ وئيل ځکه چه پوره ئے ياد نهٔ وي يا په لوستلو کې ئے مهارت نهٔ وي او ژبه ئے پرے نهٔ اوړي۔ نو ددهٔ دوه اجره دي يو اجر د قرآن لوستلو او دويم ددے مشقت برداشت کولو۔

او پدے کې د قرآن په لوستلو باندے تيزي ورکوي چه اګرکه بنده ته پکې تکليف هم وي بيا ئے هم لوستل پکار دي دوه اجره ورته ملاويږي او ماهر ته خو بيشماره اجرونه دي۔ ځکه چه دهٔ دا مشقتونه مخکې برداشت کړيدي او پکې ماهر شويدے۔ او دا دوه اجرونه علاوه دي د هغه لس نيکيو نه چه هر لفظ باندے لوستونکې ته ملاويږي۔

فائده : کافران خلکو ته وسوسے اچوي چه قرآن مهٔ لولئ غلط به شئ نو کفر ته ورسيږئ، مګر رسول الله ﷺ فرمائي که خطا کيږے هم اجر درته ملاويږي، خو دا هله چه انسان د الفاظو په صحيح لوستلو قادر نهٔ وي۔ ———————

- 2113 (5) وَعَنِ ابۡنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنۡهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُوۡلُ اللهِ ﷺ :" لَا حَسَدَ إِلَّا عَلَى اثۡنَيۡنِ : رَجُلٍ آتَاهُ اللهُ الۡقُرۡآنَ فَهُوَ يَقُوۡمُ بِهِ آنَاءَ اللَّيۡلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ وَرَجُلٍ آتَاهُ اللهُ مَالًا فَهُوَ يُنۡفِقُ مِنۡهُ آنَاءَ اللَّيۡلِ وَآنَاءَ النَّهَارِ" مُتَّفَقٌ عَلَيۡهِ ———————

ترجمه : او سيدنا ابن عمر رضى الله عنهما فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : نشته پسخيدل مګر په دوه څيزونو باندے يو هغه شخص چه الله تعالىٰ ورته قرآن ورکړے وي

نو هغه په هغې سره د شپې او د ورځې په وختونو کې ودریږي او بل هغه سړے تعالیٰ ورته مال ورکړے وي نو دے د هغې نه د شپې په وختونواو د ورځې په وختونو کې (د الله په لاره کې) خرچه کوي. (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشریح : د حسد نه مراد غبطه ده او ددے حدیث مطلب په کتاب العلم کې تیر شویدے چه دے دوه قسمه کسانو ته پسخیدل اجر لري ځکه چه دا دوه کسان ډیر اُوچت عملونه کوي، یو بدني او بل مالي عبادت کوي. او نورو څیزونو کې پسخیدل به کله مستحب وي چه کله دغه شے د طاعت او د نیکۍ وي او کله به جائز وي چه د دنیاوی جائز کارونو غبطه کوي او کله به حرام وي چه د ګناه او ناروا کارونو ته پسخیږي، زیاته تشریح ئے هلته وګورئ. او پدے پسخیدو کې به شرط دا وي چه بیا به د هغه په شان کارونو کوشش کوي.

فائده : (یقوم به) کې اشاره ده چه سنت دا ده چه په مانځه کې قرآن ولوستل شي، او په غیر د مانځه نه هم صحیح دے.

- 2114 (6) وَعَنْ أَبِیْ مُوْسَی الْأَشْعَرِیِّ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: "مَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِیْ یَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ الْأُتْرُجَّةِ رِیْحُهَا طَیِّبٌ وَطَعْمُهَا طَیِّبٌ وَمَثَلُ الْمُؤْمِنِ الَّذِیْ لَا یَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ التَّمْرَةِ لَارِیْحَ لَهَا وَطَعْمُهَا حُلْوٌ وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِیْ لَا یَقْرَأُ الْقُرْآنَ كَمَثَلِ الْحَنْظَلَةِ لَیْسَ لَهَا رِیْحٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ وَمَثَلُ الْمُنَافِقِ الَّذِیْ یَقْرَأُ الْقُرْآنَ مَثَلُ الرَّیْحَانَةِ رِیْحُهَا طَیِّبٌ وَطَعْمُهَا مُرٌّ". مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ، وَفِیْ رِوَایَةٍ: "اَلْمُؤْمِنُ الَّذِیْ یَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَیَعْمَلُ بِهٖ كَالْأُتْرُجَّةِ وَالْمُؤْمِنُ الَّذِیْ لَا یَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَیَعْمَلُ بِهٖ كَالتَّمْرَةِ" مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ

ترجمه : او سیدنا ابو موسیٰ اشعري ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمایل: مثال د هغه مؤمن چه قرآن لولي په شان د ترنج دے چه بوئي ئے مزیدار دے او خوند ئے (هم) مزیدار دے. او مثال د هغه مؤمن چه قرآن نۀ لولي په شان کجورے دے چه د هغې خوشبوئي نشته او خوند ئے خوږ (مزیدار) دے او مثال د هغه منافق چه قرآن نۀ لولي په شان د مرغونې (ترخې هندوانې) دے چه د هغې نۀ بوئي شته او خوند ئے تریخ دے. او مثال د هغه منافق چه قرآن لولي په شان د کشمالي دے چه بوئي مزیدار دے او خوند ئے

تریخ دے۔ (بخاریؒ ومسلمؒ) او په یو روایت کې دي : هغه مؤمن چه قرآن لولي او په هغې عمل کوي په شان د ترنج دے او هغه مؤمن چه قرآن نهٔ لولي او په هغې عمل کوي په شان د کجورې دے۔

تشریح : اُلْاُتْرُجَّةِ : ترنج ته وائی چه دا د مالټې په شان میوه ده چه عربو ته ډیره خوښه وه۔

پدې حدیث کې د فضیلت خبره هم ده او د تخویف هم، د فضیلت خبره خو دا شوه چه قرآن لوستو کې خامخا خیر شته که انسان مؤمن وي نو هغه کې خو ډیر کمالات راجمع کوي، ډ ترنج په شان فائده مند ئې ګرځوي او که منافق ئې لولي هم کشمالې ترې جوړوي چه بل ته به خوشبوئي ورکوي اګر که خپله به تریخ وي۔

او د تخویف خبره پکې دا ده چه هر قرآن لوستونکے مؤمن نهٔ وي، منافق هم کیدے شي، نو د قرآن تلاوتونه، ختمونه او درسونه کول دا یواځې دلیل نهٔ دے چه انسان به مؤمن او نیك عمله او بزرګ وي ترڅو چه دا نور نیك عملونه ورسره ملګري نهٔ وي۔

د ریح نه مراد ظاهري خوشبوئي ده چه ددهٔ د خولې نه راوځي ځکه قرآن وائي۔ او د طعم نه مراد باطني اعمال او اخلاق دي۔

یعني داسے مؤمن چه قرآن ئې لوستلے وي او په هغې ئې عمل کړے وي نو د هغه سره چه کینې نو د خولې نه به ئې ښې خبرے آورے او چه باطني اعمال ئې وګورے نو هغه به هم د کمال نه ډك وي اخلاق به ئې برابر وي چا ته ضرر نهٔ ورکوي، فسق او فجور پکې نهٔ وي۔

او هغه مؤمن چه قرآن ئې نهٔ وي لوستلے نو د هغه فائده خو بل چا ته نهٔ رسي لیکن که ورسره کیناستے نو عمل ئې برابر وي، مونځ کوي، د الله ذکر کوي، د حلالو او حرامو تمییز کوي چا ته تکلیف او ضرر نهٔ ورکوي اخلاق ئې برابر دي۔ نو د قرآن کریم په معنیٰ پسے روان دے چه د هغې په احکامو باندے عمل کوي ځکه چه د قرآن کریم مقصد په همدے حکمونو باندے عمل کول دي او هغه دهٔ کې شته۔

او منافق چه قرآن نهٔ وي وئیلے داسے دے لکه د مرغونې (ترخې هندوانې) په شان چه چا ته ئې فائده نهٔ رسي او خپل عملونه ئې هم ټیك نهٔ دي او که ته ورسره ډیر کیناستے نو تکلیفونه به درکړي ځکه چه مرغونې چه انسان زیات وخوري نو په بنده باندے

دستونه لګوي۔ نو دے کې اشاره ده اختلاط ته چه د هندګانو سره اختلاط بعض دومره ضرر لري لکه د زهرو په شان او بعض د ترخے دوائي په شان او بعض کم ضرر لري او بعض زیات۔

او دے ته هم اشاره شوه چه قرآن کریم د انسان په باطن او ظاهر دواړو باندے اثر کوي او بندګان پدے باره کې مختلف دي۔

او پدے حدیث کې نبي ﷺ د بلاغت نه ډك كلام كړيدے چه څلور قسمه کسان ئے ذکر کړیدي او د هغے تشبیه ئے د دغه څلور قسمه څیزونو سره ورکړیده چه پدے سره پوره وضاحت کیږي او معنوي شے د محسوس په شان ګرځي۔

- 2115 (7) وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: "إِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتَابِ أَقْوَامًا وَيَضَعُ بِهِ آخَرِيْنَ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سیدنا عمر بن خطاب رضي الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمایل : یقیناً الله تعالیٰ پدے کتاب (قرآن) سره ډیر خلك پورته کوي او پدے سره نور خکته کوي۔ (مسلم)

تشریح : دا روایت عمر فاروق رضي الله عنه په یوه موقعه کې وئیلے دے چه د هغے تفصیل په صحیح مسلم رقم (۱۹۳٤) کې ذکر دے چه عامر بن واثلة وائي : نافع بن عبد الحارث د عمر فاروق رضي الله عنه سره په عُسفان علاقه کې ملاؤ شو،

(چه دا د مکے نه په شمالي طرف باندے اتیا کیلو میټره جدا علاقه ده)

او عمر فاروق رضي الله عنه دۀ له په مکه باندے ګورنر مقرر کړے وو نو تپوس ئے ترے وکړو چه تا په اهل البوادي (بانډو والا باندے) څوك مشر کړیدے؟ نو هغۀ ووېل : ابن ابزیٰ۔

عمر رضي الله عنه ووېل : ابن ابزیٰ څوك دے ؟ هغۀ ووېل : دا زمونږ د غلامانو نه یو غلام دے۔

عمر رضي الله عنه ووېل : تا په دوي باندے یو غلام مشر کړیدے۔ هغۀ ووېل : دا د الله تعالیٰ د کتاب قاري (لوستونکے) دے، او په میراثو (یا احکام شرعیو) باندے پوهه لري۔

عمر رضي الله عنه ووېل : ستاسو نبي ﷺ فرمایلي دي : إِنَّ اللهَ يَرْفَعُ بِهٰذَا الْكِتَابِ الخ۔ الله تعالیٰ پدے کتاب باندے ډیر خلك پورته کوي او ډیر پرے ذلیله کوي۔الخ یعني دا د نسب په

لحاظ ډیر ښکته شخص دے لیکن د الله کتاب دومره مرتبه ورکړه چه په خلکو گورنري کوی،

ددے وجه نه علماء کرامؒ وائی چه څوك کم نسب والا وی او غواړی چه برتری او تفوق حاصل کړی نو د الله کتاب دے زده کړی ځکه چه دا کتاب خلك پورته کوی۔ او د قریشو په شان لوی نسب والا مشرکان ئے ذلیله کړل ځکه چه دا کتاب ئے شاته گوزار کړو۔

- 2116 (8) وَعَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ أَنَّ أُسَيْدَ بْنَ حُضَيْرٍ قَالَ: بَيْنَمَا هُوَ يَقْرَأُ مِنَ اللَّيْلِ سُورَةَ الْبَقَرَةِ وَفَرَسُهُ مَرْبُوطَةٌ عِنْدَهُ إِذْ جَالَتِ الْفَرَسُ فَسَكَتَ فَسَكَنَتْ فَقَرَأَ فَجَالَتِ الْفَرَسُ فَسَكَتَ فَسَكَنَتِ الْفَرَسُ ثُمَّ قَرَأَ فَجَالَتِ الْفَرَسُ فَانْصَرَفَ وَكَانَ ابْنُهُ يَحْيَى قَرِيبًا مِنْهَا فَأَشْفَقَ أَنْ تُصِيبَهُ فَلَمَّا أَخَّرَهُ رَفَعَ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ فَإِذَا مِثْلُ الظُّلَّةِ فِيهَا أَمْثَالُ الْمَصَابِيحِ فَلَمَّا أَصْبَحَ حَدَّثَ النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَ: "اقْرَأْ يَا ابْنَ حُضَيْرٍ اقْرَأْ يَا ابْنَ حُضَيْرٍ!". قَالَ فَأَشْفَقْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَنْ تَطَأَ يَحْيَى وَكَانَ مِنْهَا قَرِيبًا فَرَفَعْتُ رَأْسِي فَانْصَرَفْتُ إِلَيْهِ وَرَفَعْتُ رَأْسِي إِلَى السَّمَاءِ فَإِذَا مِثْلُ الظُّلَّةِ فِيهَا أَمْثَالُ الْمَصَابِيحِ فَخَرَجْتُ حَتَّى لَا أَرَاهَا قَالَ: "وَتَدْرِي مَا ذَاكَ؟" قَالَ لَا قَالَ: "تِلْكَ الْمَلَائِكَةُ دَنَتْ لِصَوْتِكَ وَلَوْ قَرَأْتَ لَأَصْبَحَتْ يَنْظُرُ النَّاسُ إِلَيْهَا لَا تَتَوَارَى مِنْهُمْ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَاللَّفْظُ لِلْبُخَارِيِّ وَفِي مُسْلِمٍ: "عَرَجَتْ فِي الْجَوِّ" بَدَلَ "خَرَجْتُ عَلَى صِيغَةِ الْمُتَكَلِّمِ"

ترجمه : او سیدنا ابوسعید خدری ﷺ فرمائی : اُسید بن حضیر (ﷺ) وفرمایل: چه هغه (یعنی اُسید پخپله) د شپے پ یوه حصه کی سورة البقره (په مانځه کی) لوستله او د هغه اس د هغه په خوا کی تړلے شوے وو (نو) ناڅاپه اس تاو راتاو شو (تندکونه ئے ووهل) نو اُسید غلے شو۔ نو اس (هم) په آرام شو۔ بیا ئے قراء ت شروع کړو بیا اس تهوپونه ووهل نو اسید سلام وګرځولو۔ (ځکه) چه د هغه (ماشوم) ځوی یحیی اس ته نزدے وو نو هغه ویریدو چه اس هغه ته مصیبت ونهٔ رسوی هرکله ئے چه ځوی روستو کړو نو آسمان طرفته ئے سر پورته کړو نو په دغه وخت کی د وریځے په شان یو شے وو چه

په هغې کې د ډیوو په شان رڼاګانې وې نو هرکله ئې چه صبا کړو نبي کریم ﷺ ته ئې دا قصه بیان کړه، نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: اې اُسیده! ته لوله۔ (یعنی تا به لوستلې) هغه وویل: یا رسول الله! زهٔ ویریدم چه یحییٰ باندې به (اس) خپې کیږدي ځکه چه یحیی دې اس ته نزدې (پروت) وو نو زهٔ د مانځه نه هغه ته راوګرځیدم او سر مې آسمان طرفته پورته کړو نو دغه وخت د وریځې په شان یو شې وو چه په هغې کې د ډیوو په شان رڼاګانې وې نو زهٔ (د تحقیق د حال دپاره د کور نه بهر) راووتم تردې چه ما ته هغه په نظر رانغلې۔ نبي کریم ﷺ وفرمایل: آیا ته پو هیږې چه دا څه وو؟ هغه عرض وکړو: نهٔ، وې فرمایل: دغه ملائك وو چه ستا آواز ته رانزدې شوي وو او که تا قراء ت جاري ساتلې وې نو دې به صبا کړي وې (یعنی صبا پورې به موجود وې) چه خلکو به ورته کتلې او د هغوی نه به نهٔ پټیدلې۔ (بخاريؒ ومسلمؒ) او الفاظ د بخاري دي او په روایت د مسلم کې د (فخرجت) متکلم صیغې په ځای (عَرَجَتْ في الجو) یعنی هغه شې د آسمان او د زمکې ترمینځ په هوا کې وختلو) الفاظ راغلي دي۔

تشریح : اُسَید بن حُضَیر ډیر کرامت والا صحابي دې۔ د قرآن کریم ښائسته لوستونکې وو ځکه ورته ملائك راکوز شوي وو۔

الظُّلَّةِ : څپر ته وائي۔

فَجَالَتِ : اس به پدې وجه تندکونه وهل چه دغه ملائك ئې لیدلي وو چه د قرآن د آوریدو دپاره راغلي وو نو اس د هغې نه یریدو او کله چه به هغه پورته شو نو اس به په آرام کیدو۔

أَخَّرَهٔ : دا ضمیر (یحیی) ته راجع دې یعنی هرکله چه اسید بن حضیر خپل ماشوم ځوي یحیی ددې اس نه روستو (وړاندې) کړو۔

اِقْرَأْ يَا ابْنَ حُضَيْرٍ : یعنی تا له پکار وو چه تا دا قراء ت همیشه کولې نو همیشه به دا سکینه ستا په خوا کې موجوده وې تردې چه خلکو به هم لیدلې وې، ددې نه معلومیږي چه دې صحابي به ډیر په جذبه او محبت او خشوع سره دا قرآن کریم لوستلو ځکه ورته الله تعالیٰ داسې کرامت ورکړو۔

دَنَتْ لِصَوْتِكَ : په روایت د ابوعبیدؒ کې دي چه اُسید بن حضیر ښائسته آواز والا وو او په روایت د اسماعیلي کې دي چه نبي علیه السلام اسید ته وویل: اې اُسیده! قرآن

لوله څکه چه تا ته د داود ﷺ په شان خوږ آواز درکړے شویدے۔ دا وجه وه چه ملائکو هم ورته غوږ ایخودے وو۔

فوائد الحديث : ١- معلومه شوه چه د صحابه کرامو مونځونه د ډیرے خشوع والا وو چه په مانځه کې ئے بره نۀ کتل بلکه چه سلام ئے وګرځولو نو پورته ئے وکتل پدے وجه درے کرته ئے قراءت په جهر کړے بیا په مینځ کې په آرام شویدے او د اول نه ئے بره نۀ دی کتلی۔

(۲) او دا هم معلومه شوه چه د شپے په مانځه کې جهر کول جائز بلکه افضل دی۔ او الله تعالىٰ ته د بندګانو اعمال ډیر خوښ وی چه ملائك د هغے آوریدو ته راکوزوی۔

(۳) کرامت د اولياؤ حق دے۔ (٤) د ملائکو لیدل ممکن او واقع دی۔

- 2117 (9) وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ ﷺ قَالَ : كَانَ رَجُلٌ يَقْرَأُ سُوْرَةَ الْكَهْفِ وَإِلَى جَانِبِهِ حِصَانٌ مَرْبُوطٌ بِشَطَنَيْنِ فَتَغَشَّتْهُ سَحَابَةٌ فَجَعَلَتْ تَدْنُوْ وَتَدْنُوْ وَجَعَلَ فَرَسُهُ يَنْفِرُ فَلَمَّا أَصْبَحَ أَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَ: "تِلْكَ السَّكِينَةُ تَنَزَّلَتْ بِالْقُرْآنِ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا براء بن عازب ﷺ فرمائي: يو سړی سورة کهف لوستلو او د هغه اړخ ته اس په دوه رسو (پړو) باندے تړلے شوے وو نو د هغه دپاسه وریځه راغله نو هغه همداسے لړه لړه رانزدے کیده او ددۀ اس به د هغے نه تریدو نو هرکله چه دۀ صبا کړو نبی کریم ﷺ ته ئے تشریف راوړو او دا قصه ئے ورته ذکر کړه نو هغه وفرمایل: دا هغه سکینه وه چه د قرآن کریم د لوستلو په وجه راکوزه شوے وه۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشريح : رَجُلٌ : ددے سړی نه ظاهر دا ده چه اسید بن حضیر مراد دے لکه مخکی روایت کی ذکر شو لیکن هلته دی چه دۀ سورة البقره لوستله او دے روایت کی دی چه دۀ سورت کهف لوستلو، نو حافظ عسقلانیؒ وائی چه ظاهر دا ده چه دا دوه مختلفے واقعے دی۔ او دغه شان قصه د ثابت بن قیس بن شماس ﷺ سره هم راغلے وه لیکن په هغے کی هم د سورتِ بقرے لوستل ذکر دی۔ او هغه ابوداودؒ په طریقه د ارسال باندے ذکر کړیده۔ نبی ﷺ ته ذکر شو چه آیا تۀ ثابت بن قیسؓ ته نۀ ګورے چه بیګاه شپه د

هغه کور په ډيوو باندې پرقيدو نو نبي عليه السلام وفرمايل : کيدې شي چه هغه به سورت بقره لوستلي وي نو د هغۀ نه تپوس وشو، هغۀ ووېل ما سورتِ بقره لوستله۔

حافظ ابن حجرؒ وائي چه ممکن ده چه دۀ سورت بقره او سورت کهف دواړه لوستلي وي، يائې د هريو نه څه نا څه حصه لوستلي وي،آه۔

حِصَانٌ : دا عزتمند اس ته وائي چه عربو به په عامو اسپو باندې د سوريدو نه ساتلو صرف عزتمنې اسپې ته به ئې پريښودو۔ بيا په هر مذکر اس کې استعمال شو۔

الله تعالیٰ کله نا کله بندګانو ته داسې مثالونه راښکاره کوي دا تائيد الهي وي چه پدې سره مؤمن مضبوطوي او د هغه يقين پرې مضبوطيږي او زړه ئې په ايمان باندې نور هم کلکيږي۔

- 2118 (10) وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُعَلّٰى ﷺ قَالَ: كُنْتُ أُصَلِّيْ فِي الْمَسْجِدِ فَدَعَانِي النَّبِيُّ ﷺ فَلَمْ أُجِبْهُ حَتّٰى صَلَّيْتُ ثُمَّ أَتَيْتُهُ، فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنِّيْ كُنْتُ أُصَلِّيْ فَقَالَ أَلَمْ يَقُلِ اللهُ (اِسْتَجِيْبُوْا لِلّٰهِ وَلِلرَّسُوْلِ إِذَا دَعَاكُمْ) ثُمَّ قَالَ لِيْ : "أَلَا أُعَلِّمُكَ أَعْظَمَ سُوْرَةٍ فِي الْقُرْآنِ قَبْلَ أَنْ تَخْرُجَ مِنَ الْمَسْجِدِ". فَأَخَذَ بِيَدِيْ فَلَمَّا أَرَادَ أَنْ يَّخْرُجَ قُلْتُ لَهٗ أَلَمْ تَقُلْ لَأُعَلِّمَنَّكَ سُوْرَةً هِيَ أَعْظَمُ سُوْرَةٍ مِنَ الْقُرْآنِ قَالَ : (اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ) هِيَ السَّبْعُ الْمَثَانِيْ وَالْقُرْآنُ الْعَظِيْمُ الَّذِيْ أُوْتِيْتُهٗ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او سيدنا ابوسعيد بن مُعليٰ ﷺ فرمائي: ما په مسجد کې مونځ کولو نو نبي کريم ﷺ ما ته آواز وکړو نو ما هغه ته جواب ورنکړو تردې چه ما مونځ ختم کړو بيا هغه ته راغلم نو ما ووېل يا رسول الله ! زۀ په مانځه کې وم۔ نو هغه وفرمايل: آيا الله تعالیٰ نۀ دي ويلي : (خبره ومنئ د الله او د هغه د رسول کله چه تاسو راوبلي) بيا ئې ما ته ووېل : آيا زۀ تا ته په قرآن کريم کې لوی سورت نۀ ښايم مخکې ددې نه چه تۀ د مسجد نه بهر شې۔ نو زما لاس ئې ونيولو نو هرکله چه هغه د وتلو اراده وکړه ما ورته ووېل : آيا تا ما ته نۀ وو وئيلي چه زۀ به تا ته يو داسې سورت ښايم چه هغه د قرآن کريم د سورتونو نه لوی (مرتبې والا) سورت دې۔ وې فرمايل: (الحمد لله رب العالمين) (يعني سورة فاتحه) دا هغه اوه آيتونه دي چه بار بار لوستلې کيږي او هغه لوی قرآن دې چه ما ته راکړې شويدې۔ (بخاريؒ)

تعارف د ابوسعید بن المُعلیٰ رضی اللہ عنہ

ابوسعید ددهٔ نوم رافع بن المعلیٰ دے، بعض وائی: حارث بن المعلی دے۔
بعض وائی اَوس بن المعلیٰ۔ ابن عبد البرّ وائی: څوك چه وائی دا رافع بن المعلیٰ دے نو دا خطاء دے ځکه چه رافع بن المعلیٰ په بدر کی شهید شویدے، نو صحیح خبره پدے کی دا ده چه دا حارث بن نُفَیع بن المعلیٰ بن لوذان د بنی زُریق نه انصاری زُرَقی صحابی دے، په اهل الحجاز کی شمار دے په سنه (۷۳) یا (۷٤) کی د (۸٤) کالو په عمر وفات شویدے او صرف دوه حدیثونه ترے نقل دی۔

تشریح: أَلَمْ يَقُلِ اللّهُ: ابوسعید بن المعلیٰ رضی اللہ عنہ رسول الله ﷺ د مانځه په حالت کی راوغوښتو لیکن هغهٔ زرهٔ کی وویل چه مونځ به ختم کړم بیا به ورشم نو کله چه د مانځه نه فارغه شو نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: تا ته چه ما آواز وکړو نو ولے رانغلے؟ آیا تا د الله تعالیٰ دا قول نهٔ دے آوریدلے چه اے ایمان والو! د الله او د رسول خبره منئ۔ مقصد دا وو چه تا له پکار وو چه مونځ به دے مات کړے وے خو د الله د رسول خبره به دے زر منلے وے۔
ددے نه معلومیږی چه د نبی علیہ السلام استجابت (خبره منل) په مانځه کی هم فرض دی او ددے امر په پریښودو باندے انسان ګناهګاریږی، ابوسعیدؓ دا اجتهاد وکړو چه دا حکم د استجابت به د هغه چا په حق کی وی چه د مانځه نه بهر وی او زهٔ خو په مانځه کی یم او په مانځه کی خو د الله تعالیٰ حق دے مګر نبی علیہ السلام ورته دا خبره واضحه کړه چه دا حکم په مانځه کی هم شامل دے یعنی د نبی علیہ السلام خبره چه راغله نو مونځ به ورته ماتوے مګر ابوسعیدؓ پدے کار ګناهګار نشو ځکه چه دا مجتهد وو او مجتهد که په اجتهاد کی خطاء هم وی نو یو اجرئے کیږی لیکن که څوك ددے حکم نه خبر شی او بیا هم خپله رایه مخکی کوی نو دا به ضرور ګناهګار وی نو څوك چه د الله د رسول مخے ته خپله رایه او قیاس او اجتهاد نیغ نیغ کوی دا به ضرور ګناهګاریږی۔
دا وجه ده چه د ابوسعید بن المعلیٰ رضی اللہ عنہ مونځ هم پدے سره باطل حساب نشو او نهٔ ورته نبی علیہ السلام د مانځه د راګرزولو حکم وکړو بلکه صرف خپلے اتباع ته ئے ترغیب ورکړو۔

ددے نه دا فائده هم معلومیږی چه کله په آیت یا حدیث کی یو حکم راشی او هیڅ قید ورسره نهٔ وی نو د ځان نه به پکی قیدونه نشی لګولے لکه دلته د استجابت حکم عام دے که په مانځه کی وی او که په غیر د مانځه نه پدے وجه نبی ﷺ ددهٔ اجتهاد خطاء وګرزولو او دائے ورته واضحه کړه چه دا حکم عام دے۔ فتدبر۔

ددے نه دا مسئله هم معلومیږی چه که ته په نفلی مونځ باندے ولاړ وے او مور پلار درته آواز وکړی او هغوی ستا د مانځه نه خبر نهٔ وی نو هغه به ورته ماتوے او د مور او پلار خبره به منے۔ او که فرض مونځ باندے ولاړ وے نو بیا د الله حق مقدم دے د وجه د (لَاطَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِیْ مَعْصِیَةِ الْخَالِقِ) نه چه د الله په نافرمانئ کی د مخلوق تابعداری نشته۔ البته که یو انسان کوهی ته پریوزی او هلاکیږی نو هغه دپاره به فرض ماتول هم ضروری وی ځکه چه مونځ بیا هم کیږی او مسلمان د هلاکت نه بچ کول لازم دی۔

دارنګه چه جمع ولاړه وی نو سنت نهٔ کیږی ځکه چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: [فَلَا صَلَاةَ اِلَّا الْمَكْتُوبَةَ] [مسلم رقم: ۱٦۷۸]

فَلَمَّا أَرَادَ أَنْ يَّخْرُجَ: د نبی ﷺ د تعلیم یوه طریقه دا وه چه هغه به چا ته سمدست یو حکم نهٔ بیانولو بلکه هغه به ئے متوجه کولو چه تپوس وکړی او د تپوس نه روستو به ورته دغه شے ښه یاد شی ځکه چه جواب ته به ډیر متوجه وی۔ او یو شے به ئے اجمالی بیان کړو دے دپاره چه د مخاطب شوق ورته زیات شی چه تپوس وکړی۔ دلته ئے هم دغه شان کار کړیدے۔

د سورة فاتحے یو نوم دے [أَعْظَمُ السُّوْرَةِ فِی الْقُرْآنِ] قرآن کریم کی د مضمون په اعتبار سره لوی سورت۔

اَلسَّبْعُ الْمَثَانِیُ : یعنی دا اُوه آیتونه دی چه بار بار لوستلے کیږی او دے سورت ته قرآن عظیم هم وائی ځکه چه ټول قرآن پدے کی راګیر دے۔

ابن کثیرؒ وائی چه مثانی ورته ځکه وائی چه پدے کی اضداد ذکر کیږی یعنی دنیا او آخرت، خالق مخلوق، کله د کافر حال او کله د مؤمن، جنت او جهنم وغیره۔ لکه دا صفت د قرآن کریم هم دے او همدا وجه د تسمیه ډیره غوره ده۔

- 2119(11) وَعَنْ أَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: "لَا تَجْعَلُوْا بُیُوْتَكُمْ

مَقَابِرَ إِنَّ الشَّيْطَانَ يَنْفِرُ مِنَ الْبَيْتِ الَّذِي يُقْرَأُ فِيهِ سُورَةُ الْبَقَرَةِ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سيدنا ابو هريره رضي الله عنه فرمائي : رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : خپل كورونو نه قبرونه مهٔ جوړوئ (قرآن پكې لولئ) ځكه چه شيطان د هغه كور نه تيښته كوي چه په هغې كې سورتِ بقره لوستلے شي۔ (مسلمؒ)

تشريح : دا حديث دليل دے چه د مړي سرته په مقبره كې سورة البقره لوستل بدعت دے ځكه چه د حديث مقصد دا دے چه كورونو كې سورة البقره لولئ او ددے نه مقبره مهٔ جوړوئ ځكه چه مقبره كې نهٔ لوستلے كيږي۔

ددے حديث يو بل مطلب دا هم بيان شويدے : (لَا تَدْفِنُوا مَوْتَاكُمْ فِيهَا) يعني مړي په كورونوكې مهٔ خخوئ او ددے حديث تشريح مخكې تفصيلاً تيره شويده،

رقم الحديث (٧١٩) باب المساجد ومواضع الصلاة وباب الصلاة على النبي وفضلها (٩٢٦)۔

- 2120(12) عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ : "اِقْرَءُوا الْقُرْآنَ فَإِنَّهُ يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ شَفِيعًا لِأَصْحَابِهِ اِقْرَءُوا الزَّهْرَاوَيْنِ الْبَقَرَةَ وَسُورَةَ آلِ عِمْرَانَ فَإِنَّهُمَا تَأْتِيَانِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَأَنَّهُمَا غُمَامَتَانِ أَوْ كَأَنَّهُمَا غَيَايَتَانِ أَوْ فِرْقَانِ مِنْ طَيْرٍ صَوَافَّ تُحَاجَّانِ عَنْ أَصْحَابِهِمَا اِقْرَءُوا سُورَةَ الْبَقَرَةِ فَإِنَّ أَخْذَهَا بَرَكَةٌ وَتَرْكُهَا حَسْرَةٌ وَلَا تَسْتَطِيعُهَا الْبَطَلَةُ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : سيدنا ابو امامه رضي الله عنه فرمائي : ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه واوريدل چه فرمايل ئے : قرآن لولئ ځكه چه دا به د قيامت په ورځ پداسے حال كې راشي چه د خپلو لوستونكو دپاره به سفارش كوي، دوه د رڼا والا سورتونه ولولئ يعني بقره او سورة آل عمران، ځكه چه دا دواړه د قيامت په ورځ راشي ګويا كه دا دواړه به وريځے وي يا ګويا كه دواړه به ښپرونه وي، (يعني سورے كونكي څيزونه به وي) يا به د مارغانو سيل (قافله) وي چه وزرے به ئے خورے كړي وي، د خپل لوستونكو د طرف نه به بحث كوي، تاسو سورة بقره لولئ ځكه چه ددے راخستل بركت دے (يعني لويه فائده ده) او ددے پريخودل (د قيامت په ورځ) افسوس دے او باطل پرست (يا ساحران) ددے طاقت نشي لرلے۔ (مسلمؒ)

تشریح : غَمَامَتَانِ : یعنی دوریځے په شان دی چه د قیامت په ورځ به په لوستونکی باندے سورے کوی۔ د نمر د گرمائش نه به ئے ساتی۔
غِيَايَتَانِ : هر هغه شی ته وائی چه انسان باندے سورے کوی وریځ وی او که بل شے وی (جزرتی) یعنی څپر۔ او دائے د غمامتان نه روستو ذکر کړو پدے کی زیادت د معنیٰ دے یعنی دپاسه به ئے پرے سورے هم کړے وی او ورسره دا دواړه سورتونه به ورته رڼا هم کوی۔
أَوْ فِرْقَانِ : تثنیه د فِرق جماعت او د مارغانو سیل ته وائی۔
صَوَافَّ : جمع د صَافَّةٌ ده دا هغه ډلے ته وائی چه په صف باندے ولاړه وی او د مارغه وزرو په باره کی چه استعمال شی بیا خوړولو ته وائی بغیر د خوزولو نه۔ یعنی دا دوه سورتونه به ئے د گرمئ او مصیبتونو نه ساتی۔
او دلته کلمه د (أَوْ) د شك او تردید دپاره نهٔ ده بلکه د تنویع (تقسیم) دپاره ده یعنی ددے مذکوره قسمه څیزونو په شکل به دا سورتونه راځی۔
او پدے کی تقسیم د قاریانو ته اشاره ده اول د هغه چا دپاره دے چه قرآن لولی او په معنیٰ ئے نهٔ پوهیږی،
او دویم د هغه چا دپاره دے چه تلاوت او د معنیٰ پوهه دواړه ئے راجمع کړی وی،
او دریم د هغه چا دپاره دے چه ددے سره ئے بل ته د هغے تعلیم هم کړے وی۔
أَخْذَهَا بَرَكَةٌ : څوك چه قاری وی هغه ذهین وی په خبره هم زر پوهیږی او په نورو علومو باندے هم زر پوهیدلے شی۔ د چا چه د قرآن سره تعلق نهٔ وی د هغوی ذهنیت کمزورے وی، برکت پکی نهٔ وی۔
حَسْرَةٌ : قیامت کی به ددے سورت د ثواب او اجر پسے افسوس کوی۔
الْبَطَلَةُ : ای ذُوْ بَطَالَةٍ، یعنی سُست انسان ځکه چه اُوږد سورت دے او سست خلك په خپل سستوالی باندے عادت وی۔
یا بَطَله ساحرانو ته وائی یعنی ساحران ددے د مقابلے او ددے د لوستونکی باندے د اثر کولو طاقت نهٔ لری د ټول قرآن مقابله نشی کولے لیکن دا په کی خصوصی سورت دے چه سحر ئے مقابله نشی کولے ددے وجه نه په کوم انسان چه جادو شوے وی په سورت بقره که دم کړے شی نو ضرور ښه کیږی۔

- 2121(13) وَعَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقُوْلُ : "يُؤْتَى بِالْقُرْآنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَهْلِهِ الَّذِيْنَ كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ بِهِ تَقْدُمُهُ سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ وَآلُ عِمْرَانَ كَأَنَّهُمَا غَمَامَتَانِ أَوْ ظُلَّتَانِ سَوْدَاوَانِ بَيْنَهُمَا شَرْقٌ أَوْ كَأَنَّهُمَا فِرْقَانِ مِنْ طَيْرٍ صَوَافَّ تُحَاجَّانِ عَنْ صَاحِبِهِمَا ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سیدنا نواس بن سمعان ﷺ فرمائي: ما د نبی کریم ﷺ نه واوریدل چه فرمایل ئے : د قیامت په ورځ به قرآن کریم او ددے هغه اهل (لوستونکی) خلك راشی چه پدے باندے به ئے عمل کولو، ددے نه به سورة بقره او آل عمران مخکی راروان وی گویا که دواړه به وریځے وی یا به دواړه تورے وریځے وی چه په مینځ کی به ئے رڼا (یعنی چمك) وی یا گویا که دواړه به د مارغانو ډله وی چه وزرے به ئے خورے کړی وی او د خپل لوستونکو د طرف نه به جگړے کوی۔ (یعنی د خپلو لوستونکو دپاره به سفارش کوی)۔ (مسلمؒ)

تشریح : ظُلَّتَانِ : وریځے۔

سَوْدَاوَانِ : یعنی دومره گنړے او یو بل کی ننوتے وریځے به وی چه ډیر سورے به کوی او ورسره رڼا به هم په مینځ کی وی۔

بَيْنَهُمَا شُرْقٌ : په ضمه د شین او سکون د راء سره یا د راء فتحه ده شُرَق لیکن اول مشهور دے۔ (نوویؒ) یا شین باندے فتحه او راء باندے سکون دے شَرْق او کسره د شین هم جائز ده یعنی شِرْق (منذریؒ)۔

ددے نه دا فائده معلومه شوه چه قیامت کی به الله تعالیٰ اعمالو او هر شی ته شکلونه ورکوی لکه مرگ ته به د گډ او ژوند ته به د اس شکل او دنیا له د بوډۍ شکل او نیك عمل له د ښائسته سړی شکل او سورت بقرے او آل عمران ته د دوه وریځو یا د مارغانو شکل ورکوی او صدقے له به د سوری شکل او بعض عملونو ته به د کرسۍ شکل ورکوی چه په هغے باندے به ناست وی او بعض عملونو ته به د مشکو د ډیره کو شکل ورکوی چه په هغے به ناست وی۔

- 2122(14) وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : "يَا أَبَا الْمُنْذِرِ !

أَتَدْرِىْ أَىُّ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللهِ مَعَكَ أَعْظَمُ ؟". قَالَ : قُلْتُ اَللهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ قَالَ : "يَا أَبَا الْمُنْذِرِ أَتَدْرِىْ أَىُّ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللهِ مَعَكَ أَعْظَمُ ؟ ". قَالَ : قُلْتُ (اَللهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَىُّ الْقَيُّوْمُ) قَالَ فَضَرَبَ فِىْ صَدْرِىْ وَقَالَ : " وَاللهِ لِيَهْنِكَ الْعِلْمُ أَبَا الْمُنْذِرِ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سیدنا ابی بن کعب رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل: اے ابو المنذره ! آیا تهٔ پوهیږے چه د الله د کتاب نه تا سره کوم آیت لوی (شان والا) دے؟ ابی بن کعب رضی الله عنه وائی : ما وویل الله او د هغه رسول ښه پوهیږی، وے فرمایل : اے ابو المنذره ! آیا ته پوهیږے چه د الله د کتاب نه تا سره کوم آیت لوی (شان والا) دے؟، هغه وائی : ما وویل : (الله لا اله الا هو الحی القیوم) (یعنی آیة الکرسی) هغه وائی : رسول الله ﷺ زهٔ په سینه کی ووهلم او وے فرمایل: اے ابو المنذره ! ستا علم دے مبارك شی۔ (مسلمؒ)

تشریح : ددے نه معلومیږی چه په قرآن کریم کی بعض آیتونه د بعضو په نسبت ډیر اوچت مضمون او شان والا وی بعض افضل او بعض فاضل دی اگرکه ټول قرآن د نورو کلامونو په نسبت په لوی کمال باندے مشتمل دے لیکن کمالونو کی هم فرق وی او ددے وجه دا ده چه بعض سورتونو کی مضمون د توحید او د الله د صفاتو وی، او په بعضو کی د الله د دشمنانو او د هغوی د هلاکت بیان وی لکه ﴿ تَبَّتْ يَدَا أَبِىْ لَهَبٍ ﴾ شو۔ نو دواړو سورتونو کی به خامخا فرق وی، کوم چه د الله په صفاتو او حقوقو مشتمل وی هغه اعلیٰ مضمون والا وی چه یو د هغے نه آیة الکرسی ده۔

فائده : رسول الله ﷺ به د الله په کتاب کی د ملګرو نه امتحان اخستو د وجه د عظمت د الله د کتاب نه او په هغه باندے د اهتمام د وجه نه۔

لِيَهْنِكَ : صیغه د غائب ده او په بعضو نسخو کی د نون نه روستو همزه ده او همدا ئے اصل دے لیکن د تخفیف دپاره حذف کیږی اَیْ لِيَكُنِ الْعِلْمُ هَنِيْئًا لَكَ۔

ستا دا علم دے مبارك شی۔ دا هغه جائزه او انعام دے چه رسول الله ﷺ اُبی بن کعب رضی الله عنه ته ورکړو، ددهٔ صفت ئے وکړو۔

او پدے کی اشاره ده دعاء ته چه الله تعالیٰ دے تا ته علم آسان کړی او مضبوطیا دے پکی درکړی او ددے سره لازمه دا ده چه ابی بن کعب رضی الله عنه دغه شان عالِم وو۔

او پدے کی د عالِم قدر او عزت او تعظیم کولو ته اشاره ده، او د یو سړی مخامخ صفت کول کله چه پکی فائده وی جائز دی، او په هغهٔ باندے د اعجاب نه یره نهٔ وی، پوره تقویٰ او کمال والا وی۔
او د قرآن کریم یوه مسئله یادول هم لوی علم دے چه مبارکی پرے ورکول پکار دی، لیکن افسوس چه د خلکو رغبت او مینه پدے علم کی ډیر کمه ده۔

- 2123 (15) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : وَكَّلَنِي رَسُولُ اللهِ ﷺ بِحِفْظِ زَكَاةِ رَمَضَانَ فَأَتَانِي آتٍ فَجَعَلَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ فَأَخَذْتُهُ وَقُلْتُ وَاللهِ لَأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ قَالَ إِنِّي مُحْتَاجٌ وَعَلَيَّ عِيَالٌ وَلِي حَاجَةٌ شَدِيدَةٌ قَالَ فَخَلَّيْتُ عَنْهُ فَأَصْبَحْتُ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: "يَا أَبَا هُرَيْرَةَ مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ الْبَارِحَةَ ". قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ شَكَا حَاجَةً شَدِيدَةً وَعِيَالًا فَرَحِمْتُهُ فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ قَالَ : " أَمَا إِنَّهُ قَدْ كَذَبَكَ وَسَيَعُودُ ". فَعَرَفْتُ أَنَّهُ سَيَعُودُ لِقَوْلِ رَسُولِ اللهِ ﷺ : " إِنَّهُ سَيَعُودُ ". فَرَصَدْتُهُ فَجَاءَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ فَأَخَذْتُهُ فَقُلْتُ :لَأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ قَالَ دَعْنِي فَإِنِّي مُحْتَاجٌ وَعَلَيَّ عِيَالٌ لَا أَعُودُ فَرَحِمْتُهُ فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ فَأَصْبَحْتُ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ ﷺ : " يَا أَبَا هُرَيْرَةَ مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ ؟ " قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ شَكَا حَاجَةً شَدِيدَةً وَعِيَالًا فَرَحِمْتُهُ فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ قَالَ :" أَمَا إِنَّهُ قَدْ كَذَبَكَ وَسَيَعُودُ". فَرَصَدْتُهُ الثَّالِثَةَ فَجَاءَ يَحْثُو مِنَ الطَّعَامِ فَأَخَذْتُهُ فَقُلْتُ لَأَرْفَعَنَّكَ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ وَهٰذَا آخِرُ ثَلَاثِ مَرَّاتٍ إِنَّكَ تَزْعُمُ لَا تَعُودُ ثُمَّ تَعُودُ قَالَ دَعْنِي أُعَلِّمْكَ كَلِمَاتٍ يَنْفَعُكَ اللهُ بِهَا قُلْتُ مَا هُوَ؟ قَالَ إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَاقْرَأْ آيَةَ الْكُرْسِيِّ (اَللّٰهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ) حَتّٰى تَخْتِمَ الْآيَةَ فَإِنَّكَ لَنْ يَزَالَ عَلَيْكَ مِنَ اللهِ حَافِظٌ وَلَا يَقْرُبَنَّكَ شَيْطَانٌ حَتّٰى تُصْبِحَ فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ فَأَصْبَحْتُ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللهِ ﷺ : " مَا فَعَلَ أَسِيرُكَ ؟" قُلْتُ : زَعَمَ أَنَّهُ يُعَلِّمُنِي كَلِمَاتٍ يَنْفَعُنِي اللهُ بِهَا فَخَلَّيْتُ سَبِيلَهُ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ : " أَمَا إِنَّهُ قَدْ صَدَقَكَ وَهُوَ كَذُوبٌ تَعْلَمُ مَنْ تُخَاطِبُ مُنْذُ ثَلَاثِ لَيَالٍ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ ؟" قُلْتُ لَا قَالَ : " ذَاكَ شَيْطَانٌ ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی: زۀ رسول الله ﷺ د رمضان د زکاة (سرسایه) په حفاظت باندے مقرر کړم نو ما ته یو تن راغے نو شروع شو چه د طعام نه ئے لپے ډکولے نو ما هغه ونیولو او ما ورته وویل: خامخا به زۀ تا رسول الله ﷺ ته پورته کوم (بوځم به دے) هغه وویل: زۀ محتاج یم او زما په ذمه د اهل وعیال نفقه ده او زما سخت ضرورت دے۔ ابو هریره ﷺ فرمائی: نو ما هغه پریخودو، ما (چه) صبا کړو نو نبی کریم ﷺ وفرمایل: اے ابو هریره! ستا قیدی بیګاه شپه څه وکړل؟ ما وویل: یا رسول الله! هغه د سخت ضرورت او اهل وعیال شکایت وکړو نو ما پرے رحم وکړو او پرے مے خودو، وے فرمایل: خبردار هغه تا ته دروغ وئیلی دی او زردے چه هغه به بیرته راواپس کیږی نو ما ته معلومه شوه چه دے به ضرور بیا راځی د وجه د وینا د رسول الله ﷺ نه چه دے به راځی۔ نو زۀ د هغه په انتظار کی وم نو هغه راغے د طعام نه ئے لپے ډکولے نو ما راونیولو ما وویل: خامخا به زۀ تا رسول الله ﷺ ته بوځم، هغه وویل: ما پریده زۀ محتاج یم او په ما باندے د اهل وعیال نفقه ده، بیا به نۀ راځم نو ما پرے رحم وکړو، نو پرے مے خودو، هرکله چه ما صبا کړو نو ما ته رسول الله ﷺ وفرمایل:

اے ابو هریره! ستا قیدی څه وکړل؟ ما وویل یا رسول الله ﷺ هغه د سخت ضرورت او د اهل وعیال شکایت وکړو نو ما پرے رحم وکړو نو پرے مے خودو نو وے فرمایل: خبردار! هغه تا ته دروغ ویلی دی او هغه به بیا راځی نو ما د هغه انتظار وکړو نو (صبا بیا) راغے چه د طعام نه ئے لپے ډکولے نو ما راونیولو ما وویل: (اُوس به دے) خامخا رسول الله ﷺ ته بوځم او دا د درے ځلو نه آخری ځل دے چه تۀ وائے چه تۀ به بیا نۀ راګرځے مګر بیا راګرځے۔

هغه وویل: ما پریده زۀ به تا ته داسے کلمات وښایم چه تا ته به الله تعالیٰ پدے سره فائده درکړی کله چه ته خپلے بسترے ته پناهی حاصله کړے (بسترے ته راشے) نو آیة الکرسی (الله لا اله الا هو الحی القیوم) به لولے تردے چه آیت ختم کړے نو په تا باندے د الله تعالیٰ د طرفنه یو حفاظت کونکے (ملائك) همیشه مقرر شی او تا ته به صبا پورے شیطان نۀ نزدے کیږی نو ما پریخودو هرکله چه ما صبا کړو نو ما ته رسول الله ﷺ وفرمایل: ستا قیدی څه وکړل؟ ما وویل: هغه دا خبره وکړه چه هغه به ما ته داسے کلمات رازده کوی چه په هغے به ما ته الله تعالیٰ فائده راکوی۔ هغه وویل: خبردار هغه

تا تـه رشتیا ویلی دي او هغه دروغژن دے او تهٔ پو هیږے چه تهٔ د دریے شپو نه د چا سره خبرے کوے؟ ما وویل : نهٔ، هغه وفرمایل: دا شیطان دے۔ (بخاریؒ)

تشریح : ددے حدیث نـه معلومیږی چه سرسایه د اختر د ورځے نه یوه یا دوه ورځے مخکې هم جمع کول جائز دي لیکن دے کې امام بخاریؒ وائی : دا په هغه وخت کې چه کله بیت المال تـه جمع کولے شي او کله ئے چه خپله فقیرانو ته ورکوی نو بیا به ئے د اختر په صبا باندے تر د اختر مونځ پورے ورکوی۔

بِحِفْظِ زَكَاةِ رَمَضَانَ : ددے صورت دا وو چه رسول الله ﷺ به یو عامل مقرر کړو چه خلکو بـه هغه ته سرسایه جمع کوله بیا به رسول الله ﷺ د هغے د څوکیدارئ دپاره یو تـن مـقرر کړو لکه دلته ئے ابو هریره رضی الله عنه مـقـرر کړے وو نو دهٔ ته شیطان راغلو او ددهٔ نه ئے غلا کوله نو ابو هریرهؓ ونیولو نو دهٔ خپل حاجت پیش کړو۔

په روایت د نسائیؒ کې دي چه دهٔ وویـل : ما دا د جنـاتو د یوے فقیرے کورنئ دپاره اخستل او دهٔ وعده وکړه چه زهٔ به بیا نهٔ راځم۔

بیا دریے کرته دغه شان حالات راغلل او ابو هریره رضی الله عنه په اول کرتونو کې پریښودو ددے دوه وجے دي (۱) یـو دا چـه صحابه کرامؓ نرم زړی او رحم والا خلك وو ځکه چه زړونه ئے صفا وو په مخلوق به ئے زر ترس او رحم راتلو۔

(۲) دویـم دا چه دا مال د بیت المال وو او پدے کې د ټولو محتاجو حق وو ځکه چه نبی علیه السلام خو د ځان دپاره دا نهٔ اخستو۔

بله دا چه دهٔ لا غلا نهٔ ده کړے چه هغه ته د لاس پریکولو سزا ورکړے شي۔

مَا فَعَلَ أَسِيُرُكَ : پدے کې نبی علیه السلام پـه وحی سره د غیبو خبر ورکړو او د ابو هریرهؓ په هغے باندے یقین وو چه دا به بیرته راواپس کیږی۔

په حـدیث د معاذؓ کې عند الطبرانی راغلی دي چه جبریل علیه السلام راغلو او نبی علیه السلام ته ئے دا خبر ورکړو چه ابو هریرهؓ ته شیطان راغلے وو۔

دا دلیـل دے چـه پیران چه کله د نور مخلوق شکل جوړ کړی بیا ئے انسانان لیدلے شي او رانیولے ئے هم شي لکه دلته ابو هریره رضی الله عنه کرامةً رانیولے دے۔

أُعَلِّمُكَ : اُوس شیـطان ځان په خپل علم باندے خلاصوی او پدے کې د ابو هریره رضی الله عنه د علم او دین زدهٔ کولو حرص معلومیږی چه د دین د زدهٔ کړے سره ئے څومره مینه ده داسے

نۀ وائی چه تۀ غل ئے ما ته به څه دین رازدۀ کړے خو ددے وجه دا وه (وَكَانُوْا اَحْرَصَ شَیْءٍ عَلَى الْخَيْرِ) صحابه کرام د خیر په خبره او دین باندے ډیر زیات حرص کونکی وو، نو دا دلیل شو چه که یو فاسق تا ته د خیر خبره کوی د هغے منل به ضروری وی او که یو عالِم خبره وکړی او د کتاب او سنت نه خلاف وه نو د هغے منل نشته او دا د اهل السنة والجماعة عقیده ده۔ دا دلیل شو چه تقلید یو باطل شے دے۔

او دِ علی ﷺ وینا ده: [اُنْظُرْ اِلٰى مَا قَالَ وَلَا تَنْظُرْ اِلٰى مَنْ قَالَ] (كنز العمال) خبرے ته گورئ او سړی ته مۀ گوره۔

فائده: ۱- شیطان دلته ابو هریره ﷺ ته توحید بیان کړیدے او پدے خبره ئے یقین هم شته لیکن خپله ترے منکر دے پدے وجه پدے باندے نۀ دے مسلمان شوے۔

۲- دا دلیل شو چه کله دروغجن هم یوه خبره رشتینی کوی۔

۳- په شیطانی دعوت کی هم کله نیکے خبرے وی نو د چا په نیکو خبرو بیانولو باندے د هغه باطل خبرے نۀ صحیح کیږی۔

٤- د آیة الکرسی فضیلت ثابت شو چه د شیطان نه حفاظت راولی، د آیة الکرسی یو فضیلت دا دے چه د هر فرض مانځه نه روستو لوستلے کیږی چه انسان دپاره جنت واجبوی او بل د شپے په لوستلو سره د شیطان نه حفاظت کیږی۔

فائده: بعض جهال دے حدیث کی اشکال کوی چه د قرآن خلاف دے ﴿اِنَّهٗ يَرٰىكُمْ هُوَ وَقَبِيْلُهٗ مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ﴾ (اعراف:۲۷)۔ یعنی تاسو دوی نشئ لیدلے ؟

جواب دا دے چه دا هله چه په خپل شکل وی۔

بیا سوال دے چه رسول الله ﷺ ورته ویلي وو چه بیا به رازی نو ابو هریرہؓ ولے پریخودو؟

جواب دا دے چه رسول الله ﷺ ورته دا نۀ وو ویلی چه وے نیسه بلکه صرف اخبار د راتلو ئے ورکړو۔

- 2124(16) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: بَيْنَمَا جِبْرِيْلُ قَاعِدٌ عِنْدَ النَّبِيِّ ﷺ سَمِعَ نَقِيْضًا مِنْ فَوْقِهٖ فَرَفَعَ رَأْسَهٗ فَقَالَ: " هٰذَا بَابٌ مِنَ السَّمَاءِ فُتِحَ الْيَوْمَ لَمْ يُفْتَحْ قَطُّ اِلَّا الْيَوْمَ فَنَزَلَ مِنْهُ مَلَكٌ فَقَالَ هٰذَا مَلَكٌ نَزَلَ اِلَى الْاَرْضِ لَمْ يَنْزِلْ قَطُّ اِلَّا الْيَوْمَ فَسَلَّمَ وَقَالَ اَبْشِرْ بِنُوْرَيْنِ

أُوتِيتَهُمَا لَمْ يُؤْتَهُمَا نَبِيٌّ قَبْلَكَ فَاتِحَةُ الْكِتَابِ وَخَوَاتِيمُ سُورَةِ الْبَقَرَةِ لَنْ تَقْرَأَ بِحَرْفٍ مِنْهُمَا إِلَّا أُعْطِيتَهُ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : (یوه ورځ) جبریل ؑ د نبی کریم ﷺ سره ناست وو چه د بره نه ئے (د دروازے د کولاېدو) یو آواز واوریدو نو سرئے پورته کړو نو وے فرمایل : دا د آسمان نه یوه دروازه وه چه نن ورځ کولاوه شوه د نن ورځ نه سوئ هیڅکله نۀ وه کولاوه شوے نو ددے نه یو ملائك راکوز شو، نو جبریل ؑ وفرمایل: دا ملائك دے چه زمکے ته راکوز شو چه د نن ورځے نه علاوه هیڅکله نۀ دے راکوز شوے نو هغه ملائك (په نبی کریم ﷺ) سلام واچولو او دائے وفرمایل : خوشحاله شه په دوه رڼړا گانو باندے چه تا ته درکړے شوے، دا دواړه هیڅ نبی ته ستا نه مخکی نۀ دی ورکړے شوی یو سورة فاتحه او بل آخری آیتونه د سورة بقرے، تۀ هیڅ حرف ددے نۀ لولے مگر تا ته به (د هغے اجر) درکولے شی۔ (یا به ستا دعا قبلولے شی)۔ (مسلمؒ)

تشریح : نَقِيضًا : هغه آواز چه د دروازے د کولاوولو په وخت کی د هغے نه راپورته کیږی۔ سورة الفاتحه او آخری دوه آیتونه د سورة البقرے (آمن الرسول نه تر آخر پورے) زمونږ د نبی ؑ خصوصیت دے یعنی ددے په شان اُوچت مضمون والا کلام هیڅ نبی ته نۀ دے ورکړے شوے،

او ددے فضیلت دا دے چه هر حرف ددے چه څوك لولی نو هغه ته به د هغے اجر ورکولے شی خاصکر پدے کی (اهدنا الصراط المستقیم) او (غُفْرَانَكَ) او (لَا تُؤَاخِذْنَا) دعاگانے به ورله قبلولے شی۔

ددے نه معلومیږی چه څوك په توجه او اخلاص سره د الله تعالیٰ نه هدایت او مغفرت طلب کړی الله تعالیٰ به ئے ورته ضرور ورکوی، الله تعالیٰ وعده کړیده۔

- 2125 (17) وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : " الْآيَتَانِ مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ مَنْ قَرَأَ بِهِمَا فِي لَيْلَةٍ كَفَتَاهُ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابو مسعود ؓ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل : دوه آیتونه د سورة

بـقـرې د آخـر نـه چـا چـه دا دواړه په يوه شپه کې ولوستل دا به ورله کافي شي۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشریح : كَفَتَاهُ" : (۱) يـوه مـعـنیٰ دا ده چه دا دوه آيتونه به ددهٔ د قيام الليل نه کافي شي يعـنـي کـه پـه دغه شپه باندې ددهٔ نه تهجد پاتې شو نو دا آيتونه به ورله د هغې په ځای کافي شي او که تهجد ئې وکړل نو هغه به ئې زياتې فائده وی لکه دا په حديث د ابو مسعودؓ کې صراحةً راغلي دی۔

(۲) يا كفتاه : [اَیْ كَـفَـتَـاهُ كُـلَّ سُـوْءٍ وَوَقَـتَـاهُ مِنْ كُلِّ مَكْرُوْهٍ] د هـر شـر او مـصـيبت او تـكـليف نه به ئې کافي شي او وبه ئې ساتی۔

(۳) يا د شيطانانو د شرونو نه به ئې محفوظ کړی۔

(٤) يا دا چه دومره ثواب به ئې وشي چه ددې سره نور ثواب ته به ئې د کامیابئ دپاره ضـرورت نـهٔ وی۔ او د کـفـتـاه متـعـلق ئې نهٔ دې ذکر کړې پدې کې عموم ته اشاره ده نو دا ټول مطلبونه اخستل صحیح کيږی۔ او د الله تعالیٰ رحمت ډير فراخه دې۔

امـام بـخاريؒ وائي : دا حديث دليل دې چه د شپې قراء ت کې دوه آيتونه لوستل کافي دی، انسان پرې د غفلت نه بچ کيږی۔

او دارنـګـه پـه مـانـځـه کـې دوه آيتـونه د فاتحې نه روستو لوستل کافي دی اګرکه ډير لوستل افضل دی۔

- 2126(18) وَعَـنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ ﷺ قَـالَ : قَـالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" مَـنْ حَـفِظَ عَشْرَ آيَاتٍ مِنْ أَوَّلِ سُوْرَةِ الْكَهْفِ عُصِمَ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سیدنا ابو درداء ﷺ فـرمائی : رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چه لس آيتونه د اول د سورة کهف نه ياد کړل د دجال د فتنې نه به محفوظ شي۔ (مسلمؒ)

تشریح : د دجال د فتنې نه د بچاؤ دپاره صرف اولنی لس آيتونه کافي دی لکه څنګه چه ، حابِ کهف د جبار بادشاه د فتنې نه بچ شو۔پدې وجه دې ته سورة الحائله وائي يعـنـي هـغـه سورت چه د دجال نه پرده واقع کوی او دجال به په دهٔ باندې غلبه او تسلط نشي کولے۔ او دا ددې سورت خصوصيت دې۔

او د جُمعې په ورځ لوستلو کې ددې مستقل فائده ده چه الله تعالیٰ به د قيامت په ورځ

دومره رڼا ورکړي لکه د زمکې نه تر آسمان پورې۔ کما سیأتي۔
بیا پدې روایت کې لس آیتونه ذکر دي او روستو راغئ درې آیتونه هم کافي دي لیکن دا روایت معروف دې او د درې آیتونو والا روایت شاذ او منکر دې۔
بعض وائي : د دواړو تطبیق دا دې چه په درې آیتونو سره هم حفاظت راځي او که لس ووائي نو ډیره بهتره ده۔ او په بعض روایت د مسلم، نسائي او ابوداود کې آخري آیتونه د سورة الکهف ذکر دي نو ددې تطبیق دا دې چه پدې ټول سورت کې الله تعالیٰ دا خصوصیت اچولې دې چه د دجال نه حفاظت راولي که د اول نه وي او که د آخر نه او لس یا درې آیتونه د یادولو د آسانوالي دپاره خودلې شویدي لکه دا د سیوطيؒ د کلام نه معلومیږي۔ (مرعاة المفاتیح)
شوکانيؒ وائي: د اول او آخر دواړو نه دې ولولي نو د دجال نه به محفوظ شي او که ډیر کمال حاصلول غواړي نو ټول سورت دې ولولي او یاد دې ئې کړي۔

- 2127(19) وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" أَيَعْجِزُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَّقْرَأَ فِيْ لَيْلَةٍ ثُلُثَ الْقُرْآنِ ؟ " قَالُوْا: وَكَيْفَ يَقْرَأُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ ؟ قَالَ :" قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ "يَعْدِلُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

- 2128(20) وَرَوَاهُ الْبُخَارِيُّ عَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ ___

ترجمه : او سیدنا ابودرداء ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمایل : آیا په تاسو کې یو تن ددې نه عاجز (کمزورې) کیږي چه په یوه شپه کې دریمه حصه قرآن ولولي ؟ صحابه کرامؓ عرض وکړو : څنګه به درې حصې قرآن ولولي؟ وې فرمایل: قل هو الله احد د درې حصې د قرآن برابر دې۔ (مسلمؒ) او دا روایت امام بخاريؒ د ابوسعیدؓ نه نقل کړیدې۔

تشریح : سورت اِخلاص د دریمې حصې د قرآن ولې برابر دې ؟ نو څوك وائي چه په ثواب کې برابر دې دومره ثواب به ئې وشي لکه دریمه حصه د قرآن ئې چه لوستلې وي۔
او یا ددې وجه دا ده چه ټول قرآن کې درې قسمه لوی مضامین دي (۱) معاش، (۲) معاد (۳) او توحید یعني د دنیا خبرې، د آخرت خبرې او د الله خبرې۔ او سورة الاخلاص

کې د الله تعالیٰ توحید ذکر دے۔
پدے باندے شیخ الاسلام ابن تیمیهٌ یو کتاب هم لیکلے دے [عَقِيْدَةُ اَهْلِ الْعِلْمِ وَالْإِيْمَانِ فِيْ اَنَّ سُوْرَةَ الْإِخْلَاصِ تَعْدِلُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ] او ددے ئے ډیر وجوهات ذکر کړیدی۔
او دا توحید خو په آیة الکرسي او د سورة الحشر په آخری آیتونو کې هم شته لیکن پدے کې داسے دوه نومونه راغلي دي چه هغه ټولو صفاتِ کمالیه ؤ لره راګیرونکي دي چه هغه احد او صمد دے ځکه چه احد هغه ذات ته وائی چه داسے وجود لري چه پدے کې ورسره څوك شريك نۀ وي،
او صمد ته ټول صفات کمالیه جمع کیږي ځکه چه صمد هغه ذات ته وائی چه د هغه سرداری او کمال انتهاء ته رسیدلے وي نو ټول سوالونه او حاجتونه هغه ته پیش کولے شي۔
او بعض علماؤ وئیلي دي چه دا حدیث د متشابهاتو نه دے چه علم ئے الله تعالیٰ ته سپارلے شویدے چه دا سورت څنګه دریمه حصه د قرآن دے لکه دا خبره احمد بن حنبلؒ، اسحاق بن راهویهؒ، زرقانيؒ، ابن عبد البرؒ، شوکانيؒ وغیره) کړیده۔
مګر ظاهر دا ده چه دلته مقصد د نبی علیه السلام دا دے چه چا سورة الاخلاص ولوستلو داسے شو لکه دریمه حصه قرآن ئے چه ولوستلو یعنی دومره ثواب ئے وشو لکه دا په حدیث د ابو ایوبؓ کې د احمدؒ او ترمذيؒ په روایت کې راغلي دي۔
بیا دا مطلب نۀ دے چه نور قرآن پریخودل پکار دی، د نور قرآن خپلے فائدے دی، دا خو صرف یو خصوصیت دے چه دے سورت ته ملاؤ دے۔

- 2129(21) وَعَنْ عَائِشَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ بَعَثَ رَجُلًا عَلٰى سَرِيَّةٍ وَكَانَ يَقْرَأُ لِأَصْحَابِهٖ فِيْ صَلَاتِهِمْ فَيَخْتِمُ بِـ (قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ) فَلَمَّا رَجَعُوْا ذَكَرُوْا ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ: "سَلُوْهُ لِأَيِّ شَيْءٍ يَصْنَعُ ذٰلِكَ " فَسَأَلُوْهُ فَقَالَ لِأَنَّهَا صِفَةُ الرَّحْمٰنِ وَأَنَا أُحِبُّ أَنْ أَقْرَأَ بِهَا فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ : " أَخْبِرُوْهُ أَنَّ اللهَ يُحِبُّهٗ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها فرمائی: نبی کریم ﷺ یو سړے په یو لښکر باندے (امیر) مقرر کړونو هغه به خپلو ملګروته د هغوی په مانځه (یعنی

جَمعه) کې قرائت کولو نو په (قل هو الله) به ئې ختمولو، کله چه لښکر راواپس شو نو دا خبره ئې نبي کريم ﷺ ته ذکر کړه نو هغه وفرمايل: دهٔ نه تپوس وکړئ چه د څه وجه نه دا کار کوی؟ نو هغوی ترې تپوس وکړو: نو هغه وويل: پدې وجه چه دا د رحمٰن ذات صفت (د وحدانيت) دے او زهٔ دا خوښوم چه زهٔ (د الله د وحدانيت د راښکاره کولو په وجه) پدې سره قرائت وکړم۔ نو نبي کريم ﷺ وفرمايل: دهٔ له خبر ورکړئ چه الله تعالىٰ دده سره مينه کوی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشريح: دده سړی نه مراد کرز بن زهدم انصاری ﷜ دے او بعضو دا کلثوم بن زهدم ﷜ ذکر کړيدے او چا چه دده نه کلثوم بن الهدم اخستے دے نو هغه صحيح نهٔ ده ځکه چه هغه د قتال د فرض کيدو نه مخکې په اول د هجرت کې وفات شويدے، او هغه د روستو حديث په واقعه کې مراد دے۔

وَكَانَ يَقْرَأُ: يعنی دے امام وو لکه دا سنت طريقه هم ده چه امير به امام هم وی۔

دده نه معلوميږی چه په يو مانځه کې د هر ځای نه د قرآن کريم تلاوت کول جائز دی، تقديم او تاخير پکې جائز دے او دده مسئلے تفصيل مخکې په باب القراءة کې تير شويدے۔

دا حديث يو پدے دليل دے چه د الله تعالىٰ د صفاتو سره مينه کول سبب د جنت او سبب د الله تعالىٰ د محبت دے، نهٔ د متکلمينو په شان چه د الله تعالىٰ نومونو کې تاويلات کوی۔

دويم پدے دليل دے چه د الله تعالىٰ محبت شته څنګه چه د هغه د شان مناسب وی۔

دارنګه دا دليل دے چه د قرآن بعض حصه خصوصی طور سره لوستل جائز دی کوم ته چه د انسان ډير ميلان وی او په هغه باندے ډير اثر کوی او پدے سره به بنده د نورو قرآن پريخودونکے نهٔ حسابيږی۔

دارنګه په يو رکعت کې دوه سورتونه جمع کول جائز دی او تقديم تاخير کې هيڅ باك نشته۔

دارنګه معلومه شوه چه کله يو چا ته د بل مسلمان خبره ذکر شی نو هغه به د تحقيق نه مخکې سمدستی رد نهٔ کوی بلکه د هغه غرض به معلوموی که ښه غرض وو نو تائيد به ئې کوی او که خطاء شوے وو نو د هغه اصلاح به وکړی۔

2130-(22) وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ : إِنَّ رَجُلًا قَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنِّيْ أُحِبُّ هٰذِهِ السُّوْرَةَ :(قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ) قَالَ : إِنَّ حُبَّكَ إِيَّاهَا أَدْخَلَكَ الْجَنَّةَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَرَوَى الْبُخَارِيُّ مَعْنَاهُ

ترجمه : او سیدنا انس بن مالك ﷺ فرمائی : یو سړی وویل : اے د الله رسوله ! زهٔ دا سورت خوښوم یعنی قل هو الله احد- نبی کریم ﷺ وفرمایل: ستا محبت ددے سره تهٔ جنت ته داخل کړے- (ترمذیؒ، او امام بخاریؒ ددے معنیٰ نقل کړیده یعنی روایت بالمعنیٰ ئے نقل کړیدے)

تشریح : دلته د رجل نه کلثوم بن الهدم ﷺ مراد دے،

او ددهٔ د واقعے تفصیل په ترمذیؒ کی داسے راغلے دے، انس بن مالك ﷺ فرمائی :

د انصارو یو سړی په مسجد قباء کی خلکو ته امامتی کوله نو هرکله چه به ئے یو سورت شروع کولو نو اول کی به ئے ترے (قل هو الله احد) لوستلو بیا به ئے بل سورت لوستلو او دا کار به ئے په هر رکعت کی کولو نو ملګرو ورته وویل چه تهٔ دا سورت لولے او بیا پدے باندے اکتفاء نهٔ کوے بلکه ددے سره بل سورت هم لولے (دا کار به نهٔ کوے) یا به دا لولے او یا به ددے په ځای بل سورت لولے نو دهٔ ورته وویل :

زهٔ دا نهٔ پریږدم که ستاسو خوښه وی زهٔ به درته امامتی کوم او که نهٔ وی نو امامتی درته نهٔ کوم لیکن دے خلکو به دا د خپل ځان نه غوره ګڼړلو او دا ئے بده ګڼړله (چه ددهٔ په موجودګئ کی) بل څوك امامتی وکړی (نبی ﷺ به دویٔ ته مسجد قباء ته د هر خالی په ورځ راتللو) نو هرکله چه رسول الله ﷺ دوی ته راغلو نو دوی ورته خبر ورکړو نو هغه وفرمایل: اے فلانیه ! ددے ملګرو خبره ولے نهٔ منے او تا باندے څه باعث دے چه تهٔ دا سورت په هر رکعت کی لولے؟

دهٔ وویل اے د الله رسوله ! زهٔ ددے سورت سره مینه کوم، نو رسولؐ الله ﷺ وفرمایل : ددے سورت مینے تهٔ جنت ته داخل کړے آه-

یعنی هرکله چه تهٔ د الله تعالیٰ د صفاتو سره مینه کوے نو الله به تا سره مینه وکړی او ددے په نتیجه کی به تا جنت ته داخل کړی نو په دنیا کی ئے ورله د جنت زیرے ورکړو-

دا او د مخکی حدیث دواړه جدا جدا واقعے دی او وجوه د فرق پکښے په خپله معلوم کړه-

درجة الحديث: اسناده حسن صحيح، اخرجه الترمذى (۲۹۰۱) (البانى وغيره)۔

- 2131(23) وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " أَلَمْ تَرَ آيَاتٍ أُنْزِلَتِ اللَّيْلَةَ لَمْ يُرَ مِثْلُهُنَّ قَطُّ (قُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ) وَ (قُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ). رَوَاهُ مُسْلِمْ.

ترجمه: او سیدنا عقبه بن عامر ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: آیا تهٔ نهٔ گورې هغه آیتونو ته چه بیگاه شپه نازل شو چه ددې په شان هیڅکله نهٔ دی لیدلے شوی۔ یعنی قل هو اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس۔ (مسلمؒ)

تشريح: لَمْ يُرَ مِثْلُهُنَّ قَطُّ: یعنی په باب د تعوذ او دم کولو کی ددې په شان سورتونه نهٔ دی لیدلے شوی۔ یعنی د بل سورت ټول آیتونه د لوستونکی دپاره د ټولو شرونو نه پناه ورکونکی نهٔ دی لکه څنگه چه ددې سورتونو آیتونه دی۔

او پدې وجه رسول الله ﷺ به مخکی نور دمونه لوستل د پیری او د انسان د سترگے نه د بچاؤ دپاره خو کله چه دا دوه سورتونه نازل شو نو بیا به ئے دا په پابندئ سره لوستل او نور ئے غالباً پریخودل او کله چه پرې جادو وشو نو ددې سورتونو په وجه ورته الله تعالیٰ شفاء ورکره څکه چه دا سورتونه پدې باب کی ډیر جامع دی۔

فائده: سیدنا عقبه بن عامر ﷺ ته رسول الله ﷺ ددې سورتونو فضیلت پنځه کرته بیان کړې وو په مختلفو مواقعو کی باب الذکر بعد الصلاة، باب القراء ة، دارنگه بیا رازی وجه دا ده چه کیدې شی دهٔ دا مسئله په ډیر محبت سره نهٔ وی اخستی نو رسول الله ﷺ ورته ددې سورتونو ډیر فضائل بیان کړل،

یا دا چه ددې سورتونو په هره موقعه کی فضیلت وو پدې وجه کومه موقعه چه راغلے ده نو په هغے کی ئے ورته ددې فضیلت او اهمیت بیان کړیدے دے دپاره چه په ذهن کی ئے ښه کینی وهو الراجح۔

- 2132(24) وَعَنْ عَائِشَةَ : أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ إِذَا أَوٰى إِلٰى فِرَاشِهٖ كُلَّ لَيْلَةٍ جَمَعَ كَفَّيْهِ ثُمَّ نَفَثَ فِيْهِمَا فَقَرَأَ فِيْهِمَا (قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ) وَ (قُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ) وَ (قُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ) ثُمَّ يَمْسَحُ بِهِمَا مَا اسْتَطَاعَ مِنْ جَسَدِهٖ يَبْدَأُ بِهِمَا عَلٰى رَأْسِهٖ وَوَجْهِهٖ وَمَا أَقْبَلَ

مِنْ جَسَدِهِ يَفْعَلُ ذٰلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَسَنَذْكُرُ حَدِيْثَ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رضي الله عنه : لَمَّا أُسْرِيَ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فِيْ بَابِ الْمِعْرَاجِ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى. ________

ترجمه : او ام المؤمنين عائشه رضی الله عنها فرمائی: نبی کریم ﷺ به چه کله هره شپه خپلې بسترې ته راغلو نو دواړه لاسونه به ئې یو ځای کړل بیا به ئې په هغې کې پوکې وکړو نو په هغې کې به ئې (قل هو الله احد) او (قل اعوذ برب الفلق) او (قل اعوذ برب الناس) ولوستل بیا به ئې دا دواړه لاسونه د بدن په هغه ځای راښکل چه کوم ځای ته به ئې د رسولو طاقت وو. پدې دواړو به ئې (په راښکلو کې) په سر او مخ او د بدن په مخامخ حصه باندې شروع وکړه دا کار به ئې درې کرته وکړو. (بخاریؒ ومسلمؒ) او زر دې چه مونږ به حدیث د ابن مسعود رضي الله عنه (هرکله چه رسول الله ﷺ د شپې بوتللې شو) په باب د معراج کې ان شاء الله تعالیٰ ذکر کړو.

تشریح : فَقَرَأَ : دې حدیث کې دوه تحقیقه دي (۱) یو دا چه دې حدیث کې دا راغلل چه اول ئې نفث (تُف تف) کړې بیا ئې قراء ت کړې او مشهوره طریقه دا ده چه اول ئې قراء ت کړې بیا ئې نفث کړې ځکه چه پدې کې هیڅ فائده نۀ ښکاری چه مخکې تف وکړی ځکه چه مقصد خو دا دې چه د قرآن برکت په ځان باندې د لاړو په ذریعه راورسوی او کله چه تف مخکې وشی او قراء ت روستو وشی نو هغه برکت نۀ حاصلیږی.

نو بعض وائی چه دا د راوی نه تقدیم تاخیر شوې یا د کاتب نه سهوه شویده او اصل کې قراء ت مخکې دې په نفث باندې دا هله چه فاء په خپله معنیٰ د تعقیب سره واخستې شی،

او که فاء په معنیٰ د واو سره شی لکه دا خبره قاموس کې راغلې ده چه فاء (کله) په معنیٰ د واو سره راځی نو بیا خو خبره جوړه ده ځکه چه واو په ترتیب باندې دلالت نکوی، فتدبر. انظر جمع الوسائل فی شرح الشمائل لملاعلی القاری ص (۷۷)

لیکن هغه ورسره دا خبره ضعیفه لیکلې ده چه د بخاری په روایت کې په واو سره راغلې. طیبیؒ په هغه باندې سخت رد کړې چه دا زور او بهتان دې.

او بعض وائی چه نبی علیه السلام نفث مخکې کړې او بیا ئې قراء ت کړې او پدې سره غرض د نبی علیه السلام دا دې چه د ساحرانو د طریقې نه مخالفت راشی ځکه چه هغوی

اول دم دُرهه وکړی بیا تف کوی۔
طیبیؒ پدے کی دا وئیلی دی چه دا توجیهات ضعیف دی او دا روایت همدغه شان امت قبول کړے او پدے کی هیڅ قسمه خطائی د راوی وغیره نه نشته بلکه دا د نورے عربیٔ سره برابر کلام دے لکه ﴿ فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ﴾ (النحل: ۹۸)
یا ﴿ فَتُوبُوا إِلَى بَارِئِكُمْ فَاقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ ﴾ بقره: ۵۴)
حال دا چه دلته توبه عین قتل دے نو مقصد دا چه دلته دا فعل مُؤَوَّل دے په ارادے سره معنیٰ دا ده چه کله به بسترے ته راغلو نو دواړه لاسونه به ئے جمع کړل او بیا به ئے اراده وکړه چه تف پکی وکړی نو قراء ت به ئے وکړو او بیا به ئے تف وکړو او په ټول بدن به ئے راخکلو لهذا اشکال ختم شو۔
دا هم ښه توجیه ده۔ بیا په روایت د طبرانی (المعجم الاوسط (۵۰۷۹) کی مونږ ومونډل چه په هغے کی د قراء ت مخکوالے دے په نفث باندے داسے الفاظ دی: [ثُمَّ نَفَثَ فِيهِمَا فَقَرَأَ فِيهِمَا قُلْ الخ] ۔ نو قراء ت ئے په فاء سره ذکر کړو او نفث ئے په ثُم سره او په ثُم کی د فاء نه روستو والے زیات وی۔ فتدبر۔ وانظر الفوائد ۳جلد السنن الیومیه)
(۲) **تحقیق**: دا ذکر به د اُودهٔ کیدو په وخت څو کرته کولے شی؟
نو ملاعلی القاریؒ په ((جمع الوسائل)) کښے، دارنګه صاحب د مظاهر حق په ترجمه کښے دا لیکلی دی چه دا عمل (یعنی دم کول او بیا لاسونه راښکل به) درے کرته وی شاید چه دهٔ به د ملاعلی القاریؒ نه نقل کړی وی لیکن د دوئ پدے خبره باندے هیڅ قوی دلیل نشته،
علی القاریؒ دلیل دا وائی چه تثلیث او درے کرته لوستل په نورو دعاګانو کی معتبر دی نو دلته به هم درے کرته لوستل وی۔ ص (۷۷)
مګر صحیح خبره دا ده چه دلته دا سورتونه یو کرت لوستل دی او لاسونه راښکل درے کرته دی۔ ځکه چه (يَفْعَلُ ذٰلِكَ) کښے ددے فعل درے کرته والے ذکر دے، نهٔ د قراء ت، نو سنت طریقه دا ده چه یو یو کرت دا سورتونه ولولی او سهار او ماښام اذکارو کی دا درے درے کرته راغلی دی۔
مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ: دا سهوه ده ځکه چه دا روایت صرف بخاری کی راغلے دے مسلم کی نشته۔

وَسَنَذْكُرُ : حديث د ابن مسعود رضی الله عنه د باب د معراج سره مناسب دے نو مونږ به ئے هلته ذكر كړو چه په هغے كى دا دى چه رسول الله ﷺ ته د معراج په شپه باندے درے څيزونه وركړے شو پنځه مونځونه، خواتيم د سورة البقره او امت ته ئے لوى گناهونه معاف شو هغه چا ته شرك ئے د الله تعالىٰ سره نهٔ وى كړے۔

الفصل الثاني

- 2133(25) عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ عَنِ النَّبِيِّ قَالَ : " ثَلَاثَةٌ تَحْتَ الْعَرْشِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ :الْقُرْآنُ يُحَاجُّ الْعِبَادَ لَهُ ظَهْرٌ وَبَطْنٌ وَالْأَمَانَةُ وَالرَّحِمُ تُنَادِىْ:أَلَا مَنْ وَصَلَنِىْ وَصَلَهُ اللّٰهُ وَمَنْ قَطَعَنِىْ قَطَعَهُ اللّٰهُ". رَوَاهُ فِىْ شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه : سيدنا عبد الرحمن بن عوف رضی الله عنه د نبى كريم ﷺ ارشاد نقل كوى چه هغه فرمايلى دى : درے څيزونه به د قيامت په ورځ د عرش نه لاندے وى، (يو) قرآن چه د بندگانو سره به جگړه كوى۔ چه ددهٔ دپاره ظاهر هم شته او باطن هم۔ دويم شے به امانت وى۔ دريم خپلولى چه دا به آوازونه كوى : خبردار چا چه زهٔ يو ځاى كړے يم الله تعالىٰ به ئے (د خپل رحمت سره) يو ځاى كړى او چا چه زهٔ پريكړے يم الله تعالىٰ به ئے پريكړى (يعنى د رحمت نه به ئے جدا كړى) ۔ (شرح السنة د بغوىؒ)

تشريح : تَحْتَ الْعَرْشِ : يعنى دا درے څيزونه الله تعالىٰ ته نزدے دى په داسے شان سره چه سفارش به كوى هغه چا لره چه ددے څيزونو لحاظ ساتى او ددے درے څيزونو تخصيص ئے وكړو ځكه چه دا درے څيزونه الله تعالىٰ ته دومره خوښ دى چه څوك ددے حفاظت كوى نو د هغه اجر نهٔ ضائع كوى۔

يُحَاجُّ : په اصل كى يُحَاجِجُ دے۔

ظَهْرٌ وَبَطْنٌ : ظهر ئے الفاظ دى او بطن ئے معنىٰ ده يا ظهر هغه چه تاويل او تفسير ئے ښكاره وى او بطن هغه چه د هغے تفسير مشكل او پټ وى،

يا ظهر هغه چه د هغے بيان ښكاره وى او بطن هغه چه تفسير ته محتاج وى۔

يا ظهر نه مراد د هغے تلاوت دے او بطن نه مراد په هغے كى تدبر او فكر دے۔ كما تقدم فى كتاب العلم حديث (أُنْزِلَ الْقُرْآنُ عَلٰى سَبْعَةِ اَحْرُفٍ لِكُلِّ مِنْهَا ظَهْرٌ وَبَطْنٌ)

وَالْأَمَانَةُ : دا هر حق د الله او د مخلوق ته وائى چه د هغے ادا كول لازم وى۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف: البغوی فی شرح السنة (۳٤۳۳) والحكيم الترمذی فی نوادر الاصول (۱٤۸) وضعيف الجامع الصغير (۲۰۷۷) وفی اسناده كثير بن عبد اللّٰه وهو واهٍ (القاری والمرعاة).

- 2134(26) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: "يُقَالُ لِصَاحِبِ الْقُرْآنِ: اِقْرَأْ وَارْتَقِ وَرَتِّلْ كَمَا كُنْتَ تُرَتِّلُ فِي الدُّنْيَا فَإِنَّ مَنْزِلَكَ عِنْدَ آخِرِ آيَةٍ تَقْرَؤُهَا". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: او سیدنا عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: د (قیامت په ورځ به) قرآن والا ته وئیلے شی چه (قرآن) لوله او (د جنت په درجو) خیژه او داسے په آرم سره ئے لوله لکه څنګه چه تا په دنیا کی په آرام سره لوستلو، پس ستا منزل به د آخری آیت سره وی کوم چه تهٔ لولے۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، ابوداوُدؒ، نسائیؒ)

تشريح: لِصَاحِبِ الْقُرْآنِ: نه مراد هغه شخص دے چه د قرآن سره ئے تعلق وی په تلاوت او عمل کولو سره۔ یعنی الله تعالیٰ به په قیامت کی قرآن والا ته وائی چه قرآن لوله او د جنت په درجاتو باندے پورته خیژه، نو ددے نه معلومه شوه چه جنت کی لوی درجات سِل دی لکه دا په بل حدیث کی راغلی دی،

لیکن پدے سلو کی واړه واړه درجات د قرآن کریم د آیتونو په شمار باندے دی۔

او پدے کی ډیره لویه مرتبه د قاری او د عامل د قرآن بیان شوه۔

مګر د مسند احمد او ابن ماجه د روایت نه معلومیږی چه ددے نه مراد قاری د قرآن دے ځکه چه په هغے کی دا الفاظ دی: [وَيَصْعَدُ بِكُلِّ آيَةٍ دَرَجَةً حَتّٰى يَقْرَأَ آخِرَ شَيْءٍ مَعَهُ]۔

او په هر آیت سره به په یوه درجه باندے ورخیژی۔

او د عائشےؓ په یو اثر کی راغلی دی چه د جنت درجات په اندازه د شمار د آیتونو د قرآن دے۔ (السلسلة الصحيحة ۲۲٤۰)۔

نو چا ته چه څومره یاد وی دومره درجات به ئے وی لیکن لوستل ورسره ضروری دی لکه (كَمَا كُنْتَ تُرَتِّلُ فِي الدُّنْيَا) لفظ ته وګوره۔

درجة الحديث: اسناده حسن، احمد (۲/۱۹۲) وابوداود (۱٤٦٤) والترمذی

(۲۹/٤) وقال حسن صحیح وصححه ابن حبان والحاکم (۱/۵۵۲_۵۵۳) وقال الذهبی صحیح) ___

- 2135 (27) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " إِنَّ الَّذِيْ لَيْسَ فِيْ جَوْفِهٖ شَيْءٌ مِنَ الْقُرْآنِ كَالْبَيْتِ الْخَرِبِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ. ___

ترجمه : او سیدنا ابن عباس رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه شخص چه د هغه په سینه کی د قرآن څه حصه نهٔ وی دا د وران کور په شان دے۔ (ترمذیؒ، دارمیؒ) او امام ترمذیؒ وئیلی ی چه دا حدیث صحیح دے۔

تشریح : کوم زړهٔ کی چه د قرآن څه حصه نهٔ وی وران کور دے ځکه چه د زړونو آبادی په ایمان او د قرآن په تلاوت باندے وی او پدے سره ډولی کیږی لکه کور چه په سامانونو باندے ښائسته کیږی۔

درجة الحديث: اسناده فیه ضعف، احمد (۱/۲۲۳) والدارمی (۲/٤۲۹) وفی اسناده قابوس بن ابی ظبیان وهو لین) (تقریب) ووثقه ابن معین فی روایة ویعقوب بن سفیان وقال ابن عدی: ارجوا انه لا بأس به وکذا قال العجلی وضعفه النسائی والدارقطنی وابوحاتم واحمد وابن سعد) ___

- 2136 (28) وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ رضی الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " يَقُوْلُ الرَّبُّ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى: مَنْ شَغَلَهُ الْقُرْآنُ عَنْ ذِكْرِيْ وَمَسْأَلَتِيْ أَعْطَيْتُهٗ أَفْضَلَ مَا أُعْطِي السَّائِلِيْنَ. وَفَضْلُ كَلَامِ اللهِ عَلٰى سَائِرِ الْكَلَامِ كَفَضْلِ اللهِ عَلٰى خَلْقِهٖ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه : او سیدنا ابوسعید خدری رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تبارك وتعالیٰ فرمائی: چا له چه زما قرآن زما د ذکر او زما نه د غوښتو نه مشغول کړو نو زهٔ به هغه ته ورکړم ډیر غوره د هغه څه نه چه سوال کونکو (غوښتونکو) ته ورکولے شی۔ او د الله تعالیٰ د کلام فضیلت په ټولو کلامونو باندے داسے دے لکه د الله تعالیٰ فضیلت د هغه په مخلوقاتو باندے۔ (ترمذیؒ، دارمیؒ، بیهقیؒ) او امام ترمذیؒ وئیلی دی

چه دا حدیث حسن غریب دے)۔

تشریح : یعنی څوك چه په قرآن کریم باندے مشغول وی او عام ذکر او دعا غوښتو ته ډیر نهٔ وزګاریږی نو الله تعالیٰ به د غوښتونکو په نسبت دهٔ لره زیات او غوره حاجتونه پوره کړی۔

دا حدیث دلیل دے چه د قرآن سره په تلاوت او تفکر او تدبر سره مشغولتیا ډیر لوی خیر او د لوی بدلے باعث دے۔

وَفَضْلُ كَلَامِ اللهِ : یعنی لکه څنګه چه الله تعالیٰ په ټول مخلوق باندے عالی دے نو دغه شان د هغه کلام هم په ټولو کلامونو عالی دے نو پدے وجه به د الله تعالیٰ د کلام اجر په ټولو کلامونو زیات وی۔ حدیث کی ډیر لوی فضیلت دے لیکن ضعیف دے۔

درجة الحدیث: اسناده ضعیف جدا، الدارمی (۲/۴۴۱) والترمذی (۲۹۲۶) وقال حدیث حسن غریب وقال الذهبی حسنه الترمذی فلم یحسن راجع الضعیفة (۱۳۳۵) وضعیف الجامع الصغیر (۶۴۳۵) وفی سنده عطیة العوفی وفیه ضعف ومحمد بن الحسن الهمدانی وهو ضعیف)

- 2137(29) وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ ﷛ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ وَالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا لَا أَقُوْلُ: الم حَرْفٌ.أَلِفٌ حَرْفٌ وَلَامٌ حَرْفٌ وَمِيْمٌ حَرْفٌ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ غَرِيْبٌ إِسْنَادًا.

ترجمه : او سیدنا ابن مسعود ﷛ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چه د الله تعالیٰ د کتاب نه یو حرف ولوستو نو دهٔ دپاره به د هغے په بدله کی یوه نیکی وی او یوه نیکی په لسو چندونو ده، نهٔ وایم چه الم یو حرف دے (بلکه) الف یو حرف دے او لام بل حرف دے او میم بل حرف دے۔ (ترمذیؒ، دارمیؒ) او امام ترمذیؒ وئیلی دی چه دا حدیث د سند په اعتبار سره حسن صحیح غریب دے۔

تشریح : الم ئے په مثال کی راوړو ددے حکمت دا دے چه دا هغه حروف دی چه څوك ئے په معنیٰ نهٔ پوهیږی نو ددے دومره اجر دے نو د کومو حروفو په معنیٰ چه څوك پوهیږی او هغه لولی نو د هغے به څومره لوی اجر وی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، الدارمی (٢/٤٢٩) موقوفا والترمذی (٢٩١٠) مرفوعاً وقال حسن صحيح غريب.اسنادا) وصححه الالبانی وغيره)

2138 - (30) وَعَنِ الْحَارِثِ الْأَعْوَرِ قَالَ : مَرَرْتُ فِي الْمَسْجِدِ فَإِذَا النَّاسُ يَخُوضُونَ فِي الْأَحَادِيثِ فَدَخَلْتُ عَلٰى عَلِيٍّ ﷺ فَأَخْبَرْتُهُ قَالَ: أَوَقَدْ فَعَلُوهَا ؟ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ: أَمَا إِنِّي قَدْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ : " أَلَا إِنَّهَا سَتَكُونُ فِتْنَةٌ ". فَقُلْتُ مَا الْمَخْرَجُ مِنْهَا يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: " كِتَابُ اللهِ فِيهِ نَبَأُ مَا كَانَ قَبْلَكُمْ وَخَبَرُ مَا بَعْدَكُمْ وَحُكْمُ مَا بَيْنَكُمْ وَهُوَ الْفَصْلُ لَيْسَ بِالْهَزْلِ، مَنْ تَرَكَهُ مِنْ جَبَّارٍ قَصَمَهُ اللهُ وَمَنِ ابْتَغَى الْهُدٰى فِي غَيْرِهِ أَضَلَّهُ اللهُ وَهُوَ حَبْلُ اللهِ الْمَتِيْنُ وَهُوَ الذِّكْرُ الْحَكِيْمُ وَهُوَ الصِّرَاطُ الْمُسْتَقِيْمُ هُوَ الَّذِي لَا تَزِيغُ بِهِ الْأَهْوَاءُ وَلَا تَلْتَبِسُ بِهِ الْأَلْسِنَةُ وَلَا يَشْبَعُ مِنْهُ الْعُلَمَاءُ وَلَا يُخْلَقُ عَنْ كَثْرَةِ الرَّدِّ وَلَا يَنْقَضِي عَجَائِبُهُ هُوَ الَّذِي لَمْ تَنْتَهِ الْجِنُّ إِذْ سَمِعَتْهُ حَتّٰى قَالُوا (إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ) مَنْ قَالَ بِهِ صَدَقَ، وَمَنْ عَمِلَ بِهِ أُجِرَ وَمَنْ حَكَمَ بِهِ عَدَلَ، وَمَنْ دَعَا إِلَيْهِ هُدِيَ إِلٰى صِرَاطٍ مُسْتَقِيْمٍ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيْثٌ إِسْنَادُهُ مَجْهُوْلٌ وَفِي الْحَارِثِ مَقَالٌ

ترجمه : او جناب حارث اعوړ وائي : زهٔ په مسجد کې تير شوم نو (ومې کتل چه) خلك لګيا وو خبرې اترې ئې کولې نو زهٔ علي ﷺ خوا ته ورغلم هغه ته مې خبر ورکړو، نو هغه وفرمايل: آيا دوی دا کار کړيدې؟ (يعنې په مسجد کې بې ځايه خبرې کوی او قرآن ئې شاته ګوزار کړيدې)، ما ووېل : آؤ، وې فرمايل : خبردار ما د رسول الله ﷺ نه آوريدلي چه فرمايل ئې : خبر شئ چه ضرور به روستو فتنه راځي۔ نو ما ووېل : يا رسول الله ! د هغې نه به د وتلو لاره څه وي؟ وې فرمايل: د الله کتاب دې چه پدې کې خبر (قصې) د هغه زمانې دی چه ستاسو نه مخکې دی او خبر (حالات) د هغه زمانې دی چه ستاسو نه روستو دی، او ستاسو د جګړو ترمينځ حاکم يعنې فيصله کونکے دے، او دا د حق او د باطل ترمينځ جدائي راوستونکے دے۔

دا د ټوقو کتاب نهٔ دے، کوم جبار (متکبر) چه دا کتاب پرېخودو الله تعالىٰ به ئې هلاك

کړي، او چا چه ددې نه علاوه په بل شي کې هدايت ولټولو الله تعالىٰ به ئې ګمراه کړي او دا د الله تعالىٰ مضبوطه رسئ ده او دا د نصيحت او د حکمتونو والا کتاب دے او دا هغه نيغه لاره ده، (چه انسان پدے روان شي نو مقصد ته رسيږي) هغه کتاب دے چه پدے سره (په عمل کولو باندے) خواهشات نۀ کږيږي (باطل طرفته نۀ مائل کيږي) او ژبې پدے سره نۀ ګډے وډے کيږي (يا دا چه ددے د ژبې سره نورې ژبې نۀ يو ځای کيږي)، علماء ددے نه نۀ مړيږي (يعني علماء او مفسرين ددے تول علوم نشي راګيرولے) او قرآن کريم په ډيرو اړولو راړولو (يعني تلاوت) سره نۀ زړيږي، او نۀ ددے عجائب ختميږي، قرآن کريم هغه کلام دے چه دا جناتو واوريدو نو هغوي يو منټ هم ايسار نشو چه وے وئيل چه مونږ عجيبه قرآن واوريدو چه هدايت طرف ته لاره ښائي نو مونږ پدے باندے ايمان راوړو، چا چه د قرآن مطابق وينا وکړه نو هغه رشتيا وويل او چا چه پدے باندے عمل وکړو هغه ته ثواب ورکړے کيږي،

(يعني هغه اقوال او نظريات صحيح او قابل قبول دي چه د قرآن کريم عين مطابق وي) او چا چه پدے سره فيصله وکړه هغه انصاف وکړو او چا چه دے طرف ته دعوت ورکړو نو دۀ د نيغے لارے خودنه وکړه. (يا دۀ ته نيغے لارے طرفته هدايت وکړے شو).

(ترمذيؒ، دارميؒ) او امام ترمذيؒ وئيلي دي چه دا حديث دے چه سند ئې مجهول دے او ددے د يو راوي (حارث اعور) په باره کې د علماؤ کلام دے. (يعني ددۀ د رشتينې کيدو په باره کې شك دے).

تشريح : دا روايت سنداً ضعيف دے ليکن عامے جملے ئې د نورو احاديثو نه معلوميږي.

يَخُوْضُوْنَ : يعني ننوتي وو، خوض په اصل کې بکواس او فضول خبرو کولو ته وائي.

وَحُكْمُ مَا بَيْنَكُمْ : په حاء باندے ضمه او کاف باندے سکون دے يعني دا حاکم دۓ د هغه حوادث او واقعاتو چه ستاسو په مابين کې واقع کيږي يعني د کفر او ايمان او د طاعت او د عصيان او د حلالو او حرام. حکم فيصله کونکي ته وائي.

وَهُوَ الْفَصْلُ : يعني دا جدائي راوستونکے دے د حق او د باطل ترمينځ يا فصل په معنىٰ د مفصول يعني دا هغه کتاب دے چه پدے کې جدائي کړے شويده د خطاء او د

رسا ترمینځ او د ثواب او د عذاب ترمینځ.
لَيْسَ بِالْهَزْلِ : یعنی دا د ټوقو کتاب نۀ دے بلکه ټول په کې حق بیان شویدے او باطل ئے مقابله نشي کولے.
مَنْ تَرَكَهُ مِنْ جَبَّارٍ : دا بیان دے د (مَنْ تَرَكَهُ) دپاره یعنی څوك چه ئے پریدي چه دا پریخودونکے متکبر وي یعني د تکبر د وجه نه ئے پریدي ایمان پرے نۀ راوړي او عمل پرے نۀ کوي ددے وجه نه علماء فرمائي : څوك چه د قرآن کریم په یوه کلمه یا یو آیت باندے تکبر وکړي نو هغه پدے سره کافر کیږي، او که د کمزورتیا او سستیا د وجه نه ئے نۀ لولي او عقیده د تعظیم ئے لري نو بیا گناهګار نۀ دے لیکن د ډیر لوی خیر نه محروم دے.
وَمَنِ ابْتَغَى الْهُدٰى : یعنی څوك چه د قرآن نه علاوه په بل کتاب کې هدایت طلب کوي نو الله تعالیٰ به ئے ګمراه کړي دا ډیره عجیبه خبره ده، ډیر خلك فضائل اعمال او احیاء العلوم او فصوص الحکم د ابن عربي حلولي د هدایت چینے ګنړي، او دا وائي چه پدے باندے ډیر امت ته هدایت شویدے نو دا به ضرور ګمراه کیږي پدے حدیث کې ښه سوچ وکړه. بعض خلك هدایت په فقه حنفي کې ګنړي بعض هدایت صرف په فضائل اعمال کې ګنړي دا د قرآن کریم تحقیر دے، د هغه شان نۀ پیژندل دي.
دا وجه ده چه متکلمین، جهمیه او معتزله ولے ګمراه شو؟ ځکه چه دوی د الله تعالیٰ کتاب شا ته غورزولے وو دے کې ئے هدایت نۀ لټولو.
لَا تَزِيغُ بِهِ الْأَهْوَاءُ : (۱) یعنی تا چه د قرآن کریم تابعداري وکړه نو ستا خواهش کوږ نۀ دے، د هغه چا خواهش به کوږ وي چه د خواهشاتو پسے روان شي او محکمات او احادیث نبویه پریدي.
(۲) یعنی خواهشاتو والا دا نشي بدلولے او نۀ ئے شي کړولے نو پدے کې اشاره ده چه په قرآن کریم کې به تحریف د غلو کونکو او بد نسبت د باطل پرستو او غلط تاویل د جاهلانو واقع کیږي. یعنی که څوك په قرآن کې کوشش کوي چه دا بدل کړي او غلطه معنیٰ وکړي نو دا پدے سره قرآن کریم نشي ختمولے او نۀ ئے شي بدلولے هسے ځان به ستړے کوي ځکه چه ددے د حفاظت ذمه واري الله تعالیٰ اخستے ده.
وَلَا تَلْتَبِسُ بِهِ : یعنی هره ژبه په قرآن باندے کار ورکوي اګرکه څوك عرب نۀ وي هم

قرآن کریم لوستلے شي او دا د قرآن کریم اعجاز دے۔ دویم دا چه نورے ژبے د قرآن سره نشي ګډیدے وډے کیدے۔ دا رنګه عامه عربي او د قرآن الفاظ هم نهٔ ګډوډ کیږي د دواړو ترمینځ به ډیر فرق وي۔
وَلَایَشْبَعُ مِنْهُ الْعُلَمَاءُ : یعنی دے کي دومره علوم او رازونه دي چه علماء د هغے حقیقت او ژور والي ته نهٔ رسیږي چه ترے ماړه شي او نور د طلب ځای ختم شي بلکه هرکله چه دوي په څه رازونو خبریږي نو نورو ته ئے شوق پیدا کیږي زیات د اول نه۔
وَلَایُخْلَقُ : په فتحه د یاء او ضمه د لام د (خَلَقَ الثَّوب) نه دے، یا باب افعال دے، او په یاء باندے ضمه ده او لام باندے کسره ده د دواړو یوه معنیٰ ده زړیدو ته وائي۔
یعنی که قرآن کریم څوك څومره ډیر لولي نو د هغے لذت او خوند او تازګی نهٔ ختمیږي او نهٔ په غوږونو باندے بد لګی۔
عَنْ کَثْرَةِ الرَّدِّ : دلته (عَنْ) په خپله معنیٰ دے یعنی قرآن کریم نهٔ زړیږي د ډیر تکرار په وجه چه ووائي ډیر مو ولوستو نو ئے خوند ختم شو، نهٔ بلکه وخت په وخت ئے خوند زیاتیږي۔
وَلَایَنْقَضِیْ عَجَائِبُهٗ : یعنی د قرآن باریکات او رازونه نهٔ ختمیږي۔
لَمْ تَنْتَهِ الْجِنُّ : یعنی جناتو چه دا واوریدو نو پدے باندے ئے اکتفاء ونکړه بلکه ددے سره ئے قوم ته دعوت ورکړو او پدے کتاب باندے ئے تعجب وکړو۔
درجة الحديث : اسناده ضعيف جدا، الدارمي (۲/۴۳۵) والترمذی (۲۹۰۶) وقال : اسناده مجهول وفي حديث الحارث مقال آه وفيه ابو المختار الطائي وابن اخي الحارث كلاهما مجهول وقال الصنعاني : هذا حديث موضوع ولكن لاينبغي الحكم بوضعه فان الكلام في الحارث وغيره لا يقتضي ان يكون الحديث موضوعا وله شاهد ضعيف من حديث معاذ بن جبل عند الطبراني ذكره الهيثمي في مجمع الزوائد (۷/۱٦٤) وقال وفيه عمرو بن واقد وهو متروك) (مرعاة) ___

- 2139(31) وَعَنْ مُعَاذِ الْجُهَنِيِّ:أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ : " مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ وَعَمِلَ بِمَا فِيْهِ أُلْبِسَ وَالِدَاهُ تَاجًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ضَوْءُهٗ أَحْسَنُ مِنْ ضَوْءِ الشَّمْسِ فِيْ بُيُوْتِ الدُّنْيَا لَوْ كَانَتْ فِيْكُمْ فَمَا ظَنُّكُمْ بِالَّذِيْ عَمِلَ بِهٰذَا ؟ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او سیدنا معاذ جهنی ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چه قرآن کریم ولوستو او په هغه احکامو ئے عمل وکړو کوم چه پدے کی دی، ددۀ والدینو ته به د قیامت په ورځ داسے تاج واغوستے شی چه د هغے رڼا د دنیا په کورونو کی د پرقیدونکی نمر د رڼا نه به زیاته ښائسته وی، که چرته (بالفرض) ستاسو په کورونو کی نمر شی، نو ستاسو څه ګمان دے په هغه شخص باندے چه په قرآن ئے عمل وکړو. (احمدؒ، ابوداوؒد)

تشریح : قَرَأَ الْقُرْآنَ : ددے قراء ت نه مراد په یادو یادول دی. په روایت د احمد کی دی : قرآن ولولی او کامل ئے کړی. یعنی سر ته ئے ورسوی.

وَالِدَاهُ : مور او پلار ته ورله څکه تاج ورپه سر کوی چه دا سبب دے د بچی په تربیت کی.

درجة الحديث : اسناده حسن، احمد (٣/٤٤٠) وابوداود (١٤٥٣) وفی سنده زبان بن فائد عن سهل بن معاذ وهما ضعيفان) (البانی) ولکن قال الدویش فی تنبیه القاری علی تقوية ما ضعفه الالبانی ص(٦) : اقول : ليس الامر كما قال : بل حسن او صحيح ولعله لم يطلع على ما يشهد له وقد ورد ما يشهد له ويقويه من حديث بريدة : وفيه : وَيُوضَعُ عَلَى رَأْسِهِ تَاجُ الْوَقَارِ وَيُكْسَى وَالِدَاهُ حُلَّتَيْنِ لَا يُقَوَّمُ لَهُمَا اَهْلُ الدُّنْيَا فَيَقُوْلَانِ : بِمَ كُسِينَا هٰذِهٖ ؟ فَيُقَالُ : بِأَخْذِ وَلَدِكُمَا الْقُرْآنَ] مسند احمد (٥/٣٤٨) وهذا الاسناد على شرط مسلم وصححه الحاكم والذهبی وحسنه الالبانی نفسه فی الصحيحة (٢٨٢٩) ولكن رد عليه الشيخ الالباني في الصحيحة فقال : ليس هذا بشاهد لكل الحديث فاين هذا من ذاك، اين الحلتان من التاج؟) وحسن الالبانی لغيره فی صحيح الترغيب (١٤٣٤)

- 2140 (32) وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ ﷺ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ : " لَوْ جُعِلَ الْقُرْآنُ فِيْ إِهَابٍ ثُمَّ أُلْقِيَ فِي النَّارِ مَا احْتَرَقَ ". رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه : او سیدنا عقبه بن عامر ﷺ فرمائی : ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه فرمایل ئے : که بالفرض قرآن کریم په یو څرمن کی واچولے شی بیا هغه اُور ته ګوزار کړے شی نو ویه نۀ سوزی. (دارمیؒ)

تشریح : دے حدیث کی بعض خلك حیران شویدی چه که مونږ پدے حدیث تجربه وکړو چه قرآن کریم په یو څرمن کی بند کړو او بیا ئے اُور ته ګوزار کړو نو اُور به ئے ونۀ

سیزي نو د حدیث خلاف راځي او که نهٔ وي نو ددے به څه معنیٰ وي؟ مونږ اول وایو چه هیڅ اشکال نشته ځکه چه دا روایت د ابن لهیعه او د مشرح بن عاهان د وجه نه ضعیف دے۔

او که ثابت شي لکه ددے نور ضعیف شواهد شته نو بیا به دا په طریقه د مثال باندے وي چه د چا په سینه کې قرآن کریم راشي او د قرآن سره د تلاوت او د حفظ او د درس په طریقه تعلق ساتي نو الله تعالیٰ به ئے په اُور باندے ونهٔ سیزي،

لکه بعض روایاتو نه معلومیږي چه هغه په «جامع بیان العلم وفضله» کې ابن عبد البرؒ راوړیدي چه قیامت کې به الله تعالیٰ علماؤ ته ووائي چه ما ستاسو په سینه کې قرآن او علم ددے دپاره نهٔ وو اچولے چه زهٔ تاسو په اُور وسیزم۔ (پدے شرط چه ایمان ئے پرے راوړے وي)۔

او همدا مطلب ابوعبد الله البوشنجيؒ او امام احمدؒ ذکر کړیدے چه امام بیهقيؒ ترے نقل کړے۔

یا په ظاهر باندے بناء دے یعنی د قرآن کریم کرامت دا دے چه ډیر کرت یو ځای کې اُور ولګی او قرآن پکې محفوظ پاتې شي۔

بعض وائي دا د نبي علیه السلام په زمانه کې مراد دے چه دا د نبي علیه السلام معجزه وه چه که قرآن کریم په اُور کې هم ګوزار شوے وے نو اُور به نهٔ سیزلے۔

یا دا په طریقه د فرض او تقدیر سره دے یعنی د قرآن کریم دومره شرافت او عظمت دے که بالفرض دا په اُور کې هم ګوزار کړے شي نو وبه نهٔ سوزي۔

نو ظاهر مطلب ئے دا دے چه د قرآن قاري به په اُور باندے ونهٔ سوزي لکه ددے تفصیل په الفوائد (٣جلد) کې وګوره۔

درجة الحديث: اسناده - سن، احمد (١٥٥،١٥١/٤) والدارمی (٤٣٠/٢) والطبرانی فی الکبیر (٣٠٨/١٧) رقم (٨٥٠) وحسنه الالبانی فی صحیح الجامع (٥٢٨٢) وقال فی الصحیحة (٣٥٦٢): اسناد حسن، رجاله ثقات علی ضعف فی مشرح بن هاعان وقال فیه ابن عدی: صدوق لا بأس به وعبد الله بن لهیعة هنا صحیح الحدیث (لانه اذا روی عنه قتیبة وعبد الله بن وهب وعبد الله بن یزید المقرئ فهو صحیح الحدیث) (وهنا روی عنه المقرئ وقتیبة) کما هو معروف من ترجمته فقد غفل عن هذه الحقیقة الهیثمی فاعله به وقد

ذکر المناوی اقوال العلماء الذین اعلوه من جمیع طرقه واستدرك علیهم بقوله : لکنه یتقوی بتعدد طرقه) والله اعلم)

- 2141(33) وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ فَاسْتَظْهَرَهُ فَأَحَلَّ حَلَالَهُ وَحَرَّمَ حَرَامَهُ أَدْخَلَهُ اللهُ بِهِ الْجَنَّةَ وَشَفَّعَهُ فِيْ عَشَرَةٍ مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ كُلُّهُمْ قَدْ وَجَبَتْ لَهُ النَّارُ . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجه وَالدَّارِمِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ وَحَفْصُ بْنُ سُلَيْمَانَ الرَّاوِيُّ لَيْسَ هُوَ بِالْقَوِيِّ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيْثِ.

ترجمه : او سیدنا علی بن ابی طالب ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چه قرآن ولولی بیا ئے په یادو یاد کړی او د هغے حلال حلال وګنړی او حرام ئے حرام وګنړی الله تعالیٰ به ئے ددے په سبب جنت ته داخل کړی او ددهٔ سفارش به قبول کړی ددهٔ د کورنئ نه د هغه لسو کسانو په باره کی چه تولو باندے اُور واجب شوے وی۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ) او امام ترمذیؒ وئیلی دی چه دا حدیث غریب دے او حفص بن سلیمان راوی قوی نهٔ دے، هغه په حدیثونو کی ضعیف ګنړلے شی۔

تشریح : فَاسْتَظْهَرَهُ : یعنی په یادوئے یاد کړو/ او ددے د حدودو په لحاظ ساتلو کی ئے احتیاط وکړو،/ یا دا چه په قرآن سره ئے په دین کی معاونة او قوت طلب کړو۔ لکه د استظهار دغه درے معانی دی۔

وَشَفَّعَهُ : دا روایت سنداً ضعیف دے مګر د نورو صحیح روایاتو نه معلومیږی چه پدے امت کی به داسے خلك وی چه د ډیرو ګناهګارو دپاره به سفارش کوی کیدے شی چه قاری او عالم د زرګونو کسانو سفارش وکړی خو دا تخصیص د لسو صحیح نهٔ دے دا شفاعت هله دے چه عمل پرے وکړی۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف جدا، من اجل حفص بن سليمان احمد (١/١٤٨،١٤٩) والترمذی (٢٩٠٥) وقال غريب لا نعرفه الا من هذا الوجه وليس اسناده بصحيح وابن ماجه (٢١٦) وهو فی ضعيف الجامع الصغير (٥٧٦١)

- 2142(34) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ لِأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ : " كَيْفَ

تَقْرَأُ فِي الصَّلَاةِ ؟ " فَقَرَأَ أُمَّ الْقُرْآنِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ مَا أُنْزِلَتْ فِي التَّوْرَاةِ وَلَا فِي الْإِنْجِيْلِ وَلَا فِي الزَّبُوْرِ وَلَا فِي الْفُرْقَانِ مِثْلُهَا وَإِنَّهَا سَبْعٌ مِنَ الْمَثَانِيْ وَالْقُرْآنُ الْعَظِيْمُ الَّذِيْ أُعْطِيْتُهُ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَرَوَى الدَّارِمِيُّ مِنْ قَوْلِهٖ : " مَا أُنْزِلَتْ " وَلَمْ يَذْكُرْ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ ابي بن کعب (ﷺ) ته وفرمايل: ته په مانځه کې څنګه قراءت کوې ؟ (يعني څه شے لولې؟) نو هغه سورة فاتحه ولوستله نو رسول الله ﷺ وفرمايل : قسم په هغه ذات چه زما نفس د هغه په لاس کې دے، په تورات او انجيل او زبور او قرآن کې ددے په شان سورت نۀ دے نازل شوے او دا اوه آيتونه دي چه بار بار لوستلے شي او هغه لوی قرآن دے چه ما ته راکړے شويدے۔ (ترمذیؒ) او دا روايت دارمیؒ تر (ما انزلت) وينا پورے نقل کړيدے او هغه ابي بن کعبؓ پکې نۀ دے ذکر کړے او امام ترمذیؒ وئيلي دي چه دا حديث حسن صحيح دے۔

تشريح : كَيْفَ تَقْرَأُ : سوال دا دے چه دلته رسول الله ﷺ د قراءت د کيفيت په باره کې تپوس وکړو او ابي بن کعب ﷺ ورته سورة الفاتحه ولوستله نو دلته خو جواب د سوال سره موافق نۀ ښکاري ځکه چه دلته سوال د حالت او کيفيت د قراءت نه وو چه تۀ په مانځه کې په کومه طريقه او څنګه قراءت کوې؟، او سوال د نفس قراءت نه نۀ وو۔

جواب دا دے چه کيدے شي چه په دے روايت کې اختصار شوے وی او اصل تقدير دا دے چه ابي بن کعبؓ ام القرآن (سورة الفاتحه) ولوستله په ترتيل او تجويد سره۔

يا دا چه د نبی ﷺ غرض دا وو چه تۀ په مانځه کې کوم سورت لولې او څنګه ئے لولې او هغه څنګه سورت دے جامع دے او که نۀ ؟۔ نو کله چه هغه سورت فاتحه ولوستله نو نبی ﷺ ورته فضيلت بيان کړو چه دا دومره کمالي او جامع سورت دے چه په پخوانو کتابونو کې ددے په شان سورت نۀ دے نازل شوے، دا مطلب ظاهر دے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، احمد (٢/٣٥٧، ٤١٣) (٥/١١٤) والترمذی (٢٨٧٥) وقال حسن صحيح والنسائی (٢/١٣٩) والحاکم (٢/٢٥٨) وقال صحيح علی

شرط مسلم ووافقه الذهبي) ـــــــــــــــ

- 2143 (35) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " تَعَلَّمُوا الْقُرْآنَ فَاقْرَءُوْهُ فَإِنَّ مَثَلَ الْقُرْآنِ لِمَنْ تَعَلَّمَ وَقَامَ بِهٖ كَمَثَلِ جِرَابٍ مَحْشُوٍّ مِسْكًا يَفُوْحُ رِيْحُهٗ كُلَّ مَكَانٍ وَمَثَلُ مَنْ تَعَلَّمَهٗ فَرَقَدَ وَهُوَ فِيْ جَوْفِهٖ كَمَثَلِ جِرَابٍ أُوْكِيَ عَلٰى مِسْكٍ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه ـــــــــــــــ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمایل: قرآن زده کړئ بیا دا لولئ ځکه چه د قرآن کریم مثال د هغه چا دپاره چه دا زده کړی بیا په هغې باندے قیام کوی (یعنی په مانځه کی ئے لولی) په شان د یو توښه دان دے چه د مشکو نه ډك شوے وی چه د هغې خوشبوئی هر ځای ته خورېږی او مثال د هغه چا چه قرآن ئے زده کړے وی بیا اوده پاتې کیږی او قرآن د هغه په سینه کی وی (یعنی د شپے په مانځه کی ئے نۀ لولی یا په هغې باندے عمل نۀ کوی) په شان د هغه توښه دان دے چه په مشکو باندے ئے خوله بنده شوی وی۔ (ترمذیؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ)

تشریح : تَعَلَّمُوا الْقُرْآنَ : یعنی د قرآن الفاظ زده کړئ بیا د هغې تلاوت کوئ او دا په درس او تدریس طریقے سره لولئ ځکه چه صحابه کرامو کی عام خلك به د قرآن د الفاظو په معنیٰ باندے پوهېدل البته هغوی کی د قرآن د علمونو درس او تدریس موجود وو او دے زمانه کی د قرآن زده کول لفظی او بیا په معنیٰ باندے پوهیدل او ددے درسونه کول دا ټول اهم دی۔

وَقَامَ بِهٖ : یعنی د شپے ئے لولی۔ یا عمل کوی په هغې باندے همیشه دپاره۔ اوله معنیٰ صحیح ده او دویمه هم مراده ده۔

جِرَابٍ : لکه بوجئ چه د مشکو نه ډکه شوی وی۔

مطلب دا چه څوك قرآن زدهٔ کړی او بیا ئے لولی نو ددے مثال داسے دے چه یو بوجئ وی او د مشکو نه ډکه شوی وی او د هغې خوله کولاوه شوی وی چه خوشبوئی ئے هر ځای ته رسیږی، لوستونکی ته ئے هم برکت رسی او ددهٔ کور ته هم او آوریدونکو ته او چه چا قرآن زدهٔ کړے وی او بیا د هغې نه اُوده پاتې کیږی لکه یو بوجئ د مشکو نه ډکه وی او خوله ئے بنده شوی وی چه خوشبوئی پکی دننه پاتې شی نو دغه شان ددے قرآن

برکت او فائده نۀ دۀ ته رسیږی او نۀ بل چا ته.

أَوْكِيُّ عَلٰى مِسْلِكٍ : یعنی په وِکاء (پړی) باندے تړلے شوے وی.

درجة الحديث : اسناده ضعيف، الترمذی (۲۸۷۶) وقال حديث حسن غريب ورواه ابن ماجه (۲۱۷) وضعفه الالبانی فی ضعيف الجامع الصغير (۲۴۵۲)

- 2144(36) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : مَنْ قَرَأَ (حٰمٓ) الْمُؤْمِنَ إِلٰى (إِلَيْهِ الْمَصِيرُ) وَآيَةَ الْكُرْسِيِّ حِينَ يُصْبِحُ حُفِظَ بِهِمَا حَتّٰى يُمْسِيَ. وَمَنْ قَرَأَ بِهِمَا حِينَ يُمْسِي حُفِظَ بِهِمَا حَتّٰى يُصْبِحَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چه حم المؤمن تر (الیه المصیر) آیت پورے او آیة الکرسی ولوسته کله چه صبا کړی نو پدے دواړو سره به تر بیګاه پورے محفوظ شي او چا چه دا دواړه د بیګاه په وخت کې ولوستل نو پدے سره به تر صبا پورے محفوظ شي. (ترمذیؒ، دارمیؒ) او امام ترمذیؒ وئیلی دی چه دا حدیث غریب دے.

تشریح : د حم مؤمن ابتدائی آیت داسے دے : ﴿ حم، تَنْزِيْلُ الْكِتَابِ مِنَ اللّٰهِ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ، غَافِرِ الذَّنْبِ وَقَابِلِ التَّوْبِ شَدِيْدِ الْعِقَابِ ذِى الطَّوْلِ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ اِلَيْهِ الْمَصِيْرُ﴾.

نازلیدل ددے کتاب د طرف د غالب، پوهه ذات نه دی، بخنه کونکے د ګناهونو دے او توبه قبلونکے، سخت عذاب والا، سخت قوت (یا د ورکړے) والا دے، نشته حقدار د بندګئ سوئ د هغه نه خاص هغه طرفته ورګرزیدل دی).

حُفِظَ بِهِمَا : یعنی ددے دواړو سورتونو د لوستو او د برکت په وجه به ئے حفاظت وشی او په روایت د ابن السنی کی دی (عُصِمَ ذٰلِكَ الْيَوْمَ مِنْ كُلِّ سُوْءٍ). په دغه ورځ به د هر قسم تکلیف او مصیبت نه محفوظ شی.

درجة الحديث: اسناده ضعيف، الدارمی (۲/۴۴۹) والترمذی (۲۸۷۹) وقال حديث غريب فی اسناده عبد الرحمن بن ابی بكر بن ابی مليكة المليكی وقد تكلم فيه بعض اهل العلم من قبل حفظه آه، وقال البخاری واحمد : منكر الحديث، ينظر ضعيف الجامع الصغير

(۵۷۷۰) ________

- 2145 (37) وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: " إِنَّ اللّٰهَ كَتَبَ كِتَابًا قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضَ بِأَلْفَيْ عَامٍ أَنْزَلَ مِنْهُ آيَتَيْنِ خَتَمَ بِهِمَا سُورَةَ الْبَقَرَةِ وَلَا تُقْرَآنِ فِيْ دَارٍ ثَلَاثَ لَيَالٍ فَيَقْرَبُهَا الشَّيْطَانُ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ ________

ترجمه: او سيدنا نعمان بن بشير ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: يقيناً الله تعالىٰ د آسمان او د زمكې د پيدائش نه دوه زره كاله مخكې يو كتاب وليكلو، د هغې نه ئې دوه آيتونه نازل كړل چه په هغې سره ئې سورة بقره ختمه كړه، دا دواړه په يو كور كې درې ورځې نهٔ لوستلې كيږي چه هغې ته شيطان نزدې شي (يعني شيطان به ورته بيخي نهٔ نزدې كيږي) (ترمذيؒ، دارميؒ) او مام ترمذيؒ وائي: دا حديث غريب دے۔

تشريح: بِأَلْفَيْ عَامٍ: ددے نه مراد يا خو مطلق ډيره موده ده نو بيا دا منافات نهٔ لري د هغه حديث د ابن عمرؓ سره چه مرفوعاً مسلم كې راغلے دے چه الله تعالىٰ د مخلوقاتو تقدير د آسمانونو او د زمكې د پيدائش نه پنځوس زره كاله مخكې كړيدے۔

يا دا چه دواړو حديثونو كې هيڅ تعارض نشته ځكه چه د عام مخلوقاتو تقدير پنځوس زره كاله مخكې شويدے او ددے كتاب ليكل دوه زره كاله مخكې شوى دى ځكه چه الله تعالىٰ په تقدير كې وخت په وخت ليكل كوي۔

يعني د مخلوقاتو د تقدير د ليكلو شروع پنځوس زره كاله مخكې شويده او دا كتاب ئې پكې دوه زره كاله مخكې ليكلے دے۔

ځينې شارحينو دا هم وئيلي دي چه د كتابت نه مراد دلته راښكاره كول ددے كتاب دي په ملائكو باندے يعني ليكل خو ډير مخكې شويدي ليكن الله تعالىٰ په ملائكو باندے دوه زره كاله مخكې راښكاره كړو چه هغوى ته ددے كتاب فضيلت وروښائي۔

ظاهر دا ده چه تقديرونه ډير دي، تورات ئې د آدم عليه السلام د پيدائش نه څلويښت كاله مخكې ليكلے دے، او بعض تقدير د مور په خيټه كې كيږي،

او حديث كې دي: (كُنْتُ نَبِيًّا وَآدَمُ بَيْنَ الرُّوحِ وَالْجَسَدِ) زهٔ نبي ليكلے شوے وم كله چه آدم عليه السلام د روح او د بدن ترمينځ وو۔ [الترمذى: ۳۶۰۹،صحيح]

درجة الحديث : اسناده صحيح، احمد (٤/٢٧٤) والدارمی (٢/٤٤٩) والترمذی (٢٨٨٢) وقال حديث حسن غريب وصححه ابن حبان والحاكم (٢/٢٦٠) وقال صحيح على شرط مسلم ووافقه الذهبی) وصححه الالبانی فی صحيح الجامع (١٧٩٩)

- 2146(38) وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" مَنْ قَرَأَ ثَلَاثَ آيَاتٍ مِنْ أَوَّلِ الْكَهْفِ عُصِمَ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ.

ترجمه : او سيدنا ابودرداء رضي الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چه د سورة كهف د اول نه درې آيتونه ولوستل (نو) د دجال د فتنې نه به محفوظ شي. (دا روايت امام ترمذيؒ نقل كړيدې او وئيلي ئې دي چه دا حديث حسن صحيح دې).

تشريح : دا روايت په ظاهر كې صحيح معلوميږي ليكن محققين علماء وائي چه دا روايت شاذ دې، او د شذوذ وجه دا ده چه دده راوي شعبهؒ پدې روايت كې مضطرب دې ځكه چه په روايت د مسلم كې (عشر) لفظ راوړې لكه څنګه چه نورو راويانو د (عشر) لفظ ذكر كړې، او كله (ثلاث) لفظ راوړي لكه په روايت د ترمذي كې راغلې او پدې كې شعبهؒ د نورو راويانو مخالف دې، لهذا د شعبه روايت د (ثلاث آيات) مخالف شو پدې وجه دا شاذ وګرزيدو.

لكه دده تفصيل په السلسلة الصحيحة (رقم: ٢٦٥١) والضعيفة (٣٦١٣) كې وګوره.

نو صحيح روايت هغه شو چه مخكې تير شو چه څوك لس آيتونه د سورة الكهف ولولي نو الله تعالىٰ به ئې د دجال د فتنې نه بچ كړي يا څوك چه د دجال نه خبر شي او هغه پرې د سورت كهف اولنى آيتونه ولولي نو دجال به ئې په فتنه كې نشي اخته كولې لكه دا په حديث د ابوداود (٤٣٢١) او مسلم كې راغلي دي چه نبي عليه السلام فرمائي :

(فَمَنْ أَدْرَكَهُ مِنْكُمْ فَلْيَقْرَأْ عَلَيْهِ فَوَاتِحَ سُوْرَةِ الْكَهْفِ)

چا چه دجال ومونډو نو په هغه باندې دې د سورة الكهف ابتدائي آيتونه ولولي. او باقي د جُمعې په ورځ مكمل سورة الكهف لوستلو بيل فضائل دي چه مخكې ورته اشاره وشوه.

درجة الحديث: اسناده ضعيف اخرجه الترمذی (۲۸۸٦) وقال حديث حسن صحيح وهو بلفظه شاذ مخالف للصحيح: ((من حفظ عشر آيات)) راجع الضعيفة (۱۳۳٦)

- 2147(39) وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " إِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ قَلْبًا وَقَلْبُ الْقُرْآنِ (يٰسٓ) وَمَنْ قَرَأَ (يٰسٓ) كَتَبَ اللهُ لَهُ بِقِرَاءَتِهَا قِرَاءَةَ الْقُرْآنِ عَشْرَ مَرَّاتٍ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ

ترجمه: او سيدنا انس بن مالك ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمايل: د هر شی دپاره زړۀ وی او د قرآن کريم زړۀ (سورة يس) دے او چا چه (يس) ولوستلو الله تعالیٰ به ددۀ دپاره د هغے په لوستلو د قرآن د لس کرته لوستلو ثواب وليکی۔ (ترمذیؒ، دارمیؒ) او امام ترمذیؒ ويلی دی چه دا حديث غريب دے۔

تشريح: يس خو د قرآن په دويم طرف کی دے لکه زړۀ چه په دويم طرف کی وی دارنګه پدے کښې د زړۀ متعلق مسئلے دی چه په هغے باندے زړۀ برابريږی لکه د الله تعالیٰ د تعلق خبرے او د هغه په دين قربانی او د قيامت او د حشر نشر اقرار دے۔

يا دا چه لکه څنګه چه زړۀ په بدن کی مرکزی حيثيت لری نو دغه شان دا سورت په قرآن کريم کی مرکزی حيثيت او اهميت لری۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف، الدارمی (۲/٤٥٦) والترمذی (۲۸۸۷) وقال هذا حديث غريب لا نعرفه الا من حديث حميد بن عبد الرحمن وفی اسناده ابومحمد هارون شيخ مجهول)

- 2148(40) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " إِنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى قَرَأَ (طٰهٰ) وَ (يٰسٓ) قَبْلَ أَنْ يَّخْلُقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ بِأَلْفِ عَامٍ فَلَمَّا سَمِعَتِ الْمَلَائِكَةُ الْقُرْآنَ قَالَتْ طُوْبٰى لِأُمَّةٍ يَنْزِلُ هٰذَا عَلَيْهَا وَطُوْبٰى لِأَجْوَافٍ تَحْمِلُ هٰذَا وَطُوْبٰى لِأَلْسِنَةٍ تَتَكَلَّمُ بِهٰذَا ". رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمايل: يقيناً الله تعالیٰ د آسمانونو او د زمکے د پيدائش نه زر کاله مخکی سورة طه او يس لوستلی وو نو

هر کله چه ملائکو قرآن واوریدو وې فرمایل: د هغه امت دپاره خوشحالي ده چه په هغوي باندې به دا کتاب نازلولې شي او د هغه سینو دپاره خوشحالي ده چه دا قرآن به پورته کوي او د هغه ژبو دپاره خوشحالي ده چه پدې (قرآن) به تلفظ کوي۔ (دارمیؒ)

تشریح : بِأَلْفِ عَامٍ : پدې کې هم هغه تشریح ده کومه چه مخکې په حدیث د نعمان بن بشیرؓ کې تیره شوه۔

فَلَمَّا سَمِعَتِ : قرآن کریم د الله تعالیٰ کلام دې او الله تعالیٰ په هغې باندې تلفظ او تکلم کړېدې څنګه چه د هغه شان لائق وي او پدې کې تاویل ته ضرورت نشته لکه دا د نورو احادیثو او نصوصو نه ثابته ده، او دا په کلام نفسي باندې حملول غلط دي ځکه چه کلام نفسي خو د ذات د الله تعالیٰ سره متعلق دې، نو هغه ملائکو ته څنګه واوروی او سمع خو د هغه شي کیږي چه په هغې کې صوت او تلفظ وي او پدې تاویل باندې د کتاب او سنت نه هیڅ قسمه دلیل نشته او نۀ د یو صحابيؓ قول شته۔

پدې روایت کې د قرآن کریم ډیر لوی فضیلت راغې چه ملائك پدې باندې رشك او غبطه کوي چه څومره عجیب کتاب دې چه په انسانانو به نازلیږي لیکن زمونږ او ستاسو ترمینځ دومره عام شویدې چه زمونږ اکثرو انسانانو سره د هغې اهمیت کم شویدې۔ والله المستعان ولا حول ولا قوة الا بالله۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف جدا، الدارمي (۲/۴۵٦) ونقل عن ابن حبان انه قال : هذا متن موضوع وذكره ابن الجوزى فى الموضوعات من اوائل الكتاب وقال هذا حديث موضوع) وابراهيم بن المهاجر بن مسمار منكر الحديث (بخارى) وشيخه عمر بن حفص بن ذكوان قال احمد تركنا حديثه وحرقناه وقال النسائى : متروك)

- 2149(41) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " مَنْ قَرَأَ (حٰمٓ) الدُّخَانَ فِي لَيْلَةٍ أَصْبَحَ يَسْتَغْفِرُ لَهُ سَبْعُوْنَ أَلْفَ مَلَكٍ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ وَعُمَرُ بْنُ أَبِي خَثْعَمٍ الرَّاوِيُّ يُضَعَّفُ وَقَالَ مُحَمَّدٌ يَعْنِي الْبُخَارِيَّ هُوَ مُنْكَرُ الْحَدِيْثِ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چه (حم) الدخان

په یوه شپه کی ولوستو، صبا به کړی پداسے حال کی چه ددهٔ دپاره به اویا زره ملائك بخښنه غواړی۔ دا روایت امام ترمذیؒ راوړے او وئیلی ئے دی چه دا حدیث غریب دے او عمر بن ابی خثعم راوی ضعیف گنړلے شي او محمد یعنی امام بخاریؒ وائی چه دا (راوی) منکر الحدیث دے۔

تشریح: دا او راتلونکے روایت ضعیف دی پدے وجه په یوه خاص شپه یا د جُمعے په شپه به د سورة دخان د لوستلو تخصیص نهٔ کوی۔ او ددے نه به سنت طریقه نهٔ جوړوی او د قرآن په لوستلو کی هسے هم خیر دے او د اجر او د مغفرت سبب دے۔

درجة الحدیث: اسناده موضوع، الترمذی (۲۸۸۸) وقال حدیث غریب وعمر بن ابی خثعم الراوی یضعف وقال محمد یعنی البخاری هو منکر الحدیث)

- 2150(42) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ :" مَنْ قَرَأَ (حٰمٓ) الدُّخَانَ فِي لَيْلَةِ الْجُمُعَةِ غُفِرَ لَهُ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَهِشَامٌ أَبُو الْمِقْدَامِ الرَّاوِيُّ يُضَعَّفُ

ترجمه: او سیدنا ابوهریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چه د جمعے په شپه (حم) الدخان ولوستو (نو) هغه ته به بخښنه وکړے شي۔ (دا روایت ترمذیؒ نقل کړے او وئیلی ئے دی چه دا حدیث غریب دے او هشام ابو المقدام راوی په حدیثونو کی ضعیف گنړلے شي)۔

تشریح: د جُمعے د ورځے ډیر خصوصیات دی چه سیوطیؒ په (اللمعه) کی جمع کړی او مونږ مخکی په باب الجمعه کی ذکر کړیدی هغے ته رجوع وکړه۔ پدے روایت کی چه کوم خصوصیت راغلے نو دا ضعیف دے لهذا عمل پرے نهٔ دے پکار۔

درجة الحدیث: اسناده ضعیف، الترمذی (۲۸۸۹) وقال هذا حدیث غریب لا نعرفه الا من هذا الوجه وهشام ابو المقدام الراوی یضعف ولم یسمع الحسن من ابی هریرة فهو ضعیف منقطع)

- 2151(43) وَعَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَقْرَأُ الْمُسَبِّحَاتِ قَبْلَ أَنْ يَرْقُدَ يَقُولُ :" إِنَّ فِيهِنَّ آيَةً خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ آيَةٍ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُودَاوُدَ

- 2152 (44) وَرَوَاهُ الدَّارِمِيُّ عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ مُرْسَلًا وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ

ترجمه : او سیدنا عرباض بن ساریه ﷺ فرمائي : نبي کريم ﷺ به د اُوده کیدو نه مخکې مسبحات (سورتونه) لوستل او دا به ئې وئيل چه يقيناً پدے کې يو آيت دے چه د زرو آيتونو نه غوره دے۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ)

تشریح : آية : کيدے شي چه ددے نه مراد د سورة الحشر آخري آيت وي يعني (هو الله الذي لا اله الا هو عالم الغيب والشهادة هو الرحمن الرحيم)۔

حافظ ابن کثيرؒ وائي : دا آيت (هُوَ الْأَوَّلُ وَالْآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ) الحديد : ۳)

او علي القاريؒ وائي : ډيره ښکاره خبره دا ده چه دا هغه آيت دے چه په اوله کې ئې تسبيح راغلي وي، او ددے آيت تعيين ونشو لکه د ليلة القدر يا د ساعة الجمعه په شان، دے دپاره چه بنده ددے تولو سورتونو په لوستلو کې حرص او کوشش وکړي۔

درجة الحديث : اسناده حسن : احمد (۱۲۸/٤) وابوداود (۵۰۵۷) والترمذي (۲۹۲۱) (۳٤۰٦) وقال حديث حسن غريب والنسائيؒ في عمل اليوم والليلة (۷۱۳) وحسنه الحافظ في تخريج الاذكار وفي اسناده بقية بن الوليد وفيه مقالة لاهل الحديث۔ وحسنه الالباني في صحيح الترمذي) وضعفه في ضعيف ابي داود وضعيف الترغيب والترهيب (۳٤٤) وقال حسين سليم اسيد اسناده صحيح وهو مرسل (تعليق سنن الدارمي ۳٤۲٤) وليس في اسناد الدارمي بقية)

- 2153(45) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " إِنَّ سُوْرَةً فِي الْقُرْآنِ ثَلاثُوْنَ آيَةً شَفَعَتْ لِرَجُلٍ حَتّٰى غُفِرَ لَهٗ وَهِيَ: (تَبَارَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : يقيناً په قرآن کريم کې يو سورت دے ديرش آيتونه دي يو سړي لره ئې سفارش وکړو تردے چه بخښنه ورته وکړے شوه او هغه (تبارك الذي بيده الملك) دے۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ)۔

تشريح : يعنى يو سړے وو چه هغه به سورة الملك لوستلو او ددے ډير قدر به ئے كولو نو كله چه مړ شو نو دے سورت ورله سفارش وكړو تردے چه ددهٔ نه ئے عذاب دفع كړو۔

يا دا چه (شفعت) ماضى په معنىٰ د مضارع ده لكه په بل روايت كى (تَشْفَعُ لِصَاحِبِهَا) الفاظ دى (ابوداود) يعنى څوك چه دا سورت ولولى نو دا به په قبر او په قيامت كى د لوستونكى دپاره سفارش كوى۔

او دا ئے په صيغه د ماضى سره ذكر كړو پدے كى ترغيب او تيزى وركول دى چه ددے سورت په لوستلو باندے هميش والے وكړه ګويا كه تا له ئے د مخكى نه سفارش كړے او د رجل نه مراد هر سړے دے۔

ليكن اول مطلب ظاهر دے لكه په بل روايت كى راغلى دى چه هغه به روستو راشى۔

بيا دا حديث د هغه علماؤ دليل دے چه وائى چه بسم الله د هر سورت نه جزء نهٔ دے ځكه چه دلته نبى ﷺ سورتِ مُلك ته ديرش آيتونه وويل نو كه بسم الله ورسره واخستے شى بيا زياتيږى معلومه شوه چه بسم الله صرف د سورتونو ترمينځ د فصل دپاره راغلے ده۔

درجة الحديث: اسناده صحيح، احمد (٢/٢٩٩، ٣٢١) وابوداود (١٤٠٠) والترمذى (٢٨٩١) وقال حديث حسن والنسائى فى عمل اليوم والليلة (٧١٠) وابن ماجه (٣٧٨٦) والحاكم (١/٥٦٥) و(٢/٤٩٧) وقال صحيح الاسناد ووافقه الذهبى) وقال الالبانى حسن، وقال ابن الملقن فى البدر المنير (٣/٥٦٢) : وله طريق آخر عند الطبرانى فى اكبر معاجمه ورجاله ثقات) وصححه الحافظ البوصيرى فى (اتحاف الخيرة المهرة ٦/٩٦) وقال فى فتح الغفار : وله شاهد عند الطبرانى من حديث انس باسناد صحيح)

- 2154(46) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: ضَرَبَ بَعْضُ أَصْحَابِ النَّبِيِّ ﷺ خِبَاءَهُ عَلٰى قَبْرٍ وَهُوَ لَايَحْسِبُ أَنَّهُ قَبْرٌ فَإِذَا فِيهِ إِنْسَانٌ يَقْرَأُ سُوْرَةَ (تَبَارَكَ الَّذِىْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ) حَتّٰى خَتَمَهَا فَأَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" هِىَ الْمَانِعَةُ هِىَ الْمُنْجِيَةُ تُنْجِيهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِىُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه : او سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : د نبی کریم ﷺ بعض صحابه کرامو په یو قبر باندے خیمه ووهله او هغه دا گمان نهٔ کولو چه دا قبر دے نو ناڅاپه په هغه قبر کی یو انسان وو چه سورة (تبارك الذی بیده الملك) ئے لوستلو تردے چه ختم ئے کړو۔ نو دے نبی کریم ﷺ ته راغلو او هغه ته ئے خبر ورکړو نو رسول الله ﷺ وفرمایل : دا سورت منع کونکے او نجات ورکونکے دے، دهٔ ته به د عذاب د قبر نه نجات ورکړی۔ (دا روایت امام ترمذیؒ نقل کړے او وئیلی ئے دی چه دا حدیث غریب دے)۔

تشریح : دا روایت ضعیف دے او که ثابت شی نو دا څه بعیده نهٔ ده چه انسان په دنیا کی د سورة الملك سره مینه ولری او هغه لولی نو پس د مرگ نه ئے خلکو ته دا کرامت راښکاره کړی چه په قبر کی ئے لولی او دا لوستل د عبادت په طریقه نهٔ دی ځکه برزخ یو غیبی امر دے او عالَم التکلیف نهٔ دے بلکه دا لوستل د تلذذ او د خوند اخستلو په طریقه دی۔

او په صحیح حدیث کی راغلی دی : (سُوْرَةُ تَبَارَكَ هِیَ الْمَانِعَةُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ)

(صحیح الجامع الصغیر: ۳۶۴۳) والصحیحة (۱۱۴۰)

سورت تبارك د قبر د عذاب نه منع کونکے دے۔ نو ددے روایت دا روستنۍ جمله صحیح شوه۔

درجة الحدیث : اسناد الشطر الاول ضعیف، الترمذی (۲۸۹۰) وقال هذا حدیث حسن غریب من هذا الوجه)

- 2155(47) وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ أَنَّ النَّبِیَّ ﷺ كَانَ لَایَنَامُ حَتّٰی یَقْرَأَ: (آلم تَنْزِیْل) وَ (تَبَارَكَ الَّذِیْ بِیَدِهِ الْمُلْكُ) رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِیُّ وَالدَّارِمِیُّ. وَقَالَ التِّرْمِذِیُّ : هٰذَا حَدِیْثٌ صَحِیْحٌ. وَكَذَا فِیْ شَرْحِ السُّنَّةِ، وَفِی الْمَصَابِیْحِ غَرِیْبٌ.

ترجمه : او جابر ﷺ فرمائی : نبی کریم ﷺ به نهٔ اُوده کیدو تردے چه (الم تنزیل) او (تبارك الذی بیده الملك) به ئے ولوستو۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، دارمیؒ) او امام ترمذیؒ وئیلی دی چه دا حدیث صحیح دے، دغه شان په شرح السنه کی دی او په مصابیح کی دی چه غریب دے۔

تشریح: یعنی رسول الله ﷺ به تر هغه وخته پورې نهٔ اُوده کیدو چه دا دوه سورتونه یعنی سورة الم السجده او سورة ملك به ئې لوستلې نهٔ وو ډیر اهتمام به ئې کولو۔ نو د ماسخوتن مانځه نه روستو تر اُوده کیدو پورې دا دوه سورتونه لوستلې شي که په مانځه کې ئې لولي او که بغیر د مانځه نه، مگر په مانځه کې د تبارك الذی د لوستلو فضیلت زیات راغلې دې کما فی الدین الخالص والکبریٰ للبیهقی (۴۲۸۹)۔

بدعتیانو ترې صرف (تبارك الذی) راواخسته او په امام باندې ئې وائي او صرف د جُمعې په شپه ئې وائي نو په حدیث کې ئې ځومره تخصیصات وکړل دا گمراهي ده۔ حال دا چه دا دوه سورتونه په هره شپه کې لوستل د هر چا دپاره مستحب عمل دې۔

درجة الحدیث: اسناده صحیح، احمد (۳/۳۴۰) والدارمی (۲/۴۵۵) والترمذی (۲۸۹۲) وقال هذا حدیث رواه غیر واحد عن لیث بن ابی سلیم مثل هذا ورواه مغیرة بن مسلم عن ابی الزبیر عن جابر) ومن ضعفه فلم یصب کالشیخ سلیم هلالی وصححه الزبیر علیزئ وقال الشاهد فی دلائل النبوة للبیهقی وهو صحیح)

- 2156(48) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ قَالَا : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : (إِذَا زُلْزِلَتْ) تَعْدِلُ نِصْفَ الْقُرْآنِ وَ(قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ) تَعْدِلُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ وَ (قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ) تَعْدِلُ رُبُعَ الْقُرْآنِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه: او سیدنا ابن عباس او انس بن مالك رضی الله عنهم فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: (اذا زلزلت) سورت د نیمائی قرآن برابر دې او (قل هو الله احد) د قرآن د دریمې حصې سره برابر دې او (قل یا ایها الکافرون) د قرآن د ځلورمې حصې سره برابر دې۔ (ترمذی)

تشریح: سورة الزلزال ته ئې نیمائی قرآن پدې وجه ووئیل چه د قرآن احکام دوه قسمه دي یو د دنیا او بل د آخرت او پدې سورت کې د آخرت احکام اجمالاً ذکر دي۔

ثُلُثَ الْقُرْآنِ: د قرآن علوم درې قسمه دي علم التوحید، علم الشرائع والاحکام او علم الاخبار والقصص او په سورة الاخلاص کې علم التوحید موجود دې نو دا دریمه حصه شوه۔

رُبُعَ الْقُرْآنِ : ځکه چه پدے سورت کی د الله ثبوتی صفتونه او تقدیس اشارةً ذکر دی او نفی د عبادت د غیر الله او براءت عن الکفار پکی صراحةً ذکر دے، او په سورة الاخلاص کی د الله د صفاتو اثبات او تقدیس صراحةً او نفی د عبادت د غیر الله پکی اشارةً دے او په توحید کی اول د معبود الوهیت ثابتول او د هغه تقدیس بیانول وی بیا نفی د الوهیت د غیر الله وی۔ نو پدے وجه سورة الاخلاص کی توحید ډیر کامل دے نو ځکه دا ثلث القرآن شو او سورة الکافرون ربع القرآن شو۔

یا دا چه سورة الاخلاص د الله تعالیٰ په هغه صفاتو باندے مشتمل دے چه هغه په سورت کافرون کی نشته۔

درجة الحديث : اسناد الفقرة الاولیٰ ضعيف: فيه يمان بن المغيرة العنزى ضعيف، الترمذى (٢٨٩٤) والحاكم (١/٥٦٦) وهو فى ضعيف الجامع الصغير (٥٣١) وللفقرة الثانية والفقرة الثالثة شواهد صححها الالبانى فى الصحيحة (٥٨٦) وصحيح الجامع (٤٤٠٥) بلفظ : إِذَا زُلْزِلَتْ تَعْدِلُ رُبُعَ الْقُرْآنِ) وبلفظ : عن ابن عمر مرفوعاً (قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ تَعْدِلُ رُبُعَ الْقُرْآنِ وَإِذَا زُلْزِلَتْ رُبُعُ الْقُرْآنِ وَإِذَا جَاءَ نَصْرُ اللّٰهِ رُبُعُ الْقُرْآنِ) وصححه الالبانى) وانظر الدين الخالص (٨/٤٢٢)

- 2157 (49) وَعَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : " مَنْ قَالَ حِيْنَ يُصْبِحُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ: أَعُوْذُ بِاللهِ السَّمِيْعِ الْعَلِيْمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ فَقَرَأَ ثَلَاثَ آيَاتٍ مِنْ آخِرِ سُوْرَةِ (الْحَشْرِ) وَكَّلَ اللهُ بِهٖ سَبْعِيْنَ أَلْفَ مَلَكٍ يُصَلُّوْنَ عَلَيْهِ حَتّٰى يُمْسِيَ وَإِنْ مَاتَ فِيْ ذٰلِكَ الْيَوْمِ مَاتَ شَهِيْدًا. وَمَنْ قَالَهَا حِيْنَ يُمْسِيْ كَانَ بِتِلْكَ الْمَنْزِلَةِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه : او سیدنا معقل بن یسار رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ ارشاد نقل کوی فرمائی : چا چه د صبا په وخت درے کرته وویل : اعوذ بالله السميع العليم من الشيطان الرجيم بیا ئے د سورة الحشر آخری درے آیتونه ولوستل، الله تعالیٰ به په دهٔ باندے اویا زره ملائك مقرر کړی چه دهٔ دپاره به بخښنه غواړی تردے چه ماښام کړی او که په دغه ورځ مړ شی نو شهید به مړ شی۔ او چا چه دا د ماښام په وخت ولوستل نو په دغه مرتبه باندے وی۔ (ترمذیؒ، دارمیؒ) او امام ترمذیؒ ویلی دی چه دا حدیث غریب دے۔

تشریح : دا روایت د سند په اعتبار سره ضعیف دے، قابل د عمل نهٔ دے او د قرآن په لوستلو کې ضرور خیر شته لیکن دا خاص فضائل ئې نشته.

درجة الحديث: اسناده ضعيف، الترمذی (٢٩٢٢) والدارمی (٢/٤٥٨) وفی سنده خالد بن طهمان قال ابن حجر : صدوق رمی بالتشيع ثم اختلط) (تقریب : ١٦٤٤) وحسنه حسین سلیم اسد فی تعلیق الدارمی)

- 2158 (50) وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ :" مَنْ قَرَأَ كُلَّ يَوْمٍ مِائَتَیْ مَرَّةٍ (قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ) مُحِيَ عَنْهُ ذُنُوبُ خَمْسِينَ سَنَةً إِلَّا أَنْ يَّكُونَ عَلَيْهِ دَيْنٌ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَفِيْ رِوَايَتِهٖ "خَمْسِينَ مَرَّةً "وَلَمْ يَذْكُرْ "إِلَّا أَنْ يَّكُونَ عَلَيْهِ دَيْنٌ "

ترجمه : او سیدنا انس ﷺ فرمائی : نبی کریم ﷺ وفرمایل : چا چه هره ورځ دوه ځل (قل هو الله احد) ولوستو ددهٔ نه به د پنځوس کالو گناهونه زائل شی مگر دا چه په دهٔ باندے قرض وی. (هغه به ترے نهٔ معاف کیږی) (ترمذیؒ، دارمیؒ) او په روایت د دارمیؒ کې پنځوس کرته ذکر دے او هغه دا روستو جمله (اِلَّا اَنْ يَّكُوْنَ عَلَيْهِ دَيْنٌ) نهٔ ده ذکر کړے.

تشریح : دا روایت هم ضعیف دے او ددے ډیر طرق ابن عدیؒ، ابن عساکرؒ، اسماعیلیؒ، خطیبؒ، ابن الضریسؒ، بیهقیؒ او بزارؒ وغیره راوړیدی لکه علی المتقیؒ په کنز العمال کې ذکر کړی خو په ټولو کې کلام دے مگر د (قل هو الله) په صحیح احادیثو کې ډیر زیات فضائل راغلی دی لکه مخکې روایتونو کې ورته ثلث القرآن وویل شو، او په یو بل روایت کې دی :

(مَنْ قَرَأَ (قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ) عَشْرَ مَرَّاتٍ بَنَى اللّٰهُ لَهٗ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ)

(عن معاذ بن انس صحیح الجامع (٦٤٧٢)

چا چه قل هو الله احد لس کرته ولوستلو نو الله تعالیٰ به ورله په جنت کې کور جوړ کړی (او په یو روایت کې بنگله ذکر ده) دا په عام حالت کې لوستل دی، څه خاص وخت ئې مقرر نهٔ دے.

او دا خبره هم د نورو احادیثو نه ثابته ده چه بنده ته په عباداتو او اذکارو باندے گناهونه معاف کیږی مگر که پردی حقوق ورپورے متعلق وی او هغه ئې ضائع کړی وی لکه قرض ورپورے وی نو هغه نهٔ معاف کیږی ترڅو چه بنده نهٔ وی معاف کړے.

درجة الحديث: اسناده ضعيف، (الترمذى (٢٨٩٨) والدارمى (٢/٤٦١) وفى سنده حاتم بن ميمون قال ابن حبان : لا يجوز الاحتجاج به وقال ابن كثير فى تفسيره (٤/٥٦٨) اسناده ضعيف)

- 2159(51) وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ :" مَنْ أَرَادَ أَنْ يَنَامَ عَلٰى فِرَاشِهٖ فَنَامَ عَلٰى يَمِيْنِهٖ ثُمَّ قَرَأَ مِائَةَ مَرَّةٍ (قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ) إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ يَقُوْلُ لَهُ الرَّبُّ : يَا عَبْدِىْ أُدْخُلْ عَلٰى يَمِيْنِكَ الْجَنَّةَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِىُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه : او سيدنا انس ﷺ د نبى كريم ﷺ ارشاد نقل كوى : چا چه اراده وكړه چه په خپله بستره اوده شى او په ښى اړخ باندے اوده شى بيا سل كرته (قل هو الله لحد) ولولى۔ (نو) كله چه د قيامت ورځ شى الله تعالىٰ به ورته وائى : اے زما بنده ! جنت ته په خپل ښى اړخ داخل شه۔ (دا روايت امام ترمذىؒ نقل كړے او وئيلى ئے دى چه دا حديث حسن غريب دے)۔

تشريح : د اُودو كيدو څلويښت اذكار دى نو ضعيف روايات پريخودل پكار دى او په قوى باندے عمل كول پكار دى۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف، الترمذى (٢٨٩٧) فى اسناده حاتم بن ميمون وقد سبق)

- 2160(52) وَعَنْ أَبِىْ هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّ النَّبِىَّ ﷺ سَمِعَ رَجُلًا يَقْرَأُ (قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ) فَقَالَ : " وَجَبَتْ " قُلْتُ: وَمَا وَجَبَتْ ؟ قَالَ:" اَلْجَنَّةُ ". رَوَاهُ مَالِكٌ وَالتِّرْمِذِىُّ وَالنَّسَائِىُّ

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائى: نبى كريم ﷺ ديو سرى نه واوريدل چه (قل هو الله احد) ئے لوستو نو وے فرمايل: واجب شو۔ ما وويل : (اے د الله رسوله) څه شے واجب شو؟۔ وے فرمايل: جنت۔ (مالكؒ، ترمذىؒ، نسائىؒ)

تشريح : وَجَبَتْ : جنت ورله څكه واجبيږى چه پدے كى توحيد پروت دے او څوك چه د الله تعالىٰ توحيد د زړه نه ومنى نو الله تعالىٰ به ئے ضرور يوه ورځ جنت ته داخلوى۔

درجة الحديث: اسناده صحيح، موطأ مالك (١/٢٠٨) رقم (١٨١) احمد (٢/٣٠٢) والترمذى (٢٨٩٧) وقال حسن غريب والنسائى (٢/١٧١) باسناد صحيح

- 2161(53) وَعَنْ فَرْوَةَ بْنِ نَوْفَلٍ عَنْ أَبِيهِ: أَنَّهُ قَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ عَلِّمْنِيْ شَيْئًا أَقُوْلُهُ إِذَا أَوَيْتُ إِلٰى فِرَاشِيْ. فَقَالَ : " اِقْرَأْ (قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ) فَإِنَّهَا بَرَاءَةٌ مِنَ الشِّرْكِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوٗدَ وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه : او جناب فروه بن نوفل د خپل پلار (نوفل ﷺ) نه روايت كوى چه هغه عرض وكړو: اے د الله رسوله ! ما ته څه شے راوښايه چه زۀ ئے په هغه وخت وايم كله چه زۀ خپلے بسترے ته راشم۔ نو نبى كريم ﷺ وفرمايل: (قل يا ايها الكافرون) لوله ځكه چه دا د شرك نه بيزارى ده۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، دارمیؒ)۔

تشريح : فروه بن نوفل اشجعى رحمه الله تابعیؒ دے د اوساط التابعين نه او پلار ئے صحابى دے،

يعنى څوك چه د اُوده كيدو نه مخكى قل يا ايها الكافرون لولى نو الله تعالىٰ به ئے د شرك نه جدا ساتى او كه دا مړ شى نو د شرك نه به خلاص وى او په توحيد به مړى۔ او دا روايت صحيح دے۔

درجة الحديث: اسناده صحيح، احمد (٥/٤٥٦) والدارمى (٢/٤٥٩) وابوداود (٥٠٥٥) والترمذى (٣٤٠٣) والنسائى فى عمل اليوم والليلة (٨٠١) والحاكم (٢/٥٣٨) وقال صحيح الاسناد ووافقه الذهبى وصححه الألبانى) والتفصيل فى المرعاة (٧/٢٣٨)

- 2162(54) وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ ﷺ قَالَ: بَيْنَا أَنَا أَسِيْرُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ بَيْنَ الْجُحْفَةِ وَالْأَبْوَاءِ إِذْ غَشِيَتْنَا رِيْحٌ وَظُلْمَةٌ شَدِيْدَةٌ فَجَعَلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُعَوِّذُ بِ (أَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ) وَ (أَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ) وَيَقُوْلُ : " يَا عُقْبَةُ! تَعَوَّذْ بِهِمَا فَمَا تَعَوَّذَ مُتَعَوِّذٌ بِمِثْلِهِمَا ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوٗدَ

ترجمه : او سيدنا عقبه بن عامر ﷺ فرمائى : پدے مابين كى زۀ د رسول الله ﷺ سره د جُحفے او ابواء ترمينځ روان وم ناڅاپه په مونږ باندے هواء او سخته تياره راغله نو

رسول الله ﷺ شروع شو چه په (اعوذ برب الفلق) او (اعوذ برب الناس) سره ئې پناهي طلب کوله- او دائې ویل: اے عقبه! ددے دوه سورتونو په ذریعه پناهي وغواړه ځکه چه یو پناهي غوښتونکی ددے دوه سورتونو په شان په هیڅ شی سره پناهي نهٔ ده غوښتے- (ابوداوٓد)

تشریح: د جُحفے او د ابواء ترمینځ شل یا دیرش میله فاصله ده او ابواء د مکے او د مدینے ترمینځ یو غر دے او دلته یو ښار دے چه هغے ته منسوب دے-

ابواء د مکے نه (٢٣٥) کیلومیتره جدا علاقه ده د دریاب غاړے ته نزدے ده- په ابواء کی د رسول الله ﷺ مور وفات شوے او ښخه شوے ده-

بِمِثْلِهِمَا: اَیْ بِشَیْءٍ مِثْلِهِمَا- په هیڅ یو شی سره چه ددے په شان وی-

دا حدیث ذلیل دے چه د هر قسمه پریشانئ، مصیبت او مرض په وخت کی دا دوه سورتونه لوستل بهتر عمل دے، شپږ میاشتے په رسول الله ﷺ باندے د سحر (جادو) په حالت کی تیرے شوے تردے چه دا دوه سورتونه ورته وخودل شو (ځکه چه نزول ئې مکه کی شویدے)- نو ددے په ویناَ سره ترے د سحر اثر ختم شو-

درجة الحدیث: اسناده صحیح، ابوداود (١٤٦٣)

- 2163(55) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنَ خُبَيْبٍ قَالَ: خَرَجْنَا فِيْ لَيْلَةِ مَطَرٍ وَظُلْمَةٍ شَدِيْدَةٍ نَطْلُبُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ فَأَدْرَكْنَاهُ فَقَالَ :"قُلْ". قُلْتُ مَا أَقُوْلُ؟ قَالَ :" (قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ) وَالْمُعَوِّذَتَيْنِ حِيْنَ تُصْبِحُ وَحِيْنَ تُمْسِيْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ تَكْفِيْكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: او سیدنا عبد الله بن خبیب ؓ فرمائی: مونږ د باران او د سختے تیاره په شپه کی راووتو چه رسول الله ﷺ مو طلب کولو نو مونږ هغه وموندو، نو هغه وفرمایل: ووایه، ما وویل: څه ووایم؟ وے فرمایل: درے کرته (قل هو الله احد) او معوذتین کله چه صبا کړے او کله چه بیگاه کړے دا به ستا دپاره د هر شی نه کافی شی- (ترمذیؒ، ابوداوٓدؒ، نسائیؒ)

تشریح: تَكْفِيْكَ : یعنی دا درے سورتونه به ستا دپاره د هر شی نه کافی شی د تهولو

شرورو نه او د ټولو تعوذاتو نه او د ټولو عباداتو نه۔

دا دړیے سورتونه سهار او ماښام درےے درےے کرت لوستل راغلی دی او د هر فرض مانځه نه بعد یو یو کرت راغلی دی او د شپے د اُوده کیدو په وخت کی هم یو یو کرت دی او باد او هواګانو او تیارےے په وخت یو یو کرت راغلی او د دم په وخت کی ورسره (قل هو الله احد) نشته مګر که څوك ئے ورسره وائی هیڅ باك نشته ځکه چه په هر سورت کی شفاء شته۔

درجة الحديث: اسناده صحيح، ابوداود (٥٠٨٢) والترمذى (٣٥٧٥) وقال حديث حسن صحيح غريب من هذا الوجه والنسائى (٢٥٠/٨)

- 2164(56) وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ ﷺ قَالَ : قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَقْرَأُ سُوْرَةَ (هُوْدٍ) أَوْ سُوْرَةَ (يُوْسُفَ) ؟ قَالَ : " لَنْ تَقْرَأَ شَيْئًا أَبْلَغَ عِنْدَ اللهِ مِنْ (قُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: او سیدنا عقبه بن عامر ﷺ فرمائی : ما وویل : اے د الله رسوله ! آیا زهٔ سورة (هود) او سورة (یوسف) ووایم؟ هغه وفرمایل : تهٔ هیڅ شے نهٔ لولے چه هغه د الله په نیز د (قل اعوذ برب الفلق) نه زیات کامل (او بهتر) وی۔ (احمدؒ، نسائیؒ، دارمیؒ)

تشریح: یعنی زهٔ د مصیبتونو د دفع کولو دپاره سورة هود او سورة یوسف ولولم؟ دلته همزه د استفهام پټه ده، نبی علیه السلام ورته د دغه دوه سورتونو په ځای قل اعوذ برب الفلق وخودلو چه دا د الله تعالیٰ په نیز د فتنے نه په تعوذ کی ډیر کامل دے۔

درجة الحديث: اسناده صحيح، احمد (١٤٩/٤) والدارمى (٣٦٢) والنسائى (١٥٨/٢) والحاكم (٤٥٠/٢) وقال صحيح الاسناد ولم يخرجاه ووافقه الذهبى وصححه الالبانى وشعيب الارناووط)

الفصل الثالث

- 2165(57) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " أَعْرِبُوا الْقُرْآنَ وَاتَّبِعُوْا غَرَائِبَهُ وَغَرَائِبُهُ فَرَائِضُهُ وَحُدُوْدُهُ ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمایل : د قرآن کریم معاني بیان کړئ (او الفاظ ئې راښکاره کړئ) او ددے د غرائبو (ناشنا احکامو) تابعداري وکړئ او ددے غرائب ددے فرائض او ددے حدود دي۔ (بیهقیؒ شعب الایمان)

تشریح : اعراب په معنیٰ د اظهار سره یعني د قرآن کریم معاني او الفاظ راښکاره کړئ او بیا پدے کتاب کې چه کوم ناشنا فرضي احکام دي هغې پسے روان شئ۔

مطلب دا چه د قرآن کریم معاني وپیژنئ او بیا ئې خلکو ته راښکاره کړئ او پدے کې باطني رازونه او ښکاره احکام وپیژنئ او د هغې تابعداري شروع کړئ او پدے کې چه کوم ناشنا لغات دي هغه راښکاره کړئ۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف، البيهقي في الشعب (٢٢٩٣) وضعفه الالباني في ضعيف الجامع (٩٣٦) وعبد الله بن سعيد المقبری شديد الضعف)

- 2166(58) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا : أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ : " قِرَاءَةُ الْقُرْآنِ فِي الصَّلَاةِ أَفْضَلُ مِنْ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ فِي غَيْرِ الصَّلَاةِ وَقِرَاءَةُ الْقُرْآنِ فِي غَيْرِ الصَّلَاةِ أَفْضَلُ مِنَ التَّسْبِيحِ وَالتَّكْبِيرِ، وَالتَّسْبِيحُ أَفْضَلُ مِنَ الصَّدَقَةِ وَالصَّدَقَةُ أَفْضَلُ مِنَ الصَّوْمِ وَالصَّوْمُ جُنَّةٌ مِنَ النَّارِ ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه : او ام المؤمنین عائشه رضي الله عنها فرمائي : نبي کریم ﷺ وفرمایل : په مانځه کې د قرآن لوستل ډیر غوره دي د لوستلو د قرآن نه په غیر د مانځه کې او د قرآن لوستل په غیر د مانځه نه ډیر غوره دي د تسبیح (سبحان الله) او تکبیر (الله اکبر) وئیلو نه او تسبیح (سبحان الله) وئیل د صدقې نه زیات غوره دي او صدقه د روژے نه زیاته غوره ده او روژه د اُور نه ډهال (پناهي) ده۔ (شعب الایمان)

تشریح : یعني د قرآن کریم لوستل په هر حال کې د هر شي نه غوره دي لیکن په مانځه کې لوستل ئې ډیر غوره دي۔

بیا دا مشهوره ده چه متعدي عبادت د لازمي عبادت نه ډیر غوره دے نو پکار ده چه صدقه ډیره غوره شي د تسبیح نه لیکن دلته به دا حکم خاص شي د ماسویٰ د ذکر

پورے او ذکر به ددے نه مستثنیٰ وی ځکه چه قرآن فرمائی : ﴿ وَلَذِكْرُ اللَّهِ أَكْبَرُ﴾ ـ د الله ذکر د هر څه نه لوی شے دے۔ (العنکبوت:٤٥)

درجة الحديث: اسناده ضعيف، البيهقي في الشعب (٢٢٤٣) والدارقطني في الافراد هب) عن عائشة وسنده ضعيف، ضعفه الشيخ في ضعيف الجامع (٤٠٨٢)

- 2167(59) وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَوْسٍ الثَّقَفِيِّ عَنْ جَدِّهِ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : " قِرَاءَةُ الرَّجُلِ الْقُرْآنَ فِيْ غَيْرِ الْمُصْحَفِ أَلْفُ دَرَجَةٍ وَقِرَاءَتُهُ فِي الْمُصْحَفِ تُضَعَّفُ عَلٰى ذٰلِكَ إِلٰى أَلْفَيْ دَرَجَةٍ ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الإِيْمَانِ

ترجمه : او سیدنا عثمان بن عبد الله بن اوس ثقفی رحمه الله د خپل نیکه (اوس ثقفی ﷺ) نه روایت کوی فرمائی چه رسول الله ﷺ وفرمایل: د مصحف (قرآن) نه په غیر د سړی قرآن لوستل زر درجے دی او د سړی لوستل په قرآن کی دننه دا په هغے باندے دوه زره درجو باندے زیاتیږی۔ (بیهقیؒ شعب الایمان)

تشریح : قرآن په کتو سره وئیل ډیر اجر لری ځکه دوه نیکئ راجمع کوی یو کتل او بل لوستل۔ مګر دا روایت ضعیف دے ځکه چه د بخاری (٥٠٣٠) د یو روایت نه معلومیږی چه په یادو لوستل بهتر دی (أَتَقْرَؤُهُنَّ عَنْ ظَهْرِ قَلْبِكَ ؟) (آیا تهٔ دا په یادو لوستلے شے ؟)

یو صحابی ته ئے وئیلی وو چه تا ته سورتونه په یادو درځی؟ نو څه لاړ شه دا ښځه مے په نکاح باندے درکړه۔

او دارنګه مخکی ذکر شو چه د قرآن قاری ته به وئیلے شی چه قرآن لوله او د جنت په درجو خیژه نو د هغے نه معلومیږی چه په یادو لوستلو کی اجر زیات دے۔

نو دے کی تفصیل دا دے چه کوم کی خشوع زیاته وه هغه به غوره وی۔ او که دواړو طریقو سره ئے یو شان لوستلے شی نو بیا په کتو سره لوستل غوره دی ځکه چه پدے کی د لوستلو سره د نظر عبادت هم راجمع کیږی خو پدے شرط چه په حفظ کی ئے کمزورتیا نهٔ راځی۔

او پدے روایت کی چه کومه فیصله شویده دا ضعیفه ده ځکه دا روایت ضعیف دے۔

او په حديث كي راځي : [مَنْ سَرَّهٗ اَنْ يُحِبَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَلْيَقْرَأْ فِي الْمُصْحَفِ]
(الصحيحة:٢٣٤٢) (٥/٤٥٢) وصحيح الجامع (٦٢٨٩) باسناد حسن
څوك چه غواړي چه د الله او د رسول سره مينه وكړي نو په مصحف كي دې قراءت كوي۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف، البيهقي في الشعب (٢٢١٨) وعزاه السيوطي في الجامع الصغير الى الطبراني في المعجم الكبير) قال في مجمع الزوائد (١١٦٦٨) : رواه الطبراني وفيه ابو سعيد بن عوذ وثقه ابن معين في رواية وضعفه في اخرى وبقية رجاله ثقات آه) وقال الذهبي والحافظ ابن حجر: ابو سعيد بن عوذ حدث عن بعض التابعين اسمه رجاء بن الحارث ضعيف ونقلا عن ابن معين انه قال : لا بأس به وعن ابن عدى انه قال : مقدار ما يرويه ابو سعيد بن عوذ غير محفوظ)

- 2168(60) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " إِنَّ هٰذِهِ الْقُلُوْبَ تَصْدَأُ كَمَا يَصْدَأُ الْحَدِيْدُ إِذَا أَصَابَهُ الْمَاءُ ". قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَمَا جَلَاؤُهَا ؟ قَالَ :" كَثْرَةُ ذِكْرِ الْمَوْتِ وَتِلَاوَةُ الْقُرْآنِ ". رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَحَادِيْثَ الْأَرْبَعَةَ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ

ترجمه : او سيدنا ابن عمر رضى الله عنهما فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : دا زړونه زنګين كيږي لكه څنګه چه وسپنه زنګينه كيږي كله چه ورته اُوبه ورسيږي۔ وويل شو : اې د الله رسوله ! ددې صفائي به څنګه وي ؟ وې فرمايل : د مرګ ډير يادول او د قرآن تلاوت كول۔ (بيهقيؒ شعب الايمان)

تشريح : يَصْدَأُ : د كرم باب نه دې زنګ كيدو ته وائي۔ يعني زړونه په ډيرو غفلتونو او شهواتو سره خيرنيږي او زنګ ورته لګيږي۔
نو نبي عليه السلام ورته دوه څيزونه وخودل يو په زړۀ كي مرګ ډير ياد ساتل او دويم د قرآن كريم تلاوت زيات كول چه پدې سره د دنيا او د مال او د جاه محبت زائله كيږي۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف، البيهقي في الشعب (٢٠١٤) قال الالباني : منكر) وفي سنده عبد الرحيم بن هارون الغساني الواسطي متروك الحديث) وعبد الله بن عبد العزيز بن ابي رواد قال ابو حاتم الرازي : احاديثه منكرة) السلسلة الضعيفة (٦٠٩٦)

- 2169(61) وَعَنْ أَيْفَعِ بْنِ عَبْدِ الْكُلَاعِيِّ قَالَ : قَالَ رَجُلٌ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! أَيُّ سُوْرَةِ الْقُرْآنِ أَعْظَمُ ؟ قَالَ :(قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ) قَالَ : فَأَيُّ آيَةٍ فِي الْقُرْآنِ أَعْظَمُ ؟ قَالَ: آيَةُ الْكُرْسِيِّ (اَللّٰهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ) قَالَ : فَأَيُّ آيَةٍ يَا نَبِيَّ اللهِ تُحِبُّ أَنْ تُصِيْبَكَ وَأُمَّتَكَ ؟ قَالَ : " خَاتِمَةُ سُوْرَةِ الْبَقَرَةِ فَإِنَّهَا مِنْ خَزَائِنِ رَحْمَةِ اللهِ تَعَالٰى مِنْ تَحْتِ عَرْشِهِ أَعْطَاهَا هٰذِهِ الْأُمَّةَ لَمْ تَتْرُكْ خَيْرًا مِنْ خَيْرِ الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ إِلَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ ". رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ۔

ترجمه : او د جناب ایفع بن عبد کلاعی نه نقل دی چه یو سړی وویل : اے د الله رسوله ! د قرآن کریم کوم سورت ډیر لوی (شان والا) دے؟ وے فرمایل: (قل هو الله احد) هغه بیا تپوس وکړو: په قرآن کریم کی کوم آیت ډیر لوی (شان والا) دے ؟ وے فرمایل : آیة الکرسی (الله لا اله الا هو الحی القیوم) هغه بیا تپوس وکړو : اے د الله نبی کوم آیت تهٔ خوښوے چه هغه (یعنی د هغے فائده) تا او ستا امت ته ورسیږی ؟ هغه وفرمایل : د سورة بقرے آخری حصه ځکه چه دا د الله تعالیٰ د رحمت د خزانو نه ده کوم چه د هغه د عرش نه لاندی دی، دا ئے دے امت ته ورکړیده، دے د دنیا او د آخرت هیڅ خیر نهٔ دے پریخے مګر هغه ئے راګیر کړیدے۔ (دارمیؒ)

تشریح : ایفع دا ذی الکلاع قبیلے ته منسوب دے کوم چه په یمن کی وه، او دا بعض کسانو صحابی شمارلے دے لیکن صحیح دا ده چه دا کشر تابعی دے، او صحابی نهٔ دے نو ددهٔ روایت مرسل یا معضل دے ځکه چه دهٔ د هیڅ صحابی نه آوریدل نهٔ دی کړی۔ (حافظ ابن حجرؒ)

دا روایت اګرکه ضعیف دے لیکن د دغه آیتونو او سورتونو فضائل په نورو صحیح حدیثونو کی راغلی دی۔

درجة الحدیث: اسناده ضعیف، الدارمی (۳۳۸۱) وقال حسین سلیم اسد : اسناده ضعیف لارساله او ربما لاعضاله) وایفع قال الازدی: لایصح حدیثه)

- 2170(62) وَعَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ مُرْسَلًا قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " فِيْ

فَاتِحَةِ الْكِتَابِ شِفَاءٌ مِنْ كُلِّ دَاءٍ ". رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ وَالْبُيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الإِيْمَانِ

ترجمه : او جناب عبد الملك بن عمیرؒ په طریقه د ارسال سره روایت نقل کوی چه رسول الله ﷺ وفرمایل : په سورة فاتحه کی د هر مرض شفاء ده۔ (دارمیؒ، بیهقیؒ فی شعب الایمان)

تشریح : عبد الملك بن عمیر بن سوید اللخمیؒ د بنی عدی حلیف دے، د کوفے وسیدونکے دے او ثقه فقیه دے، په آخری عمر کی ئے حافظه کی تغیر پیدا شوے وو او ډیرکرت به ئے د اوساط التابعین نه تدلیس کولو په سنه (٣٦هـ) کی د (١٠٣) کالو په عمر وفات شوے۔ (تقریب)

شِفَاءٌ : پدے سورت کی د ظاهری بیماریو شفاء هم شته چه کله پرے مریض دم کړے شی خامخا به رغیږی لکه واقعه د ابوسعید خدری ؓ پرے دلیل دے چه هغه د یو قوم مشر چه ماریا لړم چیچلے وو او دهٔ په اوه کرته سورت فاتحه باندے دم کړو نو نبی علیه السلام ورته وفرمایل: (وَمَا يُدْرِيْكَ اَنَّهَا رُقْيَةٌ) ۔ تا ته څه پته ولګیده چه دا سورت د دم سورت دے؟۔

او دارنګه سورت فاتحه کی د جهالت، کفر او ګناهونو او نورو باطنی مرضونو علاج هم شته، تفصیل ذپاره د حافظ ابن قیمؒ ((طب نبوی)) ته رجوع وکړه۔

درجة الحديث: اسناده مرسل، الدارمی (٣٣٧٠) والبیهقی فی الشعب ورجاله ثقات الا انه مرسل)

- 2171(63) وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ ؓ قَالَ : مَنْ قَرَأَ آخِرَ آلِ عِمْرَانَ فِيْ لَيْلَةٍ كُتِبَ لَهُ قِيَامُ لَيْلَةٍ . رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه : او سیدنا عثمان بن عفان ؓ فرمائی : چا چه د سورة آل عمران آخری حصه په یوه شپه کی ولوسته دهٔ دپاره به د ټولے شپے قیام (یعنی د تهجدو ثواب) ولیکلے شی۔ (دارمیؒ)

تشریح : یعنی څوك چه د سورة آل عمران آخری آیتونه د (ان فی خلق السموات والارض : ١٩ آیت) نه تر آخر د سورت پورے په یوه شپه کی ولولی که اول کی وی او که په آخر کی نو دومره ثواب به ئے وشی لکه دهٔ چه ټوله شپه قیام اللیل کړے وی۔

او دا موقوف روایت دے په منزله د مرفوع دے او دا حجت دے ځکه چه دا خبر ورکول دی د هغه شی نه چه په هغے سره یو خاص ثواب حاصلیږی او دا په اجتهاد سره نهٔ وئیلے کیږی۔ نو ضرور به ئے د رسول الله ﷺ نه آوریدلے وی۔

فائده : د نورو احادیثو نه معلومیږی چه رسول الله ﷺ به د سورة آل عمران آخری رکوع په هغه وخت کی لوستله چه د شپے به د تهجدو دپاره رابیدار شو نو په هغه وخت کی لوستل ئے سنت دی۔

درجة الحدیث: اسناده ضعیف لضعف ابن لهیعة، (قاله حسین سلیم اسد) وهو حسن الحدیث عند المتابعة، الدارمی (۳۳۹۶) عن اسحاق بن عیسی عن ابن لهیعة عن یزید بن ابی حبیب)

- 2172(64) وَعَنْ مَكْحُولٍ قَالَ : مَنْ قَرَأَ سُوْرَةَ آلِ عِمْرَانَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ صَلَّتْ عَلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ إِلَى اللَّيْلِ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه : او جناب مکحول (تابعیؒ) فرمائی : چا چه د جُمعے په ورځ سورة آل عمران ولوستو په دهٔ باندے به ملائك تر شپے پورے رحمتونه وائی (بخښنه به ورله غواړی)۔ (دارمیؒ)

تشریح : مکحول د شام لوی عالم دے، مشهور تابعی دے او دا روایت ئے مقطوع دے یعنی د تابعی وینا ده او پته نهٔ لګی چه دا به ئے د کوم ځای نه وئیلی وی یا به ئے د چا نه آوریدلے وی یا به ئے خپله تجربه وی پدے وجه که پدے څوك عمل ونکړی نو څه باك نشته۔

بعض علماء وائی : تابعی یا صحابی چه کله یوه داسے خبره وکړی چه په هغے پورے خاص ثواب او عقاب متعلق وی او د اجتهاد څه ګنجائش پکی نهٔ وی نو دا به په حکم د مرفوع کی وی او دلته هم دغه شان دے نو دا به حجت وی (المرعاة۷/۲٤۷)

لیکن اوله خبره ډیره صحیح ده ځکه چه د تابعی خبره مرفوع حدیث نهٔ جوړیږی ځکه احتمالات پکی ډیر وی۔

درجة الحدیث: اسناده صحیح الی مکحول وهو موقوف علیه) (حسین سلیم اسد) اخرجه الدارمی (۳۳۹۷)

- 2173(65) وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ قَالَ : " إِنَّ اللهَ خَتَمَ سُورَةَ الْبَقَرَةِ بِآيَتَيْنِ أُعْطِيتُهُمَا مِنْ كَنْزِهِ الَّذِي تَحْتَ الْعَرْشِ فَتَعَلَّمُوهُنَّ وَعَلِّمُوهُنَّ نِسَاءَ كُمْ فَإِنَّهَا صَلَاةٌ وَقُرْبَانٌ وَدُعَاءٌ ". رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ مُرْسَلًا.

ترجمه : او سیدنا جبیر بن نفیر رضي الله عنه فرمائی: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: یقیناً الله تعالیٰ سورة بقره په دوه داسے آیتونو سره ختم کړیدے چه هغه ما ته د الله تعالیٰ د هغه خزانے نه راکړے شویدی چه هغه د عرش نه لاندے دی نو دا خپله هم زده کړئ او دا خپلو زنانو ته هم زده کړئ ځکه چه دا آیتونه رحمت دے، او د الله د قرب (نزدیکت) ذریعه ده او (د ټولو دینی او دنیاوی خیرونو د حاصلولو دپاره) دعاء ده۔ (دا روایت دارمیؒ په طریقه د ارسال سره نقل کړیدے)۔

تشریح : جبیر بن نفیر جلیل القدر تابعیؒ دے او د شام والو نه دے، او پلار ئے صحابیؓ دے۔

نِسَاءَ كُمْ : زنانه ئے خاص کړے ځکه چه دوی ډیرے لائقی دی چه دا ورته زده کړے شی چه د الله تعالیٰ سره ئے تعلق پیدا شی ځکه چه د سورة البقرے آخری آیتونو کی خاص رحمت د الله تعالیٰ ذکر دے چه هغه ددے امت نه اِصر (بوجونه او تکلیفونه) پورته کول دی او بخنه پکی ذکر ده او دا سبب د نزدیکت دے الله تعالیٰ ته او دعاء ده چه د الله تعالیٰ نه غوښتلے شی۔

صَلَاةٌ : یعنی دا استغفار او خاص رحمت دے د لوستونکی دپاره۔

یا د صلاة نه مراد دا چه پدے باندے مونځ کیدے شی،

او هم دا ظاهره معنیٰ ده ځکه چه استغفار په دعاء کی داخل دے۔

وَقُرْبَانٌ : په ضمه د قاف او کسره هم پکی جائز ده مَا يُتَقَرَّبُ بِهِ إِلَى اللّٰهِ تَعَالیٰ۔

هر هغه شی ته وائی چه د هغے په ذریعه بنده الله تعالیٰ ته نزدے کیږی۔

یعنی سبب د نزدیکت دے الله تعالیٰ ته ځکه چه پدے کی اذکار او تضرع او خپل عجز ښکاره کول دی الله تعالیٰ ته او پدے سره بنده الله ته ډیر نزدے کیږی۔

په روایت د حاکم کی د قربان په ځای (قرآن) لفظ راغلے دے۔

یعنی دا لوستونکے لولی یعنی دا منزل آیتونه دی او ددے په تلاوت باندے بنده

عبادت کوی۔ لیکن لفظ د قربان ډیر اصح دے په نسبت د قرآن۔

درجة الحديث: رجاله ثقات الا انه مرسل، الدارمی (۳۳۹۰) واخرجه الحاکم (۱/۷۵۰) رقم (۲۰۶۶) موصولا عن ابی ذر وقال هذا حدیث صحیح علی شرط البخاری ولم یخرجاه) ولکن مداره علی معاویة بن صالح الراوی عن ابی الزاهرية عن جبير قال الذهبی : ومعاوية لم يحتج به البخاری، واحتج به مسلم، وقال ابو حاتم لا يحتج به و كان يحيى بن سعيد لا يرضاه، ووثقه احمد، وابن معين وعبد الرحمن بن مهدی وابوزرعة والنسائی والعجلی والبزار وابن حبان قال فی المرعاة : والتعدیل مقدم علی الجرح المبهم سيما اذا كان من متعنت فحديثه صحيح او حسن لذاته)آه والحدیث الی قوله تحت العرش ورد فی صحیح ابن حبان (۱۶۹۷) وابن خزيمة (۲۶۳) من حدیث ابی مالك الاشجعی وصححه الارناووط)

- 2174(66) وَعَنْ كَعْبٍ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ : " اِقْرَؤُوْا سُوْرَةَ هُوْدٍ يَوْمَ الْجُمُعَةِ ". رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ مُرْسَلًا

ترجمه : او سیدنا کعب ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل: تاسو د جُمعے په شپه سورة هود ولولئ۔ (دا روایت دارمیؒ په طریقه د ارسال نقل کړیدے)

تشريح : کعب الاحبار بن ماتع الحمیری یو تابعی عالِم دے د کبار التابعین نه دے۔ دا روایت مرسل دے نو پدے وجه د سورة هود په ځای سورة الکهف د جُمعے په ورځ لوستل پکار دی چه د هغے فضیلت روستو روایت کی ذکر دے او دلته د سورة هود خاص فضیلت هم نهٔ دے ذکر شوے۔

درجة الحديث: اسناده ضعیف لارساله، اخرجه الدارمی (۳۴۰۴)

- 2175(67) وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ :" مَنْ قَرَأَ سُوْرَةَ الْكَهْفِ فِيْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ أَضَاءَ لَهُ النُّوْرُ مَا بَيْنَ الْجُمُعَتَيْنِ ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعْوَاتِ الْكَبِيْرِ

ترجمه : او سیدنا ابوسعید خدری ﷺ فرمائی : نبی کریم ﷺ وفرمایل: چا چه سورة کهف د جُمعے په ورځ ولوستو، ددهٔ دپاره به د دوارو جمعو ترمینځ رڼا روښانه شی۔ (بیهقیؒ دعوات کبیر)

تشریح: یعني څوك چه سورة الكهف د جُمعې په ورځ لولي نو دومره رڼا به ورته په زړه یا په قبر یا په ورځ د حشر کې ورکړې لکه د یوې هفتې نه تر بلې هفتې پورې نو څوك چه ئې هره جمعه لولي نو داسې به وي لکه ټول عمر چه دۀ سره رڼا وي،

شوکانيؒ وائي: د رڼا د روښانه کیدو معنیٰ دا ده چه دۀ باندې به ددې سورت اثر او ددې ثواب په ټوله هفته کې باقي پاتې وي او نۀ به زائله کیږي۔

د ابن عمر رضی الله عنهما په روایت کې دي چه څوك د جُمعې په ورځ سورة الكهف ولولي نو دۀ دپاره به رڼا ددۀ د قدم نه تر آسمان پورې پورته شي چه دۀ ته به د قیامت په ورځ رڼا کوي او د دواړو جُمعو ترمینځ گناهونه به ورته وبخلې شي۔ (الترغيب والترهيب باسناد لا بأس به قاله المنذريؒ)۔

او په یو بل روایت د ابوسعید خدريؓ کې راغلي دي چه دومره رڼا به ورکړې شي لکه ددې ځای نه تر کعبې پورې۔ وسنده صحیح۔ دا ټول روایتونه په تفسیر ابن کثیر سورة الكهف او الجامع الصغير رقم (۸۹۳۲) کې وګوره او دواړه صحیح روایتونه دي، صححهما الالباني رحمه الله)

درجة الحديث: اسناده صحيح، البيهقي في الدعوات الكبير، وهو في صحيح الجامع الصغير (٦٤٧٠) والارواء (٦٢٦)

- 2176(68) وَعَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ قَالَ: اِقْرَؤُوا الْمُنْجِيَةَ وَهِيَ (آلٓمٓ تَنْزِيلُ) فَإِنَّهُ بَلَغَنِي أَنَّ رَجُلًا كَانَ يَقْرَؤُهَا مَا يَقْرَأُ شَيْئًا غَيْرَهَا وَكَانَ كَثِيرَ الْخَطَايَا فَنَشَرَتْ جَنَاحَهَا عَلَيْهِ، قَالَتْ: رَبِّ اغْفِرْ لَهُ فَإِنَّهُ كَانَ يُكْثِرُ قِرَاءَتِي فَشَفَّعَهَا الرَّبُّ تَعَالٰى فِيهِ وَقَالَ: اُكْتُبُوا لَهُ بِكُلِّ خَطِيئَةٍ حَسَنَةً وَارْفَعُوا لَهُ دَرَجَةً ". وَقَالَ أَيْضًا: " إِنَّهَا تُجَادِلُ عَنْ صَاحِبِهَا فِي الْقَبْرِ تَقُولُ: اَللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتُ مِنْ كِتَابِكَ فَشَفِّعْنِي فِيهِ وَإِنْ لَمْ أَكُنْ مِنْ كِتَابِكَ فَامْحُنِي عَنْهُ وَإِنَّهَا تَكُونُ كَالطَّيْرِ تَجْعَلُ جَنَاحَهَا عَلَيْهِ فَتَشْفَعُ لَهُ فَتَمْنَعُهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ " وَقَالَ فِي (تَبَارَكَ) مِثْلَهُ. وَكَانَ خَالِدٌ لَا يَبِيتُ حَتّٰى يَقْرَأَهُمَا. وَقَالَ طَاوُوسُ: فُضِّلَتَا عَلٰى كُلِّ سُورَةٍ فِي الْقُرْآنِ بِسِتِّينَ حَسَنَةً. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ

ترجمه : او جناب خالد بن معدان (تابعیؒ) فرمائی : تاسو نجات ورکونکے سورت یعنی (الم تنزیل یعنی الم سجده) ولولئ ځکه چه ما ته دا خبر رارسیدلے دے چه یو سړی به دا وئیلو او ددے نه سوئ به ئے بل شے نهٔ لوستلو او هغه ډیرو گناهونو والا وو نو دے سورت په هغه باندے وزرے راخورے کړے، داسے دعائے ورله کوله : اے ربه ! دهٔ ته بخنه وکړے ځکه چه دهٔ به زهٔ ډیر لوستم نو الله تعالیٰ د هغے سفارش ددهٔ په باره کی قبول کړو او وے فرمایل : ددهٔ دپاره د هرے گناه په مقابله کی یوه نیکی ولیکئ او یوه درجه ورله اُوچته کړئ او دا ئے هم وویل : دا سورت د لوستونکی د طرفنه په قبر کی جنگ کوی او داسے وائی : اے الله ! که زهٔ ستا د کتاب نه یم نو زما سفارش ددهٔ په باره کی قبول کړه او که زهٔ ستا د کتاب نه نهٔ یم نو ما د هغے نه وران کړه۔ او دا سورت د مارغه په شان کیږی، په هغه باندے وزرے راخوروی او د هغه دپاره سفارش کوی نو هغه به د قبر د عذاب نه منع کوی او د (تبارك الذی) په باره کی ئے هم دغسے وئیلی دی۔ (ددے وجه نه) د خالد بن معدان حالت به دا وو چه هغه به نهٔ اُوده کیدو تردے چه دا دواړه به ئے ولوستل۔ او امام طاووس (تابعیؒ) وائی : دا دواړه سورتونه په قرآن کی په هر سورت باندے په شپیته نیکو سره غوره کړے شویدی۔ (دارمیؒ)

تشریح : خالد بن معدان مشهور تابعی دے۔

جَنَاحَهَا : یعنی ددے سورت نه مارغه جوړ شو او هغه پرے وزرے خورے کړے او ددهٔ دپاره ئے سفارش وکړو او الله تعالیٰ هغه سفارش قبول کړو او دومره احسان ئے ورسره وکړو چه د هغه گناهونه ئے په نیکو بدل کړل۔ دا هم د تابعي وینا ده۔

نبی علیه السلام به سورة الم تنزیل السجده د جُمعے په ورځ د سهار مانځه په اول رکعت کی لوستلو نو دا هم ډیر اهم سورت دے، ډیر فضائل لری۔ او که دا فضائل هم پکی راشی نو څه بعیده نهٔ ده۔ او هره شپه به ئے هم لوستلو کما تقدم۔

درجة الحدیث: اسناده ضعیف لضعف عبد الله بن صالح اخرجه الدارمی (٨٦١) وروایة طاووس ایضا ضعیفة)

- 2177(69) وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِيْ رَبَاحٍ قَالَ : بَلَغَنِيْ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ :" مَنْ قَرَأَ (يٰسٓ) فِيْ صَدْرِ النَّهَارِ قُضِيَتْ حَوَائِجُهٗ "رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ مُرْسَلًا

ترجمه : او جناب عطاء بن ابی رباحؒ وائی : ما ته دا خبره رارسیدلې ده چه رسول الله ﷺ فرمایلی دی : چا چه سورة یس د ورځې په اول سر کی ولوستو ددهٔ حاجتونه به پوره شي- (دا روایت امام دارميؒ په طریقه د ارسال سره نقل کړیدے)

تشریح : د سورة یس په باره کی چه کوم روایات راغلی دی اکثر ضعیف دی او دا هم مرسل روایت دے چه د اقسامو د ضعیف نه دے-

درجة الحدیث: اسناده ضعیف مرسل، الدارمی (۳٤۱۸) ولکن مجموع الروایات فی هذا الباب ترتقی الی درجة الحسن وانظر التفصیل فی الدین الخالص (۸/٤۲٤)

- 2178(70) وَعَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ الْمُزَنِيِّ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ : " مَنْ قَرَأَ (يٰسٓ) ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللهِ تَعَالٰى غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ فَاقْرَؤُوهَا عِنْدَ مَوْتَاكُمْ ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.

ترجمه : او سیدنا معقل بن یسار مزنی ﷺ فرمائی : نبی کریم ﷺ وفرمایل : چا چه سورة (یس) د الله د مخ د طلب کولو (د هغه د رضاء) دپاره ولوستو، دهٔ ته به مخکنی ګناهونه معاف شی نو دا د مړ کیدونکو خلکو په خوا کی لولئ- (بیهقیؒ شعب الایمان)-

تشریح : عند موتاکم : یعنی کوم کسان چه مرګ ته نزدے شی او روح ترے وتل شروع شی نو هغه ته سورت (یس) ولولئ ځکه چه پدے سره د هغه روح وتلو کی آسانی پیدا کیږی لکه پدے باره کی بعض آثار او څه احادیث راغلی دی مګر ټول د سند په اعتبار سره ضعیف دی لکه دا خبره شیخ البانیؒ په سلسلة الاحادیث الضعیفة کی کړیده (۵۸٦۱) (۱۲/۷۸۳)

البته د بعض تابعینو اعمال پکی شته او د یو صحابی غضیف بن الحارث الثُمالی ﷺ عمل په مسند احمد (٤/۱۰۵) (۱۷۰۱۰) کی راغلے دے چه دے کله وفات کیدو نو حاضرینو ته ئے وویل : [هَلْ مِنْكُمْ اَحَدٌ يَقْرَأُ يٰسٓ]

چه آیا په تاسو کی یو تن سورة یس لوستلے شی؟ نو صالح بن شریح السکونیؒ سورت یس شروع کړو کله چه څلویښتو آیتونو ته ورسیدو نو هغه وفات شو،

صفوان بن عمرو السکسکیؒ وائی چه مشائخو به وئیل :

[إِذَا قُرِئَتْ عِنْدَ الْمَيِّتِ خُفِّفَ عَنْهُ بِهَا]

کله چه د مړی سره سورة یس ولوستلے شی نو پدے سره په مړی آسانی راولی،
او صفوان وائی: عیسیٰ بن المعتمرؒ د ابن معبدؒ په خوا کی سورة یس ولوستلو۔

[احمد: ۱۷۰۱۰]

او شیخ البانیؒ وائی چه دا مقطوع روایت دے ځکه چه صفوان بن عمروؒ اکثر روایت د تابعینو نه کوی او دهٔ (حدثنی المشیخة) وئیلی دی، او د دغه مشائخو نه مراد تابعین دی، نو دا حدیث مقطوع شو او موقوف دے په دغه مشائخو باندے، نو که دوی دا روایت مسند کړے وے نو دا به حسن سند وے۔ او دا اثر شعیب الارناووطؒ حسن ګرزولے او وئیلی ئے دی چه ابهام د مشائخو ضرر نهٔ رسوی۔

او حافظ ابن حجرؒ په الاصابة فی تمییز الصحابة (۳/۱۸٤) کی دے روایت ته حسن الاسناد وئیلے دے۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف ومعناه صحيح اخرجه البيهقي في الشعب (۲٤٥۸) وضعفه الالباني)

- 2179(71) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ أَنَّهُ قَالَ: إِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ سَنَامًا وَإِنَّ سَنَامَ الْقُرْآنِ سُوْرَةُ الْبَقَرَةِ وَإِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ لُبَابًا وَإِنَّ لُبَابَ الْقُرْآنِ الْمُفَصَّلُ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: او سیدنا عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی: د هر شی دپاره قُب شته او د قرآن کریم قُب سورة بقره ده او د هر شی دپاره یو مغز وی او د قرآن کریم مغز مفصلات سورتونه دی۔ (دارمیؒ)

تشريح: سَنَامًا: یعنی هر شی دپاره علو او رفعت (پورته والے) وی، سنام اصل کی د اُوښ قُب ته وائی بیا د اُوچتوالی دپاره استعمالیږی۔

لُبَابَ: خلاصه او نچوړ ته وائی۔

الْمُفَصَّلُ: د مفصلات نه مراد هغه سورتونه دی چه د سورة ق نه د قرآن آخر پورے دی (علی القول الراجح) او دا ځکه خلاصه ده چه پدے کی اجمالی طور سره ټول مضامین د قرآن کریم ذکر دی۔

درجة الحديث: اسناده حسن اخرجه الدارمي (۳۳۷۷) واخرجه الحاكم (۱/٥٦۱)

موقوفا ومرفوعا وقال صحيح الاسناد ووافقه الذهبي وقال الالباني في الصحيحة (١٣٥/٢) قلت : وهو عندی حسن لان فی عاصم بن ابی النجود بعض الضعف من قبل حفظه ولكن للحديث شواهد ثم ذكرها)

- 2180(72) وَعَنْ عَلِيٍّ ﷺ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ :" لِكُلِّ شَيْءٍ عَرُوْسٌ وَعَرُوْسُ الْقُرْآنِ (الرَّحْمٰنُ) ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الإيمَانِ.

ترجمه : او سيدنا علي ﷺ فرمائی : ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمايل ئے : د هر شی ناوی وی او د قرآن کريم ناوے سورة رحمن دے۔ (بيهقیؒ شعب الايمان)

تشريح : عروس ناوے ته وائی۔ مراد ترے نه زينت او ښائست او تازگی ده۔ يعنی سورة رحمن د ناوے په شان حيثيت لری۔ او عروس ورته ځکه وائی چه بلاغتِ ظاهری او معنوی پکی ډير زيات دے او د الله تعالیٰ د رحمانيت تذکره پکی ده۔

عَروس لفظ سړی او ښځے دواړو دپاره استعماليږی کله چه دواړه په يو بل باندے داخل شی او عروس ورته ځکه وائی چه واده والا هم په جامو او سنګارونو باندے ښائسته کولے شی۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف وقال العزيزی : اسناده حسن، البيهقی فی الشعب (٤٩٤) وضعفه الالبانی وقال منكر وقال المناوی فی الفيض : وفيه احمد بن الحسن (دبيس) عده الذهبی فی الضعفاء والمتروكين وقال الدارقطنی ليس بثقة والعجب من المناوی فانه مع هذا قال اسناده حسن آه وانظر ضعيف الجامع الصغير (٤٧٢٩) والضعيفة (٥٢٦/٣) رقم (١٣٥٠)

- 2181(73) وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" مَنْ قَرَأَ سُوْرَةَ الْوَاقِعَةِ فِيْ كُلِّ لَيْلَةٍ لَمْ تُصِبْهُ فَاقَةٌ أَبَدًا ". وَكَانَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ ﷺ يَأْمُرُ بَنَاتِهِ يَقْرَأْنَ بِهَا فِيْ كُلِّ لَيْلَةٍ. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الإيمَانِ.

ترجمه : او سيدنا ابن مسعود ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چه سورة واقعه په هره شپه کی ولوستله، هغه ته به هيڅ کله فاقه (فقيری) ونهٔ رسيږی۔ او عبد الله بن مسعود ﷺ به خپلو لونړو ته حکم کولو چه هغوی هره شپه سورة واقعه

ولولي- (بیهقیؒ شعب الایمان)

تشریح : فَاقَةٌ : فقر او حاجت ته وائي- یعنی که څوك سورة الواقعه لولي نو فاقه به ورته نهٔ رسیږي- یا دا چه فقر قلبي به ورته ونهٔ رسیږي ځکه چه په زړهٔ کې به ورته فراخي ورکړے شي او د الله تعالیٰ معرفت به ورته حاصل شي او په هغه باندے توکل او په هغه باندے اعتماد به ئے پیدا شي او هغه ته خپل نفس او کارونه سپارل به ورته ورکړے شي کوم چه پدے سورت کې راغلي دي- لیکن روایت ضعیف دے-

ابن عبد البرؒ په التمهید (۵/۲۶۹) کې د عثمان او د ابن مسعود رضي الله عنهما واقعه ذکر کړیده چه په کومه بیمارئ کې عبد الله بن مسعود ﷺ وفات کیدو نو عثمان بن عفان ﷺ تپوس له ورغے ورته ئے ووېل : (مَا تَشْتَكِيُ؟)- د څه نه شکایت کوے ؟

هغهٔ ووېل : (ذُنُوبِيُ) د خپلو ګناهونو نه- ورته ئے ووېل : څه غواړے ؟ هغهٔ ووېل : (رَحْمَةَ رَبِّيُ)- د خپل رب رحم غواړم- وے وېل : (اَلَا نَدْعُوُ لَكَ الطَّبِيُبَ؟)-

آیا طبیب نهٔ راغواړم؟- ابن مسعود ﷺ ورته ووېل : (اَلطَّبِيُبُ اَمْرَضَنِيُ) طبیب (یعنی الله) خو زهٔ بیمار کړے یم- وے وېل : (اَلَا نَاْمُرُ لَكَ بِعَطَائِكَ ؟)-

آیا مونږ ستا د پاره ستا په تنخواه باندے حکم نهٔ کوو؟- هغهٔ ووېل : تا ما نه په ژوند کې بنده ساتلے ده نو اُوس د مرګ په وخت کې زما ورته ضرورت نشته- نو عثمان ﷺ ورته ووېل : لیکن ستا لونړو ته به پاتے شي- هغهٔ ووېل : آیا تهٔ زما په لونړو باندے د فاقے نه یریږے زما امید دے چه دوی ته به هیڅکله فاقه نهٔ رسیږي ځکه چه ما خپلو لونړو ته حکم کړیدے چه سورت واقعه هره شپه ولولي ځکه چه ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلي دي : چا چه سورت واقعه هره شپه ولوستله هیڅکله به ورته فاقه ونهٔ رسیږي- واسناده ضعیف شجاع والسری کلا هما مجهول-

درجة الحدیث: اسناده ضعیف، البیهقی فی الشعب (۲۴۹۸) (۲۴۹۹) والحارث بن ابی اسامة فی مسنده (۱۷۸ من زوائده) وابن السنی فی عمل الیوم واللیلة (۶۷۴) من طریق شجاع عن ابی طیبة و کلاهما مجهول) (الضعیفة : ۱/۴۵۷) رقم (۲۸۹) وتنزیه الشریعة (۱/۳۰۱)

- 2182(74) وَعَنْ عَلِيٍّ ﷺ قَالَ : " كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُحِبُّ هٰذِهِ السُّوْرَةَ (سَبِّحِ

اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلٰى). رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه : او سيدنا علی ﷛ فرمائی : رسول الله ﷺ به دا سورت (يعنی سبح اسم ربك الاعلی) خوښولو۔ (احمدؒ)

تشريح : يعنی رسول الله ﷺ به د سورة الاعلیٰ سره د نورو سورتونو په نسبت ډيره مينه کوله تردې چه دا به ئې په ډيرو ځايونو کې په مونځونو کې خصوصی طور سره لوستلو لکه د جُمعې په مانځه کې، دارنګه د وترو په اول رکعت کې۔

او ددې د خوښولو وجه کيدې شی دا وی چه پدې کې الله تعالیٰ ورسره وعده کړيده چه زۀ به تا ته تهول کارونه آسانوم (ونيسرك لليسری)

درجة الحديث : اسناده ضعيف جدا، احمد (٧٤٤) من طريق ثُوير بن ابی فاختة عن ابيه عن علی وثوير ضعيف متروك) (مرعاة ٧/٢٥٥)

- 2183(75) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ : أَتٰى رَجُلٌ النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَ أَقْرِئْنِيْ يَا رَسُوْلَ اللهِ فَقَالَ : " اِقْرَأْ ثَلَاثًا مِنْ ذَوَاتِ (الر) فَقَالَ: كَبِرَتْ سِنِّيْ وَاشْتَدَّ قَلْبِيْ وَغَلُظَ لِسَانِيْ قَالَ: " فَاقْرَأْ ثَلَاثًا مِنْ ذَوَاتِ (حٰمٓ) فَقَالَ مِثْلَ مَقَالَتِهِ. قَالَ الرَّجُلُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ أَقْرِئْنِيْ سُوْرَةً جَامِعَةً فَأَقْرَأَهُ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ (إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ) حَتّٰى فَرَغَ مِنْهَا فَقَالَ الرَّجُلُ: وَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَا أَزِيْدُ عَلَيْهَا أَبَدًا ثُمَّ أَدْبَرَ الرَّجُلُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَفْلَحَ الرُّوَيْجِلُ " مَرَّتَيْنِ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْ دَاوُدَ

ترجمه : او سيدنا عبد الله بن عمرو ﷛ فرمائی : يو سړی نبی کريم ﷺ ته تشريف راوړونو وې ويل : اې د الله رسوله ! ما ته څه ولوله۔ نو نبی کريم ﷺ ورته وفرمايل: د (الر) والا درې سورتونه ولوله۔ نو هغه ووېل : زما عمر زيات شويدې او زړه مې سخت شويدې او ژبه مې سخته (پيړه) شويده (دا نشم لوستلې) وې فرمايل: نو د (حم) والا نه درې سورتونه ووايه۔ نو هغه د دغه مخکې په شان خبره وکړه۔ دې سړی ووېل : اې د الله رسوله ! ما ته يو جامع سورت ووايه۔ نو رسول الله ﷺ هغه ته (اذا زلزلت الارض) سورت ولوستو تردې چه د هغې نه فارغ شو نو دغه سړی ووېل : قسم په هغه ذات چه تۀ ئې په حق سره رالېږلې ئې زۀ به ددې نه هيڅکله زيادت نۀ کوم۔ بيا دغه سړی شا

راواړوله (يعنى روان شو) نو رسول الله ﷺ دوه كرته وفرمايل: دا پياده شخص كامياب شو۔ (احمدؒ، ابوداودؒ)

تشريح : أَقْرِئْنِيْ : د اقراء نه په معنىٰ د تعليم سره دے۔ اى عَلِّمْنِيْ) ما ته ئے رازده كړه۔ او (اذا زلزلت الارض) سورت جامع دے د وجه د يو آيت نه لكه دے ته رسول الله ﷺ په بل حديث كى الآية الفاذه الجامعة وئيلے دے چه هغه

﴿فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ﴾۔

كعب الاحبارؒ نه نقل دى چه تورات او انجيل او زبور تول كتابونه دے آيت راجمع كړيدى په قرآن كريم كى بعض آيتونه كنوز القرآن دى، د قرآن كريم خزانى دى يو په هغے كى دا آيت دے۔

الرُّوَيْجِلُ: دا تصغير د رَجُلْ دے او په لغت د عربئ كى قليل الاستعمال دے ځكه چه اصل تصغير ئے رُجيل راځى، تصغير ئے ورله استعمال كړو ځكه چه ډير ځه ئے زده نكړل يا تصغير د تعظيم دپاره دے۔

يا دا تصغير د رَاجِلْ دے په معنىٰ د ماشى (مزل كونكى) سره۔

مَرَّتَيْنِ : يعنى يو ځل په دنيا كى او بل ځل په آخرت كى كامياب شو۔ يا دا تكرار د تاكيد دپاره وو۔ يا پدے وجه چه رسول الله ﷺ ته ددۀ دے مضبوط عزم خوند وركړو۔

درجة الحديث: اسناده صحيح : احمد (٢/١٦٩) وابوداود (١/٥٢٩) فى الصلاة والنسائى (٧/٢١٢-٢١٣) وابن السنى فى عمل اليوم والليلة مختصرا (٦٩٠) والحاكم فى المستدرك (٢/٥٣٢) وقال صحيح على شرط الشيخين ولم يخرجاه وقال الذهبى بل صحيح آه قال الشيخ احمد شاكر : يريد انه صحيح ولكن ليس على شرطهما وهو كما قال فان عياش بن عباس روى له مسلم فقط وعيسى بن هلال (راوى الحديث عن عبد الله بن عمرو) لم يرو له واحد منهما) (مرعاة٢٥٧/٧) وضعفه الالبانى) وقال الارناووط فى تعليق مسند احمد: اسناده حسن، وقال فى تحقيق صحيح ابن حبان اسناده صحيح)

- 2184(76) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ؓ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" أَلَا يَسْتَطِيْعُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَّقْرَأَ أَلْفَ آيَةٍ فِيْ كُلِّ يَوْمٍ ؟" قَالُوْا : وَمَنْ يَّسْتَطِيْعُ أَنْ يَّقْرَأَ أَلْفَ آيَةٍ فِيْ كُلِّ يَوْمٍ ؟ قَالَ : "أَمَا يَسْتَطِيْعُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَّقْرَأَ : (أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ؟) رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ.

ترجمه : او سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : آیا یو تن ستاسو طاقت نهٔ لری چه هره ورځ زر آیتونه ولولی ؟ صحابه کرامو عرض وکړو : او څوك به ددے طاقت ولری چه هره ورځ زر آیتونه ولولی؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل : آیا یو تن ستاسو دا طاقت نهٔ لری چه (الهاکم التکاثر) سورت ولولی؟ - بیهقیؒ شعب الایمان)

تشریح : یعنی الهاکم التکاثر لوستلو سره انسان ته د زرو آیتونو د لوستلو ثواب ملاویږی، یا دا چه دا سورت په یقین پیدا کولو او د دنیا په بے رغبتئ کی د زرو آیتونو په شان دے۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف: البيهقي في الشعب واخرجه الحاكم (١/٥٦٦) من طريق حفص بن ميسرة عن عقبة بن محمد بن عقبة عن نافع عن ابن عمر قال الحاكم : رواة هذا الحديث كلهم ثقات وعقبة هذا غير مشهور وذكر الذهبى فى التلخيص والحافظ فى اللسان (١٧٩/٤) كلام الحاكم هذا وقواه (مرعاة) وذكر المنذرى هذا الحديث وقال رجاله ثقات الا ان عقبة لا اعرفه)

- 2185(77) وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ مُرْسَلًا عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : " مَنْ قَرَأَ (قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ) عَشْرَ مَرَّاتٍ بُنِيَ لَهُ بِهَا قَصْرٌ فِي الْجَنَّةِ وَمَنْ قَرَأَ عِشْرِيْنَ مَرَّةً بُنِيَ لَهُ بِهَا قَصْرَانِ فِي الْجَنَّةِ وَمَنْ قَرَأَهَا ثَلَاثِيْنَ مَرَّةً بُنِيَ لَهُ بِهَا ثَلَاثَةُ قُصُوْرٍ فِي الْجَنَّةِ ". فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ ﷺ : وَاللهِ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِذًا لَنُكْثِرَنَّ قُصُوْرَنَا . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " اَللهُ أَوْسَعُ مِنْ ذٰلِكَ ". رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ

ترجمه : او جناب سعید بن المسیب رحمه الله په طریقه د ارسال سره د نبی کریم ﷺ ارشاد نقل کوی چه هغه فرمایلی دی : چا چه (قل هو الله احد) لس کرته ولوستو، ددهٔ دپاره به په هغے سره په جنت کی یوه بنګله جوړه کړے شی او چا چه شکل کرته ولوستو د هغه دپاره به په هغے سره په جنت کی دوه بنګلے جوړی شی او چا چه دیرش کرته ولوستو د هغه دپاره به په هغے سره په جنت کی درے بنګلے جوړے شی۔ نو عمر بن خطاب ﷺ وفرمایل: قسم په الله یا رسول الله ! دغه وخت خو به مونږ خپلے بنګلے

زیاتوو- نو رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالیٰ ددے نه هم زیات فراخه دے- (یعنی ددے سورت فضیلت او ددے ثواب ډیر لوی او فراخه دے لهذا پدے بشارت باندے تعجب مهٔ کوه بلکه ددے د حاصلیدو کوشش کوه او هغے طرفته مینه کوه)- (دارمیؒ)

تشریح : دا مخکې تیر شویدی چه د سعید بن المسیبؒ مراسیل په تولو کی ډیر صحیح دی، علماؤ ددهٔ مراسیل په نورو صحیح سندونو سره موندلی دی- او په حدیث د معاذ بن انس ﷺ کی مخکی تیر شویدی چه څوك (قل هو الله احد) لس کرته ووائی نو الله تعالیٰ به ورله په جنت کی کور جوړ کړی-

لَنُكْثِرَنَّ : یعنی عمر فاروق رغبت او مینه راښکاره کړه په حاصلولو د زیات ثواب کی سره د معمولی استبعاد نه مگر نبی علیه السلام ورته داسے جواب ورکړو چه د الله سره ثوابونه زیات دی نو استبعاد ته ضرورت نشته-

درجة الحدیث : اسناده صحیح، رواه الدارمی (۳۳۰۵) قال الحافظ ابن کثیر : وهذا مرسل جید) فالاسناد مرسل صحیح) انظر السلسلة الصحیحة (۵۸۹) وذکر له الشیخ شواهد فصار صحیحا لغیره) ________________

- 2186(78) وَعَنِ الْحَسَنِ مُرْسَلًا : أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ :" مَنْ قَرَأَ فِي لَيْلَةٍ مِائَةَ آيَةٍ لَمْ يُحَاجُّهُ الْقُرْآنُ تِلْكَ اللَّيْلَةَ وَمَنْ قَرَأَ فِي لَيْلَةٍ مِائَتَيْ آيَةٍ كُتِبَ لَهُ قُنُوتُ لَيْلَةٍ وَمَنْ قَرَأَ فِي لَيْلَةٍ خَمْسُمِائَةٍ إِلَى الْأَلْفِ أَصْبَحَ وَلَهُ قِنْطَارٌ مِنَ الْأَجْرِ ". قَالُوا : وَمَا الْقِنْطَارُ ؟ قَالَ : " اِثْنَا عَشَرَ أَلْفًا ". رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ. ________________

ترجمه : او د جناب حسن بصری رحمه الله نه په طریقه د ارسال نقل دی چه نبی کریم ﷺ وفرمایل : چا چه په یوه شپه کی سل آیتونه ولوستل قرآن کریم به په دغه شپه ددهٔ سره جګړه نهٔ کوی او چا چه په یوه شپه کی دوه سوه آیتونه ولوستل ددهٔ دپاره به د یوے شپے عبادت ولیکلے شی او چا چه په یوه شپه کی د پنځه سوو نه تر زرو آیتونو پورے ولوستل، (نو) دے به وګرځی پداسے حال کی چه ددهٔ دپاره به د اجر نه قنطار (یعنی لویه خزانه) وی- صحابه کرامؓ عرض وکړو : قنطار څه شے دے ؟ وے فرمایل: دولس زره روپئ- (دارمیؒ)

تشریح : **لَمْ يُحَاجُّهُ** : یعنی قرآن کریم به ئے نهٔ رانیسی او نهٔ به دا تپوس کوی چه تا د

قرآن کریم حق ولے نهٔ دے ادا کړے یعنی سل آیتونو لوستلو سره انسان د قرآن د جګړے نه خلاصیږی او د هغه حق ادا کیږی۔

قِنْطَارٌ : دا د ځلویښتو اوقیه سرو زرو مقدار دے یا دولس سوه دیناره یا اویا (۷۰) زره دیناره یا د غوائی د څرمنے ډکوالی په اندازه سره یا سپین مراد دی،

او دا آخری معنیٰ دلته زیاته مناسبه ده لکه د یو روایت د ابوسعید خدریؓ نه هم معلومیږی چه هغه دارمیؒ نقل کړے، ځکه مقصود دلته ډیر والے د ثواب دے۔

او حسن بصریؒ ئے په دولس زره دیناره سره تفسیر کړیدے۔

درجة الحديث: اسناده مرسل: الدارمی (٣٤٥٩) ومراسيل الحسن من اضعف المراسيل (احمد) وقال العراقی : شبه الريح، وقال ابن المدينی مرسلات الحسن البصری التی رواها عنه الثقات صحاح ما اقل ما يسقط منها،

وقال ابوزرعة : كل شیء قال الحسن قال رسول الله ﷺ وجدت له اصلا ثابتا ما خلا اربعة احاديث، وقال يحيی بن سعيد القطان : ما قال الحسن فی حديثه قال رسول الله ﷺ الا وجدنا له اصلا الا حديثا او حديثين قال الحافظ ولعله اراد ما جزم به الحسن، قلت والحديث المذكور ههنا مما رواه عنه الثقة وايضا قد جزم الحسن به حيث قال : قال نبی الله ﷺ فالظاهر ان مرسله هذا ليس من مراسيله التی لا اصل لها ويؤيده ما ورد فی الباب عن عبد الله بن عمرو بن العاص وابی امامة وابی هريرة وانس وابی الدرداء وتميم الداری وفضالة بن عبيد وعبد الله بن مسعود مرفوعا رضی الله عنهم وموقوفا بنحو ذلك بالفاظ وطرق مختصرا ومطولا يرجع لذلك الی الترغيب للمنذری ومجمع الزوائد وعمل اليوم والليلة لابن السنی وسنن الدارمی) .



(۱) باب

اَیْ بَابُ آدَابِ التِّـلَاوَةِ وَدُرُوْسِ الْقُرْآنِ

یعنی د تلاوت او د قرآن کریم د لوستلو آداب۔

په بعض نسخو کی دلته باب بلا ترجمه لګیدلے دے ځکه چه د مخکښے او روستو دواړو سره ئے من وجه مناسبت دے، مخکښے فضائل بیان شو اُوس د قرآن کریم د لوستلو کیفیت او طریقه بیانیږی چه یو کیفیت ئے دا دے چه په ورځ کښے به خامخا قرآن کریم لولی داسے به نۀ کوی چه یو رمضان او بل رمضان ئے راخلی،

او بل کیفیت دا چه قرآن کریم به په ښائسته آواز سره لوستلے شی او په شوق سره،

او بل کیفیت دا چه په هر آیت باندے به وقف کولے شی او دا مستحب طریقه ده،

او بل کیفیت دا چه کوم ځای کی واو او یاء راغلے نو هغے کی به مد کولے شی هغه به اُوږده ولے شی۔

بل دا چه د سندرغاړو په آواز به ئے نۀ وائی ددے نه نبی علیه السلام منع کړیده او کله به قرآن کریم په جهر وائی او کله په آرام سزه او کله د ملګرو سره او کله یواځے۔

نو دے کی داسے باب هم لګولے شی [بَابُ كَيْفِيَّةِ تِلَاوَةِ الْقُرْآنِ]

(د قرآن کریم د تلاوت کیفیت او طریقے بیان)

او په بعض نسخو کی داسے باب دے : [بَابُ آدَابِ التِّـلَاوَةِ وَدُرُوْسِ الْقُرْآنِ] د تلاوت د آدابو او د قرآن کریم د درسونو بیان۔

الفصل الأول

- 2187(1) عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلى الله عليه وسلم :" تَعَاهَدُوا الْقُرْآنَ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَهُوَ أَشَدُّ تَفَصِّيًا مِنَ الإِبِلِ فِي عُقُلِهَا " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : سیدنا ابو موسی اشعری رضی الله عنه فرمائی : رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : د قرآن کریم لحاظ ساتئ (خبر ګیری ئے کوئ) ځکه قسم په هغه ذات چه زما نفس د هغه په لاس

کې دے خامخا قرآن (د سينو نه) ډير زر وتونکي دے د هغه اُوښ نه (هم) چه په رسو (پړو) کې تړلے شوے وي۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : تَعَاهَدُوا : لحاظ ساتئ يعني بار بار ئے لولئ ځکه چه د قرآن دا کمال دے چه د انسان نه ډير زر زر هيريږي دے دپاره چه انسانان ئے بار بار راواخلي او نور کتابونه زر نهٔ هيريږي۔

تَفَصِّيًا : خلاصيدو او وتلو او تښتيدو ته وائي۔ مطلب دا چه لکه څنګه چه اُوښان په پړو کې تړلے شوي وي او څوك ورله پړے کولاؤ کړي نو بس اُوښ په جلتئ سره خپه اُوچته کړي او د قيد نه خلاص شي، نو دغه شان قرآن کريم هم د ذهن نه زر وځي۔ د اُوښانو سره ئے تشبيه ځکه ورکړه چه معهود وو او بله دا چه مخکې تير شو چه يو آيت زده کول د اُوښ نه غوره دے نو اشاره ده چه چا نه قرآن هير شو هغه ډير تاوان وکړو لکه اُوښان ترے وتښتي۔

عُقُلِهَا : عُقُل جمع د عِقال ده، رسئ او پړی ته وائي۔

- 2188 (2) وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ ﷛ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " بِئْسَ مَالِأَحَدِهِمْ أَنْ يَّقُوْلَ : نَسِيْتُ آيَةَ كَيْتَ وَكَيْتَ بَلْ نُسِّيَ، وَاسْتَذْكِرُوا الْقُرْآنَ فَإِنَّهُ أَشَدُّ تَفَصِّيًا مِنْ صُدُوْرِ الرِّجَالِ مِنَ النَّعَمِ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَزَادَ مُسْلِمٌ : " بِعُقُلِهَا"

ترجمه : او سيدنا ابن مسعود ﷛ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل: د يو تن دپاره دا خبره ډيره بده ده چه ووائي : ما فلانے فلانے آيت هير کړو بلکه (داسے وئيل پکار دي) هير کړے شو (زما نه) او قرآن کريم هميشه ياد ساتئ ځکه چه دا د سړو د سينو نه د څاروو نه هم زيات زر وتونکے دے۔ (بخاريؒ ومسلمؒ) او مسلمؒ دا الفاظ زيات کړيدي : بعقلها : يعني لکه څاروي چه په پړو باندے تړلے شوي وي۔ (او بيا زر وځي)

تشريح : بِئْسَ مَا : (ما) نکره موصوفه ده او (اَنْ يَّقُوْلَ) د هغے دپاره بيان دے يعني د يو تن دپاره دا خبره ډيره بده ده چه داسے ووائي : ما فلانے فلانے آيت هير کړو بلکه دے هير کړے شو يعني دۀ ته د هيرولو په وجه سزا ورکړے شوه او دے د الله تعالىٰ د رحمت نه هير کړے شو۔

يا مطلب دا دے چه سړے به داسے نۀ وائي چه ما هير کړو بلکه داسے به وائي (نُسِّيَ) ما نه هير کړے شو. يعني په طريقه د افسوس به وائي چه ما دومره تقصير کړے وو چه ما نه دا دومره لوی سعادت فوت شو يا پدے وجه چه ادب د قرآن کريم وکړے شي ځکه چه که سړے داسے ووائي چه ما هير کړو نو قرآن خو د هيرولو کتاب نۀ دے، نو پدے کی بی ادبی د قرآن راځي،

او پدے کی اشاره ده سستوالي او غفلت او عدم رغبت الى القرآن ته او چه کله ئے مجهول صيغے سره ووائي يعني ما نه تقصير وکړے شو د ګناهونو په وجه چه آيت را نه هير کړے شو. نو بيا بی ادبی نۀ جوړيږي.

حافظ ابن حجرؒ وائي: په روايت د معمر عن هشام عند الاسماعيلي کی د نبی عليه السلام نه داسے الفاظ وئيل هم ثابت دی: (كُنْتُ نَسِيتُهَا) نبی عليه السلام وفرمايل: ما يو آيت هير کړو.

بيا امام بخاريؒ دا حديث د ابن مسعودؓ راوړيدے، نو حافظ ابن حجرؒ وائي چه ګويا که امام بخاريؒ دے خبرے ته اشاره کوی چه ددے الفاظو (نَسِيتُ آيَةَ كَذَا) نه منع ددے دپاره نۀ ده چه انسان ددے الفاظو د وئيلو نه منع شي بلکه ددے دپاره ده چه خلك د هيرولو د اسبابو نه ځان وساتي چه بيا د هغے په وجه دا الفاظ نۀ استعمالوی.

يعني د هيرولو داسے اسباب اختيار نۀ کړي، غفلت ونکړي چه دے الفاظو استعمالولو ته محتاج شي چه ما آيت هير کړو.

بيا وائي دا احتمال هم شته چه منع او اباحت په دوه حالتونو باندے بناء دی چا نه چه د ديني کار په مشغوله کيدو سره آيت هير شوے وی لکه جهاد او نور ديني کارونه نو هغه دپاره دا لفظ استعمالول جائز دی لکه نبی عليه السلام ځان دپاره استعمال کړيدے او د چا نه چه د دنياوی کار باندے د مشغوله کيدو په وجه هير شوے وی خاصکر کله چه هغه ناروا کار هم وی نو هغه به دغه لفظ نۀ استعمالوی ځکه چه دۀ اسباب د نسيان خپله ځانله اختيار کړيدی.

بيا د قرآن کريم هيرول په دوه قسمه دی (١) يو دا چه په يادو ورته ياد وی او هغه ترے هير شي او په قرآن کريم کی ئے وئيلے شي، دا هم پدے کی داخليږي.

(٢) حافظ ابن کثيرؒ وئيلی دی چه مطلب دا دے چه په قرآن کريم کی هم ترے هير شي

نو بیا ناروا ده او که په یادو ترے هیر شو او په قرآن کریم کې ئے لوستلے شي نو دے گناهگار نۀ دے ځکه چه قرآن کریم کې تلاوت سره خو لا ثواب زیات کیږي، نو هیرول د قرآن دا دي چه په یادو او په قرآن دواړو کې ئے نشي لوستلے او کله چه په قرآن کریم کې بار بار تلاوت کوي نو د قرآن حق ادا کیږي۔ دا معنیٰ زمونږ دپاره فائده منه ده۔

قرآن کریم په څومره موده کې ختمول لازم دي؟

(۱) بیا د امام ابوحنیفهؒ نه نقل دي چه په کال کې دوه ځله قرآن کریم ختمول د قرآن حق دے که د دوه کرتو نه کم شو نو د قرآن حق ادا نشو۔

(۲) او د احادیثو نه داسے معلومیږي چه قرآن کریم به په شپیتو ورځو کې یا په څلویښتو یا په میاشت یا په پنځلسو ورځو یا په یوه هفته کې یا په درے ورځو کې ختموی، او د دریو نه په کم کې به ئے نۀ ختموی ځکه چه بیا د قرآن کریم حق نشي ادا کولے۔ لیکن د رسول الله ﷺ نه صراحةً دا حکم نۀ دے ثابت چه هغه فرمایلي وی چه خامخا به ئے په دوه میاشتو کې ختموئ ځکه چه انسانان او د هغوی مشاغل مختلف دي څوك په نورو دیني کارونو کې زیات مصروف وی نو هغه قرآن کریم په دوه میاشتو کې ختموی او څوك ډیر مصروف نۀ وی نو هغه به ئے په میاشت یا په شل یا په پنځلس ورځو کې ختموی څوك به ډیر فارغه وی نو هغه به ئے په یوه هفته کې ختموی۔

او ددے حدیث نه معلومیږي چه تاسو ئے هره ورځ تعاهد کوئ نو چه انسان هره ورځ تلاوت کوی نو په میاشت یا دوه میاشتو کې قرآن کریم ختمولے شي۔ لیکن د مجموعه عمل د صحابه کرامؓ نه معلومیږي چه هغوی به د څلویښتو ورځو نه قرآن نۀ اړولو یعنی څلویښتو ورځو کې به ئے خامخا ختمولو كما في مفاتح تدبر القرآن للدكتور خالد بن عبد الكريم اللاحم ص (٤٠) وانظر الفوائد (٣) لابي محمد۔

- 2189(3) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ : " إِنَّمَا مَثَلُ صَاحِبِ الْقُرْآنِ كَمَثَلِ صَاحِبِ الْإِبِلِ الْمُعَقَّلَةِ إِنْ عَاهَدَ عَلَيْهَا أَمْسَكَهَا وَإِنْ أَطْلَقَهَا ذَهَبَتْ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : او سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل: مثال د قرآن والا په شان د هغه اُوښانو والا دے چه هغه په پړو تړلے شوی وی که دے چرته د هغے

لحاظ ساتي نو هغه به بند وساتي او که هغه خوشي کړي نو لاړ به شي. (دغه شان که يو شخص قرآن کريم هميشه ونهٔ لولي او ياد ئې نهٔ ساتي نو قرآن به د هغه د سينې نه وځي). (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : صَاحِبِ الْقُرْآنِ : يعني هغه انسان چه قرآن سره ئې تعلق دے په يادو يا په قرآن کې کتو سره. دلته ئې د قرآن کريم د درس او د هغې د هميشه تلاوت کولو تشبيه ئې د اُوښ د تړلو سره ورکړه د کوم په باره کې چه يره کيږي چه ويه تښتي نو ترڅو چه تعاهذ او لحاظ ساتل موجود وي نو حفظ او يادول به هم موجود وي لکه څنګه چه اُوښ ترڅو پورے په پړي تړلے شوے وي نو هغه محفوظ وي او اُوښ ئې ذکر کړو ځکه چه دا د انسان نه ډير نفرت کوي او دے چه کله په غصه شي او نفرت کې راشي نو راګيرول ئې سخت وي.

نو پدے حديث کې په حفظ بيا په تلاوت بيا په درس باندے تيزي ورکړے شويده.

- 2190 (4) وَعَنْ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" اِقْرَؤُوا الْقُرْآنَ مَا ائْتَلَفَتْ عَلَيْهِ قُلُوْبُكُمْ فَإِذَا اخْتَلَفْتُمْ فَقُوْمُوْا عَنْهُ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سيدنا جندب بن عبد الله ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : قرآن کريم لولئ ترڅو پورے چه په هغې باندے ستاسو زړونه راجمع وي (يعني ستاسو زړونه ئې خواهش کوي) او کله چه تاسو مختلف شوئ (يعني زړونه مو غافله او ستومانه شو) نو بيا د هغې نه پاځيږئ. (يعني قرآن لوستل بند کړئ). (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : فَإِذَا اخْتَلَفْتُمْ : يعني زړونه مو مختلف شو او توجه مو بل طرفته واوړيدله يعني زړونو کې د نورو څيزونو فکر پيدا شي او د قرآن نه فکر واوړي يا زړونو کې سستي او ساړويې پيدا شي نو بيا قرآن کريم مهٔ لولئ ځکه چه بيا زړه د ژبے سره موافق نهٔ وي نو دومره اثر به درباندے نهٔ کوي.

دے کې بله معنیٰ دا هم شويده چه کله تاسو د قرآن کريم په لوستلو کې تول متفق يئ او په قراءت او لغاتو کې مو اختلاف نهٔ پيدا کيدو نو قرآن لولئ خو کله چه د

قرائت په وجه ستاسو اختلاف راتللو یو ئے یو شان قراءت سره لولی او بل ئے بل شان نو په هغه وخت کی قرآن مۀ لولئ دیے دپاره چه ستاسو خپل مینځ کی اختلاف پیدا نشی، لکه څنګه چه د ابن مسعود ﷺ نه نقل دی چه ددۀ او د اُبی بن کعب ﷺ ترمینځ په اداء د قراءت کی اختلاف واقع شو او بیا ئے فیصله نبی ﷺ ته ویوړه نبی ﷺ وفرمایل: کِلَا کُمَا مُحْسِنٌ- هر یو ستاسو صحیح قراءت کوی.

(فتح الباری۹/۱۰۲)-

او د عمر فاروق ﷺ او د هشام ﷺ واقعه په بخاری کی راغلے ده چه د دوی دواړو د سورة الفرقان په باره کی اختلاف واقع شوے وو-

دلته اوله معنیٰ د سیاق نه غوره معلومیږی-

- 2191(5) وَعَنْ قَتَادَةَ رَحِمَهُ اللهُ قَالَ: سُئِلَ أَنَسٌ ﷺ: كَيْفَ كَانَتْ قِرَاءَةُ النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ: كَانَتْ مَدًّا مَدًّا ثُمَّ قَرَأَ: بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ يَمُدُّ بِبِسْمِ اللهِ وَيَمُدُّ بِالرَّحْمٰنِ وَيَمُدُّ بِالرَّحِيمِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. ________

ترجمه : او جناب قتاده رحمه الله وائی: د انس بن مالك ﷺ نه تپوس وشو: د نبی کریم ﷺ قراءت به څنګه وو؟ نو هغه وفرمایل: د هغه قراءت د اُوږدوالی سره وو بیا ئے ولوستل: بسم الله الرحمن الرحيم چه بسم الله به ئے داسے اوږده وله او الرحمن به ئے داسے اوږده ولو او الرحيم به ئے داسے اُوږده ولو- (بخاریؒ)

تشریح : كَانَتْ مَدًّا : یعنی رسول الله ﷺ به په بسم الله کی د لفظ (الله) الف د الف مقصوره په اندازه رابنکلو او د رحمٰن الف به ئے هم رابنکلو او د رحيم په یاء کی به ئے مد اصلی یا عارضی کولو-

دلته د مد نه مد طبیعی مراد دے چه دے ته مد اصلی او مد ذاتی هم وائی، یعنی د الف او واو او یاء نه روستو حرفونه په اشباع (ډکوالی) سره ادا کول لکه (قالوا) کی الف او (قیل) کی یاء شوه، او دا مد د حرکت په پوره والی او د الف په اندازه د حروفو په ډکوالی سره حاصلیږی ځکه که پدے طریقه ونۀ لوستلے شی نو بیا په دغه حرف باندے نطق او تلفظ نۀ کیږی، پدے وجه دے ته مد اصلی او مد طبیعی وائی، ځکه چه صاحب د فطرت سلیمه دا نۀ زیاتوی او نۀ ئے د دوه حرکتونو نه کموی چه دا ئے طبعی مقدار

دے۔
او دا مد به په حروف علتو باندے کیږی نۀ په نورو حروفو، او د دوه حرکتونو په اندازه به راښکلے شی، لکه په بسم الله کی په لفظ د الله او الرحمن کی د میم دپاسه او په الرحیم کی په یاء باندے۔
او په حدیث د ام سلمهؓ کی راځی چه آ آ به ئے پرے کولو لکه فتحا مبینا، کریما، غفورا رحیما وغیره۔ نو ډیر جدا جدا لوستل هم صحیح نۀ دی او نۀ ډیر تیز چه مد پکی ونکړے شی۔
فائده : مد په لغت کی زیادت ته وائی او په اصطلاح کی
[اِطَالَةُ الصَّوْتِ بِحَرْفِ الْمَدِّ اَوْ حَرْفِ اللِّیْنِ عِنْدَ وُجُوْدِ سَبَبِهٖ]۔
آواز په حرف مد او حرف لین باندے اُوږدول کله ئے چه سبب موجود شی۔
مد په دوه قسمه دے (۱) مد اصلی (طبیعی) (۲) او مد فرعی۔
مد اصلی : دا هغه مد دے چه ذات د حرف بغیر ددے نه نۀ اُودریږی او دا په هیڅ سبب باندے موقوف نۀ دے۔او ددے درے حرفونه دی و۔ا۔ی۔ چه مجموعه ئے (وای) ده چه دے ته حروف الجوف او حروف العلة هم وائی۔ او دا مد په مقدار د دوه حرکتونو سره اُوږدولے شی۔
بیا دا مد اصلی په دوه قسمه دے (۱) مد طبیعی کلمی (چه په یوه کلمه کی وی) لکه (قَالَ) یا (نُوْحِیْهَا) شو۔ (۲) مد طبیعی حرفی۔ او دا هغه حروف مقطعه دی چه پدے قول کی راجمع دی (حی طهر) نو تلفظ به په حا/یا/طاء/ هاء/را باندے کولے شی۔
او مد طبیعی کلمی هم په یو څو قسمه تقسیمولے شی (۱) مد د صله صغریٰ (۲) او مد د صله کبریٰ۔ مد د صله صغریٰ : دا راځی په هغه هاء کی چه کنایه وی د مفرد غائب نه (یعنی په واحد مذکر غائب ضمیر کی) لیکن پدے شرط چه دغه هاء به متحرکه وی او ماقبل او ما بعد به ئے هم متحرك وی نو که دغه هاء مضمومه وه نو دے سره به واو مدیه پیوسته کولے شی او که دغه هاء مکسوره وه نو یاء به مدیه به ورسره پیوسته کولے شی او دا صله به اُوږدولے شی په مد طبیعی سره په اندازه د دوه حرکتونو لکه (فَسْئَلْ بِهٖ خَبِیْرًا)
مد د صله کبریٰ دا دے چه هاء نه روستو همزه راشی نو بیا به د دوه حرکتونو نه زیات

اُوریدولے شی لکه (وَمَا يُكَذِّبُ بِهٖٓ اِلَّا كُلُّ مُعْتَدٍ اَثِيْمٍ)۔
مد فرعی : دا هغه دے چه زیات وی د مد اصلی نه د وجه د سبب خارجی نه چه هغه سبب همزه ده یا سکون دے۔ او ددے هم ډیر اقسام دی چه په علم التجوید کښے بیانیږی، لکه مد متصل، مد منفصل او مد بدل وغیره۔ (البسیط فی علم التجوید)

- 2192 (6) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" مَا أَذِنَ اللهُ لِشَيْءٍ مَا أَذِنَ لِنَبِيٍّ يَتَغَنّٰى بِالْقُرْآنِ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالیٰ غوږ نهٔ دے ایخودے هیڅ یو شی ته څومره چه غوږ اړدی یو نبی ته چه په قرآن باندے خوش آوازی کوی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : أَذِنَ : ددے مصدر په زبر د همزه او ذال سره دے د (فَرِحَ يَفْرَحُ) باب نه غوږ کیخودو ته وائی یو دے اذن په زیر د همزه او سکون د ذال سره هغه هم د (فَرِحَ يَفْرَحُ) نه دے هغه اجازت ته وائی دلته هغه نهٔ دے مراد۔
یعنی الله تعالیٰ بل شی ته دومره غوږ نهٔ ږدی څنګه چه یو نبی ته متوجه کیږی کله چه هغه په ښائسته آواز سره د الله کتاب لولی۔ د نبی نه مراد هر نبی دے او د قرآن نه مراد هر د لوستلو کتاب دے د قرآن کریم پورے خاص نهٔ دے۔
اشاعره او ماتریدیه د الله تعالیٰ پدے صفت کی تاویل کوی چه الله تعالیٰ څنګه استماع وکړی ځکه چه استماع خو هغه څوك كوی چه د هغه توجه کی کمے او زیاتے راځی او سماع ئے مختلف کیږی او الله تعالیٰ خوداسے نهٔ دے نو پدے وجه پدے صفت د اذن کی ئے تاویل کړیدے چه دا کنایه ده ددے نه چه قاری ځان ته رانزدے کوی او زیات ثواب ورکوی ځکه چه دا ثمره د غوږ کیخودو ده۔ (سندیؒ)
لیکن اهل السنة والجماعة المحضة دا تاویل صحیح نهٔ ګڼړی ځکه چه پدے کی نفی د صفة د استماع راځی د الله تعالیٰ نه نو دا به په خپل ظاهر باندے حمل کولے شی او ددے د معنیٰ حقیقت به الله تعالیٰ ته سپارو۔
یعنی الله تعالیٰ استماع کوی خو په کومه طریقه؟ نو د هغے علم د الله تعالیٰ سره دے۔
يَتَغَنّٰى بِالْقُرْآنِ : د اکثرو علماؤ په نیز د تغنی نه مراد آواز ښائسته کول او ترنم او

خوش آوازي کول دي دليل دا دے چه غوږ آواز ته کيخودلے شي نو که دلته د تغنی نه خوش آوازي وانۀ خستے شي نو (اَذِنَ) لفظ ورسره نۀ لګي۔

او روستو روايت کي ورسره (حسن الصوت) او (يجهر به) الفاظ هم دليل دے چه دلته خوش آوازي مراد ده۔ او حديث [زَيِّنُوا الْقُرآنَ بِاَصْوَاتِكُمْ]

(تاسو په خپلو آوازونو سره قرآن کريم ښائسته کړئ) پرے هم دليل دے کما في ابي داود (۱٤۷۰) والنسائي (۱۰۱۵) باسناد صحيح)

(۲) بعض علماء وائي : د (يتغني) او (لم يتغن) معنیٰ دا ده چه په قرآن کريم باندے ځان د خلکو د سوالونو نه مستغني کړي، او دا معنیٰ وکيعؒ او سفيان بن عيينهؒ کړيده او ابن حبانؒ په خپل صحيح کي غوره کړيده او ابو عبيدؒ هم پسند کړيده او دا ئے وئيلي دي چه دا په عربئ کي جائز ده چه تَغني په معنیٰ د استغنیٰ سره استعمال شي اَیْ طَلَبَ الْغِنٰی بِهَا عَنِ النَّاسِ۔ يعني پدے سره ئے ځان د خلکو نه مستغني کړو۔

او دوی دليل دا هم وائي چه پدے کي هيڅ اختلاف نشته چه د قرآن قاري ته به په قراء ت اجر ملاويږي اګرکه آواز ښائسته نکړي نو که مونږ د خوش آوازئ معنیٰ واخلو نو بيا به ددے په پرينښودو باندے د وعيد مستحق شي پاتے لا دا چه اجر او ثواب ورته ورکړے شي۔

مګر مونږ وايو چه دواړه معاني صحيح دي په (يتغني بالقرآن) کي د (يَجْهَرُ بِهِ) او د (حسن الصوت) د وجه نه د آواز ښائست مراد دے او په روستو روايت (لم يتغن بالقرآن) کي دواړه احتماله روا دي۔

2193 - (7) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ :" مَا أَذِنَ اللهُ لِشَيْءٍ مَا أَذِنَ لِنَبِيٍّ حَسَنِ الصَّوْتِ بِالْقُرْآنِ يَجْهَرُ بِهِ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالیٰ هيڅ يو شي ته دومره غوږ نۀ دے ايخودے څومره چه يو نبي ته غوږ اړدی چه په قرآن باندے ښائسته آواز کونکے وي او هغه په اُوچت آواز سره لولي۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : دا حديث هم دليل دے چه قرآن کريم په ښائسته آواز لوستل او په جهر

سره لوستل ضروري عمل دے او پدے سره قرآن ښائسته کيږي او په بنده باندے اثر کوي. او دا لوستل که په مانځه کې وي او که په بهر د مانځه نه په تلاوت کې وي.

- 2194(8) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَّمْ يَتَغَنَّ بِالْقُرْآنِ ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه شخص زمونږ نه نۀ دے چه په قرآن باندے خوش آوازي نۀ کوي. (بخاريؒ)

تشريح : لَّمْ يَتَغَنَّ : پدے کې دوه معاني مخکې ذکر شوے چه په قرآن باندے خوش آوازي کول او د قرآن په وجه ځان د خلکو د سوالونو نه مستغني کول.

۳- دريمه معنیٰ دا هم شويده چه تغني نه مراد تلذذ او خوند حاصلول دي لکه څنګه چه په غناء (ټنګ ټکور) سره خلك تلذذ حاصلوي نو د هغے په ځاى په قرآن باندے تلذذ حاصلول پکار دي.

٤- ځيني وائي : دا د تغني بالمكان نه ماخوذ دے اَیْ اَقَامَ بِهٖ. يعني په يو ځاى کې ډير پاتے کيدل او وسيدل. نو معنیٰ د حديث به دا وي چه پدے کې تيزي ورکول دي چه د قرآن کريم تلاوت سره به هميش والے کوي او ددے نه به بل شي ته تجاوز نۀ کوي.

٥- ځيني وائي ظاهري مالداري طلب کول مراد دي يعني چا چه د قرآن په هميشه تلاوت سره د لاس د مالدارئ طلب ونکړو او په نورو اسبابو سره مالداري طلب کوي نو دا زمونږ نه نۀ دے يعني قرآن کريم د مالدارئ ښائسته ذريعه ده ځکه چه په قرآن کريم کې د رزق طلب کولو اسباب ذکر دي.

حافظ ابن حجرؒ اولنو دوه معانيو ته ترجيح ورکړيده، او بيا ئے وئيلي دي چه دا نورے معاني هم د يو بل مخالفے نۀ دي ا ـ جمع ئے جائز ده.

حافظ ابن القيمؒ په قرآن کريم باندے د خوش آوازئ متعلق ښه بحث ليکلے دے او بيا ئے وئيلي دي چه محاکمه دا ده چه په قرآن باندے خوش آوازي په دوه طريقو ده،

يو دا چه قرآن کريم داسے طريقے سره ولولي چه د طبيعت مطابق وي او بغير تکلف او تمرينګ او تعليم نه وي چه په آوريدونکي باندے بوج نۀ جوړوي او بې ځايه آواز رابښکل پکې نۀ وي نو دا کار مطلوب او مرغوب فِيهِ دے،

او دویم داسې خوش آوازي ده چه په تصنع او تکلف او تمرین او تعلم سره په زوره آواز ښائسته کولو کوشش کوی لکه تہنگ تکور والا چه څنگه آواز ښائسته کوی نو دا کار منع دې او سلفو به د موسیقی په آوازونو باندې قرآن کریم لوستل بد گنړل،

او پدې سره د دواړو طرفونو دلائل جمع کیږي آه. یعنی هغه تغنی چه د سندرو په طریقه وی هغه منع ده او خوش آوازي کول په تکلف سره چه د قرآن رونق پرې زیاتیږي مطلوب ده.

- 2195(9) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ قَالَ: قَالَ لِیْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ :" اِقْرَأْ عَلَيَّ ". قُلْتُ :أَقْرَأُ عَلَيْكَ وَعَلَيْكَ أُنْزِلَ ؟ قَالَ : " إِنِّیْ أُحِبُّ أَنْ أَسْمَعَهٗ مِنْ غَيْرِیْ ". فَقَرَأْتُ سُوْرَةَ النِّسَاءِ حَتّٰى أَتَيْتُ إِلٰى هٰذِهِ الآيَةِ (فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيْدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلٰى هٰؤُلَاءِ شَهِيْدًا) قَالَ : " حَسْبُكَ الآنَ ". فَالْتَفَتُّ إِلَيْهِ فَإِذَا عَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی : ما ته رسول الله ﷺ وفرمایل پداسې حال کې چه هغه په منبر باندې وو : په ما باندې قرآن ولوله. ما ورته وویل : آیا زۀ به ئې په تا لولم حال دا چه په تا باندې نازل شوید ې؟. هغه وفرمایل : زۀ دا خوښوم چه دا د بل چا نه واورم. نو ما سورة النساء ولوستله تردې چه زۀ دې آیت ته راورسیدم (فَكَيْفَ اِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ بِشَهِيْدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلٰى هٰؤُلَاءِ شَهِيْدًا)

ترجمه : څنگه به وی حال د دوی کله چه مونږ به راولو د هر امت نه یو گواه او رابه ولو تا لره په دې امت باندې گواه) نبی کریم ﷺ وفرمایل: اُوس بس کړه. نو ما هغه ته وکتل نو ناڅاپه د هغه د سترگو نه اُوښکې روانې وې. (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : شَهِيْدًا : یعنی نبی علیه السلام به الله تعالیٰ په خپل امت باندې گواه راولی چه ما دوی ته د الله پیغام او دین رسولې نو که امت خبره نۀ ده منلې نو دا د هغوی گناه ده.

عَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ : اَیْ تَدْمَعَانِ : د سترگو نه ئې اُوښکې روانې وې.

رسول الله ﷺ ددې آیتونو په آوریدو ولې ژړلی دی؟ نو شوك وائی چه وجه دا ده چه د رسول الله ﷺ رحمت زیات وو په هغه کسانو باندې چه هغوی کوتاهی کړیده او دارنگه پدې آیت کې د قیامت ډیر لوی هیبت پروت دې چه انسانان به د الله تعالیٰ مخې

ته حاضریږی او بیا به نبی علیه السلام په دوی باندے ګواهی ورکوی۔

۲- ابن بطالؒ وائی : نبی علیه السلام ځکه وژړل چه هغه ځان ته د قیامت اهوال او هیبتونه او دغه سخت حالت رامخے ته کړو چه په امت باندے به ګواهی کوی او د الله نه به د موقف والو دپاره سفارش طلب کوی او دا یو داسے حالت دے چه اُوږده ژړا ورسره مناسب ده۔

۳- حافظ ابن حجرؒ وائی ښکاره وجه دا ده چه نبی علیه السلام په خپل امت باندے د رحمت په وجه وژړل ځکه چه نبی علیه السلام ته دا معلومه وه چه دے به په امت باندے ګواهی کوی او په امت کی به ډیر کسان داسے وی چه د هغوی عملونه به خراب وی چه د هغے په وجه به په عذاب کی اخته کیږی نو په امت باندے ئے رحمت راغے آه۔

فوائد : ۱- د دے حدیث نه معلومه شوه چه قرآن کریم د بل نه آوریدل او هغے ته متوجه کیدل او د هغے په وخت ژړا کول مستحب عمل دے۔

او کله به قرآن خپله لولی د ژړے په وجه به په زړه اثر وشی او کله به ئے د بل نه واوری نو د غور په وجه به اثر وشی دوه لار دی۔

۲- امام نوویؒ وائی : د قرآن کریم د قراءت په وخت ژړا کول د عارفینو صفت دے او د صالحینو شعار دے که یو سړی ته ژړا نهٔ ورځی نو هغه له پکار دی چه د ژړا شکل اختیار کړی۔

۳- د ژړا د راتللو طریقه دا ده چه زړه په وعیدونو او عذابونو سره غمجن کړی او په یره کی ئے راولی او دارنګه د الله تعالیٰ احکام او لوظونه دے یاد کړی بیا دے وګوری چه دهٔ د هغے په باره کی څومره تقصیر او کوتاهی کړیده نو که پدے طریقه غمجن شو خو صحیح ده او که غمجن نهٔ شو نو بیا دے پدے نهٔ غمجن کیدو وژاړی ځکه چه دا د ټولو نه لوی مصیبت دے چه انسان مجرم وی او ښه خوشحاله وی۔ (غزالیؒ)

- 2196(10) وَعَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لِأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ : " إِنَّ اللهَ أَمَرَنِي أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْكَ الْقُرْآنَ " قَالَ : آللهُ سَمَّانِي لَكَ ؟ قَالَ : " نَعَمْ ". قَالَ : وَقَدْ ذُكِرْتُ عِنْدَ رَبِّ الْعَالَمِينَ ؟ قَالَ : " نَعَمْ ". فَذَرَفَتْ عَيْنَاهُ. وَفِي رِوَايَةٍ : " إِنَّ اللهَ أَمَرَنِي أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْكَ (لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا) قَالَ: وَسَمَّانِي ؟ قَالَ :" نَعَمْ ". فَبَكَى مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سيدنا انس بن مالك ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ ابی بن کعب (ﷺ) ته وفرمايل: يقيناً الله تعالىٰ ما ته دا حکم کړے چه زۀ په تا باندے قرآن ولولم۔ هغه ووئيل : آيا الله زما نوم تا ته اخستے دے ؟ هغه وفرمايل: آؤ، هغه عرض وکړو : آيا زۀ د رب العالمين په دربار کې ذکر شوے يم؟ نبی کريم ﷺ وفرمايل: آؤ، نو د ابی بن کعب د سترګو نه اُوښکے توی شوے (بخاریؒ ومسلمؒ) او په يو روايت کې دی : يقيناً الله تعالىٰ ما ته حکم کړيدے چه زۀ په تا باندے (لم يکن الذين کفروا سورة) ولولم۔ هغه ووئيل : او الله تعالىٰ زما نوم اخستے دے؟ هغه وفرمايل: آؤ، نو ابی بن کعب وژړل۔

تشريح : ابی بن کعب ﷺ د انصارو نه خزرجی نجاری صحابی دے او په ټولو صحابه کرامؓ کې لوی قاری د قرآن وو۔

أَقْرَأَ عَلَيْكَ : رسول الله ﷺ په اُبی بن کعبؓ باندے قرآن کريم ولے لوستلو؟ ،

ابوعبيدؒ وائی وجه دا ده چه ابی بن کعبؓ دِ رسول الله ﷺ نه قراءت زده کړی چه په هغے کې مضبوط شی، او دے دپاره چه د قرآن کريم پيش کول يوه سنت طريقه جوړه شی، او پدے کې د ابی بن کعبؓ فضيلت ته اشاره ده، او دے ته اشاره ده چه ابی بن کعبؓ په حفظ د قرآن کې ډير مخکې دے، آه۔

او د ابی بن کعبؓ تخصيص ئے وکړو ځکه چه دۀ د قرآن کريم په يادولو کې ډير کوشش او کړاؤ کړے وو پدے وجه نبی ﷺ صحابه کرامؓ ته وئيلی وو : (أَقْرَأُكُمْ أُبَيٌّ) په تاسو کې لوی قاری اُبی ﷺ دے، نو هرکله چه دا پدے فن کې امام شو، نو الله تعالىٰ خپل نبی ته حکم وکړو چه دۀ باندے سورت (لم يکن) ولولی دے دپاره چه دے ترے د قرآن کريم رسم او طريقه زده کړی لکه څنګه چه نبی ﷺ د جبريل ﷺ نه زده کړے وو،

او پدے طريقه هر روستو شاګرد ئے د استاذ نه واخلی پدے وجه د ابی بن کعبؓ نه ډيرو تابعينو بيا د هغوی نه روستو خلکو په دغه طريقه رانقل کړيدے تر نن وخت پورے لوستلے کيږی۔

او اُبی بن کعب ﷺ زمونږ په سند کې هم راغلے دے ولله الحمد علی ذلك۔

فَبَكٰى : دا د ډيرے خوشحالئ د وجه نه ژړا ده چه يو عظيم ذات د ابی بن کعبؓ په شان د يو بنده نوم اخلی او په ټولو صحابه کرامؓ کې صرف دده نوم اخلی۔

او دا اصل كمال دے چه بنده د الله تعالىٰ په نيز اُوچت شي، نهٔ دا چه د يو كلي مشر شي يا ئے په اخبار كي نوم راشي۔ يا دا ژړا د ډيرے خشوع او هيبت نه ده۔
د مسلمان زړهٔ چه كله رقيق وي بيا په هر څه ژړا ورځي، دا د قياسونو خبرى نهٔ دى۔

- 2197(11) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ : نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَنْ يُّسَافَرَ بِالْقُرْآنِ إِلٰى أَرْضِ الْعَدُوِّ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ :" لَا تُسَافِرُوْا بِالْقُرْآنِ فَإِنِّيْ لَا آمَنُ أَنْ يَّنَالَهُ الْعَدُوُّ "

ترجمه : او سيدنا ابن عمر رضى الله عنهما فرمائى : رسول الله ﷺ ددے نه منع كړيده چه قرآن كريم باندے سفر وكړے شي د دشمن زمكے ته۔ (بخاريؒ ومسلمؒ) او په يو روايت د مسلمؒ كي دى : تاسو د قرآن سره (د دشمنانو علاقے ته) سفر مهٔ كوئ ځكه چه زهٔ په امن كي نهٔ يم ددے نه چه دشمن به دا واخلي (او ددے بى عزتى به وكړى)۔

تشريح : د دشمن زمكے ته قرآن وړلو نه منع په هغه وخت كي ده چه كله دا خطره وى چه دشمنان به ددے كتاب بى عزتى وكړى او كله چه دا خطره نهٔ وى نو بيا د قرآن كريم وړل جائز دى ځكه علت د منع ختم شو او دارنګه دليل دا دے چه نبى عليه السلام هرقل او نورو بادشاهانو ته په خطونو كي (يَا اَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا اِلٰى كَلِمَةٍ) آيت ليكلے وو۔
او ددے روايت نه دا فائده معلوميږى چه د قرآن كريم اطلاق په لږ او په ډير تهولو باندے كيږى يعنى دا اسم جنس دے ځكه چه د نبى عليه السلام ددے حديث د وينا په وخت كي قرآن كريم مكمل په يو مصحف كي نهٔ وو تيار شوے بلكه لږ لږ صحابه كرامو ځان دپاره ليكلے وو نو دغه صحيفے د قرآن كريم وړل او ټول قرآن وړل به يو شان وى،
يا د قرآن نه مراد مصحف دے لكه په بعض رواياتو كي ددے تصريح راغلے ده نو بيا به دا اخبار بالغيب وى چه نبى عليه السلام د غيبو خبر وركړو چه روستو زمانه كي به قرآن كريم په يو مصحف كي راجمع كيږى۔ فتدبر۔

الفصل الثانى

- 2198(12) عَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه قَالَ : جَلَسْتُ فِيْ عِصَابَةٍ مِنْ ضُعَفَاءِ

الْمُهَاجِرِيْنِ وَإِنَّ بَعْضَهُمْ لَيَسْتَتِرُ بِبَعْضٍ مِنَ الْعُرْيِ وَقَارِئٌ يَقْرَأُ عَلَيْنَا إِذْ جَاءَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَقَامَ عَلَيْنَا فَلَمَّا قَامَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ سَكَتَ الْقَارِئُ فَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ : " مَا كُنْتُمْ تَصْنَعُوْنَ ؟ " قُلْنَا : كُنَّا نَسْتَمِعُ إِلٰى كِتَابِ اللهِ قَالَ فَقَالَ : " اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ جَعَلَ مِنْ أُمَّتِيْ مَنْ أُمِرْتُ أَنْ أَصْبِرَ نَفْسِيْ مَعَهُمْ ". قَالَ فَجَلَسَ وَسْطَنَا لِيَعْدِلَ بِنَفْسِهٖ فِيْنَا ثُمَّ قَالَ بِيَدِهٖ هٰكَذَا فَتَحَلَّقُوْا وَبَرَزَتْ وُجُوْهُهُمْ لَهٗ فَقَالَ : " أَبْشِرُوْا يَا مَعْشَرَ صَعَالِيْكِ الْمُهَاجِرِيْنَ بِالنُّوْرِ التَّامِّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ قَبْلَ أَغْنِيَاءِ النَّاسِ بِنِصْفِ يَوْمٍ وَذَاكَ خَمْسُمِائَةِ سَنَةٍ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : ابو سعید خدری ﷺ فرمائي : زۀ د ضعیفانو مهاجرینو په یوه ډله کې ناست وم او (د هغوی د ضعف حالت دا وو چه) بعض د هغوی به د بعضو پسے ځان پټولو د وجه د بربنډ والي نه۔ (چه چا ته ئے عورت ښکاره نشي) او یو قاري په مونږ باندے قرآن لوستلو چه ناڅاپه رسول الله ﷺ راغے او مونږ باندے ودریدو، نو هرکله چه رسول الله ﷺ ودریدو نو قاري غلے شو، رسول الله ﷺ سلام وا چولو بیا ئے وفرمایل : تاسو څه کول ؟ مونږ وویل : مونږ د الله تعالیٰ کتاب آوریدو۔ ابوسعیدؓ فرمائي : نو رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه الله لره شکر دے چه زما په امت کې ئے داسے کسان پیدا کړل چه ما ته حکم وکړے شو چه زۀ خپل نفس د هغوی سره صبر کړم۔ ابوسعیدؓ فرمائي : بیا نبی کریم ﷺ زمونږ په مینځ کې کیناستو چه په مونږ کې خپل ځان برابر کړي (یعنې د حلقے نه د یو تن په شان هغه هم د نورو ملګرو سره یو برابر کیناستو) بیا ئے په لاس سره داسے اشاره وکړه : نو خلکو حلقه جوړه کړه او د هغوی مخونه نبی کریم ﷺ ته ښکاره شو نو وے فرمایل: اے د غریبانو مهاجرینو ډلے ! خوشحالي حاصله کړئ په هغه پوره رڼا سره (چه تاسو ته به) د قیامت په ورځ (ملاویږي)، (او) تاسو به جنت ته د مالداره خلکو نه نیمه ورځ مخکې داخلیږئ او هغه پنځه سوه کاله دي۔ (ابو داوُدؒ)

تشریح : عِصَابَةٍ : په کسره د عین جماعت او ډلے ته وائي۔

لَيَسْتَتِرُ : یعني دومره غریبان وو چه دومره جامے ورسره نۀ وے چه ځان ئے پرے پوره پټ کړے وے نو د یو بل شا ته به کیناستل۔

وَقَارِئُ : د هغه زمانې طريقه دا وه چه يو تن به قرآن کريم لوستلو او حلقه کې ناستو ملګرو به هغې ته غوږ کيخودو او د ختمونو داسې طريقه نۀ وه چه يو يو تن باندې سيپارې تقسيم کړي۔
لِيَعْدِلَ بِنَفْسِهِ : يعنې داسې مينځ کې کيناستو چه د نورو ملګرو سره برابر وو د پاره د عاجزئ او بيخې مينځ کې کيناستلو نه منع راغلې ده بلکه دا په حلقه کې د نورو ملګرو سره جوخت کيناستل وو۔ او سنت طريقه دا ده چه قرآن کريم او د جُمعې خطبې آوريدو ته به د حلقې په شکل کيني۔
مسئله : په مسند احمد کې راځي چه رسول الله ﷺ په حلقه د قرآن کريم کې سلام هم واچولو کما في حديث عقبة بن عامر (الصحيحه)
وَبَرَزَتْ : يعنې نبي ؑ ملګري داسې برابر کړل چه د ټولو مخونه نبي ؑ ليدل۔
صَعَالِيكِ : جمع د صُعلوك ده فقير ته وائي۔ دلته د فقراؤ نه هغه فقيران مراد دي چه نيکان او صبرناك وي او دغه شان د دولتمند نه هغه دولتمند مراد دیٰ چه نيکان او شکرګزار وي او د خپل مال حق (يعنې صدقات او زکاة وغيره) ئې ادا کړي وي نو دوي به د حشر په ميدان کې اُودرولې شي او د دوي سره به حساب وکړې شي چه تاسو دا مال د کوم ځاي نه او په کومو ذريعو سره حاصل کړې وو او بيا تاسو دا مال کوم کوم ځاي کې خرچ کړې وو؟ نو دوي به په دې حساب کتاب کې مصروف وي او فقراء به ترې جنت ته مخکې داخل شي۔
خَمْسُمِائَةِ سَنَةٍ : دلته پنځه سوه کاله اندازه راغله چه د قيامت ورځ زر کاله ده او لکه دا په آيت د سورة الحج (۴۷) کې هم راغلې دي : ﴿وَاِنَّ يَوْمًا عِنْدَ رَبِّكَ كَاَلْفِ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّوْنَ﴾ او دغه شان په سورة السجده (۵) کې دي
:﴿ثُمَّ يَعْرُجُ اِلَيْهِ فِيْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهٗ اَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّوْنَ﴾
يعنې د قيامت د ورځې اندازه پنځوس زره کاله ده۔ او په حديث د مسند احمد او صحيح مسلم کې د عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما نه مرفوعاً نقل دي چه فقراء مهاجرين به د مالدارو نه د قيامت په ورځ جنت ته څلويښت کاله مخکې داخليږي۔
نو ددې دواړو حديثونو ترمينځ تطبيق (۱) دا دې چه ددې دواړو عددونو نه مراد تکثير (ډيروالې) دې نۀ تعيين او تحديد نو کله په يو سره تعبير کيږي او کله په بل سره،

(٢) يا دا چه اول وحى د څلويښتو كالو شوے وه او بيا د پنځه سوه كالو خبر وركړے شو، په فقيرانو باندے ئے زيات فضل وكړو۔

(٣) دريم تطبيق دا دے چه د غريبانو او د مالدارو په تقوىٰ كى تفاوت او فرق دے ځوك اعلىٰ درجه تقوىٰ والا وى او ځوك ادنىٰ درجه۔ نو كوم روايت كى چه څلويښت كاله ذكر دى نو د هغے نه مراد دا دے چه هغه فقيران به مخكى وى چه حريصان وى په هغه مالدارو باندے چه حريصان وى او كوم كى چه پنځه سوه كاله ذكر دى نو هلته مخكى والے د هغه فقير مراد دے چه زاهد او بى رغبته وى او پوره صبرناك وى په هغه مالداره باندے چه دنيا سره ئے مينه وى۔ (جامع الاصول فى احاديث الرسول ٤/٦٧٣)

بيا ددے نه دا نهٔ لازميږى چه كوم كسان جنت ته روستو داخليږى د دوى مرتبے به هم خكته وى بلكه دا صرف په داخليدو كى روستو والے او مخكى والے دے نهٔ په مرتبو كى بلكه ډير كرت به روستو داخليدونكے انسان د مخكى داخليدونكى نه په مرتبه كى اُوچت وى او كله به مخكى داخليدونكے په مرتبه كى هم اُوچت وى۔ (علقمىؒ)
المرعاة (٧/٢٨٩)

(٤) او علقمىؒ داسے تطبيق هم كړيدے چه سباق فقراء به د سباق اغنياؤ نه څلويښت كاله مخكى جنت ته داخليږى او د غير سباق اغنياؤ نه به پنځه سوه كاله مخكى داخليږى ځكه چه هر دواړو صنفونو كى سباقين شته۔

(٥) يا دا چه په څلويښتو كالو كى اشاره ده چه كمو مراتبو ته او په پنځه سوه كالو كى اشاره ده اكثرو مراتبو ته لكه دا يو د روايت د طبرانى نه معلوميږى چه د مهاجرينو اوله ډله به جنت ته د خلكو نه څلويښت كاله مخكى داخله شى بيا به دويمه ډله سل كاله روستو الخ نو دغه شان دريمه ډله به دوه سوه كاله روستو نو ګويا كه دا به پنځه ډلے جوړيږى۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف الا جملة دخول الجنة فصحيحة، (البانى) والحديث حسن على الراجح، اخرجه احمد (٣/٦٣،١٩٦) وابوداود (٣٦٦٦) فى اسناده المعلى بن زياد البصرى وفيه مقال، قال الحافظ فى التقريب : هو صدوق قليل الحديث زاهد اختلف قول ابن معين فيه وقال فى التهذيب (١٠/٢٣٧) قال اسحاق بن منصور عن ابن معين وابوحاتم ثقة وقال ابوبكر البزار : ثقة آه (مرعاة)

- 2199 (13) وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : " زَيِّنُوا الْقُرْآنَ بِأَصْوَاتِكُمْ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُودَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه : او سيدنا براء بن عازب ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو قرآن كريم په خپلو آوازونو سره ښائسته كړئ. (احمدؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ، دارميؒ)

تشريح : ښه آواز سره په قرآن كې زياته رنا او زيات تاثير پيدا كيږي ځكه چه ښائسته آواز ډير اثر لري. بعض علماؤ وئيلي دي چه دے الفاظو كې قلب شويدے او اصل كې (زَيِّنُوا اَصْوَاتَكُمْ بِالْقُرْآنِ) دے. يعني خپل آوازونه په قرآن سره ښائسته كړئ ليكن دے خمل ته هيڅ حاجت نشته،

وجه دا ده چه په روستو (٢٢) روايت كې ئے علت دا راغلے دے ((چه په ښائسته آواز سره په قرآن كريم كې حسن پيدا كيږي))

دارنگه د قرآن نه مراد قراءت دے او دا كار د ښنده دے فتدبر.

په ښائسته آواز سره قرآن لوستلو كې شوق او رغبت هم ډيريږي او دا د قرآن حق دے.

درجة الحديث : اسناده صحيح، احمد (٤/٢٨٥، ٢٩٦، ٣٠٤) والدارمي (٢/٤٧٤) وابوداود (١٤٦٨) والنسائي (٢/١٧٩، ١٨٠) وابن ماجه (١٣٤٢) والحاكم (١/٥٧١) وهو في صحيح الجامع الصغير (٣٥٨٠)

- 2200(14) وَعَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ :" مَا مِنِ امْرِئٍ يَقْرَأُ الْقُرْآنَ ثُمَّ يَنْسَاهُ إِلَّا لَقِيَ اللهَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَجْذَمَ ". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه : او سيدنا سعد بن عباده ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل: نشته يو شخص چه قرآن ولولي بيا ئے هير كړي مگر الله تعالیٰ سره به د قيامت په ورځ په داسے حال كې ملاؤ شي چه اندامونه به ئے پريكړے شوي وي. (ابوداودؒ، دارميؒ)

تشريح : ثُمَّ يَنْسَاهُ : ددے نسيان نه مراد دا دے چه قرآن ئے وئيلے وي په يادو يا په مصحف كې او بيا ئے پريدي برابره ده چه ترے هير شوے وي يا نۀ وي خو نۀ ئے راخلي نو د قيامت په ورځ به د الله تعالیٰ سره ملاؤ شي چه جذام بيماري به ورته لگيدلې وي. يا د

اجذم نه مراد دا چه اندامونه به ئې پرېکړے شوی وی۔

یا اجذم نه مراد اجذم الحجة دے یعني دلیل به ورسره نۀ وی او نۀ به ورسره ژبه وی چه خبرے پرے وکړی، ددے وجه نه علامه رافعیؒ وغیره د قرآن کریم هیرول د کبیره ګنا هونو نه شمارلی دی۔

او ددے وجه دا ده چه انسان قرآن نۀ راخلی او نۀ ئې په یادو وائی نو دا دلیل دے چه دۀ سره د قرآن کریم تعظیم او اهتمام نشته او چه اهتمام ورسره نۀ وی نو دا د قرآن کریم سپکاوے دے۔ او د الله تعالیٰ سره د مینے کم والے دے۔

درجة الحدیث: اسناده ضعیف، اخرجه احمد (۵/۲۸٤، ۲۸۵) والدارمی (۲/٤۳۷) وابوداود (۱٤۷٤) وهو فی السلسلة الضعیفة (۱۳۵٤) ویزید بن ابی زیاد ضعیف، وعیسی بن فائد مجهول ولم یسمع من ابن عبادة الا ان معنیٰ الحدیث یؤیده ما رواه الشیخان مرفوعاً فی اول هذا الباب : بئس ما لاحدهم ان یقول نسیت کذا و کذا الخ)۔

- 2201(15) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ : " لَمْ يَفْقَهْ مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ فِيْ أَقَلَّ مِنْ ثَلَاثٍ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه : او سیدنا عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل: هغه څوك په قرآن (په ښه شان) پوهه نشو چه د درے ورځو نه ئې په کم کی ولوستو۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، دارمیؒ)

تشریح : لَمْ يَفْقَهْ : یعني د قرآن کریم په ظاهری معانو باندے هغه څوك نۀ پوهیږی چه د درے ورځو نه په کم کی ئې ختم کړی ځکه چه دے به جلتی کوی په قرائت کی نو د تدبر نه به غافله وی۔

یا دا ښیری دی یعني الله تعالیٰ دے هغه انسان نه پوهه ورنکړی۔ سندیؒ وائی چه بناء په دواړو تقدیرونو د ظاهر د حدیث نه کراهت د ختم معلومیږی په کم د درے ورځو کی آه۔

د مرفوع احادیثو نه دا معلومیږی چه قرآن کریم د درے ورځو نه په کم کی ختمول نۀ دی پکار البته د بعض صحابه کرامؓ او تابعینوؒ د عمل نه ثابتیږی چه هغوی به په کم د

درے ورځو کی قرآن ختمولو لکه عثمان بن عفان ﷺ په یوه شپه کی ختم کړے وو او سعید بن جبیر رحمه الله قرآن کریم په یو رکعت کی د کعبے په خوا کی ختم کړے وو او دا قول د جواز د عثمان بن عفان، د تمیم الداری او عبد الله بن زبیر رضی الله عنهم او د سعید بن المسیبؒ او ثابت البنانیؒ او سعید بن جبیرؒ او عطاء بن السائبؒ وغیره نه نقل دے چه محمد بن نصرؒ په قیام اللیل کی ذکر کړیدی۔

او په حدیث د مسلم کی راغلی دی چه عائشه رضی الله عنها فرمائی:

(وَلَا اَعْلَمُ نَبِیَّ اللّٰهِ قَرَأَ الْقُرْآنَ کُلَّهٗ فِیْ لَیْلَةٍ) ۔ ما ته د الله تعالیٰ نبی نهٔ دے معلوم چه قرآن ئے په یوه شپه کی ختم کړے وی۔

او په حدیث د ابن مسعود ﷺ کی موقوفاً راغلی دی :

[اِقْرَؤُا الْقُرْآنَ فِیْ سَبْعٍ وَلَا تَقْرَؤُوْهُ فِیْ اَقَلَّ مِنْ ثَلَاثٍ]

(سعید بن منصور باسناد صحیح قاله الحافظ فی الفتح۹/۷۸)۔

قرآن کریم په اُوه ورځو کی ولولئ او د درے ورځو نه په کم کی ئے مۀ لولئ)

نو د بعض علماؤ په نیز باندے د درے ورځو نه په کم کی قرآن ختمول مکروه دی لکه دا مذهب د امام احمدؒ، اسحاق بن راهویهؒ او ابوعبیدؒ وغیره دے۔

او امام نوویؒ وائی : اکثر علماء وائی چه پدے باره کی څه اندازه مقرره نشته بلکه دا د نشاط او قوت په اعتبار سره مختلف دے پدے وجه دا د احوالو او د اشخاصو په اعتبار سره مختلف کیږی۔

نو پدے کی راجح قول د امام احمدؒ او اسحاقؒ دے او هرچه د دغه سلفو عمل دے نو دا د دوی نه کرامةً کیدے شی چه دوی ته الله تعالیٰ زمانه اُوږده کړی وی او په یوه شپه کی ئے ختم کړے وی لیکن امت به ددے تابعداری نهٔ کوی ځکه چه د رسول الله ﷺ عمل او قول ډیر لائق د تابعداریٔ دے او هغه په یوه شپه کی نهٔ دے ختم کړے البته که څوك دغه شان قرآن په ښائسته انداز کی په آرام شروع کړی او الله تعالیٰ ورته زمانه اُوږده کړی او قرآن ختم کړی نو دا څه منع نهٔ ده لکه دغه صحابه کرام او تابعینو ته دا کار شویدے دے ته طی الزمان وائی۔

لیکن نبی علیه السلام د درے ورځو نه په کم کی د ختمولو علت دا بیان کړو چه دا په قرآن کریم باندے کما حقه نهٔ پوهیږی۔ او قرآن کریم خو تدبر دپاره نازل شویدے۔

بله دا چه د قرآن کريم د الفاظو حق هم نهٔ ادا کيږي، بې وقاره لوستل کيږي۔

درجة الحديث: اسناده صحيح، احمد (٢/١٦٤، ١٦٥، ١٨٩، ١٩٤، ١٩٥) والدارمي في السنن (١/٣٥٠) وابوداود (١٣٩٤) والترمذي (٢٩٤٩) وقال حسن صحيح وابن ماجه (١٣٤٧)

- 2202(16) وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " اَلْجَاهِرُ بِالْقُرْآنِ كَالْجَاهِرِ بِالصَّدَقَةِ وَالْمُسِرُّ بِالْقُرْآنِ كَالْمُسِرِّ بِالصَّدَقَةِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ

ترجمه : او سيدنا عقبه بن عامر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل: ښکاره قرآن لوستونکے داسے دے لکه ښکاره صدقه ورکونکے او پټ قرآن لوستونکے داسے دے لکه پټه صدقه ورکونکے۔ (ترمذيؒ، ابوداودؒ، نسائيؒ) او امام ترمذيؒ وئيلي دي چه دا حديث حسن غريب دے۔

تشريح : ددے حديث نه دا خبره ظاهريږي چه قرآن کريم په پټه لوستل د جهر نه غوره دي ځکه چه پدے اتفاق دے چه په پټه صدقه ورکول د ښکاره نه غوره دي لکه دے ته امام نسائيؒ په خپل ترجمة الباب کي اشاره کړيده (باب فضل السر على الجهر) ليکن رسول الله ﷺ ابوبکر صديق ﷺ ته حکم وکړو چه (اِرْفَعْ صَوْتَكَ) خپل آواز په قرائت باندے اُوچت کړه نو د هغے نه معلوميږي چه اعتدال په قراءت کي افضل دے نو پدے حديث کي به جهر په مبالغه باندے حمل کړے شي او پټوالے په اعتدال باندے او يا به دا حديث په هغه وخت باندے حمل وي چه هلته د پټوالي وجه او تقاضا موجوده وي ورنه په اعتبار د اصل سره اعتدال افضل دے (سنديؒ)۔

دواړو طرفونو ته احاديث راغلي دي مخکي روايت د شيخينو ذکر شو چه الله تعالىٰ هغه نبي ته غوږ اږدي چه په قرآن باندے آواز پورته کوي۔

پدے وجه امام نوويؒ د دواړو حديثونو ترمينځ داسے تطبيق کوي چه پټوالے د رياء نه ډير بعيد وي نو دا افضل دے په حق د هغه چا کي چه د هغه نه د رياء خطره وي او که د رياء نه يره نهٔ وه نو بيا جهر افضل دے خو پدے شرط چه بل چا ته ئے ضرر نهٔ رسي، مونځ کونکي، اُوده وغيره ته، يعني په وخت د يره د رياء کي، يا په وخت د تکليف د

مونځ کونکو يا تکليف د اُوده کی پټوالے غوره دے او ددے نه په ماسوئ حالت کی جهر افضل دے ځکه چه پدے سره عمل غتيږی او ددے فائده بل ته رسيږی او پدے سره د لوستونکی زړهٔ راويښيږی او فکر ئے راجمع کيږی او خوب تښتوی او نشاط ئے زياتيږی او کله ئے د بل غافل يا اوده انسان رابيدارول مقصد وی نو پدے حالتونو کی جهر افضل دے- انتهىٰ- (النووی فی الاذكارص ١٠٨)

که چا ته په کوم کی نشاط او تازگی زياته وه هغه حالت غوره دے کله په جهر سره انسان ستړے کيږی نو په پټه دے لولی او که په پټه سره غفلت راځی نو جهر دے کوی- آؤ، جهر کی نور فوائد هم شته لکه الله تعالىٰ پکی توجه زياتيږی او د قرآن کريم حلاوت او خوند ورته حاصليږی-

درجة الحديث: اسناده صحيح، احمد (٤/١٥١، ١٥٨) وابوداود (١٣٣٣) والترمذی (٢٩١٩) وقال حسن غريب والنسائی (٥/٨٠) وصححه الالبانی فی صحيح الجامع (٣١٠٥)

- 2203(17) وَعَنْ صُهَيْبٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" مَا آمَنَ بِالْقُرْآنِ مَنِ اسْتَحَلَّ مَحَارِمَهُ". رَوَاهُ التِّرمِذِيُّ وَقَالَ :هٰذَا حَدِيْثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ

ترجمه : او سيدنا صهيب ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه چا په قرآن باندے ايمان رانهٔ وړو چا چه د قرآن حرام کرده څيزونه حلال وګڼړل- (دا روايت امام ترمذیؒ نقل کړے او وئيلی ئے دی چه ددے حديث سند قوی نهٔ دے)-

تشريح : محارم جمع د مَحْرم ده په معنىٰ د حرام سره- يعنی څوك چه د قرآن کريم حرام کړی څيزونه حلال ګڼړی دا په قرآن کريم باندے کافر کيږی ځکه چه هغه شے ئے حلال وګڼړلو چه د هغے په حراموالی باندے اتفاق دے او هغه د دين نه يقينی معلوم دے او د الله د قانون په مقابله کی ئے بل قانون جوړ کړو او دغه شان احاديث هم دی،

ليکن قرآن ئے خاص ذکر کړو د وجه د عظمت د قرآن نه ورنه که چا هغه شے حلال وګڼړلو چه هغه په دين کی ښکاره معلوم وو او په اتفاق سره د هغے تحريم معلوم وو نو دے هم کافر کيږی-

درجة الحديث: اسناده ضعيف، الترمذى (٢٩١٨) وقال هذا حديث ليس اسناده بالقوى وابو المبارك هذا شيخ مجهول ولم يدرك صهيبا وهو فى ضعيف الحامع الصغير (٤٩٧٥)

- 2204(18) وَعَنِ اللَّيْثِ بْنِ سَعْدٍ عَنِ ابْنِ أَبِيْ مُلَيْكَةَ عَنْ يَعْلٰى بْنِ مَمْلَكٍ أَنَّهُ سَأَلَ أُمَّ سَلَمَةَ عَنْ قِرَاءَةِ النَّبِيِّ ﷺ فَإِذَا هِيَ تَنْعَتُ قِرَاءَةً مُفَسَّرَةً حَرْفًا حَرْفًا . رَوَاهُ التِّرمِذِيُّ وَأَبُوْ دَاوٗدَ وَالنَّسَائِيُّ

ترجمه : او جناب لیث بن سعدؒ د ابن ابی ملیکۃؒ نه هغه د یعلیٰ بن مَملك نه روایت کوی چه هغه د ام المؤمنین ام سلمه رضی الله عنها نه د نبی کریم ﷺ د قرائت په باره کې تپوس وکړو نو هغې د نبی کریم ﷺ قراءت په واضح طور باندې یو یو حرف بیان کړوو۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ)

تشریح : لیث بن سعد بن عبد الرحمن الفهمی کنیه ئې ابو الحارث ده د مصریانو لوی فقیه دے، ثقه، ثبت فقیه امام مشهور (تقریب) د مصر په یو طرف کې ئې ولادت شوے په یوم الخمیس (١٤) شعبان سنه (٩٤) د ابن ابی ملیکۃؒ، عطاءؒ او زهریؒ وغیره تابعینو نه ئې روایات نقل کړی، دے بغداد ته په سنه (١٩١) کې راغے نو منصور بادشاه ورته د مصر ولایت پیش کړو نو هغهٔ انکار وکړو او استعفاء ئې طلب کړه، یحیی بن بُکیرؒ وائی : ما ډیر خلك ولیدل لیکن د لیثؒ په شان مې څوك ونهٔ لیدل۔

تَنْعَتُ : یعنی بیانولو ئې قراءت د نبی علیه السلام په قول سره یا په فعل سره چه نبی علیه السلام داسې قراءت کولو۔ چه هر حرف به ئې د بل نه جدا کولو یعنی ترتیل او تجوید سره به ئې واضح لوستلو او یو بل کې به ئې حروف نهٔ پټول۔

نو ام سلمےؓ یا خو د نبی کریم ﷺ د قراءت کیفیت په الفاظو کې بیان کړو یا دا چه هغې عملاً قرآن کریم داسې ولوستو لکه څنګه چه به نبی کریم ﷺ لوستلو۔

علماؤ د داسې قسم احادیثو نه دا خبره اخستې ده چه ښائسته او په آرام سره قراءت کول د ډیر قراءت کولو نه بهتر دی کله چه په جلتئ سره وی۔

درجة الحديث: الحديث صحيح، ابوداود (١٤٦٦) والترمذى (٢٩٢٣) وقال حسن صحيح غريب لا نعرفه الا من حديث ليث بن سعد عن ابن ابى مليكة عن يعلى بن مملك

عن ام سلمة والنسائی (۲/۱۸۱) وقال الحاکم (۱/۳۱۰) صحیح علی شرط مسلم واقره الذهبی والحدیث قطعة من حدیث طویل تقدم فی آخر باب صلاة اللیل) وضعفه الالبانی فان یعلی بن مملك کما قال الذهبی مجهول لم یحدث عنه سوی ابن ابی ملیکة ولذلك قال الحافظ : مقبول ای عند المتابعة)

- 2205 (19) وَعَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنِ ابْنِ أَبِيْ مُلَيْكَةَ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَقْطَعُ قِرَائَتَهُ يَقُوْلُ :اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ ثُمَّ يَقِفُ ثُمَّ يَقُوْلُ : اَلرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ثُمَّ يَقِفُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِمُتَّصِلٍ لِأَنَّ اللَّيْثَ رَوٰى هٰذَا الْحَدِيْثَ عَنِ ابْنِ أَبِيْ مُلَيْكَةَ عَنْ يَعْلٰى بْنِ مَمْلَكٍ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ وَحَدِيْثُ اللَّيْثِ أَصَحُّ

ترجمه : او جناب ابن جریجؒ د ابن ابی ملیکةؒ نه هغه د ام المؤمنین ام سلمه رضی الله عنها نه روایت کوی چه هغې وفرمایل: رسول الله ﷺ به خپل قراءت جدا جدا کولو داسې به ئې وئیل : الحمد لله رب العالمین۔ بیا به ودریدو بیا به ئې وویل : الرحمن الرحیم۔ بیا به ودریدو۔ (دا روایت امام ترمذیؒ راوړے او وئیلی ئې دی چه ددے سند متصل نهٔ دے ځکه لیث دا حدیث د ابن ابی ملیکه نه هغه د یعلیٰ بن مملك نه هغه د ام سلمه رضی الله عنها نه نقل کړیدے او حدیث د لیث (کوم چه مخکی ذکر شو) ډیر صحیح دے)۔

تشریح: **يَقْطَعُ قِرَاءَتَهُ** : یعنی د آیتونو په سرونو باندے به نبی علیه السلام وقف کولو او یو آیت به ئې د بل آیت سره په یوه ساه باندے نهٔ یوځای کولو۔

ددے وجه نه امام بیهقیؒ په شعب الایمان کی وئیلی دی چه ددے حدیث د وجه نه د آیتونو په سرونو باندے وقف کول افضل دی اګرکه دغه آیت د مابعد سره تعلق لری د وجه د اتباع د طریقے د نبی علیه السلام نه۔

او باقی وقوفِ لازمه په قرآن کریم کی کول ضروری نهٔ دی بلکه هغه علماؤ معانی ته کتلی دی او د هغے د وجه نه ئې وقف مقرر کړے د هغے تابعداری لازمه نهٔ ده۔

وَحَدِيْثُ اللَّيْثِ أَصَحُّ : یعنی لیث چه د ابن ابی ملیکه نه روایت کوی نو مینځ کی یعلی بن مملك ذکر کوی نو دا ډیر صحیح روایت دے د روایت د یحیی بن سعید

الاموی نه چه هغه د ابن جریج عن ابن ابی ملیکه عن ام سلمه رضی الله عنها نه نقل کوی او په مینځ کی یعلی بن مملك حذف کوی ځکه چه هغه منقطع روایت دے۔

مګر حافظ په تهذیب کی او نوویؒ په الخلاصه کی دا تصریح کړیده چه ابن ابی ملیکهؒ د اسماء او عائشے او ام سلمے نه روایت کړے نو بناء پدے سماع د ابن ابی ملیکه د ام سلمه نه بعیده نهٔ ده نو کیدے شی چه ابن ابی ملیکه د تقطیع والا حدیث د ام سلمه نه بغیر د واسطے نه ډارك آوریدلے وی او هغهٔ ئے ابن جریج ته بیان کړے وی لکه څنګه ئے چه آوریدلے دے،

او حدیث د وصف القراءة حرفاً حرفاً ئے د یعلی بن مملك رحمه الله په واسطه آوریدلے وی او هغهٔ ئے لیث بن سعدؒ ته بیان کړے وی څنګه ئے چه آوریدلے دے،

حاصل دا چه دا دوه حدیثونه دی چه جدا جدا مضمون لری اودواړه د ام سلمهؓ نه روایت شویدی، بنا پدے دواړه حدیثونه صحیح متصل ثابت دی۔ او تفصیل ئے په المرعاة (۲۸۹/۸) کی وګوره۔

درجة الحدیث: اسناده صحیح، احمد (۳۰۲/٦) وابوداود (٤٠٠١) والترمذی (۲۹۲۷) وقال هذا حدیث غریب واخرجه الدارقطنی (۳۱۳/۱) وقال اسناده صحیح ورجاله کلهم ثقات والحاکم (۲۳۲/۲) وقال صحیح علی شرط الشیخین واقره الذهبی وصححه الالبانی فی صحیح الجامع (٥٠٠٠) وراجع الارواء (۳٤۳)

الفصل الثالث

- 2206(20) عَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ: خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَنَحْنُ نَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَفِيْنَا الْأَعْرَابِيُّ وَالْعَجَمِيُّ قَالَ : " اِقْرَؤُوْا فَكُلٌّ حَسَنٌ وَسَيَجِيْءُ أَقْوَامٌ يُقِيْمُوْنَهُ كَمَا يُقَامُ الْقِدْحُ يَتَعَجَّلُوْنَهُ وَلَا يَتَأَجَّلُوْنَهُ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوْدَ وَالْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ

ترجمه : سیدنا جابر ﷺ فرمائی : مونږ ته رسول الله ﷺ راووتو او مونږ قرآن لوستلو او په مونږ کی بانډچی او عجمی کسان هم وو۔ وے فرمایل: لولئ ! په تاسو کی هر شخص ښه لولی۔ او زر دے چه داسے خلك به راشی چه قرآن به داسے برابروی لکه غشے چه برابرولے شی (مګر) په جلتئ سره به د هغے بدله په دنیا کی حاصلول غواړی،

د آخرت دپاره به ئے نۀ روستو کوی (یا د آخرت دپاره به څه نۀ پریدی)۔ (ابوداودؒ، بیهقیؒ)

تشریح : وَفِينَا : یعنی په مونږ قاریانو کی یا په مونږ موجوده صحابه کرامؓ کی باندې والا خلك هم وو او عجم هم وو یعنی فارسی، رومی او حبشی کوم چه عرب نۀ دی لکه سلمان، صهیب او بلال رضی الله عنهم شو۔

فَكُلٌّ حَسَنٌ : یعنی قراءت کوئ ستاسو د ټولو قراءت ښه دے او د ثواب او اجر امید پرے کیدے شی کله چه ستاسو نیت پرے د آخرت وی۔ او پدے مجلس کی موجود باندې چیان او د عجمو خلکو قراءت به یو شان نۀ وو مگر ددے باوجود نبی علیه السلام هغوی ته ووئیل چه ستاسو د ټولو قراءت ښه او د ثواب لائق دے ځکه چه تاسو د دنیا په مقابله کی آخرت ته ترجیح ورکړیده، که تاسو خپلے ژبے او خپل آوازونه ښائسته نکړل او خپلے ژبے مو پرے د غشی په شان برابرے نکړے نو بیا هم د ثواب په اعتبار او د الله په نیز ستاسو قراءت قبول دے۔ ځکه چه ستاسو نه روستو داسے خلك راتلونکی دی چه هغوی به قرآن داسے سیده کوی او نیغوی او برابروی لکه څنگه چه غشے سیده کولے شی، یعنی خپل آوازونه به په قرآنی کلماتو او الفاظو ډیر ښه مزیدار او ښائسته کوی او د مخارجو نه په ادائیگئ کی به ډیر د تکلف نه کار اخلی لیکن د هغوی دا ټول کوشش به د آخرت دپاره نۀ وی بلکه خپل شهرت، خپل عزت، فخر او مباهات او دنیا ته د خودلو او آورولو دپاره به داسے کار کوی۔

يُقِيْمُوْنَهٗ : اَیْ یُبَالِغُوْنَ عَمَلَ الْقِرَاءَةِ کَمَالَ الْمُبَالَغَةِ لِاَجْلِ الرِّیَاءِ اَیْ یَطْلُبُوْنَ ثَوَابَهٗ فِی الدُّنْیَا وَلَا یَطْلُبُوْنَهٗ فِی الْآخِرَةِ۔

یعنی د قراءت په عمل کی به ښه مبالغه او کمال کوی د ریاء دپاره۔ یعنی ددے ثواب به په دنیا کی طلب کوی او په آخرت کی به ئے نۀ طلب کوی۔

اَلْقِدْحُ : د قاف کسره ده   به غشی ته وئیلے شی چه په هغے سره ویشتل کیږی۔

يَتَعَجَّلُوْنَهٗ : یعنی د قرآن د لوستلو بدله او ثواب به په جلتئ سره په دنیا کی طلب کوی۔ یا مطلب دا چه په آیتونو به دنیا او مال او پیسے اخلی۔

وَلَا يَتَاَجَّلُوْنَهٗ : تأجل د اجل نه ماخوذ دےاَیْ لَا یُؤَخِّرُوْنَهٗ اِلٰی اَجَلٍ۔

یعنی خپلے نیتے ته به ئے نۀ روستو کوی۔ (جزریؒ)

یعنی د قراءت ثواب به آخرت ته نۀ روستو کوی بلکه دنیا به غوره کوی او پدے

باندې به خوراکونه کوی۔

او دا د نبی ﷺ رشتینی پیشنګوئی ده چه پدې زمانه کی اکثر قاریان پدې حالت باندې دی اعاذنا الله من سوء العاقبة۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، ابوداود (۸۳۰) والبيهقي في الشعب (۲٦٤٦) وهو في صحيح الجامع (۱۱٦۷) والصحيحة (۲۵۹) ــــــــــــــــــــ

- 2207(21) وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " اِقْرَؤُوا الْقُرْآنَ بِلُحُوْنِ الْعَرَبِ وَأَصْوَاتِهَا وَإِيَّاكُمْ وَلُحُوْنَ أَهْلِ الْعِشْقِ وَلُحُوْنَ أَهْلِ الْكِتَابَيْنِ وَسَيَجِيْءُ بَعْدِيْ قَوْمٌ يُرَجِّعُوْنَ بِالْقُرْآنِ تَرْجِيْعَ الْغِنَاءِ وَالنَّوْحِ لَا يُجَاوِزُ حَنَاجِرَهُمْ مَفْتُوْنَةٌ قُلُوْبُهُمْ وَقُلُوْبُ الَّذِيْنَ يُعْجِبُهُمْ شَأْنُهُمْ ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ. ــــــــــــــــــــ

ترجمه : او سیدنا حذیفه رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل: قرآن د عربو په طرز او د هغوی په آوازونو سره لولئ او ځانونه د عشق والو او د اهل کتابو د طرز نه وساتئ، او زردې چه زمانه روستو به داسې خلك راشي چه قرآن به داسې لولی لکه د ګانې او ژړا په شان، (د دوی حال به دا وی) چه قرآن به د دوی د مریو نه نۀ تیریږی (یعنی د دوی دا لوستل به نۀ قبلیږی)، د هغوی زړونه به په فتنه کی وی (یعنی ریاکار به وی) او د هغه کسانو زړونه هم چه د دوی حال ئې خوشحاله کوی۔ (یعنی څوك چه ددغه قاریانو په آواز آوریدو سره خوشحالي کوی د هغوی زړونه به هم فتنې والا وی یعنی ویونکی او آوریدونکی دواړه به فتنو زړونو والا وی)۔ (بیهقیؒ)

تشریح : بِلُحُوْنِ : جمع د لحن ده، خوش آوازئ او آواز بار بار راواپس کول او په قراءت یا په شعر یا په تهنګ تکور سره په آواز کی ښائسته والې پیدا کولو ته وائی۔

نو د عربو په خپل اصلی او طبعی آواز سره قرآن لوستلو سره قرآن ښائسته کیږی ځکه چه هغوی د موسیقی د قواعدو نه خبر نۀ وو او نۀ ئې د خپلو آوازونو او لهجې برابرولو کوشش کولو او د عاشقانو په شان آوازونو سره وئیل چه د موسیقئ په طرز وی او په تکلف باندې بناء وی او دغه شان اهل کتابو به تورات او انجیل په دغسې تکلفاتو سره لوستلو نو ددې نه ځان ساتل پکار دی۔

يُرَجِّعُوْنَ : یعنی آوازونه اړوی راړوی او په تکلف سره لکه د ژړا او تهنګ تکور په شان

آواز راوباسي۔
مَفْتُوْنَةٌ قُلُوْبُهُمْ : دا پيشن ګوئي هم رښتينې شويده، د مصر په عامو قاريانو كې خوش آوازي او تكليف زيات دے او ګيرې ئے خرئيلي وي، بې ديني پرے ډيره راښكاره وي۔ دا روايت ضعيف دے ليكن معنىٰ ئے د بل صحيح روايت نه معلومه ده چه
(بَادِرُوْا بِالْاَعْمَالِ سِتًّا ...... وَفِيْهِ : وَنَشْوًا يَتَّخِذُوْنَ الْقُرْآنَ مَزَامِيْرَ يُقَدِّمُوْنَ اَحَدَهُمْ لِيُغَنِّيَهُمْ وَاِنْ كَانَ اَقَلَّهُمْ فِقْهًا) (صحيح الجامع ٢٨١٢)
يعني داسے نوى هلكان به پيدا شي چه قرآن كريم نه به شپيلئ جوړوي دوى به يو تن ددے دپاره مخكې كوي چه دوى ته خوش آوازي وكړي اګركه هغه به د دوى نه په پوهه كې ډير كم وي)۔
درجة الحديث: اسناده منكر : الطبراني في الاوسط كما في مجمع الزوائد (١٦٩/٧) وابن عدى في الكامل (٥١١،٥١٠/٢) واسناده تالف فيه تدليس بقية وشيخه حصين بن مالك قال الجوزقاني في الاباطيل (٧٢٣) مجهول وقال الذهبي : ليس بمعتمد، وكذلك الراوي عن حذيفة وهو ابومحمد مجهول ايضا) (ضعيف الجامع الصغير (١٠٦٧) ولكن معناه صحيح من حديث صحيح الجامع الصغير (٢٨١٢)

- 2208(22) وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ ﷺ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ : "حَسِّنُوا الْقُرْآنَ بِأَصْوَاتِكُمْ فَإِنَّ الصَّوْتَ الْحَسَنَ يَزِيْدُ الْقُرْآنَ حُسْنًا ". رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه : او سيدنا براء بن عازب ﷺ فرمائي : ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمايل ئے : تاسو قرآن په خپلو آوازونو سره ښائسته كړئ ځكه چه ښائسته آواز د قرآن كريم حسن زياتوي۔ (دارمي)
تشريح : فَإِنَّ الصَّوْتَ : دے نه معلوميږي چه په قرآن كريم باندے جهر كول بهتر عمل دے خو كله چه د رياء نه او خلكو ته د ضرر وركولو نه محفوظ وي۔
درجة الحديث : اسناده صحيح، الدارمي (٣٣٧٣) وهو في صحيح الجامع (٣١٤٥) والصحيحة (٧٧١)

- 2209(23) وَعَنْ طَاوُوْسٍ مُرْسَلًا قَالَ : سُئِلَ النَّبِيُّ ﷺ : أَيُّ النَّاسِ أَحْسَنُ صَوْتًا

لِلْقُرْآنِ ؟ وَأَحْسَنُ قِرَاءَةً ؟ قَالَ : " مَنْ إِذَا سَمِعْتَهُ يَقْرَأُ أُرِيتَ أَنَّهُ يَخْشَى اللهَ ". قَالَ طَاوُوسُ : وَكَانَ طَلْقٌ كَذٰلِكَ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ

ترجمه : او د جناب طاووسؒ نه په طريقه د ارسال نقل دی فرمائي : د نبی کريم ﷺ نه تپوس وشو چه کوم يو د خلکو نه په قرآن باندے ښائسته آواز کونکے دے؟ او ښائسته لوستونکے دے؟ (يعني د ترتيل او د الفاظو د ادائيگئ په اعتبار) هغه وفرمايل : هغه څوك چه كله ته د هغه نه واورے چه هغه قراءت كوی ته دا گمان كوے چه دے د الله تعالىٰ نه يريږی. طاووسؒ وائی : او طلق بن حبيبؒ دغه شان وو. (چه د قرآن د لوستو په وخت كی به تا دا گمان كولو چه دۀ باندے د الله تعالىٰ يره غالبه ده). (دارمیؒ)

تشريح : يعني كه يو انسان قرآن لولی او د هغه په لوستلو سره ستاسو زړه باندے اثر كيږی يا دا چه د هغه په باره كی دا ښكاره كيږی چه دے د قرآن د لوستلو په وخت د الله تعالىٰ نه يريږی لكه د متقيانو او خشوع زړونو والا نه چه قرآن آورے نو دغه حالت به ښكاره كيږی،

او طلق بن حبيب العنزی البصری التابعی رحمه الله هم دغسے وو.

طاووسؒ وائی : طلق به د الله نه يريدو. طلق بن حبيب د اوساط التابعين نه دے، او د طاووسؒ ملگرے دے،

مالك بن انس رحمه الله فرمائی: ما ته رارسيدلی دی چه طلق بن حبيبؒ د عابدانو نه وو او دے او سعيد بن جبيرؒ او نور قاريان دوی لره حجاج بن يوسف وغوښتل او ټول ئے قتل كړل.

ابن حبانؒ په ثقاتو كی ذكر كړيدے او وئيلی دی چه دا مرجی عابد وو،

عجلیؒ وائی : مكی تابعی ثقه دے او خپله زمانه كی د ټولو نه لوی عابد وو.

درجة الحديث : اسناده صحيح لطرقه، الدارمی (٣٣٦٢) وهو فی الجامع الصغير وصححه الالبانی (١٩٤) وعزاه السيوطی الی البيهقی فی الشعب والخطيب عن ابن عباس والی الديلمی فی مسند الفردوس من رواية عائشة)

- 2210 (24)

وَعَنْ عَبِيدَةَ الْمُلَيْكِيِّ وَكَانَتْ لَهُ صُحْبَةٌ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : " يَا أَهْلَ الْقُرْآنِ لَا

تَتَوَسَّدُوا الْقُرْآنَ وَاتْلُوْهُ حَقَّ تِلَاوَتِهٖ مِنْ آنَاءِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَأَفْشُوْهُ وَتَغَنَّوْهُ وَتَدَبَّرُوْا مَا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ وَلَا تَعَجَّلُوْا ثَوَابَهٗ فَإِنَّ لَهٗ ثَوَابًا ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ.

ترجمه : او سیدنا عَبِیْدَه مُلیکی ﷺ چه ددهٔ دپاره (د نبی کریم ﷺ سره) صحبت ثابت دے فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل: اے قرآن والو ! قرآن ته تکیه مهٔ وهئ او دا ولولئ په لائق لوستو سره په وختونو د شپه او د ورځ کی او قرآن عام کړئ (ښکاره ئے کړئ) او پدے باندے خوش آوازی وکړئ او پدے کی چه څه دی په هغے کی سوچ وکړئ دے دپاره چه تاسو کامیاب شئ او ددے ثواب په جلتئ سره (په دنیا کی) مهٔ طلب کوئ ځکه چه ددے دپاره (په آخرت کی لوی) ثواب دے۔ (بیهقیؒ)

تشریح : لَا تَتَوَسَّدُوا الْقُرْآنَ : د قرآن کریم نه تکیه مهٔ جوړوئ۔

عرب وائی :تَوَسَّدَ فُلَانٌ ذِرَاعَهٗ ۔ یعنی فلانی سرې لیچے نه بالخت جوړ کړو دا په هغه وخت کی وائی چه کله په هغے باندے اُوده شی او هغه د بالخت په شان جوړ کړی :

۱– نو دا کنایه ده د تکاسل او د تلاوت نه د اُوده کیدو او غافله کیدو نه یعنی د قرآن کریم تلاوت مهٔ پریدئ چه اُوده ترے پاتے شئ او ددے د هدایت نه فائده وانخلئ۔

۲– دویمه معنیٰ دا ده چه قرآن کریم دپاسه تکیه مهٔ لګوئ نو پدے کی دا معنیٰ هم طرداً داخلیږی چه انسان قرآن په لاس کی نیولے وی او پروت وی دا یو نوع بی ادبی ده اګرکه دا کار هم حرام نهٔ دے ځکه چه د حدیث دغه معنیٰ نهٔ ده۔

حَقَّ تِلَاوَتِهٖ : یعنی په لائق لوستلو سره یا تابعداری ئے وکړئ په لائقه تابعداریٔ سره۔

وَتَغَنَّوْهُ : یعنی په ښائسته آواز سره ئے ولولئ۔

درجة الحدیث: اسناده ضعیف، فی سنده ابوبکر بن ابی مریم ضعیف، اخرجه فی الشعب (۲۰۰۷) والطبرانی وابونعیم وابن عساکر) ولبعض جمل الحدیث تائیدات وشواهد)

OOOO

(۲) - باب

دا باب هم د مشکاة په اکثرو نسخو کی بغیر د ترجمے نه لیکلے شویدے پدے باب کی هم د قرآن کریم متعلقات ذکر دی چه هغه اختلاف د قراء اتو دے او جمع د قرآن ده۔
اَیْ فِیْ تَوَابِعَ اُخْرٰی اَیْ بَابُ اِخْتِلَافِ الْقِرَاءَ اتِ وَجَمْعِ الْقُرْآنِ
قرآن کریم په مختلفو قراء تونو سره لوستل جائز دی پدے کی اختلاف دے چه اُوس دا اُوه قراء تونه باقی پاتی دی اُوس به هم پرے لوستل کیږی او که نهٔ دا مخکی وو او روستو بیا خبره په بعضو باندے بنده شوه؟ نو پدے کی اختلاف دے
(۱) اکثر علماء لکه سفیان بن عیینهؒ، ابن وهبؒ، طبریؒ او طحاویؒ وائی چه دا اُوه قراء تونه اُوس په یو کی راجمع دی او باقی قراء تونه پریښودلے شویدی وجه دا وائی چه ددے اُوه لغاتو رخصت ددے دپاره راغلے وو چه ډیرو خلکو ته تلاوت په یو لفظ باندے ګران وو ځکه چه د هغوی علم په کتابت، ضبط او مضبوط حفظ باندے نهٔ وو بیا دا منسوخ شو په زوال د عذر او آسانئ د کتابت او حفظ باندے (کذا فی المرقاة و الاتقان للسیوطی)
(۲) او علامه باجیؒ او ابوالحسن الاشعریؒ وائی چه دغه قراء تونه اُوس هم باقی دی او الله تعالیٰ چه کومه فراخی امت ته ورکړیده په قراء اتو کی نو د امت دپاره دا جائز نهٔ دی چه منع کړی هغه شے چه الله تعالیٰ د هغے اجازه ورکړی وی نو دا قراء تونه اُوس هم زمونږ په قراء ت کی باقی پاتی دی او دا په ټول قرآن کی په مختلفو ځایونو کی تقسیم دی،
او قاضی ابوبکرؒ وائی چه کوم قراء ت اهل التواتر نقل کړے وی په هغے سره لوستل جائز دی اګرکه یو حرف د بل حرف نه نشی جدا کولے یعنی په یو کی د نافعؒ حرف ووائی او په بل کی د کسائیؒ او دغه شان د حمزهؒ وغیره او پدے کی هیڅ حرج نشته۔
علامه خطابیؒ وائی: ډیره حقه خبره دا ده چه ووئیلے شی چه قرآن کریم داسے طریقے سره نازل دے چه قاری ته دا رخصت ورکړے شویدے چه په اُوه حرفونو سره ئے ولولی په کوم چه ورته آسان وی خو دا هله چه په هغے کی د دواړو حرفونو معنی متفقه وی یا

نـزدے وی او دا پـه هـغـه وخت کی چه اجماع د صحابه کرامو لا نهٔ وه شوے هرچه اُوس وخـت دے نـو قـارِی لـه جائز نهٔ دی چه د صحابه کرامٌو د اجماع نه خلاف قراء ت وکړی۔ (المرعاة۸/۳۰۳)

او دا اُوه قـراء تـه پـه قرآن کریم کی څه اختلاف او تضاد نهٔ پیدا کوی او نهٔ حلال بدلوی او نـهٔ حرام ځکه چه د چا په قراء ت کی (يَعْلَمُوْن) دے د چا په قراء ت کی (تَعْلَمُوْن) دے او د چاپـه قراء ت کی (مَالِكِ يَوْمِ الدين) دے او د چا (مَلِكِ يَوْمِ الدين) دے، غِشَاوَة او غَشْوَة وغیـره او د چا په قراء ت کی (ان الله عزيز حكيم) دے او د چا په قراء ت کی (غفور رحیم) دے، په بعض قراء تونو کی همزے وی، او په بعضو کی کټ شوی وی،

او شـریـعـت مـونږ تـه ددے اجازه راکړے ده او دا زمونږ د اسلام آسانی ده او پدے کی د امت د کمزوری لحاظ ساتلے شویدے چه ټول ئے په يو قراء ت نشی وئیلے نو الله تعالیٰ په مختلفو قراء تونو اجازه ورکړه۔

الفصل الأول

- 2211(1) وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ﷺ قَالَ: سَمِعْتُ هِشَامَ بْنَ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ يَقْرَأُ سُوْرَةَ الْفُرْقَانِ عَلٰى غَيْرِ مَا أَقْرَؤُهَا. وَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أَقْرَأَنِيهَا فَكِدْتُّ أَنْ أَعْجَلَ عَلَيْهِ ثُمَّ أَمْهَلْتُهُ حَتّٰى انْصَرَفَ ثُمَّ لَبَّبْتُهُ بِرِدَائِهِ فَجِئْتُ بِهِ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ. فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنِّي سَمِعْتُ هٰذَا يَقْرَأُ سُوْرَةَ الْفُرْقَانِ عَلٰى غَيْرِ مَا أَقْرَأْتَنِيهَا. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: أَرْسِلْهُ اِقْرَأْ "فَقَرَأَ الْقِرَاءَةَ الَّتِي سَمِعْتُهُ يَقْرَأُ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " هٰكَذَا أُنْزِلَتْ ". ثُمَّ قَالَ لِي: "اِقْرَأْ ". فَقَرَأْتُ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:" هٰكَذَا أُنْزِلَتْ إِنَّ الْقُرْآنَ أُنْزِلَ عَلٰى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَاللَّفْظُ لِمُسْلِمٍ

ترجمه : او سیـدنـا عـمر بن خطاب ﷺ فـرمـائـی : مـا د هشـام بن حکیم بن حزام نه واوریـدل چـه سـورۃ فرقان ئے د هغه قراء ت نه بغیر بل شان لوستو کوم چه ما لوستو او رسـول الله ﷺ مـا تـه هغه لوستلے وو نو زهٔ نزدے وم چه په هغه باندے جلتی وکړم۔ (او وے وهـم) بیـا مـا ورتـه انتظار وکړو تردے چه (د قراء ت نه) وګرځیدو بیا ما څادر د هغه په مرئ کی واچـولـو نـو مـا هغه رسول الله ﷺ ته راوستو ما وویـل یارسول الله! ما ددهٔ نه واوریـدل چـه سـورۃ فـرقان ئے لوستو په خلاف د هغه طریقه چه تا ما ته لوستلے وو۔ نو

رسول الله ﷺ وفرمایل : دا پریده، (بیا ئے هشام ته وویل) ته ووایه : نو هغه هغه شان قراء ت وکړو کوم چه ما د هغه نه آوریدلے وو نو رسول الله ﷺ وفرمایل: دغه شان نازل شویدے بیا ئے ما ته وویل : ته ووایه نو ما ولوستو۔ نو رسول الله ﷺ وفرمایل: دغه شان نازل شویدے۔ یقیناً قرآن کریم په اُوه حرفونو باندے نازل شویدے نو ولولئ هغه چه آسان وی ددے نه۔ (بخاریؒ ومسلمؒ) او الفاظ دی مسلمؒ دی۔

تشریح : عَلٰی سَبْعَةِ أَحْرُفٍ ددے تشریح په اول جلد کتاب العلم کی ذکر شویده چه ددے حدیث په معنیٰ کی تقریباً څلویښت اقوال منقول دی یوه معنیٰ دا وه چه ددے نه مراد د اُوه قبیلو لغات دی او بیا دا اوه لغات په ټول قرآن کی تقسیم دی او داسے نهٔ ده چه په هره کلمه کی اوه لغات دی۔

او دا قول ابوعبیدؒ، ثعلبؒ، ابوحاتم السجستانیؒ او ابن عطیهٔ غوره کړیدے او بیهقیؒ په شعب الایمان کی دے ته صحیح وئیلے دے۔ او ازهریؒ او ابن حبانؒ وائی چه دا غوره دے۔

ابوشامهٔ د بعض شیوخو نه نقل کړیدی چه قرآن کریم اول کی په لغت د قریشو نازل وو او هغوی ته چه کوم عرب په فصاحت کی نزدی وو بیا د نورو عربو دپاره دا مباح شوه چه هغوی ئے په خپلو خپلو لغاتو ولولی کوم چه په الفاظو او اعراب کی مختلف دی۔

حافظؒ فرمائی : کوم خلك چه دا وائی چه قرآن کریم په اوه حرفونو یعنی لغاتو نازل دے نو ددے معنیٰ دا ده چه قاری (لوستونکی) ته دا فراخی ورکړے شویده چه قرآن په اوه طریقو سره ولولی، یعنی په هر حرف چه غواړی لوستلے شی چه هغه بدل وی د خپل صاحب نه او دا ددے دپاره چه لوستل ئے په خلکو آسان شی څکه که په یو حرف باندے پابندی وشی نو بیا به امت ته مشقت شی۔

- 2212(2) وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ قَالَ : سَمِعْتُ رَجُلًا قَرَأَ وَسَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقْرَأُ خِلَافَهَا فَجِئْتُ بِهِ النَّبِيَّ ﷺ فَأَخْبَرْتُهُ فَعَرَفْتُ فِيْ وَجْهِهِ الْكَرَاهِيَةَ فَقَالَ : " كِلَاكُمَا مُحْسِنٌ فَلَا تَخْتَلِفُوْا فَإِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ إِخْتَلَفُوْا فَهَلَكُوْا " . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او ابن مسعود ﷺ فرمائی: ما د یو سړی نه واوریدل چه قراء ت ئے کولو او ما

د نبی کریم ﷺ نه آوریدلی وو چه د هغې په خلاف ئې قراء ت کولو نو ما هغه نبی کریم ﷺ ته راوستو ما ورته خبر ورکړو نو ما د نبی کریم ﷺ په مخ کې (ددې کار) بد ګڼړل وپیژندل نو وې فرمایل: تاسو دواړه صحیح او ښه لوستل کوئ. نو په خپل مینځ کې اختلاف مه کوئ ځکه چه هغه څوك چه ستاسو نه مخکې تیر شویدی هغوی اختلاف وکړو نو هلاك شو. (یعنی هغوی یو بل دروغژن وګڼړل نو هلاك شول) (بخاریؒ).

تشریح : سَمِعْتُ رَجُلًا : ددې سړی نه مراد یا ابی بن کعب ﷺ دې لکه په روایت د طبریؒ کې راغلې دې او دا اختلاف د قراء ت په سورة النحل کې وو لکه د یو روایت نه معلومیږی او د اکثرو روایاتو نه معلومیږی چه دا سورة الاحقاف کې وو او د صحیح ابن حبانؒ نه معلومیږی چه دا په سورة الرحمن کې وو. والله اعلم.

فَلَا تَخْتَلِفُوْا : دلته د اختلاف نه مراد د قرآن کریم د هغه وجوهو نه د یوې وجې نه انکار دې چه د هغې مطابق قرآن کریم نازل کړې شویدې لکه مخکې ذکر شو چه قرآن کریم کې څومره قراء تونه منقول او رائج دی هغه ټول صحیح او حق دی، د هغې نه د هیڅ قراء ت نه هم انکار کول نۀ دی پکار ځکه چه څوك د یو قراء ت نه انکار وکړی نو ګویا که هغه د قرآن کریم نه انکار وکړو.

یعنی اختلاف خو په هغه وخت کې جائز دې چه یو طرف ته سنت وی او بل طرفته بدعت وی او کله چه دواړو طرفته سنت وی نو هلته اختلاف نۀ دې پکار.

ددې نه معلومه شوه چه په یو جائز کار کې اختلاف کول سبب د هلاکت دې.

- 2213(3) وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ ﷺ قَالَ : كُنْتُ فِي الْمَسْجِدِ فَدَخَلَ رَجُلٌ يُصَلِّيْ فَقَرَأَ قِرَاءَةً أَنْكَرْتُهَا عَلَيْهِ ثُمَّ دَخَلَ آخَرُ فَقَرَأَ قِرَاءَةً سِوٰى قِرَاءَةِ صَاحِبِهِ فَلَمَّا قَضَيْنَا الصَّلَاةَ دَخَلْنَا جَمِيْعًا عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَقُلْتُ إِنَّ هٰذَا قَرَأَ قِرَاءَةً أَنْكَرْتُهَا عَلَيْهِ وَدَخَلَ آخَرُ فَقَرَأَ سِوٰى قِرَائَةِ صَاحِبِهِ فَأَمَرَهُمَا النَّبِيُّ ﷺ فَقَرَءَا فَحَسَّنَ شَأْنَهُمَا فَسَقَطَ فِيْ نَفْسِيْ مِنَ التَّكْذِيْبِ وَلَا إِذْ كُنْتُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَلَمَّا رَأٰى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مَا قَدْ غَشِيَنِيْ ضَرَبَ فِيْ صَدْرِيْ فَفِضْتُ عَرَقًا وَكَأَنَّمَا أَنْظُرُ إِلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ فَرَقًا فَقَالَ لِيْ: " يَا أُبَيُّ! أُرْسِلَ إِلَيَّ أَنِ

اقْرَأْ الْقُرْآنَ عَلٰى حَرْفٍ فَرَدَدْتُ إِلَيْهِ أَنْ هَوِّنْ عَلٰى أُمَّتِي فَرَدَّ إِلَيَّ الثَّانِيَةَ اِقْرَأْهُ عَلٰى حَرْفَيْنِ فَرَدَدْتُ إِلَيْهِ أَنْ هَوِّنْ عَلٰى أُمَّتِي فَرَدَّ إِلَيَّ الثَّالِثَةَ اِقْرَأْهُ عَلٰى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ وَلَكَ بِكُلِّ رَدَّةٍ رَدَدْتُكَهَا مَسْأَلَةٌ تَسْأَلُنِيهَا فَقُلْتُ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِأُمَّتِي اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِأُمَّتِي وَأَخَّرْتُ الثَّالِثَةَ لِيَوْمٍ يَرْغَبُ إِلَيَّ الْخَلْقُ كُلُّهُمْ حَتّٰى إِبْرَاهِيمُ ﷺ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: او سيدنا ابي بن كعب ﷺ فرمائي: زهٔ په مسجد كي وم نو يو سړے راننوتو مونځ ئے كولو نو هغه داسے قراءت وكړو چه ما د هغه نه ناشنا وګنړلو بيا بل شخص راننوتو نو هغه قراءت وكړو سوئ د قراءت د هغه د ملګري نه نو هركله چه مونږ تولو مونځ ختم كړو مونږ ټول په يو ځاى نبي كريم ﷺ خوا ته ورغلو نو ما وويل: دے شخص داسے قراءت وكړو چه ما ددهٔ نه ناشنا وګنړلو او بل يو تن راغلو نو هغه قراءت وكړو سوئ د قراءت د خپل ملګري نه نو هغه دواړو ته نبي كريم ﷺ حكم وكړو نو هغوى قراءت وكړو نو نبي كريم ﷺ ددواړو د كار تحسين وكړو نو زما په زړه كي تكذيب پريوتو چه داسے وسوسه او تكذيب زما په جاهليت زمانه كي هم نهٔ وو پيدا شوے (بلكه د هغے نه هم سخت) هركله چه رسول الله ﷺ هغه كيفيت وليدو چه ما باندے راغلو (يعني نبي عليه السلام ته معلومه شوه چه زما په زړه كي تردد او شبهه پيدا شويده) نو هغه خپل لاس مبارك زما په سينه ووهلو (دے دپاره چه د هغے په بركت سره وسوسه ختمه شي)

نو زهٔ د خولے نه وبهيدم او ګويا كه زهٔ ډيرے په وجه سره الله تعالىٰ ته ګورم. دے نه پس رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل: اے ابي! ما ته د جبريل ﷺ په ذريعه دا حكم راوليږلے شو چه قرآن كريم په يو حرف باندے وايه نو ما هغه ته (پيغام) وليږلو چه زما په امت باندے آساني راولہ (يعني په يو لغت او قراءت باندے د قرآن لوستل مشكل دى پدے وجه د ډيرو قراءتونو مطابق لوستو اجازه دے وركړے شي چه آساني شي) نو دويم ځل ما ته دا حكم راكړے شو چه په دوه قراءتونو باندے قرآن وايه! ما هغه ته بيا (پيغام) وليږلو چه زما امت ته نوره هم آساني وركړه نو هغه ما ته دريم ځل راوليږل چه قرآن په اوه حرفونو ولوله او (دا هم راته وويلے شو چه) ستا دپاره به (د جبريل) په هر ځل راليږلو

بانډے چه ما واپس کړیو سوال قبلوم چه تهٔ ما نه هغه سوال وکړے (یعنی څومره کرته چه مونږ تا ته حکم درکړو دومره کرته تهٔ زمونږ نه دعا وغواړه مونږ به هغه قبوله کړو) نو ما (دوه ځل) داسے وویل: اے الله! زما امت ته بخنه وکړه اے الله! زما امت ته بخنه وکړه او ما دریم سوال روستو کړو هغه ورځے ته چه ټول مخلوق به ما طرفته (یعنی زما د سفارش او شفاعت) خواهش کوی تردے چه ابراهیم علیه السلام به هم (زما د سفارش خواهش کوی)۔ (مسلمؒ)

تشریح: فَسَقَطَ فِیْ نَفْسِیْ: دیته وسوسه وائی کله شیطان داسے وسوسه اچوی چه دا څنګه چل دے چه د دواړو قراء تونه په حقه شی او نبی علیه السلام د دواړو تحسین وکړو ځکه زما دا ګمان وو چه د یو الله کلام به په یوه طریقه سره وی او دا به جائز نهٔ وی چه هر سړے خپل ځانله د خپلے خوښے مطابق قراءت وکړی۔

وَلَا إِذْ کُنْتُ فِی الْجَاهِلِیَّةِ: اَیْ وَلَا وَقَعَ التَّکْذِیْبُ وَالْوَسْوَسَةُ فِیْ نَفْسِیْ اِذْ کُنْتُ فِی الْجَاهِلِیَّةِ: یعنی دا وسوسه زما په نفس کی نهٔ وه واقع شوے په هغه زمانه کی هم چه زهٔ په جاهلیت کی وم نو دا ډیره مبالغه کوی یعنی د جاهلیت د زمانے نه هم زیات تکذیب او وسوسه زما راغله او دا ډیره بعیده خبره ده چه د یقین نه روستو داسے قسم وسوسه انسان ته راپیښه شی لیکن پدے وسوسه او تکذیب بانډے ئے جزم او یقین نهٔ وو پدے وجه دا زر زائله شوه کله چه نبی علیه السلام په سینه کی ګوزار ورکړو او خولے ترے اُوبهیدلے۔

ددے نه معلومه شوه چه تکذیب هغه څوك کوی چه د یو شی پوره علم ئے نهٔ وی حاصل کړے او د حدیثو منکر کیږی هغه څوك چه ددے په حقیقت نهٔ وی پوهه شوے ﴿بَلْ کَذَّبُوْا بِمَا لَمْ یُحِیْطُوْا بِعِلْمِهٖ﴾ (یونس:۳۹)۔

وَکَأَنَّمَا أَنْظُرُ: یعنی زما زړه دومره صفا شو ګویا که زهٔ الله تعالیٰ ته ګورم د وجه د یرے نه او د حیاء نه۔ او د وجه د قوة الیقین او د رسول الله ﷺ د لاس د برکت نه۔

علماء فرمائی: ابی بن کعب رضی الله عنه د غوره صحابه کرامو او د پوره یقین کونکو نه وو لیکن هغه بانډے دا قسم وسوسه او تردد پدے وجه راغلو چه دهٔ اختلاف وکړو او دا د شیطان وسوسه وه لیکن کله چه ورته د رسول الله ﷺ د ګوزار برکت ورسیدو نو دغه وسوسه ترے سمدست لاړه او د خولو سره ترے اُووتله نو بیرته یقین ته راواپس شو۔

اُرْسِلَ إِلَیَّ: صیغه د مجهول ده یعنی ما ته رالیږل شویدی یعنی الله تعالیٰ ما ته

جبریل ﷺ رالیږلے دے او دا اجازه ئے راکړیده چه قرآن په یو حرف باندے ولوله لیکن ما جبریل ﷺ الله تعالیٰ ته بار بار واپس کړو تردے چه په اُوه قراء تونو اجازه وشوه۔

وَلَكَ بِكُلِّ رِدَّةٍ : یعنی الله تعالیٰ ما ته دا انعام راکړو چه هرکله تا په خپل امت باندے رحم وکړو نو زۀ تا ته په هر ځل راواپس کولو د جبریل باندے یو سوال قبلوم نو ما د خپل امت دپاره دوه ځل بخنه وغوښته او دریمه دعا مے قیامت ته ساتلے ده چه هغه شفاعت کبریٰ دے چه ټول خلك به ما ته رغبت او مینه لری او زما شفاعت ته به محتاج وی تردے چه ابراهیم ﷺ به هم محتاج وی چه آخری نبی سفارش وکړی۔

دا دلیل دے چه ابراهیم ﷺ د نبی ﷺ نه روستو په ټولو انبیاؤ کی ډیر غوره دے۔

- 2214(4) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: " أَقْرَأَنِيْ جِبْرِيْلُ عَلٰى حَرْفٍ فَرَاجَعْتُهٗ فَلَمْ أَزَلْ أَسْتَزِيْدُهٗ وَيَزِيْدُنِيْ حَتّٰى انْتَهٰى إِلٰى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ". قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: بَلَغَنِيْ أَنَّ تِلْكَ السَّبْعَةَ الْأَحْرُفَ إِنَّمَا هِيَ فِي الْأَمْرِ الَّذِيْ يَكُوْنُ وَاحِدًا لَا يَخْتَلِفُ فِيْ حَلَالٍ وَلَا حَرَامٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : ما ته جبریل (ﷺ) (قرآن) په یو حرف باندے ولوستو نو ما هغه بار بار واپس کړو نو زۀ همیشه وم چه ما ترے طلب د زیادت کولو (د امت د آسانئ دپاره) او هغه به ما ته زیاتول تردے چه (د قرآن قراء ت) اوه حرفونو ته ورسیدو۔ ابن شهاب (زهریؒ) وائی : ما ته رارسیدلی دی چه دغه اوه حرفونه (طریقے) په هغه احکامو کی دی چه یو وی او په حلال او حرامو کی مختلف نۀ وی۔ (یعنی پدے اوه حرفونو او قراء تونو سره به په احکامو د حلال او حرامو کی اختلاف نۀ پیدا کیږی)۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : یعنی دا اُوه حروف په هغه څیز کی وی چه معنیٰ ئے نۀ بدلیږی او حلال او حرام کی تغییر نۀ راځی لکه (اُف) کی ډیر قراء تونه دی او په (لَقَدْ كَانَ لِسَبَاءٍ) کی او دغه شان د مالك یوم الدین او ملك یوم الدین او (غشاوة او غشوة) دواړو یوه معنیٰ ده۔ اګرکه لفظ به په خپل هیئت سره مختلف وی۔

او هرچه هغه اختلاف دے چه مثبت نه منفی جوړ کړی یا حلال نه حرام نو دا په قرآن

کریم کی جائز نهٔ دے او نهٔ شته۔

الفصل الثانی

- 2215 (5) عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رضي الله عنه قَالَ : لَقِيَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ جِبْرِيْلَ فَقَالَ :" يَا جِبْرِيْلُ إِنِّیْ بُعِثْتُ إِلٰى أُمَّةٍ أُمِّيِّيْنَ مِنْهُمُ الْعَجُوْزُ وَالشَّيْخُ الْكَبِيْرُ وَالْغُلَامُ وَالْجَارِيَةُ وَالرَّجُلُ الَّذِیْ لَمْ يَقْرَأْ كِتَابًا قَطُّ قَالَ: يَا مُحَمَّدُ إِنَّ الْقُرْآنَ أُنْزِلَ عَلٰى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَفِیْ رِوَايَةٍ لِأَحْمَدَ وَأَبِیْ دَاوٗدَ : قَالَ :" لَيْسَ مِنْهَا إِلَّا شَافٍ كَافٍ". وَفِیْ رِوَايَةٍ لِلنَّسَائِیِّ قَالَ: "إِنَّ جِبْرِيْلَ وَمِيْكَائِيْلَ أَتَيَانِیْ فَقَعَدَ جِبْرِيْلُ عَنْ يَمِيْنِیْ وَمِيْكَائِيْلُ عَنْ يَسَارِیْ فَقَالَ جِبْرِيْلُ: اِقْرَئِ الْقُرْآنَ عَلٰى حَرْفٍ قَالَ مِيْكَائِيْلُ: اِسْتَزِدْهُ حَتّٰى بَلَغَ سَبْعَةَ أَحْرُفٍ فَكُلُّ حَرْفٍ شَافٍ كَافٍ "

ترجمه : او سیدنا ابی بن کعب رضي الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ د جبریل علیه السلام سره ملاؤ شو نو وے ویل : اے جبریله ! زۀ یو داسے امت ته رالیږلے شوے یم چه اَن پړه (یعنی ناخوانده) دی، په دوی کی بوډئ، ډیر بوډا، هلکان او جینکئ دی او هغه سړے دے چه هیڅ کتاب ئے هیڅکله نهٔ دے لوستلے۔ نو جبریل علیه السلام وفرمایل: اے محمد ! یقیناً قرآن کریم په اوه حرفونو نازل شویدے۔ (ترمذیؒ) او په یو روایت د احمدؒ او ابوداوٗدؒ کی دی : وے فرمایل: نشته ددے نه یو حرف مگر شافی دے (یعنی د کفر او شرك او ظلم او جهالت بیماری ختموی) او کافی دے (یعنی د نبی کریم ﷺ د صدق او د دین اسلام د حفاظت او د منکرینو د رد دپاره کافی دے)، د نسائیؒ په روایت کی دی : نبی کریم ﷺ وفرمایل: یقیناً جبریل او میکائیل (علیهما السلام) ما ته راغلل، جبریل زما ښی اړخ ته او میکائیل زما گس اړخ ته کیناستل نو جبریل وویل : قرآن په یو حرف (قراءت) باندے ولوله۔ میکائیل (ما ته) وویل : د یو قراءت نه زیات ددۀ نه طلب کړه (یعنی د الله تعالیٰ نه وغواړه چه د نورو قراء تونو مطابق لوستلو اجازه هم ورکړی) تر دے چه اوه حرفونو (قرائتونو) ته ورسیدو، لهذا ددے نه هر یو شافی او کافی دے۔

تشریح : وَالرَّجُلُ الَّذِیْ لَمْ يَقْرَأْ : مشاهده پدے گواه ده چه ډیر کسان عربی النسل وی لیکن کله ئے چه څه مدرسه او سکول نهٔ وی وئیلے نو په فصیحه عربئ باندے نهٔ پوهیږی بلکه دا ورته مشکل وی، اوس اُوگوره ډیر عرب د جیم په ځای گاف

استعمالوي او په جیم باندې تلفظ نشي کولې۔

شَافٍ : یعنې د مومنانو دپاره په مقصد ثابتولو کې شفاء ورکونکې دې او کافي دې په حجت کې په کافرانو باندې او د دین اسلام په حفاظت کې یا د نبي کریم ﷺ په رشتینوالي کې کافي کتاب دې۔

درجة الحديث: اسناده صحيح : ابوداود الطيالسى (٥٤٣) والترمذى (٢٩٤٤) وقال حسن صحيح ورواية احمد (١٢٤/٥) وابوداود (١٤٧٧) ورواية النسائى (١٥٤/٢) وصححه الالبانى وشعيب الارناووط)

- 2216(6) وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّهٗ مَرَّ عَلٰى قَاصٍّ يَقْرَأُ ثُمَّ يَسْأَلُ. فَاسْتَرْجَعَ ثُمَّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ :" مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ فَلْيَسْأَلِ اللّٰهَ بِهٖ فَإِنَّهٗ سَيَجِيْءُ أَقْوَامٌ يَقْرَؤُوْنَ الْقُرْآنَ يَسْأَلُوْنَ بِهِ النَّاسَ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ .

ترجمه : او د سیدنا عمران بن حصین رضی الله عنهما نه روایت دې چه هغه په یو قصه ګو باندې ورتیر شو چه قراء ت ئې کولو بیا ئې (د خلکو نه) سوال کولو، نو هغه انا لله وانا الیه راجعون وویل : بیا ئې وفرمایل : ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلي چه فرمایل ئې : چا چه قرآن ولوستو نو په هغې سره دې د الله تعالیٰ نه سوال کوي ځکه چه زر دې چه څه خلك به راشي چه قرآن کریم به لولي او د هغې په ذریعه به د خلکو نه سوالونه کوي۔ (احمدؒ، ترمذیؒ)

تشریح : قَاصٍّ : په تشدید د صاد سره هغه چاته وائي چه قصې او خبرونه بیانوي او کله قُصاص واعظانو ته وائي۔ دلته د قرآن کریم واعظ مراد دې۔

فَاسْتَرْجَعَ : استرجاع، انا لله وانا الیه راجعون وئیلو ته وئیلې شي۔

سَیَجِیْءُ: یعنې دې سرې خو د قیامت علامات راښکاره کړل چه قرآن وائي او د خلکو نه پرې سوالونه کوي، قرآن کریم د دنیا ګټلو دپاره نهٔ دې راغلې۔

دا روایت دلیل دې چه د قرآن کریم په قراء ت او تلاوت باندې مال اخستل صحیح نهٔ دي۔

درجة الحديث: اسناده حسن : رواه احمد (٤٣٢/٤، ٤٣٣) والترمذى (٢٩١٧)

کلاهما عن خیثمة بن ابی خثیمة و هو لین الحدیث (تقریب) واورده ابن احبان فی الثقات وحسنه الالبانی فی صحیح الجامع الصغیر (٦٤٦٧) وفی الصحیحة (٢٥٧) وقال شعیب الارناووط: حسن لغیره)

الفصل الثالث

- 2217(7) عَنْ بُرَيْدَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : " مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ يَتَأَكَّلُ بِهِ النَّاسَ جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَوَجْهُهُ عَظْمٌ لَيْسَ عَلَيْهِ لَحْمٌ ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيْمَانِ

ترجمه : سیدنا بریده ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چه قرآن کریم ولوستو چه د هغې په ذریعه د خلکو نه خوراکونه کوی د قیامت په ورځ به راشی پداسې حال کی چه ددهٔ مخ به هډوکے وی چه غوښه به پرې نهٔ وی۔ (بیهقیؒ)

تشریح : یعنی دے انسان قیمتی شے د معمولی او کمتر شی دپاره ذریعه گرځولے وه پدے وجه الله تعالیٰ ورله عزتمند مخ ذلیله کوی۔ دا روایت ضعیف دے لیکن ددے په معنیٰ باندے نور احادیث شته۔

درجة الحدیث: اسناده ضعیف، البیهقی فی الشعب (٢٦٢٥) وضعفه الالبانی فی ضعیف الجامع (٥٧٦٣) وقال : موضوع وفی الضعیفة (١٣٥٦) وفی الباب احادیث وقد اخرج احمد وابویعلی والبزار عن عبدالرحمن بن شبل رفعه : اقرأوا القرآن ولا تغلوا فیه ولا تجفوا عنه ولا تأکلوا به الحدیث) قال الحافظ : اسناده قوی، وقال الهیثمی رجال احمد ثقات) واخرج ابوعبید فی فضائل القرآن عن ابی سعید وصححه الحاکم رفعه : تعلموا القرآن واسألوا الله به، قبل ان یتعلمه قوم یسألون به الدنیا فان القرآن یتعلمه ثلاثة نفر، رجل یباهی به ورجل یستأکل به ورجل یقرأه لله) وقال الالبانی اسناده جید) قال فی المرعاة (٣١٦/٧) وهذه الاحادیث شواهد لحدیث بریدة (هذا) وحدیث عمران بن حصین المتقدم فی الفصل الثانی)

- 2218 (8) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ :كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَا يَعْرِفُ فَصْلَ السُّوْرَةِ حَتّٰى يَنْزِلَ عَلَيْهِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او سیدنا ابن عباس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ به د سورتونو جدائی نهٔ پیژندله تردیے چه په هغه باندیے بسم الله الرحمن الرحیم نازل شو۔ (نو ددیے په ذریعه به ئے یو سورت د بل نه جدا کولو)۔ (ابوداودؒ)

تشریح : دا حدیث دلیل دیے چه بسم الله د هر سورت نه جزء نهٔ ده بلکه صرف د فصل او جدائی دپاره نازله شویده۔

او ثابته شوه چه رسول الله ﷺ په غیبو نهٔ پو هیدو۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح، ابوداود (٧٨٨) والحاکم والبیهقی والضیاء فی المختارة وهو فی صحیح الجامع (٤٨٦٤)

- 2219(9) وَعَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ : كُنَّا بِحِمْصَ فَقَرَأَ ابْنُ مَسْعُودٍ سُورَةَ يُوسُفَ فَقَالَ رَجُلٌ : مَا هٰكَذَا أُنْزِلَتْ. فَقَالَ عَبْدُ اللهِ : وَاللهِ لَقَرَأْتُهَا عَلٰى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَقَالَ : "أَحْسَنْتَ " فَبَيْنَا هُوَ يُكَلِّمُهُ إِذْ وَجَدَ مِنْهُ رِيحَ الْخَمْرِ فَقَالَ: أَتَشْرَبُ الْخَمْرَ وَتُكَذِّبُ بِالْكِتَابِ ؟ فَضَرَبَهُ الْحَدَّ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او جناب علقمه بن وقاصؒ وائی : مونږ په حِمْص کی وو نو ابن مسعود ﷺ سورۀ یوسف ولوستو نو یو سړی وویل : دا سورت دغه شان نهٔ دیے نازل شویے۔ نو عبد الله بن مسعود وفرمایل: قسم په الله خامخا ما دا سورت د رسول الله ﷺ په زمانه کی لوستلے دیے او هغه راته وویل چه تا ښه ولوستو۔ نو پدیے مابین کی دیے شخص د ابن مسعود سره خبریے اتریے کولے چه ناڅاپه ابن مسعودؓ ددهٔ نه د شرابو بوئی محسوس کړو نو ویے ویل :آیا تهٔ شراب څکیے او د کتاب الله تکذیب کویے ؟ نو هغهٔ ئے د حد په اندازه ووهلو۔ (یعنی په درو باندیے ئے ووهلو او حد ئے پریے جاری کړو)۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : حمص د یو ښار نوم دیے چه د سوریا په مینځ کی دیے او هلته کی د خالد بن الولید ﷺ قبر دیے۔

"أَحْسَنْتَ : یعنی رسول الله ﷺ ما ته وئیلی وو چه تا ښه کار کړیدیے۔

وَتُكَذِّبُ بِالْكِتَابِ : یعنی دِ الله د کتاب او د هغیے د صحیح قراء ت نه انکار کویے څکه چه د صحیح قراء ت نه انکار کول داسی دی لکه د کتاب الله نه انکار کول۔

فَضَرَبَهُ الْحَدَّ : امام نوویؒ وائی : دا محمول دیے پدیے چه ابن مسعود ﷺ ته د حدودو

قائمولو ولايت او مشرى حاصله وه ځكه چه د خليفه نائب وو عمومًا يا خصوصًا۔
(يا به ئے اسلامى حكومت ته راښكلے وى كما قال الحافظ)
او پدے هم محمول دے چه دغه سړى به د شرابو څكلو اقرار كړے وى بغير د عذر نه ورنه په نفس بد بوئى محسوس كولو سره حد نۀ واجبيږى۔
او دارنګه پدے باندے هم محمول دے چه تكذيب دا په سبب د انكار د بعض كتاب نه وو په جهالت سره ولے كه دۀ حقيقةً د كتاب الله تكذيب كړے وے نو خامخا به كافر كيدے ځكه چه دا خبره اتفاقى ده چه څوك د قرآن كريم د يو اتفاقى حرف نه انكار وكړى نو كافر كيږى، انتهى۔
مګر كه دۀ حقيقةً هم د كتاب الله نه انكار كړے وى نو پدے سره كافر نۀ دے ځكه چه كيدے شي چه دا په حالت د نشه كى وو او د ابن مسعودؓ په نيز د نشائى سړى مواخذه نۀ وى په هغه خبرو چه په حالت د نشه كى ئے وكړى۔ (حافظ)۔

- 2220(10) وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ ﷺ قَالَ: أُرْسِلَ إِلَى أَبُوْ بَكْرٍ ﷺ مَقْتَلَ أَهْلِ الْيَمَامَةِ. فَإِذَا عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ عِنْدَهُ.قَالَ أَبُوْ بَكْرٍ إِنَّ عُمَرَ أَتَانِىْ فَقَالَ إِنَّ الْقَتْلَ قَدِ اسْتَحَرَّ يَوْمَ الْيَمَامَةِ بِقُرَّاءِ الْقُرْآنِ وَإِنِّىْ أَخْشٰى إِنِ اسْتَحَرَّ الْقَتْلُ بِالْقُرَّاءِ بِالْمَوَاطِنِ فَيَذْهَبُ كَثِيْرٌ مِنَ الْقُرْآنِ وَإِنِّىْ أَرٰى أَنْ تَأْمُرَ بِجَمْعِ الْقُرْآنِ قُلْتُ لِعُمَرَ كَيْفَ تَفْعَلُ شَيْئًا لَمْ يَفْعَلْهُ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ ؟ فَقَالَ عُمَرُ هٰذَا وَاللهِ خَيْرٌ فَلَمْ يَزَلْ عُمَرُ يُرَاجِعُنِىْ فِيْهِ حَتّٰى شَرَحَ اللهُ صَدْرِىْ لِذٰلِكَ وَرَأَيْتُ الَّذِىْ رَأٰى عُمَرُ قَالَ زَيْدٌ قَالَ أَبُوْ بَكْرٍ إِنَّكَ رَجُلٌ شَابٌّ عَاقِلٌ لَا نَتَّهِمُكَ وَقَدْ كُنْتَ تَكْتُبُ الْوَحْىَ لِرَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَتَتَبَّعِ الْقُرْآنَ فَاجْمَعْهُ فَوَاللهِ لَوْ كَلَّفُوْنِىْ نَقْلَ جَبَلٍ مِنَ الْجِبَالِ مَا كَانَ أَثْقَلَ عَلَىَّ مِمَّا أَمَرَنِىْ بِهِ مِنْ جَمْعِ الْقُرْآنِ قَالَ : قُلْتُ كَيْفَ تَفْعَلُوْنَ شَيْئًا لَمْ يَفْعَلْهُ النَّبِىُّ ﷺ . قَالَ هُوَ وَاللهِ خَيْرٌ فَلَمْ أَزَلْ أُرَاجِعُهُ حَتّٰى شَرَحَ اللهُ صَدْرِىْ لِلَّذِىْ شَرَحَ اللهُ لَهُ صَدْرَ أَبِىْ بَكْرٍ وَعُمَرَ. فَقُمْتُ فَتَتَبَّعْتُ الْقُرْآنَ أَجْمَعُهُ مِنَ الْعُسُبِ وَاللِّخَافِ وَصُدُوْرِ الرِّجَالِ حَتّٰى وَجَدْتُ مِنْ سُوْرَةِ التَّوْبَةِ آيَتَيْنِ مَعَ أَبِىْ خُزَيْمَةَ الْأَنْصَارِىِّ لَمْ أَجِدْهُمَا مَعَ أَحَدٍ غَيْرِهِ (لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُوْلٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ)حَتّٰى خَاتِمَةِ بَرَاءَةَ .فَكَانَتِ

الصُّحُفُ عِنْدَ أَبِي بَكْرٍ حَتّٰى تَوَفَّاهُ اللهُ ثُمَّ عِنْدَ عُمَرَ حَيَاتَهُ ثُمَّ عِنْدَ حَفْصَةَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : او سیدنا زید بن ثابت ﷜ فرمائی : ما ته ابوبکر صدیق ﷜ جواب راولیږلو په کوم وخت چه اهل یمامه قتل شو. (زۀ چه هلته ورسیدم نو څه ګورم چه) هلته د ابوبکرؓ سره عمر فاروقؓ ناست دے، ابوبکرؓ (ما ته) ووئیل چه عمر ما ته راغلو او وے وئیل چه د قرآن د قاریانو د شهادت حادثه د یمامه په ورځ ګرمه شوه (یعنی د یمامه په جنګ کې ډیر قاریان شهیدان شول) نو زۀ یریږم چه که په داسے کثرت سره په ډیرو ځایونو (جنګونو) کې قاریان شهیدان کیږی نو د قرآن ډیره لویه حصه به لاړه شی او زما رایه دا ده چه تۀ حکم وکړے په راجمع کولو د قرآن باندے، (ابوبکر فرمائی: ما چه دا واوریدل) نو ما عمر فاروق ته ووئیل : چه ته هغه کار څنګه کوے چه هغه رسول الله ﷺ نۀ دے کړے نو عمرُ ووئیل : دا کار قسم په الله فائده مند دے. نو عمر ما سره پدے کار کې بار بار خبره اتره کوله تردے چه زما سینه الله تعالیٰ ددے دپاره کولاوه کړه او ما پدے کې هغه مصلحت ولیدو کوم چه عمر ﷜ لیدلے وو. زید ﷜ فرمائی :

(ما ته) ابوبکر صدیق ﷜ ووئیل : تۀ یو ځوان عقلمند سړے ئے، زمونږ په تا باندے هیڅ تهمت نشته څکه چه تا به د رسول الله ﷺ دپاره وحی لیکله نو تۀ قرآن تالاش کړه او هغه (په مصحف) کې راجمع کړه. (زیدؓ وائی) قسم په الله که دوی ما لره د یو غر بل غر ته په منتقل کولو مکلف کړے وے نو هغه به په ما باندے د هغه امر نه ګران او درووند نۀ وے د هغے امر نه چه دوی ما ته وکړو په راجمع کولو د قرآن باندے.

(زیدؓ وائی) ما ورته ووئیل : تاسو څنګه هغه کار کوئ چه رسول الله ﷺ نۀ دے کړے. ابوبکرؓ ووئیل : قسم په الله پدے کې خیر دے. نو همیشه وو ابوبکر چه ما سره به ئے خبرے اترے کولے تردے چه الله تعالیٰ زما سینه هغه کار ته کولاوه کړه چه د ابوبکر او عمر سینه ئے کولاوه کړے وه نو ما د قرآن تالاش کول شروع کړل پدے طریقه چه ما به هغه راجمع کولو د کجورو د پتونو (څانګو) نه او د سپینو کاڼو نه او د خلکو (یعنی د حافظانو) د سینو نه تردے چه ما د سورة توبه آخری آیت د ابوخزیمه انصاری ﷜ سره وموندو هغه نه علاوه د بل هیچا سره مے ونۀ موندو (هغه دا آیت دے :) لقد جاء کم رسول من انفسکم) تر آخر سر د سورة براءت پورے. هغه صحیفے بیا د ابوبکر صدیق

سره پرتے وے تردے چه هغه الله تعالیٰ وفات کړو بیا د عمر په ژوند کی د هغه سره وے بیا د (عمر د وفات نه روستو) د عمر فاروق لور (ام المؤمنین) حفصه رضی الله عنها سره وے۔ (بخاریؒ)

تشریح : مَقْتَلَ : یعنی په زمانه د قتل د اهل یمامه کی، او یمامه هغه مشهور ځای دے چه د حجاز په مشرق طرف کی دے (چه اُوس په ریاض ښار کی راګیر دے) او ددے لوی ښار حِجْر الیمامه وو، او د اهل یمامه نه مراد دلته هغه صحابه کرامؓ دی چه په جنګ یمامه کی د مسیلمة الکذاب سره شهیدان شوی وو ځکه چه مسلیمة الکذاب چه د یمامے مشر وو دهٔ د نبوت دعوه کړے وه، او د نبی ﷺ د مرګ نه روستو ئے خپل ځان مضبوط کړے وو ځکه چه ډیر عرب مرتد شو او ددهٔ سره یو ځای شو نو ابوبکر صدیق ﷺ دهٔ پسے د خالد بن الولید ﷺ په قیادت کی د صحابه کرامؓ یو لوی لښکر ولیږلو او ددهٔ سره ئے په خپله علاقه کی سخت جنګ وکړو،

آخر دا چه دے الله تعالیٰ مردار کړو او ددهٔ فوج ئے هم ختم کړو او د صحابه کرامو نه تقریباً اووه سوه یا زیات کسان علماء او قاریان شهیدان شو، صرف د انصارو نه اوویا (۷۰) قاریان شهیدان شو۔

فَقَالَ عُمَرُ : یعنی د عمر فاروقؓ په زړه کی الله تعالیٰ دا الهام اچولے وو چه قاریان شهیدان کیږی نو ددے په وجه به د قرآن ډیره حصه د هغوی په زړونو کی لاړه شی، د خلکو نه به هیر شی نو قرآن کریم راجمع کول پکار دی او دا بدعت نهٔ وو ځکه چه د رسول الله ﷺ په زمانه کی قرآن کریم ټول لیکلے شویدے لیکن په مختلفو ځیزونو باندے او ددے په جمع والی باندے نور شرعی دلائل هم شته لکه (اَوْ مُصْحَفًا وَرَّثَهُ) ئے وئیلی دی۔ نو کوم خلك چه دا د بدعتِ حسنه دپاره مثال ښائی نو دا صحیح نهٔ ده وجه دا ده چه نبی ﷺ ددے د جمع والی اشارات ورکړیدی۔

شَابٌّ : ځکه په دے وخت کی د زید بن ثابتؓ عمر د (۲۵) کالو نه کم وو۔

فَتَتَبَّعِ : دا د زید بن ثابت لوی فضیلت دے چه د رسول الله ﷺ په زمانه کی ئے وحی او قرآن لیکلے دے، او بیا د ابوبکر صدیق ﷺ په زمانه کی، او بیا د عثمان غنی ﷺ په زمانه کی۔

الْعُسُبِ : جمع د عسیب ده د کجورے د ونے پټونو او پوستکو ته وائی۔

وَاللِّخَافِ : جمع د لَخفَةٌ ده سپین سپین کانړو ته وائی۔
مَعَ أَبِیْ خُزَیْمَةَ الْأَنْصَارِیِّ : یعنی صرف ددهٔ سره لیکلے شوے وو او یاد خو ډیرو کسانو ته وو لیکن د نور چا سره لیکل نهٔ وو او ددے آیت لیکل صرف ددهٔ سره وو۔ ابو خزیمه بن اوس بن زید بن اصرم النجاری الانصاری په کنیه باندے مشهور دے او نوم ئے نهٔ دے معلوم، بدر او نورو معرکو ته حاضر شویدے او په زمانه د خلافت د عثمان رضی الله عنه کی وفات شویدے۔
د زید بن ثابت رضی الله عنه طریقه دا وه چه چا به ورته کوم آیت راوړو نو د هغه لیکل به ئے هم کتل او د هغه نه به ئے پرے ګواهی هم اخستله دے دپاره چه ډیر تثبت او یقین ته خبره ورسی۔
فائده : د خلفاء راشدینو عمل حجت دے چه د مرفوع حدیث خلاف نهٔ وی، دلته اول کی زیدؓ د هغوی خلاف وکړو لیکن سیدنا ابوبکرؓ ونهٔ ویل چه زهٔ د خلفاء راشدینو نه یم زما اُومنه بلکه دلائل ئے پیش کړل۔

- 2221(11) وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ: أَنَّ حُذَيْفَةَ بْنَ الْيَمَانِ قَدِمَ عَلٰى عُثْمَانَ وَكَانَ يُغَازِىْ أَهْلَ الشَّامِ فِىْ فَتْحِ إِرْمِيْنِيَّةَ وَأَذْرَبِيْجَانَ مَعَ أَهْلِ الْعِرَاقِ فَأَفْزَعَ حُذَيْفَةَ اخْتِلَافُهُمْ فِى الْقِرَاءَةِ فَقَالَ حُذَيْفَةُ لِعُثْمَانَ يَا أَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ أَدْرِكْ هٰذِهِ الْأُمَّةَ قَبْلَ أَنْ يَّخْتَلِفُوْا فِى الْكِتَابِ اِخْتِلَافَ الْيَهُوْدِ وَالنَّصَارٰى فَأَرْسَلَ عُثْمَانُ إِلٰى حَفْصَةَ أَنْ أَرْسِلِىْ إِلَيْنَا بِالصُّحُفِ نَنْسَخُهَا فِى الْمَصَاحِفِ ثُمَّ نَرُدُّهَا إِلَيْكِ فَأَرْسَلَتْ بِهَا حَفْصَةُ إِلٰى عُثْمَانَ فَأَمَرَ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ وَعَبْدَاللهِ بْنَ الزُّبَيْرِ وَسَعِيْدَ بْنَ الْعَاصِ وَعَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ فَنَسَخُوْهَا فِى الْمَصَاحِفِ وَقَالَ عُثْمَانُ لِلرَّهْطِ الْقُرَشِيِّيْنَ الثَّلَاثِ إِذَا اخْتَلَفْتُمْ فِىْ شَىْءٍ مِنَ الْقُرْآنِ فَاكْتُبُوْهُ بِلِسَانِ قُرَيْشٍ فَإِنَّمَا نَزَلَ بِلِسَانِهِمْ فَفَعَلُوْا حَتّٰى إِذَا نَسَخُوا الصُّحُفَ فِى الْمَصَاحِفِ رَدَّ عُثْمَانُ الصُّحُفَ إِلٰى حَفْصَةَ وَأَرْسَلَ إِلٰى كُلِّ أُفُقٍ بِمُصْحَفٍ مِمَّا نَسَخُوْا وَأَمَرَ بِمَا سِوَاهُ مِنَ الْقُرْآنِ فِىْ كُلِّ صَحِيْفَةٍ أَوْ مُصْحَفٍ أَنْ يُّحْرَقَ. قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَأَخْبَرَنِىْ خَارِجَةُ بْنُ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ سَمِعَ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ قَالَ فَقَدْتُّ آيَةً مِنَ الْأَحْزَابِ حِيْنَ نَسَخْنَا الْمُصْحَفَ قَدْ كُنْتُ أَسْمَعُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقْرَأُ بِهَا فَالْتَمَسْنَاهَا فَوَجَدْنَاهَا مَعَ

خَزِيمَةَ بْنِ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيِّ (مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللهَ عَلَيْهِ) فَأَلْحَقْنَاهَا فِي سُورَتِهَا فِي الْمُصْحَفِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ ______

ترجمه : او سيدنا انس بن مالك ﷺ فرمائي : حذيفه بن يمان رضى الله عنهما سيدنا عثمان بن عفان ﷺ ته تشريف راوړو په هغه وخت چه عثمان د شام او د عراق والا د ارمينيه او د آذربيجان د جنګونو او فتح كولو دپاره په تيارئ كي مصروف وو، نو حذيفه د قراءت په باره كى د خلكو اختلاف په پريشانئ او يره كى اچولے وو نو سيدنا حذيفه سيدنا عثمان ته ووېل : اے امير المؤمنين ! دا امت رالاندے كړه مخكى ددے نه چه دوى په خپل كتاب كى اختلاف وكړى لكه يهود او نصاراؤ چه (په خپلو كتابونو كى) اختلاف كړے وو نو عثمان بن عفان ﷺ د حفصه رضى الله عنها پسے جواب ولېږلو چه تهٔ مونږ ته هغه صحيفے (د قرآن ليكلى شوى پاڼړے كوم چه ابوبكر صديق راجمع كړے وے) راولېږه مونږ به دا په مصاحفو (قرآنونو) كى وليكو بيا به دغه صحيفے تا ته واپس كړو نو حفصے رضى الله عنها هغه صحيفے عثمان ﷺ ته ولېږلے نو هغه (د انصارو نه) زيد بن ثابت او (د قريشو نه) عبد الله بن الزبير ﷺ او سعيد بن العاص ﷺ او عبد الرحمن بن الحارث بن هشام ته حكم وكړو (چه دا نقل كړى) نو هغوى دغه صحيفے په مصاحفو كى وليكلے۔

او عثمان بن عفان ﷺ د قريشو درے وارو حضراتو ته ووېل : چه كله ستاسو او د زيد بن ثابت د قرآن نه په كوم لغت كى اختلاف شى نو هلته د قريشو په لغت ئے وليكئ ځكه چه قرآن د دوى په لغت نازل شويدے نو تهولو پدے عمل وكړو او كله ئے چه په مصاحفو كى دغه صحيفے وليكلے نو عثمان ﷺ دغه صحيفے ام المؤمنين حفصه رضى الله عنها ته واپس ولېږلے او د هغه مصاحفو نه چه دوى وليكل يو يو مصحف ئے (په اسلامى مملكت كى) هر طرف ته ولېږلو۔

او ددے سره ئے دا حكم جارى كړو چه ددے مصاحفو نه علاوه هره صحيفه يا مصحف دے وسيزلے شى په كوم كى چه قرآن ليكلے شويدے۔

ابن شهاب زهرىّ وائى : ما ته خارجه بن زيد بن ثابت خبر راكړيدے چه هغه د زيد بن ثابت نه آوريدلى دى چه فرمايل ئے : ما د سورة احزاب يو آيت ونهٔ موندو كله چه مونږ

مصحف لیکلو چه هغه آیت به ما د رسول الله ﷺ نه آوریدو چه لوستلو به ئے نو مونږ طلب کړو تردے چه مونږ هغه د خزیمه بن ثابت انصاری رضی الله عنه سره ومونده لو: (هغه آیت دا دے:) ﴿مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ رِجَالٌ صَدَقُوْا مَا عَاهَدُوا اللّٰهَ عَلَيْهِ﴾ نو مونږ دا آیت په مصحف کې د هغه سورت (یعنې سورة احزاب) سره پیوسته کړو. (بخاریؒ)

تشریح: سیدنا عثمان بن عفان رضی الله عنه په خپل دور خلافت کې ارمینیه او آذربیجان فتح کړی وو.

عثمان رضی الله عنه د شام والو نه حبیب بن مسلمه الفهریؒ ته حکم وکړو چه ارمینیه ته راشی او بیا ئے کوفے (عراق) والو ته ولیکل چه هلته سلمان بن ربیعه الباهلیؒ سره د خپل فوج نه راشی او د حبیب امداد وکړی نو دواړو په شریکه ارمینیه فتح کړه.

او د شام والو په فوج کې حذیفه بن الیمان رضی الله عنه هم موجود وو او دا په مدائن والو باندے مشر وو چه مدائن په دغه وخت کې د عراق تابع وو.

وَكَانَ يُغَازِيْ: ددے عبارت معنیٰ داسے ده:

(اَیْ كَانَ عُثْمَانُ يُجَهِّزُ اَهْلَ الشَّامِ وَاَهْلَ الْعِرَاقِ لِغَزْوِ اَرْمِيْنِيَّةَ وَاَذْرَبِيْجَانَ وَفَتْحِهِمَا).

یعنې عثمان رضی الله عنه تیارول شام او عراق والا دپاره د جنګ کولو د ارمینیه او اذربیجان والو سره او د هغے د فتح کولو دپاره.

لنډه معنیٰ ئے ده: جنګ ته ئے لیږل شام والا د عراق والو سره دپاره د فتح کولو د ارمینیه او آذربیجان. ځکه چه عثمان رضی الله عنه عراق والو فوجونو پسے جواب ولیږلو چه هغوی شام والا فوجونو سره یو ځائے شی او په شریکه باندے په ارمینیا او په آذربیجان باندے حمله وکړی او هغه فتح کړی.

لکه دا د عثمان رضی الله عنه طریقه وه چه هغهٔ دیرش زره فوجونه په عراق کښے ساتلی وو او دغه شان په شان کښے، کله چه به په عراق کښے سختنه شوه نو د شام کسان به ئے عراق ته ورلیږل او کله چه به په شام کښے سختنه شوه نو د عراق والا به شام ته رالیږل او کله به ئے د دواړو نه کسان په شریکه جهاد دپاره لیږل لکه په فتح د آذربیجان کښے ئے دا کار کړے وو. لکه زمونږ په کتاب ((سیرت)) کښے ئے تفصیل ذکر دے.

إِرْمِيْنِيَّةَ: دیر لوی ښار دے د روم او د خلاط ترمینځ واقع دے. دا د یورپ مشرقی طرف او د ایشیا مغربی طرف مینځ کښے واقع دے، مشرقی طرف ته ئے آذربیجان دے او شمال

ته ئے جورجیا ده، او مغرب طرفته ترکیا ده، او جنوب طرفته ئے ایران دے۔
بعض وائی: د روم د ښارونو طرف ته یو ښار دے چه ډیر ښائسته او مزیدارے هوا والا دے او اُوبه او ونے پکی زیاتی دی۔
او سلمان بن ربیعةؓ په سنه (۲۴) هجری کی د عثمان بن عفان ﷺ په خلافت کی فتح کړیدے۔
وَأَذْرِبِيْجَانَ: دا ارمینیه ته د مغرب د طرف نه نزدے دے، دا او ارمینیه دواړه په یو کال کی فتح شویدی او دواړه شام او عراق والو فتح کړیدی۔
ځینی وائی: دا د عراق د غرونو طرفته یو لوی ښار دے چه اوس ورته تبریز او د هغے کلی وائی۔ او ارمینیه ته د مغرب د طرفنه نزدے دے۔ (تحفة الاحوذی۷/۴۲۷)۔
دا هم د مشرقی یورپ او مغربی ایشیا ترمینځ واقع دے، چه مشرق طرفته ئے بحر قزوین او شمال طرفته ئے روس دے، او شمال مغربی طرفته ئے جورجیا ده، او ایران ئے جنوب ته دے۔
سیدنا حذیفه بن الیمان ﷺ په فتح د ارمینیه کی د خلکو اختلاف ولیدو چه هره ډله په هغه طریقه قراءت کوی کوم چه ورته نقل شوے وو نو د دوی په قراءت د قرآن کی اختلاف راغلو تردے چه بعضو به بعضو ته وئیل چه زهٔ کافر یم ستا په قراءت باندے نو حذیفه ﷺ چه دا حالت ولیدو نو ویریدو نو کله چه مدینے ته راغے نو خپل کورته د داخلیدو نه مخکی سیده سیدنا عثمان بن عفان ﷺ ته ورغلو (لکه دا په یو روایت کی راغلی دی) او دا قصه ئے ورته بیان کړه چه دا امت د اختلاف نه بچ کړه او د یو روایت الفاظ داسے دی: حذیفه ﷺ ووئیل:
ما د ارمینیه په غزا کی شام والا ولیدل چه د ابی بن کعب ﷺ په قراءت به ئے قراءت کولو نو داسے الفاظ به ئے وئیل چه هغه به عراق والو نهٔ وو آوریدلی او عراق والو به د عبد الله بن مسعود ﷺ قراءت کولو نو دوی به داسے الفاظ وئیل چه هغه به شام والو نهٔ وو آوریدلی نو پدے طریقه به ئے یو بل کافر گنړل، او په یو روایت کی دی چه چا به د عبد الله بن مسعود ﷺ قراءت کولو او چا به د ابو موسیٰ اشعری ﷺ قرائت کولو،
نو حذیفه ﷺ پدے کار خفه شو او خلکو ته ئے تقریر وکړو او دا ئے ووئیل چه دغه شان ستاسو نه مخکی خلکو اختلاف وکړو (نو هلاك شو)، قسم په الله زهٔ به امیر المؤمنین

ته ستاسو دا قصه كوم۔

او په يو بل روايت كې دي چه د دوه كسانو د سورة بقرې په آيت كې اختلاف شو يو وويل : (وَاَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ) بل وويل :

(وَاَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلْبَيْتِ) نو حذيفه رضي الله عنه غصه شو او سترګې ئې سرې شوې۔

او په يو روايت كې دي : كوفې والو وويل : قراء ت د ابن مسعود رضي الله عنه صحيح دې، او بصرې والو وويل : قراء ت د ابو موسىٰ اشعرى رضي الله عنه۔

نو حذيفه رضي الله عنه وويل : قسم په الله كه زۀ امير المؤمنين ته لاړم نو زۀ به ورته خامخا حكم كوم چه دا ټول قراء تونه يو قراء ت جوړ كړي۔ (تحفة الاحوذى)

نو د الله تعالىٰ لوى احسان وشو چه امت ئې په يو قراء ت راجمع كړو ورنه دا به هم د اختلاف لوى سبب وې، لكه څنګه چه څلور مذهبونه د اختلاف سبب جوړ شو، بيا څلور طريقې او بيا مذهبى ډلې او بيا تنظيمونه شو۔

نو عثمان رضي الله عنه څلور كسان مقرر كړل چه درې قريشيان وو او زيد بن ثابت په كې انصارى وو او دا ئې ورته وويل چه كله ستاسو په لغت كې اختلاف راشى نو د قريشو په لغت ئې وليكئ او دې كسانو څلور قرآنونه وليكل او باقى قرآنونه ئې ام المؤمنين حفصې رضى الله عنها ته واپس كړل د هغې سره وو،

بيا چه كله هغه وفات شوه نو مروان چه كله په مدينه باندې د سيدنا معاويه رضى الله عنه د طرف نه امير وو نو هغه حكم وكړو چه دغه قرآنونه وشوكوى او دا ئې وويل چه ما دا كار ځكه وكړو چه زۀ يريږم كه خلكو باندې زمانه اُوږده شى نو بيا به پدې قرآنونو كې څوك شك وكړى (ابن ابى داود)۔

او په يو روايت كې دي چه هغه وشوكول او وې سيزل او په يو بل روايت كې دي چه هغه ئې په اُوبو باندې وينځل۔

حافظ ابن حجرؒ وائى : دا درې واړه كارونه شويدى۔

او كوم څلور قرآنونه چه عثمان بن عفان رضي الله عنه تيار كړل نو د هغې نه ئې يو قرآن ځان سره پريښودو او باقى درې قرآنونه ئې اطرافو ته وليږل يو ئې بصرې، يو ئې كوفې ته او بل ئې شام ته وليږلو۔

او ابو حاتم السجستانىؒ وائى چه عثمان اُوه مصاحف وليكل يو مكې ته يو شام ته يو

یمن ته یو بحرین ته یو بصرے ته او یو کوفے ته او یو ئے په مدینه کی وساتلو۔

او چا سره چه د قرآن کریم کوم لیکل پراته وو د هغے په باره کی ئے حکم وکړو چه دا وسیزئ دے دپاره چه اختلاف پیدا نشی نو پدے وخت کی عبد الله بن مسعود ﷺ سره د قرآن کریم څه لیکل موجود وو نو هغه خلکو ته حکم وکړو چه خپل خپل قرآنونه پټ کړئ چا چه غلا وکړه نو د قیامت په ورځ به هغه څه راوړی چه څه ئے پټ کړی وی،

مقصد ئے دا وو چه مونږ سره د نبی علیه السلام په زمانه کی دا پراته وو هغه منع نۀ کوله او عثمان ﷺ ئے د سیزلو حکم کوی نو مونږه ئے نۀ سیزو،

او د عثمان ﷺ غرض خو دا وو چه روستو ترے جګړے پیدا نشی۔ لیکن الله تعالیٰ د عثمان ﷺ د غرض مطابق د هغه مصحف په امت کی وساتلو او باقی ختم شو۔

فائده : کله چه د قرآن جلد او پاڼے ضعیفے شی نو د هغے سیزل سنت طریقه ده څکه پدے طریقه کی احتیاط زیات دے د دفن کولو او وینځلو نه، پدے وجه عثمان بن عفان رضی الله عنه دا طریقه اختیار کړه،

او ملا علی القاریؒ وئیلی دی چه دا په اُوبو وینځل پکار دی او بیا د هغے اُوبۀ څکل پکار دی، لیکن علامه مبارکفوریؒ پرے رد کړیدے چه د سیزلو طریقه متعینه ده څکه چه په دغه کی احتیاط زیات دے،

او بله دا چه چهاپ شوی قرآنونو کی وینځل نشی کیدے، فتدبر۔ او سیزلو باندے دلیل شته او په وینځلو دلیل نشته۔

۲- فائده : امام بغویؒ په شرح السنه کی لیکی : پدے حدیث کی دا خبره صفا واضحه شوه چه صحابه کرامو د دواړو جلدونو ترمینځ منزل قرآن کریم راجمع کړے وو بغیر ددے نه چه دوی پکی زیادت یا نقصان وکړی او بغیر د تقدیم او تاخیر نه بلکه دوی په قرآنونو کی هغه څه ولیکل چه په کوم ترتیب په لوح محفوظ کی وو او جبریل علیه السلام نبی علیه السلام ته خودلے وو۔

ابو عبد الرحمن السلمی رحمه الله فرمائی : د ابوبکر صدیق ﷺ ، د عمر ﷺ ، زید بن ثابت ﷺ او مهاجرین او انصارو قراء ت یو شان وو او دا هغه قراء ت وو چه نبی علیه السلام په جبریل علیه السلام باندے دوه کرته لوستلے وو په هغه کال کی چه وفات شو او زید بن ثابت ﷺ دغه آخری دَور ته حاضر شوے وو پدے وجه دۀ به خلکو ته همدغه

شان قرآن لوستلو تر مرګه پورے پدے وجه ابوبکر صديق ﷺ په دۀ باندے اعتماد وکړو او عثمان ﷺ ورته د قرآنونو د ليکلو واك ورکړو-

علامه سخاويؒ د مصحف عثمانی د تياريدو په وخت کی د دغه صحابه کرامو خپل مينځ کی بعض اختلافات بيان کړيدی، لکه هغوی ليکلی دی چه يو ځل په لفظ د (تابوت) کی اختلاف پيدا شو- زيد بن ثابت ﷺ ووېل :

دا (التابوه) ليکو- ليکن نورو ووېل : (التابوت) ليکل پکار دی-

دے نه روستو هغوی سيدنا عثمان ﷺ ته رجوع وکړه نو هغه ورته وفرمايل: چه دا په (ت) سره (يعنی التابوت) وليکئ ځکه چه د قريشو لغت په همدے لفظ سره دے-

دغه شان دوی د (لَمۡ يَتَسَنَّ) په باره کی د عثمان ﷺ نه تپوس وکړو نو هغه ورته وفرمايل: دا په (ه) سره وليکئ يعنی (لَمۡ يَتَسَنَّهُ)- ينظر فتح البارى (۹/ ۲۰)

باقی د قرآن کريم د جمع والی او تدوين د تفصيلاتو دپاره زمونږ کتاب «اصول التفسير وعلوم القرآن» ته رجوع وکړئ- ______

- 2222(12) وَعَنِ ابۡنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قُلۡتُ لِعُثۡمَانَ بۡنِ عَفَّانَ مَا حَمَلَكُمۡ أَنۡ عَمَدۡتُمۡ إِلَى الۡأَنۡفَالِ وَهِيَ مِنَ الۡمَثَانِيۡ وَإِلٰى بَرَاءَة وَهِيَ مِنَ الۡمِئِيۡنَ فَقَرَنۡتُمۡ بَيۡنَهُمَا وَلَمۡ تَكۡتُبُوۡا بَيۡنَهُمَا سَطۡرَ بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ وَوَضَعۡتُمُوۡهَا فِي السَّبۡعِ الطُّوَلِ مَا حَمَلَكُمۡ عَلٰى ذٰلِكَ فَقَالَ عُثۡمَانُ كَانَ رَسُوۡلُ اللهِ ﷺ مِمَّا يَأۡتِيۡ عَلَيۡهِ الزَّمَانُ وَهُوَ تَنۡزِلُ عَلَيۡهِ السُّوَرُ ذَوَاتُ الۡعَدَدِ فَكَانَ إِذَا نَزَلَ عَلَيۡهِ شَيۡءٌ دَعَا بَعۡضَ مَنۡ كَانَ يَكۡتُبُ فَيَقُوۡلُ : " ضَعُوۡا هٰؤُلَاءِ الۡآيَاتِ فِي السُّوۡرَةِ الَّتِيۡ يُذۡكَرُ فِيۡهَا كَذَا وَكَذَا " فَإِذَا نَزَلَتۡ عَلَيۡهِ الۡآيَةُ فَيَقُوۡلُ : " ضَعُوۡا هٰذِهِ الۡآيَةَ فِي السُّوۡرَةِ الَّتِيۡ يُذۡكَرُ فِيۡهَا كَذَا وَكَذَا ". وَكَانَتِ الۡأَنۡفَالُ مِنۡ أَوَائِلِ مَا نَزَلَتۡ بِالۡمَدِيۡنَةِ وَكَانَتۡ بَرَائَةُ مِنۡ آخِرِ الۡقُرۡآنِ وَكَانَتۡ قِصَّتُهَا شَبِيۡهَةً بِقِصَّتِهَا فَظَنَنۡتُ أَنَّهَا مِنۡهَا فَقُبِضَ رَسُوۡلُ اللهِ ﷺ وَلَمۡ يُبَيِّنۡ لَنَا أَنَّهَا مِنۡهَا فَمِنۡ أَجۡلِ ذٰلِكَ قَرَنۡتُ بَيۡنَهُمَا وَلَمۡ أَكۡتُبۡ بَيۡنَهُمَا سَطۡرَ بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ وَوَضَعۡتُهَا فِي السَّبۡعِ الطُّوَلِ. رَوَاهُ أَحۡمَدُ وَالتِّرۡمِذِيُّ وَأَبُوۡدَاوُدَ. ______

ترجمه : او سيدنا ابن عباس ﷺ فرمائی: ما عثمان بن عفان (ﷺ) ته عرض وکړو:

تاسو باندے څه باعث وو چه تاسو سورة انفال ته چه د مثانی نه دے او سورت براء ة ته چه د مئین نه دے اراده وکړه نو تاسو ددے ترمینځ یو ځای والے وکړو او په مینځ د دواړو کی مو د بسم الله الرحمن الرحیم کرخه ونهٔ لیکله او تاسو دا په اُوه اوږدو سورتونو کی کیخودو پدے کار باندے کومے خبرے راپورته کړیٔ ؟

نو عثمان ﷺ وفرمایل : رسول الله ﷺ باندے به وخت تیریدو نو په هغه باندے به سورتونه د ډیرو آیتونو والا نازلیدل (یعنی د قرآن آیتونه به د ضرورت مطابق په تدریج سره نازلیدل) او د نبی ﷺ طریقه دا وه چه کله به په هغه باندے څه شے نازل شو نو بعض هغه کسان به ئے راوغوښتل چه هغوی به لیکل کول ورته به ئے وفرمایل : دا آیتونه په هغه سورت کی کیږدیٔ چه په هغے کی دا دا ذکر کیږی،

(یعنی د یو خاص موضوع مثلاً حج طلاق وغیره نوم به ئے اخستو او فرمایل به ئے چه په کوم سورت کی دا موضوع ذکر کیږی په هغے کی دا آیت هم شامل کړیٔ)

او سورتِ انفال د هغه سورتونو نه وو چه په مدینه کی اول کی نازل شوی وو او سورتِ براء ت د نزول په اعتبار سره د قرآن کریم د آخری سورتونو نه وو او د هغے قصه د سورت انفال د قصے سره مشابه وه نو رسول الله ﷺ وفات شو او مونږ ته ئے دا بیان ونکړو چه دا انفال د براء ت نه دے نو ددے وجه نه ما د دواړو ترمینځ یو ځائے والے راوستو او په مینځ د دواړو کی مے د بسم الله الرحمن الرحیم کرخه ونهٔ ولیکله او دا مو په اُوه اُوږدو سورتونو کی شامل کړل۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، ابوداودؒ)

تشریح : مِنَ الْمَثَانِيُ : مثانی د قرآن هغه سورتونو ته وائی چه د سلو آیتونو نه کم وی ځکه چه دوی قرآن کریم څلورو حصو ته ویشلے وو او د هرے حصے دپاره ئے بیل نوم مقرر کړے وو نو د قرآن اولے حصے ته به ئے (السبع الطول) وئیل یعنی اوه اوږده سورتونه بیا ذوات المئین وو یعنی چه سلو آیتونو ته رسیدلی وی بیا مثانی وو چه د سلو نه کم وی بیا مفصلات وو چه جدائی پکی زر زر راځی۔ یعنی لنډ لنډ سورتونه وی۔

او السبع الطول د بقرے نه اعراف پورے وو چه شپږ سورتونه دی او په اوم کی اختلاف دے څوک وائی فاتحه هم ددے نه شمار ده اګرکه الفاظ ئے کم دی لیکن معانی ئے زیاتی دی۔

او بعض وائی : مجموعه انفال او توبه د یو سورت په شان دی، پدے وجه د دواړو

ترمينځ بسم الله هم ونهٔ ليکلے شوه۔

مَـا حَمَلَكُمْ : د ابن عباس ﷺ د وينـا مـطـلـب دا دے چه سورة الانفال لنډ سورت دے د مثانيـو نـه دے يعنې آيتونه ئے سلو ته نهٔ دی رسيدلی ځکه دا (۷۷) آيتونه دی او تاسو دا په (السبع الطول) کې داخـل کـړل او سـورت براء ت اوږد سورت دے ځکه چه هغه (۱۳۰) آيتـونه دے نو مناسب ده چه دا د طُوَل نه وګرځي او تاسو د مينځو نه شمارلے دے بيا چـه تـاسو دا جدا جدا کړل نو پکار ده چه بسم الله مو په مينځ کې ليکلے وے نو ګويا که د ابن عباس ﷺ دوه سوالونه شو،

او عثمان ﷺ ورتـه جواب ورکړو چه حاصل ئے دا دے چه ددے دوه سورتونو په باره کې اشتباه واقـع شـوے وه ځـکـه چـه دے کې دا احتمال هم شته چه دواړه يو سورت شی نو پدے اعتبار سره ددے په سبع طول کې شمارل صحيح دی او بسم الله ليکلو ته ضرورت نشتـه او دا احتـمـال هـم شتـه چـه دواړه دوه سـورتـونه شی نو د دواړو ترمينځ جدائی په سپيـن ځای پريښودو سره صحيح ده ځکه چه اشتباه ده او يقين نشته پدے چه دواړه يو سورت دے۔

ددے حديث د وجه نه علماؤ اختلاف کړے چه ترتيب د سورتونو توقيفی دے او که اجتهادی ؟ اول پدے کې اتفاق دے چه ترتيب د آيتونو خو توقيفی دے لکه پدے باندے ډير نصوص دلالت کوی چه هغه سيوطیؒ په الاتقان (۱/۶۰۹، ۶۱) کې ذکر کړيدی۔

(۱) بعض علماؤ وئيلی دی چه ترتيب د سورتونو اجتهادی دے او دا روايت ئے دليل نيولے دے چه دا عثمان ﷺ په اجتهاد سره ايخی دی پدے وجه ابن عباس رضی الله عنهما پرے اعتراض هم وکړو چه تاسو انفال او توبه ولے يوځائے کړيدی ؟

(۲) حق او راجح دا ده چه د سورتونو ترتيب هم توقيفی دے لکه دا مذهب د بغویؒ، ابن الانباریؒ، کرمانیؒ وغيره دے چه دا اُوسنی کوم مصاحف دی پدے طريقه نبی ﷺ امت تـه خـودلے دے او هـغـه تـه جبريل عليه السلام د رب العالمين د طرفنه راوړيدے او هغه سره ئے ددے دَور کړيدے نو د ټولو سورتونو ترتيب توقيفی دے۔

او امام بيهقیؒ په المدخل کې وائی چه د ټولو سورتونو ترتيب توقيفی دے سویٰ د براء ت او انفال نه او دا خبره سيوطیؒ په اتقان کې پس د ډير تفصيل نه غوره کړيده۔

او شيخ الاسلام ابن تيميۀ په دقائق التفسير او فتاوی کې دے ته ترجيح ورکړيده چه د

بعض سورتونو ترتیب توقیفي دے او د بعضو اجتهادي دے او همدا خبره غوره ده۔

او هرچه دا روایت د ابن عباس ﷺ دے نو دا ضعیف دے او متن ئے منکر دے لکه درجة الحدیث کښې وګوره۔

درجة الحدیث: اسناده ضعیف، احمد (۱/۵۷) والترمذی (۳۰۸۶) وابوداود (۷۸۶) وقال شعیب الارناووط: اسناده ضعیف ومتنه منکر ونقل عن احمد شاکر بعد الکلام فی یزید بن هرمز قوله: فلا یقبل منه مثل هذا الحدیث ینفرد به وفیه تشکیك فی معرفة سور القرآن الثابتة بالتواتر القطعی قراء ة وسماعا وکتابة المصاحف وفیه تشکیك فی اثبات البسملة فی اوائل السور کأن عثمان کان یثبتها برأیه وینفیها برأیه وحاشاه من ذلك فلا علینا اذا قلنا انه حدیث لا اصل له تطبیقا للقواعد الصحیحة التی لا خلاف فیها بین ائمة الحدیث) وقال فی موضع آخر: فمثل هذا الرجل لا یصح ان تکون روایته التی انفرد بها مما یؤخذ به فی ترتیب القرآن المتواتر) یعنی هذا الحدیث مخالف للتواتر) راجع للتفصیل مرعاة المفاتیح (۷/۳۳۷) وتعلیق مسند احمد للارناووط) وضعفه الالبانی)

OOOOO

٦- كِتَابُ الدَّعَوَاتِ

د دعاګانو بیان

الدعوات: جمع د دَعْوَةٌ ده په زبر د دال سره رابللو او دعاء ته وائي، دلته د دعاء نه مراد سوال دے، په عرف کې ئے دا معنیٰ هم ده چه د اعلیٰ ذات نه د ادنیٰ شخص په طریقه د عاجزئ سره یو شے طلب کول.

او په اصطلاح د شریعت کې د الله تعالیٰ نه د حاجاتو طلب کولو ته وائي.

شریعت دعاء ته ډیر ترغیب ورکړیدے او په ظاهري اسبابو دومره کار نهٔ کیږي لکه څومره چه په دعاګانو سره کیږي او دعاء او عاجزي د عباداتو ډیره عزتمنه مرتبه او غوره عبادت دے الله تعالیٰ پرے بندګانو ته امر کړیدے او بیا ئے د قبول والي وعده ئے هم ورسره کړیده. دا وجه ده دا باب ډیر اُوږد دے.

د بعض صوفیاؤ نه نقل دي چه د الله تعالیٰ په تقدیر باندے راضي کیدل او دعا نهٔ کول افضل دي ځکه چه په دعا سره د تقدیر مخالفت راځي لیکن دا خبره غلطه ده ځکه چه په دعا باندے الله تعالیٰ حکم کړیدے،

او پدے کې الله تعالیٰ ته عاجزي او فقیري ښکاره کول دي او الله تعالیٰ پدے حالت باندے ډیر خوشحالیږي.

او بنده له پکار دي چه په زړه کې د الله تعالیٰ نه رضا وي او په ژبه سره د الله تعالیٰ نه دعا غواړي نو دواړه صفتونه به راجمع کړي.

بله دا چه دعا د تقدیر خلاف نهٔ ده ځکه چه تقدیر په اسبابو سره شویدے او دعاء ئے هم یو سبب دے.

د دعاء فائده : دعاء د مصيبتونو د دفع كولو دپاره ښائسته علاج دے او د الله تعالىٰ د رحمتونو د راښكلو دپاره ښائسته نسخه ده او الله تعالىٰ په تقدير كښې دا ليكلي وى كه دے انسان دعا وكړه نو مصيبت ورله ختموم نو په دعاء سره مصيبتونه ختميدل هم په تقدير سره دى۔ دارنګه په دعا كى د بنده زړه د الله تعالىٰ ته حاضر وى او دا مقصد د عبادت دے۔

بيا دعاګانى په دوه قسمه دى (١) يو هغه دى چه د موقع او محل سره متعلق دى نو په هغے كى رفع اليدين كول سنت نۀ دى او دغه دعا په بله موقعه كى كول به بدعت وى لكه مسجد ته د داخليدو په وخت دعا د روټئ په وخت كى وئيل وغيره۔

(٢) اوكومے دعاګانے چه مطلق دى نو په هغے كى رفع اليدين سنت دى او د هغے اوقات او الفاظ نۀ دى معلوم، هره دعاء لوستل جائز دى او بعض دعاګانو دپاره نبى عليه السلام الفاظ خودلى دى نو هغه وئيل بهتر دى۔ نو پدے باب كى اول ترغيبات د دعاء راوړى بيا احكام۔

الفصل الأول

- 2223 (1) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " لِكُلِّ نَبِيٍّ دَعْوَةٌ مُسْتَجَابَةٌ فَتَعَجَّلَ كُلُّ نَبِيٍّ دَعْوَتَهُ وَإِنِّيْ اخْتَبَأْتُ دَعْوَتِيْ شَفَاعَةً لِأُمَّتِيْ إِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ فَهِيَ نَائِلَةٌ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ مَنْ مَاتَ مِنْ أُمَّتِيْ لَايُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا " . رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَلِلْبُخَارِيِّ أَقْصَرُ مِنْهُ.

ترجمه : سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ وفرمايل: د هر نبى دپاره يوه دعاء وى چه هغه قبلولے شى نو هر نبى د خپلے دعا په باره كى جلتى كړيده ليكن ما خپله دعا د خپل امت د شفاعت په خاطر د قيامت ورځے دپاره محفوظ ساتلے ده نو زما دا دعا به كه الله وغواړى زما د امت نه هر هغه شخص ته رسيږى چه مړ شى په داسے حال كى چه د الله تعالىٰ سره ئے هيڅ شے نۀ وى شريك كړے۔ (مسلمؒ) او بخاريؒ دا روايت ددے نه كم نقل كړيدے۔

تشريح : دَعْوَةٌ : يعنى هر نبى ته الله تعالىٰ دا خصوصيت وركړے وى چه يوه دعا درله قبلوم كه د دنيا شے غواړى او كه د آخرت نو هر نبى خپله دعاء په دنيا كى كړيده

لکه نوح علیه السلام او ابراهیم علیه السلام کړیده چا خپل قوم ته ښیرې کړیدي او چا بادشاهي غوښتې ده لکه سلیمان علیه السلام شو او زمونږ د نبي دعاء به په قیامت کې راښکاره کیږي.

إِنْ شَاءَ اللَّهُ : د دعاء په باره کې درې قوله دي :

(۱) ځینې وائي چه دعاء موثر حقیقي دے خامخا به پکې اثر وي دا قول ضعیف دے بلکه دا مشیت ته سپارلے شویدے، د الله تعالیٰ خوښه ده که قبلوي ئے او که نهٔ.

(۲) بعض صوفیاء وائي چه دعاء ته ضرورت نشته ځکه دغه شے به الله تعالیٰ یا بنده له لیکلے وي یا نهٔ که لیکلے وي نو هسے ئے هم ورکوي دعاء ته ضرورت نشته او که نهٔ ئے وي لیکلے نو هم دعاء ته ضرورت نشته. دا هم ضعیفه خبره ده لکه مخکې بیان شوه.

(۳) اهل سنت والجماعة وائي چه دعاء یو سبب دے د اسبابو نه د کارونو دپوره کولو دپاره او تقدیر الله تعالیٰ معلق هم لیکلے دے تقدیر بالاسباب ئے لیکلے دے چه که چا دعا وکړه نو حاجت به ئے پوره کیږي او که ونهٔ کړي نو نهٔ به پوره کیږي. نو دعاء د تقدیر مخالفه نهٔ ده.

سوال : الله تعالیٰ خو د هر بنده سوال قبلوي ځکه چه الله تعالیٰ حکم کړیدے چه ما نه دعا غواړئ زهٔ به ئے قبلوم نو بیا ددے روایت څه معنیٰ ده [لِكُلِّ نَبِيٍّ دَعْوَةٌ مُسْتَجَابَةٌ] نو د نبي خصوصیت څنګه شو ؟ او الله تعالیٰ خو د یو نبي ډیرے دعاګانې قبلوي نو د یوے دعا تخصیص څنګه وشو؟

جواب : ﴿ أُدْعُونِيْ أَسْتَجِبْ لَكُمْ ﴾ مطلب دا نهٔ دے چه خامخا هره دعا قبلیږي او هغه حاجت به پرے ملاویږي بلکه قتادةؒ فرمائي : هغه دعا قبلیږي چه د تقدیر موافقه شي. او د [لِكُلِّ نَبِيٍّ دَعْوَةٌ مُسْتَجَابَةٌ] مطلب دا نهٔ دے چه د انبیاؤ صرف یوه دعا قبلیږي بلکه د رسول الله ﷺ ډیرے ښیرے او دعاګانے قبولې شویدي بلکه ددے مطلب دا دے چه د هر نبي دپاره د الله تعالیٰ په نیز اُوچته درجه او عزتمنه مرتبه وي چه الله تعالیٰ هغه ته دا خبره مقرر کړي وي او خصوصیت ئے ورکړے وي چه په حاجتونو کې یو شے وغواړي او ارمان ورله پوره کړي نو دے هغه شے وغواړي اګر که د هغه به پدے هم علم وي چه که بل ضرورت وغواړي هغه به هم ورله الله پوره کوي،

او هر چه دا خبره ده چه الله تعالیٰ حکم کړے چه ما نه دعا وغواړئ نو ددے مطلب دا دے چه د الله تعالیٰ نه امید وساتئ چه هغه حاجت قبلوي دے دپاره چه بندګان د خوف

او د رجاء ترمينځ عقيده اختيار كړي. (شرح ابن بطالؒ بتغير يسير)

بيا كه مصلحت پكې وي نو هغه حاجت ورله پوره كړي او كه نۀ وي نو د هغې اجر او ثواب وركړي.

- 2224(2) وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : " اَللّٰهُمَّ إِنِّي اتَّخَذْتُ عِنْدَكَ عَهْدًا لَنْ تُخْلِفَنِيهِ فَإِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ فَأَيُّ الْمُؤْمِنِينَ آذَيْتُهُ شَتَمْتُهُ، لَعَنْتُهُ، جَلَدْتُهُ فَاجْعَلْهَا لَهُ صَلَاةً وَزَكَاةً وَقُرْبَةً تُقَرِّبُهُ بِهَا إِلَيْكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سيدنا ابو هريره رضي الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل : اے الله ! ما تا ته يو درخواست پيش كړيدے چه تۀ به هغه ضرور قبلوے او ما به نۀ نا اميده كوے (يعني زۀ دا اميد لرم چه زما درخواست به ضرور قبليږي او هغه درخواست دا دے) چه زۀ يو انسان يم لهذا كوم مؤمن ته چه ما تكليف رسولے وي، پدے طريقه چه ما هغه ته بده خبره كړي وي، ما په هغه باندے لعنت وئيلے وي، ما هغه وهلے وي نو دا ټول څيزونه ته ددے مؤمن په حق كې د رحمت سبب او د ګناهونو د پاكئ ذريعه او د خپل قرب سبب جوړ كړه چه تۀ ددے څيزونو په سبب هغه د قيامت په ورځ خپل ځان ته نزدے كړے. (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : ددے حديث د بيانولو سبب په حديث د عائشةؓ كې په مسلم كې ذكر دے.

عائشه رضي الله عنها فرمائي : رسول الله ﷺ ته دوه كسان رانوتل نو دواړو د نبي عليه السلام سره څه داسے خبرے وكړے چه زۀ پوهه نشوم چه څه ئے وويل نو دواړو نبي عليه السلام غصه كړو نو نبي عليه السلام دواړو ته ښيرے وكړے او لعنت ئے پرے وويلو نو هركله چه دواړه ووتل نو ما ورته دا خبره ذكر كړه نو نبي عليه السلام وفرمايل: آيا ستا علم نشته په هغه خبره چه ما د خپل رب سره شرط كړخولے ده ما ويلي وو :

اے الله ! زۀ انسان يم نو ما چه په كوم مسلمان باندے لعنت وويلو يا مے ورته ښيرے وكړے نو هغه ورله پاكي او اجر وګرځوه.

مګر په روايت د انس رضي الله عنه كې په مسلم كې دا الفاظ هم ورسره راغلي دي چه دغه شخص د دغه ښيرو او لعنت اهل نۀ وي نو دا ورله پاكي وګرځوه. (يعني په ظاهره كې

به ما ته مجرم ښکاري نو زهٔ به ښیرے وکړم او په مینځ کی به د هغے اهل نهٔ وی)

نو ددے نه معلومه شوه چه نبی ﷺ چا ته په غیر د قصد او ارادے نه ښیرے وکړی لکه بعض صحابه کرامو ته به ئے ویل (وَيْلُ اُمِّهِ، وَيْلَكَ، وَيْحَكَ، تَرِبَتْ يَمِيْنُكِ، عَقْرىٰ حَلْقىٰ، لَا اَشْبَعَ اللهُ بَطْنَكَ) لکه څنګه چه عام عرب داسے الفاظ استعمالوی۔

نو ددے مطلب دا نهٔ دے چه نبی علیه السلام هر ځای کی یو مجرم ته ښیرے کړی وی نو بس هغه به ورله په دعا سره بدلیږی لکه نبی ﷺ کفارو او منافقانو ته ښیرے کړیدی او دغه شان په مُصَوِّر (تصویر جوړونکی)، او عَشَّار (ټیکس اخستونکی) او مبتدع باندے ئے لعنت وئیلے دے، نو دا خو د هغه دپاره دعا او بخنه نهٔ ګرځی،

دغه شان په محلل) حلاله کونکی باندے ئے لعنت وئیلے دے نو ډیر بدعتیان وائی حلاله جائز ده او دغه لعنت په دعاء سره بدلوی د وجه ددے حدیث نه نو دا خبره غلطه ده ځکه چه حلاله کونکے لوی مجرم دے او زناکار دے لکه څنګه چه د عمر فاروق ﷺ نه دا خبره نقل ده۔

اتَّخِذْتُ: یعنی ما تا سره دا لوظ نیولے دے او درخواست مے پیش کړیدے۔

لَنْ تُخْلِفَنِيْهِ: تهٔ به ما سره د هغے هیڅکله مخالفت نهٔ کوے۔ یا ما به د هغے نه نهٔ روستو کوے۔ یعنی ضرور به ئے قبلوے۔

- 2225(3) وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" إِذَا دَعَا أَحَدُكُمْ فَلَا يَقُلْ: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ إِنْ شِئْتَ، اِرْحَمْنِيْ إِنْ شِئْتَ، اُرْزُقْنِيْ إِنْ شِئْتَ، وَلْيَعْزِمْ مَسْأَلَتَهُ إِنَّه يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ وَلَا مُكْرِهَ لَهٗ ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه: او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چه یو تن ستاسو دعا کوی نو داسے دے نهٔ وائی: اے الله! ما ته بخنه وکړه که ستا خوښه شی، په ما باندے رحم وکړه که ستا خوښه شی، ما ته رزق راکړه که ستا خوښه شی، بلکه خپل سوال دے مضبوط کړی (یعنی په عزم او یقین او اعتماد سره دے سوال کوی) ځکه چه الله تعالیٰ څه وغواړی د هغے په کولو قادر دے او په هغه باندے هیڅوك زور کونکے نشته۔ (بخاریؒ)

تشریح: وَلَا مُكْرِهَ لَهٗ: یعنی الله باندے څوك زور کونکے نشته نو د الله تعالیٰ نه په

كلك عزم او يقين سره دعاء كول پكار دي نو دا حديث دليل دے چه دعاء كى به الحاح (مبالغه) كوى او اِنْ شِئْتَ به پكى نهٔ وائى۔
او د (لا مكره له) مطلب دا دے چه تعليق ته خو هغه څوك محتاج وى چه هغه ته په وركړه سره تكليف ملاويږى نو تعليق ورته وكړى دے دپاره چه په هغه باندے تخفيف راولى او الله تعالىٰ هيڅ شى ته حاجت نهٔ لرى او نهٔ وركړه هغه ته ګرانه ده۔
(فتح البارى ١١/١٤٠)
وَلْيَعْزِمْ : او د عزم معنىٰ دا ده چه په الله تعالىٰ باندے به په دعا قبليدو كى ښائسته ګمان لرى او د يقين الفاظ دے استعمال كړى چه اے الله ! ما ته خامخا بخنه وكړه، ضرور دا حاجت قبول كړه۔ او په سوال كى دے كوشش وكړى او د خپل مطلب په حاصليدو كى دے په الله يقين وكړى۔

- 2226 (4) وَعَنْهُ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ:" إِذَا دَعَا أَحَدُكُمْ فَلا يَقُلْ : اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ إِنْ شِئْتَ وَلٰكِنْ لِيَعْزِمْ وَلْيُعَظِّمِ الرَّغْبَةَ فَإِنَّ اللهَ لَا يَتَعَاظَمُهُ شَيْءٌ أَعْطَاهُ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چه يو تن ستاسو دعا غواړى نو داسے دے نهٔ وائى : اے الله ! ما ته بخنه وكړه كه ستا خوښه شى ليكن مضبوط عزم او پوره رغبت (او مينه) سره دے سوال كوى ځكه چه الله تعالىٰ كوم شے وركوى په هغهٔ باندے هغه نهٔ لوئى كيږى (هغه پرے نهٔ ګرانيږى) (مسلمؒ)
تشريح : پدے حديث كى د دعاء بل ادب ذكر دے چه الله تعالىٰ سره مينه او رغبت زيات كړى كه بنده د الله تعالىٰ نه ټوله دنيا وغواړى نو هم الله تعالىٰ ته ګرانه نهٔ ده۔
لِيَعْزِمْ : يعني عزم او پخته اراده سره سوال كوى۔ او مخكى ئے تشريح ذكر شوه۔
وَلْيُعَظِّمِ الرَّغْبَةَ : مينه دے الله تعالىٰ سره زياته كړى۔
١- د رغبت د لوى كولو يو مطلب دا دے چه په سوال كولو كى دے تكرار وكړى او بار بار دے د الله تعالىٰ نه وغواړى او په هغے كى دے مبالغه وكړى۔
٢- يا دا چه لوى او زيات شے دے د الله تعالىٰ نه وغواړى ځكه چه الله تعالىٰ باندے هيڅ شے نهٔ ګرانيږى۔

فَإِنَّ اللهَ لَا يَتَعَاظَمُهُ شَيْءٌ : يعني الله تعالىٰ باندے نۀ لوی کيږی نۀ مشکل کيږی۔
أَعْطَاهُ : جمله صفت د شيء ده۔ يعني کوم شے چه ورکوی نو هغه پرے نۀ گرانيږی۔

- 2227 (5) وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" يُسْتَجَابُ لِلْعَبْدِ مَا لَمْ يَدْعُ بِإِثْمٍ أَوْ قَطِيْعَةِ رَحِمٍ مَا لَمْ يَسْتَعْجِلْ". قِيْلَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ! مَا الِاسْتِعْجَالُ ؟ قَالَ : " يَقُوْلُ :قَدْ دَعَوْتُ وَقَدْ دَعَوْتُ فَلَمْ أَرَ يُسْتَجَابُ لِيْ فَيَسْتَحْسِرُ عِنْدَ ذٰلِكَ وَيَدَعُ الدُّعَاءَ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل : د بنده دپاره دعا قبليږی ترڅو پورے چه هغه د گناه يا د رشتے د پريکولو دعا ونکړی او ترڅو پورے چه جلتی ونکړی۔ عرض وکړے شو اے د الله رسوله ! جلتئ څنگه ده ؟ وے فرمايل: دعا والا وائی : ما بار بار دعا وکړه نو ما ونۀ ليدل چه زما دعا قبوله شی نو ددے سره هغه ستړے شی او دعا پريدی۔ (مسلم)

تشريح : پدے کی د دعاء بل ادب ذکر دے چه د گناه دعاء به نۀ کوی، د خپلولئ د کټ کولو چه فلانے قتل کړه او هلاك ئے کړه او دارنگه جلتی به نۀ کوی چه زما دعا څنگه نۀ قبليږی نو دعا پريدی، نۀ بلکه دعاء کی به هميشوالے کوی او بار بار به ئے کوی، دعا ضرور قبليږی ليکن د قبلولو درے طريقے دی چه زوستو حديثونو کی راځی۔

فَيَسْتَحْسِرُ : حَسِرَ او اِسْتَحْسَرَ په هغه وخت کی استعماليږی چه کله بنده د يو کار نه ستړے او عاجز شی او هغه شے پريدی۔ او دلته ئے همدا معنیٰ مراد ده۔

- 2228(6) وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" دَعْوَةُ الْمُسْلِمِ لِأَخِيْهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ مُسْتَجَابَةٌ عِنْدَ رَأْسِهِ مَلَكٌ مُوَكَّلٌ كُلَّمَا دَعَا لِأَخِيْهِ بِخَيْرٍ قَالَ الْمَلَكُ الْمُوَكَّلُ بِهِ : آمِيْنَ وَلَكَ بِمِثْلٍ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سيدنا ابوالدرداء ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمايل: د مسلمان دعا د خپل ورور دپاره په غائبوالی د هغه کی قبلولے شی۔ ددۀ د سر خوا ته مقرر ملائك وی هرکله چه دے د خپل ورور دپاره د يو خير (نيکئ) دعا کوی نو په دۀ باندے مقرر ملائك

وائي : اې الله ! دا دعا قبوله کړه او (دۀ ته وائي) او ستا دپاره دې هم ددې په شان وي (يعنې الله تعالىٰ تا ته هم ددې په شان درکړي) (مسلمؒ)

تشريح : دې حديث نه معلومېږي چه كه تۀ غواړې چه ستا دعا قبوله شي نو بل ته دعا كوه ملائك به ئې تا ته كوي او ستا دعا به د هغه په حق كې يا قبلېږي يا نۀ اګركه غالب ګمان د قبلېدو دې او د ملائك دعا ستا په حق كې قبلېږي. او غائبانه دعا كې اخلاص زيات وي او د رياء نه جدا وي.

- 2229 (7) وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" لَا تَدْعُوْا عَلٰى أَنْفُسِكُمْ وَلَا تَدْعُوْا عَلٰى أَوْلَادِكُمْ لَا تُوَافِقُوْا مِنَ اللهِ سَاعَةً يُسْأَلُ فِيْهَا عَطَاءٌ فَيَسْتَجِيْبُ لَكُمْ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَذُكِرَ حَدِيْثُ ابْنِ عَبَّاسٍ :" اِتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُوْمِ ". فِيْ كِتَابِ الزَّكَاةِ.

ترجمه : او سيدنا جابر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل: ځان دپاره بد دعا (ښيرې) مۀ كوئ او د خپل اولاد دپاره هم بد دعا مۀ كوئ، دې دپاره چه تاسو ته د الله تعالىٰ د طرف نه هغه ساعت حاصل نشي چه په هغې كې الله هر سوال پوره كوي نو ستاسو بد دعا به قبوله كړي. (مسلم) او ذكر شويدې حديث د ابن عباس ﷺ (وېرېږه د ښيرو د مظلوم نه) په كتاب الزكاة كې.

تشريح : لَا تُوَافِقُوْا : ددې يوه معنىٰ دا هم ده چه تاسو برابر نۀ شي د الله د طرف نه د هغه ساعت سره چه په هغې كې د الله تعالىٰ نه د يو څيز غوښتنه كيدې شي نو هغه به ئې تاسو له قبول كړي.

يُسْأَلُ فِيْهَا عَطَاءٌ : عطاء مفعول ثاني دې او د (يسأل) دپاره مفعول اول ضمير د (هو) دې چه راجع دې الله تعالىٰ ته هغه نائب فاعل دې.

مطلب دا دې چه تاسو ښيرې مۀ كوئ دغه څيزونو ته ځكه چه دا يره ده چه ستاسو ښيرې او بد دعائي به د قبوليت د وخت سره برابرې شي نو الله تعالىٰ به په هغې كې ستاسو بد دعائي او ښيرې هم قبولې كړي بيا به په خپلو ښيرو باندې پښيمانه شئ خو پښيمانتيا به فائده نۀ دركوي نو صرف د خير دعا ګانې كوئ.

خلكو يا بچو ته ښيرې كول ګناه ده مګر كه يو انسان باندې ظلم وشي نو هغه دپاره

بنيرے كول جائز دى لكه قرآن كريم كى هم دغه راغلى دى ﴿ لَايُحِبُّ اللّٰهُ الْجَهْرَ بِالسُّوْءِ اِلَّا مَنْ ظُلِمَ﴾۔ (النساء:١٤٨) الله نهٔ خوښوى په زوره وينا كول د بدئ مگر هغه څوك چه په هغهٔ باندے ظلم وكړے شو۔

الفصل الثانی

- 2230(8) عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: " اَلدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ " ثُمَّ قَرَأَ: (وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْ أَسْتَجِبْ لَكُمْ). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْ دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : سيدنا نعمان بن بشير رضی الله عنه فرمائى : رسول الله ﷺ وفرمايل : دعاء بعينه عبادت دے، بيا ئے دا آيت ولوستو : (وقال ربكم) ترجمه : او ستاسو رب وئيلى دى چه ما نه دعا غواړئ زهٔ به ئے تاسو له قبلوم۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، ابوداوؒد، نسائیؒ، ابن ماجهؒ)۔

تشريح : هر كله چه دعاء بعينهٖ عبادت دے او مبنیٰ د عباداتو په توقيف ده نو ددے ځايونه او مقامات به د الله او د رسول نه زدهٔ كولے شى، بعض خلكو د ځان نه شركى او بدعى دعاگانے جوړے كړيدى، او د هرے ورځے ئے جدا جدا مقرر كړى دى، دا صحيح طريقه نهٔ ده۔

دعاء ته ئے عبادت ځكه وْئيلو چه عبادت كى اظهار د تذلل او افتقار الى الله وى او عاجزى وى او دا په دعاء كى زيات وى۔

درجة الحديث: اسناده صحيح، احمد (٤/٢٧٦) وابوداود (١٤٧٩) والترمذی (٢٩٦٩) (٣٢٤٧) و (٣٣٧٢) وقال حديث حسن صحيح وابن ماجه (٣٨٢٧) وصححه ابن حبان (٢٣٩٦) وصححه الحاكم (١/٤٩٠،٤٩١) ووافقه الذهبی)

- 2231(9) وَعَنْ أَنَسٍ رضی الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: " اَلدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او سيدنا انس رضی الله عنه فرمائى : رسول الله ﷺ وفرمايل: دعا د عبادت مغز (نلے) دے۔

تشريح : دا روايت ضعيف دے ليكن معنیٰ ئے د مخكى حديث نه ثابته ده۔

مُخٌّ : نلے او مغز او خلاصه د هر شى ته وائى، يعنى دعاء د عبادت خلاصه او مغز او

نچوړ دے څکه چه دعا کونکے الله تعالیٰ په هغه وخت کی رابلی چه د هغه امیدونه د نور مخلوق نه ختم شی او همدا حقیقت د توحید او اخلاص دے۔ او پدے کی دے ته هم اشاره ده چه اندامونه په نلی سره قوی کیږی نو دغه شان عبادات په دعاء سره قوی کیږی۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف، الترمذی (۳۳۷۱) وقال هذا حديث غريب من هذا الوجه لا نعرفه الا من حديث ابن لهيعة وفيه مقال مشهور) والصحيح اللفظ الذی فی الحديث الذی قبله)

- 2232(10) وَعَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " لَيْسَ شَيْءٌ أَكْرَمَ عَلَى اللهِ مِنَ الدُّعَاءِ" رَوَاهُ التِّرمِذِىُّ وَابْنُ مَاجه وَقَالَ التِّرمِذِىُّ هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: نشته یو شے چه هغه ډیر عزتمند وی په الله تعالیٰ باندے د دعاء نه (یعنی دعا په ټولو څیزونو کی الله تعالیٰ ته ډیر عزتمن شے دے) (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ) او امام ترمذیؒ ویلی دی چه دا حدیث حسن غریب دے۔

تشریح : د الله تعالیٰ په نیز دعاء ډیر شرافت او قدر لری څکه پدے کی توجه ډیره وی په نسبت د نورو عباداتو۔ په مانځه، روژه وغیره کی دومره توجه نهٔ وی څومره چه په دعاء کی وی او پدے کی بنده د الله مخے ته د خپل افتقار او عاجزئ اظهار کوی او دغه الله تعالیٰ ته خوښ عمل دے۔

درجة الحديث: اسناده حسن : احمد (۲/۳٦۲) والترمذی (۳۳۷۰) وقال هذا حديث حسن غريب لا نعرفه الا من رواية عمران القطان آه، وعمران القطان ضعفه النسائی ومشاه احمد، قلت وهو صدوق يهم فهو حسن الحديث وابن ماجه (۳۸۲۹) وصححه ابن حبان (۸۷۰) والحاكم (۱/٤۹۰) وصححه ووافقه الذهبی)

- 2233(11) وَعَنْ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " لَا يَرُدُّ الْقَضَاءَ إِلَّا الدُّعَاءُ وَلَا يَزِيْدُ فِي الْعُمْرِ إِلَّا الْبِرُّ ". رَوَاهُ التِّرمِذِىُّ

ترجمه : او سیدنا سلمان فارسی ﷛ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمایل: تقدیر لره نهٔ بدلوی مگر دعا او په عمر کی زیادت نهٔ راولی مگر نیکی۔ (ترمذیؒ)

تشریح : یو تقدیر د الله تعالیٰ علم ته وائی نو دا په هیڅ حالت کی نهٔ بدلیږی بل تقدیر معلق دے دا الله تعالیٰ د اسبابو سره کړیدے او دعائے پکی ډیر قوی سبب مقرر کړے نو په دعا گانو سره ډیرے تبدیلیانی راځی۔

وَلَا يَزِيْدُ فِي الْعُمُرِ : د زیادت نه مراد یا زیادت د برکت دے چه لږ وخت کی ډیر کار وکړی۔

(٢) دویم زیادت دا دے چه ددے نیکئ د زیادت په سبب په عمر کی زیادت راولی لکه داسے ئے لیکلی وی چه چا دا فلانئ نیکی وکړه نو عمرئے دیرش کاله دے او که وے نکړه نو شل کاله دے۔

(٣) دریم د عمر نه مراد هغه عمر دے چه د الله په بندگئ کی تیر شی لکه دا ابن القیم رحمه الله ذکر کړے په الجواب الکافی کښے چه اصل عمر هغه دے چه د الله په تعلق کښے تیر شی، نو زیات عمر د هغه چا دے چه د الله بندگی کوی ځکه باقی عمر خو ضائع دے۔

درجة الحديث: اسناده حسن : الترمذی (٢١٣٩) والحاکم (١/٤٩٣) ووافقه الذهبی وحسنه الالبانی فی الصحیحة (١٥٤) ولم یصححه الترمذی لان فی سنده ابا مودود البصری واسمه فضة، قال ابوحاتم: ضعیف وقال الحافظ : فیه لین ولکن له شاهدا من حدیث ثوبان اخرجه ابن ابی شیبة والطبرانی فی الکبیر قال فی الزوائد : سألت شیخنا ابا الفضل القرافی عن هذا الحدیث فقال : حسن وصححه الحاکم واقره الذهبی) (مرعاة)

- 2234(12) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" إِنَّ الدُّعَاءَ يَنْفَعُ مِمَّا نَزَلَ وَمِمَّا لَمْ يَنْزِلْ فَعَلَيْكُمْ عِبَادَ اللهِ بِالدُّعَاءِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

- 2235(13) وَرَوَاهُ أَحْمَدُ عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ

ترجمه : او سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل: یقیناً

دعا د هغې مصيبت نه هم فائده ورکوي چه نازل شوې وي او د هغې نه هم چه نۀ وي نازل شوې لهذا په تاسو اې د الله بندګانو دعاګانې لازمې دي. (ترمذيؒ) او امام احمدؒ دا روايت د معاذ بن جبل ﷺ نه نقل کړيدې او امام ترمذيؒ وئيلي دي چه دا حديث غريب دې.

تشريح : يعنې که مصيبت راغلې وي او دعا وغواړي هم فائده کوي، مصيبت ورسره ختميږي او که مصيبت نۀ وي راغلې او دعا وغواړي نو الله تعالىٰ مصيبت واپس کوي يا ورسره پکې مدد کوي.

درجة الحديث: اسناده حسن : الترمذى (٣٥٤٨) والحاكم (٤٩٣/١) وصححه، فيه عبد الرحمن بن ابى بكر القرشي وهو ضعيف فى الحديث قد تكلم فيه بعض اهل الحديث من قبل حفظه (ترمذى) وقال الحافظ فى الفتح : فى سنده لين) وحسنه الالبانى فى صحيح الجامع (٣٤٠٩) وصحيح الترغيب (١٦٣٤) واخرجه احمد (٢٢٠٩٧) وفيه شهر بن حوشب عن معاذ ولم يسمع منه)

- 2236(14) وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:" مَا مِنْ أَحَدٍ يَدْعُوْ بِدُعَاءٍ إِلَّا آتَاهُ اللهُ مَا سَأَلَ أَوْ كَفَّ عَنْهُ مِنَ السُّوْءِ مِثْلَهُ مَا لَمْ يَدْعُ بِإِثْمٍ أَوْ قَطِيْعَةِ رَحِمٍ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او سيدنا جابر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : نشته يو تن چه يو يوه دعا وغواړي مګر الله تعالىٰ به ورکوي هغه ته څه چه ئې غوښتي وي يا به ددۀ نه د هغې په شان تکليف بند کړي خو ترڅو پورې ئې چه د ګناه يا د رشته دارئ د پريکولو دعا نۀ وي کړې. (ترمذيؒ)

تشريح : دې حديث نه ثابته شوه چه د هر مسلمان دعا قبليږي خو کله هغه شې ورکوي کوم چه غواړي او دۀ دپاره پکې فائده وي او کله ترې د هغه دعا په بدله کې د هغې په شان مصيبت لرې کړي،

او بل روايت کې دي چه يا به ورله په آخرت کې دغه دعا ذخيره کړي او د هغې ډيره ناشنا بدله به ورکړي چه بيا به وائي چه زما يوه دعا هم دنيا کې نۀ وې قبوله شوې ښه به وه.

درجة الحديث: اسناده صحيح : احمد (٣/٣٦٠) والترمذى (٣٣٨١) جود اسناده المنذرى فى الترغيب والترهيب (٢/٢٧٢) وحسنه الالبانى فى صحيح الترمذى (٢٦٩٢) وغيره)

- 2237(15) وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " سَلُوا اللّٰهَ مِنْ فَضْلِهٖ فَإِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ أَنْ يُّسْأَلَ وَأَفْضَلُ الْعِبَادَةِ اِنْتِظَارُ الْفَرَجِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه: او سيدنا ابن مسعود ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله تعالىٰ نه د هغه مهرباني وغواړئ ځکه چه الله تعالىٰ خوښوي دا خبره چه د هغه نه سوال وکړے شي او بهترين عبادت د کشادګئ (او فراخي راتللو) انتظار کول دي۔ (دا روايت امام ترمذيؒ راوړيدے او وئيلي ئې دي چه دا حديث غريب دے)۔

تشريح: الله تعالىٰ په سوال باندے ځکه خوشحاليږي چه د هغه سره رحمتونه او نعمتونه بې حده دي نو هغه ئې په ورکړه باندے خوشحاليږي خو چه بنده لره توجه الله تعالىٰ ته وکړي او خپله عاجزي هغه ته وړاندے کړي۔

وَأَفْضَلُ الْعِبَادَةِ: يعني دا بهتر عبادت دے چه انسان پدے انتظار کې وي چه اُوس به الله تعالىٰ دا مصيبت لرې کړي او کشادګي او فراخي به راولي او د دعا نه ستړے نۀ شي۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف، الترمذى (٣٥٧١) وقال : هكذا روى حماد بن واقد هذا الحديث وحماد بن واقد ليس بالحافظ راجع الضعيفة للالبانى (٤٩٢)

- 2238(16) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :" مَنْ لَّمْ يَسْأَلِ اللّٰهَ يَغْضَبْ عَلَيْهِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه: او ابو هريره ﷺ رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چه د الله تعالىٰ نه سوال نۀ کوي نو الله تعالىٰ ترے ناراضه کيږي۔(ترمذيؒ)

تشريح: ځکه چه په سوال پريښودو کې تکبر او استغناء او غفلت وي او دا د بنده دپاره مناسب نۀ ده۔ او دا حديث دليل دے چه دعاء کول د خپل رب نه واجب او لازم دي۔

يو شاعر څه ډير ښه وائي :

اَللّٰهُ يَغْضَبُ اِنْ تَرَكْتَ سُؤَالَهُ	❁	وَتَرَى ابْنَ آدَمَ حِيْنَ يُسْئَلُ يَغْضَبُ

الله نه که ډېر سوال پرېښودو غصه کیږي او بنیادم نه چه کله سوال کیږي هغه غصه کیږي.

درجة الحديث : اسناده صحيح : احمد (٢/٤٤٢) والبخاري في الادب المفرد (٦٥٨) والترمذي (٣٣٧٣) واللفظ له وابن ماجه (٣٨٢٧) والحاكم (١/٤٩١)

- 2239(17) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ:" مَنْ فُتِحَ لَهُ مِنْكُمْ بَابُ الدُّعَاءِ فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الرَّحْمَةِ وَمَا سُئِلَ اللّٰهُ شَيْئًا يَعْنِيْ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ أَنْ يُسْأَلَ الْعَافِيَةَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. ___________

ترجمه : او سيدنا ابن عمر رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل: ستاسو نه چه د چا دپاره د دعاء دروازه کولاوه شوه نو هغه ته د رحمت دروازې کولاوې شوې او د الله تعالیٰ نه نۀ دي غوښتلې شوې يو شې يعني چه هغه ته ډير محبوب وي ددې نه چه عافيت ترې وغوښتې شي. (يعني د عافيت غوښتل الله تعالیٰ ته د هر څه نه زيات محبوب دي) (ترمذیؒ)

تشریح : يعني بنده چه ذ الله تعالیٰ نه د عافيت دعا کوی نو دا الله تعالیٰ ته ډيره خوښه ده دې کې څه حکمت دے ؟ نو وجه دا ده چه په عافيت کې د انسان انتهائی فقر او د الله تعالیٰ انتهائی غِنیٰ ده يعني کله چه بنده الله تعالیٰ ته دا وائی چه اے الله ! ما په دنيا او آخرت کې د مصيبتونو او تکليفونه نه بچ کړه نو دا انسان الله تعالیٰ ته پوره عاجزی کوی چه زۀ ستا د هيڅ عذاب په دنيا او آخرت کې د تېنګيدو نۀ يم او تۀ پوره مستغنی ئې.

او کله چه بنده وائی چه اے الله ! که ما ته عذاب راکوې نو په دنيا کې ئې راکړه نو پدې کې په ځان باندې يو نوع اعتماد دے او په الله باندې بدګمانی ده چه ګنې هغه عذاب ورکولو ته محتاج دے.

چا ته چه د دعاء دروازه کولاوه شي نو د رحمت دروازه ورته کولاوه شوه وجه دا ده چه دعا مفتاح (چابی) د خيراتو ده نو کله چه مفتاح ستا لاس ته راشي نو بيا د کور تول

سامان ستا لاس ته راغے۔
طیبیؒ وائی : عافیت الله تعالیٰ ته ځکه محبوب دے چه دا یو جامع لفظ دے چه د دنیا او د آخرت خیرونه ئے راګیر کړیدی چه په دنیا کی صحت او سلامتیا د مرضونو او مصیبتونو نه ده او په آخرت کی د عذابونو نه۔
أَنْ يُسْأَلَ الْعَافِيَةَ : شَيْئًا مفعول مطلق دے او احب الیه ئے صفت دے او ان مصدریه دے او یسأل مجهول صیغه ده معنیٰ دا ده : [مَا سُئِلَ اللّٰهُ سُؤَالًا اَحَبَّ اِلَيْهِ مِنْ سُؤَالِ الْعَافِيَةِ] یعنی د الله نه سوال نۀ دے شوے داسے سوال چه هغه ته د عافیت د سوال نه زیات محبوب وی۔
درجة الحديث : اسناده ضعيف : الترمذى (٣٥٤٨) وقال : هذا حديث غريب لا نعرفه الا من حديث عبد الرحمن بن ابى بكر القرشي وهو المكى المليكى وهو ضعيف فى الحديث قد تكلم فيه بعض اهل الحديث من قبل حفظه)

- 2240(18) وَعَنْ أَبِىْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَّسْتَجِيْبَ اللهُ لَهُ عِنْدَ الشَّدَائِدِ فَلْيُكْثِرِ الدُّعَاءَ فِي الرَّخَاءِ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : هغه څوك چه دا غواړی چه الله تعالیٰ د هغه دپاره د تکلیفونو په وخت کی دعا قبوله کړی نو هغه دے په راحت (فراخئ) کی ډیره دعا غواړی۔ (دا روایت امام ترمذیؒ راوړیدے او وئیلی ئے دی چه دا حدیث غریب دے)۔
تشریح : ددے وجه نه بل روایت کی راغلی دی : [تَعَرَّفْ اِلَى اللّٰهِ فِى الرَّخَاءِ يَعْرِفُكَ فِى الشِّدَّةِ]۔ الله تعالیٰ ته ځان ورو پیژنه په حالت د فراخئ کی نو مصیبت کی به دریاندے رحم کوی۔ (صحيح الجامع : ٢٩٦١)۔
درجة الحديث: اسناده حسن، الترمذى (٣٣٨٢) والحاكم (٥٤٤/١) و فى اسناد الترمذى سعيد بن عطية الليثى لمْ يوثقه غير ابن حبان وباقى رجاله ثقات ورواية الحاكم عارية عن سعيد بن عطية وصححه ووافقه الذهبى واخرجه الحاكم من حديث سلمان وقال

صحيح الاسناد) وصححه الالباني وحسين سليم اسد في تعليق ابي يعلى)

- 2241(19) وَعَنْهُ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " اُدْعُوا اللّٰهَ وَأَنْتُمْ مُوْقِنُوْنَ بِالْإِجَابَةِ وَاعْلَمُوْا أَنَّ اللّٰهَ لَا يَسْتَجِيْبُ دُعَاءً مِنْ قَلْبٍ غَافِلٍ لَاهٍ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله تعالىٰ نه دعا وغواړئ په داسے حال کی چه ستاسو يقين وی په دعا قبليدو (چه الله به ئے خامخا قبلوی) او پوهه شئ چه يقيناً الله تعالىٰ د هغه زړه نه چه غافل او مشغول وی دعاء نۀ قبلوی۔ (دا روايت امام ترمذیؒ راوړيدے او وئيلی ئے دی چه دا حديث غريب دے)۔

تشريح : ددے حديث يو مطلب دا دے چه د دعا په وخت کی دا يقين وکړه چه زما دعا به خامخا قبليږی۔ دويم ددے نه مراد ملزوم دے يعنی د الله تعالىٰ نه په داسے حال کی دعا وکړئ چه تاسو کی داسے صفات وی چه هغه د دعا د قبليدو سبب وی هغه دا چه نيکئ کوئ او د بدئ نه ځان ساتئ۔

غَافِلٍ : يعنی د الله او د خپل سوال نه غافل وی۔

لَاهٍ : د لهو نه ماخوذ دے يعنی چه مشغول وی په بل شی باندے او لاس ئے الله تعالىٰ ته نيولے وی يا اخوا ديخوا ګوری۔ لهذا دا شرطونه د دعاء شو۔

درجة الحديث: اسناده حسن : الترمذى (٣٤٧٩) والحاكم (١/٤٩٣) وقال الترمذى : حديث غريب لا نعرفه الا من هذا الوجه) وفى اسناده صالح بن بشير بن وادع المرى وهو ضعيف لكن له شاهدا بمعناه من رواية احمد عن عبد اللّٰه بن عمرو بن العاص (اَلْقُلُوْبُ اَوْعِيَةٌ وَبَعْضُهَا اَوْعٰى مِنْ بَعْضٍ فَاِذَا سَأَلْتُمُ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ اَيُّهَا النَّاسُ فَاسْئَلُوْهُ وَاَنْتُمْ مُوْقِنُوْنَ بِالْاِجَابَةِ فَاِنَّ اللّٰهَ لَايَسْتَجِيْبُ لِعَبْدٍ دُعَاءً عَنْ ظَهْرِ قَلْبٍ غَافِلٍ) وحسّنه فى الزوائد وكذا المنذرى فالحديث بهذا الشاهد حسن)

- 2242(20) وَعَنْ مَالِكِ بْنِ يَسَارٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :" إِذَا سَأَلْتُمُ اللّٰهَ فَاسْأَلُوْهُ بِبُطُوْنِ أَكُفِّكُمْ وَلَا تَسْأَلُوْهُ بِظُهُوْرِهَا "

ترجمه : او سيدنا مالک بن يسار ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چه تاسو

د الله تعالىٰ نه سوال کوئ نو د خپلو ورغوو په دننه طرفونو سره سوال کوئ او د ورغوو په بره طرفونو سوال مۀ کوئ۔ (ابوداود)

تشريح: مالك بن يسار ﷺ صحابي دے۔

يعني لاسونه الله تعالىٰ ته پورته کړئ او باطن طرف ئے بره کړئ۔

حافظ ابن حجرؒ فرق کړے چه بنده کله د الله تعالىٰ نه يو شے غواړي نو په باطن طرف د لاسونو به ئے غواړي دے دپاره چه لاسونه ئے الله تعالىٰ د خير نه ډك کړي او که چرته مصيبت دفع كول غواړي نو د لاسونو شاګانے دے پورته کړي پدے کې به د مصيبت د دفع كولو تفاؤل وي۔

درجة الحديث: اسناده صحيح : ابوداود (١٤٨٦) ورواه الطبراني من حديث ابي بكرة باسناد صحيح، (مجمع الزوائد ١٧٣٤٦) راجع الصحيحة (٥٩٥) وصحيح الجامع (٣٦٣٤)

- 2243(21) وَفِيْ رِوَايَةِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : " سَلُوا اللهَ بِبُطُوْنِ أَكُفِّكُمْ وَلَا تَسْأَلُوْهُ بِظُهُوْرِهَا فَإِذَا فَرَغْتُمْ فَامْسَحُوْا بِهَا وُجُوْهَكُمْ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او په يو روايت د ابن عباس ﷺ کې دي چه نبي کريم ﷺ وفرمايل : د الله تعالىٰ نه د خپلو ورغوو په دننه طرفونو سره سوال کوئ او د هغه نه د ورغوو په بره طرفونو سره سوال مۀ کوئ او کله چه تاسو (د دعاء) نه فارغ شوئ نو هغه راکاږئ په مخونو باندے۔ (ابوداودؒ)

تشريح : د دعا نه روستو لاسونه په مخ باندے راخکلو حکمت دا دے چه پدے کې د رحمت آثار نازل شويدي نو دے دپاره چه د هغے برکت مخ ته هم ورسيږي۔

دا هله چه کله دا کار مستحب ومنلے شي لکه دا روايت دليل دے چه د دعا نه روستو لاسونه په مخ راښکل مستحب دي۔

ليکن د اکثرو علماؤ په نيز باندے د دعا نه روستو په مخ لاسونه راښکل بدعت دے لکه دا د عبد الله بن المباركؒ، عز بن عبد السلامؒ، ابن نصر المروزيؒ، احمد بن حنبلؒ او امام نوويؒ نه نقل دي او شيخ الباني وغيره وئيلي دي چه پدے باره کې ځلور احاديث

راغلې دي او هغه ټول ضعيف دي، دريے روايات په مشكاة كې راغلي دي،
او يو بل روايت امام بخاريؒ په ((الادب المفرد)) كې ذكر كړيدے چه ابن عمرؓ او ابن الزبيرؓ به كله دعا كوله (يُدِيْرَانِ بِالرَّاحَتَيْنِ عَلَى الْوَجْهِ) دواړو به لاسونه په مخ باندے راښكل ـ ليكن هغه روايت هم ضعيف دے، نو دا كار نۀ دے پكار ـ
انظر ضعيف الادب المفرد للالبانی (٦٠٩/٩٣)
مګر علامه حوينيؒ فرمائي چه دغه روايت حسن درجه كې دے ـ ځكه په هغے كې محمد بن فليح عن ابيه دے او محمد په باره كې ابن حجرؒ وائي : (صدوق يهم)
او ذهبيؒ وائي : (لينه ابن معينؒ) او د هغه د پلار (فليحؒ) په باره كې ابن حجرؒ وائي : (صدوق كثير الخطأ) او ذهبيؒ وائي : ابن معينؒ، ابوحاتمؒ، نسائيؒ وائي : (ليس بالقوی)
او ابن المنذرؒ وائي : صدوق دے ـ
نو ظاهر دا ده چه دا روايت حسن دے لهذا كه چا د دعا نه روستو په مخ باندے لاسونه راښكل نو ان شاء الله چه جائز به وي ـ
انظر حاشية العلل المتناهية) وفتاوی الدين الخالص لشيخنا (١)
امام بيهقيؒ وئيلي دي چه په مانځه كې دعا نه روستو لاسونه په مخ راښكل خو بيخي په هيڅ حديث كې نۀ دي ثابت او د مانځه نه بهر په باره كې يو حديث راغلے دے چه هغے كې لږ ضعف دے خو بهر د مانځه نه په هغے باندے عمل كيدے شي ـ
(السنن الكبرىٰ (٢١٢/٢)
ليكن دغه روايتونه تا وليدل چه ضعيف دي او د دغه دريے روايتونو بيان روستو راروان دے ـ ليكن په مجموع الطرق سره پدے باندے استحباب ثابتيدلے شي ـ دے روايت د ابن عمر ﷺ او ابن زبير ﷺ ته حافظ ابن حجرؒ، سيوطيؒ او امير صنعانيؒ وغيره حسن وئيلے دے ـ امام سخاويؒ په الاجوبة المرضية (١٠٧١/٣) رقم (٣٠٣) كې د دعا نه روستو په مخ باندے لاسونو راخكلو په باره كې احاديث ذكر كړيدي بيا وائي :
(ومفرداتها وان كانت ضعيفة فبمجموعها ثبتت السنة والله الموفق) ـ
دا روايتونه بيل بيل اګر كه ضعيف دي ليكن مجموعي طور سره ددے نه سنت ثابتيږي ـ
حافظ ابن حجرؒ په بلوغ المرام ص (٢٨٤) كې وائي :

مَجْمُوْعُ هٰذِهِ الْاَحَادِيْثُ يَقْضِيْ بِاَنَّهٗ حَدِيْثٌ حَسَنٌ۔

دا احادیث په مجموعی طور سره دا فیصله کوی چه دا حدیث حسن دے۔

شیخ بسامؒ په توضیح الاحکام کی وائی : وَاخْتَارَ قُوَّةَ الْحَدِيْثِ : اِسْحَاقُ وَالنَّوَوِيُّ فِيْ اَحَدِ قَوْلَيْهِ وَابْنُ حَجَرٍ وَالْمَنَاوِيُّ وَالصَّنْعَانِيُّ وَالشَّوْكَانِيُّ وَغَيْرُهُمْ)۔

او اسحاقؒ، نووىؒ په يو د دوه قولينو كى او ابن حجرؒ او مناوىؒ او صنعانىؒ او شوكانىؒ وغيره علماؤ ددے حديث قوت غوره كړيدے)۔

د شيخ البانىؒ شاگرد الشيخ مشهور آل سليمانؒ او د هغه ورونو ددے روايت حسن او قوت د اسناد راجح كړيدے۔

امام عبد الرزاقؒ وائی : [رَاَيْتُ مَعْمَرًا يَدْعُوْ بِيَدَيْهِ عِنْدَ صَدْرِهٖ ثُمَّ يَرُدُّ يَدَيْهِ فَيَمْسَحُ وَجْهَهٗ، قَالَ : وَاَنَا اَفْعَلُهٗ] (مصنف عبد الرزاق ۲/۲۵۲ ح۳۲۵۶)۔

ما معمرؒ وليدو چه په لاسونو سره به ئے دعا غوښته د سينے سره او بيا به ئے دواړه لاسونه راواپس كړل او په مخ باندے به ئے راښكل او هغه وائی چه دا كار زۀ هم كوم۔

دغه شان د حسن بصرى نه هم ددے استحباب نقل دے او بل طرفته د بعض ائمه ؤ نه ددے انكار هم نقل دے لكه امام مالكؒ، او عبد الله بن المباركؒ وائی چه مونږ ته پدے باره كی هيڅ ثابت حديث نۀ دے معلوم۔ نو هغوى ته پدے باره كی مرفوع احاديث ضعيف ښكاره شويدى يا ورته نۀ دى رسيدلى صرف دا يو روايت حسن درجه كی دے۔ نو راجح دا ده چه كه پدے باندے عمل وكړى جائز به وى۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف، ابوداود (۱۴۸۵) وابن ماجه (۳۸۶۶) والطبرانى فى الكبير (۱۰/۳۸۸ رقم (۱۰۷۷۹) والحاكم (۱/۵۳۶) وفيه صالح بن حسان المدنى الانصارى منكر الحديث قاله البخارى)

- 2244(22) وَعَنْ سَلْمَانَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " اِنَّ رَبَّكُمْ حَيِيٌّ كَرِيْمٌ يَسْتَحْيِيْ مِنْ عَبْدِهٖ اِذَا رَفَعَ يَدَيْهِ اِلَيْهِ اَنْ يَرُدَّهُمَا صِفْرًا ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَاَبُوْدَاوٗدَ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعْوَاتِ الْكَبِيْرِ

ترجمه : او سيدنا سلمان ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمايل: ستاسو رب حياناك عزتمند دے، د خپل بنده نه حياء كوى كله چه هغۀ ته دواړه لاسونه پورته كړى چه هغه

دواړه خالي واپس کړي۔ (ترمذيؒ، ابوداودؒ، بيهقيؒ)

تشريح : حَيِيٌّ : دا فعيل وزن دے د حياء نه دے يعني ډيرے حياء والا دے او حياء د الله تعالىٰ د شان لائق صفت دے بغير د کيفيت بيانولو نه به پدے باندے ايمان لرلے شي۔

صِفْرًا : اَیْ خَالِیًا۔ صَفِرَ الشَّیْءُ اَیْ خَلَا۔ يعني خالي، تش۔ دا لاسونه اُوچتول په مطلق دعا گانو کي دي او دا د دعا د ادابو نه دي او پدے باره کي ډير صحيح صريح احاديث راغلي دي۔

درجة الحديث: اسناده حسن، (ابوداود (١٤٨٨) والترمذی (٣٥٥٦) وابن ماجه (٣٨٦٥) وصححه ابن حبان (٢٣٩٩) والحاكم (٤٩٧/١) وقال صحيح على شرط الشيخين واقره الذهبى وقال الحافظ فى الفتح (١٢١/١١) وسنده جيد)

- 2245(23) وَعَنْ عُمَرَ ﷛ قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا رَفَعَ يَدَيْهِ فِي الدُّعَاءِ لَمْ يَحُطَّهُمَا حَتّٰى يَمْسَحَ بِهِمَا وَجْهَهٗ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او سيدنا عمر ﷛ فرمائي : رسول الله ﷺ به چه کله دواړه لاسونه په دعا کي پورته کړل نو نه به ئے ښکته کول ترڅو چه دواړه به ئے په مخ باندے راښکل۔ (ترمذيؒ)

تشريح : لَمْ يَحُطَّهُمَا : حط ښکته کولو ته وائي۔ دا روايت هم ضعيف دے۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف، الترمذی (٣٣٨٦) والحاكم (٥٣٦/١) وقال الترمذی حديث غريب راجع الارواء (٤٣٣) فيه حماد بن عيسى ضعفه ابوحاتم، وابوداود والدارقطنى وقال ابن ماكولا : ضعفوا احاديثه كذا فى تهذيب التهذيب وضعفه النووى فى الاذكار (٢٩٤) (المرعاة)

- 2246(24) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَسْتَحِبُّ الْجَوَامِعَ مِنَ الدُّعَاءِ وَيَدَعُ مَا سِوٰى ذٰلِكَ. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوٗدَ

ترجمه : او ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها فرمائي : رسول الله ﷺ به هغه دعاگانے خوښولے چه جامعے دي او هغه دعاگانے به ئے پريښودے چه جامعے نۀ دي۔

(ابو داوُدؒ)

تشریح : الْجَوَامِعَ مِنَ الدُّعَاءِ : يعنى چه بنده د الله تعالىٰ نه داسے دعا وکړی چه اے الله ! ما ته صحت او عافيت راکړه او د بيل اندام صحت غوښتلو ته ضرورت نشته، يا دا چه د هر خپلوان نوم واخلی بلکه داسے ووائی چه زما ټول خپلوانو ته هدايت او عافيت او صحت او دنيا او آخرت ورکړه۔

او جامعه دعا هغه ده چه د دنيا او د آخرت دواړه خيرونه راجمع کړی۔ يا هغه چه الفاظ ئے کم وی او معنىٰ ئے زياته وی لکه (رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّار) شو يا لکه په دنيا او آخرت کی عافيت غوښتل شو۔

يا جامعه دعاء هغه ده چه په هغے کی د الله تعالىٰ حمد او په نبی عليه السلام باندے درود وی او د دعا د ټولو آدابو لحاظ پکی وساتلے شی۔

درجة الحديث: اسناده صحيح، ابوداود (١٤٨٢) وقال النووى فى الاذكار اسناده جيد وقال الحافظ السخاوى: هذا حديث حسن اخرجه احمد وابوداود آه، واخرجه الحاكم (٥٣٩/١) (انظر صحيح ابى داود ١٣٣٢) وصحيح الجامع (٤٩٤٩)

- 2247(25) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : " إِنَّ أَسْرَعَ الدُّعَاءِ إِجَابَةً دَعْوَةُ غَائِبٍ لِغَائِبٍ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او سيدنا عبد الله بن عمرو رضى الله عنهما فرمائى : رسول الله ﷺ وفرمايل: يقيناً ډيره په جلتئ سره قبليدو والا دعاء، د غائب سړی دعاء ده غائب دپاره۔

(ترمذیؒ، ابو داوُدؒ)

تشریح : د غائب نه مراد هغه دے چه هغه ئے نۀ آوری او په پټه ورته دعا کولے شی اګرکه د هغه په خوا کی ناست وی ځکه چه پدے حالت کی رياء او غلط غرضونه مينځ ته نۀ راځی بلکه خالص د اخلاص نه ډکه وی او خير خواهی پکی وی۔

دا حديث مونږ ته دعوت راکوی چه نورو مؤمنانو له غائبانه دعا غوښتل پکار دی۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف والحديث صحيح، ابوداود (١٤٣٥) والترمذى (١٩٨٠) وقال هدا حديث غريب لا نعرفه الا من هذا الوجه والافريقى يضعف فى الحديث

وهو عبد الرحمن بن زياد بن انعم الافريقي) وضعفه الالباني ولكن ورد في صحيح مسلم من حديث ابي الدرداء مرفوعا : دَعْوَةُ الْمَرْءِ الْمُسْلِمِ لِاَخِيْهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ مُسْتَجَابَةٌ عِنْدَ رَأْسِهٖ مَلَكٌ مُوَكَّلٌ كُلَّمَا دَعَا لِاَخِيْهِ بِخَيْرٍ قَالَ الْمَلَكُ الْمُوَكَّلُ آمِيْن وَلَكَ بِمِثْلٍ) (خلاصة البدر المنير ١/٢٤٨ رقم: ٨٥٦) وعن عمران بن حصين مرفوعا : دَعْوَةُ الْاَخِ لِاَخِيْهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ لَا يُرَدُّ (حديث صحيح) (البزار)، الصحيحة (١٣٣٩)

- 2248(26) وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ﷺ قَالَ اِسْتَأْذَنْتُ النَّبِيَّ ﷺ فِي الْعُمْرَةِ فَأَذِنَ لِيْ وَقَالَ :" أَشْرِكْنَا يَا أُخَيُّ فِيْ دُعَائِكَ وَ لَا تَنْسَنَا ". فَقَالَ كَلِمَةً مَا يَسُرُّنِيْ أَنَّ لِيْ بِهَا الدُّنْيَا . رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَانْتَهَتْ رِوَايَتُهُ عِنْدَ قَوْلِهٖ "لَا تَنْسَنَا "

ترجمه : او سيدنا عمر بن خطاب ﷺ فرمائي : ما د نبي كريم ﷺ نه د عمرے په ادا كولو كې اجازه وغوښته نو هغه ما ته اجازه راكړه او وے فرمايل: اے زمونږ وروره ! مونږ په خپله دعا كې شريك كړه او مونږ (د دعا نه) مۀ هيروه۔ عمر فاروق ﷺ وائي : نبي كريم ﷺ داسے كلمه ووېله چه زۀ پدے نۀ خوشحاليږم چه زما دپاره د هغے په بدله كې ټوله دنيا (حاصله) شي۔ (ابوداوُد، ترمذيؒ او د ترمذيؒ روايت په (لاتنسنا) باندے ختم شويدے۔

تشريح : ددے نه معلوميږي چه افضل د مفضول نه دعا طلب كولے شي لكه عمر فاروق ﷺ او دارنګه بعض صحابه كرامو به د اُويس قرنيؒ نه دعاګانے طلب كولے۔ ډيرے دعاګانے هر وخت د يو بل نه طلب كول د صحابه كرامؓ طريقه نۀ وه لكه نن زمانه كې دا خبره يو عادت جوړ شويدے چه د يو بل سره ملاؤ شي او بيا رخصتيږي نو ورته وائي دعا كوه۔

او كله نا كله دا كار جائز دے كله چه يو انسان بل نه مطالبه وكړي د دعا كولو لكه بعض صحابه كرامو به د نبي عليه السلام نه داسے مطالبه كوله۔

او د بل نه دعا طلب كولو كې يو قسم سوال دے نو حتى الوسع ددے نه هم ځان ساتل پكار دي۔ آؤ، د صالحينو او ډيرو متقينو نه كله كله مطالبه شته ليكن ديته كار وئيل

نهٔ دی پکار۔

او ددے روایت نه دا هم معلومه شوه چه امت له پکار دی چه دعا د خپل ځان پورے خاص نهٔ کړی بلکه خپلو دعاګانو کی خپل خپلوان او عزیزان او دوستان هم شاملول پکار دی۔

او ددے نه د سیدنا عمر فاروق رضی الله عنه فضیلت هم معلومیږی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ددهٔ د نیك عملئ تصدیق وکړو۔

مَا يَسُرُّنِيْ: یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم ما ته ورور وویلو نو که ددے په بدله کی ما ته ټوله دنیا راکوی نو په هغے به زهٔ خوشحاله نشم ځومره چه پدے کلمه باندے زهٔ خوشحاله شوم۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف، ابوداود الطيالسي ص (٤) في مسند عمر بن الخطاب واحمد (٢٩/١، ٥٩/٢) وابوداود (١٤٩٨) والترمذي (٣٥٦٢) وابن ماجه (٢٨٩٤) وفي سنده عاصم بن عبيد الله بن عاصم العدوي وهو ضعيف كما قال ابن معين وقال البخاري وغيره: متروك) وقال الترمذي حديث حسن صحيح واصل القصة في البخاري وهي نذر عمر في الجاهلية ان يعتكف في المسجد الحرام)

- 2249(27) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضی الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم :" ثَلَاثَةٌ لَا تُرَدُّ دَعْوَتُهُمْ: اَلصَّائِمُ حِيْنَ يُفْطِرُ وَالْإِمَامُ الْعَادِلُ وَدَعْوَةُ الْمَظْلُوْمِ يَرْفَعُهَا اللهُ فَوْقَ الْغَمَامِ وَتُفْتَحُ لَهَا أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَيَقُوْلُ الرَّبُّ: وَعِزَّتِيْ لَأَنْصُرَنَّكَ وَلَوْ بَعْدَ حِيْنٍ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه: او سیدنا ابو هریره رضی الله عنه فرمائی: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: درے کسان دی چه د هغوی دعا نهٔ رد کیږی: یو روژه دار چه کله روژه ماتوی او دویم عادل بادشاه او دریم د مظلوم دعا الله تعالیٰ ئے د وریځے دپاسه پورته کوی او د هغے دپاره د آسمان دروازے کولاویږی او الله تعالیٰ فرمائی: زما دے په خپل عزت قسم وی چه زهٔ به خامخا ستا مدد کوم اګرکه څه وخت پس وی۔ (ترمذیؒ)

تشريح: د روژه دار دعا ځکه قبلیږی چه دا د خواهش خلاف کوی او دا په حالت د

تضرع او عاجزئ کی وی او د عبادت نه روستو وی۔
د مظلوم د ښیرو ډیر اکرام کیږی وجه دا ده چه د ظلم په وجه د مظلوم زړه ته د اُور لمبه رسیدلی وی او دغه ښیرے ډیر په عاجزئ سره په پریشانئ حالت کی راوتلی وی نو ځکه ورته الله تعالیٰ داسے مرتبه ورکوی۔
وَلَوْ بَعْدَ حِيْنٍ : یعنی مدد به دے خامخا کوم که فی الحال مدد ونشو نو دے کی به د بنده دپاره خیر وی چه کیدے شی هغه د ظلم او گناهونو نه واپس شی او دا مظلوم رضا کړی او پدے کی اشاره ده چه الله تعالیٰ ظالم ته مهلت ورکوی لیکن پریدی ئے نهٔ۔
درجة الحديث : اسناده حسن، احمد (٢/٥٠٢،٤٤٥) والترمذی (٣٥٩٨) وقال حديث حسن وفيه زياد الطائی قال الحافظ مجهول ارسل عن ابی هريرة وقال الذهبی : لا يعرف، وابن ماجه (١٧٥٢) وابن حبان (٢٤٠٧) وقال الالبانی لكن الحديث حسن علی اقل الدرجات (الصحيحة ٢/٥٥٣رقم ٨٧٠) ورواه الطبرانی بسند صحيح عن عقبة بن عامر بلفظ : ثَلَاثٌ تُسْتَجَابُ دَعْوَتُهُمْ: اَلْوَالِدُ وَالْمُسَافِرُ وَالْمَظْلُوْمُ، (كشف الخفاء ومزيل الالباس للعجلونی ١/٤٠٦)

- 2250(28) **وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" ثَلَاثُ دَعْوَاتٍ مُسْتَجَابَاتٌ لَاشَكَّ فِيْهِنَّ :دَعْوَةُ الْوَالِدِ وَدَعْوَةُ الْمُسَافِرِ وَدَعْوَةُ الْمَظْلُوْمِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْ دَاوٗدَ وَابْنُ مَاجَه.**

ترجمه : او سیدنا ابو هریره رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل: درے دعاگانے داسے دی چه هغه قبلولے شی چه د هغے په قبلیدو کی هیڅ شك نشته : (١) د پلار دعاء (بچو دپاره) (٢) او د مسافر دعاء (٣) او د مظلوم دعا۔ (ترمذیؒ، ابوداوُدؒ، ابن ماجهؒ)
تشریح : پدے حدیث کی هم د دعا د قبلیدو اسباب ذکر دی چه یو د پلار دعا قبلیږی ځکه چه پدے کی ډیر شفقت او خیرخواهی وی او بل د مسافر ځکه چه پدے کی هم ډیر رقت او نرمی وی۔ او د مظلوم سرې دعا هغه چا ته چه مدد ورسره کوی یا ورته تسلی ورکوی یا مراد ترے ښیرے دی چه ظالم ته ئے کوی۔
ددے درے کسانو طلب رشتینی وی او زړه ئے نرم وی او حالت ئے د عاجزئ وی۔ لیکن دا بد نصیبی ده چه ډیر خلك مسافر وی او دعاء ته ئے فکر هم نهٔ وی۔

درجة الحديث: اسناده صحيح، ابوداود طيالسى (٢٠١٧) واحمد (٢/٢٥٨، ٤٣٤، ٥١٧، ٥٢٣) والبخارى فى الادب المفرد (٣٢) وابوداود (١٥٣٦) والترمذى (١٩٠٥) وابن ماجه (٣٨٦٢) وصححه ابن حبان (٢٤٠٦)

الفصل الثالث

- 2251 (29) عَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " لِيَسْأَلْ أَحَدُكُمْ رَبَّهُ حَاجَتَهُ كُلَّهَا حَتّٰى يَسْأَلَهُ شِسْعَ نَعْلِهِ إِذَا انْقَطَعَ ".

- 2252 (30) زَادَ فِيْ رِوَايَةٍ عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ مُرْسَلًا "حَتّٰى يَسْأَلَهُ الْمِلْحَ وَحَتّٰى يَسْأَلَهُ شِسْعَهُ إِذَا انْقَطَعَ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه: او سيدنا انس ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: يو تن دې په تاسو کې د خپل رب نه ټول ضرورتونه غواړي ترديې چه د هغه نه دې د څپلۍ تسمه (هم) غواړي کله چه هغه وشوکيږي. ترمذیؒ په يو بل روايت کې چه د ثابت بنانی نه په طريقه د ارسال نقل دې دا الفاظ نقل کړيدي: ترديې پورې چه مالګه دې هم ترې غواړي او ترديې چه تسمه دې هم د هغه نه غواړي کله چه هغه وشوکيږي. (ترمذیؒ)

تشريح: دې نه معلوميږي چه بنده به د الله تعالیٰ نه واړه واړه څيزونه هم غواړي پدې سره الله تعالیٰ خوشحاليږي ځکه چه پدې سره د بنده تعلق د الله تعالیٰ سره پيدا کيږي او الله تعالیٰ ته د بنده پوره احتياج او ضرورت رابنکاره کيږي او ددې احساس ورته حاصليږي [أَنْتُمُ الْفُقَرَاءُ إِلَى اللهِ وَاللهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيدُ].

درجة الحديث: اسناده حسن، الترمذى (٣٦٠٧) وقال هذا حديث غريب وفى سنده قطن بن نسير البصرى وهو صدوق يخطئ (تقريب) وقال الترمذى: ورواية ثابت البنانى مرسلا اصح من حديث قطن عن جعفر متصلا) ضعفه الالبانى وصححه حسين سليم اسد وقال اسناده على شرط مسلم، (تعليق ابى يعلى: ٣٤٠٣) واخرجه البزار (٦٩٧٦) ورجاله رجال الصحيح غير سيار بن حاتم وهو ثقة (الهيثمى) وعن عائشة موقوفا: سَلُوا اللهَ كُلَّ شَيْءٍ حَتَّى الشِّسْعَ، فَإِنَّ اللهَ إِنْ لَمْ يُيَسِّرْهُ، لَمْ يَتَيَسَّرْ، ابويعلى (٢/٢١٦) وهذا سند موقوف جيد رجاله رجال مسلم وفى ابن ابى الوضاح كلام يسير لا يضر (البانى) (المرعاة)

- 2253 (31) وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي الدُّعَاءِ حَتّٰى يُرٰى بَيَاضُ إِبْطَيْهِ.

ترجمه : او سيدنا انس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ به په دعاء كې دواړه لاسونه (دومره) پورته كول تردې چه د هغه د ترخونو سپينوالے به وليدے شو. (بيهقیؒ)

تشريح : كله نا كله رسول الله ﷺ په دعا كې ډير لاسونه پورته كړي تردې چه ترخونه ئې ښكاره شويدي. يا دا په حالت د استسقاء كې دي، او عامو دعاګانو كې به ئې لاسونه د اُوګو پورې پورته كول.

او كله چه به ئې زيات ابتهال او تضرع او مبالغه په سوال كې كوله نو كله نا كله به ئې لاسونه زيات پورته كړل لكه تفصيل دپاره رجوع كولے شي فتاوى الدين الخالص (١/٣١١،٣١٢) و (٨/٤٩٩) ته،

او په حديث د بخاري كې راغلي دي چه نبي عليه السلام د ابوموسى اشعري ﷺ ترۀ ابوعامر الاشعري ﷺ ته دعاء وكړه داسے ئې وفرمايل :

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِعُبَيْدٍ اَبِيْ عَامِرٍ وَرَأَيْتُ بَيَاضَ اِبْطَيْهِ۔

اے الله ! خپل بنده ابوعامر ته بخنه وكړه او ما د نبي ﷺ د ترخونو سپينوالے وليدو.

درجة الحديث: اسناده صحيح، اخرجه البخاري (٢/٤٢٩) في الاستسقاء واما في غير الاستسقاء فقد روى مسلم (٢١١١) عن انس اى هذه الرواية التى نحن فى بيانها)

- 2254(32) وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : كَانَ يَجْعَلُ أُصْبُعَيْهِ حِذَاءَ مَنْكِبَيْهِ وَيَدْعُوْ.

ترجمه : او سيدنا سهل بن سعد ﷺ د نبي كريم ﷺ ارشاد نقل كوي چه هغه فرمائي : رسول الله ﷺ به دواړه ګوتے د خپلو دواړو اُوګو برابر كرځولے او بيا به ئې دعا كوله.

تشريح : كله چه ګوتے د اُوګو برابري كړي او دعا غواړي نو لاسونه د اُوګو سره نزدے كيږي نو دا په عامو حالاتو كې وو او د مخكې روايت تعلق د بعض حالاتو سره دے.

درجة الحديث : اسناده ضعيف، البيهقي فى الدعوات الكبير، والحاكم وقال: حديث

صحيح الاسناد ووافقه الذهبي وقال الهيثمي : فيه عبد الرحمن بن اسحاق الزرقي المدني وثقه ابن حبان وضعفه مالك وجمهور الائمة وبقية رجاله ثقات آه)

- 2255(33) وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ عَنْ أَبِيْهِ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ إِذَا دَعَا فَرَفَعَ يَدَيْهِ مَسَحَ وَجْهَهُ بِيَدَيْهِ، رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَحَادِيْثَ الثَّلَاثَةَ فِي "الدَّعَوَاتِ الْكَبِيْرِ "

ترجمه : او جناب سائب بن يزيد د خپل پلار نه روايت كوى چه نبى كريم ﷺ به كله دعا كوله نو دواړه لاسونه به ئې پورته كړل او دواړه لاسونه به ئې په خپل مخ (مبارك) باندے راښكل۔ (دا درے واړه حديثونه بيهقيؒ په دعواتِ كبير كى راوړيدى)۔

تشريح : دا روايت د ابن لهيعه او د هغهٔ د شيخ حفص بن هاشم بن عتبه په وجه ضعيف دے۔ لكه درجة الحديث وګوره۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف، ابوداود (١٤٩٢) وفى اسناده عبد الله بن لهيعة وهو صدوق خلط بعد احتراق كتبه وفيه ايضا حفص بن هاشم بن عتبه بن ابى وقاص وهو مجهول وذكر الالبانى فى الارواء (٤٣٢) طرق الاحاديث وضعفها)

- 2256(34) وَعَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: اَلْمَسْأَلَةُ أَنْ تَرْفَعَ يَدَيْكَ حَذْوَ مَنْكِبَيْكَ أَوْ نَحْوَهُمَا وَالْإِسْتِغْفَارُ أَنْ تُشِيْرَ بِأُصْبُعٍ وَاحِدَةٍ وَالْإِبْتِهَالُ أَنْ تَمُدَّ يَدَيْكَ جَمِيْعًا وَفِيْ رِوَايَةٍ قَالَ: وَالْإِبْتِهَالُ هٰكَذَا وَرَفَعَ يَدَيْهِ وَجَعَلَ ظُهُوْرَهُمَا مِمَّا يَلِيْ وَجْهَهُ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او جناب عكرمهؒ د عبد الله بن عباس رضى الله عنهما نه روايت كوى چه هغه فرمائى : سوال (دعا) دا دے چه تهٔ خپل دواړه لاسونه خپلو دواړو اوګو ته پورته كړے يا دے ته نزدے او استغفار دا دے چه تهٔ په يوه ګوته اشاره وكړے او ابتهال (ډيره عاجزى) دا ده چه تهٔ دواړه لاسونه په يوځائے اوږده كړے او په يو روايت كى دى چه ابن عباس ﷺ وفرمايل: ابتهال (ډيره عاجزى) داسے ده او هغه دواړه لاسونه پورته كړل او د دواړو لاسونو شا طرف ئے خپل مخ طرف ته كړل۔ (ابوداودؒ)

تشريح : دا د ابن عباس ﷺ موقوف روايت دے ليکن ظاهر دا ده چه دا په منزله د مرفوع دے يعنى په سوال او دعا کى به دواړه لاسونه د اُوګو سره برابر کړے، او کله چه استغفار غواړى نو د بنى لاس يوه ګوته (مسواکئ) به پورته کوى او دا سنت طريقه ډير خلك نه پيژنى۔

شيخ بکر ابوزيدؒ وائى : چه څلورو مقاماتو کى يوه ګوته اُوچتول پکار دى وائى چه دا کار په حالت د ذکر او دعا کى په حالت د خطبه کى په منبر باندے دے او دارنګه په حالت د تشهد کى په مانځه کى دے او بهر د مانځه نه په حالت د ذکر او تمجيد او تهليل کى دے۔

او کله چه ابتهال (ډيره عاجزى او زارى) کوى نو لاسونه به التهه کړى او پورته به ئے کړى دا په هغه وخت کى چه چا سره مباهله وى يا د سخت مصيبت وخت وى۔

په عامو اوقاتو کى به په دعا کى لاسونه نهٔ التهه کوى۔

ابتهال : په اصل کى تضرع (عاجزئ) او په سوال کى مبالغه کولو ته وئيلے شى۔ (نهايه)

درجة الحديث : اسناده صحيح، ابو داود (١٤٨٩) (١٤٩٠) (١٤٩١) وقد اخرج الروايات من طريق ابى داود الضياء المقدسى فى الاحاديث المختارة بما ليس فى الصحيحين)

- 2257(35) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ يَقُوْلُ : إِنَّ رَفْعَكُمْ أَيْدِيَكُمْ بِدْعَةٌ مَا زَادَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَلٰى هٰذَا يَعْنِيْ إِلَى الصَّدْرِ. رَوَاهُ أَحْمَدُ

ترجمه : او سيدنا ابن عمر ﷺ فرمائى : يقيناً ستاسو (ډير) لاسونه پورته کول (په دعاء کى) بدعت دے رسول الله ﷺ ددے نه زيات نهٔ دى پورته کړى يعنى تر سينے پورے۔ (احمدؒ)

تشريح : دلته د لاسونو پورته کولو نه مراد زيات پورته کول دى چه د سينے او اُوګو نه ئے هم واړوى نو ابن عمر رضى الله عنهما دے کار ته بدعت ووئيلو ځکه چه دے خلکو به په اکثرو اوقاتو کى لاسونه ډير زيات پورته کول او د حالاتو او مواقعو فرق ئے نهٔ کولو نو ابن عمرؓ ورته وفرمايل چه تاسو چه هميشه دا کار کوئ چه په دعا کى د سينے نه لاسونه زيات پورته کوئ نو دا بدعت دے۔

مَا زَادَ : دا یا ابن عمر رضی الله عنهما د خپل علم مطابق خبره کوی چه نبی ﷺ د سینې نه زیات لاسونه نهٔ دی پورته کړی نو دا بیا نافی دے او نور راویان مثبتین دی لکه مخکې روایت ذکر شو نو د مثبت خبرے له به اعتبار وی۔ (ابن حجرؒ)

درجة الحديث : اسناده ضعيف، اخرجه احمد (٥٢٤٢) وفيه بشر بن حرب وهو ضعيف (مجمع الزوائد)

- 2258(36) وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ ﷺ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا ذَكَرَ أَحَدًا فَدَعَا لَهُ بَدَأَ بِنَفْسِهِ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ صَحِيْحٌ.

ترجمه : او سیدنا ابی بن کعب ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ به چه کله یو تن ذکر کولو او د هغه دپاره به ئے دعا کوله نو شروع به ئے د خپل ځان نه کوله۔ (ترمذیؒ) او امام ترمذیؒ وئیلی دی چه دا حدیث حسن غریب صحیح دے۔

تشريح : پدے روایت کی د دعا بل ادب دا راغلو چه انسان بل ته دعا کوی نو اول د ځان نه شروع پکار ده لیکن دا لازمی او دائمی ادب نهٔ دے بلکه امام بخاریؒ په خپل صحیح کی اته روایات ذکر کړیدی چه هغه پدے خبره دلالت کوی چه رسول الله ﷺ بعض صحابه کرامؓ ته دعا کړیده او خپل ځان ئے پکی نهٔ دے یاد کړے،

البته کله چه عام حالت کی دعا کوی نو ځان نه شروع پکار ده لکه چه ابراهیم ﷺ وئیلی وو : (رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ يَوْمَ يَقُوْمُ الْحِسَابُ)

او دغه شان د نوح ﷺ دعاء هم ده۔ او په قرآن کریم کی هم غالباً اول د ځان نه ابتداء شویده۔

ابن ابی شیبه کی روایت دے چه سعید بن یسارؒ وائی : زهٔ د ابن عمر رضی الله عنهما سره کیناستم نو ما یو سړے ذکر کړو او بیا مے پرے رحم وئیلو نو ابن عمرؓ زهٔ په سینه کی ووهلم او ما ته ئے ووئیل چه اِبْدَأْ بِنَفْسِكَ۔ اول ځان ته دعا کوه۔

ابن ابی شيبة (٢٩٨٣٩) وفتح الباری (١٣٧/١١)۔

د ابراهیم نخعیؒ نه نقل دی چه رسول الله ﷺ داسے وفرمایل : (يَرْحَمُنَا اللّٰهُ وَاَخَا عَادٍ) الله تعالیٰ دے په مونږ او په هود ﷺ رحم وکړی۔ (ابن ابی شيبة ٢٩٨٣٨)

درجة الحديث : اسناده صحيح، الترمذی (٣٣٨٢) وقال حديث حسن غريب صحيح وهو فی صحيح الجامع (٤٧٢٣) واصل الحديث عند مسلم فی فضائل الانبياء)

- 2259(37) وَعَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ : " مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَدْعُوْ بِدَعْوَةٍ لَيْسَ فِيهَا إِثْمٌ وَلَا قَطِيعَةُ رَحِمٍ إِلَّا أَعْطَاهُ اللهُ بِهَا إِحْدٰى ثَلَاثٍ: إِمَّا أَنْ يُعَجِّلَ لَهُ دَعْوَتَهُ وَإِمَّا أَنْ يُدَّخِرَهَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ وَإِمَّا أَنْ يَصْرِفَ عَنْهُ مِنَ السُّوْءِ مِثْلَهَا " قَالُوْا : إِذَنْ نُكْثِرَ قَالَ :" اَللهُ أَكْثَرُ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ

ترجمه : او سيدنا ابوسعيد خدری رضی الله عنه فرمائی: نبی کريم ﷺ وفرمايل: نشته يو مسلمان چه يوه دعا غواړی چه په هغې کی ګناه او صله رحمی پريکول نهٔ وی مګر الله تعالیٰ به دهٔ ته د هغې په بدله کی يو د دريے څيزونو ورکوی يا به ورله په جلتئ سره دعا قبوله کړی۔ او يا به ورله دغه دعا په آخرت کی ذخيره کړی۔ (او د هغې په بدله کی به زيات اجر ورکړی) او يا به ددهٔ نه ددے په شان تکليف واړوی۔

صحابه کرامؓ عرض وکړو : (اے د الله رسوله !) دغه وخت خو به مونږ ډيرے دعاګانے غواړو (ځکه چه مونږ ته خو د دعا ډيرے فائدے معلومے شوے) نبی کريم ﷺ وفرمايل: د الله فضل ډير زيات دے۔ (احمدؒ)

تشريح : ددے حديث نه دا معلومه شوه چه د مؤمن سړی دعا نهٔ رد کيږی مګر کله د مؤمن دپاره د دعا په قبليدو کی تاخير غوره وی يا کله الله تعالیٰ دهٔ ته د دعا په بدله کی هغه شے ورکړی چه دهٔ دپاره غوره وی فی الحال يا لږ روسته زمانه کی نو مؤمن له پکار دی چه د خپل رب نه طلب پرينږدی ځکه چه بنده دپاره لکه څنګه چه دعا طلب کول عبادت ګرځول شويدے نو دغه شان الله تعالیٰ ته تسليميدل او هغه ته کارونه سپارل هم ورله عبادت دے۔ (ابن الجوزیؒ)

مِنَ السُّوْءِ : يعنی په دين يا په دنيا کی يا په بدن کی پرے مصيبت ختميږی۔

"اَللهُ أَكْثَرُ : اَیْ اَکْثَرُ اِجَابَةً مِنْ دُعَائِكُمْ ۔ يعنی الله تعالیٰ زيات دعا قبلونکے دے ستاسو د دعاګانو نه۔ يا اَکْثَرُ ثَوَابًا۔ الله تعالیٰ زيات ثواب ورکونکے دے نو څومره چه ډيرے دعاګانے غواړئ الله تعالیٰ سره ثوابونه نهٔ ختميږی۔

درجة الحديث: اسناده صحيح، احمد (١٨/٣) والحاكم (٤٩٣/١) وصححه ووافقه الذهبي وصححه الالبانی فی صحيح الادب المفرد (٧١٠/٥٥٠)

- 2260(38) وَعَـنِ ابْـنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ "خَمْسُ دَعَوَاتٍ يُسْتَجَابُ لَهُنَّ: دَعْوَةُ الْمَظْلُوْمِ حَتّٰى يَنْتَصِرَ وَدَعْوَةُ الْحَاجِّ حَتّٰى يَصْدُرَ وَدَعْوَةُ الْمُجَاهِدِ حَتّٰى يَقْعُدَ وَدَعْوَةُ الْمَرِيْضِ حَتّٰى يَبْرَأَ وَدَعْوَةُ الْأَخِ لِأَخِيْهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ". ثُمَّ قَالَ: "وَأَسْرَعُ هٰذِهِ الدَّعَوَاتِ إِجَابَةً دَعْوَةُ الْأَخِ لِأَخِيْهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعَوَاتِ الْكَبِيْرِ

ترجمه : او سيدنا ابن عباس رضی الله عنهما د نبی کریم ﷺ ارشاد نقل کوی فرمائی: پنځه دعاګانے دی چه هغه قبلیږی: (١) د مظلوم سړی دعا تردے چه بدله واخلی۔ (٢) د حاجی دعا تردے چه (د حج نه) واپس راشی۔ (٣) او د مجاهد دعا تردے چه (د جهاد نه) کینی۔ (٤) او د مریض دعا تردے چه جوړ شی۔ (٥) او د یو ورور مسلمان بل ورور دپاره په غائبوالی کی دعا کول۔ بیائے وفرمایل: او پدے دعاګانو کی زیات جلتئ سره قبلیدونکے دعا د ورور مسلمان دعاء ده د بل ورور دپاره په غائبوالی کی۔ (بیهقیؒ)

تشریح : حَتّٰى يَقْعُدَ : پدے کی یو لفظ دے (حَتّٰى يَفْقِدَ) یعنی تردے چه د جهاد اسباب ئے ختم شی او د جهاد نه فارغ شی۔

او په یوه نسخ کی (يَقْعُدَ) دے یعنی د جهاد نه کور کی کینی او په یوه نسخه کی (حَتّٰى يَقْفُلَ) دے یعنی تردے چه راواپس شی او دا نسخه ډیره ظاهره ده۔

درجة الحديث: اسـنـاده ضعيف، البيهقی فی الدعوات الكبير) فيه عبد الرحمن بن زيد العمی وهو كذاب وابوه زيد ضعيف متماسك وقال الالبانی موضوع (الضعيفة (١٣٦٤) قلت : دون قوله دعوة المظلوم...... ودعوة الاخ بظهر الغيب فهو صحيح كما مرّ)

00000

(١) بَابُ ذِكْرِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ وَالتَّقَرُّبِ إِلَيْهِ

د الله د ذكر او هغه ته د نزدے والى بيان۔

په ذكر سره بنده الله تعالىٰ ته نزدے كيږى۔
مخكې د دعا بحث وو چه هر څنګه دعا غوارى جائز دى يعنى چه په هر لفظ وى خو كله چه دعا د شريعت خلاف نۀ وى اوس د ذكر بيان كوى۔
ذكر په دوه قسمه دے (١) ذكر كله په زړۀ سره وى چه ديته فكر وائى ذے كى هم ډير اجر دے قرآن كريم كى راغلے دے ﴿وَيَتَفَكَّرُوْنَ فِيْ خَلْقِ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ﴾ (آلعمران :١٩١)۔
(٢) دويم صرف په ژبه باندے چه زړۀ متوجه نۀ وى لكه تسبيحات او تحميدات او تهليلات په ژبه سره وائى نو دے كى هم خير شته ځكه چه انسان د غلطو خبرو نه محفوظ وى ليكن دومره اثرئے نشته۔
(٣) نو دريم ذكر دے په ژبه او زړۀ دواړو سره دا ډير غوره دے۔ البته كوم اذكار چه شريعت لازم كړيدى لكه د مانځه اذكار يا تلبيه وغيره شوه نو هغه په زړۀ كښے وئيل صحيح نۀ دى بلكه په هغے باندے تلفظ كول ضرورى دى۔
ذكر د الله تعالىٰ كله د قرآن كريم په لوستلو سره وى، كله په تسبيحاتو وئيلو سره وى او كله په دعا كولو سره وى۔ او د ذكر اطلاق كله د قرآن او حديث په تعليم او تعلم باندے هم كيږى۔ ليكن ظاهر دا دے چه پدے باب كښے د تسبيحاتو والا اذكارو فضائل بيانيږى۔ حافظ ابن القيمؒ په الوابل الصيب كښے وئيلى دى چه د ذكر د سلو نه زياتے فائدے دى بيا ئے (٧٩) فائدے ذكر كړيدى۔
علامه قاضى عياضؒ فرمائى: د زړۀ ذكر دوه قسمه دے (١) دا چه د الله په عظمت او د

هغه په جلال او جبروت او ملکوت او په آسمانونو او زمکه کی د هغه د قدرت په نخو کی فکر کول او دا د ټولو نه لوی شان والا دے او دیته په حدیث کښے الذکر الخفی وئیل شویدے (لکه هغه حدیث احمدؒ راوړیدے او هیثمیؒ په مجمع الزوائد (۸۱/۱۰) کښے سره د کلام نه ذکر کړیدے)

(۲) د الله تعالیٰ ذکر کول دی په زړهٔ سره کله چه د هغه امر او نهی راشی نو په امر باندے به عمل وکړی او د کوم شے نه چه منع شوے وی هغه پریدی او کوم شے چه ورته مشکل شی هغے کی توقف وکړی،آه۔

فائده : د بعض عارفینو نه نقل شویدی چه ذکر په اُوه قسمه دے :

(۱) د سترګو ذکر په بکاء (ژړا) سره دے (۲) د غوږونو ذکر په اصغاء (غوږ کیخودو او متوجه کیدو) سره دے۔ (۳) او د ژبے ذکر په ثناء سره دے۔

(٤) او د لاسونو ذکر په عطاء (ورکړے) سره دے۔

(٥) او د بدن ذکر په وفاء (وفادارئ او د الله د حکمونو په عملی کولو) سره دے۔

(٦) او د زړونو ذکر په خوف او رجاء (یره او امید ساتلو) سره دے۔

(۷) او د روح ذکر په تسلیم او رضاء (یعنی الله تعالیٰ ته تسلیمیدو او د هغه په فیصله باندے راضی کیدو) سره دے۔

الفصل الأول

- 2261(1) عَنْ أَبِیْ هُرَيْرَةَ وَأَبِیْ سَعِيْدٍ رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَا : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : "لَا يَقْعُدُ قَوْمٌ يَذْكُرُوْنَ اللهَ إِلَّا حَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وَنَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِيْنَةُ وَذَكَرَهُمُ اللهُ فِيْمَنْ عِنْدَهُ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : سیدنا ابو هریره او ابو سعید رضی الله عنهما فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: نهٔ کینی څه خلك چه الله یاد کړی مګر ملائك د هغوی نه ګیره اچوی او رحمت هغوی لره پټوی او په هغوی باندے سکینه (آرام) نازلیږی او الله تعالیٰ هغوی لره د هغه ملائکو په مجلس کی یادوی چه د الله تعالیٰ سره دی۔ (مسلمؒ)

تشریح : په بل روایت کی یو بل فضیلت داسے راغلے دے چه په آخر کی دے مجلس

والو ته يو ملائك آواز كوى: (أَنْ قُومُوا مَغْفُورًا لَكُمْ قَدْ بُدِّلَتْ سَيِّئَاتِكُمْ حَسَنَاتٍ) (مسند احمد ١٢٤٧٦) تاسو ددے مجلس نه پاڅيږئ تاسو ته بخنه وكړے شوه او ستاسو گناهونه په نيكيو بدل شو۔ او روستو روايت راځى چه الله تعالىٰ فرمائى: ما د جهنم نه بچ كړل او جنت مے ورله وركړو۔

د مجالس الذكر نه څه مراد دے؟

بيا د مجالس الذكر نه څه مراد دے ؟ نو د احاديثو نه معلوميږى چه مجلس الذكر يو ديته وائى چه خلك په صف كې ناست وى او هر ملگرے ځانله ذكر كوى لكه مانځه له خلك راشى او هر څوك ځانله ځانله پټ پټ ذكر كوى د مانځه په انتظار كې وى۔ د صحابه كرامؓ به يوه طريقه دا وه۔

دويم مجلس الذكر نه مراد هغه دے چه يو تن خبره كوى او نور ملگرى الله تعالىٰ ته متوجه كوى يعنى د دين خبرى وكړى او تعليم او تعلم وكړى او كله په مجلس كې يو تن تلاوت كوى او نور ورته غوږ كيدى او پدے سره ايمان زيات شى۔ لكه عبد الله بن رواحهؓ به ملگرو ته وئيل: [إِجْلِسُوا بِنَا نَزْدَدْ إِيمَانًا] (شعب الايمان رقم: ٤٤)

راځئ چه لږ كينو چه ايمان مو زيات شى۔

او عمر فاروق ﷺ به كله ابو موسى اشعرى رضى الله عنه ته وويل: (ذَكِّرْنَا رَبَّنَا) مونږ ته خپل رب راياد كړه نو هغهٔ به د قرآن تلاوت شروع كړو۔

(صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان: ٧١٩٦)۔

او د صوفياؤ د ذكر مجلسونه په هيڅ حديث كې نهٔ دى ثابت چه په يو ځاى راجمع شى او هُوْ هو كوى او سرونه خوزوى او كله جذبه كې راشى ځان يو خوا بل خوا غورزوى بلكه دا د بدعاتو نه دى او دا د دين پورے خندا ده۔

او غزالىؒ چه وئيلى دى چه هُوْ هُوْ د اخص الخواصو ذكر دے او (الله الله) د خواصو او (سبحان الله والحمد لله) تسبيحات د عوام ذكر دے نو دا يوه غلطه بى دليله خبره ده بلكه شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله فرمايلى دى چه په يو اځے (الله، الله) وئيلو سره كله شيطان انسان ته وسوسه اچوالى څكه چه الله، الله مفردات دى، ډير مطلبونه ترے اخستلے شى نو شيطان به ورته د الله په باره كې وسوسه واچوى او گمراه به ئے كړى نو په شرعى

اذكارو باندې عمل پكار دې.

حَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ : يعنى ملائك راكوزيږي او د دوى نه ګير چاپيره كيني، پدې كې ددې مجلس والو ډير اُوچت شان دې او الله تعالىٰ ته داسې مجلسونه ډير خوښ دى ځكه ملائكو ته دا حكم كوى چه دوى ورشى او دغه ذكر واورى.

وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ: يعنى دوى باندې پرله پسې د الله رحمتونه راروان وى تردې چه پكى پټ شى لكه څنګه چه بدن په جامه كې پټيږى.

السَّكِينَةُ : يعنى دوى باندې به اطمينان او وقار نازليږى ځكه چه د الله په ذكر سره زړونو ته اطمينان ملاويږى، شيخ الاسلام ابن القيم رحمه الله فرمائى : سكينه په اصل كى هغه اطمينان او وقار او سكون ته وائى چه الله تعالىٰ ئې د خپل بنده په زړهٔ باندې نازلوى په هغه وخت كى چه كله د هغه زړه په سختو يرو سره پريشانه شى نو بيا ددې نه روستو نهٔ پريشانه كيږى او زړه كې ئې ايمان زيات شى او يقين او استقامت ئې مضبوط شى ددې وجه نه الله تعالىٰ د سكينه لفظ په هغه مقاماتو كښې ذكر كړيدې چه هلته كى د زړه پريشانى او يره وى لكه په واقعه د هجرت كى او حنين او اُحد او حديبيه وغيره كښې،

بيا حافظ ابن القيمؒ په "مدارج السالكين" كښې د سكينه او د طمانينه (اطمينان) فرق ذكر كړيدې چه سكينه هغه حملې ته وائى چه په زړهٔ كښې كوم هيبت حاصل شوې وى هغه مړ كړى او دا په بعض اوقاتو كښې كيږى، دائمى نهٔ وى او دا حالت د اطمينان والو دپاره هميشه وى چه د هغوى زړهٔ نه هيبت وتلې وى او امن او انس او استراحت ورته حاصل وى.

دويم فرق دا دې چه سكينه هغه صفت دې چه كله هميشه وى او كله زائله كيږى وخت په وخت حاصليږى او طمانينه د خپل صاحب نه نهٔ جدا كيږى.

او دريم فرق دا دې چه سكينه په منزله د هغه چا دې چه دشمن ورته مخامخ شى چه دا ترې د تيښتې اراده لرى نو ناڅاپه ددهٔ نه دشمن وتښتى نو ددهٔ روح په آرام شى او طمانينه په منزله د هغه قلعه ده دې ئې وينى چه كولاوه ده نو هغې ته ورداخل شى او په امن كى شى او په خپلو دوستانو او سامانو باندې مضبوط شى. نو طمانينه كى معنىٰ زياته ده د سكينه نه.

بيا په (لَا يَقْعُدُ قَوْمٌ) كې ئې ځائے او مقام نۀ دے ذكر كړے نو دا شامليږي مسجد، مدرسه او كور ټولو ته چه د الله تعالىٰ ذكر پكې كيدے شي او درس او تدريس او ديني احكام پكې بيانيږي.

- 2262(2) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَسِيْرُ فِي طَرِيْقِ مَكَّةَ فَمَرَّ عَلٰى جَبَلٍ يُقَالُ لَهٗ: جُمْدَانُ فَقَالَ: " سِيْرُوْا، هٰذَا جُمْدَانُ سَبَقَ الْمُفَرِّدُوْنَ ". قَالُوْا: وَمَا الْمُفَرِّدُوْنَ؟ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ: " اَلذَّاكِرُوْنَ اللهَ كَثِيْرًا وَالذَّاكِرَاتُ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷺ وفرمايل: رسول الله ﷺ د مكے په لاره روان وو نو په يو غر باندے ورتير شو چه هغے ته ئے جُمدان وئيلو. نو وے فرمايل: روان شئ دا جمدان غر دے، (ياد ساتئ) مفردون خلك مخكې شول. صحابه كرامو عرض وكړو: اے د الله رسوله! مفردون چا ته وائى؟ وے فرمايل: هغه سړى چه الله تعالىٰ ډير يادوى او هغه زنانه چه الله تعالىٰ ډير يادوى. (مسلمؒ)

تشريح : فِي طَرِيْقِ مَكَّةَ: دا يا مكے ته تلو يا مدينے ته راواپس كيدو.

جُمْدَانُ : دا غر د مدينے نه د يوے ورځے په فاصله وړاندے دے.

هٰذَا جُمْدَانُ : دا ئے وويل چه دا جمدان غر دے نو پدے كې اشاره ده چه دا سره د جماديت نه د الله تعالىٰ په ذكر باندے پوهيږي او خوشك چه په غر باندے تير شي او د الله تعالىٰ ذكرئے كړے وي نو دغه غر ډيره خوشحالي كوي لكه دا د ابن مسعود ﷺ نه نقل دي چه يو غر بل غر ته آواز كوي چه آيا په تا باندے څوك تير شوے چه د الله ذكرئے كړے وي نو كله چه ورته هغه آؤ ووائى نو خوشحاله شي.

(طبراني ورجاله رجال الصحيح -هيثمي)

اَلْمُفَرِّدُوْنَ : يعني هغه خلك چه ځان يواځې كونكي وي د نورو ملګرو نه په ذكر او عبادت سره.

نو پدے كې ئے صحابه كرامو ته ترغيب وركړو چه په لاره باندے ذكر وكړئ چه آخرت دپاره څه جمع كړئ.

كَثِيْرًا : د ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل دي چه د مانځه نه روستو او د صبا او د

مابنام، او د اُوده کیدو او کیناستو او پاڅیدو او د کورنه د وتلو او ننوتو ذکرونه کوی۔

(او دغه شان په احادیثو کښې چه منقول د نورو مواقعو ذکرونه څوك کوی) هغهٔ ته د (اَلذَّاكِرُوْنَ اللهَ كَثِيْرًا) درجه حاصليږی۔ يعنی دغه خلك د الله په نيز الله ډير يادونکی دی۔

عطاء وائی: څوك چه پنځه وخته مونځ کوی سره د حقوقو د هغې نه نو دا پکی داخل دے۔

مجاهد وائی: چه د الله تعالیٰ ذکر په ولاړه او په ناسته او په تکيه سره کوی دا پکی داخليږی۔ (النووی فی الاذکار)

- 2263(3) وَعَنْ أَبِیْ مُوْسٰی ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " مَثَلُ الَّذِیْ يَذْكُرُ رَبَّهٗ وَالَّذِیْ لَايَذْكُرُ مَثَلُ الْحَيِّ وَالْمَيِّتِ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او سیدنا ابوموسیٰ اشعری ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمايل: مثال د هغه سړی چه خپل رب يادوی او هغه شخص چه نهٔ ئې يادوی په شان د ژوندی او د مړی دے۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشريح: يعنی ذکر د ذاکر د زړه ژوند دے او د الله د ذکر نه غفلت د زړه مرګ دے او لکه څنګه چه ژوندے انسان د ژوند نه فائده اخستے شی نو دغه شان ذکر کونکے د خپل عمل نه فائده اخستے شی، او په دے کی د ذاکر دپاره لوی فضيلت او منقبت ذکر دے چه حقيقی ژوندے ئې دهٔ ته وئيلے دے او غافل انسان اګرکه ذاتی ژوند ئې شته چه روح ئې په بدن کی موجود دے ليکن د الله په نيز باندے هغه ژوند د نهٔ ژوند په شان دے چه هيڅ فائده ورته نهٔ ورکوی۔

- 2264(4) وَعَنْ أَبِیْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " يَقُوْلُ اللهُ تَعَالٰی: أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِیْ بِیْ وَأَنَا مَعَهٗ إِذَا ذَكَرَنِیْ فَإِنْ ذَكَرَنِیْ فِیْ نَفْسِهٖ ذَكَرْتُهٗ فِیْ نَفْسِیْ وَإِنْ ذَكَرَنِیْ فِیْ مَلَإٍ ذَكَرْتُهٗ فِیْ مَلَإٍ خَيْرٍ مِنْهُمْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او سیدنا ابو هريره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالیٰ فرمائی: زهٔ د خپل بنده د ګمان سره يم کوم چه په ما باندے کوی او زهٔ د هغه سره يم کله چه هغه ما يادوی نو که هغه ما د خپل ځان سره يادوی نو زهٔ ئې هم د خپل ځان سره يادوم او که هغه ما د خلکو په يوه ډله کی يادوی نو زهٔ هغه په داسے ډله کی يادوم چه د دوی نه

غوره دی۔ (یعنی ملائك) (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِيْ بِيْ : (زهٔ د خپل بنده د ګمان سره یم) مطلب دا دے چه زما بنده په ما باندے څنګه ګمان کوی زهٔ به د هغه دپاره همغه شان یم او همغه معامله به ورسره کوم چه د کوم توقع او ګمان لری، که هغه ما نه د معافئ امید لری نو معافی به ورکوم او که زما د عذاب ګمان لری نو عذاب به ورکوم او که دا ګمان کوی چه الله به ما ته په آسانئ رزق راکوی نو په آسانئ به ئے ورکوم او که ما نه دیو سبب په وجه رزق طلب کوی نو زهٔ ورله په هغه سبب رزق ورکوم۔

لیکن ددے سره دا خبره هم یاد ساتل پکار دی چه هسے بنه امید به هله فائده ورکوی چه بنده عمل کوی او که یو انسان عمل نهٔ کوی او د الله تعالیٰ نه اُوچتے مرتبے غواړی نو دا بے فائدے ګمان دے۔ او ددے حدیث مطلب دا دے چه د الله تعالیٰ په رحمت او کرم باندے د هغهٔ د عذاب نه امید زیات لرل پکار دی۔

حسن الظن بالله ډیر لوی عبادت دے لکه په الفوائد (٣) کښے ددے په باره کی ډیره ډیره مهمه فائده ذکر ده۔

فِيْ نَفْسِيْ : د نفس نه مراد ذات دے او د الله تعالیٰ نفس شته څنګه چه د هغه د شان سره لائق وی۔ بیا الله تعالیٰ چه بنده د ځان سره یادوی پدے کی څه فائده ده ؟

نو فائده ئے غوره والے ددے بنده دے چه دهٔ دپاره الله تعالیٰ داسے نعمتونه او ثوابونه تیار کړیدی چه هغه ملأ اِعلیٰ ته هم نهٔ دی معلوم، د هغے علم صرف الله تعالیٰ سره دے۔ او بل د الله تعالیٰ مدد به ورسره وی۔

- 2265(5) وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍّ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" يَقُوْلُ اللهُ تَعَالٰى : مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ أَمْثَالِهَا وَأَزِيْدُ وَمَنْ جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَجَزَاءُ سَيِّئَةٍ مِثْلُهَا أَوْ أَغْفِرُ وَمَنْ تَقَرَّبَ مِنِّيْ شِبْرًا تَقَرَّبْتُ مِنْهُ ذِرَاعًا وَمَنْ تَقَرَّبَ مِنِّيْ ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ مِنْهُ بَاعًا وَمَنْ أَتَانِيْ يَمْشِيْ أَتَيْتُهٗ هَرْوَلَةً وَمَنْ لَقِيَنِيْ بِقُرَابِ الْأَرْضِ خَطِيْئَةً لَا يُشْرِكُ بِيْ شَيْئًا لَقِيْتُهٗ بِمِثْلِهَا مَغْفِرَةً ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سیدنا ابو ذر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالیٰ فرمائی : چا چه یوه نیکی وکړه نو د هغه دپاره به لس چنده ثواب وی او ددے نه زیات هم ورکوم۔ او

چا چه يوه ګناه وکړه نو د ګناه سزا به د هغې برابر وي يا هغه معاف كوم او چا چه ما ته خپل ځان يو لويشت رانزدې کړو زۀ به هغه ته يو ګز نزدې كيږم او څوك چه ما ته يو ګز نزدې كيږي زۀ به هغه ته يوه وازه نزدې كيږم او څوك چه ما ته راشي چه پياده راروان وي زۀ هغه ته په منډه سره راځم او څوك چه د ګناهونو نه په ډكوالي د زمكه ما سره ملاؤ شي (يعني دومره زيات ګناهونه ئې كړي وي چه زمكه ئې ډكه كړي وي) چه ما سره ئې هيڅ شې نۀ وي شريك كړې نو زۀ به هغه سره د هغې په شان په بخنه ملاؤ شم. (يعني زۀ به ورته ټول ګناهونه معاف كړم) (مسلمٌ)

تشريح : أَتَانِيْ : الله تعالىٰ ته د ورتللو معنىٰ دا چه د الله تعالىٰ حكم ته هر ځاى كى حاضر وي او الله تعالىٰ چه كوم ځاى ته د راتللو حكم كړيدې نو دې د هغې نه روستو نۀ پاتې كيږي. او په الله تعالىٰ كى رغبت لري او د هغه ذكر سره محبت لري.

بَاعًا: (وازه)، د دواړو لاسونو فراخوالي ته وائي.

هَرْوَلَةً : منډې ته وائي او دې حديث ته حديث الصفات وائي او دا په ظاهر باندې بناء دې او ګز او وازه نزدې كيدل او په منډه راتلل دا د الله تعالىٰ صفات دي او ددې په ظاهر باندې به ايمان لرلے شي او پدې كى تاويل ته ضرورت نشته دا د نزول او مجئ په شان صفات دي او ليس كمثله شيء وهو السميع البصير.

بِقُرَابِ الْأَرْضِ : قراب اَیْ مَا يُقَارِبُ مِلْأَهَا. يعني ډكوالي د زمكې. (جزريؒ)

لَقِيْتُهُ : دا حديث هم ډير د اميد حديث دې چه كله الله تعالىٰ وغواړي نو بنده ته ټول ګناهونه معاف كولے شي خو چه شرك ئې نۀ وي كړې.

مګر بنده له پدې باندې دهوكه كيدل نۀ دي پكار چه دې په ګناهونو كى نور ورننوزي او بيا وائي چه ما ته به الله تعالىٰ د ګناهونو په اندازه بخنه كوي بلكه دا ئې ددې دپاره وئيلے دې چه ګناهكار خلك د الله تعالىٰ د رحمت نه نا اميده نۀ شي اګركه د الله تعالىٰ مغفرت او رحمت د هر شي نه ډير دې. ليكن عمداً ګناه نۀ ده پكار او چه وشي بيا نا اميده كيدل نۀ دي پكار.

- 2266(6) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " إِنَّ اللهَ تَعَالٰى قَالَ: مَنْ عَادٰى لِيْ وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهٗ بِالْحَرْبِ وَمَا تَقَرَّبَ إِلَيَّ عَبْدِيْ بِشَيْءٍ أَحَبَّ إِلَيَّ مِمَّا افْتَرَضْتُ

عَلَيْهِ وَمَا يَزَالُ عَبْدِىْ يَتَقَرَّبُ إِلَىَّ بِالنَّوَافِلِ حَتّٰى أُحِبَّهُ فَإِذَا أَحْبَبْتُهُ كُنْتُ سَمْعَهُ الَّذِىْ يَسْمَعُ بِهِ وَبَصَرَهُ الَّذِىْ يُبْصِرُ بِهِ وَيَدَهُ الَّتِىْ يَبْطِشُ بِهَا وَرِجْلَهُ الَّتِىْ يَمْشِىْ بِهَا وَإِنْ سَأَلَنِىْ لَأُعْطِيَنَّهُ وَلَئِنِ اسْتَعَاذَنِىْ لَأُعِيْذَنَّهُ وَمَا تَرَدَّدْتُ عَنْ شَىْءٍ أَنَا فَاعِلُهُ تَرَدُّدِىْ عَنْ نَفْسِ الْمُؤْمِنِ يَكْرَهُ الْمَوْتَ وَأَنَا أَكْرَهُ مَسَاءَتَهُ وَلَا بُدَّ لَهُ مِنْهُ ". رَوَاهُ الْبُخَارِىُّ

ترجمه: او سیدنا ابو هریره ﷛ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : یقیناً الله تعالیٰ فرمائی : چا چه زما د یو دوست سره دشمنی وکړه نو یقیناً ما هغه ته د جنګ اعلان کړیدے، او بنده ما ته خپل ځان نهٔ شی رانزدے کولے په هغه شی سره چه هغه زما په نیز ډیر محبوب وی د هغے نه چه ما په دهٔ باندے فرض کړیدی (یعنی بنده ما ته په فرائضو ادا کولو باندے ډیر رانزدے کیږی) او همیشه به وی یو بنده چه ما ته به خپل ځان په نوافلو سره رانزدے کوی تردے چه زهٔ به ورسره مینه وکړم نو کله چه زهٔ ورسره مینه وکړم نو زهٔ به دهٔ غوږ شم هغه چه دے پرے آوریدل کوی او دهٔ نظر هغه چه دے پرے لیدل کوی او دهٔ هغه لاس چه دے پرے رانیول کوی او دهٔ هغه خپه چه دے پرے مزل کوی او که دے ما نه څه غواړی خامخا به ئے ورکوم او که دے ما پورے (د یو ضرری خیز نه) پناهی غواړی، خامخا زهٔ به پناه ورکوم او د کوم کار چه زهٔ کونکے یم په هغے کی ما داسے تردد نهٔ دے کړے لکه څنګه چه زهٔ د مؤمن بنده د روح په اخستو کی تردد کوم، (ځکه) چه هغه مرګ بد ګنړی او زهٔ د هغه خفه کول بد ګنړل او حال دا چه دهٔ دپاره هغه ضروری دے۔ (بخاریؒ)

تشریح : وَلِيًّا : د ولی نه مراد هغه شخص دے چه الله تعالیٰ او د هغه حقوق پیژنی او د هغه په طاعت کی مصروف وی او د هغه په بندګئ کی اخلاص کوی نو پدے معنیٰ باندے هر مؤمن بنده د الله تعالیٰ ولی دے۔

مِمَّا افْتَرَضْتُ عَلَيْهِ : یعنی په فرائضو باندے بنده الله تعالیٰ ته ډیر نزدے کیږی ځکه چه فرائض د الله تعالیٰ امر دے او د هغه امر منلو سره بنده د الله تعالیٰ محبوب ګرځی۔

كُنْتُ سَمْعَهُ : ددے نه بعض وحدة الوجود والا غلطه فائده اخستے ده او دا ئے وئیلی دی چه بنده نه کله الله جوړیږی او الله تعالیٰ په بنده کی داخلیږی۔ دا د مجرمانو مطلب دے

بلکه حافظ ابن حجرؒ وغیره علماؤ ددې حدیث اوه اته معانی ذکر کړیدی

بعض دا دی: (١) دا په طریقه د مثال باندې وئیلې شویدې او معنیٰ دا ده چه زۀ به ددۀ غوږ او سترګه شم چه زما حکم به غوره کوی او زما طاعت او خدمت به خوښوی لکه څنګه چه خپل دا اندامونه خوښوی۔

(٢) دویم دا چه ددۀ ټول بدن به په ما باندې مشغول وی نو دې به په غوږ سره صرف هغه شې آوری چه زۀ پرې راضی کیږم او په سترګو به نۀ ګوری مګر هغه شې چه ما پرې دۀ ته حکم کړې وی او په لاس به نۀ رانیسی مګر هغه شې چه دۀ له حلال دې او په خپو به نۀ ځی مګر صرف زما طاعت طرفته۔

(٣) كُنْتُ لَهٗ فِي النُّصْرَةِ كَسَمْعِهٖ وَبَصَرِهٖ وَيَدِهٖ وَرِجْلِهٖ فِي الْمُعَاوَنَةِ عَلٰى عَدُوِّهٖ۔

زۀ به دۀ دپاره په مدد کی داسې شم لکه ددۀ غوږ، سترګه، لاس او خپه چه ددۀ سره د دشمن په مقابله کی مدد کوی۔

(٤) خطابیؒ وائی: په دې کی اشاره ده چه ددۀ دعا به زر قبلیږی او مطلوب به ورته زر حاصلیږی ځکه چه د انسان ټول کوشش په دې اندامونو سره وی۔

(٥) خطابیؒ دا هم وائی: دا مثالونه دی او معنیٰ دا ده چه الله تعالیٰ به دې بنده ته په هغه اعمالو کی توفیق ورکوی کوم چه په دې اندامونو سره کوی یعنی دا اندامونه به ورلره په خیر کی استعمالوی او د شر او منکراتو نه به ئې ساتی۔

(٦) فاکهانیؒ او ابن هُبیرهؒ وائی: دلته مضاف حذف دې (كُنْتُ حَافِظَ سَمْعِهٖ وَبَصَرِهٖ الخ) زۀ به ددۀ د غوږ او سترګې او لاسونو او خپو حفاظت کونکې جوړ شم۔

(٧) طوفیؒ وائی: دا مجاز او کنایه ده د نصرت د بنده او د تائید او د اهتمام د هغه نه ګویا که الله تعالیٰ خپل ځان د بنده نه داسې ګرځوی لکه په منزله د هغه اندامونو چه دې پرې مدد حاصلوی۔ یعنی زۀ به ئې په منزله د اندامونو شم نو ټول کارونه به ئې سم وی۔

نو په دې کی د حلولیه او اتحادیه دپاره هیڅ دلیل نشته ځکه چه روستو الفاظو ته وګوره [وَلَئِنْ سَأَلَنِيْ، وَلَئِنِ اسْتَعَاذَنِيْ] دا په دوی باندې صریح رد دې ځکه که الله تعالیٰ په بنده کی حلول کولې یا ورسره متحد کیدلې نو بیا سوال او استعاذه د چا نه کولې شی معلومیږی چه الله تعالیٰ جدا ذات دې او بنده جدا دې، بنده سائل او الله تعالیٰ مسؤول

دے او بنده مستعيذ او الله تعالىٰ مستعاذ دے۔
دارنګه په اول د حديث کې ئے وفرمايل: [وَمَا تَقَرَّبَ اِلَیَّ عَبْدِیْ] نو عبد او معبود جدا جدا دي۔
وَمَا تَرَدَّدْتُّ عَنْ شَیْءٍ : دے باندے بعض خلکو دا اشکال کړيدے چه د مومن د روح د اخستو په وخت کې په الله تعالىٰ باندے څنګه تردد راشي ځکه چه تردد خو عدم العلم بعواقب الامور ته وائي يعني چه يو ذات د څيزونو په انجام خبر نهٔ وي شکې وي چه آيا پدے کار کې به ضرر وي او که فائده او بنده دپاره به کوم شے فائده مند وي؟ او دا خو د الله په باره کې نشي کيدے او الله تعالىٰ خو عليم بکل شیء دے۔
(۱) ددے ښه وضاحت شيخ الاسلام ابن تيميهؒ په اتلسم جلد د مجموعة الفتاوی (۱۲۹/۱۸) کې کړيدے هغه فرمائي: د تردد يوائې دغه تفسير نهٔ دے بلکه يو بل تفسير ئے هم شته او هغه دا چه يو ذات ته دا يقيني معلومه ده چه پدے کار کې فائده هم شته او ضرر هم نو دغه کار چه کوي نو په تردد سره ئے کوي ځکه چه هغه ئے د فائدے دپاره کوي ليکن ضرر ورسره په ضمن کې راځي نو دلته هم دغه شان ده چه الله په تقدير کې ددے بنده دپاره مرګ ليکلے دے نو الله خو به دا کار خامخا کوي ځکه چه الله تعالىٰ خپل تقدير نهٔ بدلوي ليکن ددے مرګ سره يو ضرر په ضمن کې راځي چه هغه ددے بنده خفګان دے ځکه چه بنده په مرګ باندے خفه کيږي او الله ددے مؤمن خفګان بد ګڼري ځکه چه دا يو داسے شخص دے چه د الله تعالىٰ دوست جوړ شويدے نو الله چه پدے بنده مرګ راولي نو خفګان ئے هم شته او بل طرفته دهٔ دپاره نعمتونه تيار دي نو ددے نه ئے تعبير په تردد سره کړيدے۔ يعني من وجه ددهٔ مرګ بد ګڼري او من وجه ئے محبوب دے ځکه چه روستو ورله زيات خيرونه ورکوي،
بيا وائي دا معنىٰ په ټولو هغه نيکو اعمالو کې شته چه بنده ئے اراده لري ځکه چه دغه عملونه من وجه په نفس باندے ګران وي ليکن من وجه محبوب وي ځکه چه پدے باندے ډيرے غوره نتيجے مرتبے وي۔ نو دغه شان الله تعالىٰ ددے خپل محبوب بنده محبوب شے خوښوي او ددهٔ مکروه او بد ګڼړلے شوے شے بد ګڼري ځکه چه هغه نهٔ خوښوي چه خپل بنده خفه کړي نو ددے نه دا خبره لازميږي چه الله تعالىٰ به د بنده مرګ بد ګڼري ځکه چه دهٔ ته ژوند محبوب دے۔

نو باری تعالیٰ به د تقدیر او قضاء د وجه نه اراده د مرګ لری لیکن ددے سره به دا بد هم ګڼړی د وجه د خفګان د بنده نه.

او همدا حقیقت د تردد دے چه یو شے مراد هم شي من وجه او مکروه هم شي من وجه، اګرکه یو جانب ته به ترجیح ورکول ضروری وی لکه دلته ئے مرګ جانب ته ترجیح ورکړه اګرکه د بنده خفګان هم شته ځکه چه په مرګ کی ئے فائده زیاته ده. آه.

(٢) بعض وائي: دلته د تردد نه مراد د استازو (ملائکو) واپس کول دی یعنی مَا رَدَدْتُ رُسُلِيْ فِيْ شَيْءٍ اَنَا فَاعِلُهٗ كَتَرْدِيْدِيْ اِيَّاهُمْ فِيْ نَفْسِ الْمُؤْمِنِ)

یعنی ما خپل استازی ملائك نهٔ دی راواپس کړی په یو کار کی چه زهٔ ئے کوم لکه څنګه چه زهٔ خپل استازی راواپس کوم په باره د روح د مؤمن کی ځکه چه الله تعالیٰ په مؤمن باندے ډیر لطف او رحمت او شفقت والا دے لکه څنګه چه په قصه د موسیٰ علیه السلام کی راغلی دی چه هغه د ملك الموت مخ په څپیړه وهلے وو او الله تعالیٰ ورته دوباره راواپس کړو چه د موسیٰ نه روح واخلی.

(خطابیؒ) (کما فی حدیث البخاری: ١٣٣٩)

(٣) او ابن الجوزیؒ ددے نه داسے تعبیر کوی چه دا تردد د ملائکو دے کوم چه روح د مؤمن اخلی یعنی ملائك د مؤمن د روح په اخستو کی ډیر پریشانه وی ځکه چه ګوری چه دا خو د الله تعالیٰ محبوب دے او مرګ بد ګڼړی لیکن دهٔ دپاره نعمتونه تیار دی.

(٤) یا د تردد نه مراد دا دے چه الله تعالیٰ د مؤمن روح په آرام او تدریج سره اخلی په خلاف د نورو کارونو نه ځکه چه نور کارونه په (کُنْ) سره په یو ځل باندے حاصلیږی او مؤمن نه په آرام سره روح اخلی دے دپاره چه په دهٔ باندے راحت راولی - (کرمانیؒ)

(٥) بعض علماء وائی چه حقه دا ده چه پدے باندے ایمان ولرلے شی په هغه طریقه چه د الله تعالیٰ د عظمت او شان سره لائق وی او ددے کیفیت الله تعالیٰ ته وسپارلے شی نو دے مخکنو تاویلاتو ته به ضرورت رانشی. والله اعلم ویرجع للتفصیل مرعاة المفاتیح (٣٩٢/٨).

- 2267 (7) وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " اِنَّ لِلّٰهِ مَلَائِكَةً يَطُوْفُوْنَ فِي الطُّرُقِ

يَلْتَمِسُوْنَ أَهْلَ الذِّكْرِ فَإِذَا وَجَدُوْا قَوْمًا يَذْكُرُوْنَ اللهَ تَنَادَوْا: هَلُمُّوْا إِلٰى حَاجَتِكُمْ " قَالَ : "فَيَحُفُّوْنَهُمْ بِأَجْنِحَتِهِمْ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا " قَالَ : " فَيَسْأَلُهُمْ رَبُّهُمْ وَهُوَ أَعْلَمُ بِهِمْ: مَا يَقُوْلُ عِبَادِيْ ؟ " قَالَ: " يَقُوْلُوْنَ : يُسَبِّحُوْنَكَ وَيُكَبِّرُوْنَكَ وَيَحْمَدُوْنَكَ وَيُمَجِّدُوْنَكَ" قَالَ :" فَيَقُوْلُ : هَلْ رَأَوْنِيْ ؟ " قَالَ:" فَيَقُوْلُوْنَ :لَا وَاللهِ مَا رَأَوْكَ" قَالَ فَيَقُوْلُ : كَيْفَ لَوْ رَأَوْنِيْ ؟ قَالَ : " فَيَقُوْلُوْنَ :لَوْ رَأَوْكَ كَانُوْا أَشَدَّ لَكَ عِبَادَةً وَأَشَدَّ لَكَ تَمْجِيْدًا وَأَكْثَرَ لَكَ تَسْبِيْحًا" قَالَ :" فَيَقُوْلُ: فَمَا يَسْأَلُوْنَ ؟ قَالُوْا: يَسْأَلُوْنَكَ الْجَنَّةَ " قَالَ : " يَقُوْلُ : وَهَلْ رَأَوْهَا ؟" قَالَ :" فَيَقُوْلُوْنَ: لَا وَاللهِ يَا رَبِّ مَا رَأَوْهَا " قَالَ:" فَيَقُوْلُ: فَكَيْفَ لَوْ رَأَوْهَا ؟" قَالَ:" يَقُوْلُوْنَ: لَوْ أَنَّهُمْ رَأَوْهَا كَانُوْا أَشَدَّ حِرْصًا وَأَشَدَّ لَهَا طَلَبًا وَأَعْظَمَ فِيْهَا رَغْبَةً قَالَ: فَمِمَّ يَتَعَوَّذُوْنَ ؟ " قَالَ: " يَقُوْلُوْنَ :مِنَ النَّارِ " قَالَ:" يَقُوْلُ: فَهَلْ رَأَوْهَا ؟" قَالَ: يَقُوْلُوْنَ : "لَا وَاللهِ يَا رَبِّ مَا رَأَوْهَا" قَالَ : " يَقُوْلُ : فَكَيْفَ لَوْ رَأَوْهَا ؟ " قَالَ:" يَقُوْلُوْنَ لَوْ رَأَوْهَا كَانُوْا أَشَدَّ مِنْهَا فِرَارًا وَأَشَدَّ لَهَا مَخَافَةً" قَالَ :" فَيَقُوْلُ: فَأُشْهِدُكُمْ أَنِّيْ قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ " قَالَ: " يَقُوْلُ مَلَكٌ مِنَ الْمَلَائِكَةِ : فِيْهِمْ فُلَانٌ لَيْسَ مِنْهُمْ إِنَّمَا جَاءَ لِحَاجَةٍ قَالَ: هُمُ الْجُلَسَاءُ لَا يَشْقٰى جَلِيْسُهُمْ ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

وَفِيْ رِوَايَةِ مُسْلِمٍ قَالَ :" إِنَّ لِلّٰهِ مَلَائِكَةً سَيَّارَةً فُضُلًا يَبْتَغُوْنَ مَجَالِسَ الذِّكْرِ فَإِذَا وَجَدُوْا مَجْلِسًا فِيْهِ ذِكْرٌ قَعَدُوْا مَعَهُمْ وَحَفَّ بَعْضُهُمْ بَعْضًا بِأَجْنِحَتِهِمْ حَتّٰى يَمْلَأُوْا مَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَإِذَا تَفَرَّقُوْا عَرَجُوْا وَصَعِدُوْا إِلَى السَّمَاءِ قَالَ: فَيَسْأَلُهُمُ اللهُ وَهُوَ أَعْلَمُ: مِنْ أَيْنَ جِئْتُمْ ؟ فَيَقُوْلُوْنَ: جِئْنَا مِنْ عِنْدِ عِبَادِكَ فِي الْأَرْضِ يُسَبِّحُوْنَكَ وَيُكَبِّرُوْنَكَ وَيُهَلِّلُوْنَكَ وَيُمَجِّدُوْنَكَ وَيَحْمَدُوْنَكَ وَيَسْأَلُوْنَكَ قَالَ: وَمَاذَا يَسْأَلُوْنِيْ ؟ قَالُوْا: يَسْأَلُوْنَكَ جَنَّتَكَ قَالَ: وَهَلْ رَأَوْا جَنَّتِيْ؟ قَالُوْا: لَا أَيْ رَبِّ ! قَالَ: وَكَيْفَ لَوْ رَأَوْا جَنَّتِيْ ؟ قَالُوْا : وَيَسْتَجِيْرُوْنَكَ قَالَ:وَمِمَّ يَسْتَجِيْرُوْنِيْ ؟ قَالُوْا: مِنْ نَارِكَ قَالَ: وَهَلْ رَأَوْا نَارِيْ ؟ قَالُوْا: لَا. قَالَ: فَكَيْفَ لَوْ رَأَوْا نَارِيْ ؟ قَالُوْا: يَسْتَغْفِرُوْنَكَ " قَالَ : " فَيَقُوْلُ : قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ فَأَعْطَيْتُهُمْ مَا سَأَلُوْا وَأَجَرْتُهُمْ مِمَّا اسْتَجَارُوْا " قَالَ:" يَقُوْلُوْنَ: رَبِّ فِيْهِمْ فُلَانٌ عَبْدٌ خَطَّاءٌ وَإِنَّمَا مَرَّ فَجَلَسَ مَعَهُمْ " قَالَ:" فَيَقُوْلُ وَلَهُ غَفَرْتُ هُمُ الْقَوْمُ لَا يَشْقٰى بِهِمْ جَلِيْسُهُمْ "

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷛ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله دپاره (ډير) ملائك دي چه په لارو كي گرځي ذكر كونكي لټوي نو كله چه دوي څه خلك موندة كړي چه الله يادوي نو يو بل ته آواز وكړي چه خپل مطلوب ته راشئ (يعني د ذكر والو سره د ملاقات او د هغوي د ذكر آوريدو دپاره راشئ) نبي كريم ﷺ فرمائي : نو ملائك د دوي نه گيره واچوي په خپلو وزرو سره تر نزدې آسمان پورې۔ نبي كريم ﷺ فرمائي : نو دوي نه د دوي رب تپوس كوي حال دا چه هغه ددې بندگانو په حال ښه پوهه دې، چه زما بندگان څه وائي؟۔ نبي كريم ﷺ فرمائي : ملائك ورته وائي : دوي ستا تسبيح وائي، ستا لوي والے بيانوي او ستا صفتونه كوي او ستا بزرگي او شرافت بيانوي۔ نبي كريم ﷺ فرمائي : نو الله د دوي نه تپوس كوي آيا دوي زهٔ ليدلے يم؟، نبي ﷺ فرمائي : نو ملائك ووائي : نهٔ، قسم په الله دوي تهٔ نهٔ يې ليدلے، نبي ﷺ فرمائي : نو الله فرمائي : د دوي به څه حال وې كه چرته دوي زهٔ ليدلے وې؟۔ نبي ﷺ فرمائي : نو ملائك وائي : كه دوي تهٔ ليدلے وې نو دوي به ستا ډير عبادت كولے او په عظمت او بزرگئ سره به يې تهٔ ډير يادولے او ستا زياته تسبيح به يې وئيلے۔ نبي ﷺ فرمائي : نو الله وفرمائي : دوي څه غواړي؟ ملائك وائي : دوي جنت غواړي، نبي ﷺ فرمائي : الله ورته فرمائي : آيا دوي جنت ليدلے دې؟ نبي ﷺ فرمائي :

نو دوي ووائي : نهٔ قسم په الله اے ربه ! دوي جنت نهٔ دې ليدلے۔ نبي ﷺ فرمائي : الله فرمائي : د دوي به څه حال وې كه دوي جنت ليدلے وې؟۔ نبي ﷺ فرمائي : ملائك ورته وائي : كه چرته دوي جنت ليدلے وې نو دوي به د هغې ډير حرص (لالچ) كولے او ډير طلب به يې كولے او ډيره مينه به يې ورسره كولے۔ الله تعالىٰ ورته وفرمائي : نو دوي د څه نه پناهي طلب كوي؟۔ نبي ﷺ فرمائي : ملائك وائي : د اُور نه۔

نبي ﷺ فرمائي : الله فرمائي : آيا دوي د جهنم اُور ليدلے دې؟ نبي ﷺ فرمائي : دوي وائي : نهٔ قسم په الله اے ربه ! دوي اُور د جهنم نهٔ دې ليدلے۔ نبي ﷺ فرمائي : الله ورته فرمائي : كه دوي د جهنم اُور ليدلے وې نو د دوي به څه حال وې ؟ نبي ﷺ فرمائي : دوي وائي : كه دوي چرته ليدلے وې نو د هغې نه به يې ډيره سخته تيختنه كولے او ډير به د هغې نه يريدلے۔ نبي ﷺ فرمائي : نو الله وفرمائي : زهٔ تاسو گواه كوم چه ما دوي ته

بخنه وکړه۔ نبي ﷺ فرمائي : د ملائکو نه يو ملائك ووائي : په دوی کې فلانے شخص د دوی نه نۀ وو هغه خو د خپل يو ضرورت دپاره راغلے وو۔ الله ورته فرمائي : دا داسے ناست خلك دي چه د دوی سره ناستِ انسان نۀ بدبخته کيږي۔ (بخاريؒ)

او په روايت د مسلمؒ کې داسے الفاظ دي : نبي ﷺ فرمائي : يقيناً د الله دپاره داسے ملائك دي چه ګرځي راګرځي، غوره دي، د ذکر مجلسونه طلب کوي نو کله چه دوی يو مجلس مونده کړي چه په هغے کې (د الله) ذکر کيږي۔ نو د هغوی سره کيني او ګيره واچوي بعض د بعضو نه په خپلو وزرو سره تردے چه دوی ډکه کړي هغه فضاء چه د دوی او د نزدے آسمان پورے ده نو کله چه خلك د مجلس نه خواره شي نو ملائك هم وخيژي او آسمان طرفته پورته شي۔

نبي ﷺ فرمائي : نو د دوی نه د دوی رب تپوس کوی حال دا چه هغه ډير ښه پوهه دے چه تاسو د کوم ځای نه راغلئ؟ نو ملائك ورته وائي : مونږ ستا د هغه بندګانو خوا نه راغلو چه په زمکه کې دي چه ستا تسبيحات او تکبيروه بيانوی، او ستا کلمه (لا اله الا الله) وائي او ستا صفتونه بيانوی او ستا نه سوالونه کوی۔ الله فرمائي : او دوی څه غواړي؟۔

ملائك وائي : دوی ستا نه ستا جنت غواړي، الله فرمائي : آيا دوی زما جنت ليدلے دے؟ ملائك وائي : نۀ اے ربه !۔ الله فرمائي : د دوی به څه حال وی که دوی زما جنت وينی؟ بيا ملائك وائي : او دوی په تا سره پناهي طلب کوی۔ الله فرمائي : او د څه نه دوی پناهي غواړي ؟ ملائك وائي : ستا د اُور نه۔ الله فرمائي : آيا دوی زما اُور ليدلے دے؟ ملائك وائي : نۀ، الله وفرمائي : د دوی به څه حال وی که دوی زما اُور ليدلے وے۔

(بيا) ملائك وائي : دوی ستا نه بخنه غواړي، نبي ﷺ فرمائي : الله فرمائي: ما دوی ته بخنه وکړه او دوی ته مے هغه څه ورکړل چه دوی زما نه غواړي او د هغه څه نه مے پناهي ورکړه د کوم نه چه دوی پناهي غواړي، نبي ﷺ فرمائي : ملائك وائي : اے ربه ! په دوی کې خو فلانے بنده ګناهګار وو هغه په لاره تيريدو نو د دوی سره کيناستو (يعنې اول نه د دوی سره نۀ وو شريك شوے) نبي ﷺ فرمائي : نو الله وفرمائي: او ما هغه ته هم بخنه وکړه (ځکه) دوی داسے خلك دي چه د دوی سره ناست سړے هم نۀ بدبخته کيږي۔

تشریح : د مجالس الذکر نه مراد هغه ځایونه دي چه بندګان په کي ناست وي ذکر کوي تسبیحات وائي، یا تلاوت کوي یا د دنیا او د آخرت دعا غواړي.

حافظ ابن حجرؒ وائي چه پدې مجالسو کي قراءت د حدیث نبوي یا تدریس د علم شرعي او مذاکره د هغې او په نفل مونځ باندې راجمع کیدل نهٔ دي داخل، د هغې جدا فضائل دي او هغه هم د الله تعالیٰ ذکر دے او دلیل دا وائي چه پدې روایت کي تسبیح او تهلیل او تکبیر ذکر دے آه. او همدا ظاهر د حدیث دے.

او علامه عینیؒ پکي تعمیم کوي ټولو ته ئې شامل وائي ځکه چه پدې کي لفظ د ذکر راغلے دے او ذکر ټولو ته شامل دے.

حَاجَتِكُمْ : یعني الله چه تاسو د څه دپاره رالیږلي یئ چه مجالس د ذکر او ملاقات د ذاکر کوئ نو هغه تاسو مونده کړو.

فَیَسْأَلُهُمْ رَبُّهُمْ : الله تعالیٰ پرې ښه پوهه دے بیا ولې تپوس کوي ؟ پدې کي اشاره ده اهتمام د عمل د بندګانو ته چه دا د الله تعالیٰ په نیز ډیر اهم دے او ملائك پرې ګواه کوي او هغوي ته ښائي چه داسې بندګان د الله تعالیٰ هم شته چه د هغه په تسبیحاتو کي وخت تیروي.

لَوْ رَأَوْكَ : دې نه معلومه شوه چه لَیْسَ الْخَبَرُ كَالْمُعَایَنَةِ. کله چه بنده الله تعالیٰ ویني نو خپل عمل به ورته ډیر کم ښکاره شي ځکه چه د الله تعالیٰ د مخ ډیر زیات ښائست دے چه بنده به د هغې په مقابله کي ځان ډیر کوتاه وګنړي.

یَسْأَلُوْنَكَ الْجَنَّةَ : دې نه معلومیږي چه کله انسان ذکر وکړي نو د هغې نه روستو دعا پکار ده او په هغې کي د جنت سوال پکار دے دا ښه قبلیږي.

قَدْ غَفَرْتُ لَهُمْ : دې نه معلومه شوه چه د ذکر د مجلس نه روستو بنده ته بخنه کیږي.

یَقُوْلُ مَلَكٌ : ملائك ولې دا وائي چه فلانئ خو ددوي نه نهٔ وو ؟ نو دا غیرت دے د الله دپاره چه دا خو د مغفرت مستحق نهٔ دے. او ملائك او نیکان خلك د الله تعالیٰ دپاره غیرت کوي لکه موسیٰ علیه السلام فرعون ته د عدم ایمان ښیرې کړې وې.

لَا یَشْقَىٰ : د نیکانو په خوا کي کیناستو سره انسان ته بخنه کیږي او دې ته برکت وائي چه په هغوي باندې وشو نو دهٔ ته هم راورسیدو.

دا روایت دلیل دے چه هغه ذکر چه بندګان ئے کوی الله تعالیٰ ته ډیر محبوب دے د هغه ذکر نه چه ملائك ئے کوی ځکه چه دوی سره شهوات او د دنیا مشاغل او موانع دی او په عالَم الغیب کی دی. او هرچه ملائك دی نو هغوی شهوات نهٔ لری او مشاغل ئے نشته او د الله تعالیٰ د تجلیاتو نه خبریږی.

فُضُلًا: جمع د فاضل ده یعنی غوره.

وَصَعِدُوْا : دا دلیل دے په فوقیت د الله تعالیٰ باندے.

فَجَلَسَ : یعنی دا هسے تیریدو لیکن بیا ورسره روستو کیناستو.

پدے حدیث کی د دینی مجالسو او د ذکر مجالسو کی د حاضریدو پوره ترغیب ورکړے شویدے چه دا سبب د بخنے دے.

- 2268(8) وَعَنْ حَنْظَلَةَ بْنِ الرَّبِيعِ الْأُسَيْدِيِّ ﷺ قَالَ: لَقِيَنِيْ أَبُوْبَكْرٍ فَقَالَ: كَيْفَ أَنْتَ يَا حَنْظَلَةُ ؟ قُلْتُ: نَافَقَ حَنْظَلَةُ قَالَ: سُبْحَانَ اللهِ مَا تَقُوْلُ ؟ قُلْتُ: نَكُوْنُ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ يُذَكِّرُنَا بِالنَّارِ وَالْجَنَّةِ كَأَنَّا رَأْيُ عَيْنٍ فَإِذَا خَرَجْنَا مِنْ عِنْدِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ عَافَسْنَا الْأَزْوَاجَ وَالْأَوْلَادَ وَالضَّيْعَاتِ نَسِيْنَا كَثِيْرًا قَالَ أَبُوْ بَكْرٍ: فَوَ اللهِ إِنَّا لَنَلْقٰى مِثْلَ هٰذَا فَانْطَلَقْتُ أَنَا وَأَبُوْبَكْرٍ حَتّٰى دَخَلْنَا عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَقُلْتُ: نَافَقَ حَنْظَلَةُ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " وَمَا ذَاكَ ؟ " قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ نَكُوْنُ عِنْدَكَ تُذَكِّرُنَا بِالنَّارِ وَالْجَنَّةِ كَأَنَّا رَأْيُ عَيْنٍ فَإِذَا خَرَجْنَا مِنْ عِنْدِكَ عَافَسْنَا الْأَزْوَاجَ وَالْأَوْلَادَ وَالضَّيْعَاتِ نَسِيْنَا كَثِيْرًا فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَوْ تَدُوْمُوْنَ عَلٰى مَا تَكُوْنُوْنَ عِنْدِيْ وَفِي الذِّكْرِ لَصَافَحَتْكُمُ الْمَلَائِكَةُ عَلٰى فُرُشِكُمْ وَفِيْ طُرُقِكُمْ وَلٰكِنْ يَا حَنْظَلَةُ سَاعَةً وَسَاعَةً " ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او سیدنا حنظله بن ربیع اسیدی ﷺ فرمائی: ما سره ابوبکر (صدیق ﷺ) ملاؤ شو نو هغه ووېل : څه حال دے اے حنظله ؟! ما ووېل : حنظله (یعنی زهٔ) منافق شویدے. هغه ووېل : سبحان الله (تعجب دے دا تهٔ) څه وائے؟ ما ووېل : (وجه دا ده چه مونږ د رسول الله ﷺ سره یو هغه مونږ ته په اُور او جنت باندے نصیحت راکوی ګویا که مونږ هغه په سترګو وینو بیا چه کله مونږ د رسول الله ﷺ د خوا نه راووځو (نو) د

خپـل بيبيـانـو او اولادو او خپلو زمكو او باغونو كې مشغول شو نو ډيرے خبرے هيرى كړو (يعنـى په خپلو دنياوى مشاغلو كې ننوځو نو د هغه خبرو ډيره حصه هيره شى كـوم چـه مونږ ته رسول الله ﷺ پرے نصيحت راكړے وو او په مونږ باندے هغه كيفيت پاتى نۀ شى كوم چه د نبى ﷺ په صحبت كى وو) نو ابوبكر صديق وفرمايل: قسم په الله مـونـږ هم ضرور د داسے حالت سره ملاويږو، نو زۀ او ابوبكر دواړه روان شو تردے چه مونـږ په رسول الله ﷺ بـانـدے ورداخـل شـو نو ما ووئيل : اے د الله رسوله ! حنظله خو مـنافق شو (ځكه) مونږ تا سره يو نو مونږ ته په اُور او جنت باندے نصيحت راكوے گويا كه مونږه ئے په سترگو وينو بيا چه كله مونږ ستا د خوا نه ووځو د خپلو بيبيانو او اولادو او زمـكـو سره مشغول شو نو ډيرے خبرے هيرے كړو نو رسول الله ﷺ وفرمايل : قسم پـه هغـه ذات چـه زما نـفـس د هـغـه پـه لاس كى دے كه تاسو هميشه پاتى شئ په هغه حـالـت (او كـيـفـيـت) پـه كـوم باندے چه ما سره يئ او په ذكر كى يئ خامخا تاسو سره به مـلائك ستـاسـو پـه بسترو او ستاسو په لارو كى مصافحه وكړى، ليكن اے حنظله ! يو ساعت او يو ساعت۔ درے ځله ئے دا خبره وكړه۔ (مسلمؒ)

تعارف د حنظله رضي الله عنه :

حنظلة بن ربيع بن صيفى التميمى رضي الله عنه چه مشهور دے په حنظلة الكاتب ځكه چه دۀ به د نبى ﷺ دپاره وحى ليـكله او دا د اكثم بن صيفى ورارۀ دے كوم چه حكيم العرب وو، او ددے حنظله نه حنظله بن ابى عامر غسيل الملائكه مراد نۀ دے۔

دا نبى ﷺ طائف والـو تـه لـيـږلے وو او جنگ قادسيه كى هم حاضر شويدے او بيا په كـوفـه كى وسيدلے او بيا د على رضي الله عنه چه د بـصـرے والو سره كوم جنگ جمل راغلے وو په هغـے كى تړے پاتے شوے وو، او بيا په قرقيسياء علاقه كى وسيدو تردے چه په خلافت د معاويه رضي الله عنه كى وفات شو او هيڅ اولاد ئے نشته۔

تشريح : نَافَقَ حَنْظَلَةُ : دا د صحابه كرامو كمال وو چه هر وخت به ئے د زړه تفقد كولو چه زمونږ زړه په بعض اوقاتو كى ښه وى او په بعض اوقاتو كى مشغول او مصروف وى او دے ته ئے منافقت وئيلے دے، نو دا نفاق الحال دے نۀ نفاق الايمان، ځكه چه د پيغمبر په خوا كى د انسان زړه نرم وى او چه پاڅيږى نو بيا هغه شان نۀ وى۔

كَأَنَّا رَأْيُ عَيْنٍ : دا يا مرفوع دے اَیْ كَأَنَّا بِحَالِ مَنْ يَرَاهَا بِعَيْنٍ۔
يعنی گويا كه مونږ د هغه چا په حال شو چه په سترګو ئے وينی۔
يا منصوب دے بنا بر مصدريت (يعنی مفعول مطلق دے) اَیْ كَأَنَّا نَرَاهَا رَأْیَ عَيْنٍ۔
ګويا كه مونږه ئے وينو د سترګو په ليدو سره۔
عَافَسْنَا : مُعَافَسَه مشغولتيا او يو ځای كيدو ته وائی۔
وَالضَّيْعَاتِ : جمع د ضيعة ده د سړی معاش ته وائی كه مال وی يا حرفت (پيشه) او كاروبار وی۔ يعنی زمكے او باغونو او كاروبارونو باندے مشغول شو۔
لَصَافَحَتْكُمُ الْمَلَائِكَةُ : دا وجه ده په امت كی بعض خلك داسے هم تير شويدی چه په هغوی باندے به ډير غفلت نۀ راتلو بلكه هميشه به د الله په ذكر كی لګيا وو نو دوی به كرامةً ملائك هم ليدل لكه عمران بن حصين ﷺ باندے به ملائك سلام اچولو۔ او د مريم عليها السلام واقعه مشهوره ده او دغه شان د سفينه او د نورو صحابه كرامو واقعات شته۔
سَاعَةً وَسَاعَةً : يعنی يو ساعت د خپل رب عبادت له وركړئ او يو ساعت خپل اهل وعيال له وركړئ او يو ساعت د دنيا د ګټلو دپاره وركړئ۔ او پدے درے واړو حالتونو كی به انسان منافق نۀ حسابيږی۔ او دا درميانه روی ده چه هر څوك ئے طاقت لرلے شی ليكن اكثر انسانان دے باره كی په تفريط كی واقع دی۔

الفصل الثاني

- 2269(9) وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِخَيْرِ أَعْمَالِكُمْ وَأَزْكَاهَا عِنْدَ مَلِيْكِكُمْ ؟ وَأَرْفَعِهَا فِيْ دَرَجَاتِكُمْ ؟ وَخَيْرٌ لَكُمْ مِنْ إِنْفَاقِ الذَّهَبِ وَالْوَرِقِ؟ وَخَيْرٌ لَكُمْ مِنْ أَنْ تَلْقَوْا عَدُوَّكُمْ فَتَضْرِبُوْا أَعْنَاقَهُمْ وَيَضْرِبُوْا أَعْنَاقَكُمْ ؟ " قَالُوْا: بَلٰى قَالَ : " ذِكْرُ اللهِ". رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه إِلَّا أَنَّ مَالِكًا وَقَفَهُ عَلٰى أَبِي الدَّرْدَاءِ.

ترجمه : او سيدنا ابو الدرداء ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمايل : آيا زۀ تاسو ته ستاسو په غوره عمل خبر نۀ كړم؟ او چه هغه ډير پاكونكے دے په نيز د بادشاه ستاسو (يعنی د الله په نيز) او ستاسو درجاتو له ډير پورته كونكے دے ؟ او ستاسو دپاره د سرو او د

سپينو د خرچ كولو نه هم ډير غوره دے؟ او ستاسو دپاره ددے نه هم ډير غوره دے چه تاسو د دشمنانو سره ملاؤ شئ او تاسو د هغوى څټونه ووهئ او هغوى ستاسو څټونه ووهى؟ صحابه كرامو عرض وكړو: آؤ (ضرور خبر راكړئ) وے فرمايل: د الله تعالىٰ ذكر دے۔ (مالك، احمدؒ، ترمذیؒ، ابن ماجهؒ او امام مالك دا روايت د ابودرداءؓ نه موقوف نقل كړيدے)۔

تشريح: پدے كى د الله د ذكر ډير زيات فضيلت دے چه د ټولو عملونو نه غوره، د انفاق او د جهاد نه هم غوره دے ددے وجه دا ده چه د ټولو عبادتونو مِحور او اساس د الله ذكر دے څكه چه جهاد ددے دپاره كيږى چه د الله تعالىٰ ذكر په دنيا كى قائم شى او د الله نوم اُوچت شى۔

بيا ددے دا مطلب نهٔ دے چه د جهاد په موقعه كى به يو انسان ذكر ته كينى او وائى به چه ذكر د جهاد نه غوره دے دا خبره خطاء ده بلكه كله چه جهاد فرض شو يا د فرض مانځه وخت راغے او انسان به په توجه سره ذكر ته كينى نو پدے باندے بنده ته الله تعالىٰ عذاب وركوى څكه چه هر عمل په خپله خپله موقعه كى بهتر دے او په مطلق عباداتو كى ذكر مطلقاً غوره دے او كله چه د عبادت وخت راغے نو بيا به دغه عبادت غوره وى لكه د زكاة وخت راشى نو په دغه وخت كښينى د زكاة په ځائے ذكر فائده نهٔ وركوى۔

درجة الحديث: اسناده صحيح، احمد (٦/٤٤٧) والترمذى (٣٣٧٧) واللفظ له وابن ماجه (٣٧٩٠) والحاكم (١/٤٩٦) وقال صحيح الاسناد ووافقه الذهبى ومالك موقوفا فى الموطأ (١/٢١١ رقم ٢٤)

2270 - (10) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُسْرٍ رضي الله عنه قَالَ: جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ: أَيُّ النَّاسِ خَيْرٌ؟ فَقَالَ: " طُوبٰى لِمَنْ طَالَ عُمُرُهُ وَحَسُنَ عَمَلُهُ " قَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: " أَنْ تُفَارِقَ الدُّنْيَا وَلِسَانُكَ رَطْبٌ مِنْ ذِكْرِ اللهِ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: او سيدنا عبد الله بن بسر رضي الله عنه فرمائى: يو باندچى نبى كريم ﷺ ته راغلو وے ويل: كوم يو د انسانانو نه غوره دے؟ نبى كريم ﷺ وفرمايل: خوشحالى ده هغه

بنده لره چه عمرئے اُوږد وی او عمل ئے ښائسته (نیك) وی۔ هغه عرض وکړو اے د الله رسوله ! : کوم یو د اعمالو نه ډیر غوره دے ؟ وے فرمایل: دا چه ته د دنیا نه په داسے حالت کی جدا شے (وفات دریاندے راشی) چه ستا ژبه د الله تعالیٰ د ذکر نه لمده وی۔ (احمدؒ، ترمذیؒ)

تشریح : د چا چه عمر زیات وی او عمل ئے ښائسته وی دهٔ دپاره خوشحالی پدے وجه ده چه د ژوند اوقات د انسان دپاره د رأس المال په شان دی نو څومره چه رأس المال زیاتیږی نو گټه ئے هم زیاته وی نو څوك چه د عمر نه فائده اخلی او نیك عمل پکی کوی نودے به کامیاب وی او چا چه عمر ضائع کړو نو ښکاره تاوانی شو۔

وَلِسَانُكَ : ددے نه معلومیږی چه ذکر به په ژبه کولے شی او په نقشبندیه طریقه کی چه په پوزه ذکر خودلے شویدے نو دا شیطانی او بدعی طریقے دی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح، احمد ١٨٨/٤) والترمذى (٣٣٧٥) (٢٣٢٩) والحاكم (٤٩٥/١) وقال صحيح الاسناد ووافقه الذهبى وابن حبان (٢٣١٧)

- 2271(11) وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" إِذَا مَرَرْتُمْ بِرِيَاضِ الْجَنَّةِ فَارْتَعُوْا " قَالُوْا : وَمَا رِيَاضُ الْجَنَّةِ ؟ قَالَ :" حِلَقُ الذِّكْرِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او سیدنا انس بن مالك ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چه تاسو د جنت په باغیچو تیریږئ نو وخریږئ (په هغے کی) صحابه کرامو عرض وکړو : د جنت باغیچے څه دی ؟ وے فرمایل: د ذکر حلقے (مجلسونه)۔ (ترمذیؒ)

تشریح : حِلَقُ الذِّكْرِ : حلق جمع د حَلْقَةٌ ده۔ د ذکر د حلقو نه مراد یا دا دے چه خلك په حلقه کی ناست وی او هر سړے ځانله ځانله الله یادوی او دویم ددے نه د تعلیم او تعلم حلقے مراد دی۔ دے ته ئے ریاض الجنة (د جنت باغیچی) وئیلی دی ځکه چه پدے کی ناستے سره انسان ته د جنت باغیچی ملاویږی۔

فَارْتَعُوْا : د رَتَعَ يَرْتَعُ رَتْعًا او رُتُوْعًا نه دے څریدو ته وائی یعنی فراخه خوراك څکاك کولو ته وائی۔ او مطلب دا دے چه پوره حصه ترے حاصله کړئ۔

درجة الحديث: اسناده حسن، احمد (٣/١٥٠) والترمذی (٣٥١٠) وحسنه الالبانی فی الصحيحة (٢٥٦٢)

- 2272(12) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " مَنْ قَعَدَ مَقْعَدًا لَمْ يَذْكُرِ اللهَ فِيْهِ كَانَتْ عَلَيْهِ مِنَ اللهِ تِرَةٌ وَمَنِ اضْطَجَعَ مَضْجَعًا لَا يَذْكُرُ اللهَ فِيْهِ كَانَ عَلَيْهِ مِنَ اللهِ تِرَةٌ ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ

ترجمه: او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چه په يو ځای کی کيناستو چه د الله تعالیٰ ذکرئے په هغے کی ونکړونو وی به په دهٔ باندے د الله د طرفنه نقصان او چا چه په يو ځای کی ډېره ولګوله چه د الله ذکرئے په هغے کی ونکړونو وی به په دهٔ باندے د الله د طرف نه نقصان۔ (ابوداوٗد)

تشريح: تِرَةٌ: په کسره د تاء سره افسوس او نقصان او پښيمانتيا ته وائی، وَتَرَهٗ، يَتِرَهٗ تِرَةً، وَمِنْهُ لَنْ يَّتِرَكُمْ اَعْمَالَكُمْ۔ نقصان او کموالی ته وائی۔

تِرة په دواړو ځايونو کی منصوب هم صحيح دے کانت ضمير به قَعْدَة او اضطجاع ته راجع وی۔ او په يوه نسخه کی په رفع سره هم نقل دے۔

او ترة کله په معنیٰ د (ثَأْرٌ) قصاص او بدلے سره وی يعنی الله تعالیٰ به ددهٔ نه ددے بدله اخلی چه ولے تا پدے وختونو او ځايونو کی ذکر نهٔ وو کړے۔

او اضطجاع او قعود دوه حالتونه ئے ذکر کړل پدے کی تعميم ته اشاره ده يعنی هر حالت د انسان چه بدليږی پکار ده چه د هغه نه پکی ذکر پاتی نهٔ شی ورنه د افسوس سبب به ګرځی۔

او پدے کی پدے دوه وختونو کی د ذکر ډير اهميت ته اشاره ده يو د خوب په وخت کی او بل په مجلس کی چه کله عام خلك په غفلت کی وی۔

(شرح ابی داود لعبد المحسن العباد)

درجة الحديث: اسناده صحيح: الحميدی (٢/٤٨٩) رقم (١١٥٨) واحمد (٢/٤٨٣) وابوداود (٤٨٥٦) والنسائی فی عمل اليوم والليلة (٨١٨) وابن السنی فی عمل اليوم والليلة (٧٥٢) وابن حبان (٢٣٢١)

- 2273(13) وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " مَا مِنْ قَوْمٍ يَقُوْمُوْنَ مِنْ مَجْلِسٍ لَا

يَذْكُرُوْنَ اللهَ فِيْهِ إِلَّا قَامُوْا عَنْ مِثْلِ جِيْفَةِ حِمَارٍ وَكَانَ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْ دَاوُدَ.

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: نشته څه خلك چه د يو مجلس نه پاڅيږي چه د الله ذكرئے په هغے كى نۀ وى كړے مگر د دوى پاڅيدل به داسے وى لكه د مردار خر نه چه پاڅيږى او په دوى باندے به افسوس وى. (احمدؒ، ابوداودؒ)

تشريح : يعنى كوم خلك چه په يو مجلس كى كينى او د الله تعالىٰ هيڅ ذكر ونكړى نو دغه مجلس داسے دے لكه د مردار خر او دغه خلك چه پاڅيږى نو گويا كه دوى مردار خر وخوړلو او بدبوئى ترے راخوره شوه ځكه چه په مجلس كى د انسان نه ضرور لغوه خبرے كيږى او كله پكى غيبت او د خلكو عزتونه هم اخستلے كيږى.

درجة الحديث : اسناده صحيح : احمد (٢/٥١٥) وابوداود (٤٨٥٥) والنسائى فى عمل اليوم والليلة (٤٠٨) وابن السنى (٤٤٧) والحاكم (١/٤٩٢) الصحيحة (١/١١٦)

- 2274(14) وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" مَا جَلَسَ قَوْمٌ مَجْلِسًا لَمْ يَذْكُرُوا اللهَ فِيْهِ وَلَمْ يُصَلُّوْا عَلٰى نَبِيِّهِمْ إِلَّا كَانَ عَلَيْهِمْ تِرَةً فَإِنْ شَاءَ عَذَّبَهُمْ وَإِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهُمْ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : نه كينى څه خلك په يو مجلس كى چه الله په هغے كى ياد نۀ كړى يا درود ونۀ وائى په نبى خپل مگر وى به په دوى باندے نقصان نو كه د الله خوښه شى عذاب به وركړى او كه خوښه ئے شى بخښنه به ورته وكړى. (ترمذیؒ)

تشريح : وَلَمْ يُصَلُّوْا : دا په طريقه د مانعة الخلو سره دے يعنى په مجلس كى د الله ذكر ونكړى يا په نبى ﷺ باندے درود ونۀ وائى نو دا كار به په دوى باندے د قيامت په ورځ افسوس او نقصان وى او دا كسان گناهگار دى نو كه د الله خوښه وه عذاب به وركړى او كه خوښه ئے شوه بخښنه به ورته وكړى.

او په دے كى اشاره ده چه كله دوى د الله تعالىٰ ذكر وكړى نو الله تعالىٰ به ورته خامخا

عذاب نهٔ ورکوي او یقیناً به ورته بخنه کوي.

دا حدیث دلیل دے چه په هر مجلس کې ذکر کول واجب دي اګرکه لږ وي.

درجة الحديث : اسناده صحيح، احمد (٢/٤٤٦) والترمذی (٣٣٨٠) والنسائی فی عمل اليوم (٤٠٦) وابن حبان (٢٣٢٢) وابن السنی (٤٥١) والحاكم (١/٤٩٦)

- 2275(15) وَعَنْ أُمِّ حَبِيْبَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" كُلُّ كَلَامِ ابْنِ آدَمَ عَلَيْهِ لَا لَهٗ إِلَّا أَمْرٌ بِمَعْرُوْفٍ أَوْ نَهْيٌ عَنْ مُنْكَرٍ أَوْ ذِكْرُ اللهِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ

ترجمه : او ام المؤمنين ام حبيبه رضى الله عنها فرمائى : رسول الله ﷺ وفرمايل: د بنيادم هره خبره په هغه باندے وبال دے سِوئ د هغه خبرے نه چه په نيکئ باندے حکم وي يا د بدئ نه منع کول وي يا د الله تعالىٰ ذکر وي. (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ) او امام ترمذیؒ وئيلي دي دا حديث غريب دے.

تشريح : يعني پدے درے کارونو سره انسان ته فائده رسيږي او که د ګناه خبري وکړي نو ګناهګار به وي او که مباحے خبرے وکړي نو هم فائده ئے حاصله نکړه بلکه قيمتي وخت ترے ضائع شو.

درجة الحديث : اسناده ضعيف : الترمذی (٢٤١٢) وابن ماجه (٣٩٧٤) والحاكم (٢/٥١٢،٥١٣) وقال الترمذی حديث حسن غريب الخ ولكن فيه ام صالح بنت صالح قال فی التقريب : لا يعرف حالها) وضعفه الالبانی)

- 2276(16) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " لَا تُكْثِرُوا الْكَلَامَ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللهِ فَإِنَّ كَثْرَةَ الْكَلَامِ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللهِ قَسْوَةٌ لِلْقَلْبِ وَإِنَّ أَبْعَدَ النَّاسِ مِنَ اللهِ الْقَلْبُ الْقَاسِيُ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او سيدنا ابن عمر رضى الله عنهما فرمائى : رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله د ذکر نه په غير خبرے زياتے مهٔ کوئ ځکه چه د الله د ذکر نه په غير زياتي خبرے کول د زړه سختوالے دے او يقيناً په خلکو کې د الله نه وړاندے هغه زړه دے چه سخت وي.

تشريح: زړۀ چې هر څومره سخت وي نو د شيطان سره مشابه وي نو د الله نه لرې وي او څومره زړۀ چې نرم وي نو پيغمبرانو او نيکانو سره مشابه وي نو د الله رحمتونو ته نزدې وي او الله تعالىٰ په قرآن کريم کې د زړۀ سختوالى د يهودو مرض ښودلې دې:

﴿ثُمَّ قَسَتْ قُلُوبُكُم مِّن بَعْدِ ذَٰلِكَ﴾ (البقرة : ٧٤)

او ايمان والا ئې د زړۀ د سختوالي نه منع کړيدي:

﴿أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَن تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللَّهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ وَلَا يَكُونُوا كَالَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِن قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ﴾ (الحديد : ١٦).

د زړۀ د سختوالي د وجه نه بنده د حق اوريدو نه محروم وي او مخلوق طرفته مائل وي او خشيت پکې کم وي او خشوع او زړا او انابت پکې نۀ وي.

د مالك بن دينار نه نقل دي : مَا ضَرَبَ اللَّهُ عَبْدًا بِعُقُوبَةٍ أَشَدَّ عَلَيْهِ مِنْ قَسْوَةِ الْقَلْبِ.

الله تعالىٰ بنده ته د زړه د سختوالي نه سخت عذاب بل نۀ دے ورکړے.

(تفسير السراج المنير٣/٥٢٧) والخازن (٤/٥٥)

د زړۀ د خرابوالي او سختوالي څلور اسباب مشهور دي (١) ډيرے خبرے کول (٢) ډير خوب (٣) ډير خوراك (٤) او د خلکو سره ډير اختلاط کول. او د زړۀ مُصلحات او برابرونکي او نرمونکي څيزونه (١) يتيمانانو او مسکينانو باندے رحم او شفقت کول (٢) اطلاع على القبور (د قبرونو زيارات ملاقات کول).

(٣) د الله ذکر او دعاء زيات کول (٤) او غلے کيناستل،

(٥) او د قرآن کريم تلاوت کول په تدبر سره. ددے ډير عجيب تاثيرونه دي.

شيخ البانى رحمه الله فرمائي چې دا حديث د عيسىٰ عليه السلام وينا ده او بعض راويانو ددے نسبت نبي عليه السلام ته کړيدے.

درجة الحديث: اسناده ضعيف : الترمذى (٢٤١١) وقال هذا حديث غريب لا نعرفه الا من حديث ابراهيم بن عبد الله بن حاطب (وهو مجهول الحال) راجع الضعيفة للالبانى (٩٢٠) موقوف على عيسى عليه السلام.

٢٢٣٢ - (١٧) وَعَنْ ثَوْبَانَ ﷺ قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ ﴿وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ﴾ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ فَقَالَ بَعْضُ أَصْحَابِهِ : نَزَلَتْ فِي الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ لَوْ عَلِمْنَا

أَيُّ الْمَالِ خَيْرٌ فَنَتَّخِذَهُ؟ فَقَالَ: " أَفْضَلُهُ لِسَانٌ ذَاكِرٌ وَقَلْبٌ شَاكِرٌ وَزَوْجَةٌ مُؤْمِنَةٌ تُعِينُهُ عَلَى إِيْمَانِهِ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجه

ترجمه: او سیدنا ثوبان ﷺ فرمائي: هر کله چه دا آیت (والذین یکنزون الذهب والفضة) نازل شو (یعنی هغه کسان چه سره او سپین جمع کوی او د الله په لاره کی ئے نهٔ خرچ کوی) مونږ د نبی کریم ﷺ سره په بعض سفرونو کی وو نو د هغه بعض ملګرو ووېل: دا آیت د سرو او سپینو په باره کی نازل شو ارمان چه مونږ ته معلومه شی چه (د سرو او سپینو نه علاوه بل) کوم مال غوره دے چه مونږ هغه جمع کړو؟! نبی کریم ﷺ وفرمایل: بهترین مال د الله ذکر کونکے ژبه، شکر ګزار زړه او مؤمنه ښځه ده چه خاوند سره د هغه په ایمان باندے مدد کوی۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، ابن ماجهؒ)

تشریح: أَيُّ الْمَالِ خَيْرٌ: د صحابه کرامو غرض دا وو چه د سرو او سپینو په باره کی خو دغه وعید نازل شو چه دا ظاهری مال دے خو که مونږ ته داسے مال او سرمایه راوخودلے شی چه هغه مونږ ته په راتلونکی حاجتونو کی فائده مند ثابت شی نو پدے وجه نبی الطَّیِّبْ ورته دغه درے څیزونه وخودل چه دا پوره فائده رسونکی دی۔

وَقَلْبٌ شَاكِرٌ: یعنی هغه زړه چه د الله تعالیٰ نه همیشه راضی وی او د هغه په نعمتونو باندے اقرار کوی او بیا خپل ځان د هغه په بندګئ کی استعمالوی۔

عَلَى إِيْمَانِهِ: یعنی د ایمان په کارونو کی ورسره مدد کوی لکه مونځ روژه وغیره عبادتونه ورته یادوی او موقعه ورله ورکوی او د زنا او د ټولو محرماتو نه ئے منع کوی۔

درجة الحديث: اسناده صحيح لغيره، احمد (٥/٢٧٨) والترمذى (٣٠٩٤) وابن ماجه (١٨٥٦)

الفصل الثالث

- 2278(18) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ ﷺ قَالَ: خَرَجَ مُعَاوِيَةُ عَلَى حَلْقَةٍ فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ: مَا أَجْلَسَكُمْ؟ قَالُوا: جَلَسْنَا نَذْكُرُ اللهَ قَالَ: آللهِ مَا أَجْلَسَكُمْ إِلَّا ذٰلِكَ؟ قَالُوا: آللهِ مَا أَجْلَسَنَا غَيْرُهُ قَالَ: أَمَا إِنِّي لَمْ أَسْتَحْلِفْكُمْ تُهْمَةً لَكُمْ وَمَا كَانَ أَحَدٌ بِمَنْزِلَتِي مِنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ أَقَلَّ عَنْهُ حَدِيثًا مِنِّي وَإِنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ خَرَجَ عَلَى حَلْقَةٍ مِنْ أَصْحَابِهِ فَقَالَ: " مَا

أَجْلَسَكُمْ هَاهُنَا "قَالُوا: جَلَسْنَا نَذْكُرُ اللهَ وَنَحْمَدُهُ عَلٰى مَا هَدَانَا لِلإِسْلَامِ وَمَنَّ بِهِ عَلَيْنَا قَالَ : " آللهِ مَا أَجْلَسَكُمْ إِلَّا ذٰلِكَ ؟ قَالُوا: آللهِ مَا أَجْلَسَنَا إِلَّا ذٰلِكَ قَالَ:" أَمَا إِنِّيْ لَمْ أَسْتَحْلِفْكُمْ تُهْمَةً لَكُمْ وَلٰكِنَّهُ أَتَانِيْ جِبْرِيْلُ فَأَخْبَرَنِيْ أَنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يُبَاهِيْ بِكُمُ الْمَلَائِكَةَ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : سيدنا ابوسعيد ﷺ فرمائي : معاويه ﷺ په مسجد کې په يوه حلقه (مجلس) باندې راووتو نو وې فرمايل : تاسو څه خبرې کينولي يئ ؟ هغوی وويل : مونږ ناست يو د الله ذکر کوو، معاويه (ﷺ) وفرمايل : ستاسو دې په الله قسم وی چه تاسو صرف دې خبرې کينولي يئ ؟ هغوی وويل : زمونږ دې په الله قسم وی چه مونږ ددې خبرې نه علاوه بلې خبرې نۀ يو کينولي. وې فرمايل : خبر شئ ما تاسو ته قسم ددې دپاره درنکړو چه زۀ په تاسو تهمت لګوم (يعنی تاسو مې دروغژن نۀ يئ ګڼړلي چه قسم درکړم بلکه ما د رسول الله ﷺ د اتباع په وجه تاسو ته قسم درکړو چه نبی ﷺ هم دغه شان وئيلي وو) بيا سيدنا معاويهؓ وفرمايل : د نبی کريم ﷺ نه د کم حديثونو د نقل کولو په سلسله کې زما څوك برابر نشته او يقيناً رسول الله ﷺ د خپلو ملګرو په يوه حلقه راووتو نو وې فرمايل: تاسو دلته څه خبرې کينولي يئ ؟ هغوی وويل : مونږ ناست يو د الله ذکر کوو او د هغه صفتونه کوو پدې وجه چه هغه مونږ ته اسلام طرفته هدايت وکړو او په مونږ باندې ئې د اسلام احسان وکړو. نبی کريم ﷺ وفرمايل: ستاسو دې قسم په الله وی چه تاسو صرف دې خبرې کينولي يئ ؟ صحابه کرامؓ عرض وکړو : زمونږ قسم په الله دې چه مونږ صرف همدې خبرې کينولي يو. نبی کريم ﷺ وفرمايل : خبر شئ ما تاسو ته قسم پدې وجه درنکړو چه په تاسو تهمت لګوم ليکن ما ته جبريل راغلو او ما ته ئې خبر راکړو چه يقيناً الله تعالیٰ ستاسو په ذريعه په ملائکو باندې فخر کوی. (مسلمؒ)

تشريح : آللهِ : أَيْ أَتَحْلِفُوْنَ بِاللهِ. يعنی تاسو قسم په الله کوئ ؟.

تُهْمَةً لَكُمْ : يعنی دا قسم درکول د زيات تاکيد دپاره دی دې دپاره چه زۀ دا معلومه کړم چه ستاسو ناسته د څه مقصد دپاره ده.

أَقَلَّ عَنْهُ حَدِيْثًا : يعنی ما د رسول الله ﷺ نه حديثونه کم نقل کړی ځکه چه ما

احتیاط کولو په حدیثونو کې ورنه زما د مرتبې سره زیات حدیثونه نقل کول پکار وو.
په اسلام باندې د الله تعالیٰ حمد وئیل پکار دي ځکه چه کامیابي صرف په همدې سره ده او پدې سره الله تعالیٰ ډیر خوشحالیږي. اصل شکر د الله په دین پکار دے.
يُبَاهِيْ بِكُمْ : یعني په تاسو سره الله تعالیٰ د ملائکو په مخامخ فخر کوي.
او د فخر معنیٰ دا ده چه الله تعالیٰ ملائکو ته وائي چه زما بندګانو ته وګورئ چه ما په دوی باندې شهوات او خواهشات اینبي دي او شیطان او د هغه لښکر د دوی پسې لګیدلي دے مګر دوی ددې تولو خیزونو مخالفت کوي او زما په بندګۍ کې مشغول دي نو دوی د صفت کولو مستحق دي.
ددې نه معلومه شوه چه د الله تعالیٰ په نیز د هغه ذکر ډیر شرافت لري او الله تعالیٰ ورسره ډیره مینه کوي او ددې په نورو اعمالو باندې ډیر فضیلت دے.

- 2279(19) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُسْرٍ ﷺ: أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! إِنَّ شَرَائِعَ الْإِسْلَامِ قَدْ كَثُرَتْ عَلَيَّ فَأَخْبِرْنِيْ بِشَيْءٍ أَتَشَبَّثُ بِهِ قَالَ: " لَايَزَالُ لِسَانُكَ رَطْبًا بِذِكْرِ اللهِ). رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ

ترجمه : او سیدنا عبد الله بن بسر ﷺ فرمائي : یو سړي ووئیل : اے د الله رسوله ! یقیناً د شریعت کارونه په ما باندې ډیر (یعني ګران) شو نو ما ته یو داسې څه وښایه چه زۀ هغه مضبوط راونیسم، نبي کریم ﷺ وفرمایل: ستا ژبه دې د الله په ذکر باندې همیشه لمده وي. (ترمذيؒ، ابن ماجهؒ) او امام ترمذيؒ وئیلي دي چه دا حدیث حسن غریب دے.
تشریح : أَتَشَبَّثُ : تَشَبُّث منګولې لګول او مضبوط رانیولو ته وئیلې شي. یعني داسې خیز راوښایه چه ما ته ئې ادا کول آسان وي او په هغې کې فضیلت زیات وي، ځکه چه د روایاتو نه معلومیږي چه ذکر د نفلي تول عباداتو نه غوره دے او فقراء مهاجرین نبي ﷺ ته ورغلل او د مالدارو حال ئې ورته بیان کړو چه دوی حجونه او عمرې کوي او صدقې کوي او مونږ سره دغه مالونه نشته نو نبي ﷺ ورته ذکر وخودلو چه په دې سره به تاسو د مخکنو خلکو مرتبې رالاندې کړئ او تاسو سره به څوک نشي برابریدې مګر

سره څوك چه هغه كار وكړي كوم چه تاسو كوئ. (متفق عليه).
او دا د الله تعالىٰ لوى رحم دے چه د خپل مناجات دپاره ئے دروازه هر وخت كولاوه كړيده او په هيڅ وخت كې ئے پابندى نۀ ده لګولے، كله يو عمل او كله بل.
درجة الحديث: اسناده حسن، الترمذى (٣٣٧٢) واحمد (١٨٨/٤) وابن حبان (٢٣١٧) والحاكم (٤٩٥/١) ووافقه الذهبى).

- 2280(20) وَعَنْ أَبِىْ سَعِيْدٍ ﷺ: أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ سُئِلَ: أَيُّ الْعِبَادِ أَفْضَلُ وَأَرْفَعُ دَرَجَةً عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ؟ قَالَ : " اَلذَّاكِرُوْنَ اللهَ كَثِيْرًا وَالذَّاكِرَاتُ " قِيْلَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! وَمِنَ الْغَازِىْ فِىْ سَبِيْلِ اللهِ ؟ قَالَ :" لَوْ ضَرَبَ بِسَيْفِهِ فِى الْكُفَّارِ وَالْمُشْرِكِيْنَ حَتّٰى يَنْكَسِرَ وَيَخْتَضِبَ دَمًا فَإِنَّ الذَّاكِرَ لِلّٰهِ أَفْضَلُ مِنْهُ دَرَجَةً ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِىُّ وَقَالَ التِّرْمِذِىُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ

ترجمه : او سيدنا ابوسعيد ﷺ فرمائى: د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه چه كوم بندګان غوره دى او د الله په نيز د قيامت په ورځ ډير پورته درجے والا دى؟ وے فرمايل: هغه سړى چه الله ډير يادوى او هغه زنانه چه الله ډير يادوى. عرض وشو اے د الله رسوله! او د الله په لاره كې د غازى نه هم (زياتے مرتبے والا دى؟) وے فرمايل: كه يو سړے خپله توره په كافرانو او مشركانو كې ووهى تردے چه ماته شى او په وينو رنګ شى نو د الله يادونكى به د هغه نه په درجه كې غوره وى. (احمدؒ، ترمذىؒ) او امام ترمذىؒ ويلى دى چه دا حديث حسن غريب دے.
تشريح : يعنى ذكر كونكے د مجاهد نه هم ډير غوره دے هغه مجاهد چه صرف نفلى جهاد كوى او ذكر ته وخت نۀ وركوى او كه يو مجاهد ذكر هم كوى او جهاد هم كوى نو هغه بيا خامخا غوره دے. او د جهاد په وخت كې بيا جهاد غوره دے ليكن په عامو اوقاتو كې ذكر د جهاد نه ډير غوره دے.
درجة الحديث: اسناده ضعيف : الترمذى (٣٣٧٣) واحمد (٧٥/٣) وقال الترمذى : هذا حديث غريب انما نعرفه من حديث دراج عن ابى الهيثم)

- 2281(21) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " اَلشَّيْطَانُ جَاثِمٌ عَلٰى

قَلْبِ ابْنِ آدَمَ فَإِذَا ذَكَرَ اللهَ خَنَسَ وَإِذَا غَفَلَ وَسْوَسَ ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ تَعْلِيقًا

ترجمه : او ابن عباس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل: شيطان د بنيادم په زړه باندې ګونډې لګولی وي نو کله چه هغه الله ياد کړي نو شيطان ترې جدا شي او کله چه غافل شي نو هغه ورته وسوسې اچوي. (دا امام بخاريؒ په طريقه د تعليق سره ذکر کړيدې)

تشريح : جَاثِمٌ : جثم او جثوم ديته وائي چه په زمکه پورې ونښلي. يعني شيطان لازم الجلوس وي او هميشه د هغه زړه پورې انښتې وي.

خَنَسَ : د باب د ضرب او نصر نه، اَىْ اِنْقَبَضَ وَتَأَخَّرَ وَتَنَحّٰى عَنْهُ.

يعني شيطان راغونډ شي او روستو شي او د هغه نه جدا شي.

جزريؒ وائي : خنوس: تأخر (روستو کيدل) او انقباض (راغونډيدو) ته وائي.

حافظ ابن القيم رحمه الله فرمائي : که په ذکر کې نور هيڅ فائده هم نهٔ وي او صرف دا يوه فائده وي نو بيا هم بنده له لائقه وه چه د هغه ژبه د الله تعالىٰ د ذکر نه نهٔ ستړې کيدې او هميشه ئې د الله په ذکر خوله خوزيدلې ځکه چه دې خپل ځان د دشمن نه صرف د الله په ذکر خلاصولې شي او دشمن پرې نشي ورتللې.

درجة الحديث : اسناده ذكره البخارى تعليقا ووصله ابن ابى شيبة وهو اسناد حسن (تخريج وآثار كتاب فى ظلال القرآن للسيد قطب لعلوى بن عبد القادر السقاف: ١٠٢٠) وتخريج الظلال (١/٩٣٣)

- 2282(22) وَعَنْ مَالِكٍ قَالَ: بَلَغَنِيْ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يَقُوْلُ : " ذَاكِرُ اللهِ فِي الْغَافِلِيْنَ كَالْمُقَاتِلِ خَلْفَ الْفَارِّيْنَ وَذَاكِرُ اللهِ فِي الْغَافِلِيْنَ كَغُصْنٍ أَخْضَرَ فِيْ شَجَرٍ يَابِسٍ "

- 2283(23) وَفِيْ رِوَايَةٍ :" مَثَلُ الشَّجَرَةِ الْخَضْرَاءِ فِيْ وَسْطِ الشَّجَرِ وَذَاكِرُ اللهِ فِي الْغَافِلِيْنَ مِثْلُ مِصْبَاحٍ فِيْ بَيْتٍ مُظْلِمٍ وَذَاكِرُ اللهِ فِي الْغَافِلِيْنَ يُرِيْهِ اللهُ مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ وَهُوَ حَيٌّ وَذَاكِرُ اللهِ فِي الْغَافِلِيْنَ يُغْفَرُ لَهُ بِعَدَدِ كُلِّ فَصِيْحٍ وَأَعْجَمَ ". وَالْفَصِيْحُ : بَنُوْ آدَمَ وَالْأَعْجَمُ : اَلْبَهَائِمُ. رَوَاهُ رَزِيْنٌ

ترجمه : او امام مالك فرمائي : ما ته رارسيدلې دي چه رسول الله ﷺ به فرمايل : په

غفلت کونکو کی الله یادونکے داسے دے لکه د (میدان جنګ نه) تیښته کونکو نه روستو جنګ کونکے او د الله یادونکے په غافلانو کی داسے دے لکه شنه څانګه په وچه ونه کی۔ او په یو روایت کی دی: (ذکر کونکے) په شان د شنه ونه دے په مینځ د (وچو) ونو کی۔ او د الله یادونکے په غافلانو کی داسے دے لکه ډیوه په تیاره والا کوټه کی او د الله یادونکے په غافلانو کی (داسے شخص دے چه) الله تعالیٰ هغه ته د جنت نه خپل ځای د هغه په ژوند کی ورښائی (یعنی په ژوند کی به خپل ځای په جنت کی وینی یعنی داسے یقین به ورکوی ګویا که دے ورته ګوری) او د الله یادونکے په غافلانو کی داسے شخص دے چه د هغه ګناه د هر فصیح او اعجم د شمار په اندازه بخلے کیږی، د فصیح نه مراد انسانان او د اعجم نه مراد چارپیان دی۔ (رزینؒ)۔

تشریح : خَلْفَ الْفَارِّيْنَ : یعنی ذکر کونکے داسے مثال لری لکه په جهاد کی څه کسان وتښتی او دے د کافرانو جنګ ته پاتی شی نو څومره لویه مرتبه ئے ده۔

وهو حی : یعنی دنیا کی به ددۀ زړه کی دومره اطمینان راشی چه ګویا که دۀ په جنت کی خپل ځای ولیدو۔

درجة الحديث: اسناده ضعیف معضل، اورده المنذری فی الترغیب والترهیب (٦/٣) وقال ذکره رزین، ورواه البیهقی فی الشعب عن عباد بن کثیر وفیه خلاف عن عبد الله بن دینار عن ابن عمر قال قال رسول الله ﷺ ......فذکر نحوه واسناده منقطع غیر قوی کما قال البیهقی، راجع الضعیفة (٦٧٢) ________

- 2284(24) وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ ﷺ قَالَ : مَا عَمِلَ الْعَبْدُ عَمَلًا أَنْجٰى لَهُ مِنْ عَذَابِ اللهِ مِنْ ذِكْرِ اللهِ. رَوَاهُ مَالِكٌ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه. ________

ترجمه : او سیدنا معاذ بن جبل ﷺ فرمائی: بنده یو داسے عمل نۀ دے کړے چه دۀ لره د الله تعالیٰ د عذاب نه ډیر بچ کونکے وی د الله ذکر نه۔ (مالکؒ، ترمذیؒ، ابن ماجهؒ)

تشریح : أَنْجٰى : یعنی ټول نیک اعمال انسان د الله د عذاب نه خلاصوی لیکن ذکر پکی ډیر زیات خلاصونکے دے، د ذکر برابر بل عمل نشته۔

درجة الحديث : اسناده صحیح : مالك (١/ ٢١١) مطلقا والترمذی تعلیقا علی الحدیث رقم (٣٣٧٤) ورواه ایضا ابن ماجه (٣٧٩٠) وهو صحیح مرفوعا کما فی مسند

احمد) صحيح كنوز السنة النبوية رقم (۳۱) وروى مرفوعا عن جابر وهو حسن صحيح الترغيب (۱٤۹۷)

- 2285(25) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " إِنَّ اللهَ تَعَالٰى يَقُوْلُ: أَنَا مَعَ عَبْدِيْ إِذَا ذَكَرَنِيْ وَتَحَرَّكَتْ بِيْ شَفَتَاهُ ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل: يقيناً الله تعالىٰ فرمائي : زهٔ د خپل بنده سره يم كله چه هغه ما يادوي او په ما باندے د هغه شونډے خوزيږي- (بخاريؒ)

تشريح : أَنَا مَعَ عَبْدِيْ : زهٔ د بنده سره يم يعني د هغه مددګار او تائيد او توفيق وركونكے يم- او دا خاص معيت دے چه الله تعالىٰ به پرے رحم كوي او ددهٔ د حالت نه به خوشحاله او راضي وي-

وَتَحَرَّكَتْ بِيْ : ددے نه معلوميږي چه اصل ذكر دا دے چه په ژبه خوزولو سره وي-

- 2286(26) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ كَانَ يَقُوْلُ : " لِكُلِّ شَيْءٍ صَقَالَةٌ وَصَقَالَةُ الْقُلُوْبِ ذِكْرُ اللهِ وَمَا مِنْ شَيْءٍ أَنْجٰى مِنْ عَذَابِ اللهِ مِنْ ذِكْرِ اللهِ " قَالُوْا: وَلَا الْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ؟ قَالَ: " وَلَا أَنْ يَّضْرِبَ بِسَيْفِهٖ حَتّٰى يَنْقَطِعَ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعَوَاتِ الْكَبِيْرِ

ترجمه : او سيدنا عبد الله بن عمر رضي الله عنهما د نبي كريم ﷺ نه ارشاد نقل كوي چه هغه به فرمايل: د هر شي دپاره صفائي شته او د زړونو صفائي د الله ذكر دے- او نشته يو شے چه د الله د عذاب نه زيات خلاصونكے وي د ذكر د الله نه- صحابه كرامؓ عرض وكړو : او د الله په لاره كي جهاد هم داسے شے نهٔ دے ؟ ورے فرمايل : نهٔ، اګركه هغه (مجاهد) خپله توره (په دشمنانو كي) ووهي تردے چه ماته شي- (بيهقيؒ)

تشريح : يعني په ذكر سره د بنده زړهٔ صفا كيږي لكه څنګه چه رين (د ګناه په سبب سره) د زړهٔ زنګ جوړيږي-

حافظ ابن القيمؒ ددے حديث لاندے ليكي : پدے كي هيڅ شك نشته چه زړهٔ داسے

زنګين کيږي لکه څنګه چه تانبه او سپين زر وغيره زنګين کيږي او ددے صفائی په ذکر سره ده، ذکر ئے داسے صفا کوی لکه د سپينې شيشے په شان نو کله چه بنده ذکر پريدی زړهٔ زنګين شي او کله چه ذکر کوی نو زړه صفا شی او د زړهٔ زنګين کيدل په دوو څيزونو سره دی (١) په غفلت سره (٢) او په ګناه سره.

او د زړهٔ صفائی په دوه څيزونو سره ده (١) په استغفار (٢) او په ذکر سره. نو څوك چه په اکثرو اوقاتو کی غافل وی نو زنګ به ئے په زړهٔ باندے دپاسه وی او کله چه زړهٔ زنګين شی نو بيا په هغے کښے صحيح معلومات او د څيزونو صورتونه په صحيح طريقه نهٔ چاپ کيږي نو بيا به باطل د حق په شکل کښے وينی او حق به په صورت د باطل کښے څکه چه کله په زړهٔ باندے زنګ زيات شی نو تياره شی نو په هغے کښے به د څيزونو حقيقی صورتونه په خپل اصلی شکل نهٔ ښکاری.

او کله چه دغه زنګ او تور والے نور مضبوط شی او دپاسه پرے نور رنګونه راشی نو د زړه تصور او ادراك (علم) هم خراب شی نو بيا حق نهٔ قبلوی او د باطل نه انکار نهٔ کوی او دا د زړهٔ ډيره لويه سزا ده او دا راپيدا کيږي د غفلت او د اتباع الهویٰ نه څکه چه دا دواړه څيزونه د زړهٔ نُور ختموی او د زړهٔ سترګے ړندوی انتهیٰ.

(الوابل الصيب ص:٥٦) لابن القيم

حَتّٰى يَنْقَطِعَ: يعنی دا توره ماته شی يا دے پريکړے شی.

درجة الحديث: اسناده حسن، رواه البيهقی فی الدعوات الكبير والطبرانی باسناد حسن (هيثمی) وقال الالبانی فی صحيح الترغيب والترهيب (١٤٩٥) اسناده صحيح لغيره) وفيه سعيد بن سنان وثقه ابوحاتم وقال الحافظ : صدوق له اوهام)

OOOOO

(۲) بَابُ أَسْمَاءِ اللّٰهِ تَعَالٰى

د الله تعالیٰ د نومونو بیان۔

اُوس دا بیانوی چه ذکر به په کومو الفاظو سره کولے شي نو ددے دپاره یو څو طریقے په راتلونکو بابونو کی بیانوی یو ذکر د الله په نومونو سره دے چه انسان دا یاد کړی او بیا د هغے ذکر کوی او دویم نمبر په سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اکبر ولا حول ولا قوة الا بالله او دریم نمبر په استغفار او توبه سره دے۔

او څلورم اذکار دی په مقرر وختونو کی چه هغه رسول الله ﷺ د هرے موقعے سره خپل خپل بیان کړیدی۔ او پنځم استعاذه ده یعنی د الله تعالیٰ د عذابونو او مشکلاتو نه په خاص اذکارو سره پناهی طلب کول دی۔ دلته یو څو مسائل دی:

اوله مسئله: اسماء (نومونه) د الله تعالیٰ توقیفی دی، د توقیف معنیٰ دا ده چه الله تعالیٰ له به هغه نوم کیخودے شي کوم چه هغه ځان دپاره یا د هغه د رسول د هغه دپاره خودلے وی او د ځان نه به نومونه نهٔ ایږدی او دا د عامو اهل سنت والجماعة مذهب دے۔

او په دے کی بعض متکلمینو (معتزله او کرامیه ؤ) خلاف کړیدے لیکن د هغوی قول کمزورے دے وجه دا ده چه الله تعالیٰ ته خپل ځان او شان معلوم دے او بنده ته نهٔ دے معلوم نو کیدے شي چه بنده به الله تعالیٰ ته هغه نوم کیږدی چه هغه به د الله د شان سره مناسب نهٔ وی۔

معتزله وائی چه کله د یو لفظ معنیٰ د اهل عقلو په نیز صحیح ثابته وی نو د هغے اطلاق په الله باندے کول جائز دي او د هغے نه د الله دپاره یو اسم جوړول روا دی۔ لیکن د دوی دا مذهب ضعیف دے۔

۲- **مسئله**: نومونه الله تعالیٰ دپاره دوه طریقو سره کیخودلے کیږی یو په صورت د اخبار کی او بل په صورت د انشاء کی او د اخبار باب ډیر فراخه دے د انشاء نه مطلب دا

چه يو په جمله خبريه سره الله دپاره نوم كيخودل دي او دويم په دعاء كي استعمالول دي نو د الله دپاره نوم مقررول يا په دعاء كي استعمال به د هغه نوم كيږي چه كتاب او صحيح سنت كي راغلي وي نو داسے به نهٔ وائي چه د (يا قوى) په ځائے (يا جليد) ووائي اګركه د دواړو معنىٰ يوه ده او د (يا رحيم) په ځائے (يا رفيق) ووائي۔

او په جمله خبريه كي فراخي ډيره ده پدے كي د الله دپاره هغه لفظ هم استعمالول جائز دي چه قرآن او حديث كي نهٔ وي راغلے ليكن د پوهے دپاره ئے استعمال كړے لكه د الله دپاره علت او سبب لفظ استعمال نهٔ دے راغلے نو په دعاء كي به الله تعالىٰ ته داسے نهٔ وائي چه اے علته اے سببه داسے كار وكړه۔

او جمله خبريه كي وئيلے شي چه الله تعالىٰ علت دے د پيدائش د كائناتو دپاره۔

نو ددے قبيلے نه لفظ د (خدائى، خدا) دے چه دا به په دعا كښے استعمالول غلط وي۔ دارنګه د لفظِ خدائى نه به د الله تعالىٰ نوم نهٔ جوړوي، صرف د يو لفظ په ترجمه كي استعمالولے شي لكه يو سړے ووائي چه د مالك معنىٰ ده خداوند۔

٣- **مسئله** : د الله تعالىٰ بعض نومونه مشتق شوي وي د فعلونو نه لكه سميع مشتق دے د سَمِعَ نه نو د الله دپاره ماضى او مضارع او اسم فاعل ټول استعماليږي۔ او بعض اسماؤ دپاره ماضى او مضارع نهٔ استعماليږي۔ لكه (حى) د الله نوم دے ليكن ماضى او مضارع به ورله نشى استعمالولے چه (حَيِىَ) يا (يَحْيٰى) ووائي۔

او كله فعلونه استعمال وي او د هغے نه اسم فاعل جوړول صحيح نهٔ وي لكه (الله يستهزِء)، (وَهُوَ خَادِعُهُمْ) استعمال دے ليكن الله ته (مُسْتَهْزِء) او (مُخَادِع) نهٔ وئيل كيږي۔

د اسماء او صفاتو په باب كي حافظ ابن القيمؒ شل قواعد ليكلي دي چه په فتاوى الدين الخالص جلد (٢) كي هغه رانقل شويدي، تفصيل دپاره هغے ته رجوع كولے شي۔

٤- **مسئله** : بغوىؒ په معالم التنزيل كي د الله په نومونو كي الحاد (كجروى) په درے طريقو ذكر كړيده (١) يو دا چه د الله نوم بدل كړي لكه مشركانو دا كار كړے چه د لات نوم ئے د الله نه او د عزىٰ نوم ئے د عزيز نه او د منات نوم ئے د منان نه اخستے دے۔

(٢) يا د الله په نوم كي زيادت وكړي لكه د خپل ځان نه د الله دپاره نوم مقرر كړي چه الله تعالىٰ د هغے اجازه نهٔ وي وركړي۔

(٣) يا د الله نوم كې نقصان وكړي لكه بعض نومونو باندې الله تعالىٰ ته آوار بعض پريدي (لكه د رحمن نوم به ئې د مسيلمة الكذاب دپاره استعمالولو نهٔ د الله دپاره). آه.

٤- **مسئله** : قرطبيؒ ليكي : د الله تعالىٰ نومونه په اعتبار د دلالت سره په څلور قسمه دي (١) يو هغه چه خالص په ذات باندې دلالت كوي لكه لفظ د الله ښو چه دا په الله تعالىٰ باندې دلالت كوي بغير د قيد نه او پدې نوم سره ټول نومونه د الله تعالىٰ پيېژندلې شيَ لكه وئيلې شي چه رحمن مثلًا د الله د نومونو نه دې او داسې نهٔ وئيلې كيږي چه الله د رحمن د نومونو نه دې ددې وجه نه ډيره صحيح خبره دا ده چه لفظ د الله تعالىٰ عَلَم غير مشتق دې او صفت (يعني اسم صفتي) نهٔ دې.

(٢) دويم هغه دي چه په هغه صفاتو دلالت كوي چه د ذات دپاره ثابت وي لكه عليم، قدير، سميع او بصير. (٣) دريم هغه دي چه دلالت كوي په نسبت د يو شي الله تعالىٰ ته لكه خالق، رازق وغيره. (٣) څلورم هغه دي چه دلالت كوي په نفي او سلب د يو شي د الله نه لكه عَلِيٌّ او قُدُّوسٌ وغيره.

بيا د الله ټول نومونه حُسنىٰ دي ځكه چه دا ټول دلالت كوي په خپله مسمىٰ باندې حقيقةً او واقعةً او د بنده نومونه داسې نهٔ وي لكه بنده ته بحر العلوم كيږده او هغه به په څه نهٔ پوهيږي او الله ته وهاب او رحمن وائي او په هغه كې په رشتيا سره صفت د وركړې او د رحمت موجود دې. د الله په نومونو كې حَسَن نشته بلكه ټول اَحْسَن دي. دا وجه ده د الله تعالىٰ هر نوم متضمن وي اُوچت صفت لره.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

- 2287(1) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " إِنَّ لِلّٰهِ تَعَالىٰ تِسْعَةً وَتِسْعِيْنَ اسْمًا مِائَةً إِلَّا وَاحِدًا مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ ". وَفِيْ رِوَايَةٍ : " وَهُوَ وِتْرٌ يُحِبُّ الْوِتْرَ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل: يقيناً د الله تعالىٰ دپاره نهه نوي نومونه دي، يعني يو كم سل چا چه دا ياد كړل جنت ته به داخل شي. او په يو روايت كې دي : او الله تعالىٰ طاق ذات دې او طاق خوښوي. (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : مَنۡ أَحۡصَاهَا : د احصاء معنیٰ ده : مَنۡ حَفِظَهَا وَدَعَا بِوَسِيۡلَتِهَا وَآمَنَ بِهَا۔
چه دا په يادو ياد کړی او د هغے په وسيله بيا دعا غواړی او په هغے باندے ايمان راوړی۔
٢- بعض وائی: احصاها معنیٰ دا ده چه جدا جدا کلمه ئے ولولی لکه چه شماری ئے۔
٣- يا معنیٰ دا ده چا چه ددے علم راګير کړو او ددے په معانيو کی ئے تدبر وکړو او ددے په حقائقو باندے خبر شو۔
٤- يا خپل طاقت ئے ددے په حق باندے خرچ کړو او ددے په مقتضیٰ ئے عمل وکړو۔
ليکن اوله معنیٰ د لغت سره ډيره مطابق ده۔
بيا ددے حديث دا معنیٰ نهٔ ده چه د الله صرف دغه (٩٩) نهه نوی نومونه دی بلکه د الله تعالیٰ ډير نومونه دی چه مخلوق ته هغه نهٔ دی معلوم لکه نبی عليه السلام په يو حديث کی فرمائيلی دی : (بِاسۡمٍ هُوَ لَكَ سَمَّيۡتَ بِهٖ نَفۡسَكَ اَوۡ اَنۡزَلۡتَهٗ فِيۡ كِتَابِكَ اَوِ اسۡتَأۡثَرۡتَ بِهٖ فِيۡ مَكۡنُوۡنِ الۡغَيۡبِ عِنۡدَكَ)۔ يعنی په هغه نوم درنه سوال کوم چه تا ځان سره په غيب کی غوره کړيدے او مخلوق ته دے نهٔ دے ښکاره کړے۔
اهل علمو د دوه سوو نه زيات نومونه راجمع کړی۔ نو دا نومونه د قرآن او د حديث نه يو کم سل راجمع کړه نو ددے نصاب اجر دا شو چه انسان پرے جنت ته داخليږی۔
نو کوم متکلمين او فلاسفه چه د الله د نومونو او صفاتو نه منکر دی نو هغوی الله ددے خير نه محروم کړيدی۔
او په کوم روايت کی چه دغه نومونه متعين شويدی نو هغه روايت ضعيف دے لکه چه روستو راځی، اګرکه دغه اکثر نومونه په احاديثو کی راغلی دی ليکن پدے ترتيب سره ضعيف دی۔
دَخَلَ الۡجَنَّةَ : يعنی په ابتداء کی به جنت ته داخل شی بغير د عذاب نه۔ او د جنت د حاصليدو ډير اسباب دی، يو پکښے دا آسان عمل هم دے، او د الله تعالیٰ فضل فراخه دے، نو دا اشکال نشی کيدے چه په قرآن کريم کښے خو دخول د جنت په لګولو د نفس او مال سره وئيلے شويدے۔
وَهُوَ وِتۡرٌ : يعنی الله تعالیٰ په خپل ذات کښے يو اځے دے چه انقسام او تجزی نهٔ قبلوی او په خپلو صفاتو کښے يواځے دے چه د هغهٔ مثل، شبيه نشته۔ او په خپلو کارونو کښے يواځے دے چه د هغهٔ څوك مددګار نشته۔

يُحِبُّ الْوِتْرَ: يعني الله تعالىٰ ته خپل توحيد دومره خوښ دے چه کوم شي کښې فرديت او طاق والے وي هغهٔ خوښوي، يعني هغه اذکار او طاعات خوښوي چه د طاق په شمار سره وي۔ نو دا دليل دے چه طاق والے په کارونو کښې بهتر دے۔

او محبت د الله تعالىٰ حقيقي صفت دے ځکه چه د هغهٔ د شان سره وي او لازم معنىٰ ئے د قبلولو او ثواب ورکولو ده۔ بعضو د وتر نه معنىٰ د الله تعالىٰ يواځے بندګي کول مراد کړيدي، مګر لفظ عام دے هغه هم پکښې داخليږي۔ کما قال القرطبيؒ۔

الفصل الثاني

- 2288(2) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " إِنَّ لِلّٰهِ تَعَالٰى تِسْعَةً وَتِسْعِيْنَ اسْمًا مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ هُوَ اللهُ الَّذِي لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ الْمَلِكُ الْقُدُّوْسُ السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ الْمُهَيْمِنُ الْعَزِيْزُ الْجَبَّارُ الْمُتَكَبِّرُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ الْغَفَّارُ الْقَهَّارُ الْوَهَّابُ الرَّزَّاقُ الْفَتَّاحُ الْعَلِيْمُ الْقَابِضُ الْبَاسِطُ الْخَافِضُ الرَّافِعُ الْمُعِزُّ الْمُذِلُّ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ الْحَكَمُ الْعَدْلُ اللَّطِيْفُ الْخَبِيْرُ الْحَلِيْمُ الْعَظِيْمُ الْغَفُوْرُ الشَّكُوْرُ الْعَلِيُّ الْكَبِيْرُ الْحَفِيْظُ الْمُقِيْتُ الْحَسِيْبُ الْجَلِيْلُ الْكَرِيْمُ الرَّقِيْبُ الْمُجِيْبُ الْوَاسِعُ الْحَكِيْمُ الْوَدُوْدُ الْمَجِيْدُ الْبَاعِثُ الشَّهِيْدُ الْحَقُّ الْوَكِيْلُ الْقَوِيُّ الْمَتِيْنُ الْوَلِيُّ الْحَمِيْدُ الْمُحْصِي الْمُبْدِئُ الْمُعِيْدُ الْمُحْيِي الْمُمِيْتُ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ الْوَاجِدُ الْمَاجِدُ الْوَاحِدُ الْأَحَدُ الصَّمَدُ الْقَادِرُ الْمُقْتَدِرُ الْمُقَدِّمُ الْمُؤَخِّرُ الْأَوَّلُ الْآخِرُ الظَّاهِرُ الْبَاطِنُ الْوَالِي الْمُتَعَالِي الْبَرُّ التَّوَّابُ الْمُنْتَقِمُ الْعَفُوُّ الرَّؤُوْفُ مَالِكُ الْمُلْكِ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ الْمُقْسِطُ الْجَامِعُ الْغَنِيُّ الْمُغْنِي الْمَانِعُ الضَّارُّ النَّافِعُ النُّوْرُ الْهَادِي الْبَدِيْعُ الْبَاقِي الْوَارِثُ الرَّشِيْدُ الصَّبُوْرُ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعَوَاتِ الْكَبِيْرِ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه: سيدنا ابو هريره رضي الله عنه فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: يقيناً د الله دپاره نهه نوي نومونه دي چا چه ياد کړل جنت ته به داخل شي، هغه الله دے چه نشته لائق د عبادت سویٰ د هغه نه (او هغه نهه نوي نومونه دا دي):

الرحمن (٢) الرحيم (٣) الملك (٤) القدوس (٥) السلام (٦) المؤمن (٧) المهيمن (٨)

العزیز (۹) الجبار (۱۰) المتکبر (۱۱) الخالق (۱۲) الباریٔ (۱۳) المصور (۱٤) الغفار (۱۵) القهار (۱٦) الوهاب (۱۷) الرزاق (۱۸) الفتاح (۱۹) العلیم (۲۰) القابض (۲۱) الباسط (۲۲) الخافض (۲۳) الرافع (۲٤) المعز (۲۵) المذل (۲٦) السمیع (۲۷) البصیر (۲۸) الحکم (۲۹) العدل (۳۰) اللطیف (۳۱) الخبیر (۳۲) الحلیم (۳۳) العظیم (۳٤) الغفور (۳۵) الشکور (۳٦) العلی (۳۷) الکبیر (۳۸) الحفیظ (۳۹) المقیت (٤۰) الحسیب (٤۱) الجلیل (٤۲) الکریم (٤۳) الرقیب (٤٤) المجیب (٤۵) الواسع (٤٦) الحکیم (٤۷) الودود (٤۸) المجید (٤۹) الباعث (۵۰) الشهید (۵۱) الحق (۵۲) الوکیل (۵۳) القوی (۵٤) المتین (۵۵) الولی (۵٦) الحمید (۵۷) المحصی (۵۸) المبدیٔ (۵۹) المعید (٦۰) المحی (٦۱) الممیت (٦۲) الحی (٦۳) القیوم (٦٤) الواجد (٦۵) الماجد (٦٦) الواحد (٦۷) الاحد (٦۸) الصمد (٦۹) القادر (۷۰) المقتدر (۷۱) المقدم (۷۲) المؤخر (۷۳) الاول (۷٤) الآخر (۷۵) الظاهر (۷٦) الباطن (۷۷) الوالی (۷۸) المتعالی (۷۹) البر (۸۰) التواب (۸۱) المنتقم (۸۲) العفو (۸۳) الرؤف (۸٤) مالك الملك (۸۵) ذو الجلال والاکرام (۸٦) المقسط (۸۷) الجامع (۸۸) الغنی (۸۹) المغنی (۹۰) المانع (۹۱) الضار (۹۲) النافع (۹۳) النور (۹٤) الهادی (۹۵) البدیع (۹٦) الباقی (۹۷) الوارث (۹۸) الرشید (۹۹) الصبور- دا روایت ترمذیؒ او بیهقیؒ په دعوات کبیر کی نقل کړے، او ترمذیؒ وئیلی دی چه دا حدیث غریب دے۔

تشریح : د الله په نومونو کی اَلْوِتْرُ، اَلْمَنَّانُ، اَلْمُسَعِّر، اَلسَّیِّدُ، اَلْجَمِیْلُ، اَلْمُحْسِنُ، اَلْمَوْلٰی، النَّصِیْرُ، اَلْاَعَزُّ، اَلسُّبُّوْحُ، اَلْکَافِیُ، اَلشَّافِیُ هم شته چه هغه پدے روایت کی نهٔ دی ذکر نو که څوك صرف د همدے روایت نومونه هم یاد کړی نو ان شاء الله چه دغه اجر ورته ملاویږی اگرکه روایت ضعیف دے۔

دغه نومونه په ډیر ښه انداز کی زمونږ په رساله «مسنون مستند ذکرونه او دعاگانے» کی تفصیلًا س ره د معانیو نه وکوره۔

فائده : پدے نومونو کی اکثر نومونه یو یو هم استعمال جائز دے او بعض اسماء مزدوجه دی چه یو به بغیر د بل نه نهٔ استعمالوی لکه القابض الباسط۔ یواځے به قابض نهٔ وائی۔ دارنگه الخافض الرافع/، المعز المذل/، الضار النافع/، المقدم المؤخر شو۔

اَلْمُؤْمِنُ : امن ورکونکے۔ یا بندګانو سره وعده رشتینی کونکے۔ المؤمن : د ایمان نه

دے په معنیٰ د تصديق سره۔
اَلْمُهَيْمِنُ : نګهبان/ ساتونکے/ عالم په هر شی/ ګواهي کونکے په هر نفس د هغه په کارونو۔
اَلْجَبَّارُ : غلبه کونکے /پورته په مخلوقاتو۔
اَلْبَارِئُ : بغير د نمونے نه پيدا کونکے/۔ بارئ اکثر د حيواناتو په پيدائش کی استعماليږی او خالق عام دے۔
اَلْفَتَّاحُ : فيصله کونکے د بندګانو ترمينځ/ د رزق او رحمتونو دروازے کولاوونکے۔
اَلْحَكَمُ : ډيره فيصله کونکے/ هغه ذات چه د هغه فيصلے ته مخلوق تسليميږی۔
اَللَّطِيفُ : نرمي کونکے د بندګانو سره/ په پټو څيزونو پو هه۔
اَلْخَبِيرُ : په هر څه پو هه/ په پټو څيزونو پو هه۔
اَلشَّكُورُ : په لږ عمل ډير اجر ورکونکے/ عمل قبلونکے۔/ د عمل قدر کونکے۔
اَلْعَلِيُّ : اوچتے مرتبے والا، /اُوچت ذات۔
اَلْكَبِيرُ : لوی شان والا۔
اَلْمُقِيتُ : خوراك ورکونکے۔/ساتونکے/ ډير قدرت لرونکے۔
اَلْحَسِيبُ : کافی/ حساب کونکے د بندګانو سره په ورځ د قيامت۔
اَلْكَرِيمُ : ډيره سخا او رکړه کونکے۔/ عزتمند۔
اَلرَّقِيبُ : ساتونکے/ حفاظت کونکے چه هيڅ شے ترے نۀ غائبيږی۔
اَلْبَاعِثُ : مخلوق دوباره راپورته کونکے۔/ ليږونکے د رسولانو۔
اَلشَّهِيدُ : حاضر ناظر (ددے نه حلول او وحدة الوجود نۀ لازميږی) / عالم په هر شی۔
اَلْمُحْصِيُ : راګيرونکے هر شی لره هيڅ شے ترے نۀ فوت کيږی۔
اَلْوَاجِدُ : غنی چه احتياج ئے نۀ راځی۔/ هر شے موندونکے۔
اَلْمَاجِدُ : شيخ البانی رحمه الله وائی چه دا نوم هم د الله تعالىٰ دپاره نۀ دے استعمال۔ (الضعيفة (١١/٦٢٨) رقم (٥٣٧٥)
اَلصَّمَدُ : هغه سيد (سردار) چه هغه ته د سردارئ او مشرئ انتهاء شوی وی۔/ هغه ذات چه بندګان هغه ته په حاجتونو کی قصد کوی۔/ الدائم الباقی۔ (هميشه پاتے کيدونکے)

الظَّاهِرُ : چه بره پرے څه نۀ وی۔ / چه په ظاهری او ښکاره دليلونو سره معلوميږی۔
الْبَاطِنُ: چه د مخلوق د سترګو نه پټ دے/ حديث کی ئے داسے معنیٰ راغلے ده چه د هغه مخے ته څه نۀ وی يعنی د الله مخے ته د ليدلو نه څه مانع او پرده نۀ راځی بلکه هر شے ورته ښکاره دے۔
الْوَالِیُ : مالك د ټولو څيزونو/ تصرف کونکے۔
الْبَرُّ : احسان کونکے/ مهربانی کونکے۔
الْمُنْتَقِمُ : حافظ ابن قيّم قصيده نونيه کی ليکی چه منتقم د الله دپاره نۀ دے استعمال مګر چه (ذُوْ) لفظ ورسره وی لکه (ذو انتقام) يا د مجرمين لفظ ورسره وی لکه (اِنَّا مِنَ الْمُجْرِمِيْنَ مُنْتَقِمُوْنَ) يعنی مقيد راغلے دے او مطلق د الله دپاره نۀ دے استعمال سِویٰ ددے روايت نه او دا روايت ضعيف دے۔
الرَّشِيْدُ : صرف پدے حديث کی راغلے دے او نورو ځايونو کی چرته نۀ دے استعمال پدے وجه ددے استعمال په دعاګانو کی نۀ دے پکار۔
فائده : بعض قصه ګو مليانو د الله تعالیٰ ددے بيل بيل نوم دپاره جدا جدا فضائل او خاصيتونه او جدا اندازے او طريقے مقرر کړيدی چه زر کرته فلانے نوم ووايه فلانے حاجت به دے پوره شی چه د هغے په صحيح احاديثو کی هيڅ ثبوت نشته بلکه صوفياؤ د ځان نه جوړی کړيدی چه اُوس په ټی وی او کيبل وغيره باندے هغه خلکو ته خودلے شی دا صحيح طريقه نۀ ده۔ صاحب د ((مظاهر حق)) پرے ډيرے صفحے لګولی دی ځان ئے ستړے کړيدے۔
درجة الحديث: اسناده ضعيف، الترمذی (٣٥٠٧) وقال حديث غريب والحاكم (١/١٦) وقال الشيخ الالبانی صحيح دون عدّ الاسماء آه واخرجه ايضاً ابن ماجه وابن خزيمة وابن حبان والحاكم والطبرانی وابن ابی الدنيا كلاهما فی الدعاء وابن ابی عاصم وابوالشيخ وابن مردويه كلاهما فی التفسير وابونعيم فی الاسماء الحسنی وابن منده وجعفر الفريابی فی الذكر وفی رواياتهم اختلاف شديد فی سرد الاسماء وزيادة ونقص كما اشار اليه الحافظ فی الفتح والقسطلانی فی ارشاد الساری (١١/٦٨) والشوكانی فی فتح القدير (٢/٢٥٦) (المرعاة٧/٤٣٤)

- 2289 (3) وَعَنْ بُرَيْدَةَ ﷺ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ سَمِعَ رَجُلًا يَقُولُ : اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنَّكَ أَنْتَ اللهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ الْأَحَدُ الصَّمَدُ الَّذِي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ فَقَالَ : " دَعَا اللهَ بِاسْمِهِ الْأَعْظَمِ الَّذِي إِذَا سُئِلَ بِهِ أَعْطَى وَإِذَا دُعِيَ بِهِ أَجَابَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُودَاوُدَ.

ترجمه : او سيدنا بريده ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ د يو سړي نه واوريدل چه وئيل ئے : اے الله ! زۀ ستا نه سوال کوم پدے وسيله چه تۀ الله ئے، نشته حقدار د بندګئ سوئ ستا نه، يواځے ئے، بې نيازه ئے هغه ذات چه نۀ ترے څوك پيدا دی او نۀ د چا نه پيدا شويدے او د هغه دپاره هيڅوك همزولے نشته۔ نو نبی کريم ﷺ وفرمايل : دے شخص د الله په هغه لوی نوم سره دعا وکړه چه کله د هغے په وسيله سره سوال وکړے شي الله ئے ورکوی او کله چه د هغے په وسيله سره دعا وکړے شي الله ئے قبلوی۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ)

تشريح : عوامو کې مشهوره ده چه چا ته اسم اعظم ياد وی نو خلك به پرے په هوا الوزی او هر کار به کولے شي دا خبره خطاء ده، صحيح خبره دا ده چه اسم اعظم د الله تعالیٰ هغه نوم دے چه په هغے سره دعا ښه قبليږی او دا به الله تعالیٰ ته وسيله کولے شی او دا حديث مونږ ته دعوت راکوی چه د الله نومونه الله ته وسيله کړئ چه دعا مو قبوله شی۔

ددے روايت نه معلوميږی چه د الله په نومونو کی يو داسے نوم هم شته چه د ټولو نه لوی دے او د هغے په وجه دعا خامخا قبليږی کله چه انسان په دغه وخت کی د الله نه سوئ د بل څه فکر نۀ وی، بعض علماؤ ددے نه انکار کړيدے او وئيلی ئے دی چه ټول نومونه د الله تعالیٰ لوی دی او که مونږ ومنو چه يو لوی دے نو بيا غوره والے د يو لازميږی په بل باندے او عقيده د نقصان راځی په بل نوم کی لکه دا خبره ابوحاتم بن حبانؒ او قاضی ابوبکر الباقلانیؒ او ابوجعفر الطبریؒ او ابوالحسن الاشعریؒ کړيده۔

حافظ ابن حجرؒ وائی چه ددے باب احاديث په هغوی باندے حجت دے۔

نو کوم علماء چه اسم اعظم منی نو هغوی ددے په تعيين کی مختلف اقوال کوی چه ټول اقوال ديرشو ته رسيږی چه هغه سيوطیؒ په الحاوی کی جمع کړيدی، او حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری کی او علامه مبارکفوریؒ په المرعاة (٤٤٤/٨) کی د هغے نه څوارلس ذکر کړيدی او په الفوائد (٢) جلد کی پنځوس قوله جمع کړے شويدی۔

بعض دا دی : (١) چا وئیلی دی چه اسم اعظم د الله تعالیٰ (هُو) دے، دا د صوفیه ؤ خبره ده او هیڅ دلیل پرے نشته۔ (٢) بعض وائی : لفظ د الله دے۔ ځکه چه دا د الله تعالیٰ ذاتی نوم دے او بل چا دپاره نۀ استعمالیږی او پدے حدیث کی هم راغلے دے۔

(٣) دریم قول اسم اعظم : (الرحمن الرحیم) دے چه دا په بسم الله کی دے۔ او دے باره کی یو ضعیف حدیث د ابن ماجه راغلے دے ضعفه الحافظ۔

(٤) (الحی القیوم) دے ځکه چه دا دوه نومونه متضمن دی ټولو نومونو د الله تعالیٰ لره ګویا که دا ئے مِحْوَر دے او دا په یو روایت کی هم راغلی دی : تاسو د الله تعالیٰ اسم اعظم د سورة البقرے په آیة الکرسی کی او د سورة آل عمران په ابتدائی آیتونو کی او په طه (وَعَنَتِ الْوُجُوْهُ لِلْحَيِّ الْقَيُّوْم) کی طلب کړئ (طبرانی فی الکبیر عن ابی امامة ﷺ) او په دے ځایونو کی الحی القیوم راغلے دے۔

(٥) (اَلْحَنَّانُ الْمَنَّانُ بَدِيْعُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ)۔ لکه روستو روایت پکی راځی۔

(٦) یا (ارحم الراحمین) دے لکه ترغیب او ترهیب کی روایت راغلے دے چه کله بنده دا درے کرته ووائی نو ملائك وائی چه ارحم الراحمین تا ته متوجه شو وایه کوم حاجت دے ؟ (وضعفه الالبانی)۔

(٧) د ابن عباس او ابو الدرداء رضی الله عنهما قول دے چه رب لفظ اسم اعظم دے، دا وجه ده چه د قرآن کریم عامے دعاګانے په لفظ د (ربنا او رَبِّ) سره شروع شویدی۔ (الحاکم فی المستدرك)

حافظ ابن حجرؒ وائی چه د سند په اعتبار سره د ټولو نه راجح دا ده چه دا په (الله لا اله الا هو الاحد الصمد الذی لم یلد ولم یولد ولم یکن له کفوا احد) کی دے، یعنی دا حدیث الباب۔

بیا دا ولے پټ کړے شویدے؟ نو وجه دا ده چه بنده دا ټول نومونه الله تعالیٰ ته په دعا کی ذکر کړی نو فائده به ئے ډیره وشی او که یو ورته متعین کړے شی نو بیا به صرف یو یادوی او نور به ټول پریدی لکه څنګه چه لیلة القدر کله یویشتمه او کله درویشتمه او کله پنځه ویشتمه او کله ویشتمه او کله نهه ویشتمه شپه راځی۔

او دے ټولو اقوالو ترمینځ (سویٰ د اول نه) هیڅ اختلاف نشته، کیدے شی دا ټول اسم اعظم وی۔

فائده: کله یو اسم د انسان دپاره اسم اعظم وی په دے وجه چه د هغه زړه ډیر نرمه وی۔

درجة الحدیث: اسناده صحیح، احمد (٥/٣٥٠) وابوداود (١٤٩٣) والترمذی (٣٤٧٥) والنسائی فی الکبری وابن ماجه (٣٥٨٧) والحاکم (١/٥٠٤) وقال صحیح علی شرط الشیخین ووافقه الذهبی وصححه الالبانی وغیره)

- 2290(4) وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ: كُنْتُ جَالِسًا مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فِي الْمَسْجِدِ وَرَجُلٌ يُصَلِّيْ فَقَالَ: اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ بِأَنَّ لَكَ الْحَمْدَ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ الْحَنَّانُ الْمَنَّانُ بَدِيْعُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ يَا حَيُّ يَا قَيُّوْمُ أَسْأَلُكَ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: " دَعَا اللهَ بِاسْمِهِ الْأَعْظَمِ الَّذِيْ إِذَا دُعِيَ بِهِ أَجَابَ وَإِذَا سُئِلَ بِهِ أَعْطٰى ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْ دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه

ترجمه: او سیدنا انس ﷺ فرمائی: زهٔ د نبی کریم ﷺ سره په مسجد کی ناست وم او یو سړی مونځ کولو نو وے ویل: اے الله! زهٔ ستا نه سوال کوم په دے وسیله چه ستا دپاره حمدونه دی، نشته حقدار د بندګئ سوی ستا نه، تهٔ شفقت کونکے، احسان کونکے ئے، ناشنا پیدا کونکے د آسمانونو او د زمکو ئے، اے د اوچت شان او عزت والا، اے همیشه ژوندیه، اے تدبیر کونکیه، زهٔ ستا نه سوال کوم۔ نو نبی کریم ﷺ وفرمایل: دے شخص د الله نه د هغه لوی نوم په ذریعه سوال وکړو چه کله په هغے سره دعا وکړے شی الله ئے قبلوی او کله چه په هغے سره سوال وکړے شی الله ئے ورکوی۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ، ابن ماجهؒ)

تشریح: اَلْحَنَّانُ: په دے کی اختلاف دے چه د الله په نومونو کی حنان شته او که نهٔ؟ نو د دے روایت نه معلومیږی چه شته لیکن ظاهر دا ده چه دا لفظ په دے روایت کی شاذ دے، او محفوظ لفظ صرف منان دے لکه دا هیثمیؒ په زوائد ابن حبان کی په لفظ د المنان ذکر کړیدے، او تفصیل دپاره سلسلة الاحادیث الصحیحة (٣٤١١) کتلے شی۔

أَسْأَلُكَ: یعنی صرف ستا نه سوال کوم او ستا نه سِویٰ د بل چا نه ئے نهٔ کوم۔ یا دا د مخکنی (اَسْئَلُكَ) تاکید دے، دا لفظ صرف په مشکاة او الادب المفرد کی راغلے دے او په روایت د حاکم کی ورسره دا سے الفاظ دی: (اَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنَ النَّارِ) اے الله!

جنت درنه غواړم او د اُور نه پناهی غواړم)۔

درجة الحديث : اسناده صحيح لغيره دون اسم (الحنان) احمد (١٥٨،١٢٠/٣) وابوداود (١٤٩٥) والترمذی (٣٥٤٤) والنسائی (٥٢/٣) وابن ماجه (٣٨٥٨) والحاكم (٥٠٤،٥٠٣/١) وقال صحيح على شرط مسلم ولم يخرجاه ووافقه الذهبی راجع الصحيحة (٣٤١١)

- 2291(5) وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيْدَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ : " اِسْمُ اللهِ الْأَعْظَمُ فِيْ هَاتَيْنِ الآيَتَيْنِ : (وَإِلٰهُكُمْ إِلٰهٌ وَّاحِدٌ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ) وَفَاتِحَةِ آلِ عِمْرَانَ):(الم اَللهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ) رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوْدَ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه : او اسماء بنت يزيد رضی الله عنها روايت كوی چه نبی كريم ﷺ وفرمايل : د الله تعالىٰ اسم اعظم (لوی نوم) پدے دوه آيتونو كی دے : (وَإِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَاحِدٌ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ) (او ستاسو معبود يو معبود دے نشته حقدار د بندګئ سوئ د هغه نه بی حده مهربان هميشه رحم كونكے دے) او د سورة آل عمران په ابتدائی آيت كی دے (الم اَللهُ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ) (الم : الله نشته حقدار د بندګئ سوئ د هغه نه هميشه ژوندے تدبير كونكے دے)۔ (ترمذیؒ، ابوداوُدؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ)۔

تشريح : اسماء بنت يزيد بن السكن بن رافع انصاريه صحابيه ده، رضی الله عنها، دا ډيره ديندار او عقلمنده ښځه وه او د رسول الله ﷺ سره ئے بيعت كړيدے، او دے ته به د زنانو خطيبه وئيلے شوه،

دا د معاذ بن جبل رضی الله عنه د ترور لور ده او د يرموك جنګ ته حاضره شويده او په هغے كی ئے د روميانو نه د خيمے په لرګی باندے نهه كسان قتل كړی وو۔

دے روايت نه معلوميږی چه اسم اعظم (لا اله الا هو) دے۔ يا لفظ د الله دے۔

درجة الحديث: اسناده حسن : احمد (٤٦/٦) والدارمی (٤٥٠/٢) وابوداود (١٤٩٦) والترمذی (٣٤٧٨) وقال حديث حسن صحيح وحسنه الالبانی فی صحيح الجامع (٩٨٠)

- 2292(6) وَعَنْ سَعْدٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : دَعْوَةُ ذِی النُّوْنِ إِذَا دَعَا رَبَّهٗ

وَهُوَ فِي بَطْنِ الْحُوتِ (لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ) لَمْ يَدْعُ بِهَا رَجُلٌ مُسْلِمٌ فِي شَيْءٍ إِلَّا اسْتُجَابَ لَهُ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : او سعد ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمايل : د ماهي والا (يعنى يونس ؑ) هغه دعا چه کله چه هغه د ماهي په خيټه کی وو او د خپل رب نه ئے دعا غوښتے وه دا ده :(لا الـه الا انت سبحانك انی کنت من الظالمين) نشته حقدار د بندګئ سِوئ ستا نـه، تا لره پاکی ده يقيناً زهٔ د ظلم کونکو نه يم) پدے سره دعا نهٔ ده غوښتے يو سړی مسلمان په يو شي کی مګر الله تعالیٰ ورله قبوله کړيده۔ (احمدؒ، ترمذیؒ)

تشريح : يعنى کله چه بنده يو سوال کوی نو دا دعا پکی وئيل پکار دی الله تعالیٰ به ئے قبلوی او ددے الفاظو په وسيله به ورته حاجت پوره کوی لکه يونس عليه السلام ته الله تعالیٰ د ماهي د خيټے نه پدے دعا سره نجات ورکړو۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : احمد (١/١٧٠) والترمذی (٣٥٠٥) والنسائی فی عمل اليوم والليلة (٦٥٦) والحاكم (١/٥٠٥) وقال صحيح الاسناد ولم يخرجاه ووافقه الذهبی وهو فی صحيح الجامع الصغير (٣٣٩٣)

الفصل الثالث

- 2293(7) عَنْ بُرَيْدَةَ ﷺ قَالَ: دَخَلْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ الْمَسْجِدَ عِشَاءً فَإِذَا رَجُلٌ يَقْرَأُ وَيَرْفَعُ صَوْتَهُ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ! أَتَقُولُ : هٰذَا مُرَاءٍ ؟ قَالَ : " بَلْ مُؤْمِنٌ مُنِيبٌ " قَالَ: وَأَبُو مُوسَى الْأَشْعَرِيُّ يَقْرَأُ وَيَرْفَعُ صَوْتَهُ فَجَعَلَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَتَسَمَّعُ لِقِرَاءَتِهِ ثُمَّ جَلَسَ أَبُو مُوسٰى يَدْعُو فَقَالَ: اَللّٰهُمَّ إِنِّي أُشْهِدُكَ أَنَّكَ أَنْتَ اللهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ أَحَدًا صَمَدًا لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ :" لَقَدْ سَأَلَ اللهَ بِاسْمِهِ الَّذِي إِذَا سُئِلَ بِهِ أَعْطَى وَإِذَا دُعِيَ بِهِ أَجَابَ " قُلْتُ : يَا رَسُولَ اللهِ! أُخْبِرُهُ بِمَا سَمِعْتُ مِنْكَ ؟ قَالَ : " نَعَمْ " فَأَخْبَرْتُهُ بِقَوْلِ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَقَالَ لِي: أَنْتَ الْيَوْمَ لِي أَخٌ صَدِيقٌ حَدَّثْتَنِي بِحَدِيثِ رَسُولِ اللهِ ﷺ. رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه : سيدنا بريده ﷺ فرمائی : زهٔ د رسول الله ﷺ سره مسجد ته په ماسخوتن

کې داخل شوم نو نا څاپه يو سړي قراءت کولو او آواز ئې پورته کولو نو ما ووېل : اے د الله رسوله ! آيا ته دا وائے چه دا سړے رياکار دے؟ هغه ووېل : نهٔ بلکه دا مؤمن دے (چه الله ته) انابت (رجوع) کونکے دے۔ بريده ﷺ وائي : او ابو موسیٰ اشعريؓ قراءت کولو او آواز ئې پورته کولو نو رسول الله ﷺ شروع شو چه د هغه قراءت ته ئې غوږ کيخودو بيا ابو موسیٰ کيناستو دعا ئې کوله نو (په دعا کې ئې) ووېل : اے الله ! زهٔ تا گواه کوم چه بيشکه ته الله ئې، نشته حقدار د بندگئ سویٰ ستا نه، يوائے دے، بې نيازه دے، نهٔ ئې اولاد شته او نهٔ د چا نه پيدا دے، او نهٔ د هغه هيڅوك همزولے شته نو رسول الله ﷺ وفرمايل: دے شخص د الله تعالیٰ نه د هغه د هغه نوم په وسيله سوال وکړو چه کله په هغې سره سوال وکړے شي الله ئې ورکوي او کله چه په هغې سره دعا وغوښتے شي الله تعالیٰ ئې قبلوي، ما ووېل : اے د الله رسوله ! آيا زهٔ هغه ته د هغې خبرے خبر ورکړم چه ما ستا نه واوريده ؟ وے فرمايل: آؤ، نو ما ابو موسیٰ ته د رسول الله ﷺ وينا ذکر کړه نو هغه ما ته ووېل : ته زما نن ورځ رشتينی ورور ئې تا ما ته د رسول الله ﷺ دا ارشاد بيان کړو۔ (رزينؒ)

تشريح : قَالَ: وَأَبُوْ مُوْسَى : يعني بريده ﷺ وائي : ما رسول الله ﷺ ته دا خبره پداسے حالت کښې وکړه چه ابو موسیٰ اشعري ﷺ قراءت کولو نو ما ورته ووېل چه آيا تا ته دا رياکار ښکاره کيږي، ځکه چه دهٔ آواز پورته کولو کښې دا احتمال شته چه رياء به کوي۔ نو رسول الله ﷺ د هغهٔ ترديد وکړو چه دا خو الله تعالیٰ ته رجوع کونکے دے۔ او د غفلت نه ذکر ته رجوع کونکے دے۔

نو اول سر کښې چه کوم رجل ذکر دے د هغې نه همدا ابو موسیٰ اشعري ﷺ مراد دے۔

يَتَسَمَّعُ : دا د باب تفعل نه دے، تسمع په تکلف سره او کوشش کولو او محبت کولو سره غوږ کيخودو ته وئيلے شي۔ او دا ځکه چه د ابو موسیٰ اشعري ﷺ قراءت ډير مزيدار او خوږ وو۔

ثُمَّ جَلَسَ : دا دليل دے چه کوم قراءت ئې کولو نو هغه په ولاړه وو۔

يَدْعُوْ : دا په تشهد کښې مراد ده يا د مانځه نه روستو۔

اُشْهِدُكَ : يعني زهٔ ستا په باره کښې دا عقيده ساتم۔

أَحَدًا صَمَدًا : منصوب دي په اختصاص سره۔ اَیْ أَخُصُّ أَحَدًا صَمَدًا۔

أُخْبِرُهُ : دلته همزه د استفهام پته ده۔ يعنى آيا زۀ ئے خبر کړم؟

فَقَالَ لِيُ : يعنى د خوشحالى نه ئے ما ته داسے وويل۔

أَخْ صَدِيْقٌ : داسے ورور مے شوے چه ملګرے مے هم ئے۔ ددے نه معلومه شوه چه پکار دا ده چه څوك د چا نه د پيغمبر حديث واورى نو هغه سره دوستى وكړى۔

او د الله د نبى په حديث باندے خوشحالى پكار ده۔

او ددے حديث نه دا فائده هم معلوميږى چه افضل عبادت دا دے چه انسان بل مسلمان باندے خوشحالى ورداخله كړى او هغۀ ته زيرے وركړى او هغه په خپل دينى كار باندے مضبوط كړى۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : رجاله رجال الشيخين، النسائى فى الكبرى (١١٢٤٤) احمد (٥/٣٤٩) (شعيب الارناووط) وذكره رزين فى تحريده هكذا مطولا بدون سند)

OOOOO

(٣) بَابُ ثَوَابِ التَّسْبِيحِ وَالتَّحْمِيدِ وَالتَّهْلِيلِ وَالتَّكْبِيرِ

د سبحان الله، الحمد لله، لا اله الا الله او الله اكبر وئيلو د ثواب بيان۔
دا بهترين كلمات دي او ډير فضائل ئې دي نو ځكه ئې په مستقل باب كښې راوړل۔

الفصل الأول

- 2294(1) عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" أَفْضَلُ الْكَلَامِ أَرْبَعٌ : سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ " وَفِيْ رِوَايَةٍ :" أَحَبُّ الْكَلَامِ إِلَى اللهِ أَرْبَعٌ : سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ لَا يَضُرُّكَ بِأَيِّهِنَّ بَدَأْتَ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : سيدنا سمره بن جندب ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : (د انسانانو د خبرونه) غوره خبرې څلور دي : (هغه دا دي) سبحان الله (الله تعالىٰ ډير پاك دے) الحمد لله (ټول صفتونه د كمال الله تعالىٰ لره دي) لا اله الا الله : د الله نه سوىٰ هيڅ حق معبود نشته۔ الله اكبر (الله ډير لوى دے) او په يو روايت كې دي : (نبي كريم ﷺ وفرمايل: الله تعالىٰ ته ډير خوښ كلام څلور دي : سبحان الله، الحمد لله، لا اله ألا الله او الله اكبر، ستا ته هيڅ نقصان نشته چه په هر يو ددے باندے شروع وكړے۔ (مسلم)

تشريح : سُبْحَانَ : اسم مصدر دے د تسبيح نه۔ ځيني وائي سبحان خپله مصدر دے، سبحان : كاملے تنزيه ته وائي۔ يعني پوره پاكي، ددے وجه نه دا خصوصيت د الله تعالىٰ دے او (سُبْحَانَ مِنْ عَلْقَمَةَ الْفَاخِرِ) چه راغلے دے نو دا غلطه ده۔

لَا يَضُرُّكَ: يعني دا ترتيب ضروري نهٔ دے، بلكه د هر طرف نه چه شروع كوى او يواځے يواځے ئې هم وئيلے شي چه صرف سبحان الله سل كرته او بيا الحمد لله سل كرته ووائي الخ۔

بيا اذكار دوه قسمه دي (١) يو مطلق دي (٢) او بل مقيد بالعدد دي، نو پدے كې به زيادت نار‌وا وي مگر كه رسول الله ﷺ وئيلي وي چه [إِلَّا أَنْ يَزِيْدَ] يعني هغهٔ استثناء

کړې وي چه د سلو دا فضیلت شو او که زیادت کوي نو خوښه ئې ده، هرڅومره ئې چه وائي۔ نو بیا به زیادت جائز وي لکه عامو اذکارو کې ئې داسې زیادت جائز کړېدې نو سل به نصاب شي او زیادت به ترې جائز وي۔

او اذکار مطلقه چه څومره کرته کوي خوښه ئې ده۔

د اذکار مقیده مثال لکه د مانځه نه روستو تسبیحات درې دیرش درې دیرش کرته ئې خودلې دي نو ددې نه به زیادت بدعت وي یا نبي علیه السلام فرمائي چه فلانې ذکر د سهر مانځه نه روستو درې کرته وکړئ نو د هغې نه زیادت به بدعت وي۔

دارنګه [اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ] یو کرت وئیل دي که څوك ئې دوه یا درې کرته وائي دا به ټیك نۀ وي، په اذکار مطلقه ؤ کې که څوك ځان دپاره یو نصاب مقرر کړي نو دا به بدعت نۀ وي لکه بعض ناپوهه هر څه ته بدعت وائي لکه یو تن د ورځې زر کرته سبحان الله او زر کرته الحمد لله وائي نو دا ناروا نۀ ده البته که ددې نه زیادت او کموالې ورته ناروا ښکاري نو بیا به بدعت جوړېږي۔

- 2295(2) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" لَأَنْ أَقُوْلَ: سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمایل: خامخا که زۀ سبحان الله والحمد ولا اله الا الله والله اکبر ووایم دا ما ته ډیره غوره ده د هغه څه نه (یعني دنیا او د دنیا د څیزونونه) چه نمر په هغې باندې راخیژي۔ (مسلمؒ)

تشریح : مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ : یعني ټوله دنیا او هغه مالونه وغیره چه پدې کې دي۔

بعض وائي : دا د ټول مخلوقات نه کنایه ده۔ یعني خلکو ته خو دنیا ډیر لوی شے ښکاري خو نبي علیه السلام ته دغه کلمات لوی شے ښکاري۔

یا ددې نه مراد دا دې چه که ټوله دنیا ما ته راکړې شي او هغه زۀ خرچ کړم نو ما ته د هغې نه دغه کلمات ډیر غوره ښکاري۔

- 2296 (3) وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" مَنْ قَالَ: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ فِيْ

يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ حُطَّتْ خَطَايَاهُ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چه په ورځ كې سل كرته سبحان الله وبحمده وويل، ددهٔ گناهونه به ورژيږي اګركه هغه د درياب د زګ په اندازه وي. (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : سُبْحَانَ : منصوب دے اَیْ اُسَبِّحُهٗ سُبْحَانَ . زهٔ د الله پاكي وايم په پاكي وئيلو سره.

خَطَايَاهُ : ددے گناهونو نه مراد واړه دي او ځيني وائي غټ هم پكې داخليږي ليكن دا هغه گناهونه مراد دي چه د حقوق الله سره تعلق لري ځكه چه د خلكو حقوق نهٔ معاف كيږي ترڅو پورے چه د هغوي نه ئے معافي نهٔ وي غوښتې.

دے نه معلوميږي چه سبحان الله د لا اله الا الله نه هم زياته غوره ده او حال دا چه روستو (نهم حديث كې) راځي چه لا اله الا الله سره

سل گناهونه معاف كيږي نو د درياب د زګونو په اندازه گناهونه خو د سلو گناهونو نه بيحده زيات دي او بيا په حديث د تهليل كې وائي چه (هيڅوك به ډير غوره عمل رانهٔ وړي د هغه چا نه چه دهٔ راوړيدے)

نو دے نه معلومه شوه چه تهليل غوره دے د تسبيح نه ؟ نو ددے تطبيق دا شويدے چه مذكوره لا اله الا الله الخ ډيره غوره ده د سبحان الله نه او په هغے كې ورسره زيادت د ليكلو د نيكيانو او د معاف كيدو د گناهونو هم دے او ورسره د غلامانو د آزادولو او بيا د شيطان د حفاظت ذريعه جوړيدل زيات دي په فضيلت د تسبيح باندے او د هغے په گناهونو ختمولو باندے ځكه چه انسان غلام آزاد كړي نو د هغه ټول گناهونه معاف شي او اندامونه ئے د اُور نه آزاد شي لكه دا په بل حديث كې راغلي دي. (نوويؒ، ابن حجرؒ)

- 2297 (4) وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" مَنْ قَالَ حِيْنَ يُصْبِحُ وَحِيْنَ يُمْسِيْ : سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ مِائَةَ مَرَّةٍ لَمْ يَأْتِ أَحَدٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِأَفْضَلَ مِمَّا جَاءَ بِهٖ إِلَّا أَحَدٌ قَالَ مِثْلَ مَا قَالَ أَوْ زَادَ عَلَيْهِ). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چه د صبا او د بیګاه په وخت سل کرته سبحان الله وبحمده ولوستل، نو د قیامت په ورځ به هیڅوك ډیر غوره عمل رانهٔ وړی د هغې نه چه دهٔ راوړیدے مګر هغه څوك چه ددهٔ په شان ئې ووائي یا ئې ددهٔ نه زیات ووائي. (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : حِيْنَ يُصْبِحُ: یعنی سهار او ماښام په دواړو کی سل سل کرته دغه ذکر وکړی. نو دوه سوه شو یا صرف په سهار کی یا صرف په ماښام کی سل کرته. اول احتمال ښکاره دے.

- 2298 (5) وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " كَلِمَتَانِ خَفِيْفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ ثَقِيْلَتَانِ فِي الْمِيْزَانِ حَبِيْبَتَانِ إِلَى الرَّحْمٰنِ : سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيْمِ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمایل : دوه کلمے دی چه په ژبه سپکی (آسانی) دی په میزان کی درنے دی، رحمٰن ذات ته ډیرے خوښے دی، هغه سبحان الله وبحمده سبحان الله العظیم دی. (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : د کلمے اطلاق کله په کلام کیږی لکه دلته دا مفیدی جملے دی او کلمے ورته وئیل شویدی.

كَلِمَتَانِ: دا خبر مقدم دے او ددے نه روستو صفتونه دی او سبحان الله الخ دا ئې مبتداء ده او نکته په خبر مقدم راوړو کی دا ده چه د سامع (آوریدونکی) مبتدا ذکر کیدو ته شوق پیدا شی، خاصکر کله چه د خبر دپاره ډیر صفات وی نو د هغې مخکی کول د سامع شوق نور هم زیاتوی او په کلام کی حسن پیدا کوی او ددے نه روستو چه مسند الیه ذکر شی نو په ذهن د سامع کی ښه واقع کیږی او ذهن ئې ډیر ښه قبلوی.

خَفِيْفَتَانِ : (آسانی دی) ځکه چه داسے حروف پکی نشته چه ګران وی لکه همزه، جیم، دال، طاء، قاف، کاف چه پدے کی شدت دے او خاء، صاد، ضاد، طاء، ظاء حروف استعلاء هم پکی نشته.

دارنګه پدے کی فعلونه هم نشته بلکه ټول اسماء دی او اسمونه په تلفظ کی د فعل نه آسان وی. او په اسماؤ کی غیر منصرف کلمات هم پکی نشته. دا وجه ده چه عرب

او عجم تهولو ته آساني دي، تلفظ پرے په جلتئ سره کيدے شي۔

ثَقِيْلَتَانِ فِي الْمِيْزَانِ: يعنـي د قيـامت پـه ورځ بـه الله تـعالىٰ دا كلمات په ميزان كې واچوي نو ډيرے درنے به وخيژي او دا په حقيقت باندے حمل دے چه الله تعالىٰ به ئے درنے خيژوي ځکه چه د قيامت په ورځ به اعمال مجسم كولے شي، د جسم په شكل به راځي۔ حافظؒ وائي: دے دوه كلماتو ته ئے خفيفے هم ووئيلے او ثقيلے هم۔ يعني عمل كم دے او ثواب ئے زيات دے۔

دا روايت دليل دے چه د قيامت په ورځ د اعمالو تول شته، او معتزله وائي چه اعمال اعراض دي او د اعراضو وزن او تول محال دے ځکه چه هغه قائم بنفسها نهٔ دي، وجود د هغے تابع د غير دے نو هغه په ثقل او خفت سره نهٔ متصف كيږي مگر دا خبره غلطه ده، الله تعالىٰ پدے قادر دے چه اعمال هم د تول دپاره راولي لكه قرآن او احاديث په دے گواه دي، حافظ ابن حجرؒ وائي: صحيح دا ده چه اعمال به تللے كيږي۔ لكه په حديث د ابو درداء رضي الله عنه كې دا ثابته ده چه د قيامت په ورځ به په ميزان د مؤمن كې ښائسته اخلاق ډير درون شے وي۔(ابو داودؒ، ترمذيؒ)

دا هغه روايت دے چه صحيح بخاري پدے باندے ختم شويدے چه هلته ئے محدثين ډير تشريحات بيانوي۔

حَبِيْبَتَانِ: پدے كلمو وئيلو سره د الله تعالىٰ محبت حاصليږي ځکه چه دا كلمے الله تعالىٰ ته ډيرے زياتے محبوبې دي نو ځوك چه دا وائي هغه به د الله تعالىٰ محبوب جوړيږي۔ **سوال**: وزن فعيل كې خو مذكر او مؤنث برابر وي نو بيا ولے تاء راوړے شوه ؟ (١) **جواب** دا دے چه دغه قانون جائز دے واجب نهٔ دے۔

(٢) يا دغه قانون په مفرد كې دے نهٔ په تثنيه كې۔

(٣) يا ئے پدے وجه مؤنث تہ يه راوړه چه ددے مناسبت دے د (ثقيلتان او خفيفتان) سره ځکه هغه په معنىٰ د فاعل سره وو نو دائے هم مؤنث راوړه دپاره د رعايت د مناسبت۔

(٤) يا دا تاء دپاره د نقل د وصفيت ده اسميت ته۔

الرَّحْمٰنِ: د رحمن نوم ئے خاص كړو ځکه چه پدے حديث كې بيان د فراخه رحمت د الله تعالىٰ دے په بندگانو خپلو باندے ځکه چه په لږ عمل باندے ډيره بدله وركوي۔ او

پدې کې رعایت د فواصل او د سجع دې او دا د کلام د محسناتو نه دې او سجع نه چه منع راغلې ده نو هغه ده چه په تکلف بناء وي يا باطل لره متضمن وي لکه سجع د کاهنانو وغیره شوه او که په غیر د قصد نه راغلې وي يا حق لره متضمن وي نو هغه منع نۀ ده لکه پدې مقام کې په غیر د قصد باندې راغلې ده۔

پدې حدیث کې دې خبرې ته اشاره ده چه د الله تعالیٰ په تسبیح وئیلو باندې به ډیر اهتمام کولې شي په نسبت د تحمید باندې ځکه چه د تسبیح په باره کې مخالفین ډیر دي پدې وجه دلته دوه ځل سبحان الله وویل شو۔

لیکن حمد افضل دې د تسبیح نه ځکه چه هغه متضمن دې صفاتِ ثبوتیه ؤ لره په خلاف د تسبیح باندې چه دا متضمن دې صفاتِ سلبیه ؤ لره او ثبوت د سلب نه افضل وي۔

- 2299 (6) وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ ﷺ قَالَ: كُنَّا عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَقَالَ: "أَيَعْجِزُ أَحَدُكُمْ أَنْ يَكْسِبَ كُلَّ يَوْمٍ أَلْفَ حَسَنَةٍ؟" فَسَأَلَهُ سَائِلٌ مِنْ جُلَسَائِهِ: كَيْفَ يَكْسِبُ أَحَدُنَا أَلْفَ حَسَنَةٍ؟ قَالَ: "يُسَبِّحُ مِائَةَ تَسْبِيْحَةٍ فَيُكْتَبُ لَهُ أَلْفُ حَسَنَةٍ أَوْ يُحَطُّ عَنْهُ أَلْفُ خَطِيْئَةٍ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَفِيْ كِتَابِهِ: فِيْ جَمِيْعِ الرِّوَايَاتِ عَنْ مُوْسَى الْجُهَنِيِّ: "أَوْ يُحَطُّ" قَالَ أَبُوْ بَكْرِ الْبُرْقَانِيُّ وَرَوَاهُ شُعْبَةُ وَأَبُوْ عَوَانَةَ وَيَحْيَى بْنُ سَعِيْدِ الْقَطَّانُ عَنْ مُوْسٰى فَقَالُوْا: "وَيُحَطُّ" بِغَيْرِ أَلِفٍ هٰكَذَا فِيْ كِتَابِ الْحُمَيْدِيِّ.

ترجمه: او سیدنا سعد بن ابی وقاص ﷺ فرمائي: مونږ د رسول الله ﷺ سره وو نو هغه وفرمایل: آیا په تاسو کې یو تن ددې نه کمزورې دې چه هره ورځ زر نیکۍ حاصلې کړي؟ نو د ناستو خلکو نه یو تپوس کونکي تپوس وکړو: په مونږ کې به یو تن څنګه زر نیکۍ حاصلې کړي؟ وې فرمایل: هغه شخص به سل کرته سبحان الله ووائي نو ددۀ دپاره به زر نیکۍ ولیکلې شي یا به ددۀ نه زر ګناهونه ورژولې شي۔ (مسلمؒ) ابوبکر برقانيؒ وائي: په صحیح مسلم کې چه د موسیٰ جهني نه کوم روایتونه منقول دي په هغه ټولو کې لفظ د (او یحط) نقل شوېدې لیکن شعبهؒ، ابوعوانهؒ او یحیی بن سعیدؒ القطان د موسیٰ جهني نه دا روایت نقل کړېدې پدې کې لفظ د (وَيُحَطُّ) په بغیر د الف

نـه ذکـر کـړیدے او په کتاب د حمیدی (یعنی الجمع بین الصحیحین) کی هم دغه شان منقول دے۔

تشریح : یَکْسِبُ : اَیْ یَحْصِلَ۔ حاصل کړی۔

کـه (وَیَحُطُّ) پـه واو سره شی نو بیـا بـه دواړه فـضیلتونـه راجمع شی چـه پـه سل تسبیحـاتو سره بـه زر نیـکیٔ ولیـکلے شی او زر ګناهونه به معاف شی۔ ځکه چه یوه نیکیٔ په لسو باندے حساب ده۔

دلتـه پـه ظاهـره کـی تـعارض ښکاری چه دا (اَوْ) دے او که واو دے مګر په حقیقت کی تـعارض نشتـه ځکـه چـه کـلـه نـا کـلـه واو په معنیٰ د (اَوْ) سره استعمالیږی، یعنی که ګناهونه ئے نهٔ وی نو زر نیکیانی به ئے ولیکلے شی او که ګناهونه ئے وی نو زر ګناهونه به ورته معاف شی۔

یـا داسے ووایه چه (وَیُحَطُّ) غـوره دے ځـکـه پـه دے کـی زیادت د ثـواب دے یا زیادت د ثقه دے او هغه مقبول وی۔

ابوبکر البِرُقانیؒ : دا شیـخ الـفقهاء والمحدثین ابوبکر احمد بن محمد بن احمد بن غـالـب الـخـوارزمیؒ البرقانی الشافعیؒ شیخ بغداد دے، د ابو العباس بن حمدان وغیره نه ئـے پـه خـوارزم ښار کـښے آوریدل کـړیدی، او د ابوبکر الاسماعیلیؒ نه ئے په جُرجان کښے او د ابوعمرو بن حمدانؒ نه په نیسابور کښے، او د ابو بکر بن ابی الحدیدؒ نه په دمشق کښے، او د عبـد الغنی الاسدیؒ او ابن النحاسؒ نه په مصر کښے، او ددهٔ شاګردان ابوبکر البیهقیؒ او خـطیـب بـغـدادیؒ او ابـو اسـحاق الشیرازیؒ الفقیه او ابو عبد الله الصوریؒ او نور کسان دی، ډیر تصانیف ئے کړیدی، او په صحیحینو باندے ئے تخریج کړیدے؛

خـطیب بغدادیؒ وائی : دا ثقه، پرهیزګار، ثبت عالم دے مونږ په خپلو مشائخو کی ددهٔ نـه ډیـر مـضبـوط نـهٔ وو لیدلے ۔ فقه لوی عالم دے، دهٔ داسے مسند کتاب تیارولو چه پهٔ هـغـے کـی صـحیـح بـخاری او صحیح مسلم دواړه راجمع وو لیکن د مرګ په وجه هغه تـرے سرتـه ونـهٔ رسیدو په سنه (٣٣٣ هجری) کی پیدا وو او په بغداد کی په اول د رجب کی په سنه (٤٢٥ هجری) کی وفات شو (تذکرة الحفاظ)۔ ________

- 2300 (7) وَعَنْ أَبِیْ ذَرٍّ ﷺ قَالَ : سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَیُّ الْكَلَامِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: " مَا

اصْطَفَى اللّٰهُ لِمَلَائِكَتِهِ: سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهِ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او سيدنا ابوذر ﷛ فرمائي : د رسول الله ﷺ نه تپوس وشو کوم کلام ډير بهتر دے ؟ وے فرمايل : هغه چه الله تعالىٰ د خپلو ملائکو دپاره غوره کړيدے : (يعنى) سبحان الله وبحمده۔ (مسلمؒ)

تشريح : يعنى په عامو اذکارو کى کوم ذکر بهتر دے؟۔ ددے ذکر لوى فضيلت پدے وجه دے چه الله تعالىٰ خپلو ملائکو دپاره دا منتخب کړيدے چه هغوى هميشه داسے کلمات د الله دپاره ووائى نو دا حديث دلالت په حصر باندے نۀ کوى چه ګنے ملائك نور کلمات نۀ وائى او صرف همدا کلمات وائى۔

علامه طيبىؒ وائى : پدے کى اشاره ده دے قول د الله تعالىٰ ته ﴿وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ﴾ البقره : ٣٠) او دا هم امکان لرى چه (سبحان الله وبحمده) اختصار وى د هغه څلورو کلماتو نه چه هغه (سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اکبر) دى ځکه چه سبحان الله کى د الله تعالىٰ د ذات پاکى ده د هغه څه نه چه د الله سره لائق نۀ وى او د هغه صفات پاك ساتل دى د نقصاناتو نه نو پدے کى به د لا اله الا الله معنىٰ هم داخله وى او (بِحَمْدِهٖ) کى ښکاره حمد د الله دپاره ثابت دے،

او پدے کى ورسره د الله اکبر معنىٰ هم داخل ده ځکه چه هرکله ټول فضل او مهربانيانى د الله دپاره دى او د الله د طرفنه دى نۀ د بل چا د طرفنه نو د الله تعالىٰ نه هيڅوك لوى نشته۔

مګر ظاهر دا ده چه هغه جدا فضيلت دے او دا جدا فضيلت دے۔

سوال : که ووېلے شى چه ددے نه خو معلوميږى چه تسبيح د لا اله الا الله نه ډيره غوره ده ؟ **جواب** : دا خبره نۀ معلوميږى ځکه چه په لا اله الا الله کى صراحةً توحيد ذکر دے او تسبيح کى توحيد ضمناً دے۔

دارنګه د سبحان الله منطوق تنزيه (پاکى بيانول) دى او مفهوم ئے توحيد دے او منطوق د لا اله الا الله توحيد دے او مفهوم ئے تنزيه دے۔ نو لا اله الا الله افضل شوه ځکه چه توحيد اصل دے او تنزيه د هغے نه راپيدا کيږى۔ ————

- 2301(8) وَعَنْ جُوَيْرِيَةَ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ خَرَجَ مِنْ عِنْدِهَا بُكْرَةً حِيْنَ صَلَّى الصُّبْحَ وَهِيَ فِيْ مَسْجِدِهَا ثُمَّ رَجَعَ بَعْدَ أَنْ أَضْحَى وَهِيَ جَالِسَةٌ قَالَ : " مَا زِلْتِ عَلَى الْحَالِ الَّتِيْ فَارَقْتُكِ عَلَيْهَا ؟" قَالَتْ : نَعَمْ، قَالَ النَّبِيُّ ﷺ :" لَقَدْ قُلْتُ بَعْدَكِ أَرْبَعَ كَلِمَاتٍ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ لَوْ وُزِنَتْ بِمَا قُلْتِ مُنْذُ الْيَوْمِ لَوَزَنَتْهُنَّ : سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ عَدَدَ خَلْقِهِ وَرِضَى نَفْسِهِ وَزِنَةَ عَرْشِهِ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او ام المؤمنين جويريه رضي الله عنها نه روايت دے چه بيشكه نبي كريم ﷺ د هغے د خوا نه ووتو سهار وختي كله چه ئے چه د سهار مونځ وكړو (يعني د سهار د مانځه اراده ئے وكړه) او هغه په خپل ځاى د مانځه كي ناسته وه بيا نبي كريم ﷺ راواپس شو پس د هغے نه د چاشت وخت راغلے وو او جويره ناسته وه، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل : آيا تهٔ هميشه په هغه حالت باندے ئے كوم باندے چه زهٔ تا نه جدا شوے وم؟ هغے وويل : آؤ، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: يقيناً ما ستا نه روستو څلور كلمات درے كرته ولوستل كه چرته دغه كلمات وتللے شي د هغه ذكرونو سره چه تا نن وئيلي دي نو خامخا دا به پرے وزني شي. (هغه كلمات دا دي :) سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ عَدَدَ خَلْقِهِ وَرِضَا نَفْسِهِ وَزِنَةَ عَرْشِهِ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ) (زهٔ د الله پاكي وايم او د هغه صفتونه بيانوم د هغه د مخلوقاتو د شمار په اندازه او د هغه د ذات د رضا موافق او د هغه د عرش د وزن مطابق او د هغه د كلمو په اندازه). (مسلمٌ)

تشريح : جويريه بنت الحارث بن ابى ضرار چه د بني مصطلقو مشر وو د هغهٔ لور وه، او په غزوه د بني المصطلق كي دا ونيولے شوه، او ددے خاوند مُسافع بن صفوان المصطلقي وو، هغه په دغه غزوه كي قتل شو، او دا د ثابت بن قيس بن شماس رضي الله عنه په برخه كي ورسيده، نو هغه ورسره كتابت وكړو او دا راغله د رسول الله ﷺ نه ئے په دے كتابت كي مدد اخستو، دائے ورته وويل چه اے د الله رسوله ! زهٔ د قوم د سردار لور يم او ما ته دا مصيبت رارسيدلے دے تهٔ ما سره مدد وكړه،

نبي عليه السلام ورته وفرمايل : ددے نه غوره خبره درته نهٔ كوم هغه دا چه زهٔ به ستا د كتابت پيسے ادا كړم او په نكاح به دے واخلم هغے وويل : صحيح ده نو كله چه نبي عليه السلام په

نکاح واخسته نو خلکو ته دا خبره ورسیده نو هغوی وویل :
دا خلك خو د رسول الله ﷺ سخرګنیٔ شوه نو د هغوی په لاسونو کې چه کوم قیدیان د بنو المصطلق وو هغه ئې پریخودل نو ددې په وجه الله تعالیٰ سل کورونه د بنی المصطلق د قید نه آزاد کړل، عائشه رضی الله عنها فرمائی : ما ته داسې ښځه نهٔ ده معلومه چه قوم ته ئې دومره برکت رسیدلې وی لکه ددې چه ورسیدو۔
دا ډیره عبادت ګزاره زنانه وه د سهار مانځه نه روستو به ناسته وه تر ناوخته پورې به ئې ذکر اذکار کولو نو پدې موقعه کې پرې رسول الله ﷺ راغلو او دا کلمات ئې ورته وخودل چه امت دپاره لویه فائده شوه۔
لَوْ وُزِنَتْ : اَیْ قُوْبِلَتْ : یعنی که دا د هغې سره مقابله کې واچولې شی۔ او تول کړې شی۔
وَمِدَادَ : په کسره د میم سره یعنی مِثْلَهَا فِي الْعَدَدِ یا مِثْلَ عَدَدِهَا۔ (نهایه)
یعنی په اندازه د شمار د کلماتو د هغه۔ دا مثلیت یا په نهٔ ختمیدو کی دے یا په ډیر والی کی دے۔ مداد د مدد په شان دے په اصل کی زیادت او کثرت ته وائی۔
او پدے الفاظو کی به مقدار لفظ زیاتولے شی اَیْ مِقْدَارَ عَدَدِ خَلْقِهٖ وَبِمِقْدَارِ رِضَا ذَاتِهِ الشَّرِیْفَةِ وَبِمِقْدَارِ ثِقْلِ عَرْشِهٖ وَبِمِقْدَارِ زِیَادَةِ کَلِمَاتِهٖ)۔ یعنی په اندازه د شمار د تولو مخلوقاتو د الله سره او په اندازه د رضا د ذات د الله تعالیٰ سره او په اندازه د درون والی د عرش د هغه سره او په اندازه د زیاتوالی د کلماتو د هغه سره۔

- 2302(9) وَعَنْ أَبِیْ هُرَیْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " مَنْ قَالَ: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِیْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ فِیْ یَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ کَانَتْ لَهٗ عِدْلَ عَشْرِ رِقَابٍ وَکُتِبَتْ لَهٗ مِائَةُ حَسَنَةٍ وَمُحِیَتْ عَنْهُ مِائَةُ سَیِّئَةٍ وَکَانَتْ لَهٗ حِرْزًا مِنَ الشَّیْطَانِ یَوْمَهٗ ذٰلِكَ حَتّٰی یُمْسِیَ وَلَمْ یَأْتِ أَحَدٌ بِأَفْضَلَ مِمَّا جَاءَ بِهٖ إِلَّا رَجُلٌ عَمِلَ أَکْثَرَ مِنْهُ" مُتَّفَقٌ عَلَیْهِ

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چه (لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِیْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ) په ورځ کی سل کرته

ولوستل نو دا به ددهٔ دپاره د لسو غلامانو د آزادولو برابر شي او ددهٔ دپاره به سل نيکيانې وليکلې شي او ددهٔ نه به سل گناهونه ختم شي او دا به ددهٔ دپاره د شيطان نه په دغه ورځ حفاظت شي تردې چه دا بيگاه کړي او هيڅوك به غوره څه رانهٔ وړي د هغې نه چه دهٔ راوړيدي مگر هغه سړے چه ددهٔ نه زيات عمل وکړي. (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : شيخ البانى رحمه الله دا فائده ليکلې ده چه په احاديثو کې د سل کرتو نه زياته اندازه نهٔ ده ذکر، داسې نشته چه چا درې سوه کرته فلانے ذکر ولوستو نو دومره اجر به ئې وشي نو ددې وجه نه کوم صوفياء چه په خلکو باندې په زرگونو کرتو ذکر مقرروي نو دا سنت کې نهٔ دی راغلي بلکه خلك ليونى کول دي.

آو، په خپل اختيار ډير ذکر کولے شي اگرکه د سلو نه زيات وي. لکه [إِلَّا رَجُلٌ عَمِلَ أَكْثَرَ مِنْهُ] لفظ نه معلوميږي.

حِرْزًا : په کسره د حاء سره اصل کې حصن (قلعه) ته وائي دلته ئې معنیٰ ده حِفْظًا وَمَنْعًا. يعنى حفاظت او منع کونکے.

- 2303(10) وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ ﷺ قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ فِي سَفَرٍ فَجَعَلَ النَّاسُ يَجْهَرُونَ بِالتَّكْبِيرِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: " يَا أَيُّهَا النَّاسُ ! ارْبَعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ إِنَّكُمْ لَا تَدْعُونَ أَصَمَّ وَلَا غَائِبًا، إِنَّكُمْ تَدْعُونَ سَمِيعًا بَصِيرًا، وَهُوَ مَعَكُمْ، وَالَّذِي تَدْعُونَهُ أَقْرَبُ إِلَى أَحَدِكُمْ مِنْ عُنُقِ رَاحِلَتِهِ " قَالَ أَبُومُوسَى : وَأَنَا خَلْفَهُ أَقُولُ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ فِي نَفْسِي فَقَالَ : " يَا عَبْدَ اللهِ بْنَ قَيْسٍ أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى كَنْزٍ مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّةِ ؟" فَقُلْتُ: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ :" لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سيدنا ابوموسى اشعرى ﷺ فرمائي: مونږ د رسول الله ﷺ سره په يو سفر کې وو نو خلك شروع شو چه په الله اکبر وئيلو باندې ئې جهر کولو نو رسول الله ﷺ وفرمايل: اے خلکو ! په خپلو ځانونو باندې رحم وکړئ ځکه چه تاسو آواز نهٔ کوئ کوڼ ذات ته او نهٔ غائب ته يقيناً تاسو رابلئ آوريدونکے او ليدونکے ذات او هغه تاسو سره دے (په اعتبار د علم او قدرت) او هغه ذات چه تاسو ئې رابلئ هغه ستاسو يو تن ته د هغه د اُوښې د څټ نه هم زيات نزدې دے. ابوموسى ﷺ فرمائي : او زهٔ د رسول

الله ﷺ نه روستو وم (په اُوښ يا پياده) ما به خپل ځان سره وئيل : لا حول ولا قوة الا بالله. نو نبي كريم ﷺ وفرمايل: اې عبد الله بن قيس ! آيا زۀ تا ته د جنت د خزانو نه يوه خزانه نۀ ښايم ؟ ما ووئيل : ولې نۀ اې د الله رسوله ! وې فرمايل : لا حول ولا قوة الا بالله.
(بخاريّ ومسلمٌ)

تشريح : فِيْ سَفَرٍ: ددې سفر نه مراد غزا د خيبر ده لكه په روايت د بخاري كې راغلې دې. نبي العَلَيْهِ ترغيب وركړې وو چه په لاره ځئ نو د الله تعالىٰ ذكر كوئ نو صحابه كرامو په تكبير وئيلو باندې جهر وكړو نو نبي العَلَيْهِ ورله دا ادب وركړو چه په خپل ځان رحم وكړئ او آوازونه خكته كړئ ځكه پدې كې تاسو ته آساني ده او مقصد هم حاصليږي، ددې نه دا معلوميږي چه دوى آواز ډير پورته كړې وو نو دا نهي د تيسير او آسانوالي دپاره ده.

اِرْبَعُوْا : د رَبَعَ يَرْبَعُ نه دې په معنىٰ د رِفق (نرمئ) او رحم كولو سره. او په معنىٰ د كف (بند والي) سره دې. يعني ځانونه د جهر نه بند كړئ كوم چه تاسو ته تكليف دركوي.

وَهُوَ مَعَكُمْ: يعني تاسو سره دې په اعتبار د علم او قدرت او احاطه سره نو هغه ستاسو په حال باندې خبر دې تاسو چه هر چرته يئ برابره ده كه په اوچت آواز سره ئې يادوئ يا په ښكته آواز سره د هغه دپاره دواړه برابر دي)

مِنْ عُنُقِ رَاحِلَتِهٖ : دا په طريقه د تمثيل دې او پوهې ته د نزدې كولو دپاره وئيل شويدې ورنه الله تعالىٰ بنده ته د حبل الوريد (د مرئ د رګ) نه هم زياتِ نزدې دې. او دا نزديكت په اعتبار د سمع او علم سره دې لكه مخكې سميعا بصيرا نه معلوميږي.

فِيْ نَفْسِيْ : په بل روايت د بخاريّ كې دي چه ما نه رسول الله ﷺ دا واوريدل چه ما لا حول ولا قوة الا بالله وئيله نو فضيلت ئې وزته بيان كړو.

ددې نه معلوميږي چه نفس يواځې ديته نۀ وائي چه زړۀ كې ذكر وكړي بلكه ځان سره په آرام آرام لوستلو ته هم شامليږي.

په عام حالتونو كې به په ذكر باندې جهر نشي كولې بلكه اخفاء پكې بهتره ده جهر به صرف په منقول ځايونو كې كولې شي لكه اذان اقامت وغيره شو.

احناف ذكر بالجهر ناروا ګڼړي او كه وكتلې شي نو عام احناف په جهر سره ذكر كوي، د امام صاحب مذهبيان ځان ته وائي او بيا ترې خلاف هم كوي. د ذكر بالجهر د تفصيل

دپاره فتاوی الدین الخالص (١) ته رجوع پکار ده.

هان ذکر بالجهر جائز دے (کله چه په یو خاص طریقه سره نهٔ وی) او افضل اخفاء ده، مګر په مواضعو منصوصو کی ذکر بالجهر سنت دے.

الفصل الثانی

- 2304(11) عَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" مَنْ قَالَ سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيْمِ وَبِحَمْدِهٖ غُرِسَتْ لَهٗ نَخْلَةٌ فِي الْجَنَّةِ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : سیدنا جابر ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چه سبحان الله العظیم وبحمده) ولوستل په جنت کی به د هغه دپاره د کجورے یوه ونه ناله شی. (ترمذیؒ)

تشریح : یعنی په هر کرت به ورله په جنت کی یوه ونه نالیږی ځکه چه جنت دښته او بیابان دے انسان به په خپل ذکر اذکار سره په هغے کی بوټی نالوی لکه روستو حدیث راځی.

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه ابن ابي شيبة في المصنف (١٠/٢٩٠) رقم (٩٤٦٥) واخرجه الترمذی (٣٤٦) وقال حسن صحیح غریب والنسائی فی عمل الیوم والليلة (٨٢٧) وابن حبان والحامك (١/٥٠١،٥٠٢) وقال شرط مسلم وهو فی صحیح الجامع الصغير (٦٤٢٩)

- 2305(12) وَعَنِ الزُّبَيْرِ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" مَا مِنْ صَبَاحٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيْهِ إِلَّا مُنَادٍ يُنَادِيْ سَبِّحُوا الْمَلِكَ الْقُدُّوْسَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او سیدنا زبیر ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: داسے صبا نشته چه په هغے کی بندګان صبا کوی مګر یو آواز کونکے آواز کوی چه تاسو د هغه پاك بادشاه پاکی بیان کړئ. (ترمذیؒ)

تشریح : سوال دا دے چه ملائك دا آواز څه له کوی مونږ خو ئے هسے هم نهٔ آورو؟

جواب دا دے چه اګرکه مونږه ئے نهٔ آورو لیکن د الله نبی مونږ ته خبر راکړے چه هر سهار داسے آواز کیږی نو مونږ به دا یقین کوو چه هر سهار دا آواز کیږی اګرکه مونږه ئے

بالفعل نهٔ آورو۔ او مقصد پدے کې انسانانو ته تيزي ورکول دي چه تاسو دا کلمه وايئ لکه دا په روايت د ابويعلیٰ او ابن السنیٰ کې صراحةً ذکر شويدي۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف، الترمذی (٣٥٦٩) وابن السنی (٦٢) وابويعلی فی المسند (٢/٤٥) رقم (٦٨٥) وهو فی ضعيف الجامع الصغير (٥١٨٨) وفيه موسی بن عبيدة ضعيف ومحمد بن ثابت او ابی حكيم ضعيفان)

- 2306(13) وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" أَفْضَلُ الذِّكْرِ: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَفْضَلُ الدُّعَاءِ : اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ". رَوَاهُ التِّرمِذِيُّ وَابْنُ مَاجه

ترجمه: او سيدنا جابر ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي دي: بهترين ذکر لا اله الا الله ده او بهترينه دعا الحمد لله ده۔ (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ)

تشريح: الحمد لله ته ئے دعا وويله ځکه دا قانون دے: اَلثَّنَاءُ عَلَى الْكَرِيمِ دُعَاءٌ۔

د نيك او سخي سړي صفت کول د هغه نه غوښتنه کول دي۔

دارنګه حمد ته ئے ځکه دعاء وويله چه دعا د الله ذکر او د هغه نه حاجت غوښتو ته وائي او حمد دے دواړو ته شامل دے، د الله ذکر هم دے او د هغه نه پکې غوښتل هم دي ځکه چه څوك د الله حمد کوي نو دے د هغه په نعمتونو حمد کوي او حمد په نعمت باندے طلب د زيادت دے د الله تعالىٰ نه۔

ځينې وائي د الحمد نه مراد سورة الفاتحه ده چه دا مشتمل ده په دعاء ﴿اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ﴾ باندے۔ اوله معنیٰ واضحه ده۔

درجة الحديث: اسناده حسن، الترمذی (٣٣٨٣) وابن ماجه (٣٨٠٠) والحاكم (١/٤٩٨) وقال صحيح الاسناد ولم يخرجاه ووافقه الذهبی وانظر الصحيحة للالبانی (١٤٩٧) وصحيح الجامع (١١٠٤)

- 2307(14) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" اَلْحَمْدُ رَأْسُ الشُّكْرِ مَا شَكَرَ اللهَ عَبْدٌ لَا يَحْمَدُهُ "

ترجمه: او سيدنا عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما فرمائي: رسول الله ﷺ فرمايلي

دی : د الله حمد (صفتونه) وئیل د شکر سر دے، یو بنده د الله تعالیٰ شکر نهٔ دے کړے چه د هغه حمدونه نهٔ وائی۔

تشریح : حمد ته ئے د شکر سر ووئیل ځکه چه شکر دیته وائی چه د انعام کونکی تعظیم وکړے شی او په ژبه سره چه اظهار وکړے نو دا په تعظیم باندے زیات دلالت کوی۔ ځکه چه د زړهٔ فعل پټ وی او د اندامونو په فعل کی قصور وی۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف، البيهقي في الشعب (٤٣٩٥) والبغوی فی شرح السنة (٢/١٤٤) والديلمي (٢/١٠٣) رجاله ثقات لكنه منقطع قتادة لم يسمع من ابن عمرو)

- 2308(15) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" أَوَّلُ مَنْ يُدْعٰى إِلَى الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الَّذِيْنَ يَحْمَدُوْنَ اللهَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ ". رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ

ترجمه : او سیدنا ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی : رسول الله ﷺ فرمایلی دی : اول هغه څوك چه د قیامت په ورځ به جنت ته رابللے شی هغه کسان دی چه د الله تعالیٰ حمدونه وائی په خوشحالئ او په تکلیف کی۔ (دا دواړه روایتونه بیهقیؒ په شعب الایمان کی روایت کړیدی)

تشریح : السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ : یعنی په هر حالت کی د الله تعالیٰ حمدونه وائی۔

درجة الحديث: اسنادهٔ ضعيف : البيهقي في الشعب (٤٣٧٣) راجع الضعيفة (٦٣٢) فيه عدة علل) وقال ورواه ابن المبارك فى الزهد (١/١٦٥) من الكواكب (٥٧٥) بسند صحيح عن حبيب بن ابى ثابت عن سعيد بن جبير موقوفا عليه ولعله هو الصواب) وكذا رواه عنه ابن ابى شيبة)

- 2309(16) وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ ؓ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " قَالَ مُوْسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ : يَا رَبِّ عَلِّمْنِيْ شَيْئًا أَذْكُرُكَ بِهٖ وَأَدْعُوْكَ بِهٖ فَقَالَ: يَا مُوْسٰى قُلْ: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ فَقَالَ : يَا رَبِّ كُلُّ عِبَادِكَ يَقُوْلُ هٰذَا، إِنَّمَا أُرِيْدُ شَيْئًا تَخُصُّنِيْ بِهٖ قَالَ:يَا مُوْسٰى ! لَوْ أَنَّ السَّمَاوَاتِ السَّبْعَ وَعَامِرَهُنَّ غَيْرِيْ وَالْأَرْضِيْنَ السَّبْعَ وُضِعْنَ فِيْ كِفَّةٍ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ فِيْ كِفَّةٍ لَمَالَتْ بِهِنَّ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ". رَوَاهُ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: او سیدنا ابو سعید خدری ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمایلي دي : موسیٰ علیه السلام وفرمایل: اے زما ربه ! ما ته داسے څه راوښایه چه زۀ پرے تا یادوم او ستا نه په هغے سره دعا غواړم۔ نو الله وفرمایل: اے موسیٰ ! لا اله الا الله وایه۔ نو هغه وویل : اے زما ربه ! دا خو ستا ټول بندګان وائي۔ زۀ داسے شے غواړم چه تۀ ئے خاص ما ته راکړے، الله وفرمایل: اے موسیٰ که چرته اوه واړه آسمانونه او ددے آبادونکي زما نه سوی او اوه واړه زمکے او ددے آبادونکي زما نه سوی په یو چابړې کي کیخودے شي او لا اله الا الله په بل چابړې کي خامخا دا کلمه به په دغه څیزونو راکړه شي۔ (یعني درنه به شي) (شرح السنه)

تشریح : وَعَامِرَهُنَّ : الله تعالیٰ د آسمانونو آبادونکے دے په پیدائش او حفاظت سره او په استواء سره پدے باندے۔ دا وجه ده چه (غَیْرِیْ) لفظ ئے ذکر کړو۔

کِفَّةٍ : په زیر د کاف سره د تلے پله او چابړې ته وائي۔

درجة الحدیث: اسناده ضعیف او حسن : النسائی فی عمل الیوم واللیلة (۸۳٤) و (۱۱٤۹) وابو یعلی فی المسند (۲/۵۸۲) (۱۳۹۳) والبغوی فی شرح السنة (۵/٥٤_٥٥) رقم (۱۲۷۳) فیه دراج عن ابی الهیثم وقال احمد : احادیث دراج عن ابی الهیثم عن ابی سعید فیها ضعف وهکذا قال ابو داود ولکن صَحَّحَ بعض الائمة إسناده قال الحاکم : صحیح الاسناد وقال الحافظ ابن حجر : صحیح، وقال الذهبی صحیح، وللحدیث شواهد کثیرة منها حدیث عبد الله بن عمرو قال قال رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : اِنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ نُوْحًا ﷺ لَمَّا حَضَرَتْهُ الْوَفَاةُ قَالَ لِابْنِهِ : اِنِّیْ قَاصٌّ عَلَیْكَ الْوَصِیَّةَ : آمُرُكَ بِاثْنَتَیْنِ وَاَنْهَاكَ عَنِ اثْنَتَیْنِ، آمُرُكَ بِ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ فَاِنَّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعَ وَالْاَرَضِیْنَ السَّبْعَ لَوْ وُضِعَتْ فِیْ کِفَّةٍ، وَوُضِعَتْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ فِیْ کِفَّةٍ رَجَحَتْ بِهِنَّ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الحدیث مختصرا، رواه حمد والبخاری والحاکم وصححه الالبانی فی الصحیحة (۱۳٤) وله شاهد من حدیث عبد الله بن عمرو وهو حدیث البطاقة)

- 2310(17) وَعَنْ أَبِیْ سَعِیْدٍ وَأَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَا : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " مَنْ قَالَ: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَکْبَرُ صَدَّقَهٗ رَبُّهٗ قَالَ : لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنَا وَأَنَا أَکْبَرُ وَإِذَا قَالَ: لَا

إِلَـهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيْكَ لَهُ يَقُوْلُ اللهُ : لَا إِلَـهَ إِلَّا أَنَا وَحْدِىْ لَا شَرِيْكَ لِىْ وَإِذَا قَالَ: لَا إِلَـهَ إِلَّا اللهُ لَـهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا لِىَ الْمُلْكُ وَلِىَ الْحَمْدُ وَإِذَا قَالَ : لَا إِلَـهَ إِلَّا اللهُ وَلَاحَـوْلَ وَلَا قُـوَّةَ إِلَّا بِاللهِ قَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِىْ " وَكَانَ يَقُوْلُ :" مَنْ قَالَهَا فِىْ مَرَضِهِ ثُمَّ مَاتَ لَمْ تَطْعَمْهُ النَّارُ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِىُّ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه: او سيدنا ابو سعيد او سيدنا ابو هريره رضى الله عنهما دواړه فرمائى : رسول الله ﷺ فرمايلى دى : چا چه لا اله الا الله والله اكبر وويل (يعنى نشته حقدار د بندګئ سوئ د الله نه او الله لوى دے)۔ نو دهٔ رب دهٔ تصديق كوى۔ وائى: نشته حقدار د بندګئ سوئ زما نه او زهٔ لوى يم او كله چه بنده ووائى : لا اله الا الله وحده لا شريك له (نشته حقدار د بندګئ سوئ د الله نه هغه يواځے دے هيڅ شريك ئے نشته)۔ نو الله وائى : نشته حقدار د بندګئ سوئ زما نه زهٔ يواځے يم زما هيڅ شريك نشته او كله چه بنده ووائى : لا اله الا الله له الملك وله الحمد۔ (نشته حقدار د بندګئ سوئ د الله نه، هغه لره بادشاهى ده او هغه دپاره حمدونه دى) الله وائى : نشته حقدار د بندګئ سوئ زما نه زهٔ بادشاه يم او زما دپاره حمدونه دى۔ او كله چه بنده ووائى: لا اله الا الله ولا حول ولاقوة الا بالله۔ (نشته حقدار د بندګئ سوئ د الله نه او نشته منع كيدل د ګناه نه او طاقت په نيكئ باندے مګر په الله سره دى) الله فرمائى : نشته حقدار د بندګئ سوئ زما نه نشته بنديدل د ګناه نه او طاقت په نيكئ باندے مګر په ما سره دى۔ او نبى كريم ﷺ به فرمايل : چا چه دا كلمات په بيمارئ كى ولوستل بيا مړ شو نو اُور به ورته نهٔ رسيږى۔ (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ)۔

تشريح : دا هغه ذكر دے چه پدے سره د انسان آخره خاتمه ښائسته كيږى۔ دا كلمات الله تعالىٰ ته ډير محبوب دى پدے وجه بنده ته جواب وركوى۔ ځكه پدے كلماتو سره د بنده توحيد كامليږى په هغه باندے ئے پوره توكل پيدا كيږى ځكه چه بنده ټول عبادتونه او هر قسم حاجتونه الله تعالىٰ ته وړاندے كړل۔

مَنْ قَالَهَا : يعنى چا چه دا كلمات په غير د جواباتو نه وويل۔

درجة الحديث: اسناده صحيح لغيره، الترمذى (٣٤٣٠) والنسائى فى عمل اليوم

والليلة (٣٠) وابن ماجه (٣٧٩٤) وابن حبان كما في موارد الظمآن (٢٣٢٥) والحاكم (١/٥) ينظر صحيح الترغيب (٣٤٨١) وصحيح ابن ماجه (٣٧٩٤)

- 2311(18) وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ ﷺ أَنَّهُ دَخَلَ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ عَلَى امْرَأَةٍ وَبَيْنَ يَدَيْهَا نَوًى أَوْ حَصًى تُسَبِّحُ بِهِ فَقَالَ: " أَلَا أُخْبِرُكِ بِمَا هُوَ أَيْسَرُ عَلَيْكِ مِنْ هٰذَا أَوْ أَفْضَلُ؟ سُبْحَانَ اللهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي السَّمَاءِ وَسُبْحَانَ اللهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي الْأَرْضِ وَسُبْحَانَ اللهِ عَدَدَ مَا بَيْنَ ذٰلِكَ وَسُبْحَانَ اللهِ عَدَدَ مَا هُوَ خَالِقٌ وَاللهُ أَكْبَرُ مِثْلُ ذٰلِكَ وَالْحَمْدُ لِلهِ مِثْلُ ذٰلِكَ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ مِثْلُ ذٰلِكَ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ مِثْلُ ذٰلِكَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه : او د سیدنا سعد بن ابی وقاص ﷺ نه روایت دے چه هغه د نبی کریم ﷺ سره د یوے ښځے کره ورغلو او د هغے مخے ته هډوکی یا ګیټکئ وے چه په هغے باندے ئے تسبیحات وئیل نو وے فرمایل: آیا زۀ تا ته خبر نۀ درکوم په هغه څه چه په تا باندے به ددے نه ډیر آسان وی یا ډیر غوره وی ؟ (هغه دا کلمات دی) سُبْحَانَ اللهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي السَّمَاءِ وَسُبْحَانَ اللهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي الْأَرْضِ وَسُبْحَانَ اللهِ عَدَدَ مَا بَيْنَ ذٰلِكَ وَسُبْحَانَ اللهِ عَدَدَ مَا هُوَ خَالِقٌ (الله دپاره پاکی ده په اندازه د شمار د هغه څه چه الله په آسمان کی پیدا کریدی او پاکی ده الله لره په اندازه د شمار د هغه څه چه الله په زمکه کی پیدا کریدی او پاکی ده الله لره په اندازه د شمار د هغه څه چه ددے دواړو ترمینځ دی او پاکی ده الله لره په اندازه د شمار د هغه څه چه الله تعالیٰ ئے پیدا کونکے دے۔او الله اکبر هم دغه شان او الحمد لله هم دغه شان ووائی او لا اله الا الله هم دغه شان ووائی او لا حول ولا قوة الا بالله هم دغه شان ووائی۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ) او امام ترمذیؒ وئیلی دی چه دا حدیث غریب دے۔

تشریح : نَوًى : جمع د نَوَاةٌ ده، هډوکی د کجورے وغیره۔

أَوْ حَصًى : جمع د حَصَاةٌ ده واړه واړه کاڼړی۔

مِثْلُ ذٰلِكَ : یعنی الله اکبر هم دغه شان وایه۔

مسئله : ذکر په ګوتو دے که په تسبو یا په کانړو؟ نو دا خبره یادول پکار دی چه په ګوتو باندے سنت طریقه ده لکه په ابوداود (١/٢١٠) کی روایت دے۔

(كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَعْقِدُ التَّسْبِيْحَ بِيَمِيْنِهِ)

رسول الله ﷺ به په ښی لاس سره تسبیحات وئیل۔

او ددے فصل ثانی آخر حدیث کی دی چه نبی ﷺ زنانو ته وئیلی وو چه (وَاعْقِدْنَ بِالْأَنَامِلِ) په ګوتو باندے تسبیحات وایئ۔

بیا په دغه روایت کی دی چه په ګوتو ئے کوئ که د هر لاس وی نو په ښی افضل او په ګس لاس جائز دی۔

دویم نمبر په کانړو سره ذکر کول دی، نو پدے باره کی دوه قوله دی :

(١) یو قول دا دے چه د نبی ﷺ په زمانه کی په کانړو سره ذکر نهٔ دے شوے او کوم احادیث چه د کانړو په باره کی راغلی دی نو هغه ټول ضعیف دی دا پکی لنده قاعده ده لکه دا روایت دے او یو د صفیه رضی الله عنها روایت دے چه په مستدرك (١/٥٤٧) د حاکم کی ذکر دے۔ او حاکمؒ ورته صحیح وئیلے دے۔ لیکن روایت ضعیف دے ځکه چه هاشم بن سعید او کُنانه ضعیف راویان دی السلسلة الضعيفة رقم (٨٣)۔

(٢) دویم قول دا دے چه په کانړو باندے ذکر کول جائز دی او دا رایه د شیخ الاسلام ابن تیمیۃؒ ده هغه وائی چه پدے باب کی ډیر روایات راغلی دی چه هغه مجموعی طور سره حسن درجے ته رسیږی لکه د ابو هریره ؓ سره دولس زره هډوکی وو چه په هغے به ئے ذکر کولو، (سير اعلام النبلاء ٤/١٨) مجموع الفتاوى (٢٢/٥٠٦)۔

دارنګه د ابودرداء ؓ نه امام احمدؒ په کتاب الزهد ص (١٧٥) کی نقل کړیدی۔ وفی سنده انقطاع۔ او داسے نور ډیر روایات دی چه په فتاوى الدين الخالص (١/٢١٨) رقم (٧٩) کی ذکر دی لیکن هغه ضعیف دی۔

انظر السبحة تاريخها وحكمها لبكر ابوزيد ص (١٤)

مګر علامه عبيد الله مبارکفوری رحمه الله لیکی چه تسبیحات په هډوکو او ګیتو باندے مرفوعاً د نبی علیه السلام د فعل او قول او تقریر نه نهٔ دی ثابت او دا روایت ضعیف دے نو خیر په اتباع د هغه شی کی دے چه د نبی ﷺ نه ثابت وی نهٔ په تابعداریٔ د روستنو خلکو کی۔ (مرعاة المفاتيح٨/٤٧١)۔

بکر ابو زیدؒ په هډوکو او دانو باندې ذکر کولو په باره کې د خپل کتاب خلاصه داسې راویستلې ده فرمائي :

(د درې صحابه کرامو نه په تسبیح بالحصیٰ باندې انکار نقل دې یو د عمر فاروقؓ نه چه ابن ابي شیبهؒ د هغې روایت کړیدې او په سند کې ئې جهالت دې، او دویم د عائشےؓ نه ابن ابي شیبه (٧٦٥٧) نقل کړې او په سند کې ئې جهالت دې،

او د ابن مسعودؓ نه دارمیؒ وغیره نقل کړې او د هغې سند د نمر په شان صحیح دې، او صریح دې په نهي او انکار کې او په مختلفو واقعو کې۔

او په تسبیح د هډوکو باندې اقرار د شپږو صحابه کرامو دې،

(١) د علي بن ابي طالب ﷛ نه ابن ابي شیبه نقل کړې،

(٢) د ابو هریره ﷛ نه دوه اثره نقل دي یو ابوداودؒ وغیره کې دې او سند کې ئې جهالت دې۔ او د دویم په سند باندې نۀ یم خبر۔

(٣) او د ابودرداء رضي الله عنه فعل دې۔ او په سند کې ئې انقطاع ده چه هغه عبد الله بن احمدؒ په زوائد الزهد کې نقل کړې،

(٤) او د سعد بن ابي وقاص ﷛ فعل دې۔ ابن ابي شیبه راوړې او په سند کې ئې جهالت دې۔

(٥) او د ابوسعید خدريؓ نه ابن ابي شیبهؒ نقل کړې۔

(٦) او د ابوصفیهؓ مولَی النبي ﷺ نه نقل دې رواه احمد في الزهد والعلل) او په سند کې ئې جهالت دې،

نو په هډوکو باندې تسبیح وئیلو په باره کې آثار پداسې سندونو نقل دي چه په هغې کې مقال دې او آثار د نهي او انکار د عمر فاروق ﷛ او د عائشےؓ نه هم دغه شان مجهول دي،

هرچه د ابن مسعود ﷛ نه نقل دې نو هغه صحیح دې او صریح دې په نهي او انکار کې په هغه چا باندې چه دغه تسبیح کوي او د هغه معارض نشته په انکار کې په هغه چا باندې چه دغه کار کوي او هغه ددې اعلان وکړو او لویه خبره ئې وکړه :

(لَقَدْ اَحْدَثْتُمْ بِدْعَةً ظَلْمَاءَ اَوْ فُضِّلْتُمْ اَصْحَابَ مُحَمَّدٍ ﷺ عِلْمًا)

تاسو تیارې والا بدعت راوړو یا تاسو د محمد ﷺ د ملګرو نه په علم کې زیات

شوئ)۔ والله اعلم۔ انتهىٰ۔ السبحة تاريخها و حكمها ص (١٨)
اشاره کوی دے ته چه عبد الله بن مسعودؓ څه کسان په مسجد نبوی کې ولیدل چه په هډوکو ئے ذکر کولو نو هغه ورته راغلو او دغه خبره ئے ورته وکړه۔
او هرچه تسبیح (تسپی) دی نو (١) بعض علماء وائی چه پدے سره ذکر کول مستحب دی، دلیل دا وائی چه د ابو هریره رضی الله عنه نه نقل دی چه هغه به په تارونو کې دانے اچولے وے او په هغے به ئے ذکر کولو (حلیة ابی نعیم (١/٣٨٣) وزوائد الزهد لابن احمد والحاوی للفتاوی (٣/٢) لیکن سند ئے ضعیف دے۔
او بعض علماء دیته بدعت وائی۔ شیخ بکر ابوزید رحمه الله د تسبو د پیدا کیدو تاریخ او د هغے عجیب واقعات په ډیر تفصیل سره په خپل کتاب «السبحة» کې ذکر کړیدی او په آخر کې ئے دا نتیجه راویستلے ده چه پدے باب کې چه څه روایات راغلی دی هغه ټول ضعیف دی او دا ئے ثابته کړیده چه د تسبو امیلونه او دانے هندوانو او بوذین کفارو او نصاراؤ وغیره راپیدا کړیدی او د هغوی د عبادت خانو نه مسلمانانو ته په لاس کې راغلی دی نو دا د کفارو طریقه ده او که مسلمان دا د عبادت دپاره وسیله ګرځوی نو دا بدعتِ ضلاله دے او تشبه بالکفار حرام کار دے،
او په تسپو سره ذکر کولو باندے د نبی علیه السلام صحیح طریقه چه هغه (عقد انامل) دے پاتی کیږی او په صحیح احادیثو کې ددے هیڅ ثبوت نشته نو مسلمان ولے په عبادت کې داسے طریقه اختیار کړی چه هغه زمونږ نبی او صحابه کرامؓ او د دین مشرانو نۀ وی مقرر کړی۔
او بیا وائی دا عذر پیش کول چه عقد انامل سره د سلو نه کم ذکر کیږی او په ډیر ذکر سره انسان په ګوتو کې خطا کیږی نو دا صحیح نۀ دے ځکه چه نبی علیه السلام مقید ذکر د سلو نه زیات نۀ دے مقرر کړے او د بدعت د پیدا کولو دپاره دا بهانه صحیح نۀ ده۔
او د داسے تسبو وجود په زمانه د نبی علیه السلام کې نۀ وو۔
دریم تحقیقی قول دا دے چه که څوك تسپو ته دین نۀ وائی او هسے د شمار دپاره په تسپو ذکر وکړی نو جائز به وی او ددے نه به عادتِ مستمره نۀ جوړوی او دارنګه تسپی به نۀ ښکاره کوی ځکه چه عبادت پټ ساتل لازم دی پاتے لا دا چه بنده عبادت نۀ وی کړے او خلکو ته ښکاره کړی چه فلانے ذاکر دے۔

بيا هم كه څوك په تسپو باندې ذكر كوي نو دې خير نه انسان محرومېږي چه نبي عليه السلام په لاس سره ذكر كړيدې. نو بهتره طريقه دا ده چه انسان د تسپو نه ځان وساتي او په ګوتو باندې ځان اموخته كړي. والله اعلم.

او پدې باره كې يو روايت د ابن مسعود ﷺ نه ثابت دې،

صلت بن بهرام وائي : عبد الله بن مسعود ﷺ په يوه ښځه ورتير شو د هغې سره تسپې وې چه تسبيح ئې وئيله په هغې نو هغه ئې ترې پريكړې او ګوزارئې كړې، بيا ورتير شو په بل سړي باندې چه په كانړوئې تسبيح وئيله نو هغه ئې په لته باندې ووهلو بيائې وفرمايل:

(لَقَدْ سَبَقْتُمْ ! رَكِبْتُمْ بِدْعَةً ظَلْمًا وَلَقَدْ غَلَبْتُمْ اَصْحَابَ مُحَمَّدٍ ﷺ عِلْمًا)

(تاسو (په دين كې) ډير مخكې لاړئ، تاسو په ظلم سره بدعت شروع كړو او د محمد ﷺ د ملګرو نه په علم كې زيات شوئ).

يعني هغوى دا كار نۀ دې كړې او تاسو شروع كړو.

نو ابن مسعودؓ دې كار ته بدعت ووئيلو.

دا روايت ابن وضاح القرطبيؒ په البدع والنهي عنها ص (١٢) كې راوړيدې شيخ الباني رحمه الله فرمائي: ددې روايت سند تر صلت بن بهرام پورې صحيح دې او هغه ثقه د اتباع التابعين نه دې نو سند منقطع دې.

درجة الحديث : اسناده ضعيف، الترمذى (٣٤٣٠) وقال حسن، والنسائى فى عمل اليوم والليلة (٣٠) والحاكم وابن ماجه (٣٧٩٤) وابن حبان وفيه خزيمة مجهول، وضعفه الالبانى فى الضعيفة رقم (٨٣)

- 2312(19) وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : "مَنْ سَبَّحَ اللهَ مِائَةً بِالْغَدَاةِ وَمِائَةً بِالْعَشِيِّ كَانَ كَمَنْ حَجَّ مِائَةَ حَجَّةٍ وَمَنْ حَمِدَ اللهَ مِائَةً بِالْغَدَاةِ وَمِائَةً بِالْعَشِيِّ كَانَ كَمَنْ حَمَلَ عَلٰى مِائَةِ فَرَسٍ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَمَنْ هَلَّلَ اللهَ مِائَةً بِالْغَدَاةِ وَمِائَةً بِالْعَشِيِّ كَانَ كَمَنْ أَعْتَقَ مِائَةَ رَقَبَةٍ مِنْ وُلْدِ إِسْمَاعِيْلَ وَمَنْ كَبَّرَ اللهَ مِائَةً بِالْغَدَاةِ وَمِائَةً بِالْعَشِيِّ لَمْ يَأْتِ فِيْ ذٰلِكَ الْيَوْمِ أَحَدٌ بِأَكْثَرَ مِمَّا أَتٰى بِهٖ إِلَّا مَنْ قَالَ مِثْلَ ذٰلِكَ أَوْ زَادَ عَلٰى مَا قَالَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه : او سیدنا عمرو بن شعیب د خپل پلار هغه د نیکه نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چه په سهار کی سل کرته سبحان الله ووئیله او په مابنام کی سل کرته دا په شان د هغه چا دے چه سل حجونه ئے وکړل او چا چه په سهار کی سل کرته الحمد لله ووئیله او په مابنام کی سل کرته دا په شان د هغه چا دے چه د الله په لاره کی ئے مجاهدین په سل اسونو سوارهٔ کړل او چا چه سهار کی سل کرته لا إله الا الله ووئیله او سل کرته مابنام کی دا په شان د هغه چا دے چه د اسماعیل (علیه السلام) د اولادو نه ئے سل غلامان آزاد کړل او چا چه په سهار کی الله اکبر سل کرته ووېل او سل کرته مابنام کی نو په دغه ورځ (یعنی د قیامت په ورځ) به هیڅوك زیات د هغه ثواب نه رانهٔ وړی کوم چه دهٔ راوړیدے سوئ د هغه شخص نه چه ددے (یعنی الله اکبر) په شان ئے (مذکوره تعداد کی) ووېل (نو دا شخص به د هغه سره په ثواب کی برابر وی) یا ئے د هغه نه زیات ووېل (نو دا به د هغه نه هم افضل وی)۔ دا روایت امام ترمذیؒ نقل کړے او وئیلی ئے دی چه دا حدیث غریب دے۔

تشریح : بِالْعَشِيِّ : د مازیگر نه مابنام پورے وخت ته وائی۔

كَمَنْ حَجَّ : یعنی سهار او مابنام کی سل سل کرته سبحان الله وئیل داسے دی لکه نفلی سل حجونه چه وکړی۔ او ددے نه دا معلومیږی چه ذکر چه په حضور او توجه سره وی د هغه عبادت نه ډیر غوره دے چه په غفلت سره وی اگرکه ډیر گران وی۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف، الترمذى (٣٤٧١) وابن عدى فى الكامل فى ترجمة الضحاك بن حُمرة (١٤١٧/٤) وهو ضعيف (تقريب) وليس بشىء (ابن معين) (السلسلة الضعيفة (١٣١٥) ووثقه ابن حبان فقط وقريب منه حديث احمد عن ام هانىء بنت ابى طالب فى الصحيحة (١٣١٦) وصحيح الجامع (٦٩٧٩) وهو صحيح : سَبِّحِي اللّٰهَ مِائَةَ تَسْبِيحَةٍ فَإِنَّهَا تَعْدِلُ لَكِ مِائَةَ رَقَبَةٍ تُعْتِقِينَهَا مِنْ وُلْدِ إِسْمَاعِيلَ وَاحْمَدِى اللّٰهِ مِائَةَ تَحْمِيدَةٍ تَعْدِلُ لَكِ مِائَةَ فَرَسٍ مُسْرَجَةٍ مُلْجَمَةٍ تَحْمِلِينَ عَلَيْهَا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَكَبِّرِى اللّٰهَ مِائَةَ تَكْبِيرَةٍ، فَإِنَّهَا تَعْدِلُ لَكِ مِائَةَ بَدَنَةٍ مُقَلَّدَةٍ مُتَقَبَّلَةٍ وَهَلِّلِى اللّٰهَ مِائَةَ تَهْلِيلَةٍ، قَالَ ابْنُ خَلَفٍ : اَحْسِبُهُ قَالَ : تَمْلَأُ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْاَرْضِ وَلَا يُرْفَعُ لِاَحَدٍ يَوْمَئِذٍ عَمَلٌ اِلَّا اَنْ يَّأْتِىَ بِمِثْلِ مَا اَتَيْتِ بِهِ)

- 2313(20) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو ﷛ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ :" اَلتَّسْبِيحُ نِصْفُ الْمِيزَانِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ يَمْلَؤُهُ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ لَيْسَ لَهَا حِجَابٌ دُونَ اللهِ حَتّٰى تَخْلُصَ إِلَيْهِ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَقَالَ : هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ.

ترجمه : او سيدنا عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل: سبحان الله نيمائي ميزان ډكوي او الحمد لله ميزان ډكوي او لا اله الا الله ددے دپاره د الله مخے ته هيڅ پرده نۀ وي تردے چه (دا سيده) الله ته رسيږي. دا روايت امام ترمذيؒ راوړيدے او وئيلي ئے دي چه دا حديث غريب دے او ددے سند قوي نۀ دے.

تشريح : اَلتَّسْبِيحُ : يعني ثواب د سبحان الله دومره دے چه نيمائي ميزان ډكوي او الحمد لله تول ميزان ډكوي يعني دواړه چاپړي نو د الحمد لله فضيلت زيات شو.

پدے كي دوه احتماله مخكي تير شويدي يو دا چه تسبيح نيمائي اجر لري د الحمد لله په نسبت. دويم دا چه په تسبيح سره نيمائي ميزان ډكيږي او په الحمد لله سره پوره ډكيږي نو نيم په تسبيح سره او نيم په الحمد لله سره نو ميزان ډك شو نو بيا به دواړه په ثواب كي يو شان وي ليكن اول احتمال غوره دے.

دا روايت ضعيف دے ليكن د اولنو جملو دپاره ئے ډير شواهد شته.

درجة الحديث: اسناده ضعيف، الترمذي (٣٥١٨) وقال اسناده ليس بالقوي اي ضعيف لان عبد الرحمن بن زياد ضعيف واسماعيل بن عياش صدوق في روايته عن اهل بلده مخلط في غيرهم (مرعاة) راجع ضعيف الجامع الصغير (٢٠١٠)

- 2314(21) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷛ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ :" مَا قَالَ عَبْدٌ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ مُخْلِصًا قَطُّ إِلَّا فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ حَتّٰى يُفْضِيَ إِلَى الْعَرْشِ مَا اجْتَنَبَ الْكَبَائِرَ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَقَالَ : هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ

ترجمه : او سيدنا ابو هريره ﷛ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل : يو بنده لا اله الا الله د زړه په اخلاص سره هيڅكله نۀ ده لوستلے مگر هغے دپاره د آسمان دروازے كولاويږي تردے چه (سيده) عرش ته رسيږي خو ترڅو پورے چه د كبيره گنا هونو نه ځان ساتي.

(دا روايت امام ترمذيؒ راوړيدے او وئيلى ئے دى چه دا حديث غريب دے)۔

تشريح : حَتّٰى يُفْضِىَ : د افضاء نه دے رسيدلو ته وائى۔

مَا اجْتُنِبَ : يعنى كه بنده د كبيره گناهونو نه ځان ساتى نو دا كلمه به ئے په جلتئ سره عرش ته رسيږى او زر به قبليږى او كه كبيره گناهونه كوى نو بيا به هم ورته ثواب ملاويږى ليكن په جلتئ سره نۀ۔ نو اجتناب د كبائرو شرط دے دپاره د سرعة الاجابة نۀ د ثواب او قبوليت۔ (طيبيؒ)

يا دا چه كه كبيره نۀ وى نو بيا به كامل اجر او اُوچته مرتبه حاصليږى او كه كبائر وى نو بيا به ثواب حاصليږى لكه هغه شان كامل به نۀ وى۔ دا دليل دے چه غټ گناهونه انسان د خير نه محروموى كه غټ گناهونه وى نو كلمه كى به دے زور نۀ وى۔

درجة الحديث : اسناده حسن، الترمذى (٣٥٩٠) وقال حسن غريب) وانظر صحيح الترغيب والترهيب (١٥٢٤)

- 2315(22) وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" لَقِيْتُ إِبْرَاهِيْمَ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِيْ فَقَالَ : يَا مُحَمَّدُ أَقْرِئْ أُمَّتَكَ مِنِّىْ السَّلَامَ وَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ الْجَنَّةَ طَيِّبَةُ التُّرْبَةِ عَذْبَةُ الْمَاءِ وَأَنَّهَا قِيْعَانٌ وَأَنَّ غِرَاسَهَا سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ إِسْنَادًا.

ترجمه : او سيدنا ابن مسعود ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ وفرمايل : زۀ د ابراهيم (عليه السلام) سره په هغه شپه ملاؤ شوم چه زۀ د شپے (آسمانونو ته) بوتللے شوے وم۔ نو هغه ووېل : اے محمد ! خپل امت ته زما د طرف نه سلام ووايه او دا خبر ورکړه چه جنت مزيدارے خاورے والا دے، خوږو اُوبو والا دے او هغه بيابانونه دى او د هغے ونے سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اكبر (كلمات) دى۔ دا روايت امام ترمذيؒ نقل كړيدے او وئيلى ئے دى چه دا حديث د سند په اعتبار سره حسن غريب دے۔

تشريح : أَقْرِئْ : ابراهيم عليه السلام مونږ باندے سلام وئيلے دے نو مونږ له پكار دى چه جواب ورکړو (وَعَلَيْهِ وَعَلٰى نَبِيِّنَا السَّلَامُ)۔

قِيْعَانٌ : دلته سوال دے چه د احاديثو نه خو معلومه ده چه جنت الله تعالىٰ د مخكى

نـه پيـدا كـړيـدے او د ونو نه ډك دے او ښائسته كړے شويدے او ددے ځاى نه معلوميږى چه بنده به ځانله جنت په خپلو تسبيحاتو سره آبادوى ځكه چه جنت ډاگه ده؟

نو ددے ښۀ تحقيق حافظ ابن القيمؒ په ((حادى الارواح)) كښے ذكر كړيدے چه په جنت كښے ونے او باغونه او تول لذتونه الله تعالىٰ د مخكښے نه پيدا كړيدى ليكن شاړ ځايونه هم پكى دى نو څومره چه بنده تسبيحات وائى نو هغومره ونے به ئے ډيريږى لكه تا چه ايمان راوړيدے نو د هغے په مقدار ونے د اُوس نه كرلے شويدى او باغ او كور تيار دے ليكن كـه ځانله پكى زياتى گلكارى كوے نو كولے شے، ډاگے هم پكښے شته او آبادى هم شته لـكه مثلًا يو ښار سره شاړے زمكے هم وى نو كه يو بنده غواړى چه دغه ښار سره شاړے زمكے هـم آبادى كړى او د ښار ډول او زينت زيات كړى نو كولے شى، نو تول جنت ډاگه نۀ ده۔

درجة الحديث : اسنـاده صحيـح : الترمـذى (٣٤٦٢) وانـظـر الصحيحة (١٠٥) (١٦٥/١) وتخريج شرح الطحاوية (٣٧٨/١)

- 2316(23) وَعَنْ يُسَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا وَكَانَتْ مِنَ الْمُهَاجِرَاتِ قَالَتْ: قَالَ لَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " عَلَيْكُنَّ بِالتَّسْبِيْحِ وَالتَّهْلِيْلِ وَالتَّقْدِيْسِ وَاعْقِدْنَ بِالْأَنَامِلِ فَإِنَّهُنَّ مَسْؤُوْلَاتٌ مُسْتَنْطَقَاتٌ وَلَا تَغْفُلْنَ فَتَنْسِيْنَ الرَّحْمَةَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْ دَاوُدَ.

ترجمه : او د يُسيره رضى الله عنها نه روايت دے او دا د هغه زنانو نه ده چه هجرت ئے كـړيـدے) دا فـرمـائـى: مـونـږ تـه رسول الله ﷺ وفرمايل: اے زنانو په تاسو لازم دى چه سبحان الله او لا الـه الا الله او د الله پاكى ووايئ او (دا) پـه گوتو سره شماركړئ ځكه چه ددے گوتو نه به (د قيامت په ورځ) تپوس كيدے شى، خبرے به ترے ويستلے شى او تاسو مـۀ غـافـلـه كيږى نـو د الله د رحـمت نه به هيرے شئ۔ (يعنى كه ذكر پريدئ نو د هغے د بيشماره ثواب نه به محرومے شئ)۔ (ترمذىؒ، ابو داودؒ)

تشريح : يُسَيْرَةُ : ځينى ديته اُسيره بنت ياسر وائى چه كنيه ئے ام حميضة ده او دا هغه زنانه ده چه د نبى ﷺ سره ئے ډير مخكى بيعت كړے او هجرت ئے كړے۔

وَاعْقِدْنَ بِالْأَنَامِلِ : يعني شمارئ كړتونه د تسبيحاتو په ګوتو سره۔
انامل جمع د اَنْمُلَةٌ ده د ګوتو سرونو ته وائي بيا ترے مراد توله ګوته ده ذكر د جزء مراد ترے نه كل دے۔ په ګوتو سره شمار باندے ئے حكم وكړو دے دپاره چه ددے په ذريعه هغه ګناهونه ورژيږي چه دوی په ګوتو سره كړی وی۔
فائده : په ګوتو سره تسبيحات شمارل بهتر عمل دے او بيا په هره ګوته سره بيل بيل حساب كولو ته عقد انامل وائي چه دا د عربو خاصه طريقه وه او كه د ګوتو په بندونو سره ذكر كوی هم پدے كي ان شاء الله داخليږي ځكه چه د (مَسْئُوْلَاتٌ مُسْتَنْطَقَاتٌ) د علت نه معلوميږي چه دا شمار ځكه وكړئ چه د ګوتو نه به د قيامت په ورځ تپوس كيږي نو ددے نه معلوميږي چه په دواړو لاسونو سره ذكر جواز لري۔
اګركه بهتره طريقه دا ده چه ذكر په طريقه د عقدِ انامل سره وكړے شي چه د هغے طريقه دا ده چه د يو دپاره قچه ګوته د ورغوی دننه طرفته لږه راماته كړی او د دوه دپاره به دويمه ګوته ورسره راماته كړی او د درے دپاره به ورسره مينځومئ ګوته هم راماته كړی او د څلورو دپاره به قچه ګوته بيرته خوشې كړی او باقي به په خپل حال وی او د پنځو دپاره به ورسره دويمه ګوته كولاوه كړی او مينځومئ به هغه شان راماته شوی وی او د شپږو دپاره به دويمه ګوته رابنده كړی او باقي تولے ګوتے به كولاوے كړی،
او د لُوو (۷) دپاره به قچه ګوته د غتے ګوتے بيخ ته رافراخه كړی۔
او د اتو دپاره به دويمه ګوته د غتے ګوتے دپاسه رافراخه كړی۔ او د نهو دپاره به مينځومئ ګوته د هغے دپاسه دغه شان رافراخه كړی۔
او د عشراتو دپاره غټه او مسواكئ ګوته استعماليږي نو د اولنئ عشرے دپاره د غتے ګوتے سر راماتول دی په طرف د مسواكئ باندے۔ او د شلو دپاره غټه ګوته د مسواكئ او د مينځومئ ترمينځ داخلول دی او د ديرشو دپاره د مسواكئ ګوتے سر راماتول دی په سر د غتے ګوته باندے لكه سرے چه سپږه رانيسي بلكه د مسواكئ ګوتے سر او د غتے ګوتے پورتنے بند به يو ځای كړی۔ او د څلويښتو دپاره غټه ګوته د مسواكئ ګوتے په مينځني بند باندے پريخودل او غټه ګوته د هغے بيخ ته راماته ول دی۔
او د پنځوسو دپاره ماته ول د غتے ګوتے سر او د مسواكئ ګوتے بيخ او د شپيتو دپاره يو ځای كول د مسواكئ دی په شا د غټه ګوته په عكس د څلويښتو او د اويا دپاره غټه

ګوتـه د مسواکئ ګوتے په مینځنی بند باندے ورګوزارل دی او د مسواکئ ګوتے طرف غتے ګوتے تـه واپس کـول دی او د اتیاو دپاره راواپس کول د طرف د مسواکئ دی خپل بیخ تـه او فـراخـه ول د غتے ګـوتے په اړخ د مسواکئ باندے د طرف د غتے ګوتے نه۔ او د نـوی دپاره راماتـه ول د مسواکئ دی بیخ د غتے ګوتے ته او جوختول د هغے د غتے ګوتے سـره۔ او هرچه سل دی نو دا د آحادو په شان دی تر نهه سوو پورے په ګس لاس کی دی۔ او زرونه د عشراتو په شان دی په ګس لاس۔ تفصیل دپاره رجوع کولے شی

(سبل السلام (۱/۳۰٦) مرعاة المفاتیح (۸/٤۸۰) تحفة الاحوذی (۸/٤۸۰) ته۔

او ددے حدیث نه دا هم معلومیږی چه په دواړو لاسونو سره ذکر جواز لری۔

او دے حـدیث کـی دے خبرے تـه هم تـرغـیـب دے چه د بنده د عقل او شعور تقاضا دا کیدل پکار دی چه بنده خپل جسمانی اندامونه په هغه کارونو کې مشغول کړی چه د الله تـعـالیٰ د رضا او خوشحالئ باعث وی او خپل یویو اندام د ګناهونو نه بچ وساتی دے دپاره چه د قیـامـت پـه ورځ هیـڅ اندام د ګناه ګواه ورنکړی او د الله په عذاب کی ګرفتار نشی۔

فَتَنْسِيْنَ الرَّحْمَةَ : یـعـنـی کـه تـاسـو غـفلت وکړو او ذکر مو پریخودو نو تاسو به د الله تعالیٰ د رحمت نه پاتے شئ او اجر به مو فوت شی۔

درجة الحديث: اسـنـاده حـسـن عـنـد قـوم ضـعـیف عـنـد آخرین : الترمذی (۳۵۸۳) وابـوداود (۱۵۰۱) وصـحـحـه الـحـاكم والذهبی وحسنه الالبانی، والنووی، والعسقلانی والـعـراقـی فـی تـخـریـج الاحیاء وقال شعیب الارناووط فی تعلیق مسند احمد (۲۷۱۳٤) اسـنـاده مـحـتـمـل للتحسین) ولكن فی سندها حمیضة بنت یاسر وهی مجهولة لم یرو عنها غیـر ابـنـهـا هانئ بن عثمان الجهنی وهانئ هذا لم یوثقه غیر ابن حبان وحدیثها فرد غریب لم یتـابعها علیه احد، وقال الحافظ ابن حجر فی التقریب : حمیضة بنت یاسر مقبولة من الرابعة ای حیـن الـمـتـابـعة) انـظـر (التعقب المتوانی علی السلسلة الضعیفة للالبانی لاحمد شحاته السكندری) والراجح انه حسن لان حمیضة وثقها ابن حبان)

الفصل الثالث

- 2317(24) عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِیْ وَقَّاصٍ ﷺ قَالَ: جَاءَ أَعْرَابِیٌّ إِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ

فَقَالَ: عَلِّمْنِيْ كَلَامًا أَقُوْلُهُ قَالَ :" قُلْ لَا إِلٰـهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيْكَ لَهُ، اَللهُ أَكْبَرُ كَبِيْرًا وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيْرًا وَسُبْحَانَ اللهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ". فَقَالَ فَهٰؤُلَاءِ لِرَبِّيْ فَمَا لِيْ؟ فَقَالَ :" قُلْ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ وَارْحَمْنِيْ وَاهْدِنِيْ وَارْزُقْنِيْ وَعَافِنِيْ ". شَكَّ الرَّاوِيْ فِيْ "عَافِنِيْ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او سيدنا سعد بن ابی وقاص ﷺ فرمائي: يو باندچی رسول الله ﷺ ته راغلو او عرض ئے وکړو: ما ته داسے يوه خبره راوښايه چه زهٔ ئے وايم۔ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: داسے ووايه : (لَا إِلٰـهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيْكَ لَهُ، اَللهُ أَكْبَرُ كَبِيْرًا وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيْرًا وَسُبْحَانَ اللهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ۔ (نشته حقدار د بندګئ سویٰ د الله نه، هغه يواځے دے، هيڅ شريك ئے نشته، الله ډير لوی دے، او الله لره ډير زيات حمدونه دی، او الله پاك دے چه پالونکے د ټول مخلوقات دے، نشته منع کيدل د ګناه نه او نشته طاقت په طاعت باندے مګر په هغه الله سره دی چه غالبه حکمتونو والا دے)۔ نو هغه شخص ووييل : دا کلمات خو زما د رب دپاره شو نو زما دپاره کوم کلمات دی (چه زهٔ په هغے سره دعا غواړم)۔ نبی کريم ﷺ وفرمايل : داسے دعا غواړه : اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ وَارْحَمْنِيْ وَاهْدِنِيْ وَارْزُقْنِيْ وَعَافِنِيْ ۔ اے الله ما ته بخنه وکړه، په ما باندے رحم وکړه او ما ته هدايت وکړه او ما ته رزق راکړه او ما روغ وساته)۔ په (عافنی) کی راوی شك کړيدے (چه دا لفظ په روايت کی شته او که نهٔ)۔ (مسلمؒ)

تشريح : پدے ذکر کی يو احتمال دا دے چه دا د مطلق اذکارو نه دے چه د مانځه نه بهر ذکر دے۔ دويم دا چه په باب د قراءت کی تير شوی وو چه دے اعرابی لهٔ قراءت نهٔ ورتللو نو نبی ﷺ ورته (سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اكبر) اذکار وخودل چه دا وايه، دا به ستا دپاره د قراءت په ځای کافی شی۔

او دا روايت ددے دپاره هم دليل دے چه (اللهم اغفرلی) والا دعا د دوه سجدو ترمينځ وئيل پکار دی او ددے په باره کی چه کوم روايت کی کلام دے د هغے تائيد پدے روايت سره کيږی۔ او روستو به راشی چه چا به ايمان راوړو نو نبی عليه السلام به ورته دا ذکر (اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ وَارْحَمْنِيْ) خودل چه دا وايه (کما فی صحيح مسلم : ٧٠٢٤)

نو دا ذکر په مانځه او بهر د مانځه نه تولو حالتونو کی کول جائز دی۔
عَافِنِیْ : یعنی روغ مے وساته د امتحاناتو نه۔
شَكَّ الرَّاوِیُ : یعنی د موسی الجهنیؒ راوی شك دے چه (عَافِنِیْ) کلمه پکی شته او که نۀ،
راجح دا ده چه دا پکی شته لکه په بل روایت د مسلم (۷۰۲۵) کی بغیر د شك نه راغلے دے او د هغے الفاظ داسے دی: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِیْ وَارْحَمْنِیْ وَاهْدِنِیْ وَعَافِنِیْ وَارْزُقْنِیْ۔ وَارْزُقْنِیْ کلمه روستو ده۔

- 2318(25) وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ مَرَّ عَلٰى شَجَرَةٍ يَابِسَةِ الْوَرَقِ فَضَرَبَهَا بِعَصَاهُ فَتَنَاثَرَ الْوَرَقُ فَقَالَ : " إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ وَسُبْحَانَ اللهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ تُسَاقِطُ ذُنُوْبَ الْعَبْدِ كَمَا يَتَسَاقَطُ وَرَقُ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ

ترجمه : او سیدنا انس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ په یوه ونه تیر شو چه پاڼړے ئے وچے شوے وے نو هغه ئے په خپله امسا سره ووهله نو د (هغے) پاڼړے راپریوتے نو وے فرمایل: یقیناً الحمد لله، سبحان الله او الحمد لله او الله اکبر (دا کلمات) د بنده گناهونه داسے غورزوی لکه څنګه چه ددے ونے پاڼړے پریوتے۔ (دا روایت امام ترمذیؒ راوړیدے او وئیلی ئے دی چه دا حدیث غریب دے)۔

تشریح : یعنی پدے کلماتو سره د بنده گناهونه داسے غورزیږی لکه ددے ونے پاڼړے چه څنګه په آسانئ سره وغورزیدے۔ رسول الله ﷺ به کله نا کله د خلکو د پوهه کولو دپاره یو محسوس شے خپلو ملګروته خودلو چه د هغے تصویر په ذهن کی مضبوط کینی۔

درجة الحديث: اسناده حسن : الترمذی (۲۳۱۹) وهو فی صحیح الجامع الصغیر (۱۶۰۱) والتعلیق الرغیب (۲/۲۴۹) اعمش لم یسمع من انس ولکنه رآه ولکن له شاهدا من روایة غیر الاعمش اخرجه احمد۔ الصحیحة (۳۱۶۸)

- 2319(26) وَعَنْ مَكْحُوْلٍ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" أَكْثِرْ مِنْ

قَوْلِ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ فَإِنَّهَا مِنْ كَنْزِ الْجَنَّةِ ". قَالَ مَكْحُوْلٌ : فَمَنْ قَالَ : لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ وَلَا مَنْجَى مِنَ اللهِ إِلَّا إِلَيْهِ كَشَفَ اللهُ عَنْهُ سَبْعِيْنَ بَابًا مِنَ الضُّرِّ أَدْنَاهَا الْفَقْرُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَقَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهٗ بِمُتَّصِلٍ وَمَكْحُوْلٌ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ.

ترجمه : او جناب مکحولؒ د سیدنا ابو هریره ﷺ نه روایت کوی هغه فرمائی چه رسول الله ﷺ وفرمایل : لا حول ولا قوة الا بالله کلمه زیاته وایه ځکه چه دا د جنت خزانه ده۔ مکحولؒ وائی : چا چه (لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ وَلَا مَنْجَى مِنَ اللهِ إِلَّا إِلَيْهِ) (نشته منع کیدل د ګناه نه او طاقت په نیکئ باندے مګر په توفیق د الله سره دی او نشته ځای د خلاصئ د الله نه مګر الله طرفته دے) ولوستل نو الله تعالیٰ به ددهٔ نه د تکلیف اویا دروازے لرے کړی چه معمولی د هغے فقر دے۔

دا روایت امام ترمذیؒ راوړیدے او وئیلی ئے دی چه ددے حدیث سند متصل نهٔ دے او مکحولؒ د ابو هریره نه آوریدل نهٔ دی کړی۔

تشریح : أَدْنَاهَا الْفَقْرُ : یعنی په دغه اویا تکلیفونو کی ادنیٰ مرتبے والا په کی د فقر ضرر لرے کول دی۔

درجة الحديث : اسناده ضعیف، (الترمذی (٣٦٠١) وهو صحیح بشواهده دون قوله قال مکحول فانه مقطوع قاله فی الصحیحة (١٠٥)

- 2320(27) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ دَوَاءٌ مِنْ تِسْعَةٍ وَتِسْعِيْنَ دَاءً أَيْسَرُهَا الْهَمُّ "

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل : لا حول ولا قوة الا بالله د نهه نوی بیماریانو علاج دے چه آسان په هغه بیماریانو کی غم دے۔

تشریح : الْهَمُّ : یعنی لا حول ولا قوة الا بالله سره دینی او دنیاوی غمونه ختمیږی یا د معاش او د آخرت غم۔

ددے وجه دا ده چه بنده کله د اسبابو نه بیزاره شی نو د هغه زړه فراخه شی او غم ئے ختم شی او قوت او مدد او تائید ورته حاصل شی او طبیعت کی ئے کولاو والے پیدا شی

نو ذننه چه کومه بیماری راځی هغه زر ختمیږی او غم ډیر اُوچته بیماری ده لیکن دے ته ئے معمولی وئیلے ده نو ددے نه بره ډیر غټ مصیبونه په دے ذکر سره ختمیږی۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف، الحاكم فى المستدرك (١٩٩٠) اورده فى ضعيف الجامع (٦٢٨٦) وعزاه الى ابن ابى الدنيا فى ((الفرج)) واورده ابن حبان فى المجروحين فى ترجمة بشر بن رافع النجرانى) ______

- 2321(28) وَعَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " أَلا أَدُلُّكَ عَلٰى كَلِمَةٍ مِنْ تَحْتِ الْعَرْشِ مِنْ كَنْزِ الْجَنَّةِ لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ يَقُوْلُ اللهُ تَعَالٰى: أَسْلَمَ عَبْدِىْ وَاسْتَسْلَمَ ". رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعَوَاتِ الْكَبِيْرِ ______

ترجمه : او سیدنا ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : آیا زهٔ تا ته داسے کلمه ونهٔ ښایم چه د عرش نه لاندے د جنت د خزانے نه ده (هغه) لا حول ولا قوة الا بالله ده۔ (کله چه بنده دا ووائی) الله تعالیٰ فرمائی : زما بنده مسلمان (یعنی تابعدار) شو او غاړه ئے کیخوده۔ (یعنی پوره فرمانبزدار شو)۔ (دا دواړه روایتونه بیهقیؒ په دعوات کبیر کی نقل کړیدی)

تشریح : مِنْ كَنْزِ الْجَنَّةِ : دا بیان دے د تحت العرش دپاره یعنی هغه لاندے ځای چه خزانه د جنت ده او کله چه عرش د جنت چهت شی نو بیا خو جائز ده چه (كنز الجنة) بدل شی د (تحت العرش) لفظ نه۔

ددے یو مطلب دا دے چه (لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ) کلمه د معنوی عرشی خزانو نه راغلے ده، او پدے سره دغه خزانے د جنت حاصلیږی او د قیامت په ورځ به بنده ته فائده ورکوی۔

درجة الحديث: اسناده صحيح : الحاكم (٥٤) والبيهقى فى الدعوات الكبير وهو فى صحيح الجامع الصغير (٢٦١٣) والصحيحة (١٥٢٨) (١٠٢/٤)

______

- 2322(29) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ قَالَ: سُبْحَانَ اللهِ هِىَ صَلَاةُ الْخَلَائِقِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ كَلِمَةُ الشُّكْرِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ كَلِمَةُ الإِخْلَاصِ وَاللهُ أَكْبَرُ تَمْلَأُ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَإِذَا قَالَ الْعَبْدُ :لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ قَالَ اللهُ تَعَالٰى : أَسْلَمَ عَبْدِىْ وَاسْتَسْلَمَ. رَوَاهُ رَزِيْنٌ ______

ترجمه : او سیدنا ابن عمر رضی الله عنهما فرمائی : سبحان الله دا د ټول مخلوق عبادت دے، الحمد لله دِ شکر کلمه ده او لا اله الا الله د اخلاص (یعنی د توحید) کلمه ده او الله اکبر د آسمان او د زمکے ترمینځ فضاء ډکوی (یعنی ددے ثواب)۔ او کله چه بنده ووائی : لا حول ولا قوة الا بالله۔ نو الله فرمائی : دا بنده فرمانبردار شو او پوره فرمانبردار شو۔ (رزینؒ)

تشریح : أَسْلَمَ : یعنی د منقاد شو الله ته او د هغه احکامو ته او اخلاص ئے وکړو۔ یا کامل مسلمان شو۔

وَاسْتَسْلَمَ : یعنی پوره منقاد (تابعدار) شو ظاهراً او باطناً او ټول کارونه ئے ما ته وسپارل۔

دا روایت موقوف بمنزلة المرفوع دے ځکه چه صحابی د ځان نه د عبادت ثواب نۀ بیانوی۔

درجة الحدیث : اسناده لم اقف علیه رواه رزین فی جامعه بغیر سند فاللّٰه اعلم بحال اسناده، والجملة الاخیرة صحیحة کما مر۔



(٤) بَابُ الْإِسْتِغْفَارِ وَالتَّوْبَةِ

د استغفار او توبې بیان

استغفار طلب د مغفرت (بخښې) ته وائي. حافظ ابن حجرؒ لیکي : استغفار د غُفر نه دې او غفر په اصل کښې [إِلْبَاسُ الشَّيْءِ مَا يَصُوْنُهٗ عَمَّا يُدَنِّسُهٗ] ته وائي، یعني یو شی ته هغه شے وراغوستول چه هغه ئې د خیرو او ګندونو نه وساتي. مراد ترې نه پټول دي. او غفران د الله تعالیٰ بنده ته دا دے چه هغه د عذاب نه وساتي، آه.

علي القاريؒ وائي : مغفرت دے ته هم وائي چه بنده باندې په دنیا کښې د هغهٔ د ګناهونو سره پرده واچوي او هیچا ته ئې ښکاره نکړي.

او په آخرت کښې دا دے چه هغهٔ ته عذاب ورنکړي.

استغفار کله متضمن وي توبې لره او کله نهٔ وي، نو پدې وجه ئې (والتوبة) لفظ جدا ذکر کړو. یا استغفار په ژبه وي او توبه په زړهٔ سره وي، آه.

یا استغفار د بنده صفت دے او توبه د الله په صفت کښې هم راځي، او د بنده په صفت کښې هم. لکه الله ته تواب وائي. د الله په صفت کښې ئې معنیٰ ده :

[رَجَعَ مِنَ الْعُقُوْبَةِ إِلَى الْمَثُوْبَةِ]. یعنیٰ د بنده نه ئې عذاب لرې کړو او ثواب ئې ورکړو.

دارنګه معنیٰ ئې ده : ((توبه قبلونکے)). او د بنده په صفت کښې [أَلرُّجُوْعُ مِنَ الْمَعْصِيَةِ إِلَى الطَّاعَةِ]. د ګناه نه طاعت ته راواپس کیدو ته وائي.

توبه په شریعت کښې : [تَرْكُ الذَّنْبِ لِقُبْحِهٖ وَالنَّدَمُ عَلٰى مَا فَرَطَ وَالْعَزِيْمَةُ عَلٰى تَرْكِ الْمُعَاوَدَةِ وَتَدَارُكِ مَا أَمْكَنَهٗ أَنْ يَّتَدَارَكَ مِنَ الْأَعْمَالِ الصَّالِحَةِ بِالْإِعَادَةِ] (الراغب).

یعني د ګناه پریخودل د هغې د بدئ د وجه نه، او په خپلو تقصیراتو باندې خپیمانه کیدل او آینده دپاره هغې ته د نهٔ راواپس کیدو عزم کول، او کوم نیک اعمال ئې چه ضائع کړي هغه راواپس کړي څومره چه ممکن وي. (یعني د توبې نه پس ډیر اعمال کوي دے

دپاره چه د مخکنو وختونو تدارك وکړی)۔
حافظ ابن قيمؒ په مدارج السالکین (١٦٩/١) کښې د توبې متعلق ليکی : د توبې دا مفهوم بيانول چه د ګناه نه بنديدل، او دوباره د نۀ کولو عزم او په تير شوو کړو باندې خپيمانه کيدل او که په حقوقو د بندګانو کښې وی نو د هغه حق نه دستبردار کيدل، دا پوره معنیٰ د توبې نۀ ده بلکه ددې سره دا شرط دې چه کلك عزم به کوی په نيك اعمالو کولو باندې، که يو تن په خپلو کړو صرف خپيمانه شو يا تيره شوې ګناه نۀ کوی نو دا توبه ګار نۀ دې، نو توبه کښې دوه جزء ضروری دی، ګناه پريخودل او بيا په نيکيو کښې ځان استعمالول۔ او دا د تقویٰ لفظ په شان دې، چه د ګناه نه ځان ساتل او بيا طاعات کولو ته وئيلې شی۔
حافظ ابن قيمؒ يو عجيب بيان دا هم کړيدې چه استغفار او توبه چه يواځې يواځې ذکر شی نو هريو بل لره متضمن وی، کله چه صرف استغفار ذکر شی نو دا بعينه توبه ده، ورسره په استغفار کښې د الله تعالیٰ نه د مغفرت طلب دې چه ددۀ ګناه ختمه کړی او د هغې اثر زائل کړی او د هغې د شر نه ئې محفوظ کړی، نو استغفار يواځې د پټولو معنیٰ نۀ ده، ځکه چه الله تعالیٰ پرده په هغه چا هم اچوی چه بخنه ورته کوی او په هغه چا هم چه بخنه ورته نکوی، ليکن پټوالې لازم دې د معنیٰ د استغفار سره يا ئې جزء دې۔ او حقيقت د استغفار د ګناه د ضرر نه حفاظت دې۔
لکه ددې نه مِغْفَرُ اخستې شويدې (يعنی خود/ د وسپنې توپۍ) چه سر د ضرر نه بچ کوی۔ نو پټول ورسره لازم د معنیٰ دې ورنه پټکی ته مِغفر نۀ وائی، سره ددې نه چه هغه هم سر پټوی؛ نو معلومه شوه چه په لفظ د مغفرت کښې د ساتنې معنیٰ هم شته۔
او هر هغه څوك چه په ګناه هميشوالې کوی او د الله نه مغفرت غواړی نو دا استغفار مطلقه نۀ دې۔ او دا د عذاب نه بچاؤ نۀ راولی ﴿ وَمَا كَانَ اللهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ﴾ نو ددې وجه نه استغفار متضمن دې توبې لره چه د ګناه نه به ځان ساتی۔ نو استغفار او توبه يو بل لره متضمن شو۔
او کله چه دواړه لفظونه شريك ذکر شی نو د استغفار معنیٰ به دا وی : [طَلَبُ وِقَايَةِ شَرِّ مَا مَضٰی]۔ د تير شوی ګناه د ضرر نه بچاؤ طلب کول۔
او د توبې معنیٰ به دا وی : [طَلَبُ وِقَايَةِ شَرِّ مَا يَخَافُهُ فِی الْمُسْتَقْبَلِ مِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِهِ]۔

په آینده کښې د بدو اعمالو کولو د ضرر د یرې نه بچاؤ طلب کول دی۔
نو دلته دوه گناهونه دی، یو په تیره شوې زمانه کښې نو د هغې دپاره استغفار شو چه د هغې د شر او ضرر نه ئې بچ کړی۔
او بل هغه گناه ده چه دے یریږی چه په هغې کښې به واقع شی نو د هغې دپاره توبه ده چه کلك عزم وکړی چه دا به نهٔ کوی۔ او الله ته رجوع کول دواړو قسمونو ته شاملیږی، یو رجوع ده ددے دپاره چه د مخکښې گناه د شر نه ئې بچ کړی او بله رجوع ده ددے دپاره چه په آینده کښې ئې د خپل نفس د شر او د بدو اعمالو نه وساتی۔
دارنگه گناهگار په منزله د هغه شخص دے چه هغه په داسے لاره روان وی چه هغه ئې هلاکت ته رسوی، او مقصد ته ئې نهٔ رسوی، نو دے مامور دے چه هغې ته به شا راړوی او هغه لارے ته به راواپس کیږی چه په هغې کښې ددهٔ نجات او کامیابی وی۔
نو دلته دوه کارونه دی، اول د یو شی نه جدا کیدل او دویم بل شی ته راواپس کیدل دی۔ نو توبه کښې رجوع شوه او په استغفار کښې جدائی۔ لکه دا په ترتیب سره راغلی دی په آیت: ﴿وَأَنِ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ﴾ (هود: ٩٠)۔
او کله چه دواړه جدا جدا ذکر شی نو دواړه کارونه به په هر یو کښې مراد وی۔
❁ یا استغفار کښې ازالة الضرر دے، او په توبه کښې طلب د جلب المنفعة (فائده راخکل) دی۔ نو مغفرت دا دے چه د گناه د شر نه ئې بچ کړی او توبه دا ده چه د حفاظت نه روستو ورته نیك اعمال محبوب شی۔
❁ بل فرق ئې دا بیان کړیدے: توبه د خپل ځان دپاره وی، او استغفار د ځان دپاره هم کیدے شی او د بل دپاره هم۔ او کله صرف د بل دپاره وی۔ لکه ملائك واخله، انتهی بتغیر یسیر۔

فائده: توبه ویستل په دوه وختونو کښې دی (١) عِنْدَ الْمَعْصِيَة۔ چه کله د بنده نه گناه وشی، لکه زنا، غلا، غیبت وغیره۔ دے وخت کښې توبه ویستل فرض دی۔
(٢) دویم د توبے دپاره گناه شرط نهٔ ده، دا وجه ده چه الله تعالیٰ په ټولو مؤمنانو باندے توبه ویستل ضروری کړیدی۔ ﴿وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ [النور:٣١]۔ (او توبه وباسئ الله تعالیٰ ته ټول اے مؤمنانو دے دپاره چه کامیاب شئ۔
﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَصُوحًا﴾ [التحريم:٨]۔

(اې ايمان والو ! الله تعالىٰ ته توبه وباسئ توبه په اخلاص سره)۔
ځکه چه بنده نه ضرور قصور کيږي او که ونۀ شي نو توبه د الله تعالىٰ حق دے چه بنده به د هغۀ په دربار کښې د خپل قصور اقرار کوي۔
د توبې د زيات تفصيلاتو دپاره خامخا مدارج السالکين ته رجوع پکار ده، عجيبه فوائد پکښې ذکر دي۔

قصه : مالك بن دينارؒ په يو حَمّال (بارګير) باندې خپل سامان وړلو، نو هغۀ په لاره الحمد لله، استغفر الله ذکر کولو، دۀ ورته ووېل چه حمد او استغفار دواړه څنګه جمع کوې؟ نو هغۀ ووېل : که مونږ فکر وکړو نو ټول د الله تعالىٰ نعمتونه ښکاره کيږي، او که ځان ته وګورو نو ټول ګناهونه دي، او د الله په باره کښې کوتاهي ده، نو مالك خپل ځان ته ووېل : [حَمَّالٌ أَفْقَهُ مِنْكَ]۔ يو مزدور هم ستا نه ډير پوهه دے۔

الفصل الأول

- 2323(1) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ " : وَاللهِ إِنِّي لَأَسْتَغْفِرُ اللهَ وَأَتُوْبُ إِلَيْهِ فِي الْيَوْمِ أَكْثَرَ مِنْ سَبْعِيْنَ مَرَّةً " . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : د ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمايل : قسم په الله ! زۀ ضرور د الله تعالىٰ نه بخښنه غواړم او هغۀ ته توبه وباسم په ورځ کښې زيات د اويا کرتو نه۔ (بخاريؒ)

تشريح : وَاللهِ : قسم ورسره د تاکيد دپاره ذکر کوي۔
لَأَسْتَغْفِرُ اللهَ : په روايت د نسائي کښې د ابن عمر ﷺ نه په صحيح سند سره روايت دے چه هغۀ د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه (دا کلمات ئے) په مجلس کښې د پاڅيدو نه مخکښې سل کرته وئيل : [أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الَّذِيْ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ وَأَتُوْبُ إِلَيْهِ] ۔
نو دا تفسير شو ددے حديث۔
يا ددے نه مراد دا دے چه رسول الله ﷺ به مغفرت طلب کولو او د توبې عزم به ئے کولو او داسې به ئے وئيل لکه چه د فصل ثاني په آخر کښې د ابن عمر ﷺ په روايت کښې راغلي دي۔ [رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَتُبْ عَلَيَّ إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الْغَفُوْرُ] ۔
أَكْثَرَ مِنْ سَبْعِيْنَ مَرَّةً : روستو روايت کښې سل کرته ذکر دي، او په روايت د ترمذيؒ او

ابن السنیؒ کښې اویا کرته ذکر دے، نو یا خو اویا کرته ذکر کول د کثرت دپاره دی، نۀ د تعیین او تحدید دپاره. لکه روستو حدیث د اَغر مُزَنی کښې [کُلَّ یَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ] ذکر دے.
یا ددے نه مراد همدغه معیّن عدد دے، بیا به تطبیق دا وی چه رسول الله ﷺ به کله په مجلس کښې اویا کرته او اکثر سل کرته استغفار کولو.
او روایت د کتاب کښې اکثر لفظ مُبهم دے، نو یا حمل دے په سلو باندے، یا ددے نه مراد مبالغه او تکثیر دے، او تعیین مقصود نۀ دے. او په روستو حدیث د اَغر مُزَنی کښې چه [کُلَّ یَوْمٍ] راغلے دے، نو د هغے نه هم مراد اکثر اوقات دی.
او په استغفار د رسول الله ﷺ کښې امت ته تعلیم دے، ځکه چه د رسول الله ﷺ نه هیڅ ګناه نۀ وه شوے، یا مونږ وویل چه استغفار ګناه لره مستلزم نۀ وی بلکه دا د الله تعالیٰ حق دے چه بنده به ئے ترے غواړی.

- 2324(2) وَعَنِ الْأَغَرِّ الْمُزَنِيِّ ؓ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " إِنَّهُ لَيُغَانُ عَلٰى قَلْبِيْ وَإِنِّيْ لَأَسْتَغْفِرُ اللهَ فِي الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةٍ." رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: او جناب اغر مزنی ؓ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: شان دا دے خامخا زما په زړۀ باندے پرده (ساده هوبی) راځی او زۀ د الله تعالیٰ نه په ورځ کښے سل کرته بخنه غواړم. (مسلمؒ)
الْمُزَنِيِّ: منسوب دے مُزَیْنَه قبیلے ته. نوم ئے اَغَر بن عبد الله الْمُزَنِی دے. درے حدیثونه ترے نقل دی.
تشريح: لَيُغَانُ: د غین نه دے، (باب ضرب) په لغت کښې غِطَاء (پردے) ته وئیلے شی. دلته ترے مراد هغه شے دے چه په زړۀ باندے راځی او هغه پټوی. یعنی څه پټوالے او غم او ساده هوبی ورته راپیښیږی. یا د خوراك او څکاك او قضاءِ حاجت وغیره په وخت کښې چه د ذکر د الله تعالیٰ نه یو قسم پرده راشی نو دغے ته ئے غین یعنی غفلت وئیلے دے. کوم چه د بشریت سره لازم دے. او دا داسے دے لکه یوه پرده چه په زړۀ باندے راشی او دډۀ او د ملأ اعلیٰ ترمینځ یو قسم پرده واقع شی نو د زړۀ د صفائی په طور او د پردے د زائل کولو دپاره استغفار غواړی. (علی القاریؒ)

بعض علماؤ ددې حديث په تفسير کښې حيرانتيا ښکاره کړېده تردې چه سيوطیؒ وئيلي دي چه دا هغه متشابه حديث دې چه ددې حقيقي معنیٰ معلومه نهٔ ده. اصمعیؒ لغوی وئيلي دي چه که دا خبره د غير نبي په باره کښې وې نو ما به ددې تفسير کړې وې ليکن زهٔ پکښې توقف کوم، اګرکه عرب غين معمولي شان غم ته وائي.

مګر مونږ چه کوم اول مطلب بيان کړو هغه واضح دې، چه کله استغفار د زړهٔ نه د غم زائله کولو او زړهٔ سپکولو دپاره کيږي.

بعضو ددې معنیٰ په سکينه سره کړېده چه په زړهٔ باندې راځي او استغفار د اظهار د عبوديت او افتقار او ملازمة الخشوع او شکر دپاره دې. يا ددې نه مراد حالت د خشيت او د الله تعالیٰ د لويئ دې او استغفار د طلب د شکر دپاره دې. ليکن غوره هغه ده چه مونږ ووېل.

- 2325(3)   وَعَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : "يَا أَيُّهَا النَّاسُ تُوْبُوْا إِلَى اللهِ فَإِنِّى أَتُوْبُ إِلَيْهِ فِي الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةٍ ." رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او د جناب اغر مزنی رضی الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ وفرمايل : اې خلقو! الله تعالیٰ ته توبه وباسئ ځکه چه زهٔ (هم) هغهٔ ته په ورځ کښې سل کرته توبه وباسم. (مسلمؒ)

تشريح : دا حديث دليل دې چه توبه ويستل فرض دي، لکه همدا خبره په دوه آيتونو کښې راغلې ده کوم چه ابتداء کښې ذکر شول.

- 2326 (4) وَعَنْ أَبِى ذَرٍّ رضی الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فِيْمَا يَرْوِيْ عَنِ اللهِ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى أَنَّهُ قَالَ: "يَا عِبَادِيْ إِنِّى حَرَّمْتُ الظُّلْمَ عَلٰى نَفْسِىْ وَجَعَلْتُهُ بَيْنَكُمْ مُحَرَّمًا فَلَا تَظَالَمُوْا يَا عِبَادِىْ كُلُّكُمْ ضَالٌّ إِلَّا مَنْ هَدَيْتُهُ فَاسْتَهْدُوْنِىْ أَهْدِكُمْ، يَا عِبَادِىْ كُلُّكُمْ جَائِعٌ إِلَّا مَنْ أَطْعَمْتُهُ فَاسْتَطْعِمُوْنِىْ أُطْعِمْكُمْ يَا عِبَادِىْ كُلُّكُمْ عَارٍ إِلَّا مَنْ كَسَوْتُهُ فَاسْتَكْسُوْنِىْ أَكْسُكُمْ يَا عِبَادِىْ إِنَّكُمْ تُخْطِئُوْنَ بِاللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَأَنَا أَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا فَاسْتَغْفِرُوْنِىْ

أَغْفِرْ لَكُمْ يَا عِبَادِيْ إِنَّكُمْ لَنْ تَبْلُغُوا ضَرِّيْ فَتَضُرُّوْنِيْ وَلَنْ تَبْلُغُوْا نَفْعِيْ فَتَنْفَعُوْنِيْ، يَا عِبَادِيْ لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ كَانُوْا عَلٰى أَتْقٰى قَلْبِ رَجُلٍ وَّاحِدٍ مِنْكُمْ مَا زَادَ ذٰلِكَ فِيْ مُلْكِيْ شَيْئًا، يَا عِبَادِيْ لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ كَانُوْا عَلٰى أَفْجَرِ قَلْبِ رَجُلٍ وَّاحِدٍ مِنْكُمْ مَا نَقَصَ مِنْ مُلْكِيْ شَيْئًا يَا عِبَادِيْ لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ قَامُوْا فِيْ صَعِيْدٍ وَّاحِدٍ فَسَأَلُوْنِيْ فَأَعْطَيْتُ كُلَّ إِنْسَانٍ مَسْأَلَتَهُ مَا نَقَصَ ذٰلِكَ مِمَّا عِنْدِيْ إِلَّا كَمَا يَنْقُصُ الْمِخْيَطُ إِذَا أُدْخِلَ الْبَحْرَ، يَا عِبَادِيْ إِنَّمَا هِيَ أَعْمَالُكُمْ أُحْصِيْهَا عَلَيْكُمْ، ثُمَّ أُوَفِّيْكُمْ إِيَّاهَا، فَمَنْ وَجَدَ خَيْرًا فَلْيَحْمَدِ اللّٰهَ، وَمَنْ وَجَدَ غَيْرَ ذٰلِكَ فَلَا يَلُوْمَنَّ إِلَّا نَفْسَهُ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ ____________

ترجمه : او جناب ابوذر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ د هغه خبرو په سلسله کښې چه د الله تبارك وتعالیٰ نه ئے نقل کوی وفرمایل چه هغه فرمائی : اے زما بندګانو ! بیشکه ما په خپل ځان باندے ظلم حرام کړیدے، (یعنی زهٔ د ظلم نه پاك یم) او دا مے ستاسو ترمینځ (هم) حرام ګرزولے دے، نو تاسو په یو بل ظلم مهٔ کوئ، اے زما بندګانو ! هریو په تاسو کښں ګمراه دے، مګر هغه څوك چه زهٔ ورته هدایت وکړم نو زما نه هدایت وغواړئ زهٔ به تاسو ته هدایت وکړم، اے زما بندګانو ! هریو په تاسو کښں وږے دے مګر هغه څوك چه زهٔ ورته خوراك ورکړم نو ما نه خوراك وغواړئ زهٔ به تاسو ته خوراك درکړم، اے زما بندګانو! هریو په تاسو کښے بربنډ دے، مګر هغه څوك چه زهٔ ورته جامے ورکړم نو ما نه جامے وغواړئ زهٔ به جامے درکړم۔ اے زما بندګانو ! یقیناً تاسو د شپے او د ورځے خطایانے (ګناهونه) کوئ او زهٔ ټول ګناهونه معاف کوم، نو ما نه بخنه وغواړئ زهٔ به تاسو ته بخنه کوم، اے زما بندګانو! یقیناً تاسو هیچرے زما ضرر ته نشئ رسیدے چه ما ته ضرر راکړئ او هیچرے زما فائدے ته نشئ رسیدے چه ما ته فائده راکړئ۔ اے زما بندګانو! که چرے ستاسو اولنی او روستونی او ستاسو انسانان او ستاسو جنات ستاسو نه د یو تن په ډیر پرهیزګاره زړهٔ باندے جوړ شی نو دا به زیات نکړی زما په بادشاهئ کښں هیڅ شے۔ اے زما بندګانو ! که چرے ستاسو اولنی او ستاسو روستونی او ستاسو انسانان او ستاسو جنات ستاسو نه د یو تن په ډیر بدګاره زړهٔ باندے جوړ شی، دا به زما د بادشاهی نه هیڅ شے کم نکړی۔ اے زما بندګانو ! که ستاسو اولنی او ستاسو روستونی او ستاسو

انسانان او ستاسو جنات (ټول) په يو هموار ميدان کښې ودرېږي او زما نه (خپل حاجتونه) وغواړي، او زۀ هر انسان ته د هغۀ د غوښتلو مطابق (په يو وخت او يو ځای) ورکړم، دا به کم نکړي د هغه خزانو نه چه ما سره دي مګر لکه چه ستنه (اُوبۀ) کموی کله چه درياب ته داخله کړے شي (او بيرته راوخکلے شي). اے زما بندګانو ! يقيناً دا (تاسو ئے چه کوئ) ستاسو عملونه دي زۀ ئے په تاسو باندے شمارم بيا به دا پوره درکړم تاسو ته. نو چا چه (په نتيجه کښې) خير وموندۀ (يعنی غوره بدله ورته په قيامت کښے ملاؤ شوه) نو د الله حمد دِ وکړي او چا چه ددے نه سوئ وموندۀ (يعنی بده بدله ورکړے شوه) نو نۀ دِے ملامته کوی مګر ځان خپل. (مسلمؒ)

تشريح : حَرَّمْتُ الظُّلْمَ : أَيْ تَقَدَّسْتُ عَنْهُ وَتَعَالَيْتُ . يعنی زۀ د ظلم کولو نه پاك او اُوچت يم. زما ظلم ته ضرورت نشته، ځکه چه ظلم د عاجز مخلوق كار وی.

دارنګه ظلم کښې د حدودو نه تجاوز وی او د الله تعالیٰ مخے ته هيڅ حدود نشته، چه د هغے نه اوړيدل ظلم وګرځی، او نۀ د هغۀ نه څوك بره شته چه هغۀ ته حرام او حلال مقرر کړي، ليکن تحريم په معنیٰ د منع کولو او ځان بندولو سره راځی.

فَلَا تَظَالَمُوْا : د تاء فتحه ده، په اصل کښې تَتَظَالَمُوْا دے. يعنی يو بل باندے ظلم مۀ کوئ.

كُلُّكُمْ ضَالٌّ : يعنی چا ته چه هدايت ملاؤ شو نو دا دِے د الله تعالیٰ د طرفنه وګڼړي نۀ د خپل ځان کمال. او دغه شان که طعام او کپړے ورته ملاؤ شوے نو دا د الله د طرفنه دی. او دا دليل دے چه ټول مخلوق الله تعالیٰ ته په دينی او دنياوی فائدو راخکلو او ضررونو دفع کولو کښې محتاج دی.

بيا په مشهور حديث کښې دی : [كُلُّ مَوْلُوْدٍ يُوْلَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ]

[بخاری : ١٣٨٥) مسلم (٦٩٢٦)

(هر انسان په فطرت باندے پيدا کيږی) نو بيا ددے څه معنیٰ ده چه ستاسو نه هر يو تن ګمراه دے؟.

نو ددے يو تطبيق امام نوویؒ د مازریؒ نه دا نقل کړيدے چه انسان خو په فطرت (دين اسلام) باندے پيدا دے، ليکن ددۀ په طبيعت کښې الله تعالیٰ د خواهشاتو او راحت غوره والے اچولے دے،

دارنګه د فکر او نظر بیکار والے نو که دوئ خپلو طبیعتونو ته پریخودے شی نو ګمراه به شي۔ او دے ته ئے غوره تاویل وئیلے دے۔

(۲) مناویؒ وائی : ضَالٌّ أَیْ غَافِلٌ عَنِ الشَّرَائِعِ قَبْلَ اِرْسَالِ الرُّسُلِ اِلَّا مَنْ هَدَیْتُهٗ أَیْ وَفَّقْتُهٗ لِلْاِیْمَانِ أَیْ لِلْخُرُوْجِ عَنْ مُقْتَضٰی طَبْعِهٖ۔ یعنی د رسولانو د رالیږلو نه مخکښې د شریعتونو او احکامو نه ناخبره او غافل وو مګر هغه څوك چه زهٔ ورته هدایت وکړم یعنی د ایمان توفیق ورکړم یعنی دے دپاره چه د طبیعت د تقاضا نه بهر وځی۔

(۳) علی القاریؒ داسے تعبیر کوی : چه د فطرت نه مراد توحید دے، او دلته د ضلالة نه مراد د ایمان د احکامو او د اسلام د حدودو د تفصیل نه ناخبری ده۔

(٤) ابن رجبؒ وائی : انسان کښې استعداد او قوت شته چه اسلام قبول کړی، الله تعالیٰ ورته داسے طبیعت ورکړیدے چه د توحید نه به انکار نهٔ کوی لیکن د بنده دپاره بالفعل تعلیم د اسلام ضروری دے، ځکه چه دے د تعلم نه مخکښې ناپوهه دے چه په هیڅ نهٔ پوهیږی۔ لکه الله فرمائی :

﴿ وَاللّٰهُ أَخْرَجَكُمْ مِنْ بُطُوْنِ أُمَّهَاتِكُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ شَیْئًا ﴾ (النحل : ۷۸)

(الله تعالیٰ تاسو د خپلو میندو د خیټونو راویستلی یئ چه په هیڅ شی نهٔ پوهیدئ)۔

فَاسْتَهْدُوْنِیْ : هدایت په دوه قسمه دے، یو اجمالی هدایت دے چه ایمان او اسلام قبلول دی، دا خو مؤمنانو ته حاصل دے،

دویم تفصیلی هدایت دے، چه هغه هدایت دے د معرفت د تفصیلاتو د اجزاؤ د ایمان او د اسلام او بیا پدے باندے مدد ملاویدل او دے ته هر مؤمن شپه او ورځ محتاج دے۔

أَهْدِكُمْ : یعنی زهٔ به د هدایت توفیق درکوم۔

كُلُّكُمْ جَائِعٌ : علقمیؒ وائی : دا ځکه چه خلق ټول غلامان دی، د هیڅ شی مالکان نهٔ دی، او د رزق خزانے د الله په لاس کښې دی، نو الله چه چا ته د خپل فضل نه رزق ورنکړی نو وږے به پاتے شی ځکه چه په الله باندے خو د چا مرول لازم نهٔ دی۔

او کوم آیت کښې چه راغلی دی چه ﴿ وَمَا مِنْ دَابَّةٍ فِی الْأَرْضِ اِلَّا عَلَی اللّٰهِ رِزْقُهَا ﴾ (هود : ٦)

(یعنی په زمکه کښې د هر حیوان رزق په الله باندے دے)

نو دا الله تعالیٰ په ځان باندے په طریقه د تفضل (احسان) سره لازم کړیدے، او د حیوان

اصلي او حقيقي حق نهٔ دے۔

سوال : د طعام ورکولو نسبت څنګه الله تعالیٰ ته وشو حال دا چه مونږ وینو چه رزقونه په دے ظاهری اسبابو باندے مرتب دی لکه کاروبار، کارخانے، او قِسم قِسم کسبونه ؟

جواب : دا اسباب چا پیدا کړیدی ؟ او دے اسبابو کښې اثر چا اچولے دے، او بنده ته ئے توفیق ورکړیدے؟۔

سوال : رزق او جامه خو هر چا ته ملاؤ ده نو بیا ددے څه مطلب دے چه هر یو تن په تاسو کښې وږے دے او بربنډ دے؟

جواب : دلته فراخی او ډیر والے ددے دواړو مراد دے۔ یعني ما نه وغواړئ چه زهٔ درله رزق هم فراخه کړم او جامے کپړے هم۔

تُخْطِئُوْنَ: دا د اَخْطَأَ نه دے۔ خطائی کولو ته وئیلے شي۔

او په دے کښې تَخْطَئُوْنَ هم جائز دے، بیا هغه د خَطَأَ يَخْطَأُ خَطَأً نه دے، ګناه کولو ته وئیلے شي، اګرکه اَخْطَأَ لفظ هم د ګناه دپاره استعمالیدل صحیح دی۔

ضُرِّيْ : په فتحه د ضاد سره یا په ضمه سره۔

فَتَضُرُّوْنِيْ : دلته نون اعرابی حذف شویدے، او نون وقایه راغلے دے، ځکه چه اَنْ ناصبه مقدر دے لکه چه د نفي نه روستو اَنْ مقدر کیږي۔

او دغه شان فَتَنْفَعُوْنِيْ هم دے۔ او مطلب دا دے چه بندګان الله تعالیٰ ته په طاعاتو سره فائده نشي ورکولے او ګناهونو سره ضرر ځکه چه هغه خو غني حمید دے، بلکه فائده او ضرر ټول انسانانو ته راجع دے۔

أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ : د اول نه مراد موجود خلق دی او د آخر نه مراد روستو پیدا کیدونکی دی۔ یا د اول نه مراد مړی او د آخر نه مراد ژوندی دی۔ مراد ترے نه ټول خلق دی۔

عَلٰى أَتْقٰى قَلْبِ رَجُلٍ وَّاحِدٍ : یعنی د هغوی تقویٰ د یو سړی د زړهٔ د تقویٰ په شان شي۔ یعنی د هر یو تن دا صفت شي۔ او ډیر پرهیزګاره زړهٔ د رسول الله ﷺ دے۔

مَا زَادَ ذٰلِكَ : یعنی دا تقویٰ او دا حالت مذکوره به زما په بادشاهی کښے هیڅ زیادت رانهٔ ولی۔

عَلٰى أَفْجَرِ قَلْبِ رَجُلٍ: يعني په ناكاره احوالو د زړهٔ د يو تن شي. يا په ډير گناهگار او نافرمانه زړهٔ د يو تن شي. يعني هر يو تن ډير ناكاره زړهٔ والا شي.
فَسَأَلُوْنِيْ: يعني ما نه ټول په يو ځاى باندے خپل خپل حاجتونه غوښتل شروع كړي. طيبيؒ ليكي: سوال ئے په شريكه په يو ميدان كښے ذكر كړو ځكه چه گڼړ سوالونه كول مسئول لره حيرانوي او هغه پريشانه كوي، بيا هغهٔ ته د خلقو حاجتونه پوره كول گرانيږي. مگر دا كار هم په الله باندے نهٔ گرانيږي.
مَا نَقَصَ: نو ددے نه مراد د الله تعالىٰ كامل قدرت او كامله بادشاهي ده، او اشاره ده چه د الله تعالىٰ ملك او خزانے په وركړه سره نهٔ كميږي اگركه ټول عالَم ته وركړه وركول شروع كړي. او پدے كښ مخلوق ته تيزي وركول دي چه دوئ د الله نه سوالونه وكړي او خپل ضرورتونه د هغهٔ مخے ته كيږدي.
الْمِخْيَطُ: ستنے ته وئيلے شي چه په هغے سره جامه گنډلے شي.
إِذَا أُدْخِلَ الْبَحْرَ: امام نوويؒ وائي: دا مثال دے دپاره د رانزدے كولو د خبرے ذهنونو ته ځكه چه ستنه چه درياب ته داخله شي او بيا راويستلے شي نو د درياب نه هيڅ حصه نهٔ كموي، نو اشاره ده چه په وركړه سره د الله تعالىٰ هيڅ خزانه كښ كمے نهٔ راځي. او ددے مثال نه په كم والي كښ بل شے نشته.
او ددے نهٔ كمولو وجه په حديث د ترمذي او ابن ماجه كښ داسے راغلے ده چه الله فرمائي: [ذٰلِكَ بِأَنِّيْ جَوَادٌ مَاجِدٌ، عَطَائِيْ كَلَامٌ]
(دا پدے وجه چه زهٔ جواد (سخي) يم، او شرافت والا يم، زما وركړه په خبرو ده). يعني څه مشقت پكښ نشته.
إِنَّمَا هِيَ: دا ضمير قصه دے، يعني قصه دا ده.
أُحْصِيْهَا: اَىْ اَحْفَظُهَا وَاَكْتُبُهَا. يعني زهٔ ئے ساتم او ليكمه ئے.
عَلَيْكُمْ: په روايت د مسلم او جامع الاصول كښ (لَكُمْ) دے.
أُوَفِّيْكُمْ: يعني بيا به پوره پوره بدلے دركړم.
ظاهر دا ده چه دا بدلے په آخرت كښ مراد دي. لكه ﴿وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُوْرَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾ كښ دي. مگر دا احتمال هم شته چه په دنيا او آخرت دواړو كښے مراد شي.
(قاله ابن رجبؒ في شرح الاربعين)

فَمَنْ وَجَدَ خَيْرًا : يعنى چا چه په خپله عملنامه کښې نيك عمل وليدو، يا په دنيا کښې توفيق د خير د طرف د رب نه، او عمل د خير د خپل نفس نه.
فَلْيَحْمَدِ اللّٰهَ : يعنى هغه دې د الله حمد ووائى او شکر دې وکړى چه الله ورته توفيق ورکړو.او دې دپاره چه الله تعالىٰ ورته مزيد توفيق د نيك عمل ورکړى.
وَمَنْ وَجَدَ غَيْرَ ذٰلِكَ : يعنى شر. ليکن د شر په لفظ ئې تصريح ونکړه د وجه د تحقير د هغې نه، او د هغې نه د نفرت ورکولو دپاره. يعنى چا چه بده بدله وموندله.
يا په دنيا کښې د هغهٔ نه گناه وشى نو هغه دې ځان ملامته کړى ځکه چه د گناه سرزد کيدل ددهٔ د نفس د تقاضې په وجه وشو.
فَلَا يَلُوْمَنَّ اِلَّا نَفْسَهٗ : ځکه چه دا شر ددهٔ د نفس نه صادر شويدے. يا پدے وجه چه دے په هغه گمراهئ باندے باقى دے کومه چه په [كُلُّكُمْ ضَالٌّ] کښې ورته اشاره وشوه.
علقمیؒ دلته دا نکته وئيلے ده چه طاعات چه په هغې باندے ثواب او خير مرتب کيږى هغه د الله په توفيق سره کيږى نو په هغې باندے د الله حمد وئيل واجب دى چه الله ورته توفيق ورکړو او کومو معاصيو باندے چه عقاب او شر مرتب کيږى اگرکه هغه هم د الله په قدرت سره کيږى چه د بنده نه مدد قطع کړى مگر په هغې کښې د بنده کسب لره دَخل وى نو بنده دِے خپل ځان ملامته کړى ځکه چه دهٔ نقصان کړيدے چه غلط کسب ئې وکړو.
فائده : ددے روايت په آخر کښے ورسره دا راغلى دى : سعيد بن عبد العزيزؒ فرمائى : ابو ادريس الخولانیؒ چه به کله دا حديث بيانولو [جَثَا عَلٰى رُكْبَتَيْهِ] نو په زنگنونو باندے به راکوږ شو. يا به په زنگنونو باندے پرمخے راپريوتو. يعنى دے حديث به پرے ډير اثر کولو چه الله تعالىٰ پکښے خپلو بندگانو ته آوازونه کړيدى او خپله پوره استغناء ئے ذکر کړيده او د بندگانو په هر حالت کښے عاجزى او کمزورى.

- 2327 (5) وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : "كَانَ فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ رَجُلٌ قَتَلَ تِسْعَةً وَّتِسْعِينَ إِنْسَانًا ثُمَّ خَرَجَ يَسْأَلُ فَأَتٰى رَاهِبًا فَسَأَلَهٗ فَقَالَ : أَلَهٗ تَوْبَةٌ ؟ قَالَ : لَا، فَقَتَلَهٗ وَجَعَلَ يَسْأَلُ فَقَالَ لَهٗ رَجُلٌ اِئْتِ قَرْيَةَ كَذَا وَكَذَا فَأَدْرَكَهُ الْمَوْتُ فَنَاءَ

بِصَدْرِهِ نَحْوَهَا فَاخْتَصَمَتْ فِيهِ مَلَائِكَةُ الرَّحْمَةِ وَمَلَائِكَةُ الْعَذَابِ فَأَوْحَى اللّٰهُ إِلٰى هٰذِهِ أَنْ تَقَرَّبِيْ وَإِلٰى هٰذِهِ أَنْ تَبَاعَدِيْ فَقَالَ قِيْسُوْا مَا بَيْنَهُمَا فَوُجِدَ إِلٰى هٰذِهِ أَقْرَبَ بِشِبْرٍ فَغُفِرَ لَهُ " . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او جناب ابوسعيد خدرى ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ فرمايلي دي : په بني اسرائيلو كښې يو سړے وو چه نهه نوى انسانان ئے وژلي وو، بيا راووتو تپوس ئے كولو، نو يو راهب (پير) ته راغے نو هغهٔ نه ئے تپوس وكړو نو وے وئيل : آيا ددهٔ دپاره توبه شته ؟ هغهٔ وويل : نهٔ، نو دهٔ هغهٔ لره ووژلو او (په بله ورځ) شروع شو چه تپوس ئے كولو.نو يو سړي ورته وويل : فلاني فلاني كلي ته لاړ شه نو دهٔ لره مرګ رالاندے كړو، نو دهٔ خپله سينه هغه كلي طرفته وركړه كړه نو جګړه (بحث) وكړو ددهٔ په باره كښے د رحمت ملائكو او د عذاب ملائكو (يو وويل مونږ ترے روح اخلو او نورو وويل مونږ) نو الله تعالىٰ دے زمكے ته وحي وكړه چه تهٔ نزدے شه او دے بلے ته (ئے حكم وكړو) چه تهٔ وړاندے شه، نو وے فرمايل : كچ كړئ (اندازه ولګوئ) د مينځ د دواړو (كلو) نو هغه وموندے شو چه دے (كلي د نيكانو) ته په يوه لويشت سره نزدے وو نو بخنه ورته وكړے شوه- (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : حافظ ابن حجرؒ وائي : ما ته ددے سړي د نوم علم نشته-

تِسْعَةً وَّتِسْعِيْنَ : په روايت د طبراني كښې دي [كُلُّهُمْ ظُلْمًا] چه دا ټول ئے په ظلم سره وژلي وو-

يَسْأَلُ : يعني د توبے او استغفار تپوس ئے كولو-

او په روايت د هشامؒ كښې د قتادهؒ نه په مسلم كښې داسے دي :

[فَسَأَلَ عَنْ أَعْلَمِ أَهْلِ الْأَرْضِ] يعني تپوس ئے كولو په باره د لوى عالم د زمكے والو نه-

رَاهِبًا : راهب يريدونكي، عابد ته وائي چه د نصاراؤ نه وي- پدے كښې اشاره ده چه دا واقعه د عيسىٰ عليه السلام د پورته كيدو نه روستو راغلے ده-

أَلَهُ تَوْبَةٌ : يعني زما ددے كار دپاره- يا ددے شخص يعني زما دپاره توبه شته ؟-

قَالَ: لَا: پدے راهب باندے خشيت (يرے) غلبه كړے وه نو پدے وجه ئے دا بعيده (لرے) ګنړله چه دومره لوى جرمونه دے ئے كړي وي او بيا دے هم ددهٔ توبه قبوله شي- دا خبره

دۀ په ناپوهۍ سره کړې وه نو ځکه ئې نتیجه هم خرابه راووتله۔ نو جهالت دومره ضرر لري چه دنیا کښې ورته نقصان ورسیدو۔
په بل روایت کښې دي: فَكَمَّلَ: یعني سل کسان ئې پوره کړل۔
او ددې وجه دا وه چه کله چه دۀ د راهب خبره واوریده نو دې د الله د رحمت نه نا امیده شو او د راهب په خبره غصه شو، لیکن الله تعالیٰ خپل ځان ته متوجه کړو نو په خپلو کړو خپیمانه شو نو بیا تپوس کولو ته راواپس شو۔
صاحب المرعاة لیکي: پدې کښې اشاره وه چه د راهب پوهه کمه وه ځکه چه د پوهې تقاضا دا وه چه بنده د هغه چا نه ځان وساتي چه هغه په قتلونو باندې زړه وَروی تردې چه قتل د هغۀ عادت جوړ شوې وي نو پکار ده چه هغۀ ته د هغۀ د مراد مخالف شې مخامخ ذکر نکړې شي بلکه تعریضات کول پکار وو، او دا هم هله چه ددۀ په نیز دا خبره ښکاره معلومه وې چه د قاتل توبه نۀ قبلیږي، پاتې لا دا چه دا حکم د هغۀ په نیز هم گماني وو۔
وَجَعَلَ يَسْأَلُ: دلته په واقعه کښې اختصار شویدې، یعني بیا دۀ ته چا یو عالِم وخودلو نو دې هغۀ ته راغې او دا ئې ورته ووېل چه ما سل کسان وژلي دي، آیا زما دپاره توبه شته؟ هغه ورته ووېل: آؤ، ستا او د توبې ترمینځ به څوك مانع (پرده) واقع شي۔
بیا ئې ورته ووېل چه توبه وباسه او ددې نه پس د غلطو خلقو په خوا کښې مۀ اُوسیږه بلکه د نیکانو خلقو یوه علاقه ئې ورته وخودله چه هلته لاړ شه او په نیکۍ کښې مصروف شه، نو دې روان شو۔ او دا ډیر ښه تدبیر وو چه د غلطو خلقو د خوا نه هجرت وکړي۔
قَرْيَةَ: ددې کلي نوم نصره دې۔ او د کوم کلي نه چه راروان شویدې نو د هغې نوم کفره دې۔ (طبرانیؒ)
كَذَا وَكَذَا: امام نوويؒ ددې فائده بیانوي چه پدې حدیث کښې ددې خبرې استحباب ذکر دې چه توبه گار له پکار دي چه د هغه ځایونو نه جدا شي چه هلته گناهونه کیږي او د هغه ملگرو او یارانو نه لرې شي چه هغوی ورسره په گناه کښې مدد کوي او ترڅو چه هغوی په همدغه حالت وي نو دې به خواله نۀ ورځي (لکه یو تن چرس او سیگرټ او نسوار پریدي نو د چرسیانو او لوپرانو خواله به نۀ ورځي، دغه شان د ډمانو، جوارگرو

خوالـه بـه نـهٔ ورځـی) او د نیکانو، عبادت ګذارو او علماؤ او پرهیزګارو خلقو دوستی به شروع کـوی دے دپاره چـه پدے سره ئے توبه ښه مضبوط شی، او د هغوی د دوستئ نه ورته فائدے ملاؤ شی۔
(لـکـه دلتـه دے سړی تـه صرف هغوی طرفته په ورتللو سره فائدے ملاؤ شوے اګرکه هغوی ته لا رسیدلے هم نهٔ دے)
فَأَدْرَكَهُ الْمَوْتُ : دا فاء عطف دے په مقدر باندے اَیْ فَقَصَدَهَا ۔ یعنی دے سړی قصد او اراده وکړه د هغه کلی او نیمے لارے پورے ورسیدو نو د مرګ آثار ئے ولیدل۔
فَنَاءَ بِصَدْرِهِ : اَیْ نَهَضَ وَمَالَ ۔ یـعـنـی راپورته ئے کړه او ورککړه ئے کړه سینه خپله۔ او بیا مړ شو۔
او په یو بل روایت کښې [فَنَأَیٰ] راغلے دے، یعنی وړاندے ئے کړه سینه خپله۔
فَاخْتَصَمَتْ فِيْهِ مَلَائِكَةُ : پـه روایـت د هشـام کښې دی : چه ملائکو د رحمت وویل چه دے توبه ګار راغلے دے او په زړهٔ سره الله تعالیٰ ته متوجه دے۔
او مـلائـکـهٔ الـعذاب وویل : دهٔ د خیر هیڅ عمل نهٔ دے کړے، نو د انسان په شکل کښې ورتـه یـو بل ملائك راغلو نو دوی هغهٔ لره خپل مینځ کښې فیصله کونکے جوړ کړو نو هـغـه وویل : [قِيْسُوْا مَا بَيْنَ الْأَرْضَيْنِ] د دواړو زمـکـو تـرمـینـځ کچ وکړئ نو کومے ته چه زیات نزدے وی نو د هغے نه به حساب وی۔
امـام نـوویؒ لیـکـی : دے نـه معلومیږی چه الله تعالیٰ دے ملائکو ته حکم کړے وو چه کـلـه سـتـاسـو اختـلاف راشـی نو یو تیریدونکے سړے حاکم جوړ کړئ نو پدے کښې دغه ملائك په انسانی شکل کښې په دوئ باندے راتیر شو۔ نو هغهٔ دغه فیصله وکړه۔
فَأَوْحَى اللهُ : بیـا د الله تـعـالـیٰ رحمت د هغهٔ په غضب باندے مخکښې شو نو د نیکانو زمکے ته ئے وویل چه تهٔ رانزدے شه او د ګناه زمکے ته ئے وویل چه تهٔ وړاندے شه۔
فَغُفِرَ لَهٗ : پـه روایت د هشـامؒ کښې دی : چه ملائکو د رحمت ترے روح واخستو، او د تویے په وجه سره ئے ګناهونه معاف شو۔
نو پدے حدیث کښې د تویے ډیر عظیم فضیلت ذکر شو۔
حـافـظ ابـن حـجـرؒ فـرمـائی : پـدے حدیث کښې دا خبره ده چه د ټولو ګناهونو نه توبه ویـسـتـل ضـروری دی تردے چه د قتل نه هم۔ او دا به پدے باندے محمول وی چه کله الله

تعالیٰ د قاتل توبه قبوله کړي نو د مقتول د رضا کولو ذمه واري به ورله واخلي۔
طیبیؒ وائي : کله چه الله تعالیٰ د خپل بنده نه راضي شي نو د هغهٔ خصم (جګړه مار) به هم راضي کړي او د هغهٔ حق به واپس کړي۔
فوائد الحدیث : ❁ پدے حدیث کښے توبے ته ډیر زیات ترغیب دے،
❁ او دا چه خلق ددے نه منع شویدي چه ګناهګار نا اُمیده کړي۔
❁ او پدے کښے د لوی لوی ګناهګارو دپاره ډیر لوی اُمید پروت دے۔
❁ قاضي عیاضؒ لیکي : توبه د قتل نه هم فائده ورکوي لکه چه د ټولو ګناهونو نه فائده ورکوي۔ او دا اګرکه د بني اسرائیلو د یو سړي قصه ده لیکن دا زمونږ دپاره شریعت ګرځي کله چه زمونږ په دین کښ ددے مخالف حکم نهٔ وي راغلے او دلته نهٔ دے راغلے۔
❁ او دا دلیل دے چه مُفتي کله په خطائي سره هم جواب ورکوي۔
❁ او دلیل دے چه کوم کلي کښے انسان په فتنه او ګناهونو کښے اخته کیږي د هغے نه هجرت لازم دے۔ ❁ او د بدانو خلقو د صحبت او ملګرتیا نه لرے والے ضروري دے۔
❁ او پدے کښ فضیلت د عالِم دے په عابد باندے ځکه چه په راهب باندے د عبادت د غلبے د وجه نه د قاتل قتل دومره لوی ښکاره شو چه د الله رحمت ئے هیر شو۔ او بل تن باندے علم غالب وو نو هغهٔ ورته حقه فتویٰ ورکړه او لاره د نجات ئے ورته وخودله او ددهٔ په وجه جنت ته داخل شو۔
❁ او دا حدیث دلیل دے چه کله یو حاکم باندے حالات متعارض شي او وضاحت مشکل شي نو دغه وخت کښے به د ترجیح دپاره په قرائنو باندے دلیل نیسي او نخو او علاماتو له به اعتبار ورکوي۔

- 2328 (6) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَوْ لَمْ تُذْنِبُوْا لَذَهَبَ اللهُ بِكُمْ وَلَجَاءَ بِقَوْمٍ يُذْنِبُوْنَ فَيَسْتَغْفِرُوْنَ اللهَ فَيَغْفِرُ لَهُمْ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : د جناب ابو هریره ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : قسم په هغه ذات چه زما ساه د هغهٔ په لاس کښ ده، که تاسو ګناهونه نهٔ کوئ خامخا الله به تاسو

بوځي (ختم کړي) او داسې خلق به راولي چه ګناهونه به کوي نو د الله نه به بخنه غواړي نو هغهٔ به ورته بخنه کوي۔ (مسلمؒ)

تشریح : علامه توربشتيؒ ليکي چه ددې حديث هيڅکله دا مطلب نهٔ دې چه پدې کښې ګناهونو کونکو ته تسلي ملاؤ شي او په نفسونو باندې د ګناهونو معمولي والې او سپکوالې اوېې باکي راشي چه ګناهونه کوئ الله تعالىٰ به ئې بخښي لکه څنګه چه په الله باندې دهوکه شوي خلق دا ګمان لري، ځکه چه الله تعالىٰ انبياء عليهم السلام ددې دپاره راليږلي وو چه خلق د ګناهونو نه منع کړي او د ګناهونو لوی والې ورته بيان کړي بلکه ددې حديث مقصد دا دې چه رسول الله ﷺ د ګناهګارو دپاره د الله تعالىٰ عفو او مغفرت بيانوي او د هغوي نه ښائسته تجاوز کول بيانوي دې دپاره چه خلق د الله نه په بخنه غوښتو او توبه ويستلو کښې مينه وکړي،

او مطلب د حديث دا دې چه الله تعالىٰ لکه څنګه چه دا خوښوي چه مُحسن (نيک عمل کونکي) سره احسان وکړي نو دغه شان دا هم خوښوي چه د ګناهګار نه تجاوز وکړي۔ لکه پدې خبره باندې د الله تعالىٰ ډير نومونه او صفتونه دلالت کوي لکه غفار، غفور، عفو، حليم، تواب وغيره، نو الله تعالىٰ بندګان په يو حالت نهٔ دي جوړ کړي لکه د ملائکو په شان چه د ګناهونو نه په صفائي باندې پيدا شويدي بلکه الله تعالىٰ به په انسانانو کښې داسې خلق هم پيدا کوي چه هغه به په خپله طبعه سره خواهشاتو ته مائل کيږي، او فتنو او ګناهونو کښې به واقع کيږي او بيا به ئې پدې خبره مکلف کوي چه ددې نه ځان وساتي او د خپلې سزا نه ئې ويروي، او د امتحان په وخت ورته د توبې طريقه وښائي نو که وفاداري وکړي اجرئې په الله دې، او که لاره خطاء کړي نو توبه ئې مخې ته شته،

نو د نبي کريم ﷺ مطلب دا دې چه که چرې تاسو د ملائکو په شان صفاتو باندې پيدا وې نو الله تعالىٰ به ضرور داسې خلق راپيدا کړي وې چه د هغې نه به ګناهونه کيدلې نو په هغوي کښې به د الله تعالىٰ دغه صفات راښکاره کيدلې، ځکه چه دوئ به بخنه غوښتلې نو غفار ذات به ورته مغفرت کولې۔ (انتهىٰ)

حاصل دا شو چه پدې حديث کښې مقصد توبې او استغفار ته دعوت دې چه الله تعالىٰ ته د بنده توبه او استغفار ډير خوښ دې، ځکه چه بنده خو کمزورې دې ګناه به ترې

کیږي، خو کامیاب او بهتر بنده هغه دے چه هغه الله تعالیٰ ته زر رجوع کوي او د هغهٔ په دربار کښې ژړا او زاري کوي، او د هغهٔ نه جدا والے نهٔ اختیاروي۔

- 2329(7) وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: "إِنَّ اللهَ يَبْسُطُ يَدَهٗ بِاللَّيْلِ لِيَتُوْبَ مُسِيْءُ النَّهَارِ وَيَبْسُطُ يَدَهٗ بِالنَّهَارِ لِيَتُوْبَ مُسِيْءُ اللَّيْلِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او جناب ابو موسیٰ اشعري ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمایل : یقیناً الله تعالیٰ د شپے لاس اُوږدوي دے دپاره چه د ورځے گناهګار توبه وباسي او د ورځے لاس اُوږدوي دے دپاره چه د شپے گناهګار توبه وباسي (دا کار به وي) تردے چه نمر د مغرب طرف نه راوخیژي۔ (مسلمؒ)

تشریح : يَبْسُطُ يَدَهٗ: (الله تعالیٰ لاس اُوږدوي) دا خو یا په خپل حقیقت بناء دے او د متشابهاتو نه دے۔

او ځینی اهل علم وائي چه د لاس اُوږدولو نه مراد طلب کول دي ځکه چه د خلقو عادت دا دے چه کله د چا نه یو شے طلب کوي نو خپل لاس (ورغوے) هغهٔ ته اُوږدوي۔ او دلته معنیٰ ده : [يَدْعُو الْمُذْنِبِيْنَ اِلَى التَّوْبَةِ] یعني گناهګاران توبے ته راغواړي۔

او د حدیث مطلب دا دے چه الله تعالیٰ بنده ګانو ته په جلتئ عذاب نهٔ ورکوي بلکه هغوی ته د بخنے غوښتو موقعه ورکوي، او دا د الله تعالیٰ ډیر لوی احسان او فضل دے۔

مُسِيْءُ النَّهَارِ : یعني شپه او ورځ الله تعالیٰ د گناهګارو توبه قبلوي۔ نو د توبے قبلول د یو وخت پورے خاص نهٔ دي، او دا د الله تعالیٰ ډیره لویه مهرباني ده۔ نو بسط الید استعاره ده دپاره د قبول التوبه۔

مازريؒ وائي ځکه چه د عربو عادت دے چه کله یو تن د یو شي نه راضي شي نو لاس ورته اُوږد کړي او کله ئے چه بد وګنړي د هغے نه لاس راغونډ کړي۔

نو پدے حدیث کښې د الله تعالیٰ د رحمت فراخوالے او د زیاتے بخنے اُو تجاوز کولو خبردارے ورکول دي۔

طیبيؒ وائي : پدے کښې اشاره ده چه الله تعالیٰ ته توبه ډیره محبوبه ده ګویا کښې هغه

ئې د ګناهګار نه غواړي.
مِنْ مَغْرِبِهَا : یعنی کله چه نمر د مغرب نه راوخیژی نو بیا به تر قیامته پورې توبه نهٔ قبلیږی. (ابن الملك)

- 2330 (8) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: "إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا اعْتَرَفَ ثُمَّ تَابَ تَابَ اللهُ عَلَيْهِ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : عائشه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : یقیناً بنده چه کله (د ګناه) اقرار وکړی بیا توبه وباسی نو الله تعالیٰ د هغهٔ توبه قبلوی (مهربانی پرې کوی) (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : اعْتَرَفَ : یعنی ددې اقرار وکړی چه زهٔ ګناهګار او مجرم یم، او د خپلې ګناه اقرار وکړی چه اې الله ! ما فلانئ ګناه وکړه او زهٔ مجرم یم، او بیا توبه وباسی نو الله تعالیٰ به پرې رحم کوی او توبه به ورله قبلوی.

او دا حدیث یوه جمله ده د اُوږد حدیث نه چه په واقعه د افك کښې عائشې رضی الله عنها ته رسول الله ﷺ ذکر کړیده، چه که تا دا ګناه کړی وی نو اقرار وکړه ځکه چه بنده کله اقرار وکړی او بیا توبه وباسی نو الله پرې رحم کوی.

او داودیؒ وئیلی دی چه په احادیثو کښې خو دې ته ترغیب راغلې دې چه انسان کومه ګناه کړې وی چه ځان باندې پرده واچوی او اقرار ونکړی نو دلته ئې عائشې رضی الله عنها ته څنګه د اعتراف دعوت ورکړو؟

نو ددې وجه دا ده چه د پیغمبر او د امتیانو د بیبیانو ترمینځ فرق دې، پیغمبر دپاره داسې زنانه په نکاح کښې ساتل صحیح نهٔ دی چه د هغې نه بې حیائی شوی وی او امت ته دعوت دې چه دوئ دې پرده اچوی.

لیکن قاضی عیاضؒ پدې باندې رد کړیدې چه په دې روایت کښې دا نشته چه رسول الله ﷺ عائشې رضی الله عنها ته دعوت ورکړې وی چه تهٔ اعتراف وکړه بلکه پدې روایت او د بخاریؒ په بل روایت کښې د توبې حکم شویدې. او همدا خبره غوره ده.

- 2331 (9) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : "مَنْ تَابَ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا تَابَ اللهُ عَلَيْهِ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائى: رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چه توبه وخكله مخكښې ددے نه چه نمر د مغرب طرف نه راوخيژى نو الله تعالىٰ په هغهٔ باندے مهربانى كوى۔ (مسلمؒ)

تشريح : په روايت د ترمذى كښې د صفوان بن عسال ﷺ نه مرفوعًا نقل دى : ((چه په مغرب كښې يوه دروازه ده، د تويے دپاره كولاوه ده په مزل د اويا كالو دا نهٔ بنديږى تردے چه نمر د مغرب نه راوخيژى))۔

او په روايت د ابن مردويهؒ كښې دى : ((كله چه نمر د مغرب نه راوخيژى نو دواړه درشلے به ئے واپس شى او مينځ به ئے يو ځاى شى، نو كله چه دغه دروازه بنده شى نو ددے نه روستو به هيڅ توبه نهٔ قبليږى او نهٔ به نيكى فائده وركوى مګر هغه چا ته چه ددے نه مخكښې ئے نيك عمل كولو نو د هغهٔ دپاره به مخكنى اعمال جارى وى))۔

او په هغے كښې دا هم دى : أبى بن كعب ﷺ تپوس وكړو : ددے نه روستو به د نمر او د خلقو څه حال وى؟ وے فرمايل :

[تُكْسَى الشَّمْسُ الضَّوْءَ وَتَطْلُعُ كَمَا كَانَتْ تَطْلُعُ وَتُقْبِلُ النَّاسُ عَلَى الدُّنْيَا فَلَوْ نَتَجَ رَجُلٌ مُهْرًا لَمْ يَرْكَبْهُ حَتّٰى تَقُوْمَ السَّاعَةُ] نمر ته به رنړا واچولے شى او د مخكښې په شان به راخيژى او خلق به دنيا ته متوجه شى نو كه يو تن د آس بچے وزيګوى نو هغهٔ باندے به ئے لا سورلى كړى نهٔ وى چه قيامت به قائم شى۔ (فتح البارى ١١/٣٥٥)

- 2332 (10) وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " لَلّٰهُ أَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ عَبْدِهٖ حِيْنَ يَتُوْبُ إِلَيْهِ مِنْ أَحَدِكُمْ كَانَتْ رَاحِلَتُهٗ بِأَرْضِ فَلَاةٍ فَانْفَلَتَتْ مِنْهُ وَعَلَيْهَا طَعَامُهٗ وَشَرَابُهٗ فَأَيِسَ مِنْهَا فَأَتٰى شَجَرَةً فَاضْطَجَعَ فِيْ ظِلِّهَا قَدْ أَيِسَ مِنْ رَاحِلَتِهٖ فَبَيْنَمَا هُوَ كَذٰلِكَ إِذْ هُوَ بِهَا قَائِمَةً عِنْدَهٗ فَأَخَذَ بِخِطَامِهَا ثُمَّ قَالَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ : أَللّٰهُمَّ أَنْتَ عَبْدِىْ وَأَنَا رَبُّكَ أَخْطَأَ

مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او جناب انس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : خامخا الله تعالىٰ زيات خوشحاليږي په توبه د بنده خپل كله چه هغهٔ ته توبه وباسي د يو تن ستاسو نه چه د هغهٔ اُوښه په يوه شاړه زمكه كښې وي نو وتښتي د هغهٔ نه او په هغې باندې ددهٔ خوراك او څكاك وي، نو دې د هغې نه نا اُميده شي، نو يوې ونې ته راشي او د هغې په سوري كښې ډډه ولگوي پداسې حال كښې چه د خپلې اُوښې نه نا اُميده شوې وي نو پدې مينځ كښې دې پدې حال وي چه اچانك دې د هغې سره ملاؤ شي چه هغهٔ ددهٔ په خوا كښې ولاړه وي، نو دې د هغې واگې راونيسي، بيا د سختې خوشحالئ نه ووائي : اے الله ! تهٔ زما بنده ئې او زهٔ ستا رب يم، خطاء شي د سختې خوشحالئ نه۔ (مسلمؒ)

تشريح : لَلّٰهُ : لام ابتدائيه تاكيديه دے نو مفتوح دے۔

أَشَدُّ فَرَحًا : يعنې الله د بنده په توبه باندې ډير زيات خوشحاليږي او ډيره زرئې قبلوي۔ او فرح د الله تعالىٰ د صفاتو نه دے چه حقيقت ئې الله تعالىٰ ته معلوم دے۔

مِنْ أَحَدِكُمْ : اَیْ مِنْ فَرَحِ أَحَدِكُمْ وَسُرُوْرِهٖ وَرِضَاهُ ۔ يعنې د خوشحالي او رضا د يو تن ستاسو نه۔

رَاحِلَتُهُ : راحله هغه اُوښ ته وائي چه انسان په هغې باندې سوريږي او په هغې باندې سامان پورته كوي۔

بِأَرْضٍ فَلَاةٍ : تركيب اضافي هم صحيح دے او توصيفي هم۔

فَانْفَلَتَتْ : أَيْ نَفَرَتْ وَفَرَّتْ ـ يعنې نفرت وكړي او وتښتي۔

طَعَامُهُ وَشَرَابُهُ : يعنې دے هلاكت ته نزدے شي چه خوراك څكاك ختم شو۔

نو ددې مثال حاصل دا دے چه گناه سره انسان د شيطان په قيد او قبضه كښې راځي او هلاكت ته نزدے كيږي، ليكن كله چه دے توبه وباسي نو د گناه د سپيرهٔ والي نه او د شيطان د قيد او بند نه او د هلاكت نه خلاص شي، نو الله تعالىٰ ورته خپل مغفرت او رحمت متوجه كړي، او خوشحالي ورته راواپس كړي۔

أَخْطَأَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ : پدې كښې د علم يوه قاعده دا ده چه كوم لفظ چه د بنده په خوله باندې غلط راشي د سختې خوشحالئ يا سختې غصې د وجه نه نو په هغې باندې مواخذه نشته، پدې وجه دا شخص ددې وينا په وجه كافر نشو، بلكه رسول الله ﷺ

ورله عذر بيان کړو چه خطاء شو، او په خطائی باندے رانيول نهٔ وی۔ (ابن القيمؒ)

او دے کښې اشاره ده چه بنده کله خپل حقيقی مالك ته په توبے سره رجوع کوی نو خوشحاليږی ځکه چه اُوس ئے روح خپل اصلی ځای ته متوجه شو ليکن رب دهٔ په دے حالت باندے زيات خوشحاليږی۔ لکه يو سخی شخص چه چاته ورکړه کوی نو اخستونکے د اخستو خوند او د خپل حاجت د پوره کولو خوند خو محسوس کوی مګر هغه د سخی انسان د ورکړے د خوشحالئ او تازګئ نه غافل وی۔

- 2333(11) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " إِنَّ عَبْدًا أَذْنَبَ ذَنْبًا فَقَالَ: رَبِّ أَذْنَبْتُ فَاغْفِرْهُ فَقَالَ رَبُّهُ اَعَلِمَ عَبْدِىْ أَنَّ لَهُ رَبًّا يَغْفِرُ الذَّنْبَ وَيَأْخُذُ بِهِ ؟ غَفَرْتُ لِعَبْدِىْ ثُمَّ مَكَثَ مَا شَاءَ اللهُ ثُمَّ أَذْنَبَ ذَنْبًا فَقَالَ : رَبِّ أَذْنَبْتُ ذَنْبًا فَاغْفِرْهُ فَقَالَ رَبُّهُ : أَعَلِمَ عَبْدِىْ أَنَّ لَهُ رَبًّا يَغْفِرُ الذَّنْبَ وَيَأْخُذُ بِهِ ؟ غَفَرْتُ لِعَبْدِىْ ثُمَّ مَكَثَ مَا شَاءَ اللهُ ثُمَّ أَذْنَبَ ذَنْبًا قَالَ : رَبِّ أَذْنَبْتُ ذَنْبًا آخَرَ فَاغْفِرْ لِيْ فَقَالَ : أَعَلِمَ عَبْدِىْ أَنَّ لَهُ رَبًّا يَغْفِرُ الذَّنْبَ وَيَأْخُذُ بِهِ ؟ غَفَرْتُ لِعَبْدِىْ فَلْيَفْعَلْ مَا شَاءَ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمايل : يو بنده يوه ګناه وکړه نو وے وئيل : اے ربه ! ما ګناه وکړه نو ما ته بخښنه وکړه نو د هغهٔ رب وفرمايل : آيا زما بنده پوهه شو چه يقيناً دهٔ يو رب شته چه ګناه معاف کوی، او په دے باندے رانيول (هم) کوی؟۔ (نو) ما خپل بنده ته بخښنه وکړه بيا وخت تير کړی څومره چه الله تعالیٰ غواړی، بيا يوه ګناه وکړی، نو ووائی : اے ربه زما ! ما ګناه وکړه، نو ما ته ئے وبخښنه، نو دهٔ رب ووائی : آيا زما بنده پوهه شو چه يقيناً دهٔ يو رب شته چه ګناه معاف کوی او په دے رانيول کوی ؟ ما خپل بند ته بخښنه وکړه، بيا وخت تير کړی څومره چه الله غواړی بيا ګناه وکړی ووائی اے ربه زما ! ما بله ګناه وکړه نو ما بخښنه وکړه نو الله وفرمائی : آيا زما بنده پوهه شو چه يقيناً دهٔ يو رب شته چه ګناه معاف کوی او په دے رانيول کوی ؟ ما خپل بنده ته بخښنه وکړه نو څه چه غواړی ودے ئے کړی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشريح : په روايت د مسلم کښے دی چه رسول الله ﷺ د خپل رب نه دا حکايت نقل کوی چه يو بنده وو ګناه ئے وکړه۔

او پدے روایت کښې دا نشته چه دا بنده د بني اسرائیلو نه وو یا ددے امت نه.
فَقَالَ رَبُّهُ : یعنی ددهٔ رب ملائکو ته وویل.
اَعَلِمَ عَبْدِيْ: همزه د استفهام دپاره ده، الله تعالیٰ د ملائکو نه تپوس کوی. او مقصد پکښے د الله تعالیٰ فخر کول دی پدے بنده باندے سره ددے نه چه هغه پرے ښهٔ پو هه دے. یا په استفهام کښے مقصد تعجیب دے، یعنی خلقو ته ددهٔ نه تعجب ورکول دی.
ثُمَّ مَكَثَ مَا شَاءَ اللهُ : أَيْ مِنَ الزَّمَانِ. یعنی بیا څه موده کومه چه الله غواړی د ګناه نه ایسار وو.
ذَنْبًا آخَرَ : یعنی د مخکنی جنس نه یا بل قسم ګناه.
فَلْيَفْعَلْ مَا شَاءَ : یعنی څهٔ چه ئے خوښه وی هغه دِے کوی. مطلب دا چه هرکله ددهٔ نه ګناه کیږی، او دے الله تعالیٰ ته په اخلاص سره د زړهٔ نه توبه وباسی او د دغه ګناه نه بندیږی نو ددهٔ دا توبه به صحیح وی، او هر ځل به ددهٔ ګناه معاف کیږی.
او داسے نهٔ ده چه صرف په ژبه توبه وباسی او د ګناه نه نهٔ ایساریږی، دا بیا د دروغجنو توبه ده، لکه دے باندے دلیل دا لفظ دے (ثُمَّ اَصَابَ ذَنْبًا آخَرَ)
او پدے جمله کښے مقصد هغهٔ ته تیزی ورکول دی په هر ځل توبه ویستلو باندے چه پدے سره به ددهٔ ګناه ختمیږی. نو دا د تلطف او مهربانئ جمله ده.
او پدے جمله کښې اجازه د جرمونو او ګناهونو نهٔ ده.
نو پدے کښې اشاره ده چه دا شخص په ګناه باندے همیشوالے نهٔ کوی پدے وجه په جلتئ سره توبه وباسی نو ددهٔ ګناه به معاف وی.
امام نوویؒ ددے حدیث فائده کښے ذکر کوی چه که ګناهونه سل یا زر کرته یا زیات وشی نو د هغے نه توبه قبلیږی،
یا دا چه د ټولو نه یوه توبه وباسی نو هم توبه صحیح ده.
ابن بطالؒ وائی : دا حدیث دلیل دے چه څوک په ګناهونو همیشوالے کوی نو هغه د الله مشیت ته سپارلے شویدے، که غواړی عذاب به ورکړی او که غواړی بخنه به ورته وکړی.

- 2334(12) وَعَنْ جُنْدُبٍ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ حَدَّثَ: " أَنَّ رَجُلًا قَالَ : وَاللهِ لَا

يَغْفِرُ اللّٰهُ لِفُلَانٍ وَأَنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى قَالَ: مَنْ ذَا الَّذِىْ يَتَأَلّٰى عَلَىَّ أَنِّىْ لَا أَغْفِرُ لِفُلَانٍ فَإِنِّىْ قَدْ غَفَرْتُ لِفُلَانٍ وَأَحْبَطْتُ عَمَلَكَ". أَوْ كَمَا قَالَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او جناب جندب ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ بيان وكړو چه يو سړی وويل : قسم په الله ! الله تعالیٰ فلانی ته بخنه نكوی نو الله تعالیٰ وفرمايل : څوك دے هغه شخص چه په ما باندے قسم كوی چه زۀ به فلانی ته بخنه نۀ كوی، يقيناً چه ما فلانی ته بخنه وكړه او ستا عمل مے برباد كړو. (مسلمؒ)

تشريح : أَنَّ رَجُلًا : په روايت د ابوداود كښے دی (لكه روستو هم راروان دے) چه د بنی اسرائيلو نه دوه كسان د يو بل دوستان وو، يو به په عبادتونو كښے كوشش كولو او بل نه به ګناهونه كيدل او عابد به خپل ملګرے منع كولو او نصيحت به ئے ورته كولو، نو يو ځل ئے د څه خبرے نه منع كړو نو هغه غصه شو او دا ئے وويل : آيا تۀ په ما باندے نګهبان مقرر شوے ئے ؟ زۀ پو هه شه او خپل ځان، نو دغه عابد غصه شو او دا ئے وويل :

((قسم په الله، الله تعالیٰ تا ته بخنه نۀ كوی، يا : الله تعالیٰ به فلانی ته بخنه نۀ كوی)).

يعنی د الله په نۀ بخنه كولو باندے ئے قسم وكړو او دا اعتداء او زياتے او ظلم دے ځكه چه په ناجائز كارئے قسم وكړو ځكه چه الله تعالیٰ د شرك نه علاوه تولو ګناهونو بخنے اعلان كړيدے ﴿ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَاءُ ﴾

بيا الله تعالیٰ د دواړو روحونه واخستل نو دے خبرے كونكی ته ئے وويل چه آيا تۀ په ما باندے عالِم وے ؟ يا زما په لاس كښے چه څه دی په هغے باندے قادر وے ؟ او ګناهګار ته ئے وويل چه لاړ شه زما په رحمت سره جنت ته داخل شه، نو هغه ته ئے ګناه معاف كړه او رحم ئے پرے وكړو، او دے خبرے كونكی په باره كښے ئے وويل چه دا اُور ته بوځئ۔ د وجه ددے خبرے نه، ابو هريره ﷺ وفرمايل :

((قسم په هغه ذات چه زما نفس د هغۀ په لاس كښے دے، دۀ داسے خبره وكړه چه دنيا او آخرت ئے ورله تباه كړو)).

د نورو دلائلو نه معلومه ده چه دے به هميشه اُور كښے نۀ وی۔

لَا يَغْفِرُ اللّٰهُ لِفُلَانٍ : دا خبره دۀ په تكبر ... رد كړے وه او خپل ځان ئے لوی او بزرګ ګنړلو

لکه دا خبره د بعض جاهلانو صوفیاؤ نه راوځي۔ (علی القاریؒ)
قاضي عیاضؒ لیکي : ددې شخص عمل ځکه برباد شو چه دې د الله د رحمت نه نا امیده وو او تکذیب کونکې وو او نا امیدي کفر دې او کفر عمل لره بربادوي۔
(اکمال المعلم شرح صحیح مسلم ٨/٤٨)
علامه قرطبيؒ لیکي : دې شخص په الله باندې فیصله وکړه او په هغۀ ئې پابندي ولګوله او دا نتیجه د جهالت ده، ددۀ پدې کار کښې یو په الله باندې ناز او نخره کول وو پدې عقیده چه ددۀ د الله سره کرامت او عزت او مرتبه او برخه ده، او ګناهګارئې سپك وګنړلو نو که چرې دې شخص دا کارونه حلال ګنړلي وي نو د کفر د وجه نه ئې عملونه برباد شول او که حلال ئې نۀ وي ګنړلي نو کافر خو به نۀ وي مګر کبیره ګناه ئې وکړه ځکه چه د الله د رحمت نه نا امیده شو نو ددۀ عمل بربادیدل پدې وجه دي چه دې کبیره ګناه دۀ لره دومره ګناهونه راجمع کړل چه دا ددۀ د نیك اعمالو د اجر نه زیات دي نو ګویا که دۀ هیڅ نیك عمل نۀ دې کړې۔
[المفهم لما اشکل من تلخیص مسلم ٢١/١٣٥ لابی العباس القرطبی الانصاریؒ]
حاصل دا شو چه کله انسان د خولې نه یوه خبره وباسي چه هغه ډیره خطرناکه وي او د دین مخالفه وي نو د الله په نیز باندې همیشه دپاره د هغۀ دپاره د الله ناراضګي ولیکلې شي او ددې په وجه جهنم ته داخل شي لکه دا خبره په صحیح حدیث د بخاري او مسلم او مسند احمد او سننو کښې راغلې ده۔
دارنګه دې شخص په دین کښې هغه خبرې وکړې چه دې پرې نۀ پوهیدو، یعنې په الله باندې ئې تقول وکړو، یعنې دروغ ئې وئیل۔ او فراخه رحمت د الله تعالیٰ ئې په بندګانو باندې بند کړو سره ددې نه چه دې شخص کښې اسلام موجود وو خو صرف عام ګناهونه ئې کول۔ نو ددې وجه نه بنده به د خپل رب سره ډیر په احتیاط باندې چلیږي، وربك یخلق ما یشاء ویختار۔
یَتَأَلّٰی : د تَأَلِّيَ نه دې، قسم کولو ته وئیلې شي او أَلِيَّةٌ په معنیٰ د قسم سره۔
امام نوويؒ وائي : ددې نه معتزله دلیل نیسي چه نیك اعمال په ګناهونو باندې بربادیږي، او اهل سنت وائي چه صرف په کفر باندې بربادیږي، او دلته د عمل بربادیدل پدې طریقه دي چه ددۀ د ګناهونو په مقابله کښې نیکیانې ساقطې شوې نو دې ته مجازًا

احباط وویل شو، یا احتمال شته چه ددهٔ نه بل کار صادر شوے وی چه هغه ئے سبب د کفر وی، یا احتمال شته چه دا د پخوانو شریعت وی او د هغوی همدغه حکم وی۔ (شرح مسلم)

عَمَلُكَ: یا ددے نه ټول اعمال نهٔ دی مراد بلکه هغه عمل مراد دے چه دهٔ په دغه وخت کښې کړے وو یعنی په ناجائزه قسم کول۔

- 2335 (13) وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" سَيِّدُ الْإِسْتِغْفَارِ أَنْ تَقُوْلَ : أَللّٰهُمَّ أَنْتَ رَبِّيْ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ خَلَقْتَنِيْ وَأَنَا عَبْدُكَ وَأَنَا عَلٰى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ أَبُوْءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ وَأَبُوْءُ بِذَنْبِيْ فَاغْفِرْ لِيْ فَإِنَّهُ لَايَغْفِرُ الذُّنُوْبَ إِلَّا أَنْتَ ". قَالَ: وَمَنْ قَالَهَا مِنَ النَّهَارِ مُوْقِنًا بِهَا فَمَاتَ مِنْ يَوْمِهِ قَبْلَ أَنْ يُمْسِيَ فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَمَنْ قَالَهَا مِنَ اللَّيْلِ وَهُوَ مُوْقِنٌ بِهَا فَمَاتَ قَبْلَ أَنْ يُصْبِحَ فَهُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه: او جناب شداد بن اوس ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: سید الاستغفار (دا دے) چه تهٔ ووائے: اللهم الخ ترجمه: (اے الله! تهٔ زما رب ئے، نشته حقدار د بندګئ سوا ستا نه، تا زهٔ پیدا کړے یم، او زهٔ ستا بنده یم، او زهٔ ستا په لوظ او وعده باندے یم څومره چه زما وس او طاقت دے، زهٔ په تا سره پناه غواړم د ضرر د هغے نه چه ما کړیدی، اقرار کوم تا ته په نعمتونو ستا په ما باندے، او اقرار کوم په ګناه خپله نو ما ته بخښنه وکړه، یقیناً ګناهونه نهٔ بخښی مګر تهٔ)۔ وے فرمایل: چا چه دا اذکار ولوستل د ورځے چه پدے باندے یقین کونکے وو او په دغه ورځ مړ شو مخکښے د ماښام کولو نه نو دے به د جنت والو نه وی، او چا چه د شپے نه ولوستل او دے پدے باندے یقین کونکے وو او مړ شو مخکښ د صبا کولو نه نو دے به د جنت والو نه وی۔ (بخاریؒ)

تشریح: سَيِّدُ الْإِسْتِغْفَارِ: عزیزیؒ وائی: یعنی غوره الفاظ د استغفار، یعنی زیات ثواب او فائدے والا۔

ددے وجه نه امام بخاریؒ پدے باندے (بَابُ اَفْضَلِ الْإِسْتِغْفَارِ) قائم کړیدے، اشاره کوی چه د سیادة نه مراد افضلیت دے۔

ابن ابی جمرهؒ وائی: دے حدیث ناشنا معانی او ښکلے الفاظ راجمع کړیدی نو دا لائق

دے چه دے ته سید الاستغفار ووئیلے شی۔ پدے کښے د الله دپاره د ربوبیت او الوهیت اقرار دے او د خپل نفس د عبودیت، او ددے خبرے اقرار دے چه الله خالق دے، او د هغهٔ د لوظ اقرار دے او الله چه پدے سره کومه وعده کړیده د هغے امید دے، او د خپل نفس د جرمونو نه پناهې طلب کول دی۔ او د نعمتونو نسبت ئے مُنعِم ته کړیدے او د ګناه نسبت ئے ځان ته کړیدے او د بخنے زیات رغبت ئے ساتلے دے۔

او ددے خبرے اقرار چه پدے باندے صرف همدغه الله قادر دے۔نو ډیر جامع استغفار دے۔ یعنی بنده الله تعالیٰ دپاره ډیر کامل صفات ذکر کړیدی او خپل ئے ډیر ناقص حالات ذکر کړیدی چه هغه انتهائی تضرع او عاجزی او کمزوری ده۔

او په حدیث د جابر ﷺ کښې د نسائیؒ سره داسے الفاظ دی : [تَعَلَّمُوا سَيِّدَ الِاسْتِغْفَارِ] تاسو سید الاستغفار زده کړئ۔ نو ددے په زده کړه باندے امر راغلو۔

وَأَنَا عَلٰى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ : اَیْ مُقِیْمٌ عَلٰی وَفَاءِ الْعَهْدِ۔

یعنی زهٔ ولاړ یم په وفادارئ د لوظ او وعده ستا باندے۔

د عهد نه مراد دینی عهود دی، یا عهد د عالم الذر دے، یعنی د [اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ] والا۔

او د وعد نه مراد وعده د قیامت او د ملاقات ده۔

یا وعده د ثواب د مؤمنانو ده په طاعاتو باندے۔

خطابیؒ معنی کوی : [اَنَا عَلٰی مَا عَاهَدْتُكَ عَلَیْهِ وَوَاعَدْتُّكَ مِنَ الْاِیْمَانِ بِكَ وَاِخْلَاصِ الطَّاعَةِ لَكَ] زهٔ په هغه لوظ او وعده باندے کلك یم چه په تا مے ایمان دے او ستا دپاره یواځے طاعت کوم۔

مِنَ النَّهَارِ : په روایت د نسائیؒ او ترمذیؒ کښې راغلی دی چه دا به سهار او ماښام وائی۔

مُوْقِنًا بِهَا : یعنی په اخلاص د زړهٔ سره، چه ددے په ثواب باندے تصدیق او یقین کونکے وی۔

مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ : یعنی مؤمن به مړی او جنت ته به داخلیږی۔ یا به د سابقینو (مخکنو) خلقو سره داخلیږی، یا به ابتداءً بغیر د عذاب نه داخلیږی،

یا دا بشارت دے په حُسن خاتمه باندے۔ که دا تاویلات ونکړے نو سوال متوجه کیږی چه بیا خو هر مؤمن د ایمان د وجه نه جنت ته داخلیږی اګرکه دا دعاء ئے نهٔ وی وئیلی۔

نکته : د استغفار درے شرطونه دی، صحت د نیت، توجه او ادب۔ که یو تن پدے

شرطونو سره نور الفاظ د استغفار ووائی، او بل تن پدے لفظ سره ووائی نو آیا دواړه به برابر وی؟

جواب: ظاهر دا ده چه دا الفاظ به هله ددهٔ په حق کښے سید الاستغفار ګرځی چه دغه شرطونه راجمع کړی۔ (قاله ابن ابی جمرۃؒ)۔

الفصل الثانی

- 2336(14) عَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " قَالَ اللهُ تَعَالٰی : يَا ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ مَا دَعَوْتَنِيْ وَرَجَوْتَنِيْ غَفَرْتُ لَكَ عَلٰى مَا كَانَ فِيْكَ وَلَا أُبَالِيْ يَا ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ لَوْ بَلَغَتْ ذُنُوْبُكَ عَنَانَ السَّمَاءِ ثُمَّ اسْتَغْفَرْتَنِيْ غَفَرْتُ لَكَ وَلَا أُبَالِيْ يَا ابْنَ آدَمَ إِنَّكَ لَوْ لَقِيْتَنِيْ بِقُرَابِ الْأَرْضِ خَطَايَا ثُمَّ لَقِيْتَنِيْ لَا تُشْرِكُ بِيْ شَيْئًا لَأَتَيْتُكَ بِقُرَابِهَا مَغْفِرَةً ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. - 2337(15) وَرَوَاهُ أَحْمَدُ وَالدَّارِمِيُّ عَنْ أَبِيْ ذَرٍّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ

ترجمه: جناب انس ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالیٰ فرمائی: اے د آدم ځویه! یقیناً ته چه ترڅو ما رابلے او زما نه اُمید ساتے زهٔ به تا ته بخنه کوم سره د هغه څه (ګناهونو) نه چه په تا کښے دی، او هیڅ باك نکوم۔ اے د آدم ځویه! یقیناً که ستا ګناهونه د آسمان وریځے ته ورسیږی بیا ته ما نه بخنه وغواړے نو زهٔ به تا ته بخنه وکړم او هیڅ باك نکوم، اے د آدم ځویه! یقیناً ته کچرے ما سره ملاؤ شے په ډکوالی د زمکے سره د ګناهونو نه بیا ما سره ملاؤ شے چه ما سره دِے هیڅ شے نهٔ وی شریك کړے، خامخا به زهٔ تا ته په ډکوالی د زمکے سره د مغفرت نه درشم۔ (ترمذی) او دا احمدؒ او دارمیؒ د ابوذر ﷺ نه روایت کړیدے، او ترمذیؒ وئیلی دی چه دا حدیث حسن غریب دے۔

تشریح: مَا دَعَوْتَنِيْ: ما مصدریه ظرفیه ده، یعنی ترڅو پورے چه تهٔ همیشه ما نه دعا غواړے او ما نه امید ساتے۔ یعنی ستا د دعاء او د امید د مودے مطابق به تا ته بخنه کوم۔

بیا د دعاء معنیٰ ده نیك او فائده من شے غوښتل، او د رجاء (امید) معنیٰ ده په الله باندے حسن ظن (ښه ګمان) کول۔ او پدے وخت کښے بنده ته د الله رحمت متوجه شی او کله چه رحمت متوجه شی نو هغهٔ باندے هیڅ شے نهٔ غتیږی ځکه چه هغه هر شی ته

فراخه دے۔
وَلَا أُبَالِيْ : یعنی زۀ ستا د ډیر والی د ګناهونو څه باك نۀ لرم۔ او ما ته ستا بخنه نۀ ګرانیږی۔ طیبیؒ وائی : ددے معنیٰ ده چه ما نه هیڅوك تپوس پوښتنه نشی کولے۔
عَنَانَ : جمع د عَنَانَةٌ ده۔ وریځے ته وائی۔
ثُمَّ اسْتَغْفَرْتَنِیْ : دا ددے آیت په شان دے۔
﴿وَمَنْ يَّعْمَلْ سُوْءً اَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهٗ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللّٰهَ يَجِدِ اللّٰهَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا﴾۔ (النساء : ١١٠)
(او څوك چه بد عمل وکړی یا د خپل ځان سره ظلم وکړی بیا د الله نه بخنه وغواړی، الله تعالیٰ به بخنه کونکے او رحم کونکے ومومی)
لَوْ لَقِيْتَنِیْ : د ترمذیؒ په روایت کښے [أَتَيْتَنِیْ] لفظ دے، نو ظاهر دا ده چه دا په مشکاة کښے د لیکونکی نه خطائی واقع شویده۔
بِقُرَابِ : اَیْ مَا يُقَارِبُ مِلْأَهَا۔ یعنی هغه شے چه ډکوالی ته ئے نزدے کوی۔
او بعض وائی چه ددے نه مراد ډکوالے دے۔ او همدا دلته مراد دے۔
بِقُرَابِهَا : په طریقه د مشاکلت سره ئے تعبیر وکړو ورنه د الله مغفرت ډیر کامل او ډیر فراخه دے په هغے باندے۔ مګر پدے باندے به انسان نۀ دهوکه کیږی چه ګناهونو له زور ورکړی۔ بلکه مقصد په حدیث کښے تیزی ورکول دی په استغفار او توبه باندے، او پدے خبره چه الله تعالیٰ د ګناهګار توبه قبلوی اګرکه هر څومره زیات ګناهونه ئے کړی وی۔
ابن رجبؒ په شرح الاربعین کښے لیکی : پدے حدیث کښے د مغفرت درے اسباب ذکر دی، یو دعاء سره د امید ساتلو نه۔
دویم استغفار طلب کول اګرکه لوی ګناهونه وی، او په ډیر والی کښ وریځے ته رسیږی۔
او دریم توحید دے او دا لوی سبب دے چه دا چا کښے نۀ وی نو مغفرت به نۀ وی۔
درجة الحديث : إِسْنَادُهٗ حَسَنٌ : اخرجه الترمذی (٣٥٤٠) وفی سنده کثیر بن فائد لم یوثقه غیر ابن حبان لکن له شاهد وهو حدیث ابی ذر رواه احمد (١٥٤/٥) والدارمی (٣٢٢/٢) وشهر بن حوشب مختلف فیه وباقی رجاله ثقات.
- 2338(16) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ قَالَ : " قَالَ اللّٰهُ

تَعَالٰی : مَنْ عَلِمَ أَنِّي ذُوْ قُدْرَةٍ عَلٰى مَغْفِرَةِ الذُّنُوْبِ غَفَرْتُ لَهٗ وَلَا أُبَالِيْ مَا لَمْ يُشْرِكْ بِيْ شَيْئًا ". رَوَاهُ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ

ترجمه : د ابن عباس رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل : الله تعالىٰ فرمائي : څوك چه پدے پوهه شو چه زۀ قدرت والا يم په بخنه د گناهونو، هغۀ ته به زۀ بخنه وكړم او هيڅ باك نۀ لرم ترڅو چه هغۀ زما سره هيڅ شے نۀ وی شريك كړے. (دا روايت امام بغویؒ په شرح السنه كښے راوړيدے).

تشريح : مَنْ عَلِمَ : يعنى د چا چه دا يقين راغلو او زړۀ ئے پدے باندے روښانه شو.

دا حديث دليل دے چه په گناه باندے اقرار كول سبب د مغفرت دے، او دا نظير دد ے حديث دے : [أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِيْ بِيْ] انتهى. (زۀ د خپل بنده په گمان يم)

مطلب ئے دا دے چه اگركه استغفار ونۀ غواړى لكه دے ته شوكانیؒ ميلان كړيدے. او دے باره كښے د طبرانى فى الاوسط يو روايت هم شته ليكن د جابر بن مرزوق الجدى په وجه ضعيف دے، ليكن دا د الله تعالىٰ د فضل او رحمت نه بعيده نۀ ده.

يا مطلب دا دے چه څوك پدے خبره پوهه شو چه زۀ بخنه كولے شم او بيا ما نه بخنه وغواړى نو زۀ به ورته بخنه كوم.

درجة الحديث : إسناده حسن، اخرجه الطبرانى فى الكبير (۲٤۱/۱۱) رقم (۱۱٦۱۵) والحاكم فى المستدرك (۲٦۲/٤) والبغوى فى شرح السنة (۳۸۸/۱٤) رقم (٤۱۹۱)

- 2339(17) وَعَنْهُ رضی الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم : " مَنْ لَزِمَ الْإِسْتِغْفَارَ جَعَلَ اللّٰهُ لَهٗ مِنْ كُلِّ ضِيْقٍ مَخْرَجًا وَمِنْ كُلِّ هَمٍّ فَرَجًا وَرَزَقَهٗ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْ دَاوٗدَ وَابْنُ مَاجَه

ترجمه : د ابن عباس رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل : چا چه (په ځان) استغفار لازم كړو الله تعالىٰ به هغۀ دپاره د هرے تنگئ نه د وتو لاره او د هر غم نه كولاوالے وگرزوى او هغۀ ته به د داسے ځاى نه رزق وركړى چه ددۀ گمان به هم نۀ وى. (احمدؒ، ابوداود، ابن ماجهؒ)

تشريح : لَزِمَ الْإِسْتِغْفَارَ : يعنى د گناه په وخت كښے ئے استغفار لازم ونيولو. يا

مطلب دا دے چه په استغفار باندے همیشوالے کوی۔
ضِيقٍ : هغه سخت او گران کار ته وائی چه د انسان زړهٔ پرے تنګیږی۔
هَمّ : یعنی غم او پریشانئ نه۔
فَرَجًا: یعنی خلاصے۔ او پدے کښے آیت ته اشاره ده ﴿ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مَخْرَجًا وَّيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ﴾ (الطلاق :٣) نو پدے کښ اشاره ده چه هرکله گناهگار استغفار غواړی نو دے به متقی گرځی۔
او دا حدیث دلیل دے چه په استغفار سره هر مقصد ملاویږی۔
امام ثعلبیؒ په خپل تفسیر کښے ذکر کړیدی چه حسن بصریؒ ته یو سړی راغلو د قحط شکایت ئے ورته وکړو، نو حسنؒ ورته وویل چه استغفار وغواړه۔ بل راغلو او د فقر شکایت ئے وکړو، هغهٔ ورته وویل : د الله نه استغفار وغواړه۔ بیا بل راغلو، چه د الله نه وغواړه چه ما ته یو ځوی راکړی۔ هغهٔ ته ئے هم په استغفار حکم وکړو، بل ورته د خپلو باغونو د وچوالی شکایت وکړو، هغه ته ئے هم د استغفار حکم وکړو نو چا ورته وویل چه دا مختلف سړی او مختلف شکایتونه او مطالبے ئے وے او تا ټولو ته په یوه خبره باندے حکم وکړو؟ هغهٔ جواب ورکړو، ما پدے کښے د خپل ځان نه هیڅ خبره نهٔ ده کړه بلکه ما خلقو ته ددے آیت نه عبرت ورکړو چه الله د نوح علیه السلام نه حکایت کړے ﴿ فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ إِنَّهٗ كَانَ غَفَّارًا ○ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا، وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَّبَنِيْنَ وَيَجْعَلْ لَّكُمْ جَنَّاتٍ وَّيَجْعَلْ لَّكُمْ أَنْهَارًا ﴾ (نوح : ١٠/١٢)
درجة الحديث : اسناده ضعيف، اخرجه ابوداود (١٥١٨) وابن ماجه (٣٨١٩) وفی اسناده الحکم بن مصعب مجهول وذکره ابن حبان فی الضعفاء.

- 2340(18) وَعَنْ أَبِيْ بَكْرٍ الصِّدِّيْقِ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " مَا أَصَرَّ مَنِ اسْتَغْفَرَ وَإِنْ عَادَ فِي الْيَوْمِ سَبْعِيْنَ مَرَّةً ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْ دَاوُدَ

ترجمه : د سیدنا ابوبکر صدیق ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : هغه چا همیشوالے (په گناه نهٔ دے کړے) چا چه استغفار وکړو اگرکه (گناه ته) په ورځ کښے اویا کرته راواپس کیږی۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ)

تشريح : مَا أَصَرَّ : يعني څوك چه يوه ګناه وكړي، او بيا په هغې باندې خپيمانه شي او د هغې نه استغفار وكړي نو دے به په ګناه باندې هميشوالے كونكے نۀ حسابيږي. ځكه چه مُصِر (هميشوالے كونكے) هغه څوك دے چه استغفار نۀ غواړي او په ګناه نۀ خپيمانه كيږي.

حافظ ابن القيمؒ ليكي : اصرار : د زړۀ تړل دي په كولو د ګناه باندې هركله چه په هغې باندې كامياب شي. نو دا مانع د مغفرت دے.

وَإِنْ عَادَ : يعني اګركه ګناه ته راواپس كيږي.

سَبْعِيْنَ مَرَّةً : ظاهر دا ده چه اويا كرتو نه مراد تكثير او تكرير (بار بار كول) دي. نۀ تحديد او تعيين.

او د استغفار نه مراد صرف الفاظ د استغفار نۀ دي بلكه د ګناه په كړو باندې د زړۀ نه خپيمانتيا ده، او دا عزم كول چه بيا به ئے نۀ كوي، ځكه چه د الله تعالىٰ د رحمت انتهاء نشته. كه د انسان نه هر ځل ګناه كيږي او خپيمانه كيږي او توبه او استغفار كوي نو د الله رحمت نۀ ختميږي.

درجة الحديث : اسناده ضعيف: رواه ابوداود (١٥١٤) والترمذى (٣٥٥٩) وفيه ابو نُصيرة ومولى لابى بكر الصديق مجهولان.

- 2341(19) وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " كُلُّ بَنِىْ آدَمَ خَطَّاءٌ وَخَيْرُ الْخَطَّائِيْنَ التَّوَّابُوْنَ ". رَوَاهُ التِّرمِذِىُّ وَابْنُ مَاجه وَالدَّارِمِىُّ

ترجمه : جناب انس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : ټول بنيادمان خطاء كار دي، او غوره د خطاكارو نه هغه دي چه توبه ويستونكي وي. (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ)

تشريح : خَطَّاءٌ : په تشديد د طاء سره دے. په كوم روايت كښے چه مفرد راغلے دے نو هغه راجع دے لفظ د كُل ته او كوم كښے چه خَطَّاؤُوْنَ (جمع) ده نو هغه راجع دے معنى د كل ته.

بيا د كل نه مراد كل من حيث الكل دے، يعني كل مجموعي. نۀ هر فرد. يا ددے نه

مراد کل افرادي دي، يعني هر فرد د بنيادمانو. نو بيا به انبياء عليهم السلام دد ے حکم نه مستثنیٰ او خاص کړے شوي وي. ځکه چه د هغوی نه چه د چا نه څه صادر شوي وي نو هغه د قبيلې د ترکِ اولیٰ نه دي.

يا داسے وئيلے شي چه د بعضو نه چه کوم زلات نقل شويدي نو هغه په خطاء او نسيان باندے محمول دي په غير دد ے نه چه د هغوی قصد د عصيان او نافرمانۍ وي. (قاله القاريؒ)

او بعض وائي : کل لفظ په عرف کښے کله په معنیٰ د غالب او اکثر سره وي.

التَّوَّابُوْنَ : يعنی راواپس کيدونکی الله تعالیٰ ته د ګناه نه په طاعت سره. نو مراد ترے نه غير مُصِرِّيْن دي. يعنی چه په ګناه باندے هميشوالے نۀ کوي.

درجة الحديث : اسناده حسن : أخرجه احمد (۱۹۸/۳) والدارمی (۳۰۳/۲) والترمذی (۲٤۹۹) وابن ماجه (٤۲۵۱) قاله الالبانی وحسين سليم اسد محقق مسند ابی يعلی، وفی اسناده علی بن مسعدة وهو صدوق له اوهام.

- 2342(20) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " إِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا أَذْنَبَ كَانَتْ نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ فِي قَلْبِهِ فَإِنْ تَابَ وَاسْتَغْفَرَ صُقِلَ قَلْبُهُ وَإِنْ زَادَ زَادَتْ حَتّٰى تَعْلُوَ قَلْبَهُ فَذٰلِكُمُ الرَّانُ الَّذِيْ ذَكَرَ اللهُ تَعَالٰى ﴿ كَلَّا بَلْ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴾. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجه وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ

ترجمه : او جناب ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : يقيناً مؤمن چه کله ګناه وکړي (نو) دا تور داغ جوړ شي ددهٔ په زړهٔ کښ، نو که توبه وباسي او استغفار وکړي، ددهٔ زړهٔ صفا شي او که هغه زيات شي نو داغ هم زياتيږي ترد ے چه ددهٔ په زړهٔ باندے راپورته شي، نو دا هغه ران (زنګ) دے چه الله تعالیٰ پد ے آيت کښ ذکر کړيد ے (كَلَّا بَلْ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ) (يعنی داسے نۀ ده، بلکه زنګ راوستے دے په زړونو د دوی باندے هغه ګناهونو چه دوی به کول). (احمدؒ، ترمذيؒ، ابن ماجه، او امام ترمذيؒ فرمائي : دا حديث حسن صحيح دے)

تشريح : كَانَتْ: كښې ضمير ذنب (ګناه) ته راجع دے په تاويل د سَيِّئَةٌ سره۔ يا كان تامه دے۔
نُكْتَةٌ : دا نقطے ته وائي۔ يعنى داغ۔ دا په سپين شى كښے تور داغ دے او په تور شى كښې سپين داغ دے۔ او هغه اثر چه د زمكے د كنستو نه حاصل شى۔ او په شيشه او توره وغيره كښې د خيرو ډكوالے دے۔
على القارئؒ وائي : دلته ترے مراد لكه د سياهى څاڅكے چه په كاغذ پريوزى او دا د ګناه موافق مختلف كيږى۔ او د زړۀ تشبيه ئے د سپينے جامے سره وركړے ده۔ او ګناه تور والے پيدا كوى بيا په استغفار سره صفائى راځى۔
صُقِلَ : د باب د نصر نه فعل مجهول دے۔
تَعْلُوَ قَلْبَهُ : د زړۀ دپاسه شى، يعنى زړۀ پټ كړى او ټول تيارۀ شى نو بيا هيڅ خير نۀ يادوى او هيڅ رُشد او فائدے ته نظر نكوى، او هيڅ صلاح او نيكى په هغے كښے نۀ مضبوطيږى۔
الرَّانُ : رين او ران دواړه يو شے دے۔ رين په اصل كښې طبع (مهر وهل) او پټول او خيرنول دى۔ يعنى زنګ راوستل۔ او عبد الرحمن المباركفوريؒ ليكى : چه رين او ران غشاوه (پردے) ته وائي۔
او دا آيت اګر كه د كافرانو په باره كښے دے ليكن مؤمن د ګناه په كولو سره د هغوى مشابه كيږى په تور والى د زړۀ كښے او دا د ګناه په زياتيدو سره زياتيږى۔
ابن الملك وائي : دا آيت د كفارو په باره كښے دے ليكن دلته ئے د ايمان والو د يره ولو دپاره ذكر كړو دے دپاره چه دوئ د ډيرو ګناهونو نه ځان وساتى هسے نۀ چه د دوئ زړونه د كافرانو د زړونو غونته تور شى۔
فائده : حافظ ابن كثيرؒ وائي : رين د كافرانو زړونو ته راپيښيږى او غيم (وريځ) د ابرارو په زړونو او غين (ساډهوبى) د مقربينو په زړونو راځى۔
درجة الحديث : اسناده قوى: اخرجه احمد فى المسند (٢/٢٩٧) والترمذى (٣٣٣٤) وقال حسن صحيح وابن ماجه (٤٣٤٤) والحاكم (٢/٥١٧) وقال صحيح على شرط مسلم ووافقه الذهبى۔ ـــــــــــــــــــ

- 2343(21) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷛ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " إِنَّ اللهَ يَقْبَلُ تَوْبَةَ الْعَبْدِ

مَا لَمْ يُغَرْغِرْ" . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : او جناب ابن عمر رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : یقیناً الله تعالیٰ د بنده توبه تر هغه وخته پورې قبلوی چه ترڅو روح مرئ ته رسیدلے نهٔ وی۔ (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ)

تشریح : مَا لَمْ يُغَرْغِرْ : د غَرْغَرَةٌ نه دے، په اصل کښې په خوله کښې اُوبهٔ وغیره اچول او بیا د مرئ بیخ ته تاوولو ته وئیلے شي۔ او دارنګه په مرئ کښې آواز واپس کول دي۔ او دلته ئې معنیٰ ده : د روح د وتلو په وخت کښې ساه په مرئ کښ تلل راتلل۔ او دا په هغه وخت کښې وی چه د انسان روح وتل شروع شي۔ نو د مَا لَمْ يُغَرْغِرْ معنیٰ به دا وی :

[مَا لَمْ يَحْضُرْهُ الْمَوْتُ] یعنی ترڅو پورې چه مرګ ورته حاضر شوے نهٔ وی۔

مطلب دا دے چه توبه په وخت د لیدلو د مرګ کښې فائده نهٔ ورکوی ځکه چه دا غیر اختیاری توبه ده، بلکه توبه اختیاری معتبره ده۔

درجة الحديث : اسناده **حسن** : اخرجه احمد في المسند (١٣٢/٢) والترمذی (٣٥٣٨) وابن ماجه (٤٢٥٣) وابن حبان ذكره الهيثمي في موارد الظمآن (٢٤٤٩) والحاكم (٢٥٧/٤) وقال صحيح الاسناد ووافقه الذهبي.

- 2344(22) وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ رضی الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " إِنَّ الشَّيْطَانَ قَالَ: وَعِزَّتِكَ يَا رَبِّ لَا أَبْرَحُ أُغْوِيْ عِبَادَكَ مَا دَامَتْ أَرْوَاحُهُمْ فِيْ أَجْسَادِهِمْ فَقَالَ الرَّبُّ عَزَّ وَجَلَّ : وَعِزَّتِيْ وَجَلَالِيْ وَارْتِفَاعِ مَكَانِيْ لَا أَزَالُ أَغْفِرُ لَهُمْ مَا اسْتَغْفَرُوْنِيْ " . رَوَاهُ أَحْمَدُ

ترجمه : او جناب ابو سعید رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : یقیناً شیطان وویل : اے ربه ! ستا په عزت مے قسم دے! زهٔ به همیشه یم چه ستا بندګان به ګمراه کوم ترڅو پورې چه د دوئ روخونه د دوئ په بدنونو کښې همیشه وی۔ نو رب عز وجل وفرمایل : زما په خپل عزت او لوی شان او پورته مکان باندې قسم دے، زهٔ به همیشه دوئ ته بخنه کوم ترڅو چه دوئ ما نه بخنه غواړی۔ (احمدؒ)

تشریح : وَعِزَّتِكَ : یعنی ستا په قوت او قدرت مے دِې قسم وی۔ او عزت د الله تعالیٰ

صفت هم دے۔
أُغْوِیْ : یعنی زهٔ به ئے گمراه کوم۔
وَارْتِفَاعِ مَکَانِیْ : اهل علم لیکی : دا زیادت په مسند احمد کښ نشته البته شرح السنه کښ بغویؒ ذکر کړیدے نو دا زیادت منکر دے۔
مَا اسْتَغْفَرُوْنِیْ : أَیْ مُدَّةَ طَلَبِهِمُ الْمَغْفِرَةَ۔ یعنی څو پورے چه مغفرت طلب کوی۔
دا حدیث دلیل دے چه استغفار هغه گناهونه ختموی چه د شیطان په گمراهئ او وسوسے سره واقع شوی وی۔ او مغفرت به تر هغه وخته پورے کیږی چه بندگان بخنه غواړی۔
سوال : آیت کښ دی : ﴿لَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ﴾ (ص : ۸۲/۸۵) (خامخا گمراه کوم به دوی لره ټولو لره سویٰ د چونړ کړے شوو بندگانو ستا نه)
معلومه شوه چه صرف مُخْلَصِین به د گمراهئ نه خلاص وی۔ او دا حدیث دلالت کوی چه غیر مُخْلَصِیْن به هم نجات والا وی۔
۱-جواب : په روستو آیت (۸۵) کښ ورسره (لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكَ وَمِمَّنْ تَبِعَكَ) قید راغلے دے نو ددے نه ئے گناهگار بخنه غوښتونکی بهر کړیدی ځکه چه معنیٰ دا ده : څوك چه ستا تابعداری کوی او په تابعدارئ باندے همیشه پاتے شی او الله ته واپس نشی او د هغه نه استغفار ونهٔ غواړی، نو هغهٔ به گمراه وی او جهنم به ئے ځای وی۔
۲-جواب : مگر ظاهر دا ده چه په آیت کښے د مخلصین نه مراد موحدین دی چه الله د شرك نه خلاص کړیدی۔ (مرعاة)
درجة الحديث : اسناده حسن : أخرجه احمد فى المسند (۳/۲۹، ٤۱) واخرجه ابويعلى فى المسند (۲/٤٥۸) والطبرانى فى الاوسط وقال الهيثمى فى مجمع الزوائد (۱۰/۲۰۷) رواه احمد وابويعلى والطبرانى فى الاوسط واحد إسنادى أحمد رجاله رجال الصحيح و كذلك أحد إسنادي أبي يعلى) وقال حسين سليم اسد : اسناده حسن.

- 2345 (23) وَعَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَسَّالٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " إِنَّ اللهَ تَعَالَى جَعَلَ بِالْمَغْرِبِ بَابًا عَرْضُهٗ مَسِيْرَةُ سَبْعِيْنَ عَامًا لِلتَّوْبَةِ لَا يُغْلَقُ مَا لَمْ تَطْلُعْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ

مِنْ قِبَلِهٖ وَذٰلِكَ قَوْلُ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ: ﴿يَوْمَ يَأْتِيْ بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا إِيْمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِنْ قَبْلُ﴾" . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه

ترجمه : او جناب صفوان بن عسال ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : يقيناً الله تعالىٰ په مغرب طرف كښې د توبې دپاره يوه دروازه مقرر كړيده چه د هغې پلنوالے د اويا كالو د مسافت (په اندازه) دے، هغه به نهٔ بنديږي ترڅو چه په هغې باندې د هغې د مغرب طرف نه نمر نهٔ وي راختلے او دا پدے قول د الله تعالىٰ كښې ذكر ده۔ (يوم يأتي الخ (ترجمه : په كومه ورځ چه بعض نخې د رب ستا راشي (نو) فائده به نهٔ وركوي هيڅ نفس ته ايمان راوړل د هغې چه مخكښې نه ئې ايمان نهٔ وي راوړے)۔ (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ)

تشريح : مطلب د حديث دا دے چه د توبې د قبليدو خبره آسانه ده، او خلقو ته پكښې ډيره فراخي ده، تر هغه وخته پورے قبليږي چه نمر د مغرب نه نهٔ وي راختلے۔

بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ: ددے آيات (نخو) نه مراد نمر د مغرب د طرف نه راختل دي، چه پدے وخت كښې څوك نوے ايمان راوړي نو نهٔ به قبليږي، يا يو تن په ايمان خپل كښې د مخكښې نه نيك عمل نهٔ وي كړے او اُوس نيك عمل كول غواړي نو نهٔ به قبليږي۔

نو د نمر راختل داسے شو لكه د مرګ د ليدو په وخت توبه ويستل چه دواړه نهٔ قبليږي۔

درجة الحديث : حسن الاسناد : اخرجه ابوداود الطيالسي في المسند (١١٦٨) واحمد (٤/٢٤١) والترمذي (٣٥٣٦) وقال حسن صحيح، وابن ماجه (٤٠٧٠) والبيهقي في السنن الكبرى (١/٢٨٢) واسناده صحيح.

- 2346(24) وَعَنْ مُعَاوِيَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" لَا تَنْقَطِعُ الْهِجْرَةُ حَتّٰى يَنْقَطِعَ التَّوْبَةُ وَلَا تَنْقَطِعُ التَّوْبَةُ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْ دَاوٗدَ وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه : او جناب معاويه ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : هجرت به نهٔ قطع كيږي تردے چه توبه قطع شي او توبه به نهٔ قطع كيږي تردے چه نمر د مغرب طرف نه راوخيژي۔ (احمدؒ، ابوداودؒ، دارميؒ)

تشريح : لَا تَـنْقَطِعُ الْهِجْرَةُ : دا حديث دليل دے چه هجرت نۀ دے ختم شوے ځکه چه توبه نۀ ده ختمه شوے۔

او کوم روايت کښے چه دی [لَاهِـجْرَةَ بَعْدَ الْفَتْحِ] چه د مکے د فتح نه روستو هجرت نشته۔ نو د هغے مطلب دا دے چه مکه دار اسلام گرځيدلے ده نو اُوس د هغے نه هجرت کول لازم نۀ دی۔

او دے حديث کښں مقصد دا دے چه د کفر نه ايمان ته او د دار شرك نه دار اسلام ته او د معصيت نه توبے ته هجرت شته۔

نو دلته د هجرت نه مراد هغه ځای پريخودل دی چه په هغے کښں انسان امر بالمعروف او نهي عن المنكر او اقامت د حدود الله باندے قادر نۀ وی او اركان خمسه ؤ باندے عمل نشی کولے۔

بعض وائی : هجرت اسلام ته په هغه زمانه کښے فرض وو او د مکے د فتح نه روستو هجرت کول مندوب او مستحب دی، فرض نۀ دی۔

(شرح صحيح البخاری لشمس الدين السفيری٦/٢)

وَلَا تَنْقَطِعُ التَّوْبَةُ : يعنی صحت او قبول التوبه به نۀ ختميږی۔ يا د توبے نه مراد حكم د الله تعالىٰ دے او د هغۀ شريعت دے په قبولولو د توبے سره۔

درجة الحديث : اسناده حسن: أحمد في المسند (٤/٩٩) واسناده حسن (شعيب) والدارمی (٢/٢٣٩-٢٤٠) رقم (٢٥١٣) واسناده حسن (حسين سليم اسد) وابوداود (٢٤٧٩) وصححه الالبانی فی ارواء الغليل (١٢٠٨) وصحيح الجامع (٧٤٦٩)

- 2347(25) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:" إِنَّ رَجُلَيْنِ كَانَا فِي بَنِي إِسْرَائِيلَ مُتَحَابَّيْنِ أَحَدُهُمَا مُجْتَهِدٌ لِلْعِبَادَةِ وَالآخَرُ يَقُوْلُ : مُذْنِبٌ، فَجَعَلَ يَقُوْلُ : أَقْصِرْ عَمَّا أَنْتَ فِيهِ فَيَقُوْلُ خَلِّنِي وَرَبِّي حَتّٰى وَجَدَهُ يَوْمًا عَلٰى ذَنْبٍ اِسْتَعْظَمَهُ فَقَالَ : أَقْصِرْ فَقَالَ : خَلِّنِي وَرَبِّي أَبُعِثْتَ عَلَيَّ رَقِيبًا ؟ فَقَالَ : وَاللهِ لَا يَغْفِرُ اللهُ لَكَ أَبَدًا وَلَا يُدْخِلُكَ الْجَنَّةَ فَبَعَثَ اللهُ إِلَيْهِمَا مَلَكًا فَقَبَضَ أَرْوَاحَهُمَا فَاجْتَمَعَا عِنْدَهُ فَقَالَ لِلْمُذْنِبِ : اُدْخُلِ الْجَنَّةَ بِرَحْمَتِي وَقَالَ لِلْآخَرِ : أَتَسْتَطِيعُ أَنْ تَحْظُرَ عَلٰى عَبْدِي رَحْمَتِي ؟ فَقَالَ : لَا

يَا رَبِّ قَالَ : اِذْهَبُوْا بِهِ إِلَى النَّارِ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : يقيناً په بني اسرائيلو كښې دوه سړي وو چه يو بل سره ئے مينه وه، يو تن په عبادت كښے كوشش كونكے وو او بل (رسول الله ﷺ وفرمايل) گناهګار وو. نو دے شروع شو چه (هغۀ ته ئے) وئيل : بند شه دِ هغه گناه نه چه تۀ په هغے كښې ئے، نو هغۀ به وئيل : ما او زما رب پريده، (هميشه به ئے منع كولو) تردے چه يوه ورځ ئے هغه په گناه باندے وموندو چه هغه ئے لويه وګڼړله. نو ورته ئے وويل : بند شه. نو هغۀ وويل : ما او زما رب پريده، آيا تۀ په ما باندے نګهبان (نګران) مقرر شوے ئے ؟ نو هغۀ وويل : قسم په الله، الله تعالىٰ به تا ته هيڅكله بخنه نۀ كوى او نۀ به تا جنت ته داخلوى، نو الله تعالىٰ دے دواړو ته يو ملائك راوليږلو نو د دواړو روحونه ئے واخستل نو دواړه د الله تعالىٰ په دربار كښې جمع شول، نو گناهګار ته ئے وفرمايل : زما په رحمت جنت ته ننوزه، او بل ته ئے وويل : آيا تۀ طاقت لرے چه زما په بنده باندے زما رحمت منع كړے. نو دۀ وويل: نۀ اے ربه ! الله (ملائكو ته) وفرمايل : دے اُور ته بوځئ. (احمدؒ)

تشريح : يَقُوْلُ : يعني رسول الله ﷺ فرمائي : چه بل گناهګار وو.

يا ضمير آخر ته راجع دے، او د مذنب نه مخكښې (اَنَا) پټ دے. يعني بل سړي وئيل چه زۀ گناهګار يم.

أَقْصِرْ : د اِقصار نه دے، اَیْ كُفَّ وَأَمْسِكْ وَامْتَنِعْ. يعني بند شه او منع شه.

خَلِّنِيْ وَرَبِّيْ : يعني ما خپل رب سره پريده.

أَبُعِثْتَ : صيغه د مجهول او استفهام انكارى دے. يعني آيا تۀ الله تعالىٰ په ما باندے نګهبان مقرر كړے ئے.

محدثين وائي چه دے شخص به هر كله گناه وكړه نو په پته به ئے د خپل رب نه استغفار طلب كولو، او پدے سره دا حديث د باب الاستغفار سره مناسبت لرى.

ليكن ظاهر د حديث دا دے چه دے خالص د الله په فضل او رحمت سره جنت ته داخل شو. نو بيا مناسب وه چه دا حديث ئے په روستو باب كښې راوړے وے، ځكه چه دا حديث په فراخه رحمت د الله تعالىٰ باندے دلالت كوى.

فَقَالَ: يعنى عابد په خپلو عملونو باندے خود پسند او غَره او مغروره وو او ملګرے ئے سپك ګڼړلو۔

لِلْآخرِ: دلته ئے مجتهد لفظ ونهٔ وئيلو پدے کښې اشاره ده چه ددے شخص په عبادت کښې کوشش ضائع شو د وجه د کم والى د علم د هغهٔ نه او د معرفت د هغهٔ د صفات د رب خپل نه او په خپل عمل باندے د تکبر کولو او په الله باندے د ګناهګار د نهٔ بخښلو د قسم په وجه۔ نو خبره پرے اُلټه شوه۔

أَنْ تَحْظُرَ: اَیْ تَمْنَعُ وَتُحَرِّمُ۔ يعنى چه تهٔ منع او بند کړے۔

لَا يَا رَبِّ: اُوس ئے اقرار وکړو چه اُوس ورته فائده نهٔ ورکوى۔

او ددے حديث هيڅکله دا مطلب نهٔ دے چه يو تن به ګناهګار ته نهى عن المنکر نهٔ کوى او هغه به الله ته سپارى، نهٔ بلکه نهى عن المنکر خو اهمه ذمه وارى ده، بلکه مطلب دا دے چه د هغهٔ په باره کښې به د جهنم فيصله نهٔ کوى او په خپل عمل به تکبر نهٔ کوى او د ګناهګار خيرخواهى به کوى او هغهٔ باندے به په دعوت کښې شفقت کوى۔

درجة الحديث: اسناده حسن: اخرجه احمد (٢/٣٢٣) (٨٧٣٤) وابوداود (٤٩٠١) والبغوى فى شرح السنة (١٤/٣٨٤-٣٨٥رقم (٤١٨٧) واسناده حسن من اجل عكرمة بن عمار. ______

- 2348(26) وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيْدَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقْرَأُ :﴿ يَا عِبَادِيَ الَّذِيْنَ أَسْرَفُوْا عَلٰى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَحْمَةِ اللهِ إِنَّ اللهَ يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ جَمِيْعًا﴾ وَلَا يُبَالِيْ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ وَفِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ يَقُوْلُ : بَدَلَ : يَقْرَأُ. ______

ترجمه : او اسماء بنت يزيد رضى الله عنها فرمائى : ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه لوستل ئے : (يا عبادى الذين الخ : ترجمه : اے زما بندګانو هغه کسانو چه زياتے ئے کړيدے په خپل ځانونو، مهٔ نا اُميده کيږئ د رحمت د الله تعالىٰ نه، يقيناً الله تعالىٰ ټول ګناهونه معاف کوى)۔ او هيڅ باك نهٔ کوى۔ (احمدؒ، ترمذیؒ او ترمذیؒ فرمائى : دا حديث حسن غريب دے، او په شرح السنه کښې يَقُوْلُ لفظ دے په بدل د (يَقْرَأُ) کښې۔

تشريح: أَسْرَفُوْا : يعنى په ګناهونو سره ئے په خپل ځان باندے زياتے کړيدے۔

يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا: يعني د كافرانو ګناهونه په توبه سره معاف كوي او د مؤمنانو په توبه او خپل مشيئت او رحمت سره۔

حافظ ابن كثيرؒ ليكي: دا آيت كريمه ټولو ګناهګاروته دعوت وركوي كفار وي او كه نور، چه دوئ دِے الله تعالىٰ ته توبه وباسي او هغۀ ته دِے انابت وكړي او اخبار دے پدے خبره چه الله تعالىٰ ټول ګناهونه معاف كوي چا چه ترے توبه ويستله او رجوع ئے ترے وكړه۔ اګركه هر څنګه او هر څومره وي او د درياب د زګ په اندازه وي۔

او علامه شوكانيؒ او صديق حسن خان القنوجيؒ په فتح البيان كښے دے ته ترجيح وركړيده چه دا آيت مطلق او عام دے په باره د هر قسمه ګناهونو كښے او مقيد نۀ دے په توبه سره۔ نو الله تعالىٰ هر قسمه ګناه معاف كوي هر څنګه چه وي مګر هغه چه نص قرآني مستثنىٰ كړي وي چه هغه شرك دے۔ هغه صرف په توبه سره معاف كوي، او باقي ګناهونه د الله مشيت ته حواله دي۔

او كه دلته قيد د توبه ولګولے شي نو بيا به ددے لوي زيري دپاره ډير وقعت پاتے نشي څكه چه شرك هم په توبه سره معاف كوي نو بيا ددے او د نورو ګناهونو فرق به څه وي؟۔

وَلَا يُبَالِيْ: يعني الله تعالىٰ د هيچا نه څه باك نۀ كوي څكه چه په الله باندے د هيچا هيڅ واجب نۀ دي۔

يا باك نكوي د ټولو ګناهونو په معاف كولو څكه چه رحمت ئے ډير فراخه دے۔

بيا دا لفظ آيا د قرآن حصه وه او روستو منسوخ شوه او كه په طور د تفسير سره رسول الله ﷺ وفرمائيله؟، دوه قوله دي۔

اول قول ظاهر دے۔ لكه صاحب د مدارك وئيلي دي چه په قراءت د نبي ﷺ كښ داسے دي: ﴿يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا وَلَا يُبَالِيْ﴾

درجة الحديث : اسناده ضعيف: احمد (٦/٤٥٣) والترمذى (٣٢٣٧) وقال حديث حسن غريب لا نعرفه الا من حديث ثابت عن شهر بن حوشب) وفى شهر كلام مشهور.

- 2349(27) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه: فِيْ قَوْلِهٖ تَعَالٰى: (إِلَّا اللَّمَمَ) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:

إِنْ تَغْفِرِ اللّٰهُمَّ تَغْفِرْ جَمًّا وَأَيُّ عَبْدٍ لَّكَ لَا أَلَمَّا.

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ غَرِيْبٌ

ترجمه : او جناب ابن عباس ﷺ نه پدے قول د الله تعالىٰ (الا اللمم) کښې روايت شويدى چه رسول الله ﷺ وفرمايل : اے الله که ته بخنه کوے نو بخنه وکړه ټوله او ستا کوم يو بنده دے چه هغه وړے ګناه ته نۀ وى نزدے شوے۔ (دا امام ترمذیؒ روايت کړيدے او وئيلى ئے دى چه دا حديث حسن صحيح غريب دے)۔

تشريح : إِلَّا اللَّمَمَ : يعنى پدے آيت کښې چه ﴿ اَلَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ كَبَائِرَ الْإِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ إِلَّا اللَّمَمَ﴾ (مؤمنان هغه کسان دى چه د لويو ګناهونو اوبے حيايو نه ځان ساتى سوىٰ د للم نه) نو دلته د لمم لفظ نه مراد واړه ګناهونه دى۔

بعض وائى : مُقَارَبَةُ الْمَعْصِيَةِ مِنْ غَيْرِ مُوَاقَعَةٍ۔ يعنى ګناه ته نزدے کيدل په غير د کولو نه۔ ځکه چه المام په معنىٰ د نزول سره راځى۔ (مبردؒ)

ازهرىؒ وائى : چه عرب المام په معنىٰ د دنوّ او قرب (نزديکت) سره استعمالوى۔

د مفسرينو د لمم په تفسير او مصداق کښې مختلف اقوال دى :

جمهور وائى چه واړه ګناهونه مراد دى،

بعض وائى : هغه چه د زنا نه خکته وى لکه خکلول، چونډاره لګول، نظر کول۔

بعض وائى : هغه خيالات چه په زړۀ کښې راتيريږى۔ بعض وائى : هر هغه ګناه چه الله پکښې حد او عذاب نۀ وى ذکر کړے۔ راجح قول د جمهورو دے۔

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : يعنى رسول الله ﷺ د استشهاد (دليل نيولو) په طريقه وفرمايل چه مؤمن د لمم نه نۀ خالى کيږى۔

يعنى اے الله ! که ته ګناهونه بخښے نو د ټولو ګناهونو په بخښلو قادر ئے۔ ځکه هر مؤمن نه څه نا څه ګناه کيږى۔

دويم مطلب دا دے چه اے الله ! ته د لوى ګناهونو په بخښلو قادر ئے او هرچه واړه ګناهونه دى نو هغه تا ته نۀ منسوب کيږى ځکه چه هيڅوک د هغے نه نۀ خالى کيږى۔ او هغه د لوى ګناهونو نه په ځان ساتلو سره معاف کيږى۔

او إِنْ تَغْفِرْ کښې (إِن) د شك دپاره نۀ دے بلکه د تعليل دپاره دے، يعنى پدے وجه چه ته غفار ئے نو بخښنه وکړه۔ لکه داسے وئيلے شى : [إِنْ كُنْتَ سُلْطَانًا فَأَعْطِ الْجَزِيْلَ]۔

يعنى ډيره وركړه څكه وكړه چه ته بادشاه ئے۔
او دا شعر د اميه بن ابى الصلت دے چه دے په جاهليت زمانه كښى عبادت گذار، ديندار او د آخرت منونكے وو، د اسلام زمانه ئے لاندے كړه مگر بد بخته وو اسلام ئے رانهٔ وړو۔
رسول الله ﷺ به ددهٔ شعرونه ډير خوښول څكه چه په حقيقت او نصيحتونو باندے مشتمل وو۔
او دلته رسول الله ﷺ شعر لوستلے دے، او هرچه هغه آيت دے ﴿وَمَا عَلَّمْنَاهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنْبَغِيْ لَهُ﴾ (يس : ٦٩) (او مونږ دهٔ ته شعر نهٔ دے خودلے او نهٔ دهٔ دپاره مناسب دے)
نو د هغے مطلب دا دے چه رسول الله ﷺ ته د شعر داسے تعليم نهٔ دے وركړے شوے چه شعر د ځان نه جوړ كړى، او هرچه د بل چا شعر لوستل دى نو هغه پرے بند نهٔ دى۔
لكه احاديثو كښے د هغے ډير ثبوتونه شته۔ او همدا خبره صحيح ده۔
او دلته رسول الله ﷺ امت ته دا سبق وركوى چه د ځان صفائى به نهٔ كوئ چه ما خو هيڅ گناهونه نهٔ دى كړى۔
أَلَمَّا: فعل ماضى مفرد دے، او الف پكښې اشباعى دے۔
درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه الترمذى (٣٢٨٤) وقال : حديث حسن صحيح غريب لا نعرفه الا من حديث زكريا بن اسحاق) والحاكم فى المستدرك (٤٧٠،٤٦٩/٢) وقال (صحيح على شرط الشيخين) ووافقه الذهبى).

- 2350(28) وَعَنْ أَبِىْ ذَرٍّ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" يَقُوْلُ اللهُ تَعَالٰى يَا عِبَادِىْ كُلُّكُمْ ضَالٌّ إِلَّا مَنْ هَدَيْتُ فَاسْأَلُوْنِىْ الْهُدٰى أَهْدِكُمْ وَكُلُّكُمْ فُقَرَاءُ إِلَّا مَنْ أَغْنَيْتُ فَاسْأَلُوْنِىْ أَرْزُقْكُمْ وَكُلُّكُمْ مُذْنِبٌ إِلَّا مَنْ عَافَيْتُ فَمَنْ عَلِمَ مِنْكُمْ أَنِّىْ ذُوْ قُدْرَةٍ عَلَى الْمَغْفِرَةِ فَاسْتَغْفَرَنِىْ غَفَرْتُ لَهُ وَلَا أُبَالِىْ وَلَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَحَيَّكُمْ وَمَيِّتَكُمْ وَرَطْبَكُمْ وَيَابِسَكُمْ إِجْتَمَعُوْا عَلٰى أَتْقٰى قَلْبِ عَبْدٍ مِنْ عِبَادِىْ مَا زَادَ فِىْ مُلْكِىْ جَنَاحَ بَعُوْضَةٍ، وَلَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَحَيَّكُمْ وَمَيِّتَكُمْ وَرَطْبَكُمْ وَيَابِسَكُمْ إِجْتَمَعُوْا عَلٰى أَشْقٰى قَلْبِ عَبْدٍ مِنْ عِبَادِىْ مَا نَقَصَ ذٰلِكَ مِنْ مُلْكِىْ جَنَاحَ بَعُوْضَةٍ، وَلَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَحَيَّكُمْ وَمَيِّتَكُمْ وَرَطْبَكُمْ وَيَابِسَكُمْ إِجْتَمَعُوْا فِىْ صَعِيْدٍ وَاحِدٍ فَسَأَلَ كُلُّ

إِنْسَانٍ مِنْكُمْ مَا بَلَغَتْ أُمْنِيَّتُهُ فَأَعْطَيْتُ كُلَّ سَائِلٍ مِنْكُمْ مَا نَقَصَ ذٰلِكَ مِنْ مُلْكِيْ إِلَّا كَمَا لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ مَرَّ بِالْبَحْرِ فَغَمَسَ فِيْهِ إِبْرَةً ثُمَّ رَفَعَهَا، ذٰلِكَ بِأَنِّيْ جَوَادٌ مَاجِدٌ أَفْعَلُ مَا أُرِيْدُ، عَطَائِيْ كَلَامٌ، وَعَذَابِيْ كَلَامٌ، إِنَّمَا أَمْرِيْ لِشَيْءٍ إِذَا أَرَدْتُ أَنْ أَقُوْلَ لَهُ (كُنْ فَيَكُوْنُ). رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه

ترجمه : او جناب ابوذر ﷺ فرمائي : چه رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالیٰ فرمائي : اے زما بندګانو! تاسو ټول ګمراه یئ مګر هغه څوك چه زهٔ ورته هدایت وکړم نو ما نه هدایت وغواړئ زهٔ به تاسو ته هدایت کوم۔ او ټول ستاسو فقیران دي مګر هغه څوك چه زهٔ ئے مالداره کړم نو ما نه وغواړئ زهٔ به رزق درکوم او تاسو ټول ګناهګار یئ مګر هغه څوك چه زهٔ ئے بچ وساتم نو څوك چه ستاسو نه پدے پوهه شو چه زهٔ په بخنه باندے قدرت والا یم بیائے زما نه بخنه وغوښته، زهٔ به ورته بخنه کوم، او هیڅ باك نه لرم او که چرے اول ستاسو او روستونے ستاسو او ژوندے ستاسو او مړے ستاسو او لوند ستاسو او وچ ستاسو راجمع شی په ډیر پرهیزګاره زړهٔ د یو بنده باندے زما د بنده ګانو نه، (نو) زما په بادشاهی کښې به د ماشي د وزر هومره زیاتے ونکړي، او که چرے اول ستاسو او روستونے ستاسو او ژوندے ستاسو او مړے ستاسو او لوند ستاسو او وچ ستاسو راجمع شی په یو میدان کښې او هر یو انسان ستاسو نه وغواړي هغه څه چه ددهٔ آرزو ورته رسیږي او زهٔ هر یو غوښتونکی ته ستاسو نه ورکړم (نو) دا به زما د بادشاهئ نه هیڅ کم نکړي مګر لکه څنګه چه یو تن ستاسو په دریاب باندے تیر شي او په هغے کښې یوه ستنه ننباسی بیائے راپورته کړي، دا پدے وجه چه زهٔ سخی، شرافت والا یم، کوم هغه څه چه زهٔ ئے وغواړم، زما ورکړه خبرے دي، او عذاب زما خبرے دي، زما حکم یو شی ته کله چه زهٔ د هغے اراده وکړم دا دے چه زهٔ ورته ووایم (شه نو هغهٔ موجود شي)۔ (احمدؔ، ترمذیؔ، ابن ماجهؔ)

تشریح : دا حدیث دلیل دے چه بنده الله تعالیٰ ته په هر شی کښې محتاج دے، او هیڅ یو تن د الله تعالیٰ د مدد نه سویٰ هیچا ته فائده نشي ورکولے نو پکار ده چه بنده الله تعالیٰ ته په هر حالت کښې عاجزي وکړي۔

فَاسْأَلُوْنِيْ : او په بعضو نسخو کښې (فَسَلُوْنِيْ) دے په اعلال سره۔

عَافَيْتُ : أَيْ عَصَمْتُ وَحَفِظْتُ۔ يعني څوك چه زۀ وساتم او حفاظت ئے وكړم۔
دا دليل دے چه د ګناهونو نه سلامتيا او بچ كيدل د عافيت كامل فرد دے، او همدا اصل عافيت دے۔ او په دے كښې اشاره ده چه ګناهونه ذاتي مرض دے۔ او ددے صحت دا دے چه الله تعالىٰ ددے نه حفاظت او بچاؤ وركړي۔
وَرَطْبَكُمْ وَيَابِسَكُمْ : يعني ستاسو ځوانان او بوډاګان۔ يا عالمان او جاهلان۔ يا فرمانبردار او نافرمانه۔
بعض وائي : ددے نه بحر او بر مراد دي۔ يعني د درياب او وچے وسيدونكي۔
بعض وائي : ددے نه انسانان او پيريان مراد دي۔
طيبيؒ وائي : دا دواړه الفاظ د پوره استيعاب (راګيرولو) دپاره استعماليږي۔ لكه د ﴿وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ اِلَّا فِيْ كِتَابٍ مُّبِيْنٍ﴾ (انعام : ٥٩) په شان۔
أَتْقَى قَلْبِ عَبْدٍ : ددے نه مراد زمونږ نبي اكرم ﷺ دے چه د ټول انسانيت نه ډير متقي زړۀ والا دے۔
مَا زَادَ ذٰلِكَ : يعني دغه اجتماع۔
أَشْقٰى قَلْبِ عَبْدٍ : ددے نه مراد ابليس دے۔
أُمْنِيَّتَهُ : يعني ارمان او آرزو او خواهش د هغۀ۔ جمع ئے مُنًى او اَمَانِي راځي۔ يعني هر هغه حاجت چه په زړۀ كښې راتيريږي۔
جَوَادٌ : يعني ډيرے سخا والا يم۔
مَاجِدٌ : (شرافت والا/ ډيرے سخاوت والا) په روايت د ترمذيؒ كښې (وَاجِدٌ) ذكر دے، او واجد هغه ذات دے چه څه طلب كوي او د څه اراده كوي هغه مومي۔
او ماجد په معنىٰ د مجيد سره دے، لكه عالم په معنىٰ د عليم سره۔ او مجد فراخه سخاوت ته وئيلے شي۔
إِنَّمَا أَمْرِيْ لِشَيْءٍ : دا تفسير دے ددے قول (عَطَائِيْ كَلَامٌ الخ)
كن : يعني موجود او پيدا شه، فيكون : نو هغه موجود او پيدا شي۔ كان تامه دے۔
درجة الحديث : حديث صحيح : اخرجه احمد (١٥٤/٥) والترمذی (٢٤٩٥) وقال حديث حسن وابن ماجه (٤٢٥٧)

-2351(29) وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَرَأَ (هُوَ أَهْلُ التَّقْوٰى وَأَهْلُ الْمَغْفِرَةِ)

قَالَ : قَالَ رَبُّكُمْ أَنَا أَهْلُ أَنْ أُتَّقَى فَمَنِ اتَّقَانِيْ فَأَنَا أَهْلُ أَنْ أَغْفِرَ لَهُ ". رَوَاهُ التِّرمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه : او جناب انس ﷺ د نبی کریم ﷺ نه روایت کوی چه هغهٔ ولوستل : (هُوَ اَهْلُ التَّقْوٰى وَأَهْلُ الْمَغْفِرَةِ) (یعنی الله لائق دے چه د هغهٔ نه یره وکړے شی او لائق دے د بخنے) ویے فرمایل : ستاسو رب فرمائیلی دی : زهٔ لائق یم ددے چه زما نه یره وکړے شی نو څوك چه زما نه یره وکړی نو زهٔ لائق یم چه زهٔ به هغهٔ ته بخنه کوم۔ (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ، دارمیؒ)

تشریح : مطلب دا چه (اهل المغفرة) مرتب دے په اهل التقویٰ باندے۔ یعنی زهٔ ددے لائق یم چه ما نه یره وکړے شی او څوك چه ما نه یره وکړی نو بیا زهٔ لائق یم چه هغهٔ ته به بخنه کوم۔

بیضاویؒ ددے معنیٰ کوی : [حَقِيْقٌ بِأَنْ يُتَّقٰى عِقَابُهُ] الله لائق ددے دے چه د هغهٔ د عذاب نه یره وکړے شی۔

(یا د هغهٔ سره د شریکانو جوړولو نه او د ګناهونو کولو نه)

وَأَهْلُ الْمَغْفِرَةِ: [حَقِيْقٌ بِأَنْ يَّغْفِرَ لِعِبَادِهٖ] لائق دے ددے چه بندګانو ته به بخنه کوی۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه احمد (٣/١٤٢، ٢٤٣) والدارمی (٢/٣٠٢،٣٠٣) والترمذی (٣٣٢٨) وقال سهيل ليس بالقوی فی الحديث، وابن ماجه (٤٢٩٩) وابويعلى (٦/٦٦) فی مسند ثابت البنانی عن انس رقم (٣٣١٧/٥٦٢) وابن عدی فی الكامل (٣/١٢٨٨) ضمن ترجمة سهيل بن مهران وهو سهيل بن أبی حزم والحاكم (٢/٥٠٨) وقال (صحيح الاسناد ولم يخرجاه) ووافقه الذهبی)

- 2352(30) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ : إِنْ كُنَّا لَنَعُدُّ لِرَسُوْلِ اللهِ ﷺ فِي الْمَجْلِسِ يَقُوْلُ : " رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَتُبْ عَلَيَّ إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الْغَفُوْرُ " مِائَةَ مَرَّةٍ . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرمِذِيُّ وَأَبُوْ دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه

ترجمه : او عبد الله بن عمر ﷺ فرمائی : ضرور به مونږ د رسول الله ﷺ دپاره په مجلس کښے شمارل چه وئیل به ئے : رب اغفر لی الخ۔ یعنی اے ربه ! ما ته بخنه وکړه او

ما باندے رحم وکړه يقيناً تهٔ توبه قبلونکے بخنه کونکے ئے) سل کرته به ئے لوستل۔
(احمدؒ، ترمذیؒ، ابوداوٗدؒ، ابن ماجهؒ)

تشریح : اِنۡ : دا اِنۡ مُخَفَّف مِنَ الۡمُثَقَّل دے په قرینه د مقام سره۔

لَنَعُدُّ : لام تاکیدیه دے۔

رَبِّ اغۡفِرۡ لِیۡ : رسول الله ﷺ به عمل کولو پدے آیت ﴿وَاسۡتَغۡفِرۡهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا﴾ (النصر : ٣) او بل ﴿إِنَّ اللهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيۡنَ﴾ (بقره : ۲۲۲)۔

وَتُبۡ عَلَیَّ : یعنی ما باندے رجوع وکړه په رحمت سره۔ یا ما ته د توبے توفیق راکړه۔ یا زما توبه قبوله کړه۔

مِائَةَ مَرَّةٍ : دا مفعول مطلق دے د (نَعُدُّ) دپاره۔

درجة الحدیث : اسناده صحیح : احمد (٢/٢١) (٤٧٢٦) وابوداود (١٥١٦) والترمذی (٣٤٣٤) وقال حسن صحیح غریب واخرجه ابن ماجه (٣٨١٤) وصحیح الادب المفرد (٦١٨) للالبانی.

- 2353 (31) وَعَنۡ بِلَالِ بۡنِ يَسَارِ بۡنِ زَيۡدٍ مَوۡلَى النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : حَدَّثَنِيۡ أَبِيۡ عَنۡ جَدِّيۡ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُوۡلَ اللهِ ﷺ يَقُوۡلُ : " مَنۡ قَالَ : أَسۡتَغۡفِرُ اللهَ الَّذِيۡ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الۡحَيُّ الۡقَيُّوۡمُ وَأَتُوۡبُ إِلَيۡهِ غُفِرَ لَهُ وَإِنۡ كَانَ قَدۡ فَرَّ مِنَ الزَّحۡفِ ". رَوَاهُ التِّرۡمِذِيُّ وَأَبُوۡ دَاوٗدَ لٰكِنَّهُ عِنۡدَ أَبِيۡ دَاوٗدَ هِلَالُ بۡنُ يَسَارٍ وَقَالَ التِّرۡمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيۡثٌ غَرِيۡبٌ

ترجمه : او جناب بلال بن یسار بن زید د نبی کریم ﷺ آزاد کرده غلام فرمائی : ما ته زما پلار زما د نیکه نه بیان کړیدے چه هغهٔ د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه فرمایل ئے : چا چه وویل : (استغفر الله ......الخ): زهٔ د هغه الله نه بخنه غواړم چه نشته حقدار د بندګئ سوا د هغهٔ نه، همیشه ژوندے، تدبیر کونکے دے، او زهٔ هغهٔ ته توبه وباسم) (نو دهٔ ته به بخنه وکړے شی اګر که د جنګ نه تختیدلے وی۔ (ترمذیؒ، ابوداوٗدؒ لیکن د ابوداوٗدؒ په روایت کښے هلال بن یسارؒ ذکر دے، او ترمذیؒ وئیلی دی : دا حدیث غریب دے)۔

تشريح : بلال : تقريب کښې دي : بلال بن يسار بن زيد قُرشي چه د قريشو مولیٰ دے، بصري دے، مقبول دے، يعني عند المتابعة.

او ابن حبانؒ په ثقاتو کښې ذکر کړيدے.

د (اَبِيُ) نه مراد يسار دے او د (جد) نه مراد زيد دے. او د زيد د پلار نوم بولی دے، او زيد خپله صحابي دے، او بعضو دهٔ د پلار نوم (بولا) ذکر کړيدے، او دا د نُوب علاقے نه راغلے غلام وو. ابويسار ئے اسم کنيه وه.

ابن شاهينؒ وائي چه دا نوبي وو، رسول الله ﷺ په غزا د بنو ثعلبه ؤ کښې نيولے وو او بيا ئے آزاد کړو. او ددے زيد نه مراد زيد بن حارثه ﷺ نهٔ دے کوم چه د اسامه رضي الله عنه پلار دے.

وَأَتُوبُ إِلَيْهِ : على القاريؒ وائي : پکار ده چه پدے باندے تلفظ ونکړی مګر هله چه پدے خبره کښې رشتيني وی او د الله مخے ته دروغجن نشي.

ددے وجه نه نقل شويدی چه د ګناه نه استغفار کونکے چه ګناه نهٔ پرېږدی داسے دے لکه د خپل رب پورے توقے کونکے، آه.

ددے وجه نه ربيع بن خيثمؒ وئيلی دي : چه يو تن دِے (استغفر الله واتوب اليه) نهٔ وائي ځکه چه بيا به دا دروغ شي کله چه استغفار او توبه نهٔ کوی. ځکه چه دا اِخبار دے نو که الله تعالیٰ ته رشتيني توبه ونهٔ باسی او دا خبر ورکړی چه زهٔ الله ته توبه وباسم نو دے به ګناهګار شي او دروغجن به حساب شي. بلکه داسے دِے وائي [أَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي وَتُبْ عَلَيَّ] (اے الله ! ما ته بخنه وکړه او په ما باندے رحم وکړه)

امام نوويؒ وائي : دا خبره په استغفر الله کښې صحيح نهٔ ده، ځکه چه ددے معنیٰ ده، زهٔ د الله نه مغفرت طلب کوم. او پدے کښې دروغجن والے نشته، ځکه چه دا بنده لګيا دے د الله نه بخنه غواړی. ليکن په (اَتُوبُ اِلَيهِ) کښې دغه خطره شته چه اخبار د توبے ورکوی او مينځ کښې په ګناه کښې مشغول دے.

حافظ ابن حجرؒ وائي : همدا مقصد د ربيعؒ دے. انتهیٰ.

مګر ظاهر دا ده چه دواړه قسمه ذکرونه د رسول الله ﷺ نه نقل دي نو استعمالول ئے جائز دي، ځکه چه ځوك دغه اذکار کوی نو د هغهٔ د توبے اراده وی، او که بيخي اراده ئے نهٔ وی نو بيا دهٔ په حق کښې خطره شته.

مِنَ الزَّحْفِ : يعنى د جهاد نه او د دشمن د ملاقات نه په جنګ کښې. يعنى اګر که کبيره ګناه ئې کړې وي، ځکه چه د جهاد نه تيختنه کبيره ګناه ده۔
طيبىؒ وائى : زحف ډير لښکر ته وئيلے شي چه د ګنړوالي په وجه داسې ښکاره کيږي لکه چه په کناتو تو ليږي۔
ابو نعيم الاصفهانىؒ وئيلي دي : دا حديث دليل دے چه بعض کبائر په بعض عمل صالح سره معاف کيږي۔ او دا هغه ګناهونه دي چه د هغې په کونکي باندے نۀ په نفس کښې څه کفاره وي او نۀ په مال کښې۔
درجة الحديث : إسناده صحيح، اخرجه ابوداود (١٥١٧) والترمذي (٣٥٧٧) وقال: هذا حديث غريب لا نعرفه الا من هذا الوجه.

الفصل الثالث

- 2354(32) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ لَيَرْفَعُ الدَّرَجَةَ لِلْعَبْدِ الصَّالِحِ فِي الْجَنَّةِ فَيَقُوْلُ: يَا رَبِّ أَنّٰى لِيْ هٰذِهٖ ؟ فَيَقُوْلُ : بِاسْتِغْفَارِ وَلَدِكَ لَكَ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ

ترجمه : ابو هريره ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ وفرمايل : يقيناً الله تعالىٰ خامخا د يو بنده دپاره په جنت کښې يوه درجه پورته کوي نو هغه وائى : اے ربه زما! دا د کوم ځاى نه زما دپاره وشوه ؟ نو الله وفرمائى : په وجه د بخنے غوښتو د بچى ستا ستا دپاره۔ (احمدؒ)
تشريح : انى لى : يعنى څنګه پورته کړے شوه دا مرتبه زما۔ يا د کوم ځاى نه ما ته دا حاصله شوه؟۔
وَلَدِكَ لَكَ : ولد لفظ مذکر او مؤنث دواړو ته شامل دے۔ او ددے شخص نه مراد مؤمن دے۔ او دا يوه فائده د نکاح ده۔ او لويه فائده ده۔ او يو د هغه څيزونو نه دے چه د مؤمن پسے د هغۀ د مرګ نه روستو د هغۀ د نيکيو نه رسيږي۔ ځکه چه اولاد د انسان کسب دے۔ او دا حديث دليل دے چه استغفار لوى لوى ګناهونه رژوى۔
او دارنګه دليل دے چه يو تن خپله استغفار نۀ دے کړے او درجه ئې پورته شوه نو ستا څه ګمان دے په هغه شخص چه خپله ئې استغفار غوښتے وي۔ او په نکاح کښې که نور هيڅ فوائد او فضيلت نۀ وي سوئ ددے نه نو دا هم پوره کافي فائده او فضيلت دے۔

(طيبيؒ)
او دا دليل دے چه د مؤمن بنده روح پس د مرګ نه جنت ته ځي، او د بدن سره ئے هم تعلق وي۔

درجة الحديث : إسناده حسن، من اجل عاصم بن ابى النجود، (وهو مختلف فيه) أخرجه أحمد (٢/٣٦٣) (٢/٥٠٩) وابن ماجه (٣٦٦٠) والبخارى فى الأدب المفرد (٣٦) وصححه الألبانى فى صحيح الجامع (١٦١٧).

- 2355(33) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ ﷛ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:" مَا الْمَيِّتُ فِي الْقَبْرِ إِلَّا كَالْغَرِيْقِ الْمُتَغَوِّثِ يَنْتَظِرُ دَعْوَةً تَلْحَقُهُ مِنْ أَبٍ أَوْ أُمٍّ أَوْ أَخٍ أَوْ صَدِيْقٍ فَإِذَا لَحِقَتْهُ كَانَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا وَإِنَّ اللهَ تَعَالٰى لَيُدْخِلُ عَلٰى أَهْلِ الْقُبُوْرِ مِنْ دُعَاءِ أَهْلِ الْأَرْضِ أَمْثَالَ الْجِبَالِ وَإِنَّ هَدِيَّةَ الْأَحْيَاءِ إِلَى الْأَمْوَاتِ الْإِسْتِغْفَارُ لَهُمْ ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيْمَانِ

ترجمه : او عبد الله بن عباس ﷛ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : مړے په قبر كښې نۀ وي مګر په شان د ډوبو وړي انسان چه فرياد كونكے وي، (مړے) اِنتظار كوي د دعاء چه د هغۀ پسے ورپسے شي د طرف د پلار يا مور يا ورور يا ملګرى نه نو كله چه هغۀته ورسيږي (نو) دا هغۀ ته د دنيا او د مافيها نه ډير محبوب وي، او يقيناً الله تعالىٰ ضرور په قبرونو والو باندے د زمكے والو د دعاء په وجه د غرونو په شان (رحمتونه) داخلوي۔ او يقيناً د ژوندو تحفه مړو ته هغوي دپاره استغفار كول دي۔ (بيهقيؒ شعب الايمان)

تشريح : كَالْغَرِيْقِ : يعني هغه شخص چه غرق كيدو ته نزدے شوے وي۔ او ډوبو راخستے وي نو هغه هر شي او هر لرګے او كبلو ته لاس اچوي، پدے اميد چه بچ به شي۔ او داسے وي لكه يو تن چه پناهي طلب كوي او تيز آوازونه او فريادونه كوي چه څوك ئے رابچ كړي۔

الْمُتَغَوِّثِ : متغوث : مدد طلب كونكے، پناهي طلب كونكے۔

أَوْ صَدِيْقٍ : دا كسان ئے ذكر كړل ځكه چه د دوئ نه د مدد اميد ساتلے شي او د دعاء او استغفار طمع د دوئ نه د نورو په نسبت زياته لرلے شي۔ او دلته ئے (ولد) ذكر نكړو ځكه

چه هغه خو په نورو احاديثو کښې معلوم شويدي.
نـو ددې وجـه نـه مـونږ هم د خپلو لوستونکو احبابو نه د دعاء او استغفار اميد ساتو.
واجركم على الله. غَفَرَ اللّٰهُ لَنَا وَإِيَّاكُمْ فِي الْقُبُوْرِ وَيَوْمَ النُّشُوْرِ يَوْمَ لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُوْنُ.
فَإِذَا لَحِقَتْهُ : أَيْ وَصَلَتْهُ الدَّعْوَةُ. يعنى كله چه هغهٔ ته دعا ورسيږي.
حـافـظ ابـن حـجـرؒ وائـي : هركله چه بنده د مړي دپاره دعاء شروع كړي نو سمدست ور رسيږي. ولله الحمد على ذلك.
مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا : يـعـنـي كه دنيا ته واپس كړې شي او د هغې خوندونو ته، نو د هغې نه ورته دا دعاء اُوس ډيره محبوبه ده.
مِنْ دُعَاءٍ : مِنْ تعليليه دې، (د وجه د دعاء د ژوندو انسانانو نه). يا من ابتدائيه دې.
أَمْثَالَ الْجِبَالِ : يعنى د غرونو په شان رحمت او مغفرت كه چرته هغه مجسم شي.
او دا روايت اګركـه ضعيف دې ليكن نور دلائل شته لكه [دَعْوَةُ الْمَرْءِ الْمُسْلِمِ لِأَخِيْهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ مُسْتَجَابَةٌ عِنْدَ رَأْسِهِ مَلَكٌ مُوَكَّلٌ كُلَّمَا دَعَا لِأَخِيْهِ بِخَيْرٍ قَالَ الْمَلَكُ الْمُوَكَّلُ بِهٖ آمِيْنَ وَلَكَ بِمِثْلٍ] [مسلم :٧١٠٥] وغيره، چه د مسلمانانو يو بل ته دعاګانې زر قبليږي.
درجة الحديث : اسـنـاده ضـعيف جـدا ومـنـكـر، اخـرجـه البيهقي في شعب الايمان (٩٢٩٥) والـديـلـمـي في مسند الفردوس (٢٤/٥) وفي اسناده محمد بن جابر المصيصي مـجـهـول وخبـره منكر جدا) وفيه الحسن بن على بن الواحد قال الذهبي : حدث عن هشام بن عمار بحديث باطل، (تخريج احاديث الاحياء (٢٥٥/٥)

- 2356(34) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ بُسْرٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: " طُوْبٰى لِمَنْ وَجَدَ فِيْ صَحِيْفَتِهٖ اِسْتِغْفَارًا كَثِيْرًا ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه وَرَوَى النَّسَائِيُّ فِيْ "عَمَلِ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ "

ترجمه : او عبد الله بن بسر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : خوشحالي دې وي هـغـه چـا لـره چـه پـه خپله عملنامه كښې ډير استغفار (بخښه طلب كول) ومومي. (ابن ماجهٔ، او نسائيؒ په عمل اليوم والليلة كښې روايت كړيدې).
تشريح : طُوْبٰى : دا راحت او مزيدار ژوند ته وائي. يا ښه حالت او خوشحاله ژوند دې،

یا په جنت کښې مشهوره ونه ده چه د هغې د سورې لاندې سل کاله مزل دې او د جنتیانو جامې به د هغې د کخوړو نه راوځی، یا د جنت نوم دې۔
وَجَدَ : یعنی په آخرت کښې ئې په خپله عملنامه کښې زیات استغفار وموندو۔ او وَجَدَ لفظ ځکه ذکر کوی چه پدې کښې اخلاص ته اشاره ده، ځکه چه بې اخلاصه استغفار په آخرت کښې نهٔ مُوندې کیږی بلکه هغه هَبَاءً مَنْثُوْرًا ګرځی۔
او د یو روایت نه معلومیږی چه دا استغفار به یوه رڼا وی چه ددهٔ په عملنامه کښې به پړقیږی۔ او په یو بل روایت کښې دی [وَلَیْسَ شَیْءٌ أَنْجَحَ مِنْهُ] چه بل هیڅ شے به ددې نه زیات کامیابونکے نهٔ وی۔
(التیسیر بشرح الجامع الصغیر للمناویؒ ٢/٢٣٥)
ابو المنهالؒ وئیلی دی : [مَا جَاوَرَ عَبْدٌ فِیْ قَبْرِهٖ مِنْ جَارٍ اَحَبَّ اِلَیْهِ مِنِ اسْتِغْفَارٍ کَثِیْرٍ]۔
په قبر کښې د بنده سره د زیات استغفار نه بل ډیر غوره ګاونډی نشته)
(جامع العلوم والحکم)۔
درجة الحدیث : إسناده صحیح، أخرجه ابن ماجه (٣٨١٨) وأبو نعیم فی الحلیة واحمد فی الزهد عن أبی الدرداء وهو فی صحیح الجامع الصغیر (٣٩٣٠) .

- 2357 (35) وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَقُوْلُ : " اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ مِنَ الَّذِيْنَ إِذَا أَحْسَنُوْا اِسْتَبْشَرُوْا وَإِذَا أَسَاؤُوْا اِسْتَغْفَرُوْا ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه وَالْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعَوَاتِ الْكَبِيْرِ.

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی : بیشکه نبی کریم ﷺ به فرمایل : اے الله ! ما د هغه کسانو نه وګرزوه چه کله هغوی نیکی وکړی خوشحاله شی او کله چه بدی وکړی بخښنه وغواړی۔ (ابن ماجهؒ او بیهقی په دعواتِ کبیر کښې روایت کړیدے)
تشریح : اِسْتَبْشَرُوْا : یعنی په توفیق د نیك عمل باندې خوشحالی کوی۔
اِسْتَغْفَرُوْا : د اسائة په مقابله کښې حزن (خفګان) استعمالیږی لیکن دلته ئې استغفار ذکر کړو اشاره ده چه ګناه کول بیماری ده او استغفار ئې دوائی ده۔
نو پدې حدیث کښې امت ډیاره تعلیم دے چه دوئ ډې ځان ډپاره استغفار لازم ونیسی۔

ورنه رسول الله ﷺ خو د هر چا نه زيات متقي او زيات اُوچت انسان دے۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف، اخرجه احمد (٦/١٢٩) (٦/١٨٨) واخرجه ابن ماجه (٣٨٢٠) وفي اسناده علي بن زيد، وفي البيهقي وهو في ضعيف الجامع الصغير (١١٦٨).

2358 - (36) وَعَنِ الْحَارِثِ بْنِ سُوَيْدٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُوْدٍ حَدِيْثَيْنِ: أَحَدُهُمَا عَنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ وَالآخَرُ عَنْ نَفْسِهِ قَالَ: إِنَّ الْمُؤْمِنَ يَرٰى ذُنُوْبَهُ كَأَنَّهُ قَاعِدٌ تَحْتَ جَبَلٍ يَخَافُ أَنْ يَقَعَ عَلَيْهِ وَإِنَّ الْفَاجِرَ يَرٰى ذُنُوْبَهُ كَذُبَابٍ مَرَّ عَلٰى أَنْفِهِ فَقَالَ بِهِ هٰكَذَا أَيْ بِيَدِهِ فَذَبَّهُ عَنْهُ ثُمَّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ: " لَلّٰهُ أَفْرَحُ بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ الْمُؤْمِنِ مِنْ رَجُلٍ نَزَلَ فِيْ أَرْضٍ دَوِّيَّةٍ مَهْلَكَةٍ مَعَهُ رَاحِلَتُهُ عَلَيْهَا طَعَامُهُ وَشَرَابُهُ فَوَضَعَ رَأْسَهُ فَنَامَ نَوْمَةً فَاسْتَيْقَظَ وَقَدْ ذَهَبَتْ رَاحِلَتُهُ فَطَلَبَهَا حَتّٰى إِذَا اشْتَدَّ عَلَيْهِ الْحَرُّ وَالْعَطَشُ أَوْ مَا شَاءَ اللهُ، قَالَ: أَرْجِعُ إِلٰى مَكَانِيَ الَّذِيْ كُنْتُ فِيْهِ فَأَنَامُ حَتّٰى أَمُوْتَ، فَوَضَعَ رَأْسَهُ عَلٰى سَاعِدِهِ لِيَمُوْتَ فَاسْتَيْقَظَ فَإِذَا رَاحِلَتُهُ عِنْدَهُ، عَلَيْهَا زَادُهُ وَشَرَابُهُ فَاللّٰهُ أَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ الْعَبْدِ الْمُؤْمِنِ مِنْ هٰذَا بِرَاحِلَتِهِ وَزَادِهِ ". رَوٰى مُسْلِمٌ الْمَرْفُوْعَ إِلٰى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ مِنْهُ فَحَسْبُ وَرَوَى الْبُخَارِيُّ الْمَوْقُوْفَ عَلَى ابْنِ مَسْعُوْدٍ أَيْضًا.

ترجمه : او حارث بن سُوَيدٌ فرمائي : مونږ ته عبد الله بن مسعود ﷺ دوه حديثونه بيان کړل، يو ئے د رسول الله ﷺ نه او بل ئے د خپل ځان نه۔ وے فرمايل : مؤمن ګناهونه داسے ويني ګويا کښې دے د يو غر لاندے ناست دے، يرېږي چه غر به پرے راپرے وزي او بد عمله خپل ګناهونه ويني لکه چه يو مچ دده په پوزه باندے تير شي نو دے ورته داسے يعني په لاس سره اشاره وکړي او د هغے نه ئے وشړي۔ بيائے وفرمايل : ما د رسول الله ﷺ نه آوريدلي دي چه فرمايل ئے : خامخا الله تعالىٰ د خپل مؤمن بنده په توبه باندے د هغه سړي نه هم زيات خوشحاليږي چه هغه په داسے زمکه پړاؤ واچوی چه شاړه وی، هلاکونکے وی، د هغهٔ سره اُوښه وی، چه په هغے باندے دده خوراك او څکاك وی نو دے سر کيږدی، او لږ شان اُودهٔ شي نو رابيدار شي په داسے حال کښې چه

ددۀ نه اُوښه تللې وي، نو دے هغه طلب کړې تردے چه کله په دۀ باندے ګرمي او تنده سخته شي یا هغه څه چه الله ئے غواړي نو دے ووائي : زۀ به واپس شم خپل هغه ځای ته چه په هغے کښې وم پس اُودۀ به شم تردے چه مړ شم نو دے خپل سر په خپل مټ باندے کیږدي دے دپاره چه مړ شي نو (لږ وخت پس) رابیدار شي نو ناڅاپه ددۀ اُوښه ددۀ په خوا کښې (ولاړه) وي، په هغے باندے ددۀ توښه او اُوبۀ وي، نو الله تعالیٰ د مؤمن بنده په توبه باندے ډیر خوشحالیږي ددے سړي نه په خپله اُوښه او توښه باندے. او امام مسلمؒ ددے نه صرف رسول الله ﷺ پورے مرفوع روایت کړیدے، او امام بخاریؒ صرف د ابن مسعود ؓ پورے موقوف روایت کړیدے.

تشریح : الحارث بن سوید : تیمي دے، د بني تیم الرباب نه دے، ابو عائشة الکوفي دے. ثقه ثبت من کبار التابعین.

تَحْتَ جَبَلٍ : غرئے ذکر کړو ځکه چه څوك د غر نه لاندے راشي نو غالباً د هغے نه خلاصیدل ممکن نۀ وي. نو په مؤمن باندے خوف دومره غلبه کړې وي چه په هغے سره ئے ایمان مضبوط شوے وي نو ګناه ورته بیخي هلاکونکے شے ښکاره کیږي.

او زړۀ ئے ډیر روښانه وي نو کله چه رنړا ختمونکے شے ویني نو ډیره خطره ترے محسوس کوي. (ابن ابي جمرةؒ)

او دا د هغه مؤمن شان دے چه همیشه په یره او مراقبه کښې وي او خپل نیك عمل معمولي ګڼړي او د خپل وړوکي بد عمل نه یره کوي. (کذا في الفتح)

ثُمَّ قَالَ : مناسبت د مرفوع او د موقوف حدیث دا دے چه مخکښے ئے د ګنا هګار ناکاره حالت ذکر کړو نو اُوس اشاره کوي چه ددے نه د خلاصئ ذریعه توبه او الله تعالیٰ ته رجوع ده. (طیبيؒ)

دَوِّيَّةٍ : د دَوٌّ نه دے. شاړے، خالي زمکے ته وائي. یعني هغه صحراء چه هیڅ ګیاه پکښې نۀ وي.

مَهْلَكَةٍ : په فتحه د میم او لام سره. ځای د هلاکت، یا هلاکت ته وائي.

او په یو روایت کښې (مُهْلِكَةٍ) په صیغه د اسم فاعل سره دے. یعني هلاکونکے.

أَوْ مَا شَاءَ اللهُ : أَيْ مِنَ الْعَذَابِ وَالْبَلَاءِ. یعني هغه چه الله ئے غواړي د عذاب او مصیبتونو نه.

ظاهر دا ده چه (اَوْ) په معنىٰ د واو سره دے، او دا تعميم بعد التخصيص دے۔
مَكَانِيَ الَّذِيْ كُنْتُ فِيْهِ : خپل ځاى ته ځكه واپس كيږى چه امكان شته چه اُوبنه ورته بيرته راواپس شى، ځكه چه د دغه ځاى سره د اول نه اموخته وه۔
درجة الحديث : اخرجه البخارى (٥٩٤٩) ومسلم (٦٨٨٧)

- 2359(37) وَعَنْ عَلِيٍّ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:" إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْعَبْدَ الْمُؤْمِنَ الْمُفَتَّنَ التَّوَّابَ "

ترجمه : او جناب على ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ وفرمايل : يقيناً الله تعالىٰ هغه مؤمن بنده سره مينه كوى چه په گناه كښ اخته كيږى او زر توبه ويستونكے وى۔
تشريح : اَلْمُفَتَّنَ : اَيِ الْمُمْتَحَنَ بِالذَّنْبِ ۔ يعنى چه گناهونو كښے مبتلا او اخته كيږى۔ يا په غفلتونو سره مبتلا كيږى۔ يعنى الله تعالىٰ ته هغه بنده محبوب دے چه گناهونه ترے كيږى او بيا زر الله تعالىٰ ته راواپس كيږى او توبے وباسى۔
دا حديث صريح دليل دے چه توبه صحيح ده اگركه انسان گناه ته دوباره واپس شوے وى۔
نو پدے كښ رد دے په هغه چا چه وائى چه د توبے د صحت دپاره دا شرط دے چه دوباره به گناه نۀ كوى، او كه بيرته گناه ته واپس شو نو ښكاره شوه چه مخكنۍ توبه ئے باطله وه۔ دا خبره قاضى ابو بكر الباقلانىؒ ته منسوب ده، ليكن صحيح نۀ ده۔
درجة الحديث : اسناده ضعيف جدًّا شِبْهُ مَوْضُوْعٍ، اخرجه احمد فى المسند (٦٠٦) وهو فى ضعيف الجامع الصغير (١٧٠٥) والسلسلة الضعيفة (٩٦) ابوعمرو البجلى لا يحل الاحتجاج به (ابن حبان) وعبد الملك بن سفيان الثقفى مجهول.

- 2360(38) وَعَنْ ثَوْبَانَ ﷺ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ : " مَا أُحِبُّ أَنَّ لِيَ الدُّنْيَا بِهٰذِهِ الْآيَةِ (يَا عِبَادِيَ الَّذِيْنَ أَسْرَفُوْا عَلٰى أَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا) الْآيَةَ " فَقَالَ رَجُلٌ : فَمَنْ أَشْرَكَ ؟ فَسَكَتَ النَّبِيُّ ﷺ ثُمَّ قَالَ : " أَلَا وَمَنْ أَشْرَكَ "ثَلَاثَ مَرَّاتٍ.

ترجمه : او جناب ثوبان ﷛ فرمائي : ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمايل ئے : زما نۀ ده خوښه چه ما ته دِے ددے آيت په بدله کښے ټوله دنيا حاصله شي : (يا عبادى الخ اے زما بندګانو ! هغه کسان چه زياتے ئے کړيدے په خپلو ځانونو، مۀ نا اميده کيږئ د الله تعالىٰ د رحمت نه، يقيناً الله تعالىٰ ټول ګناهونه معاف کوى)۔ نو يو سړى ووئيل : چا چه شرك کړے وى ؟ نو نبى کريم ﷺ غلے شو بيا ئے وفرمايل : خبر شئ او چا چه شرك کړے وى۔ (هغۀ ته هم معافى کوى په توبه سره) درے کرته ئے دا خبره وکړه۔

تشريح : علامه شوكانيؒ وائي : [هٰذِهِ الآيَةُ أَرْجَى آيَةٍ فِي كِتَابِ اللّٰهِ]
دا آيت په قرآن کريم کښے ډير د اميد آيت دے، ځکه چه په لوى بشارت باندے مشتمل دے، ځکه چه په اول کښے ئے نسبت د عبادو خپل ځان ته وکړو دپاره د شرافت د دوئ او د زيات خوشحالولو د دوئ۔

بيا ئے د هغوى اسراف د ګناهونو ذكر کړے بيا ئے د نا اميدئ د رحمت نه منع کړيدى، نو غير مسرفين ګناهګار خو په طريق اولىٰ سره د نا اميدئ نه منع شويدى۔

بيا ئے روستو هغه جمله ذكر کړيده چه هيڅ شك ئے نۀ دے پريخودے (إِنَّ اللّٰهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا) چه الله ټول ګناهونه معاف کوى۔

علامه طيبيؒ وائي : دا ډير د اميد آيت دے دے وجه نه وحشى ﷛ (د حمزه ﷛ قاتل) همدے آيت ته اطمينان حاصل کړے وو او په اسلام باندے مشرف شو۔

فَمَنْ أَشْرَكَ ؟ : يعنى چا چه شرك کړے وى آيا هغه پدے آيت کښې داخل دے او که نۀ ؟

فَسَكَتَ : يعنى د الله سره ئے ادب کولو او د هغۀ د امر او وحى انتظارئے کولو۔

أَلا : حرف تنبيه ده۔

وَمَنْ أَشْرَكَ : يعنى مشرك هم معاف کوى خو چه توبه وباسى۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : احمد فى المسند (٢١٨٥٧) وهو فى ضعيف الجامع الصغير (٤٩٨٠) وفيه ابن لهيعة .

- 2361 (39) وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ ﷛ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: " إِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى لَيَغْفِرُ لِعَبْدِهٖ مَا لَمْ يَقَعِ الْحِجَابُ ". قَالُوْا: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! وَمَا الْحِجَابُ ؟ قَالَ : " أَنْ تَمُوْتَ النَّفْسُ وَهِيَ مُشْرِكَةٌ " رَوَى الْأَحَادِيْثَ الثَّلَاثَةَ أَحْمَدُ وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَخِيْرَ فِيْ كِتَابِ الْبَعْثِ

وَالنُّشُوْرِ ـــــــــــــــــــــــ

ترجمه : او جناب ابوذر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : يقيناً الله تعالىٰ خامخا بنده ته بخښنه كوي ترڅو چه حجاب (پرده) نۀ وي واقع شوي ؟ صحابه كرامو عرض وكړو اے د الله رسوله ! او پرده څه شے دے؟ وے فرمايل : دا چه يو نفس مړ شي په داسے حال كښې چه هغه شرك كونكے وي. (دا دريے واړه حديثونه امام احمدؒ روايت كړيدي او امام بيهقيؒ اخيري حديث په كتاب البعث والنشور كښې روايت كړيدے).

تشريح : لَيَغْفِرُ لِعَبْدِهٖ : لام تاكيدي دے، يعنى الله بخښي د خپل بنده دپاره كوم گناهونه چه وغواړي. ترڅو پورے چه ددۀ او د الله د رحمت ترمينځ پرده واقع نشي چه هغه شرك دے. نو شرك د الله تعالىٰ او د بنده ترمينځ حجاب دے، بنده الله تعالىٰ ته د شرك سره بيخي نشي رسيدے.

درجة الحديث : إسناده ضعيف : اخرجه احمد (٢١٠١١) لجهالة عمر بن نعيم وشيخه أسامة بن سلمان. ـــــــــــــــــــــــ

- 2362(40) وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:" مَنْ لَقِيَ اللهَ لَا يَعْدِلُ بِهٖ شَيْئًا فِي الدُّنْيَا ثُمَّ كَانَ عَلَيْهِ مِثْلَ جِبَالٍ ذُنُوْبٌ غَفَرَ اللهُ لَهٗ ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ كِتَابِ الْبَعْثِ وَالنُّشُوْرِ ـــــــــــــــــــــــ

ترجمه : او جناب ابو ذر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چه د الله تعالىٰ سره پداسے حال كښې ملاؤ شي چه د هغۀ سره په دنيا كښې هيڅ شے نۀ برابروي بيا په دۀ باندے د غرونو په شان گناهونه وي، الله تعالىٰ به ورته بخښنه وكړي. (بيهقيؒ كتاب البعث والنشور)

تشريح :مَنْ لَقِيَ اللهَ: يعنى څوك چه مړ شو.

لَا يَعْدِلُ بِهٖ : أَيْ لَا يُسَاوِيْ وَلَا يُوَازِيْ. يعنى نۀ ئے برابرول د الله سره هيڅ شے، او دا معنىٰ هم صحيح ده چه [لَا يَتَجَاوَزُهٗ اِلٰى شَيْءٍ] د الله نه بل چا ته تجاوز نۀ كوي.

مِثْلَ جِبَالٍ : دا منصوب دے خبر د كان دے او ذنوب ئے اسم دے.

غَفَرَ اللهُ لَهٗ : يعنى كه الله وغواړي نو دغه ټول گناهونه ورته معاف كولے شي. لكه (وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَاءُ) پرے دليل دے.

درجة الحديث : اسناده الغالب عليه الضعف، (قاله الالبانی) ومعناه صحيح : اخرجه البيهقی فی كتاب البعث والنشور ويؤيده حديث النواس بن سمعان : مَنْ مَاتَ وَهُوَ لَا يُشْرِكُ بِاللّٰهِ شَيْئًا فَقَدْ حَلَّتْ لَهُ مَغْفِرَتُهُ، قال الهيثمی فی المجمع (١/١٧) رواه الطبرانی فی الكبير واسناده لا بأس به، ويؤيده ايضا ما روی فی الصحيحين وغيرهما فی فضل الإيمان وكلمة الشهادة من شاء الوقوف عليه رجع الى الكنز (١/٧٣).

- 2363(41) **وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " أَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَا ذَنْبَ لَهُ ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه وَالْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ وَقَالَ تَفَرَّدَ بِهِ النَّهْرَانِيُّ وَهُوَ مَجْهُوْلٌ. وَفِيْ (شَرْحِ السُّنَّةِ) رُوِيَ عَنْهُ مَوْقُوْفًا قَالَ: أَلنَّدَمُ تَوْبَةٌ وَالتَّائِبُ كَمَنْ لَا ذَنْبَ لَهُ**

ترجمه : او جناب عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمايل : د گناه نه توبه ويستونكے په شان د هغه چا دے چه هيڅ گناه ئے نۀ وی. (دا ابن ماجۀ روايت كړيدے او بيهقیؒ په شعب الايمان كښ، او وئيلی ئے دی چه پدے باندے نهرانی تفرد كړيدے او هغه مجهول دے او په شرح السنه كښ دی : د ابن مسعود ﷺ نه موقوفا نقل دی چه هغه فرمائی : خپيمانتيا توبه ده او توبه ويستونكے په شان د هغه چا دے چه هيڅ گناه ئے نۀ وی.

تشريح : كَمَنْ لَا ذَنْبَ لَهُ : ظاهر دا ده چه گناه ئے د صحائف الاعمال نه لرے كيږی. او دا احتمال هم شته چه دا تشبيه په عدم عذاب كښ وی. (السندیؒ)

پدے كښ اختلاف دے چه آيا هغه مطيع چه گناه ئے نۀ وی كړی غوره دے د هغه عاصی نه چه الله تعالىٰ ته ئے توبه ويستلی وی، او كه دا توبه ويستونكے ترے غوره دے ؟ دوه قوله دی.

حافظ ابن القيمؒ په مدارج السالكين (١/١٦١) كښے ددے تفصيل ذكر كړيدے چه د اول قول والو دپاره ئے لس دلائل ذكر كړيدی او بلے ډلے دويم شخص ته غوره وئيلے دے كله چه د اول شخص د زياتو نيكيانو نه منكر نۀ وی.

او ددے دپاره ئے هم لس دلائل ذكر كړيدی. او دا مسئله باريكه شريفه ده نو مدارج ته

رجوع وکړه چه تا ته پدے سره بله مسئله هم ښکاره شی چه په هغے کښے هم اهل علمو اختلاف کړیدے چه بنده چه کله توبه وباسی نو آیا هغه مرتبے او درجے ته بیرته راواپس کیږی کوم چه مخکښے د گناه نه وه او که نهٔ راواپس کیږی؟۔

حافظ ابن قیمؒ وائی: چه یوه ډله وائی چه بیرته خپلے درجے ته واپس کیږی۔ ځکه چه توبه گناه بیخی ختموی او داسے ئے گرځوی لکه چه نهٔ ده شوے۔ او ددے شخص سره ایمان او عمل صالح شته نو په توبے سره هغه درجے ته راواپس کیږی۔

او دویٔ دا هم وئیلی دی چه توبه خپله یوه لویه نیکی او عمل صالح دے۔ نو کله چه په گناه سره د خپلے درجے نه خکته شو نو توبے بیرته راپورته کړو۔

او ددے مثال داسے دے لکه یو تن کوهی ته پریوزی او ددهٔ یو شفقت کونکے دوست وی، هغه رسیٔ ورزوړنده کړی چه هغه ورپورے ونخلی او بیرته خپل ځای ته راپورته شی۔ نو توبه او عمل صالح هم دغه شان نیک ملگرے دے۔

او بله ډله وائی چه خپلے درجے او حالت ته نهٔ راواپس کیږی ځکه چه دے د گناه نه مخکښے په خپل حال ولاړ نهٔ وو بلکه په ختلو کښے وو نو په گناه سره په کوزیدو کښے شو نو کله چه توبه وباسی نو دهٔ باندے دغه اندازه کم والے راځی کوم دپاره چه دے تیار وو دپاره د ترقی کولو۔ او ددے مثال د دوه سړو دے چه په یوه لاره کښے یو شان روان وی بیا یو ته څه راپیښ شی چه روستو ئے واپس کړی یا ئے اُودروی او ددهٔ ملگرے همداسے روان وی نو کله چه پاتے کیدونکے شخص د خپل ملگرے پسے مزل متواتر شروع کړی نو ددهٔ ملگرے به ددهٔ نه ډیر مخکښے تلے وی نو دے به ئے رالاندے نکړی، نو دغه شان اول شخص د ایمان او د اعمالو په قوت سره مزل کوی او څومره چه مزل ئے تیزیږی نو دغه قوت به زیاتیږی۔ او دغه ولاړ انسان چه راواپس شو ددهٔ د مزل قوت کم شو او ایمان ئے په ودریدو او واپس کیدو سره کم شو۔ بیا فرمائی:

او ما د شیخ الاسلام ابن تیمیةؒ نه آوریدلی دی چه هغهٔ به دا اختلاف ذکر کولو، بیا ئے وئیلی دی: صحیح دا ده چه بعض توبه ویستونکی خپلے درجے ته نهٔ واپس کیږی او بعض ورته بیرته واپس کیږی، او بعض داسے وی چه هغه مخکنی حالت نه هم زیات اعلیٰ ته واپس شی نو د گناه نه مخکنی حالت نه هم غوره شی او داود علیه السلام د توبے نه روستو حالت ډیر غوره شو۔

او دا په اعتبار د حالت د توبه کونکی دے او د توبے نه روستو د هغۀ د کوشش او د عزم په اعتبار سره دے۔ نو کله ئے چه د توبے نه روستو کوشش زیات وی د مخکښے په نسبت نو دے به اُوچتے درجے والا وی، او که د مخکښے په شان حالت ئے وی نو مخکنی حالت ته به واپس شی او که د مخکښ حالت نه خکته وی نو خپلے درجے ته به نۀ واپس کیږی۔ الی آخر ما قال۔

اَلنَّدَمُ تَوْبَةٌ: یعنی په گناه باندے خپیمانه کیدل پدے حیثیت سره چه گناه ده او د رب مخالفت دے، نو دا په حکم د توبه کښے دے۔ او هرچه په گناه باندے پدے اعتبار سره خپیمانه کیدل دی چه پدے سره صحت خراب شو یا مال ضائع شو، یا وخت ضائع شو نو بیا دا توبه نۀ ده۔ لکه د شرابو په څکلو پدے وجه خپیمانه شی چه مال ترے ولگیدو۔ یا ډمتوب وکړی او مال ترے ولگی نو د مال په وجه خفه وی۔

علی القاریؒ ددے معنیٰ کوی چه د توبے د لوی ارکانو نه په هغے باندے خپیمانتیا ده ځکه چه کله انسان خپیمانه شی نو بیا گناه پریدی او آینده کښے د نۀ واپس کیدو عزم وکړی وغیره۔

درجة الحديث : إسناده حسن لشواهده : اخرجه ابن ماجه (٤٢٥٠) والبيهقى فى الشعب (٧١٩٦) واحمد (١/٢٧٦، ٤٢٣، ٦٣٣) وذكر البخارى فى التاريخ الكبير (٣٤١/١/٢-٣٤٣) اسانيد كثيرة للحديث يظهر من بعضها انه رواه بعضهم موقوفا من قول ابن مسعود ولا يضر ذلك لكثرة من رفعه، ولأن الرفع زيادة ثقة فتقبل، وانظر السلسلة الضعيفة تحت رقم (٦١٥)

0000

(٥) بَابُ سَعَةِ رَحْمَةِ اللهِ

د الله تعالىٰ د رحمت فراخوالے

په بعضو نسخو کښې (بَابٌ) لفظ دے په تنوین سره۔ نو بیا پدے کښې اکثر احادیث د الله تعالیٰ د رحمت متعلق دی چه دا باعث دے په توبه باندے، او امید پیدا کونکی دی، او د نا امیدئ نه بچ کونکی دی۔

الفصل الأول

- 2364 (1) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:" لَمَا قَضَى اللهُ الْخَلْقَ كَتَبَ كِتَابًا فَهُوَ عِنْدَهُ فَوْقَ عَرْشِهِ: إِنَّ رَحْمَتِي سَبَقَتْ غَضَبِيْ ". وَفِي رِوَايَةٍ "غَلَبَتْ غَضَبِيْ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : جناب ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : هرکله چه الله تعالیٰ مخلوق پیدا کړو نو هغهٔ یو خط ولیکلو نو هغه د هغهٔ سره د عرش دپاسه دے : چه بیشکه زما رحمت زما په غضب باندے مخکښې شویدے۔ او په یو روایت کښې دی : زما په غضب باندے ئے غلبه کړیده۔ (بخاريٌ ومسلمٌ)

تشریح : قَضَى : دا لفظ په معنیٰ د خلق (پیدائش) سره دے۔ لکه په بل روایت د بخاری کښې [لَمَّا خَلَقَ اللّٰهُ الْخَلْقَ] لفظ راغلے دے۔

او مطلب دا دے چه هرکله چه الله تعالیٰ د مخلوقاتو د پیدائش اندازه وکړه او د موجوداتو د ظهور فیصله ئے وکړه۔

یا کله ئے چه د میثاق په ورځ مخلوقات پیدا کړل۔

یا کله ئے چه د دوئ د پیدائش ابتداء وکړه۔ (القاريٌ)

او قَضىٰ په ډیرو معانیو سره راځی لکه [حَكَمَ، أَتْقَنَ، وَفَرَغَ وَأَتَمَّ، وَأَمْضَى وَأَنْفَذَ]۔

یعنی فیصله ئے وکړه، مضبوط ئے وکړو، فارغ شو، پوره ئے کړو، تیرئے کړو، نافذ ئے کړو، ابن فورك اصفهانیٌ په ((مشکل الحدیث)) کښې ددے معنیٰ کړیده :

[لَمَّا حَكَمَ اللّٰهُ بِخَلْقِ مَا خَلَقَ]

يعنې هركله چه الله تعالىٰ فيصله وكړه په پيدا كولو د مخلوقاتو.

يا قضىٰ په معنىٰ د اِعْلام سره دے، لكه ﴿وَقَضَيْنَا اِلَى بَنِىْ اِسْرَائِيْلَ فِى الْكِتَابِ﴾ . أَىْ اَعْلَمْنَاهُمْ. يعنې مونږ خبر وركړے وو.

نو دلته معنىٰ دا ده چه هركله چه د الله په علم او فيصله كښې دا خبره تيره شوه چه هغه به مخلوق پيدا كوى. (مشكل الحديث وبيانه ٣٧١/١)

كَتَبَ كِتَابًا: په روايت د بخاري او مسلم كښې داسے هم شته [كَتَبَ فِىْ كِتَابِهٖ].

يعنې په لوح محفوظ كښې ئے وليكل په امر كولو سره ملائكو ته چه ليكل وكړى يا ئے قلم ته امر وكړو.

او په روايت د ترمذىّ او ابن ماجهٔ كښې دى چه [كَتَبَ بِيَدِهٖ عَلٰى نَفْسِهٖ]

په خپل لاس سره ئے په خپل ځان باندے داسے ليكل وكړل مطابق د تقاضا د وعدے خپلے.

او دا ليكل ئے ددے دپاره نهٔ دى كړى چه گنے الله تعالىٰ باندے هيره راځى بلكه دا ئے د هغه ملائكو د وجه نه وليكل چه هغوى په بندگانو باندے مكلف دى.

سوال: قلم خو هر شے ليكلے دے نو دا ليكل ئے ولے خاص ذكر كړل؟

جواب: پدے كښې كامل اُميد وركول دى، او دا خبره راښكاره كول دى چه د الله تعالىٰ رحمت هر شى ته فراخه دے په خلاف غير د الله تعالىٰ نه.

فَهُوَ: يعنې دغه ليكلے شوے كتاب.

فَوْقَ عَرْشِهٖ: د الله تعالىٰ سره د عرش دپاسه دے چه د ټول مخلوق نه پټ دے. نو د (عِنْدَهُ) مطلب هم دا دے چه الله تعالىٰ د مخلوق نه پټ ساتلے دے، او ددے حقيقت هم الله تعالىٰ ته معلوم دے. يعنې هغه د الله تعالىٰ سرهٔ په كوم كيفيت دے، ددے علم صرف الله تعالىٰ ته دے.

إِنَّ: پدے كښې اَنْ مفتوحه او مكسوره دواړه جائز دى. كه مفتوح شى نو دا به د كتاب نه بدل وى او كه مكسور شى نو ابتداء د كلام به وى چه د مضمون د كلام تشريح كوى.

رَحْمَتِىْ: ددے حديث مقصد فراخي د رحمت د الله تعالىٰ او د هغے ډير والے بيانول دى

او دا خبره چه هغه ټول مخلوق ته شامل دے۔
او پدے کښې ددے خبرے بیان دے چه بندګانو ته د الله د رحمت نه زیاته حصه ملاویږی په نسبت د غضب باندے، او رحمت بندګانو ته په غیر د استحقاق نه ملاویږی، او غضب ورته په استحقاق سره رسیږی، وګوره چه رحمت انسان ته هر حالت کښې شامل دے، خیټه کښې وی، که د تیو ماشوم وی، او که لوی وی۔
اګرکه په دغه حالت کښے به د هغوی نه هیڅ طاعت نۀ وی صادر شوے او غضب ورته نۀ رسیږی مګر هله چه ګناهونه ترے صادر شی چه د هغے په وجه مستحق د غضب وګرځی۔ (توربشتیؒ)
بعض وائی: رحمت او غضب د الله تعالیٰ صفتونه دی، او د الله تعالیٰ په صفاتو کښے په یو بل باندے غلبه راتلل نۀ وی بلکه دا په طریقه د مبالغه سره وئیل شویدے یعنی سبق او غلبه په اعتبار د تعلق سره دے، یعنی تعلق د رحمت غالب او مخکښے دے په تعلق د غضب باندے، ځکه چه رحمت د الله د ذاتِ مقدسه تقاضا ده او غضب د بنده په عمل باندے وی،
او پدے تقریر سره دا اشکال هم ختم شو چه په بعض احادیثو کښے عذاب مخکښے ذکر وی د رحمت نه لکه ګناهګار موحدین اول اُور ته داخلیږی بیا په شفاعت وغیره سره راوځی۔ (مرعاة)

- 2365(2) وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " إِنَّ لِلّٰهِ مِائَةَ رَحْمَةٍ أَنْزَلَ مِنْهَا رَحْمَةً وَاحِدَةً بَيْنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ وَالْبَهَائِمِ وَالْهَوَامِّ فَبِهَا يَتَعَاطَفُوْنَ وَبِهَا يَتَرَاحَمُوْنَ وَبِهَا تَعْطِفُ الْوَحْشُ عَلٰى وَلَدِهَا وَأَخَّرَ اللهُ تِسْعًا وَّتِسْعِيْنَ رَحْمَةً يَرْحَمُ بِهَا عِبَادَهٗ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

- 2366 (3) وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ عَنْ سَلْمَانَ نَحْوَهٗ وَفِيْ آخِرِهٖ قَالَ: " فَإِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ أَكْمَلَهَا بِهٰذِهِ الرَّحْمَةِ "

ترجمه: او ابو هریره ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله دپاره سل رحمتونه دی، چه د هغے نه ئے یو د انسانانو او پیریانو او څارپیانو او حشراتو ترمینځ نازل کړیدے، نو په هغے سره دوئ یو بل باندے نرمی کوی او په هغے سره په یو بل رحم کوی، او په

هغې سره صحرائي حيوان په خپل بچي باندې مهرباني کوي، او الله تعالیٰ نهه نوي رحمتونه روستو کړيدي چه په هغې سره به په خپلو بندګانو د قيامت په ورځ رحم کوي- (بخاريؒ ومسلمؒ) او په روايت د مسلمؒ کښې د سلمان ﷺ نه ددې په شان روايت نقل دې- او د هغې په آخر کښې داسې دي چه وې فرمايل: هرکله چه د قيامت ورځ شي (نو) هغه (نهه نوي) به پدې رحمت سره پوره کړي-

تشريح : په روايت د مسلم کښې دي چه هر رحمت د آسمان او د زمکې ترمينځ مطابق دې- او پدې سره مقصد تعظيم او تکثير دې، ځکه چه انسانانو ته ددې کائناتو نه علاوه بل مخلوق لوی نهٔ ښکاره کيږي-

او دلته د رحمت نه مراد هغه مخلوق رحمت دې چه الله تعالیٰ به ئې په خپلو بندګانو کښې تقسيموي- او بل رحمت د الله تعالیٰ صفت دې چه د هغه د ذات پورې قائم دې، نو هغه مخلوق نهٔ دې-

او ددې رحمتونو نه مراد کلي او لوی انواع د رحمت دي، نهٔ افراد د رحمت ځکه چه هغه خو بې اندازې دي-

وَالْهَوَامِّ : جمع د هَامَّةٌ ده، هر زهريله حيوان ته وائي- او کله نورو حشراتو ته وئيلې شي-

يَتَعَاطَفُوْنَ : يعني مائله کيږي په يو بل باندې-

تَعَطِفُ : د ضرب نه دې- أَيْ تَشْفِقُ وَتَحِنُّ- يعني شفقت او نرمي کوي-

يَوْمَ الْقِيَامَةِ : يعني د جنت د داخليدو نه مخکښې او روستو- پدې کښې اشاره ده چه: الله تعالیٰ فضل په خپلو مومنانو بندګانو ډير فراخه دې-

ابن ابي جمرهٔ وائي: پدې حديث کښې اِدْخَالُ السُّرُوْرِ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ دې- يعني مومنانو ته خوشحالي ورکول دي، ځکه چه عادت پدې جاري دې چه د نفس خوشحالي په تحفه باندې ډيره کامله کيږي کله چه د هغې وعده معلومه وي-

او پدې کښې په ايمان باندې تيزي ورکول دي، او د الله تعالیٰ په رحمتونو کښې اميد فراخه کول دي-

أَكْمَلَهَا : يعني ددې يو رحمت سره به دغه نهه نوي رحمتونه يو ځای کړي نو دا يو به پرې کامل کړي نو سل قسمه رحمتونه به کوي-

- 2367(4) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " لَوْ يَعْلَمُ الْمُؤْمِنُ مَا عِنْدَ اللهِ مِنَ الْعُقُوْبَةِ مَا طَمِعَ بِجَنَّتِهِ أَحَدٌ وَلَوْ يَعْلَمُ الْكَافِرُ مَا عِنْدَ اللهِ مِنَ الرَّحْمَةِ مَا قَنِطَ مِنْ جَنَّتِهِ أَحَدٌ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : كه مومن ته پته ولګی د هغه سزا چه كومه د الله تعالىٰ سره ده (نو) د هغهٔ په جنت كښې به هيڅوك طمع ونكړي او كه كافر ته معلوم شي هغه رحمتونه چه د الله سره دي (نو) د هغهٔ د جنت نه به هيڅوك نا اُميده نشي۔ (بخاريّ ومسلمّ)

تشريح : لَوْ يَعْلَمُ : تعبيرئے په مضارع سره وكړونهٔ په ماضي سره، پدے كښے اشاره ده چه مؤمن ته ددے علم د مخكښے نه نشته، او نهٔ ورته روستو ملاوېږي۔

بِجَنَّتِهِ اَحَدٌ : ددے نه مراد مؤمنان دي، يعني مؤمن به په طمع نشي نو كافران خو به په طريق اولىٰ نا اميده وي۔

او پدے كښے د زيات عقوبت بيان دے دا ددے دپاره چه مؤمن په خپلو طاعاتو باندے مغرور نهٔ شي او د الله په رحمت باندے تكيه ونكړي چه اعمال پريدي۔

نو پدے حديث كښے د الله تعالىٰ د دوه صفتونو بيان دے، چه هغه قهر او رحمت دے۔ نو مؤمن له پكار دي چه دے د اميد او د يرے ترمينځ وسيږي چه كله صفاتو د جمال ته نظر كوي او كله صفاتو د جلال ته۔

- 2368(5) وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " اَلْجَنَّةُ أَقْرَبُ إِلٰى أَحَدِكُمْ مِنْ شِرَاكِ نَعْلِهِ وَالنَّارُ مِثْلُ ذٰلِكَ ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او جناب عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : جنت يو تن ستاسو ته د څپلئ د تسمے نه (هم) زيات نزدے دے او اُور هم ددے په شان دے۔ (بخاريّ)

تشريح : شِرَاكِ : په زير د شين سره د څپلئ او بوټانو يو مزے دے كوم چه مخے ته وي۔ بعض وائي دا د څپلئ هغه ګوتمه ده چه سرے په هغے ګوته ورننباسي۔

طيبيؒ وائي : عرب د شِراكِ مثال بيانوي ځکه چه ثواب او عقاب حاصليدل په سبب د سعي د بنده سره وي او سعي په اقدامو سره کيږي۔
او پدے حديث کښے اشاره ده چه بنده به هيڅ خير او هيڅ شر ورو کے او معمولي نۀ ګنړي، څه پته لګي چه معمولي خير او نيکي د انسان دپاره د الله تعالىٰ د رحمت سبب وګرځي او معمولي شر او ګناه او غلطه خبره کله سبب د الله د غضب او سخط ګرځي۔
يا پدے کښے اشاره ده چه د جنت او د جهنم حاصليدل په سبب د عمل سره دي، او نيك او بد عمل دواړه د انسان په اختيار کښے دي او انسان ته ډير نزدے دي۔
ابن الجوزيؒ وائي : د حديث مقصد دا دے چه د جنت حاصلول آسان دي په قصد او نيت صحيح کولو او د طاعت په کولو سره، او اُور هم دغه شان دے چه د خواهش تابعداري وشي او ګناهونه وکړے شي۔

- 2369 (6) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " قَالَ رَجُلٌ لَمْ يَعْمَلْ خَيْرًا قَطُّ لِأَهْلِهِ وَفِي رِوَايَةٍ : أَسْرَفَ رَجُلٌ عَلٰى نَفْسِهِ فَلَمَّا حَضَرَهُ الْمَوْتُ أَوْصٰى بَنِيْهِ إِذَا مَاتَ فَحَرِّقُوْهُ ثُمَّ اذْرُوْا نِصْفَهُ فِي الْبَرِّ وَنِصْفَهُ فِي الْبَحْرِ فَوَ اللهِ لَئِنْ قَدَرَ اللهُ عَلَيْهِ لَيُعَذِّبَنَّهُ عَذَابًا لَا يُعَذِّبُهُ أَحَدًا مِنَ الْعَالَمِيْنَ فَلَمَّا مَاتَ فَعَلُوْا مَا أَمَرَهُمْ فَأَمَرَ اللهُ الْبَحْرَ فَجَمَعَ مَا فِيْهِ وَأَمَرَ الْبَرَّ فَجَمَعَ مَا فِيْهِ ثُمَّ قَالَ لَهُ :لِمَ فَعَلْتَ هٰذَا ؟ قَالَ : مِنْ خَشْيَتِكَ يَا رَبِّ وَأَنْتَ أَعْلَمُ فَغَفَرَ لَهُ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او جناب ابو هريره ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ وفرمايل : يو سړي وويل چه هغۀ هيڅ نيك عمل نۀ وو کړے خپل اهل ته (ئے وويل) او په يو روايت کښے دي : يو سړي د خپل ځان سره زياتے کړے وو نو هرکله چه هغۀ ته مرګ رانزدے شو نو خپلو زامنو ته ئے وصيت وکړو چه کله دے مړ شي نو دے په اُور وسيزئ بيا د هغۀ نيمائي (ذرات) په اُوچه کښے او نيمائي په درياب کښ والوزوئ، ځکه چه قسم په الله که چرے الله تعالىٰ په دۀ باندے قادر شو نو خامخا داسے عذاب به ورکړي چه د مخلوقاتو نه هيڅ يو تن ته به ئے داسے عذاب نۀ وي ورکړے، نو هرکله چه هغه مړ شو، زامنو ئے هغه څه وکړل چه هغۀ ورته حکم کړے وو نو الله تعالىٰ درياب ته حکم وکړو نو هغۀ راجمع کړل

هغه ذرات چه په هغې کښې وو او اُوچې ته ئې حکم وکړو نو هغې راجمع کړو هغه څه چه په هغې کښې وو، بیائې هغهٔ ته ووېل: دا کار دِې ولې کړې وو؟ هغهٔ ووېل: ستا د یرې د وجه نه اې زما ربه، او تهٔ ښه پوهه ئې. نو هغهٔ ته ئې بخښه وکړه. (بخاريّ ومسلمٌ)

تشریح: قَالَ رَجُلٌ: د بخاريّ د روایت نه معلومیږی چه دا سړې په بني اسرائیلو کښې وو. او ابو عوانهٔ د ابوبکر صدیق ﷺ نه روایت کړیدے چه دا سړې د جهنم نه د راوتونکو نه آخری شخص دے او جنت ته آخری داخلیدونکے شخص دے.

سُهَیلیؒ وائی چه ددے شخص نوم (هَنَّاد) وو.

لَمْ یَعْمَلْ: دا صفت د رجل دے. یعني داسے سړے چه د اسلام نه روستو ئې هیڅ نیک عمل نهٔ وو کړے، صرف عقیده ئې د توحید وه.

حَضَرَهُ الْمَوْتُ: یعنی دے په خپله کوتاهئ باندے پریدو نو خپل اهل ته ئې حکم وکړو چه ما د مرګ نه روستو وسیزئ.

او په روایت کښې راغلی دی چه دا شخص نباش وو. (یعنی د مړو کفنونه به ئې غلا کول) او په حدیث د بخاری کښې دی: دهٔ ته چه کله مرګ حاضر شو نو څامنو ته ئې ووېل چه زهٔ ستاسو څنګه پلار یم؟ هغوی ووېل: بهترین پلار. نو هغهٔ دغه خبره وکړه.

فَحَرِّقُوْهُ: علامه باجيؒ وائی: دا کارئې د دوه وجو نه کولو.

یو دا چه تیختهٔ ئې کوله اګرکه ددهٔ دا عقیده وه چه دے د الله نه نشی فوت کیدے، لکه چه یو تن د زمری مخے ته تیختهٔ کوی سره د عقیدے د هغهٔ نه چه د هغهٔ نه په منډه سره نشی فوت کیدے، لیکن همدائې وس وی.

دویم دا چه دا کارئې د الله تعالیٰ د یرے د وجه نه کولو، او هغهٔ ته ئې تذلل (عاجزی) او د هغهٔ نه د امید په طور کولو چه کیدے شی چه دا به سبب د هغهٔ د رحمت او مغفرت وګرځی، او کیدے شی چه دا کار د هغهٔ په ملت کښې مشروع وو.

ثُمَّ اذْرُوْا: دا د ذَرٰی یَذْرُوْ ذَرْوًا او ذَرْیًا نه دے. آلوزول او شیندل.

لَئِنْ قَدَرَ اللّٰهُ عَلَیْهِ: دا د قَدْر نه دے په معنیٰ د تضییق (تنګی راوستلو) سره، لکه ﴿فَظَنَّ اَنْ لَّنْ نَّقْدِرَ عَلَیْهِ﴾ (الانبیاء: ۷۸) یا په معنیٰ د قضاء (تقدیر او فیصلے) سره دے. او د قدرت او استطاعت نه نهٔ دے.

پدے حدیث کښې دا اشکال کیږی چه ددے سړی ددے کار او ددهٔ د خبرے نه دا

معلومیږي چه دے په بعث او احیاء باندے د الله په قدرت کښے شکي وو، او د الله په قدرت باندے شك کول کفر دے، او حال دا چه په آخر د حدیث کښ ئے وئیلي دي چه (خَشْيَتُكَ) ستا د یرے د وجه نه مے دا کار کړیدے او بخنه ورته شویده۔
او کافر د الله نه نۀ یریږي او نۀ هغۀ ته بخنه کیږي۔
نو ددے اشکال مختلف جوابونه شویدي :
(١) اول **جواب** : دلته د (قَدَرَ الله) نه مراد تنګي راوستل دي لکه چه مخکښے بیان شو۔ یعني که الله په دۀ تنګي راوسته او په حساب کښے ئے ورسره مناقشه او سختي وکړه۔
(٢) یا معنیٰ دا ده : [لَئِنْ قَدَرَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْعَذَابَ اَیْ قَضٰی]
یعني که الله فیصله وکړه په دۀ باندے د عذاب۔ او پدے وخت کښ قدر لفظ په تشدید او تخفیف دواړو سره صحیح دے۔
لیکن دا دواړه تاویلات د سیاق سره مناسب نۀ دي ځکه چه په روایت د احمد (٤٤٧/٤) (وج٥/٣،٤) کښ داسے الفاظ دي :
ثُمَّ اذْرُوْنِیْ فِی الرِّیْحِ لَعَلِّیْ اَضِلُّ اللّٰهَ۔
(یعني ما په هوا کښے والوزوئ شاید چه زۀ به د الله نه ورك او غائب شم)۔
دا دلیل دے چه قَدَرَ د قدرت نه دے او په خپله ظاهري معنیٰ دے۔
نو بیا بعض داسے تاویلات کوي : (٣) چه ددے سړي مقصد پدے وصیت سره دا وو چه زما اجزاء په اُوچه او دریاب کښے تس نس کړئ چه د هغے راغونډول مستحیل (نا ممکن) وي او قدرت د نا ممکن شي پورے نۀ متعلق کیږي، نو ددے وجه نه ئے (لَئِنْ قَدَرَ اللهُ) لفظ استعمال کړو۔
نو ددے نه ددے خبرے نفي نۀ کیږي چه ګنے دے د الله د قدرت نه منکر وو یا ئے شك وو چه پدے کافر حساب شي ځکه چه دۀ قدرت په ممکن باندے نۀ دے نفي کړے۔
بلکه غیر مستحیل شے ئے مستحیل فرض کړو چه ددۀ په نیز دا نۀ وو ثابت چه ګنے دا خبره په دین کښ ضروري ده، او دا کار کفر نۀ دے۔
(٤) بعض وائي : دے سړي دا خیال وکړو چه کله دے دا کار وکړي نو پدے سره به دے پریخودے شي او راپورته به نکړے شي او عذاب به ورنکړے شي۔ او هرچه ددۀ تلفظ دے

پدے قول : (لَئِنۡ قَدَرَ اللّٰهُ) يا (لَعَلِّیۡ اَضِلُّ اللّٰهَ)
نو دا پدے وجه دے چه دا پدے خبره ناپو هه وو۔
امام خطابیؒ وائی : دے د بعث نه منکر نهٔ وو لیکن جاهل وو، نو دهٔ گمان وکړو چه کله دے دا کار وکړی نو دے به نهٔ شي راواپس کیدے نو عذاب به نهٔ ورکړے کیږی او ددهٔ ایمان ښکاره شویدے په سبب د اقرار ددهٔ ددے خبرے چه دهٔ دا کار د الله د خشیت او یرے د وجه نه کړیدے۔ او جهالت په داسے مقام کښ عذر دے۔
(٥) بعض وائی : دا د فَتۡرَة د زمانے خبره ده چه په هغه وخت کښے چونکه هیڅ نبی نهٔ وو او په هغے کښے صرف په توحید باندے ایمان او عقیده لرل د نجات دپاره کافی وو، پدے وجه دداسے قسم شك او شبهے د اظهار په وجه کفر نهٔ لازمیږی او نهٔ پدے سره په ابدی نجات باندے څه اثر پریوتلو۔
(٦) پدے کښ غوره خبره او ظاهر د حدیث دا دے چه دهٔ باندے د مرگ هیبت دومره زیات وو چه دے ئے په دهشت او حیرانتیا کښے اچولے وو او ددهٔ عقل ئے اخستے وو، نو دے په صحیح الفاظو وئیلو باندے قادر نشو نو په جلتئ سره ترے پریوتے خبره راووته او خبره ئے د هغه چا په شان وکړه چه هغه ئے د حقیقت عقیده نهٔ وی ساتلی۔
(نو دهٔ هم دا الفاظ وویل چه د حقیقی معنیٰ قصد کونکے نهٔ وو)
او دا داسے دے لکه یو تن چه د سختے خوشحالئ د وجه نه داسے وئیلی وو (اَللّٰهُمَّ اَنۡتَ عَبۡدِیۡ وَاَنَا رَبُّكَ) نو دهٔ په خپل کلام کښ سوچ ونکړو لکه د غافل او ناسی (هیره ونکی) په شان شو نو دے پدے خبره باندے نهٔ رانیولے کیږی۔
علی القاریؒ وائی : همدا خبره ظاهر د حدیث دے لکه روستو راغلی دی [لِمَ فَعَلۡتَ؟ قَالَ : مِنۡ خَشۡيَتِكَ يَارَبِّ وَاَنۡتَ اَعۡلَمُ) او حافظ ابن حجرؒ دے ته اظهر الاقوال وئیلے دے۔
(مرعاة وفتح الباری)
فَجَمَعَ مَا فِيۡهِ : یعنی راجمع ئے کړل اجزاء ددے سړی۔
ابن عقیلؒ وئیلی دی چه دا ټول کارونه به په آخرت کښ کیږی لیکن په دنیا کښ ترے الله تعالیٰ د مخکښ نه خبر ورکړو څکه چه سوزول او تفریق ددهٔ په جسد باندے واقع شویدے او جمع والے او دوباره واپسی به ئے د بعث په وخت وی۔
نو پدے کښ رد دے په قول د هغه چا چه وائی چه الله تعالیٰ ددهٔ روح ته خطاب وکړو، دا

خبره د (فَجَمَعَهُ اللهُ) (يعنى الله راجمع كړو) د الفاظو خلاف ده. (مرعاة)
مِنْ خَشْيَتِكَ : ابن عبد البرّ وائى : دا دليل دے ددے سرى د ايمان، ځكه چه خشيت د مؤمن بلكه د عالِم دپاره وى. او دا ناممكن ده چه د الله نه ويريږى هغه څوك چه په هغهٔ باندے ايمان نهٔ لرى.
او دا حديث دليل دے چه خشيت د انسان ډير اعلىٰ مقام دے، ډا وجه ده چه د مرګ د علاماتو د حضور په وخت كښې هم سبب د ګناهونو د رژيدو او د مغفرت وسيله وګرځيده.

- 2370(7) وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ﷺ قَالَ: قَدِمَ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ سَبْيٌ فَإِذَا امْرَأَةٌ مِنَ السَّبْيِ قَدْ تُحَلَّبُ ثَدْيُهَا تَسْعٰى إِذَا وَجَدَتْ صَبِيًّا فِي السَّبْيِ أَخَذَتْهُ فَأَلْصَقَتْهُ بِبَطْنِهَا وَأَرْضَعَتْهُ فَقَالَ لَنَا النَّبِيُّ ﷺ: أَتُرَوْنَ هٰذِهِ طَارِحَةً وَلَدَهَا فِي النَّارِ ؟ " فَقُلْنَا :لَا، وَهِيَ تَقْدِرُ عَلٰى أَنْ لَا تَطْرَحَهُ فَقَالَ : " لَلّٰهُ أَرْحَمُ بِعِبَادِهِ مِنْ هٰذِهِ بِوَلَدِهَا ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او جناب عمر بن خطاب ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ ته قيديان راغلل نو اچانك د قيديانو نه يوه ښځه وه چه د هغے د سينے پئ بهيدل منډے ئے وهلے نو ناڅاپه هغے يو ماشوم په قيديانو كښے ومونډو، هغه ئے راپورته كړو او د خپلے خيټے سره ئے جوخت كړو او تے ئے وركړو. نو مونږ ته نبى كريم ﷺ وفرمايل : آيا تاسو پدے ګمان كوئ چه دا به خپل بچے اُور ته وغورزوى ؟ نو مونږ ووېل : نه، كله چه دا پدے قادره وى چه هغه ونهٔ غورزوى. نو رسول الله ﷺ وفرمايل : خامخا الله تعالىٰ په خپلو بندګانو باندے ډير رحم والا دے ددے نه په خپل بچى باندے. (بخاريؒ ومسلمؒ)
تشريح : سبى : دا فاعل دے د قدِم دپاره. او دا قيديان د هوازن قبيلے نه وو، په غزا د حنين كښے نيولے شوى وو.
تُحَلَّبُ ثَدْيُهَا : ثَدْيُهَا فاعل دے د تُحَلَّبُ. اَىْ سَالَ لَبَنُ ثَدْيِهَا.
يعنى د سينے پئ ئے بهيدل د وجه د ډير والى نه ځكه بچے ورسره نهٔ وو.
حافظ ابن حجرؒ وائى : [اَىْ تَهَيَّأً لِأَنْ يُحْلَبَ]. يعنى تيار وو دے ته چه پئ ترے وبهيږى.
تَسْعٰى : د خپل بچى په طلب كښے ئے منډے وهلے.

إِذَا وَجَدَتْ: كله چه مونده كړي ماشوم په ماشومانو د قيديانو كښې نو راخلي به ئې، ځكه چه د پيوو د راجمع كيدو نه په تكليف كښې وه۔ نو دلته په روايت كښې اختصار دے، او تقدير داسې دے: نو دے خپل ماشوم ومونډلو [فَأَلْصَقَتْهُ] نو بيا ئې هغه د خپلې خيټې سره رانژدے كړو، د وجه د زيات محبت او خوشحالئ نه د هغهٔ په پيدا كولو۔

أَتُرَوْنَ: دا په ضمه د تاء سره په معنىٰ د ګمان سره دے۔

وَهِيَ تَقْدِرُ: يعنى په خپله خوښه سره به ئې هيڅكله ونهٔ غورزوى۔

على القاريؒ وائى: واو حاليه دے او د حال فائده دا ده چه كه دا زنانه مجبوره شوه ممكن ده چه دا وغورزوى او الله تعالىٰ خو د مجبورتيا نه منزه (پاك) دے۔ نو هغه به خپل مؤمن بنده په اُور كښې هيڅكله نهٔ اچوى۔

بِعِبَادِهِ: ددے بندګانو نه مراد صرف مؤمنان دى۔

لكه په بل روايت كښې دى: [وَلَا اللّٰهُ بِطَارِحٍ حَبِيبَهُ فِي النَّارِ]

نو په حبيب لفظ سره كافر بهر كيږى۔

ابن ابى جمرهؒ وائى: پدے حديث كښې اشاره ده چه سړى لره پكار دى چه په ټولو كارونو كښې خپل تعلق د الله سره جوړ كړى، او هر چا كښې چه يو رحم وى چه د هغې د وجه نه د هغهٔ قصد كيږى نو الله تعالىٰ ډير رحم كونكے دے د هغهٔ نه هم۔

نو عاقل لره پكار دى چه د خپل حاجت دپاره دِے هغه ذات قصد كړى چه هغه پرے ډير مهربان او رحم كونكے دے۔

او حديث نه معلومه شوه چه د غير محسوس څيزونو دپاره مثال په محسوس څيز سره وركول جائز دى دے دپاره چه د يو شى معلومات په خپل صحيح طريقه سره وشى، اګركه هغه شے چه د هغهٔ دپاره مثال بيان شوے وى د هغې د حقيقت احاطه نشى كيدے، ځكه چه د الله تعالىٰ رحمت په عقل سره نهٔ معلوميږى او سره ددے نه رسول الله ﷺ د سامعينو دپاره د هغې مثال د ذكر شوے زنانه د حالت سره وركړو۔

- 2371(8) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " لَنْ يُنَجِّيَ أَحَدًا مِنْكُمْ عَمَلُهُ " قَالُوْا: وَلَا أَنْتَ يَا رَسُوْلَ اللهِ؟ قَالَ: " وَلَا أَنَا إِلَّا أَنْ يَّتَغَمَّدَنِيَ اللهُ مِنْهُ بِرَحْمَتِهِ

فَسَدِّدُوْا وَقَارِبُوْا وَاغْدُوْا وَرُوْحُوْا وَشَيْءٌ مِنَ الدُّلْجَةِ وَالْقَصْدَ الْقَصْدَ تَبْلُغُوْا ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او جناب ابو هريره رضي الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : هيڅوك يو تن لره ستاسو نه د هغهٔ عمل نشي بچ کولے۔ صحابه کرامو عرض وکړو او تهٔ هم اے د الله رسوله ! (تا ته هم خپل عمل نجات نشي درکولے)؟ هغهٔ وفرمايل : او نهٔ زهٔ هم، مګر که الله تعالیٰ ما د خپل طرف نه په خپل رحمت کښې پټ کړي۔ نو تاسو (عملونه د غشي پشان) برابر کړئ، او ميانه روي اختيار کړئ (يا عملونه نزدے کړئ) او سهار وخت کښې عبادت وکړئ او ماښام وخت کښې عبادت وکړئ او په څه حصه د تيارهٔ (شپه) کښې عبادت وکړئ (يعني تهجد وکړئ) او په عبادت کښې ميانه روي اختيار کړئ، ميانه روي اختيار کړئ، خپل مقصد ته به ورسيږئ۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : وَلَا اَنْتَ : رسول الله ﷺ ته ئے دا خبره څکه وکړه چه د هغهٔ جنتي کيدل خو يقيني دي، نو هرکله چه هغه د الله په رحمت سره داخليږي نهٔ په عمل سره، نو بل څوك به په طريق اولیٰ سره د الله تعالیٰ رحمت ته زيات محتاج وي۔ (کرمانيؒ)

يا دا چه د رسول الله ﷺ عمل ډير قدر والا وو، او ډير مزيدار وو، او ثواب ئے زيات وو نو هرکله چه نبي کريم ﷺ د الله تعالیٰ رحمت ته محتاج دے نو بل څوك په طريق اولیٰ سره۔

يَتَغَمَّدَنِيَ اللّٰهُ : دا د غِمْدٌ نه دے، په تيکي کښې توره داخلولو ته وئيلے شي۔ مراد ترے نه پټول دي،

او ددے استثناء مطلب دا دے : [لَايُنَجِّيْنِيْ عَمَلِيْ اِلَّا اَنْ يَّرْحَمَنِيَ اللّٰهُ، فَحِيْنَئِذٍ يُنَجِّيْنِيْ عَمَلِيْ وَيَصِيْرُ سَبَبًا فِيْ نَجَاتِيْ، وَبِدُوْنِهٖ لَايَصِيْرُ سَبَبًا، لِاَنَّ الْعَمَلَ لَيْسَ عِلَّةً حَقِيْقِيَّةً مُوْجِبَةً لِلنَّجَاةِ]

يعني ما عمل نشي خلاصولے، مګر دا چه الله راباندے رحم وکړي نو دغه وخت به زما عمل ما لره خلاص کړي، او زما د نجات سبب به وګرځي او بغير ددے نه سبب نهٔ ګرځي څکه چه عمل د نجات دپاره حقيقي علت نهٔ دے۔ (مرعاة)

اشکال او د هغے جواب

اشکال دا دے چه دے حديث نه معلوميږي چه جنت ته انسان په عمل سره نهٔ داخليږي

او په آيت کښې دی : ﴿ وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِيْ اُوْرِثْتُمُوْهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴾ (الزخرف :٧٢) (دا جنت تاسو ته درکړے شو په دے وجه چه تاسو به عملونه کول)۔ نو د دواړو ظاهر کښے تعارض ښکاره کيږی ؟ نو ددے مختلف جوابونه شويدی :

(١) **اول جواب** : اصل جنت ته داخليدل په رحمت د الله تعالىٰ سره دی لکه چه پدے حديث کښے ذکر شول او په جنت کښے منازل او مرتبے په عمل سره ملاويږی ځکه چه د جنت منازل مختلف دی په اعتبار د اختلاف د اعمالو سره۔

(٢) پدے کښے **راجح جواب** دا دے چه د جنت دوه سببونه دی، يو ظاهری او هغه عمل دے، او دويم معنوی حقيقی سبب دے چه هغه د الله تعالىٰ رحمت دے، ځکه چه د عمل توفيق هم د الله تعالىٰ په رحمت سره کيږی۔

ددے وجه نه دلته بعض علماؤ داسے تعبير کړيدے چه عمل په اعتبار د ذات سره انسان جنت ته نۀ داخلوی مګر هله چه هغه مقبول وی نو په حديث کښې نفی د دخول د جنت په عمل سره راغلے ده نو د هغے نه مجرد عمل مراد دے،

او آيت کښے چه کوم عمل ذکر دے نو د هغے نه مقبول عمل مراد دے، او قبوليت د عمل د الله د طرفنه تفضل او د هغۀ مهربانی او رحمت دے۔ (قاله الحافظ ابن حجرؒ)

او امام نوویؒ وائی : د دواړو تطبيق دا دے چه توفيق د اعمالو او په هغے کښے اخلاص پيدا کول او د هغے قبلول د الله تعالىٰ په رحمت او فضل سره دی، نو ددے سره دا خبره صحيح ده چه په مجرد عمل سره نۀ دے داخل شوے جنت ته او همدا مراد د حديث دے، او دا خبره صحيح ده چه په اعمالو سره داخل شو يعنی په سبب د اعمالو سره چه هغه د الله تعالىٰ د رحمت نه دی۔

علامه توريشتیؒ وائی چه پدے حديث کښے مقصد د عمل نفی کول، او د هغے شان سپکول نۀ دی بلکه بندګان پدے خبره باندے خبرول دی چه عمل د الله تعالىٰ په فضل او د هغۀ په رحمت سره پوره کيږی، دے دپاره چه دوئ په خپلو اعمالو باندے توکل ونکړی او په هغے باندے دهوکه نشی، ځکه چه انسان د سهو او نسيان والا دے، آفات او غفلتونو ته پيش کړے شويدے، ډير کم کرته د رياء د شائبے او د خفی (پټ) شهوت نه او د نيت د فساد نه او د بد قصد نه خالی کيږی، بيا که ددے څيزونو نه ددۀ عمل بچ شی – او دا نۀ بچ کيږی مګر د الله په رحمت او فضل سره– نو بيا ددۀ ډير اميد والا عمل د الله

تعالیٰ د نعمتونو نه ډ ادنیٰ نعمت شکر نشي پوره کولے، نو بیا دۀ له څه تکبر پکار دے په هغۀ عمل چه هغے ته رسیدل ئے هم د الله په رحمت او فضل سره کیدی.
طیبیؒ وائی : په عمل سره انسان صرف ددے مستحق جوړ شي چه الله تعالیٰ په هغۀ باندے فضل وکړی، او هغۀ ته خپل رحمت رانزدے کړی.
او هرچه نجات د عذاب نه او کامیابی په ثواب ده نو دا د الله تعالیٰ په فضل او رحمت سره حاصلیږی، او پدے دواړو کښې د عمل تاثیر په طریقه د ایجاب باندے نشته. ددے وجه نه ئے روستو (فَسَدِّدُوْا الخ) وویل. یعنی عمل ته ئے دعوت ورکړو.
فَسَدِّدُوْا : هرکله چه مخکښې ئے د عمل نفی وکړه نو اُوس بیرته حکم په عمل باندے کوی دے دپاره چه د عمل اهمیت واضح کړی، ځکه چه انسان د الله تعالیٰ د بندګۍ او عمل دپاره پیدا دے.
فسددوا : اَیْ اُقْصُدُوْا السَّدَادَ مِنَ الْأَمْرِ أَيِ الصَّوَابَ اَوِ إِلْزَمُوْا السَّدَادَ.
یعنی قصد د نیك او برابر عمل وکړئ. یا لازم ونیسئ برابر والے. یعنی برابر او حق عمل وکړئ، چه د افراط او تفریط په مینځ کښې وی، زیادت او نقصان پکښې مۀ کوئ. دے دپاره چه ستاسو عمل قبول شي او رحمت دربانډے نازل شي او جنت ته داخل شئ.
او د عمل برابرول دا دی چه په هغے کښې اخلاص او اتباع د سنت وی.
او دا د سداد الرمی نه دے، یعنی د غشی نیغول او برابرول. یعنی عمل د غشی په شان نیغ او برابر کړئ.
وَقَارِبُوْا : یعنی که ډیر کامل عمل نشئ کولے، نو دے ته ځان نزدے نزدے کړئ او داسے عمل وکړئ چه دے ته مو نزدے کړی. او قَارِبُوْا په معنیٰ د [اُقْرُبُوْا] سره دے، یعنی نزدے شئ برابر عمل ته. یا د نزدے والی نه میانه روی او اعتدال مراد دے.
وَاغْدُوْا وَرُوْحُوْا : غدو په سهار کښې (یعنی په اول د ورځ) کښے مزل کولو ته وئیلے شی. او رُوْحُوْا د رَوَاح نه دے، د غرمے نه مزل کولو ته وئیلے شی. یعنی په اطرافو د ورځ کښے اعمال کوئ وخت په وخت.
الدُّلْجَةِ : په دال باندے ضمه یا فتحه ده، او لام ساکن دے او فتحه د لام هم جائز ده، د شپے مزل ته وئیلے شی، دلته ترے د شپے عمل مراد دے. او چونکه تول شپه مزل ګران وی پدے وجه ئے شیء لفظ استعمال کړو، نو پدے کښے تیزی ورکول دی په نرمی کولو

سره په عباداتو کښې۔ او شَیْءٌ مِنَ الدُّلْجَةِ مبتداء ده او [اِعْمَلُوْا فِيْهِ] ئې خبر دې۔ يعنى په لږه حصه د شپه کښې عمل وکړئ۔ د رسول الله ﷺ نه تو له شپه عمل سوئ د رمضان نه نهٔ دې نقل۔

يا شىء مجرور دې او عطف دې په مُقدر باندې : [أَیْ اِعْمَلُوْا بِالْغُدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ وَشَیْءٍ مِنَ الدُّلْجَةِ]۔ يعنى سهار او مابنام او د شپې په څه حصه کښې عمل وکړئ۔

وَالْقَصْدَ الْقَصْدَ : دا منصوب دې په اغراء (تيزى ورکولو) سره۔ اَیْ اِلْزَمُوْا الطَّرِيْقَ الْوَسَطَ الْمُعْتَدِلَ۔ يعنى لازم ونيسئ درميانه، مينځنئ لاره۔

جزرىؒ ليکى : قصد په قول او عمل کښې عدل کولو ته او د دواړو طرفينو ترمينځ درميانه روى کولو ته وئيلې شى، او تکرار پکښې د تاکيد دپاره دې۔

تَبْلُغُوْا : يعنى خپل منزل مقصود ته به ورسيږئ۔ او په دې کښې اشاره ده چه عابد د مسافر په شان دې چه خپل محل د اقامت ته رسيدل غواړى چه هغه جنت دې۔

- 2372 (9) وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " لَا يُدْخِلُ أَحَدًا مِنْكُمْ عَمَلُهُ الْجَنَّةَ وَلَا يُجِيْرُهُ مِنَ النَّارِ وَلَا أَنَا إِلَّا بِرَحْمَةِ اللهِ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او جناب جابر ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ وفرمايل : هيڅ يو تن ستاسو نه د هغهٔ عمل جنت ته نشى داخلولې او نهٔ ئې د اُور نه بچ کولې شى او نهٔ زهٔ بچ کيدې شم مګر په رحمت د الله تعالىٰ سره۔ (مسلمؒ)

تشريح : لَا يُدْخِلُ : په ضمه د اول سره، (عمله) ئې فاعل دې۔

بِرَحْمَةِ اللهِ : اَیْ اِلَّا عَمَلًا مَقْرُوْنًا بِرَحْمَتِهِ۔ مګر هغه عمل چه د الله د رحمت سره پيوسته وى۔ نو استثناء متصل ده، نو جنت ته داخليدل په خالص فضل سره دى، او د جنت درجات د اعمالو مطابق دى۔ ___

- 2373(10) وَعَنْ أَبِىْ سَعِيْدٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " إِذَا أَسْلَمَ الْعَبْدُ فَحَسُنَ إِسْلَامُهُ يُكَفِّرُ اللهُ عَنْهُ كُلَّ سَيِّئَةٍ كَانَ زَلَفَهَا وَكَانَ بَعْدُ الْقِصَاصُ: اَلْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلٰى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ إِلٰى أَضْعَافٍ كَثِيْرَةٍ وَالسَّيِّئَةُ بِمِثْلِهَا إِلَّا أَنْ يَتَجَاوَزَ اللهُ عَنْهَا ".

رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه: او جناب ابو سعيد خدري ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : كله چه بنده اسلام راوړي او د هغهٔ اسلام ښائسته شي نو الله تعالىٰ د هغهٔ نه هره ګناه رژوي چه هغهٔ مخکښې کړې وي او ددې نه روستو به برابره بدله وي، يوه نيکۍ په لس چنده سره ده تر اُوه سوه چندونو تر ډيرو چندونو پورې او (يوه) ګناه د هغې په شان (په يو چند سره) ده۔ مګر که الله تعالىٰ د هغې نه تير شي۔ (بخاريؒ)

تشريح: فَحَسُنَ إِسْلَامُهُ : د اسلام حُسن دا دې چه په هغې کښې ظاهرًا او باطنًا داخل شي۔ يعنې منافق نهٔ وي۔

كَانَ زَلَفَهَا : دا جمله فعليه ده، صفت د سَيِئَةٌ دې، يعنې هغه ګناه چه د اسلام نه ئې مخکښې کړې وي۔ او زلف په تشديد د لام او تخفيف دواړو سره په يوه معنىٰ دې، نزدې کول او مخکښې کولو ته وئيلې شي۔

وَكَانَ بَعْدُ الْقِصَاصُ : بعد په ضمه د دال سره مضاف اليه ئې پټ دې، اَىْ بَعْدَ الْإِسْلَامِ۔ او بَعْدَ تَكْفِيرِ السَّيِّئَاتِ بِهِ۔ يعنې د اسلام نه روستو يا د ګناهونو رژولو نه په اسلام سره۔

القصاص : مرفوع دې، اسم د کان دې، يا کان تامه دې، او القصاص مرفوع ئې فاعل دې۔ يعنې ددې نه روستو به ددهٔ بدله وي په دنيا يا په آخرت کښې په هغه اعمالو سره چه ددهٔ د اسلام نه روستو کړې وي۔

يعنې زاړهٔ ګناهونه ورته معاف خو په اسلام کښې ئې چه کوم ګناهونه يا نيک اعمال کول نو په هغې به ورته سزا او بدله ملاويږي۔

د قصاص نه مراد دلته : (مُقَابَلَةُ الشَّيْءِ بِالشَّيْءِ) دې، يعنې يو شے په مقابله د بل شي کښې، يعنې بدله۔ يعنې د هر عمل په مقابله کښې به ورته بدله ملاويږي، خير وي که شر۔

اَلْحَسَنَةُ بِعَشْرِ : الحسنة مبتداء ده او (بعشر) د (تُكْتَبُ) مقدر پورې متعلق دې۔ يعنې يوه نيکي ليکلې کيږي په لسو چندونو سره۔ او دا جمله استينافيه ده، بيان د قصاص دې۔

وَالسَّيِّئَةُ بِمِثْلِهَا : يعنې زيادت به پکښې نهٔ کيږي، او دا د الله تعالىٰ عدل او رحمت دې۔

إِلَّا أَنْ يَتَجَاوَزَ اللّٰهُ عَنْهَا : يعنې مګر دا چه الله تعالىٰ د هغې ګناه نه تجاوز کړي په

قبلولو د توبې سره، يا په معاف کولو سره اګر که توبه ئې ترې نۀ وي ويستلې.
او پدې کښې دليل دې د اهل السنة دپاره چه بنده د الله تعالىٰ د مشيئت د لاندې دې، که الله وغواړي معاف به ئې کړي ورنه عذاب به ورکړي، او په معتزلو باندې رد دې چه کبائرو ګناهونو والا دپاره اُور همېشه وائي.

- 2374 (11) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: " إِنَّ اللهَ كَتَبَ الْحَسَنَاتِ وَالسَّيِّئَاتِ: فَمَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كَتَبَهَا اللهُ لَهُ عِنْدَهُ حَسَنَةً كَامِلَةً فَإِنْ هَمَّ بِعَمَلِهَا كَتَبَهَا اللهُ لَهُ عِنْدَهُ عَشْرَ حَسَنَاتٍ إِلٰى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ إِلٰى أَضْعَافٍ كَثِيرَةٍ، وَمَنْ هَمَّ بِسَيِّئَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كَتَبَهَا اللهُ عِنْدَهُ حَسَنَةً كَامِلَةً فَإِنْ هُوَ هَمَّ بِعَمَلِهَا كَتَبَهَا اللهُ لَهُ سَيِّئَةً وَاحِدَةً ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او جناب ابن عباس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : يقيناً الله تعالىٰ نيکيانې او بديانې ليکلې دي، پس چا چه د يوې نيکۍ اراده وکړه او بيا ئې ونکړه نو الله تعالىٰ هغه ددۀ دپاره د خپل ځان سره يوه پوره نيکي ليکي، پس که د هغې د کولو اراده ئې وکړه (او بيا ئې وکړه) نو الله تعالىٰ هغه ددۀ دپاره د خپل ځان سره لس نيکۍ تر اُوه سوو چندونو پورې تر ډيرو چندونو پورې ليکي، او چا چه د يوې ګناه اراده وکړه او هغه ئې ونکړه نو الله تعالىٰ هغه د خپل ځان سره يوه پوره نيکي ليکي پس که هغه د هغې د کولو اراده وکړي (او هغه وکړي) نو الله تعالىٰ هغه ددۀ دپاره يوه ګناه ليکي. (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : كَتَبَ الْحَسَنَاتِ وَالسَّيِّئَاتِ : دا ليکل په دوه قسمه دي، يو کتابت سابقه دې، چه الله تعالىٰ په لوح محفوظ کښې هر وړوکے او غټ شے ليکلے دے، نو الله پکښې نيکيانې او بديانې هم ليکلې دي، او ددې علم صرف الله تعالىٰ ته دے، په مونږ کښې هيڅوك نۀ پوهيږي چه دۀ دپاره کوم خير يا شر ليکلے شويدے تردې چه هغه واقع شي.
دويم کتابتِ لاحقه دے، يعنې کله چه انسان يو عمل وکړي نو دۀ دپاره د حکمت او عدل او فضل د تقاضا موافق ليکلے کيږي.
بيا رسول الله ﷺ ددې بيان وکړو په (فَمَنْ هَمَّ) سره چه دا څنګه ليکلے کيږي، نو چا

چه د نیکئ اراده وکړه او هغه ئے ونکړه نو الله تعالیٰ ئے د ځان سره پوره نیکئ لیکی، لکه مثلًا د مانځه اراده وکړی بیا ورته څه عارض راپیښ شی او مونځ ونکړی نو هم دهٔ یوه نیکی وشوه. یا د صدقے اراده وکړی او مال معیّن کړی بیا د څه ضرورت په وجه بند شی نو یوه نیکئ لیکلے شی.

سوال : که څوك ووائی چه دهٔ خو نیکی نهٔ ده کړے نو بیا څنګه دهٔ دپاره نیکئ لیکلے کیږی؟ **جواب :** د الله تعالیٰ فضل فراخه دے، همدا اراده الله تعالیٰ د نیکئ په ځای قائموی، ځکه چه زړهٔ قصد کوی د خیر یا د شر نو کله چه د خیر قصد وکړی نو دا نیکی شوه چه ددهٔ دپاره ولیکلے شی.

او که پدے نیکئ باندے عمل وکړی نو بیا ورله الله تعالیٰ لس نیکو نه واخله تر اوه سوه چندونو پورے بلکه د هغے نه هم ډیرو چندونو پورے لیکی. او دا تفاوت د اخلاص او د متابعت په تفاوت باندے بناء دے.

هَمَّ بِحَسَنَةٍ : حافظ وائی : ظاهر د حدیث دا دے چه په مجرد ترك سره نیکئ حاصلیږی برابره ده چه د څه مانع په وجه وی، یا نهٔ وی، البته د نیکئ لوی والے به د مانع موافق وی، که مانع خارجی وی، او د انسان قصد د نیکئ باقی وی، نو دا لوی قدر والا نیکی ده، خاصکر کله چه ورسره افسوس او خپیمانتیا ملګری وی د هغے په فوت کیدو، او نیت ئے همیشه وی چه د قدرت په وخت کښے به ئے کوی، او که ترك د هغه وجه نه وی د کوم نه ئے چه قصد کړے وی نو دا به د مخکښیے نه په درجه کښ خکته وی، مګر که ددے سره قصد د اعراض بالکلیه ملګرے شو یا ئے د هغے د کولو سره مینه ونهٔ لرله. نو بیا به نیکی نهٔ وی، خاصکر کله چه د هغے مخالف عمل وکړی لکه یو تن د یو روپئ د صدقے اراده وکړی بیا ئے په ګناه کښے ولګوی.

وَفِيْ رِوَايَةٍ : وَبَيَّنَ ذٰلِكَ : یعنی دا ئے لیکونکو ملائکو ته بیان کړیدی.

وَمَنْ هَمَّ بِسَيِّئَةٍ : لکه یو تن د غلا یا د زنا اراده وکړی لیکن الله تعالیٰ ورته رایاد شی نو د هغهٔ نه یره وکړی، غلا یا زنا پریدی، نو یوه نیکی ورله لیکلے کیږی، ځکه چه دهٔ د ګناه کول پریخودل د الله تعالیٰ دپاره، او د خپل خواهش خلاف ئے وکړو نو پدے باندے ورته ثواب ورکړے شو.

او که ګناه وکړی نو صرف یوه ګناه لیکلے کیږی.

نو پدې حدیث کښې نیت باندې ډیر لوی خیر مرتب شویدې، چه نیت کله انسان ډیر خیرونو ته رسوی۔

او که یو تن د شر کلکه اراده وکړی او بیا هغه عمل وکړی چه هغه ئې شر ته رسوی لیکن د هغې د کولو نه عاجزه شی نو دهٔ باندې یوه ګناه لیکلې کیږی، یعنی په کلك عزم د ګناه سره ګناه لیکلې کیږی، لکه حدیث کښې دی چه دوه مسلمانان یو بل لره د وژلو دپاره راوړاندې شی، نو رسول الله ﷺ وفرمایل : دواړه به اُور کښې وی، تپوس وشو، دا یو خو قاتل دې، نو مقتول لره څه وجه ده؟ وې فرمایل:

[لِأَنَّهٗ كَانَ حَرِيۡصًا عَلٰى قَتۡلِ صَاحِبِهٖ]

ځکه چه دې حرص کونکې وو په وژلو د ملګری خپل۔ (لیکن قادر پرې نشو)۔

كَامِلَةً : پدې کښې عظمت د قدر دې، نهٔ تضعیف تر لسو چندونو پورې۔

فوائد الحديث : ١- ددې امت دپاره د الله تعالیٰ رحمت ډیر فراخه دې۔

٢- ملائك د زړونو اعمال هم لیکی، خلاف ثابت دې هغه چا لره چه وائی ملائك صرف ظاهری اعمال لیکی۔ او ملائکو ته الله تعالیٰ اطلاع ورکوی چه بنده د نیکئ اراده وکړله، یا الله تعالیٰ د دوئ په نفسونو کښې داسې طاقت اچولې دې، چه د علاماتو نه دوئ دا پیژنی۔

٣- اِلٰى اَضۡعَافٍ نه معلومه شوه چه چندونه صرف اووه سوو پورې نهٔ دی۔

٤- بِمِثۡلِهَا : ګناه دوچنده نهٔ لیکلې کیږی خو ددې سره ددې خبرې منافات نشته چه کله ګناه د زمان او د مکان د شرافت په وجه لریه کیږی، یا د کونکی د معرفت بالله او د هغهٔ د قرب په وجه۔ (التحفة الربانية شرح الاربعين للشيخ اسماعيل الانصاريؒ)

الفصل الثاني

- 2375(12) عَنۡ عُقۡبَةَ بۡنِ عَامِرٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوۡلُ اللهِ ﷺ:" إِنَّ مَثَلَ الَّذِیۡ يَعۡمَلُ السَّيِّئَةَ ثُمَّ يَعۡمَلُ الۡحَسَنَاتِ كَمَثَلِ رَجُلٍ كَانَتۡ عَلَيۡهِ دِرۡعٌ ضَيِّقَةٌ قَدۡ خَنَقَتۡهُ ثُمَّ عَمِلَ حَسَنَةً فَانۡفَكَّتۡ حَلۡقَةٌ ثُمَّ عَمِلَ أُخۡرٰى فَانۡفَكَّتۡ أُخۡرٰى حَتّٰى تَخۡرُجَ إِلَى الۡأَرۡضِ ". رَوَاهُ فِیۡ شَرۡحِ السُّنَّةِ

ترجمه : جناب عقبه بن عامر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : یقیناً مثال د

هغه سړی چه ګناه کوی بیا نیك اعمال کوی په شان د هغه سړی دے چه په هغهٔ باندے تنګه زغره وی چه د هغهٔ مرئ ئے خفه کړی وی، بیا نیکی وکړی نو یوه کړئ کولاوه شی بیا بله نیکی وکړی نو بله کړئ کولاوه شی تردے چه هغه زمکے طرفته ووځی. (دا بغویؒ په شرح السنة کښں روایت کړیدے)

تشریح : ثُمَّ عَمِلَ حَسَنَةً : حسنه ئے نکره راوړه اشاره ده عموم ته، یعنی هره نیکئ چه وی.

فَانْفَكَّتْ : یعنی وسپړدل شی، کولاوه شی.

حَتّٰی تَخْرُجَ : یعنی تردے چه هغه زمکے ته پریوزی. او سړے د هغے د تنګوالی نه خلاص شی.

د حدیث مقصد دا دے چه بد عمل د انسان سینه تنګوی او په کارونو کښے ئے حیرانوی، پریشانی ورکوی، او کارونه پرے ګرانیږی او زړهٔ ئے تور شی، او رزق ئے تنګ شی او خلقو ته ئے مبغوض کړی. خو کله چه نیکی وکړی نو ددے نیکئ په برکت سره ددهٔ ګناهونه په ختمیدو شروع شی،

نو کله چه بیخی ګناهونه ختم شی نو سینه ئے کولاوه شی، رزق ئے فراخه شی، زړهٔ ئے مزیدار شی، او کارونه ئے آسان شی، او د خلقو په زړونو کښے محبوب شی، نو دا حدیث تمثیل او بیان د آیت دے ﴿ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ﴾ (هود : ١١٤).

درجة الحديث : إسناده صحيح : أخرجه احمد (١٤٥/٤) والطبراني في المعجم الكبير (٢٨٤/١٧) رقم (٧٨٣) والبغوى في شرح السنة (٣٣٩/١٤) رقم (٤١٤٩) وقال المنذرى : رواه احمد والطبراني باسنادين رواة أحدهما رواة الصحيح و كذا قال الهيثمى فى المجمع). ________

- 2376(13) وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ ﷺ : أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ ﷺ يَقُصُّ عَلَى الْمِنْبَرِ وَهُوَ يَقُوْلُ : (وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتَانِ) قُلْتُ: وَإِنْ زَنٰى وَإِنْ سَرَقَ ؟ يَا رَسُوْلَ اللهِ! فَقَالَ الثَّانِيَةَ: (وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتَان) فَقُلْتُ الثَّانِيَةَ: وَإِنْ زَنٰى وَسَرَقَ ؟ يَا رَسُوْلَ اللهِ فَقَالَ الثَّالِثَةَ : (وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهٖ جَنَّتَان) فَقُلْتُ الثَّالِثَةَ : وَإِنْ زَنٰى وَسَرَقَ ؟ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ :" وَإِنْ رَغِمَ أَنْفُ أَبِي الدَّرْدَاءِ . " رَوَاهُ أَحْمَدُ

ترجمه: او د جناب ابودرداء ﷺ نه روایت دے چه هغۀ د نبی کریم ﷺ نه واوریدل چه په منبر باندے ئے بیان کولو (دا آیت ئے لوستلو) فرمایل ئے: (ولمن خاف مقام ربه جنتان): یعنې څوك چه د خپل رب د پیشئ نه ویریدو هغۀ دپاره دوه جنتونه دی۔ ما وویل: اګرکه زنا او اګرکه غلا ئے کړې وی؟ اے د الله رسوله! نو هغۀ دویم ځلی وفرمایل: (ولمن خاف مقام ربه جنتان) نو ما دویم ځلی وویل: او اګرکه هغۀ زنا او اګرکه غلا کړې وی؟ اے د الله رسوله! نو هغۀ دریم ځل وفرمایل: ولمن خاف مقام ربه جنتان۔ نو ما دریم ځلی وفرمایل: او اګرکه زنا او اګرکه غلا ئے کړې وي؟ اے د الله رسوله، وے فرمایل: اګرکه د ابودرداء پوزه خړه شي۔ (یعنی هغه پرے خفه وی)۔ (احمدؒ)

تشریح: يَقُصُّ: یعنی خلقو ته ئے بیان کولو او وعظ او تذکیر ئے کولو۔

وَلِمَنْ خَافَ: یعنی هر فرد د افرادو د یریدونکو نه د هغۀ دپاره دوه جنتونه دی، نو د هر یریدونکی دوه جنتونه دی، یا دوه قسمه خائفین دی، انسی او جنی، او د هر یو جدا جدا جنت دے، اول قول د جمهورو مفسرینو دے۔

مَقَامَ رَبِّهٖ: مقام مصدر میمی دے، په معنیٰ د قیام سره۔ ددے دوه معانی دی:

(۱) قِيَامُ الرَّبِّ عَلَى الْخَلَائِقِ۔ یعنی ددے نه ویریدو چه الله تعالیٰ په دۀ باندے ولاړ دے، او په دۀ باندے عالِم دے او په هر حال کښے ددۀ نه خبردار دے۔

(۲) یا قِيَامُ الْخَلَائِقِ بَيْنَ يَدَيِ اللّٰهِ۔ (د خلقو ودریدل د الله تعالیٰ مخے ته) یعنی ددے نه ویریدو چه زۀ به د الله مخے ته ودریږم۔ لکه ﴿يَوْمَ يَقُوْمُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِيْنَ﴾ کښے راغلی دی۔

او رب ته ئے اضافت وکړو دپاره د تفخیم او د تهویل (یره ولو)۔

مجاهدؒ او نخعیؒ ددے معنیٰ داسے ذکر کړیده: چه دا هغه سړے دے چه د ګناه اراده وکړی نو بیا الله رایاد کړی او ګناه د هغۀ د یرے د وجه نه پریدی۔

نو ددے نه سببیت د جنت معلوم شو چه هغه نَفْسِ خوف نۀ دے بلکه هغه خوف دے چه د هغے په وجه ګناه پریخودے شی۔

ابن جریرؒ د ابن عباسؓ نه نقل کړیدی چه ددے یریدو نه مراد دا دے چه د الله تعالیٰ فرائض ادا کړی نو الله ورسره د جنت وعده کړیده۔ او دا ئے هم ترے نقل کړیدی:

چه ویریږی بیا تقویٰ وکړی یعنی یریدونکے شخص هغه دے چه د الله تعالیٰ طاعت وکړی او د هغهٔ معصیت (نافرمانی) پریدی۔
(جنتان) ددې جنتونو نه مراد یو مکمل د سروزرو نه دے چه لوښی او بنګلے او ګانړه او هر شے به پکښې د سونے نه وی، او نور دوه جنتونه دی چه هغه او د هغې هر څه د سپینو زرو نه دی۔
وَإِنْ زَنٰى وَإِنْ سَرَقَ : (۱) ددې یو مطلب دا دے چه ددے یرے نه مخکښې ترے زنا او غلا شوی وی۔ (۲) یا اګرکه ددے یرے سره زنا او غلا هم وکړی۔
لیکن دا تاویل ضعیف دے، ځکه چه داسے خوف سره دا دواړه اعمال نهٔ یو ځای کیږی۔ (حافظ ابن حجرؒ)
(۳) بعض وائی : ددے مطلب دا دے چه څوك د الله نه یره وکړی په ګناه کښې او ګناه پریدی نو الله به ورته د جنت باغونه ورکړی اګرکه ددهٔ نه مخکښې زنا او غلا شوی وی او بیا ئے ترے توبه ویستلی وی، نو که دا بنده په بله ګناه کښې د الله نه یره کوی نو ددهٔ دغه زنا او غلا ددهٔ ثواب د خوف د الله تعالیٰ نه نهٔ باطلوی۔
او ددے مطلب دا دے چه اګرکه کبیره ګناه ئے کړی وی خو بیا به هم ضرور جنت ته داخلیږی، یا به ابتداءً داخل شی که الله تعالیٰ ورته معافی وکړه۔
یا پس د داخلیدو نه اُور ته لکه نورو احادیثو کښې راغلی دی۔
بیا د کبائرو نه ئے صرف دوه نوعه ذکر کړل ځکه چه ګناه به یا حق د الله تعالیٰ وی لکه زنا، یا به حق د بندګانو وی لکه غلا۔ او پدے تکرار کښې معنیٰ د استیعاب او عموم ده، یعنی اګرکه هر څومره ډیر ګناهونه ئے راجمع کړی وی۔ نو دا دلیل دے چه کبیره د مؤمن نه نوم د ایمان نهٔ سلب کوی، او په ګناه سره ټول طاعات نهٔ بربادیږی۔
درجة الحديث : اسناده صحيح، اخرجه احمد (٢/٣٥٧) (٨٦٦٨) والطبرى فى تفسيره جامع البيان (٢٧/٨٥) والبغوى فى شرح السنة (١٤/٣٨٦) رقم (٤١٨٩) واسناده صحيح.

- 2377(14) وَعَنْ عَامِرِ الرَّامِ ﷺ قَالَ: بَيْنَا نَحْنُ عِنْدَهُ يَعْنِي عِنْدَ النَّبِيِّ ﷺ إِذْ أَقْبَلَ رَجُلٌ عَلَيْهِ كِسَاءٌ وَفِي يَدِهِ شَيْءٌ قَدِ الْتَفَّ عَلَيْهِ فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! مَرَرْتُ بِغَيْضَةِ شَجَرٍ فَسَمِعْتُ فِيهَا أَصْوَاتَ فِرَاخِ طَائِرٍ فَأَخَذْتُهُنَّ فَوَضَعْتُهُنَّ فِي كِسَائِيْ فَجَاءَتْ أُمُّهُنَّ

فَاسْتَدَارَتْ عَلٰى رَأْسِيْ فَكَشَفْتُ لَهَا عَنْهُنَّ فَوَقَعَتْ عَلَيْهِنَّ فَلَفَفْتُهُنَّ بِكِسَائِيْ فَهُنَّ أُوْلَاءِ مَعِيْ قَالَ : "ضَعْهُنَّ" فَوَضَعْتُهُنَّ وَأَبَتْ أُمُّهُنَّ إِلَّا لُزُوْمَهُنَّ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ : " أَتَعْجَبُوْنَ لِرُحْمِ أُمِّ الْفِرَاخِ فِرَاخَهَا ؟ فَوَالَّذِيْ بَعَثَنِيْ بِالْحَقِّ : لَلّٰهُ أَرْحَمُ بِعِبَادِهٖ مِنْ أُمِّ الْفِرَاخِ بِفِرَاخِهَا، إِرْجِعْ بِهِنَّ حَتّٰى تَضَعَهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَخَذْتَهُنَّ وَأُمُّهُنَّ مَعَهُنَّ ". فَرَجَعَ بِهِنَّ . رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ

ترجمه : او د جناب عامر رامي (تير انداز) ﷺ نه روايت دے فرمائي چه (يوه ورځ) كله چه مونږ د هغۀ سره يعني د نبي كريم ﷺ سره تاست وو نو ناڅاپه يو سړے راغلو چه په هغۀ باندے يوه كمبل وه او د هغۀ په لاس كښے څه شے وو چه په هغے باندے هغۀ كمبل راتاؤ كړے وه نو عرض ئے وكړو : اے د الله رسوله ! زۀ د ونو د يو بنړ په خوا كښے راتيريدم نو ما په هغے كښے د مارغۀ د بچو آوازونه واوريدل نو ما راونيول او ما په خپله كمبل كښے كيخودل نو د هغوى مور راغله، زما د سر نه تاؤ شوه نو ما هغے ته د هغے بچي راښكاره كړل نو هغه پرے راپريوته نو ما هغه په خپله كمبل كښے راتاؤ كړل نو هغوى دا دے ما سره دى، رسول الله ﷺ وفرمايل : دا كيږده، نو ما كيخودل، نو مورئے هر شے پريخودو مګر د خپلو بچو سره كلكه انختے وه، (مونږ ددے مور محبت ته د خپلو بچو سره د تعجب په نظر كتل) نو رسول الله ﷺ وفرمايل : آيا تاسو تعجب كوئ د بچو د مور په خپلو بچو باندے د رحم كولو نه، قسم په هغه ذات چه زۀ ئے په حق سره راليږلے يم، خامخا الله تعالىٰ په خپلو بندګانو باندے زيات رحم كونكے دے ددے مور د رحم نه په بچو خپلو باندے۔ دا واپس ويسه تردے چه دوى په هغه ځاى كښ كيږدے چه د كوم ځاى نه دِے راخستي دى، او د دوى مور به د دوى سره وى، نو هغۀ هغے لره واپس (خپل ځاى ته) ويوړل۔ (ابوداوُدؒ)

تشريح : عَامِرِ الرَّامِ : په اصل كښ رامي دے، ياء په كښے حذف شوه لكه د مُتَعَال په شان چه په اصل كښ مُتَعَالِي وو۔ دا د خُضُر مُحَارِبي ورور دے، او د مالك بن طرف بن خلف بن مُحَارِب څوى دے، صحابي دے، صرف دا يو حديث ترے نقل دے۔

په اصابه كښ ليكي : چه دا ښائسته ويشتونكے وو، نو ځكه ورته رامي وويل شو، او دا شاعر هم وو۔

بِغَيْضَةٍ : ځنګل او د ونو بنړ ته وئيلے شي۔ (کوم ځای چه ونے ډيرے راجمع وی)۔
بِفِرَاخِهَا: په کسره د فاء سره جمع د فَرْخ ده، د مارغهٔ بچی ته وئيلے شی۔
لِرُحْمِ : رُحْم په معنیٰ د رحمت او شفقت سره دے۔
پدے حدیث کښې رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته د الله تعالیٰ محبت راښکاره کړو دپاره د ترغیب د هغوی۔
وَأُمُّهُنَّ مَعَهُنَّ : دا جمله حالیه ده۔ یعنی په داسے حال کښے ئے واپس کړه چه مور ورسره وی۔ دا روایت دلالت کوی چه په اسلام کښے مارغانو ته هم بغیر د څه ضرورت نه تکلیف رسول صحیح نهٔ دی۔
درجة الحديث : إسناده ضعيف لجهالة ابی منظور وعمه اخرجه ابو داود (٣٠٨٩) وابن ابی الدنيا فی حسن الظن بالله (٣٢/١) رقم (٢٠).

الفصل الثالث

- 2378(15) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ : كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فِي بَعْضِ غَزَوَاتِهٖ فَمَرَّ بِقَوْمٍ فَقَالَ : " مَنِ الْقَوْمُ ؟ " قَالُوْا : نَحْنُ الْمُسْلِمُوْنَ وَامْرَأَةٌ تَحْضِبُ بِقِدْرِهَا وَمَعَهَا ابْنٌ لَهَا فَإِذَا ارْتَفَعَ وَهَجٌ تَنَحَّتْ بِهٖ فَأَتَتِ النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَ : أَنْتَ رَسُوْلُ اللهِ ؟ قَالَ : " نَعَمْ " قَالَتْ: بِأَبِيْ أَنْتَ وَأُمِّيْ أَلَيْسَ اللهُ أَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ ؟ قَالَ : " بَلٰى " قَالَتْ: أَلَيْسَ اللهُ أَرْحَمَ بِعِبَادِهٖ مِنَ الْأُمِّ عَلٰى وَلَدِهَا ؟ قَالَ : " بَلٰى " قَالَتْ: إِنَّ الْأُمَّ لَا تُلْقِيْ وَلَدَهَا فِي النَّارِ فَأَكَبَّ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَبْكِيْ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهٗ إِلَيْهَا فَقَالَ : " إِنَّ اللهَ لَا يُعَذِّبُ مِنْ عِبَادِهٖ إِلَّا الْمَارِدَ الْمُتَمَرِّدَ الَّذِيْ يَتَمَرَّدُ عَلَى اللهِ وَأَبٰى أَنْ يَّقُوْلَ :لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه

ترجمه : او جناب عبد الله بن عمر ﷺ فرمائی : مونږ د نبی کریم ﷺ سره په بعض غزواتو کښے وو نو هغهٔ په څه خلقو راتیر شو نو ویے فرمایل : تاسو څوك يئ ؟ هغوی وویل : مونږ مسلمانان يو، او (د هغوی نه) يوه داسے ښځه هم وه چه د خپلے کټوئ نه لاندے ئے اُور بله ولو، او د هغے سره د هغے ځوی وو، نو کله چه به لمبه راپورته شوه نو هغے به هغه ماشوم جدا کړو (دے دپاره چه د اُور ګرمائش ورته ونهٔ رسیږی) نو هغه نبی کریم ﷺ ته راغله او عرض ئے وکړو : تهٔ د الله رسول ئے ؟ هغهٔ وفرمایل : آؤ، هغے وویل :

زما پلار او مور دِې ستا نه قربان وی، آیا الله تعالیٰ د ټولو خلقو نه زیات رحم کونکے نهٔ دے؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: ولې نهٔ، هغې وویل: آیا الله تعالیٰ په خپلو بندګانو باندے د مور نه په خپل بچی باندے زیات رحم کونکے نهٔ دے؟ نبی کریم ﷺ وفرمایل: ولې نهٔ، هغې وویل: مور خو خپل بچے په اُور کښې نهٔ اچوی. نو (پدے خبره آوریدو سره) رسول الله ﷺ سر خکته کړو ژړل ئے، بیا ئے هغې طرفته سر پورته کړو ورته ئے وفرمایل: یقیناً الله تعالیٰ د خپلو بندګانو نه عذاب نهٔ ورکوی مګر هغه چا ته چه سرکش وی داسے سرکش چه د الله تعالیٰ نه سرکشی کوی (یعنی د هغهٔ احکام نهٔ منی) او ددے وینا نه انکار کوی چه نشته حقدار د بندګئ سوا د الله تعالیٰ نه. (ابن ماجهٔ)

تشریح : تَحُضِبُ : په بعض نسخو کښې تَحْصِبُ دے، د تضرب په وزن، د حَصَب نه دے، اُور ته لرګی ور ویشتلو ته وئیلے شی، او بعض نسخو کښې (تَحْضِبُ) دے، حَضب هم اُور ته لرګی اچول دی، یعنی بلولو ئے.

وَهَجُ : د اُور ګرمائش او لمبے ته وئیلے شی.

تَنَحَّتُ بِهٖ : اَیْ تَبَعَّدَتِ الْاُمُّ بِالْوَلَدِ عَنِ النَّارِ. یعنی مور به هغه ماشوم د اُور نه لرے کړو.

أَنْتَ رَسُوْلُ اللهِ؟ : همزه د استفهام پټه ده. او دا تپوس ددے د اسلام سره منافی نهٔ دے ځکه چه جائز ده چه دے په رسول الله ﷺ باندے غائبانه ایمان راوړے وی اګرکه د هغه ذات ئے لا لیدلے نهٔ وی.

فَأَكَبَّ : أَیْ طَأْطَأَ رَأْسَهٗ. یعنی سرئے خکته کړو.

لَا يُعَذِّبُ : یعنی په طریقه د همیشوالی سره عذاب صرف مارد متمرد ته ورکوی. او هرچه ګناهګار مؤمن دے نو هغهٔ ته د ادب په طور عارضی عذاب د جهنم ورکوی، یا ئے معاف کوی.

الْمَارِدَ الْمُتَمَرِّدَ : علامه سندیؒ وائی: ظاهر د حدیث دا دے چه څوك د نبوت نه منکر دے نو هغه په اصلی شکل کښې د توحید نه منکر دے.

المارد: یعنی انسی او جنی شیطان چه خالی او برېنډ وی د نیکیو نه. د مَرَدَ نه دے، اَیْ عَتَا وَعَصٰی وَجَاوَزَ حَدَّ أَمْثَالِهٖ.

یعنی سرکشی ئے وکړه او نافرمانه شو، او د خپلو امثالو د حد نه ئے تجاوز وکړو.

المتمرد: مبالغه ده په مارد کښې. تمرد وئیلے شی، تَجَرُّأْ (بهادری) کول په مخالفت د

الله تعالىٰ باندے۔ يعنى د حد نه تيروتونكے، عنادګر۔
وَأَبَىٰ أَنْ يَقُوْلَ :لَا إِلٰـهَ إِلَّا اللهُ : يـعنى د الله د توحيد او د هغهٔ د بندګئ نه منكروى۔ نو ددهٔ مثـال د هـغهٔ بچى دے چه مورته وائى چه تهٔ زما مورنهٔ ئے، او زما موربل څوك ده، او د هـغے نـافـرمـانى كوى او هغے ته د سپى يا د خنزير په شكل ګورى نو دے وخت كښے بـه مـور خـامخا د داسے بچى نه براء ت كوى او عذاب به وركوى، كه چرته په هغهٔ باندے قادره شى۔

نو حاصل د جواب دا شو چه كافر د الله د عبوديت نه وتلے دے۔

او ظاهر دا ده چه د نبوت نه منكر هم د الله تعالىٰ د توحيد نه منكر دے۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه ابن ماجه (٤٢٩٧) وفيه اسماعيل بن يحيى متهم وعبد الله ضعيف، (الضعيفة (٣١٠٩) وَلٰكِنَّ أَصْلَ الْحَدِيْثِ ثَابِتٌ، يُؤَيِّدُهٗ حَدِيْثُ أَبِىْ هُـرَيْرَةَ عِنْدَ الْبُخَارِيِّ : كُلُّ أُمَّتِىْ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ اِلَّا مَنْ أَبٰى، قِيْلَ : وَمَنْ أَبٰى ؟ قَالَ : مَنْ أَطَاعَنِىْ دَخَلَ الْـجَنَّةَ وَمَـنْ عَـصَانِىْ فَقَدْ أَبٰى۔ وَيَشْهَدُ لَهٗ مَا رَوٰى أَحْمَدُ (٥/٢٨٥) رقم (٢٢٢٨٠) بِرِجَالٍ ثِقَاتٍ مِنْ حَدِيْثِ أَبِىْ أُمَامَةَ بِلَفْظٍ : كُلُّكُمْ فِى الْجَنَّةِ اِلَّا مَنْ شَرَدَ عَلَى اللهِ شِرَادَ الْبَعِيْرِ عَلٰى أَهْلِهٖ، رَوَاهُ اَيْضًا الطَّبَرَانِىْ فِى الْاَوْسَطِ بِاِسْنَادٍ حَسَنٍ كَمَا فِىْ مَجْمَعِ الزَّوَائِدِ.

- 2379(16) وَعَنْ ثَوْبَانَ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ :" إِنَّ الْـعَبْدَ لَيَلْتَمِسُ مَرْضَاةَ اللهِ فَلَا يَـزَالُ بِـذٰلِكَ فَيَـقُـوْلُ اللهُ عَـزَّ وَجَـلَّ لِجِبْرِيْلَ :إِنَّ فُلَانًا عَبْدِىْ يَلْتَمِسُ أَنْ يُرْضِيَنِىْ أَلَا وَإِنَّ رَحْـمَتِـىْ عَـلَيْـهِ فَيَـقُـوْلُ جِبْرِيْلُ : رَحْمَةُ اللهِ عَلٰى فُلَانٍ وَيَقُوْلُهَا حَمَلَةُ الْعَرْشِ وَيَقُوْلُهَا مَنْ حَوْلَهُمْ حَتّٰى يَقُوْلَهَا أَهْلُ السَّمَاوَاتِ السَّبْعِ ثُمَّ تَهْبِطُ لَهٗ إِلَى الْأَرْضِ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ

ترجمه : او جناب ثوبان ﷺ د نبى كريم ﷺ نه روايت كوى چه هغهٔ وفرمايل : يقيناً يـو بـنـده بـه د الله تـعالىٰ رضا طلب كوى او پدے به هميشوالے كوى نو الله تعالىٰ جبريل عليه السلام تـه وفـرمـائى : يقيناً فلانے زما بنده دے دا خبره طلب كوى چه ما راضى كړى، خبر شـه چـه زما رحمت په هغهٔ باندے وشو، نو جبريل عليه السلام (نـورو ملائكو تـه) ووائى : د الله تـعـالىٰ رحـمـت دے پـه فلانى باندے، او بيا دغه خبره د عرش پورته كونكى ملائك هم وكـړى، او د هـغـوى نـه چـه ګيرچا پيره كوم ملائك دى هغوى ئے هم وكړى تردے چه اُوه

واړه آسمانونو والائے وكړي بيا هغه خبره ددهٔ دپاره زمكے ته راكوزه شي۔ (احمدؒ)

تشريح : فَلَا يَزَالُ بِذٰلِكَ : يعني هميشه پدے طلب باندے مشتمل او مصروف وي۔

أَنْ يُّرْضِيَنِيْ : يعني ما راضي كوي دے دپاره چه زهٔ پرے رحم وكړم۔

رَحْمَةُ اللهِ عَلٰى فُلَانٍ : دا يا جمله خبريه ده، يعني د الله رحمت په فلاني باندے وشو۔ يا دعاء ده او همدا ډيره ظاهره ده۔ يعني الله تعالىٰ دِے په فلاني باندے رحم وكړي۔

وَيَقُوْلُهَا : يعني دا خبره حملة العرش (د عرش پورته كونكي ملائك) هم وكړي۔

ثُمَّ تَهْبِطُ لَهٗ : يعني بيا رحمت ددهٔ دپاره زمكے ته راكوز شي۔

د ارض نه مراد اهل الارض دي۔

علي القاريؒ وائي : يعني د الله محبت ددهٔ سره زمكے ته راكوز شي او بيا ددهٔ دپاره په زمكه كښے مقبوليت كيخودے شي۔

طيبيؒ وائي : دا حديث او حديث د محبت نزدے نزدے دي، يعني په كوم حديث د بخاري كښے چه دي چه الله د يو بنده سره محبت وكړي بيا ئے هغه جبريل ته ووائي بيا ئے هغه په آسمان والو كښے اعلان وكړي بيا زمكه كښے د هغهٔ دپاره مقبوليت كيخودے شي۔

درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه احمد (٥/٢٧٩) رقم (٢٢٤٥٤) وقال في المجمع رجاله رجال الصحيح غير ميمون بن عجلان وهو ثقة.

- 2380(17) وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ فِيْ قَوْلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ : ﴿ فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِنَفْسِهٖ وَمِنْهُمْ مُقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌ بِالْخَيْرَاتِ﴾ قَالَ: كُلُّهُمْ فِي الْجَنَّةِ ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ كِتَابِ الْبَعْثِ وَالنُّشُوْرِ

ترجمه : او جناب اسامه بن زيد ﷺ د نبي كريم ﷺ نه د الله تعالىٰ ددے وينا متعلق روايت نقل كوي : (فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِنَفْسِهٖ الخ يعني بعض د دوئ نه د خپل ځان سره ظلم كونكي دي، او بعض د دوئ نه درميانه روان دي، او بعض د دوئ نه نيكيو ته مخكښے كيدونكي دي) وے فرمايل : ټول په جنت كښ دي۔ (بيهقيؒ كتاب البعث والنشور)

تشريح : فَمِنْهُمْ : فاء تفصيل دے د مخكښ قول : ﴿ ثُمَّ أَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِيْنَ اصْطَفَيْنَا مِنْ

عِبَادِنَا، فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ......﴾۔ (فاطر : ٣٢)

او مطلب د آیت دا دے چه بیا مونږ په میراث کښې ورکړو کتاب لره (چه قرآن دے) هغه کسانو ته چه مونږ غوره کړیدی د خپلو بندګانو نه، نو په دوئ کښې درے قسمه خلق داخل دی، یو ظالم لنفسه، (ځان سره ظالم کونکے) او بل مقتصد او دریم سابق بالخیرات۔

(١) ظالم لِنَفْسِهٖ هغه دے چه په عمل کښې ئے تقصیر کړیدے۔

مقتصد هغه دے چه په اغلب احوالو او اوقاتو کښې په هغے باندے عمل کوی۔

او سابق بالخیرات هغه دے چه په هغے باندے عمل سره تعلیم او دعوت ورکوی او رهنمائی عمل ته کوی۔

(٢) یا ظالم هغه دے چه د واجباتو په ادا کولو کښې کوتاهی کوی، بعض محرمات کوی، او مقتصد هغه دے چه واجبات پوره ادا کوی، محرمات پریدی، او کله بعض مستحبات پریدی، او بعض مکروه کارونه کوی۔

او سابق بالخیرات هغه دے چه واجبات او مستحباتو لره ادا کونکے او محرمات او مکروهاتو او بعض مباحاتو لره پریخودونکے وی۔

(٣) یا ظالم هغه دے چه د الله امر ته روستو کړے شوے وی، د هغهٔ مشیئت ته سپارلے شوے وی، مقتصد هغه دے چه د نیك عمل سره ئے بد عمل یو ځای کړے وی۔

او پدے کښې نور هم ډیر اقوال دی چه زمونږ تفسیر حکمة القرآن سورة الفاطر ته رجوع وکړئ۔

او ظاهر دا ده چه دا درے واړه ډلے پدے امت کښې مراد دی او په مؤمنانو کښې دی۔

او دا اختیار د ابن جریرؒ دے لکه همدا ظاهر د آیت هم دے، او احادیث پرے دلیل دی۔

دا روایت دلیل دے چه رسول الله ﷺ به د بعض آیتونو تشریح کوله، کوم ته به چه ضرورت وو، نو معلومه شوه چه احادیث د رسول الله ﷺ تفسیر د قرآن کریم دے۔

درجة الحديث : اسناده حسن بشواهده : اخرجه البيهقى فى البعث والنشور وابوداود الطيالسى (٢٢٣٦).

0000

٦- بَابُ مَا يَقُوْلُ عِنْدَ الصَّبَاحِ وَالْمَسَاءِ وَالْمَنَامِ

د صبا او ماښام او د خوب په وخت د لوستلو دعاګانې

امام راغبؒ ليکي: صبح او صباح اول د ورځې ته وئيلے شي، او دا هغه وخت دے چه د نمر په څريکو کنارے سرے شي۔

قاموس کښې دي: صبح فجر ته وائي، يا اول النهار ته، او دے ته صبيحه او صباح او اصباح هم وائي۔ او مَسَاء او اِمساء ضد د صباح او اصباح دي، نو د بعض احاديثو نه دا خبره ظاهره ښکاره کيږي چه مساء اول د شپے ته وائي۔

او بعض اهل لغت وائي چه صباح د طلوع الفجر نه تر طلوع الشمس پورے وي۔ او مساء د غروب الشمس نه وي۔ لکه قرآن کريم کښې (فَسُبْحَانَ اللهِ حِيْنَ تُمْسُوْنَ) (الروم :١٧) کښې د ماښام او ماسخوتن مونځ ته اشاره ده۔ او دا قول د امام مجاهدؒ او ابن عباس ﷺ دے، نو کوم علماء چه دا وائي چه د مساء وخت د زوال نه شروع کيږي او د صباح وخت د نيمائي شپے نه نو دا ډير بعيد قول دے۔

دارنګه امرئ القيس وائي:

تُضِيْءُ الظَّلَامَ بِالْعِشَاءِ كَأَنَّهَا	○	مَنَارَةُ مُمْسٰى رَاهِبٍ مُتَبَتِّلِ

(محبوبه) روښانه کوي تيارے لره په ماسخوتن کښې ګويا که دا مناره ده د بيګاه د هغه راهب چه د خلکو نه جدا شوے وي۔

ممسیٰ او مساء يو شے دے۔

سيبويهؒ وائي: مساء او صباح داسے دي لکه سواد او بياض۔ (المخصص لابن سيده)

وَالْمَنَامِ: زمانه د خوب۔(دا ظرف زمان دے) يا مصدر ميمي دے، يعني په وخت د اراده د خوب کښې۔

او ظاهر دا ده چه ددې نه د شپې خوب مراد دې، نو دا قيلولے ته نۀ دے شامل.

الفصل الأول

- 2381(1) عَنْ عَبْدِ اللهِ ﷺ قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا أَمْسٰى قَالَ: " أَمْسَيْنَا وَأَمْسَى الْمُلْكُ لِلّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ، اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ هٰذِهِ اللَّيْلَةِ وَخَيْرِ مَا فِيْهَا وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا فِيْهَا، اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَالْهَرَمِ وَسُوْءِ الْكِبَرِ وَفِتْنَةِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الْقَبْرِ " وَإِذَا أَصْبَحَ قَالَ أَيْضًا: " أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلّٰهِ ". وَفِيْ رِوَايَةٍ: "رَبِّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ عَذَابٍ فِي النَّارِ وَعَذَابٍ فِي الْقَبْرِ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: جناب عبد الله بن مسعود ﷺ فرمائي: رسول الله ﷺ به چه كله بيګاه كړو نو (داسې به ئې) فرمايل: امسينا وامسى الملك لله والحمد لله ترجمه: مونږ ماښام كړو او ماښام كښې بادشاهي د الله تعالىٰ دپاره ده او ټول حمدونه الله تعالىٰ لره دي، نشته حقدار د بندګئ سوا د الله نه يواځې دے، هيڅ شريك ورسره نشته، خاص هغۀ دپاره بادشاهي ده او خاص هغۀ دپاره د كمال صفتونه دي، او هغه په هر شي قدرت لرونكے دے، اے الله! زۀ ستا نه ددې شپې خير غواړم، او هغه خير چه پدې كښې دے، او په تا پورې پناه غواړم ددې د شر نه او د هغه شر نه چه پدې كښې دے، اے الله! زۀ په تا پورې پناه غواړم د سستئ او د بوډا والي او مصيبت د زوړوالي او د دنيا د فتنې نه او د قبر د عذاب نه. او كله چه به ئې صبا كړو نو داسې به ئې هم ويل: (اصبحنا واصبح الملك لله) يعني مونږ صبا كړو او سهار كښې بادشاهي د الله تعالىٰ ده. او په يو روايت كښې (د سوء الكبر نه روستو دا الفاظ) دي: رب اني اعوذ بك الخ يعني اے ربه زما! زۀ په تا پورې پناه غواړم د عذاب نه په اُور كښې او د عذاب نه په قبر كښې. (مسلمؒ)

تشريح: أَمْسَيْنَا: يعني مونږ بيګاه كښې داخل شولو.

وَأَمْسَى الْمُلْكُ: او په بيګاه كښې داخله شوه بادشاهي چه خاص وه د الله تعالىٰ دپاره. يعني ماښام كښې هم بادشاهي د الله پورې خاص ده او په صبا كښې هم.

او طيبيؒ وائي والحمد لله عطف دے په اَمْسَيْنَا وَاَمْسَى الْمُلْكُ باندې نو معنىٰ دا ده:

مونږ وګرځيدو او ټوله بادشاهي او ټول حمدونه الله لره. او اَمْسٰى په معنىٰ د ګانَ او صَارَ سره دے.

علي القاريؒ معنىٰ کوي: اَیْ عَرَفْنَا فِیْهِ اَنَّ الْمُلْكَ لِلّٰهِ.

يعني مونږ په بيګاه کښې دا خبره وپيژندله چه بادشاهي صرف الله لره ده او حمدونه هغهٔ دپاره دي.

وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ: يا دا مستقله جمله ده، يعني پدے باندے د الله حمد دے چه مونږه ئے مابنام پورے ژوندي وساتلو.

وَخَيْرِ مَا فِيْهَا: يعني کوم خيرونه چه ددے شپے نه پيدا کيږي او کوم پکښے واقع کيږي. حافظؒ د دواړو خيرونو تشريح داسے کوي فرمائي:

د هغه کمالات ظاهره ؤ او باطنه ؤ نه چه تا اراده کړيده د هغے د واقع کولو پدے شپه کښے د خواصو بندګانو دپاره. او خير د هغه عباداتو چه پدے کښې واقع کيږي.

❁ يا خير د هغه موجوداتو چه پدے شپه کښے موجوديږي او خير د هر موجود چه اُوس موجود وي.

❁ ظاهر دا ده چه خير هذه الليلة نه مراد هغه خيرونه دي چه انسان ئے خپله کوي او (خير ما فيها) هغه دي چه الله تعالىٰ پکښے کوم حوادث پيدا کوي.

وَسُوْءِ الْكِبَرِ: امام نوويؒ د قاضي عياضؒ نه نقل کوي چه هغه وائي: مونږ ته الکبر په سکون د باء او په فتحه د باء دواړو سره نقل شويدے، نو که سکون شي نو معنىٰ ئے ده اَلتَّعَاظُمُ عَلَى النَّاسِ. يعني په خلقو باندے ځان لوی ګنړل. يعني تکبر.

او په فتحے سره په معنىٰ د بوډا والي او ذليله عمر سره دے. او همدا د مخکنی په نسبت زيات ظاهر او زيات مشهور دے.

پدے حديث کښې امت ته تعليم دے چه دوی ډیے د دعاء ادب زده کړي.

- 2382 (2) وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ مِنَ اللَّيْلِ وَضَعَ يَدَهُ تَحْتَ خَدِّهِ ثُمَّ يَقُوْلُ: " اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوْتُ وَأَحْيَا ". وَإِذَا اسْتَيْقَظَ قَالَ: " اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُوْرُ ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

- 2383 (3) وَمُسْلِمٌ عَنِ الْبَرَاءِ ________

ترجمه : او جناب حذيفه رضي الله عنه فرمائي : نبي كريم ﷺ به چه كله د شپے نه خپل ځاى د ډډے (بستره) ونيولو نو خپل (ښے) لاس به ئے د خپل (ښي) اننگي لاندے كيخودو بيا به ئے وفرمايل : اللهم باسمك اموت واحيا۔ اے الله ! زهٔ ستا په نوم سره مرم (يعني اُودهٔ كيږم) او ژوندے كيږم (يعني رابيداريږم)۔ (بخاريؒ) او مسلمؒ د براء رضي الله عنه نه روايت كړيدے۔

تشريح : أَخَذَ مَضْجَعَهُ : يعني كله چه به راغلو بسترے خپلے ته، او په روايت د بخاري كښې دي [اَوٰى اِلٰى فِرَاشِهٖ] يعني داخل به شو په خپله بستره كښے۔

مضجعه : مضجع په فتحه د جيم سره لكه د مَقْعَد په شان دے۔

وَضَعَ يَدَهُ : په روايت د احمدؒ كښے ددے تعيين راغلے دے چه ښے لاس به ئے د ښي اننگي لاندے كيخودو۔

اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ : يعني ستا د نوم په ذكر كولو سره، نهٔ په حالت د غفلت سره۔ يعني زهٔ د خوب په وخت كښے هم ستا نوم ذكر كوم او كله چه زهٔ بيدار شم بيا به هم ستا ذكر كوم۔

أَمُوْتُ : مرگ ئے مخكښے ذكر كړو ځكه چه خوب د مرگ ورور دے، او دا وخت د خوب دے۔

مَا أَمَاتَنَا : خوب كښے د انسان د تميز روح اخستلے كيږي، نو دا يو قسم مرگ دے۔ او مطلب دا دے چه مونږ ته ئے قوت او حركت راواپس كړو پس د هغے نه چه دائے زمونږ نه اخستي وو۔

اَلنُّشُوْرُ : يعني په قيامت كښ ورپورته كيدل دي۔

سوال : د خوب نه په رابيداريدو باندے ولے شكر كوي؟

جواب : حكمت دا دے چه اصل ژوند هغه دے چه انسان پكښے د الله رضا طلب كړي او د هغهٔ طاعت وكړي، او د هغهٔ د غضب او عذاب نه په اعمالو سره بچاؤ حاصل كړي، او هر كله چه په خوب كښے دا څيزونه نهٔ حاصليږي، او انسان د مړي په شان وي، نو په (الحمد لله) سره ددے نعمت شكر ادا كول مقصد دے چه مانع ئے زائل كړو او د طاعت او عبادت بيرته موقعه ورته ملاؤ شوه۔

طيبيؒ وائي : دا تاويل موافق دے د هغه حديث سره چه په هغے كښے دا دي :

[وَاِنْ اَرْسَلْتَهَا فَاحْفَظْهَا بِمَا تَحْفَظُ بِهٖ عِبَادَكَ الصَّالِحِيْنَ]

او ددې سره د (اِلَيۡهِ النُّشُوۡرُ) مناسبت هم ښكاره دے۔

او په اول كښې ذكر او د خوب نه روستو حمد وئيلو كښې اشاره ده چه بنده له پكار دى چه د خوب په وخت د الله تعالىٰ ذكر وكړى، او مرګ دپاره تيار وسيږى ځكه چه دا ئے آخرى عمل دے، او كله چه رابيدار شى نو د الله حمد ادا كړى او د هغهٔ د فضل شكر ګزار جوړ شى۔ او د خوب نه بيداريدو سره د مرګ نه روستو دوباره پورته كيدل راياد كړى۔

- 2384 (4) وَعَنۡ أَبِيۡ هُرَيۡرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوۡلُ اللهِ ﷺ : " إِذَا أَوٰى أَحَدُكُمۡ إِلٰى فِرَاشِهٖ فَلۡيَنۡفُضۡ فِرَاشَهٗ بِدَاخِلَةِ إِزَارِهٖ فَإِنَّهٗ لَا يَدۡرِيۡ مَا خَلَفَهٗ عَلَيۡهِ ثُمَّ يَقُوۡلُ: بِاسۡمِكَ رَبِّيۡ وَضَعۡتُ جَنۡبِيۡ وَبِكَ أَرۡفَعُهٗ إِنۡ أَمۡسَكۡتَ نَفۡسِيۡ فَارۡحَمۡهَا وَإِنۡ أَرۡسَلۡتَهَا فَاحۡفَظۡهَا بِمَا تَحۡفَظُ بِهٖ عِبَادَكَ الصَّالِحِيۡنَ ". وَفِيۡ رِوَايَةٍ :" ثُمَّ لِيَضۡطَجِعۡ عَلٰى شِقِّهِ الۡأَيۡمَنِ ثُمَّ لِيَقُلۡ : بِاسۡمِكَ " وَفِيۡ رِوَايَةٍ :" فَلۡيَنۡفُضۡهُ بِصِنۡفَةِ ثَوۡبِهٖ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ وَإِنۡ أَمۡسَكۡتَ نَفۡسِيۡ فَاغۡفِرۡ لَهَا ". مُتَّفَقٌ عَلَيۡهِ

ترجمه : او جناب ابو هريره ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ وفرمايل : كله چه په تاسو كښې يو تن خپلې بسترې ته راشى نو خپله بستره دِې د خپل لنګ په دننه طرف سره وڅنډى، ځكه چه دے نهٔ پو هيږى چه ددهٔ نه روستو په هغې باندې څه (حشرات يا ګرد اوغبار) راغلى دى، بيا دِې (د څملاستو نه روستو) ووائى : باسمك ربى وضعت جنبى الخ (ترجمه : خاص په نوم ستا اے زما ربه ما خپل اړخ كيخودو او خاص په تا سره به ئے راپورته كوم، كه تا زما روح ځان سره ايسار كړو نو رحم پرې وكړه او كه پرې دِې خودو نو ددې حفاظت وكړه په هغه څه سره چه تهٔ په هغې سره د خپلو نيكانو بندګانو حفاظت كوې۔ او په يو روايت كښې دى : بيا دِې ددهٔ ولګوى په خپل ښى اړخ، بيا دِې داسې ووائى : باسمك الخ۔ او په يو بل روايت كښې دى : خپله بستره دِې وڅنډى په پيڅكه د جامه خپله درې كرته۔ او پدې روايت كښې د (ان امسكت نفسى فارحمها په ځاى) دا الفاظ دى : (وان امسكت نفسى فاغفر لها)۔ يعنى كه تا اُوساتو زما روح لره نو هغې ته بخنه وكړه۔ (بخارىؒ ومسلمؒ)

تشريح : أَوٰى : اَىۡ نَزَلَ۔ يعنى راكوز شى۔ او راشى هغې ته دے دپاره چه اُوده شى۔

فَلْيَنْفُضْ : د نفض نه دے، (باب نصر) څنډلو او خوزولو ته وئیلے شي۔
بِدَاخِلَةِ إِزَارِهٖ : د لنګ هغه غاړه چه د بدن سره لګیږي۔
بعض وائي : مطلق طرف ته وئیلے شي۔
قرطبيؒ وائي : په داخلة الازار سره څنډلو څه حکمت ما ته نۀ دے ښکاره شوے البته دا وئیلے شي چه پدے کښې طبي خصوصیت دے چه دے ته بعض حیوانات نۀ رانزدے کیږي لکه پدے باندے عائن ته حکم شویدے، او ددے تائید دا دے چه په بعض طرقو د حدیث کښې داسے دي (فَلْيَنْفُضْ بِهَا ثَلَاثًا) یعني درے کرته دِې دا وڅنډي۔نو دا داسے ده لکه د دم په شان چه مکرر لوستلے شي۔
داوديؒ ددے حکمت دا بیان کړیدے چه لنګ په جامو باندے پټ وي، نو کوم غبار وغیره چه په بستره وي هغه به په دننه (پټه) جامه باندے ولګي، که په لستونړي سره وکړي نو جامے به ئے خیرنے شي۔
او صاحب النهایه (علامه جزريؒ) دے ته اشاره کړیده چه لنګ والا چه کله بسترے ته راځي نو لنګ کولاووي نو په ښي لاس کښې ئے بهر طرف وي او دننه طرف ئے زوړند وي نو په هغې سره څنډل کیږي ځکه چه هغه په لاس سره مشغول نۀ وي۔
کرمانيؒ وائي : حکمت دا دے چه په وخت د څنډلو کښې لاس پټ شي دے دپاره چه که په بستره څه ضرري او ګنده څیزوي نو ددۀ لاس به محفوظ پاتے شي۔
حافظ وائي : دا حکمت د څنډلو دے په طرف د جامه باندے نۀ په لاس سره، او دا حکمت د دننه طرف د لنګ دپاره نۀ دے۔
او عربو به شپه او ورځ بستره کولاوه پریخوده نو ځکه ورته دا حکم وشو۔
علي القاريؒ وائي : او هغوی دپاره نورے جامے غالباً نۀ وے نو ځکه ئے ورته د لنګ پیښکه ذکر کړه۔
مَا خَلَفَهٗ : یعني روستو راغلے دے ددۀ نه۔
او په روایت د مسلمؒ او د بخاريؒ په الادب المفرد کښې ورسره دا هم راغلي دي [وَلْيُسَمِّ اللّٰهَ] او بسم الله دِې ووائي۔
أَرْسَلْتَهَا : یعني که دا دِې راپریخودو او ما ته دِې ژوند راواپس کړو۔
فَاحْفَظْهَا : یعني د ګناهونو او مخالفت نه ئے محفوظ وساته۔

بِمَا : يعني په خپل لطف او توفيق او احسان سره.
پدې حديث كښې دا خبره ده چه د ضرر د اسبابو نه ځان ساتل او احتياط كول پكار دى. او د بد تقدير د اسبابو نه پرهيز كول پكار دى.
شِقِّهِ الْأَيْمَنِ : پدې كښې استحباب د ښي طرف دے په وخت د خوب كښې ځكه چه پدې طريقه سره د خوب نه بيداريدل زر كيږى، ځكه چه زړهٔ زوړند وى، نو انسان په جور خوب نهٔ ورځى.
او دا په نسبت سره مونږ ته دے، نهٔ نبى كريم ﷺ ته، ځكه چه د هغهٔ زړهٔ په خوب كښې نهٔ اُوده كيدو.
بِصِنْفَةِ ثَوْبِهِ : صنفه يو طرف ته وئيلے شى. د صاد زبر او زير دواړه صحيح دى.
ثَلَاثَ مَرَّاتٍ: دا د زيات نظافت دپاره، يا كيدے شى چه څه ضررى څيز وى او دنے پرے پوهه نشى.

- 2385 (5) وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ ﷺ قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا أَوٰى إِلٰى فِرَاشِهِ نَامَ عَلٰى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ ثُمَّ قَالَ : " اَللّٰهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِىْ إِلَيْكَ وَوَجَّهْتُ وَجْهِىْ إِلَيْكَ وَفَوَّضْتُ أَمْرِىْ إِلَيْكَ وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِىْ إِلَيْكَ رَغْبَةً وَرَهْبَةً إِلَيْكَ لَا مَلْجَأً وَلَا مَنْجَا مِنْكَ إِلَّا إِلَيْكَ آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِىْ أَنْزَلْتَ وَنَبِيِّكَ الَّذِىْ أَرْسَلْتَ ". وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:" مَنْ قَالَهُنَّ ثُمَّ مَاتَ تَحْتَ لَيْلَتِهِ مَاتَ عَلَى الْفِطْرَةِ "وَفِىْ رِوَايَةٍ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لِرَجُلٍ :" يَا فُلَانُ إِذَا أَوَيْتَ إِلٰى فِرَاشِكَ فَتَوَضَّأْ وُضُوْءَ كَ لِلصَّلَاةِ ثُمَّ اضْطَجِعْ عَلٰى شِقِّكَ الْأَيْمَنِ ثُمَّ قُلْ : اَللّٰهُمَّ أَسْلَمْتُ نَفْسِىْ إِلَيْكَ إِلٰى قَوْلِهِ :أَرْسَلْتَ " وَقَالَ :" فَإِنْ مُتَّ مِنْ لَيْلَتِكَ مُتَّ عَلَى الْفِطْرَةِ وَإِنْ أَصْبَحْتَ أَصَبْتَ خَيْرًا ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او جناب براء بن عازب ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ به چه كله خپلے بسترے ته راغلو نو په خپل ښى اړخ به اُودهٔ كيدو بيا به ئے وفرمايل : اللهم اسلمت نفسى الخ ترجمه : اے الله ! ما خپل نفس تا ته تابع كړو، او خپل مخ مے تا طرفته متوجه كړو، او خپل ټول كارونه مے تا ته حواله كړل، او خپله شا مے تا طرفته تكيه كړه، دپاره د مينے كولو او د يره كولو تا طرفته، نشته ځاى د پناهٔ او ځاى د نجات ستا نه مگر تا طرفته

دے، ما ستا په هغه کتاب ايمان راوړے چه تا نازل کړے او ستا په هغه نبي چه تا رالیږلے دے۔ او رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چه دا کلمات ولوستل بیا په همدغه شپه کښے مړ شو نو په فطرت (دین اسلام) به مړ شي۔

او په یو بل روایت کښے فرمائي چه رسول الله ﷺ یو سړي ته وفرمایل: اے فلانیه! کله چه ته خپلے بسترے ته راځے نو اَودس وکړه لکه چه ته مانځه ته اودس کوے بیا په خپل ښي اړخ ډډه ولګوه بیا ووایه: اللهم اسلمت نفسي الیك تر دے قول پورے چه (ارسلت) او دا ئے هم وفرمایل: پس که چرے ته په دے شپه کښے مړ شوے نو په فطرت به مړ شے او که صبا دِے کړو نو خیر ته به رسیدل کوے۔ (بخاري ومسلمؒ)

تشریح: دا ډیره بهترینه دعاء ده چه د انسان آخري خاتمه ښه کوي، او د ورځے د نیکو اعمالو توفیق ملاویږي۔

أَسْلَمْتُ: یعني ما ځان تا ته سپارلے دے۔ یا په معنیٰ د اخلاص سره دے، او د نفس نه مراد ذات دے، یعني ما خپل ځان ستا حکم ته تابع کړیدے۔

وَوَجَّهْتُ وَجْهِيْ: د وجه نه مراد توجه او طرف او د زړهٔ قصد دے۔

وَأَلْجَأْتُ: اَیْ اَسْنَدْتُّ۔ یعني ما تکیه کړیده شا خپله تا ته۔ اَیْ اِعْتَمَدْتُّ فِيْ اُمُوْرِیْ۔

یعني ما په خپلو کارونو کښے په تا باندے اعتماد او بهروسه کړیده چه ته به ما سره مدد کوے۔

طیبيؒ وائي: په دے الفاظو کښې ډیر عجائب او غرائب دي، چه صرف نُقّاد اهل بیان ئے پیژني، نو په اسلمت نفسي کښې اشاره ده چه ددهٔ جوارح (اندامونه) الله تعالیٰ ته منقاد دي په اوامرو او نواهیو د هغهٔ کښے۔

او په (وَجَّهْتُ وَجْهِيَ) کښے اشاره ده چه ددهٔ ذات او حقیقت الله تعالیٰ ته خالص دے، او د نفاق نه بري دے۔

او په (فوضت امري الیك) کښے اشاره ده چه ددهٔ خارجي او داخلي امور الله تعالیٰ ته سپارلے شویدي، د هغے دپاره پروګرام چلونکے د هغهٔ نه سویٰ هیڅوك نشته۔

او په (وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِيْ اِلَيْكَ) روستو د (فَوَّضْتُ اَمْرِیْ) نه ذکر کولو کښے اشاره ده چه دے روستو د سپارلو د کارونو خپلو نه چه محتاج دے هغے ته او په هغے باندے ددهٔ ژوند روان دے، او د کارونو مدارئے په هغے دے، نو دے الله ته پناهي حاصلوي د هغه ځیزونو نه

چه دۀ ته ضرر او تکلیف ورکوی، داخلی اسباب وی او که خارجی۔
رَغْبَةً وَرَهْبَةً : دا د ذکر شوو خبرو علت دے، یعنی دپاره د طمع ستا په نعمتونو او ورکړه کښے او دپاره د یرے د غضب او د عذاب ستا نه۔
یا دا دواړه حالونه دی په معنیٰ د رَاغِبًا او رَاهِبًا سره۔ یعنی په داسے حال کښے چه زۀ مینه لرم او یره کوم۔
إِلَيْكَ : دا متعلق دے په رغبةً پورے، او د رهبةً دپاره متعلق (مِنْكَ) محذوف دے۔
لَا مَلْجَأَ: ځای د پناهئ او د تیښتے او د خلاصئ ته وئیلے شی۔ یعنی ځای د تیختے او د خلاصی ستا د عقوبت او عذاب نه نشته مګر ستا رحمت طرفته دے۔
وَلَا مَنْجَا : حافظ وائی : منجا په غیر د همزے نه دے لیکن هرکله چه دواړه جمع شو نو جائز ده چه دے لفظ له هم همزه ورکړے شی د اِزدواج د وجه نه۔ یا دواړه بغیر د همزے نه ووئیلے شی، یا اول د همزے سره او دویم بغیر د همزے نه ولوستلے شی۔
آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِیْ : ددے نه مراد قرآن کریم دے، یا ټول آسمانی کتابونه مراد دی۔
مَاتَ عَلَى الْفِطْرَةِ : یعنی په برابر دین باندے چه هغه ملت ابراهیمی دے ځکه چه ابراهیم علیه السلام مسلمان او منقاد بنده وو۔ او ابن بطالؒ وئیلی دی چه فطرت نه مراد دین اسلام دے۔
سوال : کله چه انسان په اسلام باندے مړ شی او دا کلمات ئے نۀ وی وئیلی نو دے هم خامخا په فطرت باندے مړ شو، نو بیا ددے کلماتو د وینا فائده څه شوه ؟
جواب : فطرت دوه قسمه دے، څوك چه دا کلمات ووائی نو د هغۀ فطرت د مقربینو دے، او د نورو فطرت د عامو مؤمنانو فطرت دے، یعنی ددے ذکر قائل به اعلیٰ درجه مؤمن حسابیږی۔
فَتَوَضَّأْ : دا امر د استحباب دپاره دے۔
امام نَوَوِیؒ وائی : پدے حدیث کښې درے مهم سنت طریقے دی چه واجبے نۀ دی،
(١) د خوب د ارادے په وخت اودس کول، که د مخکښې نه اودس کښې وی همدغه کافی دے، ځکه چه مقصد په طهارت حالت کښے خوب کول دی، پدے یره چه پدے شپه کښے به مړ شی، او ددے دپاره چه خوب ئے رشتینی شی، او شیطان پرے په خوب کښے لوبے ونکړی او وے نۀ ویروی۔ (٢) دویم په ښی طرف اودۀ کیدل،

(۳) دريم : د الله ذکر کول دے دپاره چه دا ئے د عمل خاتمه وګرځی۔

- 2386(6) وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ إِذَا أَوٰى إِلٰى فِرَاشِهٖ قَالَ : "اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَكَفَانَا وَآوَانَا فَكَمْ مِمَّنْ لَا كَافِيَ لَهٗ وَلَا مُؤْوِيَ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او جناب انس ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به کله خپلے بسترے ته راغلو نو داسے به ئے فرمایل : الحمد الله الذی اطعمنا وسقانا الخ : ترجمه : ټول صفات د کمال خاص هغه الله لره دی چه مونږ ته ئے خوراك راكړو او څكاك ئے راكړو او هغه زمونږ كافي شو او مونږ ته ئے ځای راكړو ځكه چه ډير خلق داسے شته چه د هغوی دپاره څوك كافي نۀ وی او نۀ ځای وركونكے۔ (مسلمؒ)

تشريح : وَآوَانَا : اَىْ جَعَلَ لَنَا مَأْوٰى نَأْوِىْ اَىْ نَضُمُّ اِلَيْهِ۔

يعنی زمونږ دپاره ئے ځای د پناهۍ جوړ كړو چه مونږ هغے ته يو ځای كيږو،

يا معنیٰ ده : مونږ ته ئے ځای او كور راكړو۔ مأوی منزل او كور ته وائی۔

وَلَا مُؤْوِيَ : يعنی ډير خلق داسے شته چه الله تعالیٰ د هغوی دپاره د شريانو د شر نه نۀ وی كافي شوے بلكه دوئ ئے د شرونو سره پريخودی وی تردے چه دشمنانو پرے غلبه كړی وی او نۀ ئے هغوی دپاره د پناه څه ځای وركړے وی بلكه په باندو او دشتو كښے ئے پريخودی وی چه د ګرمئ او د يخنئ نه د پناه ځای ورله نۀ وی، د هغوی د جرمونو د وجه نه، يا د الله تعالیٰ د حكمت د وجه نه۔ نو بس د هغۀ په دے نعمت شكر پكار دے۔

يا مطلب دا دے چه الله تعالیٰ ډير خلق په دے نعمتونو د خوراك څكاك او ځای باندے قادر كړی نۀ وی چه ددے نه فائده واخلی تردے چه هلاك شی۔

او دا مطلب هم احتمال لری چه ډير جاهلان او كافران خلق شته چه الله نۀ پيژنی او دا نۀ پيژنی چه ددۀ يو اِله شته چه هغه ورته خوراك، څكاك او ځای وركوی (يعنی ددے نعمتونو شكر نۀ كوی)

او پدے باندے اقرار نۀ كوی نو ددۀ په حق او ددۀ په عقيده كښے اِله داسے شو لكه چه معدوم وی، يعنی ګويا كه ددۀ رب نشته ځكه ورته توجه نۀ كوی۔ (المفهم لما اشكل

من تخليص كتاب مسلم للقرطبيؒ)

- 2387(7) وَعَنْ عَلِيٍّ ﷺ :أَنَّ فَاطِمَةَ أَتَتِ النَّبِيَّ ﷺ تَشْكُوْ إِلَيْهِ مَا تَلْقَى فِي يَدِهَا مِنَ الرَّحَى وَبَلَغَهَا أَنَّهُ جَاءَهُ رَقِيقٌ فَلَمْ تُصَادِفْهُ فَذَكَرَتْ ذٰلِكَ لِعَائِشَةَ فَلَمَّا جَاءَ أَخْبَرَتْهُ عَائِشَةُ قَالَ: فَجَاءَنَا وَقَدْ أَخَذْنَا مَضَاجِعَنَا فَذَهَبْنَا نَقُوْمُ فَقَالَ: عَلٰى مَكَانِكُمَا فَجَاءَ فَقَعَدَ بَيْنِيْ وَبَيْنَهَا حَتّٰى وَجَدْتُ بَرْدَ قَدَمِهِ عَلٰى بَطْنِيْ فَقَالَ : " أَلَا أَدُلُّكُمَا عَلٰى خَيْرٍ مِمَّا سَأَلْتُمَا ؟ إِذَا أَخَذْتُمَا مَضْجَعَكُمَا فَسَبِّحَا ثَلَاثًا وَّثَلَاثِيْنَ وَاحْمِدَا ثَلَاثًا وَّثَلَاثِيْنَ وَكَبِّرَا أَرْبَعًا وَثَلَاثِيْنَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمَا مِنْ خَادِمٍ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او جناب علي ﷺ نه روايت دے چه فاطمه رضى الله عنها نبى كريم ﷺ ته راغله چه هغۀ ته ئے شكايت كولو د هغه تكليف نه چه هغه ورسره ملاويږى په لاس كښې د ژرندے د وجه نه. او فاطمے ته دا خبر رسيدلے وو چه نبى كريم ﷺ ته غلامان راغلى دى، نو هغے ونۀ موندو، نو دا خبره ئے عائشے رضى الله عنها ته ذكر كړه، نو هركله چه نبى كريم ﷺ راغلو، عائشے رضى الله عنها هغۀ ته خبر وركړو، على ﷺ فرمائى : نو رسول الله ﷺ مونږ ته راغلو په داسے حال كښے چه مونږ خپلے بسترے نيولے وے (يعنى اُودۀ كيدو) نو مونږ شروع شو چه راپاڅيدو نو وے فرمايل : په خپل ځاى نو باندے وسيږئ، نو هغه راغلو او زما او د هغے ترمينځ كيناستو تردے چه ما په خپله خيټه باندے د هغۀ د قدم يخوالے وموندو نو وے فرمايل : آيا زۀ تاسو ته د هغه څه نه غوره نۀ ښايم كوم چه تاسو غوښتے وو؟ (هغه دا دے) چه كله تاسو خپلے بسترے ونيسئ (يعنى اُوده كيږئ) نو درے ديرش كرته سبحان الله او درے ديرش كرته الحمد الله او څلور ديرش كرته الله اكبر وائى نو دا ستاسو دپاره د خادم نه ډيره بهتره ده. (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : دے ذكر ته تسبيحاتِ فاطمه وائى. چه د خادم په ځاى كار وركوى يعنى انسان سره ددے په وجه مدد كيږى او كارونه ورته آسانيږى.

قرطبيؒ وائى : رسول الله ﷺ د خپلے لور دپاره فقر او په صبر سره تكليفونه برداشت كول خوښ وګڼل دے دپاره چه ددے اجر زيات وشى.

عینیؒ وائی : د خیریت وجه دا ده چه دا ذکر د آخرت سره تعلق لري، او خادم د دنیا سره او آخرت خامخا ډیر غوره او همیشه دے۔

یا دا چه دوی کوم غلام طلب کړے وو نو ددے اذکارو په وجه سره به داسے قوت ورته حاصلیږی چه د خادم د قوت نه به هم زیات خدمت کولے شی۔

❁ او دے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه انسان په ځان باندے کوم مشقت برداشت کوی د آخرت دپاره نو هغه په خپل اهل هم برداشت کولے شی کله چه هغوی پدے باندے قدرت لری۔

❁ او پدے کښې بیان د اظهار د انتهائی شفقت او تلطف دے په لور او زوم باندے، ځکه چه هغوی دواړو ته ئے تکلیف ورنکړو بلکه په خپل ځای باندے ئے کینول او د هغوی سره کیناستو۔

❁د دنیا ے رغبتی ترے معلومه شوه، او د آخرت دپاره توښه تیارول او د دنیا تکلیفونه برداشت کول۔

❁ او دا مسئله هم معلومه شوه چه خاوند باندے دا ضروری نهٔ ده چه ښځے دپاره به په خدمت کښے خادم نیسی، لکه دلته رسول الله ﷺ علی بن ابی طالب ؓ ته حکم ونکړو چه فاطمے رضی الله عنها دپاره خادم ونیسی، کله چه ښځه په پخلی او اُوبو ډکولو او کور جارو کولو او وړه اغړلو باندے قادره وی۔

❁ او دا هم معلومه شوه چه خاوند باندے د کور کار کول لازم نهٔ دی، دلته رسول الله ﷺ علی ؓ ته حکم ونکړو چه تهٔ د فاطمے سره خدمت کوه۔

❁ او دا هم معلومه شوه چه ښځه باندے د کور خدمت واجب دے، اگرکه ښځه د قدر او شرافت والا وی، کله ئے چه خاوند تنگدسته وی۔

او بعض علماء وائی چه په ښځه باندے خدمت د کور لازم نهٔ دے، بلکه اجماع منعقد ده پدے خبره چه په خاوند باندے د ښځے ټول مشقتونه لازم دی،

شافعیؒ او کوفیین وائی چه که د ښځے خادم ته ضرورت وو نو خاوند به د هغے د خادم او هغے دپاره نفقه مقرروی۔ او هرچه د فاطمے رضی الله عنها دا واقعه ده نو رسول الله ﷺ ځکه حکم ونکړو چه دا د حُسن معاشرت او ښائسته اخلاقو د باب نه دی کوم چه په عرف د خلقو کښے راروان دی چه ښځه د خاوند او د هغهٔ د کور خدمت کوی، او هرچه

مجبوره کول د ښځې دی په خدمت باندې نو ددې دپاره هيڅ اصل نشته. (مرعاة المفاتيح)

- 2388(8) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : جَاءَ تْ فَاطِمَةُ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ تَسْأَلُهُ خَادِمًا فَقَالَ : " أَلَا أَدُلُّكِ عَلَى مَا هُوَ خَيْرٌ مِنْ خَادِمٍ؟ تُسَبِّحِينَ اللهَ ثَلَاثًا وَّثَلَاثِيْنَ وَتَحْمَدِيْنَ اللهَ ثَلَاثًا وَّثَلَاثِيْنَ وَتُكَبِّرِيْنَ اللهَ أَرْبَعًا وَّثَلَاثِيْنَ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ وَعِنْدَ مَنَامِكَ " . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او جناب ابو هريره ﷺ فرمائي : نبي كريم ﷺ ته فاطمه رضی الله عنها راغله چه د هغهٔ نه ئې خادم غوښتلو نو هغهٔ وفرمايل : آيا زهٔ تا ته هغه شے ونهٔ ښايم چه هغه به د خادم نه زيات بهتر وی ؟ (هغه دا دے) چه تهٔ د هر مانځه نه روستو او د اُوده كيدو په وخت كښې درې ديرش كرته سبحان الله او درې ديرش كرته الحمد لله او څلور ديرش كرته الله اكبر ووايئے. (مسلمؒ)

تشريح : حافظ ابن تيميهؒ فرمائي : څوك چه پدې ذكر باندې د خوب په وخت پابندى وكړى نو هغهٔ ته به سترى والے نهٔ رسيږى ځكه چه فاطمې د كار نه د سترى والى شكايت وكړو نو رسول الله ﷺ هغې ته دا ذكر وخودو.

مګر حافظ ابن حجرؒ فرمائي : چه پدې خبره كښې نظر دے، د سترى والى ختميدل په حديث كښې نشته بلكه احتمال لرى چه څوك پدې باندې هميشوالے وكړى نو په ډير كار سره به نهٔ ستومانه كيږى او هغه به پرې ګران نهٔ وى اګركه ستړے والے به ورته رسيږى. والله اعلم.

عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ : دا الفاظ په نسخو د مشكاة او مصابيح او شرح السنه كښې شته مګر په صحيح مسلم كښې نشته او جزريؒ په جامع الاصول كښې هم نهٔ دے ذكر كړے.

الفصل الثاني

- 2389(9) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا أَصْبَحَ قَالَ: " اَللّٰهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا وَبِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوْتُ وَإِلَيْكَ الْمَصِيْرُ " . وَإِذَا أَمْسٰى قَالَ : " اَللّٰهُمَّ بِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ أَصْبَحْنَا وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوْتُ وَإِلَيْكَ النُّشُوْرُ " . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْ

دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه

ترجمه : جناب ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ به چه كله صبا كړو نو داسې به ئې وئيل : اللهم بك اصبحنا : ترجمه : (اے الله ! خاص ستا په مدد مونږ صبا كړو او خاص ستا په مدد مونږ بيګاه كړو او خاص ستا په مدد ژوندى كيږو او خاص ستا په حكم به مرو او خاص تا طرفته دركرزيدل دى)۔ او كله چه به ئې مابنام كړو نو داسې به ئې فرمايل : اللهم بك امسينا الخ : ترجمه (اے الله خاص ستا په مدد مونږ بيګاه كړو او خاص ستا په مدد مونږ صبا كړو او خاص ستا په مدد ژوندى كيږو او خاص ستا په حكم به مرو او خاص تا طرفته درپورته كيدل دى)۔ (ترمذیؒ، ابو داودؒ، ابن ماجهؒ)

تشريح : په روايت د ترمذیؒ او ابن ماجهؒ او ابن سنیؒ كښې دى چه رسول الله ﷺ به ددې تعليم امت ته وركولو چه كله تاسو كښې يو تن صبا كړى نو داسې دې ووائي: (اَللّٰهُمَّ بِكَ اَصْبَحْنَا)۔

بِكَ متعلق دې په مُقدر پورې اَیْ اَصْبَحْنَا مُتَلَبِّسِيْنَ بِحِفْظِكَ۔ مونږ ستا په حفاظت سره صبا كړو۔ اَوْ مَغْمُوْرِيْنَ بِنِعْمَتِكَ۔ يا ستا په نعمت باندې پټ يو۔

اَوْ مُشْتَغِلِيْنَ بِذِكْرِكَ۔ ستا په ذكر سره مشغول يو۔

اَوْ مُسْتَعِيْنِيْنَ بِاسْمِكَ۔ ستا په نوم سره مدد حاصلونكى يو۔

او په تقديم د (بك) كښې په (اَصْبَحْنَا) باندې تخصيص ته اشاره ده۔

بِكَ اَمْسَيْنَا : ددې بيګاه نه مراد يا د تير شوې يا د راتلونكې شپې دې او صيغه د ماضي د تفاؤل دپاره ده۔

اَلْمَصِيْرُ : دې روايت نه معلوميږى چه د مصير لفظ په صبا كښې او (النشور) لفظ په بيګاه كښې دې، او همداسې په نسخو د ترمذى كښې ذكر دى، او په مصابيح او جامع الاصول كښې په دواړو ځايونو كښې (المصير) لفظ دې، او دغه شان بغویؒ په شرح السنة كښې ذكر كړيدې بيا ئې وئيلى دى چه (النشور) لفظ هم نقل شويدې۔

او په روايت د ابوداود كښې په دواړو كښې (النشور) دې، او په ابوعوانه او الادب المفرد كښې (النشور) په صبا كښې او (المصير) په بيګاه كښې ذكر دې په عكس د نسخو د ترمذیؒ سره او ابن ماجهؒ په مابنام كښې (المصير) راوړيدې، او لفظ د النشور ئې مطلقاً نه دې ذكر كړې۔ او د مصير او نشور حاصل مطلب يو دې چه وركرځيدل او دوباره پورته

كيدل. لهذا د رواياتو ترمينځ هيڅ تخالف نشته او په بغويٌ او مصنف باندې ددې روايت په راړو كښې هيڅ اعتراض نشته.

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه الترمذى (٣٣٨٨) وابوداود (٥٠٦٨) وابن ماجه (٣٨٦٨) وقال الترمذى حديث حسن .

- 2390(10) وَعَنْهُ ﷺ قَالَ : قَالَ أَبُوْ بَكْرٍ : قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ مُرْنِيْ بِشَيْءٍ أَقُوْلُهُ إِذَا أَصْبَحْتُ وَإِذَا أَمْسَيْتُ قَالَ : " قُلِ اَللّٰهُمَّ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيْكَهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسِيْ وَمِنْ شَرِّ الشَّيْطَانِ وَشِرْكِهِ قُلْهُ إِذَا أَصْبَحْتَ وَإِذَا أَمْسَيْتَ وَإِذَا أَخَذْتَ مَضْجَعَكَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه : او جناب ابو هريره ﷺ فرمائي : ابوبكر صديق ﷺ وفرمايل : ما ووېل : اې د الله رسوله ! ما ته څه دعا باندې حكم وكړه چه زۀ ئې وايم كله چه زۀ صبا كړم او كله چه زۀ بېګاه كړم، وې فرمايل : داسې وايه : اللهم...... ترجمه : اې الله ! چه تۀ په هر پټ او ښكاره پوهه ئې، د آسمانونو او د زمكې پيدا كونكې ئې، د هر شي رب او د هر شي بادشاه ئې، زۀ ګواهي كوم چه نشته حقدار د بندګئ سوا ستا نه، پناه غوارم په تا پورې د شر د خپل نفس نه او د شر د شيطان او د هغۀ د شرك نه. دا وايه كله چه تۀ صبا كړې او كله چه تۀ بېګاه كړې او كله چه تۀ خپلې بسترې ته راشې. (ترمذيٌ، ابوداودٌ، دارميٌ)

تشريح : عَالِمَ الْغَيْبِ : منصوب دې په نداء سره. او حرف نداء حذف ده.

وَمَلِيْكَهُ : يعني تۀ مالك د هر شي ئې. وزن فعيل په معنىٰ د فاعل سره دې.

شَرِّ الشَّيْطَانِ : يعني د شيطان د وسوسې او ګمراه كولو نه. د شيطان نه مراد جنس شيطانان دي، يا ترې ابليس مراد دې.

وَشِرْكِهِ : دا لفظ په دوه اعرابونو سره راغلې دې، ډېره مشهوره دا ده چه په شين باندې زير او د راء سكون دې. يعني هغه شې چه شيطان ئې وسوسه اچوي چه هغه د الله تعالىٰ سره شريكان جوړول دي. او دا اضافت د مصدر دې فاعل ته.

دويم په شين او راء باندې زبر دې. يعني رسئ او جال د شيطان چه په هغې سره خلق په

فتنو کښې اچوي۔ بيا دا جمعه د شَرَکَةٌ ده۔ او په دې عطف کښې تخصيص بعد التعميم دپاره د زيات اهتمام دې۔

قَلْهُ : يعني ووايه دا کلمات۔

درجة الحديث : إسناده صحيح، اخرجه الترمذی (٣٣٨٩) وابوداود (٥٠٦٧) والحاكم وصححه ابن حبان (٣٣٤٩)

- 2391(11) وَعَنْ أَبَانِ بْنِ عُثْمَانَ ﷺ قَالَ : سَمِعْتُ أَبِي يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: "مَا مِنْ عَبْدٍ يَقُولُ فِي صَبَاحِ كُلِّ يَوْمٍ وَمَسَاءِ كُلِّ لَيْلَةٍ بِسْمِ اللهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَيَضُرُّهُ شَيْءٌ". فَكَانَ أَبَانُ قَدْ أَصَابَهُ طَرَفُ فَالِجٍ فَجَعَلَ الرَّجُلُ يَنْظُرُ إِلَيْهِ فَقَالَ لَهُ أَبَانُ: مَا تَنْظُرُ إِلَيَّ ؟ أَمَا إِنَّ الْحَدِيثَ كَمَا حَدَّثْتُكَ وَلٰكِنِّي لَمْ أَقُلْهُ يَوْمَئِذٍ لِيَمْضِيَ اللهُ عَلَيَّ قَدَرَهُ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَأَبُوْدَاوُدَ وَفِي رِوَايَتِهِ :" لَمْ تُصِبْهُ فُجَاءَةُ بَلَاءٍ حَتّٰى يُصْبِحَ وَمَنْ قَالَهَا حِيْنَ يُصْبِحُ لَمْ تُصِبْهُ فُجَاءَةُ بَلَاءٍ حَتّٰى يُمْسِيَ ".

ترجمه : او جناب ابان بن عثمان رحمه الله فرمائی : ما د خپل پلار نه واوريدل چه فرمايل ئې : رسول الله ﷺ وفرمايل : نشته يو بنده چه په صبا د هره ورځ کښې او په بيګاه د هره شپه کښې دا سې ووائي : بسم الله الذی لا يضر مع اسمه شیء فی الارض ولا فی السماء وهو السميع العليم۔ (ترجمه : خاص په امداد د نوم د الله تعالىٰ سره چه ضرر نهٔ ورکوی د هغهٔ د نوم سره هيڅ شے په زمکه کښې او نهٔ په آسمان کښې او هغه آوريدونکے پوهه دے) درې کرته، پس چه دهٔ ته څه شے ضرر ورکړی۔ نو ابان ته يو قسم فالج رسيدلے وو نو دغه سړی شروع شو چه هغهٔ ته ئې کتل نو هغهٔ ته ابان ووېل : ولے ما طرفته ګورې ؟ خبر شه يقيناً حديث همغه شان دے لکه څنګه چه درته ما بيان کړو ليکن ما په دغه ورځ باندې دا دعاء نهٔ وه وئيلے ، دے دپاره چه الله تعالىٰ به ما کښې خپل تقدير نافذ (پوره) کړی۔ (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ، ابوداودؒ) او په روايت د ابوداودؒ کښې دی : نهٔ به رسيږی دهٔ ته ناڅاپی مصيبت تردې چه صبا کړی او چا چه په سهار وخت کښې ولوستله نو نهٔ به رسيږی دهٔ ته ناڅاپی مصيبت تردې چه ماښام کړی۔

تشريح : ابان بن عثمان بن عفانؒ، جليل القدر تابعي اموي دے، ثقه دے د کبار

التابعين نه دے، عمرو بن شعیبؒ وائی : مَا رَأَيْتُ أَعْلَمَ بِحَدِيْثٍ وَلَا أَفْقَهَ مِنْهُ۔
ما ددهٔ نه په حدیثو باندے ډیر عالم او ډیر فقیه نهٔ دے لیدلے۔
او یحیی بن القطانؒ دا د مدینے د فقهاؤ نه شمارلے دے۔ او دهٔ ته کوڼ والے او برګی مرض رسیدلے وو او د مرګ نه یو کال مخکښے ورته فالج ورسیدو۔
په سنه (١٠٥ هـ) کښې وفات دے۔
فِيْ صَبَاحِ كُلِّ يَوْمٍ وَمَسَاءٍ : یعنی د صبا د راختلو نه روستو او پس د نمر پریوتو نه۔
او په روایت د احمدؒ کښے اول د ورځ او اول د شپه ذکر شویده۔
بِسْمِ اللهِ : اَیْ أَسْتَعِيْنُ وَاَتَحَفَّظُ مِنْ كُلِّ مُؤْذٍ بِاسْمِ اللّٰهِ۔
یعنی مدد غواړم، یا ځان محفوظ کوم د هر ضرری څیز نه په نوم د الله تعالیٰ سره۔
وَلَا فِي السَّمَاءِ : یعنی د هغه مصیبت نه چه د آسمان د طرف نه راځی۔
فَيَضُرُّهٗ : دا منصوب دے جواب د (مَا مِنْ عَبْدٍ) دے۔
طیبیؒ وائی : په رفع سره عطف دے په (یقول) او مطلب د اول دا دے چه دا وینا او ضرر د یو شی دواړه نهٔ راجمعه کیږی۔
دا حدیث ښکاره دلیل دے چه هیڅ قسم مصیبت ددے دعاء د وئیلو سره ضرر نهٔ ورکوی پدے شرط چه په یقین او توجه سره ووئیلے شی۔
طَرَفُ فَالَجٍ : په روایت د ابن ماجه کښې [طَرَفٌ مِنَ الْفَالَجِ] لفظ دے، یعنی یوه نوع د فالج نه۔ او فالج په زیر د لام سره یوه بیماری ده چه د بدن په یو طرف کښې واقع کیږی چه د هغے احساس او حرکت ختم کړی۔
قاموس کښې دی : د بدن د یو طرف سستوالی ته وئیلے شی په سبب د بلغمی خلط راوریدو سره چه ددے په وجه د روح لارے بندے شی۔
يَنْظُرُ إِلَيْهِ : یعنی د تعجب او د انکار په طریقهٔ ئے ابان ته کتل چه که چرے دا حدیث صحیح وے نو تا به دا کلمات وئیلی وی نو بیا تا ته څنګه فالج ورسیدو؟!
مَا تَنْظُرُ إِلَيَّ ؟ : یعنی ستا د کتلو سبب څه دے؟، دا په اصل کښې [مَالَكَ تَنْظُرُ إِلَيَّ؟] دے۔
په بل روایت د ابوداود کښے دی : ابان ووئیل : په هغه ورځ چه ما ته دا مصیبت راورسیدو زهٔ غصه شوے وم نو ما نه ددے ذکر وینا هیره شوه۔

لِيَمْضِيَ : لام د عاقبت دے۔ يعنی عاقبت به دا شی چه الله تعالیٰ په ما کښې خپل تقدير نافذ او پوره کړی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه الترمذی (٣٣٨٥) وأبو داود (٥٠٨٨) واحمد (٤٤٦) (٤٧٤) وابنه عبد الله فی زوائده (٥٢٨) وابن ماجه (٣٨٦٩) وصححه ابن حبان (٣٣٥٢) والحاكم (١/٥١٤) وقال الترمذی حديث حسن صحيح .

- 2392 (12) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَقُوْلُ إِذَا أَمْسٰى : " أَمْسَيْنَا وَأَمْسَى الْمُلْكُ لِلّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ، رَبِّ أَسْأَلُكَ خَيْرَ مَا فِيْ هٰذِهِ اللَّيْلَةِ وَخَيْرَ مَا بَعْدَهَا وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِيْ هٰذِهِ اللَّيْلَةِ وَشَرِّ مَا بَعْدَهَا، رَبِّ أَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَمِنْ سُوْءِ الْكِبَرِ أَوِ الْكُفْرِ ". وَفِيْ رِوَايَةٍ :" مِنْ سُوْءِ الْكِبَرِ وَالْكِبْرِ رَبِّ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ عَذَابٍ فِي النَّارِ وَعَذَابٍ فِي الْقَبْرِ ". وَإِذَا أَصْبَحَ قَالَ ذٰلِكَ أَيْضًا :" أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلّٰهِ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَفِيْ رِوَايَتِهِ لَمْ يَذْكُرْ :" مِنْ سُوْءِ الْكُفْرِ "

ترجمه : او جناب عبد الله بن مسعود ؓ نه روايت دے چه نبی کريم ﷺ به وئيل چه کله به ئے بيګاه کړو : امسينا وامسى الملك الخ۔ (ترجمه : مونږ بيګاه کړو او مابنام کښې بادشاهی د الله دپاره ده او صفتونه د کمال خاص الله لره دی، نشته حقدار د بندګئ سوئ د هغۀ نه، شريك نشته هغۀ لره، خاص هغۀ لره بادشاهی ده او خاص هغۀ لره حمدونه دی، او هغه په هر شی باندے قادر دے، اے ربه ! زۀ ستا نه هغه خير غواړم چه پدے شپه کښې دے او هغه خير چه ددے نه روستو دے او پناه غواړم په تا پورے د شر د هغه څه نه چه پدے شپه کښې دے او د شر د هغے نه چه ددے نه روستو دے، اے ربه ! پناه غواړم په تا پورے د سستئ او د تکليف د بوډاوالی نه يا د کفر نه۔ (د راوی شك دے) او په يو روايت کښې دی : (مِنْ سُوْءِ الْكِبَرِ وَالْكِبْرِ) يعنی د تکليف د بوډا والی نه او د تکبر نه، اے ربه ! زۀ په تا پورے پناه غواړم د عذاب نه په اُور کښې او د عذاب نه په قبر کښې۔ او کله چه به ئے صبا کړو نو داسے به ئے هم وئيل : اصبحنا الخ : يعنی مونږ صبا کړو او

سهار کښې وګرزيده بادشاهي خاص الله دپاره۔ (ابوداوَدَ او ترمذیؒ) او امام ترمذیؒ په خپل روايت کښې (مِنْ سُوْءِ الْكُفْرِ) لفظ نۀ دے ذکر کړے۔

تشريح : مِنَ الْكَسَلِ : يعنى په نيك اعمالو كښې د سستى كولو نه۔

وَمِنْ سُوْءِ الْكِبَرِ : كه كبر په كسره د كاف او سكون د باء سره شى نو په معنىٰ د تكبر او خلقو باندے ځان لوى ګنړل دى، او كه كِبَر شى په فتحه د باء سره نو بوډاوالى او ارذل العمر ته وئيلے شى۔ او همدا ډير اظهر او اشهر دے۔

لكه ددے تائيد روايت د نسائى كوى چه په هغے كښې (سُوْءِ الْعُمُرِ) لفظ دے۔

أَوِ الْكُفْرِ : دا شك د راوى دے، او د كفر نه مراد حقيقى كفر او دارنګه ناشكرى ده۔

سُوْءِ الْكِبَرِ وَالْكِبْرِ : اول په فتحه د باء سره بوډاوالے دے، او دويم په سكون د باء سره دے۔ د حق نه تكبر ته وئيلے شى۔

درجة الحديث : اسناده صحيح وقد مر هذا الحديث فى ضمن الصحاح من هذا الفصل برقم (٢٣٨١) واخرجه ابوداود (٥٠٧١) واللفظ له والترمذى (٣٣٩٠) وقال حسن صحيح۔

- 2393(13) وَعَنْ بَعْضِ بَنَاتِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يُعَلِّمُهَا فَيَقُوْلُ : " قُوْلِيْ حِيْنَ تُصْبِحِيْنَ : سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهٖ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ مَا شَاءَ اللهُ كَانَ وَمَا لَمْ يَشَأْ لَمْ يَكُنْ، أَعْلَمُ أَنَّ اللهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ، وَأَنَّ اللهَ قَدْ أَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا فَإِنَّهٗ مَنْ قَالَهَا حِيْنَ يُصْبِحُ حُفِظَ حَتّٰى يُمْسِيَ وَمَنْ قَالَهَا حِيْنَ يُمْسِيْ حُفِظَ حَتّٰى يُصْبِحَ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او د نبى كريم ﷺ د بعض لونړو نه روايت دے چه بيشكه نبى كريم ﷺ به هغے ته دا تعليم وركولو فرمايل به ئے چه كله تۀ صبا كړے نو داسے وايه : سبحان الله وبحمده ...... : (ترجمه : پاكى ده الله لره سره د صفتونو د هغۀ نه، نشته طاقت مګر په الله سره دے، الله چه څه غواړى هغۀ كيږى او هغه چه څه نۀ غواړى، نۀ كيږى، زۀ پدے خبره پوهيږم چه بيشكه الله تعالىٰ په هر شى باندے قادر دے، او يقيناً الله تعالىٰ په هر شى باندے احاطه كړيده په اعتبار د علم سره)۔ نو چا چه دا دعاء ووئيله په هغه وخت كښے چه صبا كړى نو محفوظ به شى تردے چه ماښام كړى او چا چه د ماښام په وخت

لوستله نو محفوظ به شي ترديے چه صبا كړي۔ (ابوداودٌ)

تشريح : بَعْضِ بَنَاتِ النَّبِيِّ : حافظ ابن حجرٌ وائي : زهٔ ددے په نوم باندے نهٔ يم خبر شوے۔ او د نبي كريم ﷺ ټولے لونړه صحابياتے دي نو ددے د نوم جهالت ضرر نهٔ وركوي۔

أَعْلَمُ : زهٔ پوهيږم۔

أَنَّ اللهَ : دا دوه صفتونه ئے راجمعه كړل يو د الله په قدرت باندے علم لرل، او بل د الله په علم باندے، دا د اصولو د دين عمده صفات دي،

او په همدے دواړو باندے د حشر او نشر اثبات تماميږي، او پدے كښے په ملاحده ؤ باندے رد چه د بعث او حشر الاجساد نه منكر دي، ځكه چه كله الله تعالىٰ په جزئياتو او كلياتو عالم دے په طريقه د احاطے سره، او بيا د هغے په راجمعه كولو قادر دے نو هغه به راژوندي كوي، نو ځكه ئے دا دواړه صفات ذكر كړل۔

حُفِظَ : په صيغه د مجهول، يعني د مصيبتونو او گناهونو نه به محفوظ شي۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه ابوداود (٥٠٧٥) والنسائي في عمل اليوم والليلة (١٢) وابن السني في عمل اليوم والليلة (٤٦) وقد تكلم الحافظ في تخريج الأذكار في رجال السند الى ان قال : وعبد الحميد وسالم يعني الراوي للحديث عن عبد الحميد ذكرهما ابن حبان في الثقات لكن قال ابو حاتم الرازي : عبد الحميد مجهول آه.

- 2394 (14) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " مَنْ قَالَ حِيْنَ يُصْبِحُ : (فَسُبْحَانَ اللهِ حِيْنَ تُمْسُوْنَ وَحِيْنَ تُصْبِحُوْنَ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَعَشِيًّا وَحِيْنَ تُظْهِرُوْنَ) إِلٰى قَوْلِهٖ : (وَكَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ) أَدْرَكَ مَا فَاتَهٗ فِيْ يَوْمِهٖ ذٰلِكَ وَمَنْ قَالَهُنَّ حِيْنَ يُمْسِيْ أَدْرَكَ مَا فَاتَهٗ فِيْ لَيْلَتِهٖ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او جناب عبد الله بن عباس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چه د صبا په وخت كښے (دا آيت) ولوستلو : فسبحان الله حين تمسون ...... تر (وكذلك تخرجون) پورے۔ نو ويه مومي هغه څه چه دهٔ نه په دغه ورځ كښے فوت شوي وي او چا

چه دا مابنام کښې ولوستل نو ويه مومی هغه څه چه دده نه فوت شوی وی په دغه شپه کښې۔ (ابو داوّد)

تشريح : وَحِيْنَ تُظْهِرُوْنَ : ددے نه روستو آيت داسے دے : ﴿يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ الْمَيِّتَ مِنَ الْحَيِّ وَيُحْيِي الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَكَذٰلِكَ تُخْرَجُوْنَ﴾۔ (سورة الروم:١٩/١٨)

يخرج الحي من الميت : يعنى مارغه د انډے نه، حيوان د نطفے نه، گياه د دانے نه، مؤمن د کافر نه، ذاکر د غافل نه، عالم د جاهل نه، نيك د بد نه راوباسی۔

أَدْرَكَ مَا فَاتَهُ : يعنى دهٔ نه چه د شپے کوم وِرد او وظيفه پاتے شوی وی نو د هغے ثواب به ومومی۔ ليکن روايت ضعيف جدًا دے۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف: اخرجه أبو داود (٥٠٧٦) واللفظ له والعقيلي في الضعفاء الكبير (٢/١٠٠) والطبراني في الكبير (٢٣٩/١٢) رقم (١٢٩٩١) قال الحافظ في تخريج الأذكار (حديث غريب وضعفه البخاري) وفي اسناده محمد بن عبد الرحمن البيلماني لا يحتج به، (قاله محمد المناوي في تخريج احاديث المصابيح٢/٣٠٩) وفيه سعيد بن بشير مجهول.

- 2395(15) وَعَنْ أَبِي عَيَّاشٍ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: " مَنْ قَالَ إِذَا أَصْبَحَ :لَا إِلٰـهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ، كَانَ لَهُ عِدْلُ رَقَبَةٍ مِنْ وُلْدِ إِسْمَاعِيْلَ وَكُتِبَ لَهُ عَشْرُ حَسَنَاتٍ وَحُطَّ عَنْهُ عَشْرُ سَيِّئَاتٍ وَرُفِعَ عَشْرُ دَرَجَاتٍ وَكَانَ فِيْ حِرْزٍ مِنَ الشَّيْطَانِ حَتّٰى يُمْسِيَ وَإِنْ قَالَهَا إِذَا أَمْسٰى كَانَ لَهُ مِثْلُ ذٰلِكَ حَتّٰى يُصْبِحَ ". قَالَ حَمَّادُ بْنُ سَلِمَةَ : فَرَأٰى رَجُلٌ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ فِيْمَا يَرَى النَّائِمُ فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّ أَبَا عَيَّاشٍ يُحَدِّثُ عَنْكَ بِكَذَا وَكَذَا قَالَ : " صَدَقَ أَبُوْعَيَّاشٍ ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه

ترجمه : او د جناب ابو عياش ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چه ووېل کلمه چه صبا کړی : لا اله الّا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير۔ نو دهٔ ته به د اسماعيل عليه السلام د اولادو نه د يو غلام د آزادولو په اندازه ثواب ملاوېږی، او دهٔ لره به لس نيکيانے ليکلے کيږی او لس گناهونه به ترے

رژیږی او لس درجات به ئے پورته کړے شی، او دے به تر ماښامه پورے د شیطان نه په حفاظت کښے وی، او که دا ووائی کله چه بیګاه کړی نو دهٔ دپاره به ددے په شان ثوابونه وی تردے چه صبا کړی۔ حماد بن سلمهٔ راوی وائی : نو یو سړی رسول الله ﷺ لره په خوب کښے ولیدو نو ورته ئے وویل : اے د الله رسوله ! یقیناً ابو عیاش ستا نه فلانے فلانے حدیث بیانوی، نو هغهٔ وفرمایل : ابوعیاش رشتیا وائی۔ (ابوداودؒ، ابن ماجهؒ)

تشریح : ابی عیاش : بعض وائی : ابن ابی عیاش دے، بعض ابن عائش ذکر کوی۔ حافظ وائی : اول قول صحیح دے۔ دا ابو عیاش الزرقی ﷛ انصاری صحابی دے کوم چه صلاة الخوف په عسفان کښے نقل کړیدے، ددهٔ نوم کښے اختلاف دے،

بعض وائی : زید بن صامت دے، بعض وائی : ابن النعمان دے، بعض وائی : عبید بن معاویه دے، ځینی وائی : عبد الرحمن بن معاویه بن الصلت دے، اُحد او د هغے نه روستو غزواتو ته حاضر شویدے۔ او د څلویښتم (٤٠) سنه هجری نه روستو په خلافت د معاویه ﷛ کښې وفات دے۔

لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ : ددے نه روستو په روایت د ابن السنی کښې ورسره دا الفاظ زیات دی : [يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوتُ]۔

ددے یو کرت هم فضیلت راغلے دے او د لسو لسو کرتو هم، خو هغے کښې ورسره صرف (یحیی ویمیت) راغلے دے۔ یعنی (وَهُوَ حَيٌّ لَايَمُوتُ) ورسره نشته، او روستنی کلمات شته۔ او د څلورو عربی غلامانو د آزادیدو اجر پکښې خودلے شویدے۔

(سنن الترمذی٣٥٥٣) باسناد صحیح عن ابی ایوب الانصاری ﷛)

قَالَ حَمَّادُ بْنُ سَلِمَةَ : دا ددے حدیث راوی دے د سهیل بن ابی صالح نه روایت کوی۔ ددهٔ نوم حماد بن سلمه بن دینار البصری ابو سلمه دے، ثقه، عابد، اثبت الناس دے۔ وتغیر حفظه بآخره۔ په سنه (١٦٧) کښې وفات دے۔

مصنف وائی : دا د بصریانو د أعلامو نه دے، او د هغوی د امامانو نه دے، کثیر الحدیث، واسع الروایة دے، په سنت تابعدارئ او عبادت باندے مشهور دے۔

فَرَأَى رَجُلٌ : دا خبره ورسره د تائید او اطمینان د زړهٔ دپاره ذکر کوی، نهٔ دپاره د استدلال کولو په صحت او ثبوت د روایت باندے ځکه چه پدے خبره اجماع ده چه په خوبونو باندے احکام او حدیث نهٔ ثابتیږی، البته تائید او اطمینان وی۔

درجة الحديث : إسناده صحيح، اخرجه أبوداود (٥٠٧٧) وابن ماجه (٣٨٦٧) واحمد (٤/٦٠) .

- 2396 (16) وَعَنِ الْحَارِثِ بْنِ مُسْلِمٍ التَّمِيْمِيِّ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ أَنَّهُ أَسَرَّ إِلَيْهِ فَقَالَ : " إِذَا انْصَرَفْتَ مِنْ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ فَقُلْ قَبْلَ أَنْ تُكَلِّمَ أَحَدًا اَللّٰهُمَّ أَجِرْنِيْ مِنَ النَّارِ سَبْعَ مَرَّاتٍ فَإِنَّكَ إِذَا قُلْتَ ذٰلِكَ ثُمَّ مُتَّ فِيْ لَيْلَتِكَ كُتِبَ لَكَ جَوَازٌ مِنْهَا ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او جناب حارث بن مسلم تميمیؒ د خپل پلار نه روايت کوی، هغهٔ د رسول الله ﷺ نه چه هغهٔ ددهٔ پلار ته په پټه وويل : کله چه تهٔ د ماښام مانځه نه سلام وګرزوے نو د خبرو کولو نه مخکښې داسے ووايه : اللهم أجرني من النار۔ (اے الله ما ته د اُور نه پناه راکړه) اُوه کرته، نو کله چه تا دا ووېل بيا تهٔ په دغه شپه کښې مړ شے ستا دپاره به د اُور نه نجات وليکلے شي۔ (ابوداودؒ)

تشريح : حارث بن مسلم تميمي تابعیؒ دے، په شام کښے وسيدلے دے۔ پلارئے مسلم بن الحارث تميمي صحابي دے، په روايت د نسائي او ابن حبان کښے (مسلم بن حارث بن مسلم) راغلے دے، ليکن صحيح روايت د ابوداود دے کوم چه دلته مصنف ذکر کړيدے۔

أَسَرَّ إِلَيْهِ : يعني نبي کريم ﷺ پټه خبره وکړه مسلم بن حارث ﷛ ته۔

طيبیؒ وائی : دا پټوالے د بخل په طور نهٔ وو بلکه پدے کښے هغهٔ ته ترغيب ورکول وو چه دا زده کړی او د هغهٔ په زړهٔ کښے مضبوط کيني لکه يو راز چه څنګه ساتلے شي۔

أَجِرْنِيْ : د اِجارے نه دے، او هغه د جَور نه دے۔يعني ما ته پناهي راکړه۔ او خلاص مے کړه۔

جَوَازٌ : يعني امان او خلاصے۔ او په بعضو نسخو کښې (جواز) دے، د هغے معنیٰ هم د خلاصي او نجات ده۔

درجة الحديث : إسناده ضعيف : اخرجه ابوداود (٥٠٧٩) (٥٠٨٠) واللفظ له واحمد (١٨٠٨٣) والنسائی فی عمل اليوم والليلة (١١١) وابن حبان (٢٣٤٦) وابن السني (١٣٨) وفيه مسلم بن الحارث جَهله الدارقطني.

- 2397(17) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ : لَمْ يَكُنْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَدَعُ هٰؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ حِيْنَ يُمْسِيْ وَحِيْنَ يُصْبِحُ : "اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ الْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ، اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِيْ دِيْنِيْ وَدُنْيَاىَ وَأَهْلِيْ وَمَالِيْ، اَللّٰهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِيْ وَآمِنْ رَوْعَاتِيْ، اَللّٰهُمَّ احْفَظْنِيْ مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ وَمِنْ خَلْفِيْ وَعَنْ يَمِيْنِيْ وَعَنْ شِمَالِيْ وَمِنْ فَوْقِيْ وَأَعُوْذُ بِعَظَمَتِكَ أَنْ أُغْتَالَ مِنْ تَحْتِيْ ". قَالَ وَكِيْعٌ يَعْنِي الْخَسْفَ، رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او جناب عبد الله بن عمر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ به ماښام او صبا کښے دا کلمات نۀ پريخودل : اللهم انى اسألك العافية ......) (ترجمه : اے الله ! زۀ ستا نه په دنيا او په آخرت کښے روغوالے غواړم، اے الله زۀ ستا نه معافی او روغوالے په دين زما او دنيا زما او اهل زما او مال زما کښے غواړم۔ اے الله ! زما عيبونه پټ کړه او زما يرے په امن کړه، اے الله ! زما حفاظت وکړه د مخکښے زما نه او د شا طرف زما نه او د ښی طرف زما نه او د گس طرف زما نه او د بره زما نه۔ او زۀ ستا په لوی والی سره پناه غواړم ددے نه چه زۀ د خپل لاندے طرف نه هلاك کړے شم۔

وکيعؒ راوی وائی : يعنی خسف (په زمکه کښې داخليدو) نه۔ (ابو داودؒ)

تشريح : وَالْعَافِيَةَ فِيْ دِيْنِيْ : په دين کښې عافيت دا دے چه د گناهونو او بدعاتو او غلطو عقيدو او نظريو نه محفوظ شی۔

عَوْرَاتِيْ : د عورات نه مراد د بدن، دين او اهل او مال عيبونه او خفگانونه دی۔ عورت هغه شے دے چه د هغے په ښکاره کولو انسان شرميږی او انسان پرے خفه کيږی، مراد ترے نه ټول عيبونه دی۔

وَآمِنْ : امر صيغه ده، د ايمان نه، په معنیٰ د امن ورکولو سره۔ يعنی امن والا وگرځوه زما يرے، او زما يرے په امن سره بدلے کړه۔

سندیؒ داسے معنیٰ کوی :

[إِدْفَعْ عَنِّيْ خَوْفًا يُقْلِقُنِيْ وَيُزْعِجُنِيْ]

ما نه داسے يره ختمه کړه چه ما پريشانه کوی۔ گويا که تقدير داسے دے : [وَآمِنِّيْ مِنْ

رَوُعَاتِيُ] يعنې ما ته امن راکړه زما د يرو نه.
رَوُعَاتِيُ : جمع د رَوُعَة ده، يريے ته وائي.
أَنُ أُغُتَالَ مِنُ تَحُتِيُ : يعنې چه زهٔ هلاك كړے شم د لاندے طرف نه، مراد ددے نه خسف (يعنې په زمكه ننوتل) دی. دارنګه په اُوبو کښے غرقيدل دی لکه د فرعونيانو په شان. او اغتيال په اصل کښې دے ته وائي چه انسان ته د هغه ځای نه راتلل وشي چه دے پريے پوهه نهٔ وی، او د داسے مکروه (ناکاره کار) سره ملاؤ شی چه دے ئے انتظار نهٔ کوی.
د هر طرف نه ئے د حفاظت سوال وکړو ځکه چه انسان د شياطين الانس والجن (دشمنانو) ترمينځ داسے راګير دے لکه ګډه چه د زمرو ترمينځ راګيره شی چه د الله نه سویٰ د هغهٔ هيڅوك حفاظت کونکے نشته. ډيره ښکلے دعاء ده، هر مسلمان له ددے زده کول او بيا په پابندئ سره ئے لوستل پکار دی.

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه أبو داود (٥٠٧٤) وابن ماجه (٣٨٧١) وابن حبان (٢٤٥٦) وصححه الحاكم (١/٥١٧).

- 2398(18) وَعَنُ أَنَسٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ:" مَنُ قَالَ حِيُنَ يُصُبِحُ : اَللّٰهُمَّ أَصُبَحُنَا نُشُهِدُكَ وَنُشُهِدُ حَمَلَةَ عَرُشِكَ وَمَلَائِكَتَكَ وَجَمِيُعَ خَلُقِكَ أَنَّكَ أَنُتَ اللّٰهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنُتَ وَحُدَكَ لَا شَرِيُكَ لَكَ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبُدُكَ وَرَسُولُكَ إِلَّا غَفَرَ اللّٰهُ لَهُ مَا أَصَابَهُ فِيُ يَوُمِهِ ذٰلِكَ مِنُ ذَنُبٍ . "رَوَاهُ التِّرُمِذِيُّ وَأَبُوُدَاوُدَ وَقَالَ التِّرُمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيُثٌ غَرِيُبٌ

ترجمه : او جناب انس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چه وويل كله چه صبا كړی : اللهم أصبحنا ...... الخ. (ترجمه : اے الله ! ما صبا كړو چه تا ګواه كوم او ستا د عرش پورته كونكی ملائك او ستا (نور) ملائك او ستا ټول مخلوق ګواه كوم چه بيشكه تهٔ الله ئے، نشته حقدار د بندګئ سيوا ستا نه تهٔ يواځے ئے، ستا هيڅ شريك نشته، او يقيناً محمد ﷺ ستا بنده او ستا رسول دے، مګر الله تعالیٰ به دهٔ ته هغه ګناهونه وبخښی چه دهٔ ورته په دغه ورځ رسيدل كړی وی. (ترمذیؒ، ابو داؤدؒ او امام ترمذیؒ وائي : دا حديث غريب دے).

تشريح: نُشْهِدُكَ : د اِشهاد نه دے، گواه جوړول۔
وَمَلَائِكَتَكَ : دا منصوب دے عطف دے په (حَمَلَةَ) باندے۔ او دا تعميم بعد التخصيص دے۔
إِلَّا غَفَرَ اللّٰهُ لَهُ : دلته (إلا) زائده ده۔ او صاحب د قاموس وئيلی دی چه په کلام کښے کله إلا زائده راځی۔
مِنْ ذَنْبٍ : يعنی هره گناه چه وی۔ ليکن ددے نه کبائر مستثنیٰ دی۔
دارنګه هغه هم مستثنیٰ دی چه د حقوق العباد سره متعلق وی۔ او مطلق ئے ذکر کړو دپاره د ترغيب، اګرکه الله تعالیٰ د شرك نه سویٰ هم چا ته وغواړی بخښی۔
دے روايت کښ کلام دے، او کوم روايت کښ چه د صبا او بيګاه لوستلو خبره نشته بلکه مطلقاً راغلے دے، او په صيغه د مفرد دے نو هغه صحيح حديث دے۔ نو هغه لوستل پکار دی، او د هغے الفاظ داسے دی: [اَللّٰهُمَّ إِنِّیْ أُشْهِدُكَ، وَأُشْهِدُ مَلَائِكَتَكَ، وَحَمَلَةَ عَرْشِكَ، وَأُشْهِدُ مَنْ فِی السَّمٰوَاتِ وَمَنْ فِی الْاَرْضِ اَنَّكَ اَنْتَ اللّٰهُ، لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ وَحْدَكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ، وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُكَ وَرَسُوْلُكَ]۔
چا چه دا يو کرت ولوسته، الله تعالیٰ به ئے دريمه حصه د اُور نه آزاد کړی، او که چا دوه کرته ولوسته نو دوه حصے به ئے د اُور نه آزاد کړی او که چا درے کرته ولوسته نو الله تعالیٰ به ئے ټول د اُور نه آزاد کړی۔ (الصحيحة ٤٧٦/١) رقم (٢٦٧) اخرجه الحاكم (٥٢٣/١) باسناد صحيح)
درجة الحديث: اسناده ضعيف: أخرجه الترمذي (٣٤٩٥) وقال حديث غريب وأبوداود (٥٠٧٨) والنسائى فى عمل اليوم والليلة (١٠) وفيه بقية بن الوليد، وقد حسن الحافظ الحديث بشواهده في تخريج الأذكار.

- 2399 (19) وَعَنْ ثَوْبَانَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: "مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يَقُوْلُ إِذَا أَمْسٰی وَإِذَا أَصْبَحَ ثَلَاثًا رَضِيْتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِيْنًا وَبِمُحَمَّدٍ نَبِيًّا إِلَّا كَانَ حَقًّا عَلَى اللّٰهِ أَنْ يُرْضِيَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ

ترجمه: او جناب ثوبان ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمايل: نشته يو بنده مسلمان

چه ووائی کله چه بیګاه کړی او کله چه صبا کړی درې کرته : رضيت بالله ربا وبالاسلام دینا وبمحمد نبیا۔ مګر په الله باندې دا لازمه ده چه دې به د قیامت په ورځ راضی کوی۔ (احمدؒ، ترمذیؒ)

تشریح : رَضِيتُ بِاللهِ : یعنی زهٔ د الله په تقدیر او د هغهٔ په شرعی احکامو او تکوینی احکامو باندې راضی یم۔

وَبِالْإِسْلَامِ : یعنی د اسلام په احکامو باندې۔ او په دې کښې براءت دې د ټولو باطلو دینونو نه۔

وَبِمُحَمَّدٍ : یعنی د محمد ﷺ په تابعداریٔ باندې راضی یم۔

(۱) او ربا او دینا او نبیا درې واړه تمییزونه دی۔ یعنی په الله باندې راضی یم په اعتبار د رب جوړیدو سره، او په اسلام باندې په اعتبار د دین سره او په محمد ﷺ باندې په اعتبار د نبی جوړیدو سره۔

(۲) یا دا حالات مؤکدات دی۔ یعنی په داسې حال کښې چه رب دې، او په داسې حال کښې چه دین دې او په داسې حال کښې چه نبی دې۔

إِلَّا كَانَ حَقًّا عَلَى اللهِ : یعنی الله به خپله وعده ورسره پوره کوی۔ یا په الله واجب دی په وجوب تَفَضُّلِی سره۔

يُرْضِيَهُ : یعنی ډیر ثوابونه به ورکړی تردې چه خوشحاله به ئې کړی۔

درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه الترمذی (٣٣٨٦) وقال حديث حسن غريب، وفي إسناده سعيد بن المرزبان وهو ضعيف ومدلس كما قال الحافظ فى التقريب، ولكن يشهد له حديث أبي داود (٥٠٧٢) وفي إسناده سابق بن ناجية وُثِّقَ عند الذهبى ومقبول عند الحافظ ابن حجر، ولذلك حسنه الحافظ في تخريج الأذكار، وذكره ابن حبان فى الثقات۔

- 2400(20) وَعَنْ حُذَيْفَةَ ؓ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَنَامَ وَضَعَ يَدَهُ تَحْتَ رَأْسِهِ ثُمَّ قَالَ :" اَللّٰهُمَّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَجْمَعُ عِبَادَكَ أَوْ تَبْعَثُ عِبَادَكَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

- 2401(21) وَرَوَاهُ أَحْمَدُ عَنِ الْبَرَاءِ.

ترجمه : او د جناب حذیفه ؓ نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ به کله د خوب اراده

وکړه نو خپل (ښي) لاس به ئې د خپل سر لاندې کيخودو بيا به ئې وويل : اللهم قني عذابك ......الخ ترجمه : اې الله ! ما بچ وساته د خپل عذاب نه په هغه ورځ چه ته به خپل بندګان راجمع کوې يا ئې داسې وويل : ته به خپل بندګان راپورته کوې)۔ (ترمذیؒ او امام احمد د براء ﷺ نه روايت کړيدې)۔

تشريح : تَحْتَ رَأْسِهِ : په راتلونکی روايت کښې (تَحْتَ خَدِّهِ) راغلې دې، نو کله به ئې د سر لاندې لاس کيخودو او کله به ئې د اننګی لاندې۔ يا اُوږد لاس ئې کيخودو چه د مخ او سر لاندې راغلو۔ نو بعض طرف ئې ذکر کړو۔

أَوْ تَبْعَثُ : (اَوْ) د راوی شك دې، او په حديث د ابن مسعود ﷺ کښې (تَجْمَعُ) لفظ دې په غير د شك نه او په راتلونکی حديث د حفصه کښې (تَبْعَثُ) دې بغير د شك نه۔ نو هر يو لفظ چه ئې وويل صحيح دې۔

او هرکله چه خوب او بيداريدل داسې دی لکه د مرګ نه روستو دوباره ژوندی کيدل نو پدې وجه ئې دا دعا وکړه دې دپاره چه دغه حالت راياد کړی۔

او بعض علماؤ وئيلی دی چه دا دعاء درې کرته وئيل مستحب دی لکه روستو حديث د حفصه رضی الله عنها کښې راغلی دی۔

مګر شيخ البانیؒ فرمائی چه دغه روايت صحيح دې ليکن د درې کرته وئيلو زيادت پکښې صحيح نۀ دې۔

او دا ذکر د هر فرض مانځه نه روستو هم په روايت د مسلم کښې يو کرت ثابت دې لکه چه مخکښې تير شويدې۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : أخرجه أحمد (٣٨٢/٥) والترمذي (٣٣٩٨) وقال حديث حسن صحيح) . ________

- 2402(22) وَعَنْ حَفْصَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَرْقُدَ وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنٰى تَحْتَ خَدِّهٖ ثُمَّ يَقُوْلُ : " اَللّٰهُمَّ قِنِيْ عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ ". ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ ________

ترجمه : او حفصه رضی الله عنها نه روايت دې چه بيشکه رسول الله ﷺ به کله د خوب اراده وکړه نو خپل ښې لاس به ئې د خپل (ښی) اننګی لاندې کيخودو بيا به ئې

وفرمايل : اللهم قني ...... (ترجمه : اے الله ! ما د خپل عذاب نه بچ وساته په هغه ورځ چه ته به خپل بندګان راپورته کوے)۔ درے کرته۔ (ابوداوُدْ)

تشریح : ددے روایت نه دا فائده معلومیږی چه عقلمند له پکار دی چه خوب او بیداریدل د مرګ او د دوباره ژوند د یادولو دپاره ذریعه وګرځوی۔

فائده : حافظ ابن القیمؒ فرمائی : فائده من خوب دا دے چه بنده په ښی اړخ اُوده شی، دے دپاره چه طعام پدے طریقه په معده کښے په ښائسته شان قرارے ونیسی، ځکه چه معده ګس طرفته لږه شان مائله وی، او په ګس طرف باندے ډیر خوب کول زړهٔ ته ضرر ورکوی ځکه چه پدے سره اندامونه زړهٔ ته مائله شی نو زړهٔ طرفته مواد متوجه شی۔ (زاد المعاد ٤/١٦٦)

او په علمی توګه دا خبره ثابته شویده چه په ښی اړخ باندے خوب کول په معده باندے د جګر بوج او زور منع کوی او معدے سره د هغے په موادو فارغه کولو کښے مدد کوی لکه پدے سره د زړهٔ عمل هم آسانیږی، ځکه چه پدے سره زړهٔ زور نهٔ اخلی، او په زړهٔ باندے منع کونکے پرده نهٔ راځی۔

هرچه په ګس طرف باندے خوب دے، نو دا په زړهٔ باندے بوج زیاتوی ځکه چه پدے طریقه معده او جګر په زړهٔ باندے کیخودلے شی او دغه شان په ښی پرپوس باندے هم بوج راځی۔

او هرچه په سینه باندے خوب دے نو هغه هم ضرر لری ځکه چه اُودهٔ انسان دپاره دا ضروری ده چه د تنفس (ساه) اخستو دپاره به خپل ځټ یو طرفته تاووی، نو تکلیف به ورته رسیږی، او هرچه په شا باندے خوب دے (ستونی ستاق) نو پدے سره کولمے منع کونکے پرده راپورته کوی، او هغه بیا د سینے په پنجره باندے زور راولی نو انسان پدے سره ضیق او تنګوالے محسوس کوی او ډیر کرته د خوب نه به په تنګئ او تکلیف سره راپاځیږی۔

(دراسة لظاهرة النوم للدكتور عبد القادر الميلادي، مجلة منار الاسلام سبتمبر ١٩٨٢، والاعجاز العلمي في الاسلام ص (١١١) لمحمد كامل عبد الصمد)

درجة الحديث : اسناده صحيح دون قوله (ثلاث مرات)، أخرجه أحمد (٦/٢٨٨) وأبوداود (٥٠٤٥) والنسائي في عمل اليوم والليلة (٧٦٢) السلسلة الصحيحة (٢٧٥٤).

- 2303(23) وَعَنْ عَلِيٍّ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يَقُوْلُ عِنْدَ مَضْجَعِهِ : " اَللّٰهُمَّ إِنِّىْ أَعُوْذُ بِوَجْهِكَ الْكَرِيْمِ وَكَلِمَاتِكَ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ، اَللّٰهُمَّ أَنْتَ تَكْشِفُ الْمَغْرَمَ وَالْمَأْثَمَ، اَللّٰهُمَّ لَا يُهْزَمُ جُنْدُكَ وَلَا يُخْلَفُ وَعْدُكَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ سُبْحَانَكَ وَبِحَمْدِكَ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او جناب علی ﷺ نه روایت دے چه بیشکه رسول الله به کله چه خپله ډډه ولګوله نو داسے به ئے ویل : اللهم انی اعوذ بوجهك ...... (ترجمه : اے الله ! زهٔ پناه غوارم په عزتمن مخ ستا سره او په پوره کلماتو ستا سره د شر د هغه څه نه چه تهٔ د هغے تندے رانیونکے ئے، اے الله ! تهٔ تاوان او ګناه لرے کوے، اے الله ! ستا لښکر شکست نهٔ خوری، او ستا وعده کښې خلاف نشی کیدے او مالدار ته مالداری ستا په مقابله کښې فائده نهٔ ورکوی، تا لره پاکی ده او ستا دپاره حمدونه دی۔ (ابوداوُدؒ)

تشریح : مَضْجَعِهِ : یعنی په وخت د ډډه لګولو کښې په بستره کښې۔ یا اسم زمان یا اسم مکان دے۔

اَلتَّامَّاتِ : یعنی پوره دی په فائده ورکولو کښې۔ ددے کلماتو نه مراد اسماء او صفات د الله تعالیٰ دی، یا قرآنی آیتونه دی۔

اَلْمَغْرَمَ : یعنی تاوان د ګناهونو او معاصیو۔ یا ددے نه مراد قرض دے۔

توریشتیؒ وائی چه غرم او مغرم هغه ضرر ته وائی چه د انسان په مال کښې رسیږی په غیر د جرم او جنایت ددهٔ نه، دارنګه هغه شے چه په دهٔ باندے ئے ادا کول لازمیږی۔ او غرام په اصل کښې دائمی شر او عذاب ته وئیلے شی۔ او دلته ترے مراد، تاوان، او درانهٔ قرضونه، یا نور مظالم دی چه انسان پکښې نیولے کیږی۔

وَالْمَأْثَمَ : مأثم هغه شے دے چه انسان په هغے سره ګناهګاریږی۔ یا مصدر میمی دے په معنیٰ د ګناه سره۔

لَا يُهْزَمُ : صیغه مجهول ده، یعنی شکست نهٔ خوری، او غلبه نشی کیدے۔

وَلَا يُخْلَفُ : مجهول صیغه ده، د اخلاف نه دے،

وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ : ددے درے ترجمے دی (١) بخت والا ته د هغهٔ بخت فائده نهٔ ورکوی بلکه نیك عمل به ورته فائده ورکوی۔ (٢) نیکونو والا ته د هغهٔ نیکونه فائده نهٔ ورکوی۔ (٣) مالدار ته د هغهٔ مالداری فائده نهٔ ورکوی۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف، أخرجه أبوداود (٥٠٥٢) والنسائي في عمل اليوم والليلة (٧٦٧) وابن السني (٧١٨) وفي اسناده الحارث الاعور وفي حديثه ضعف (ابن حجر) وفيه عنعنة ابى اسحاق، ورواه الطبراني في الاوسط وفيه حماد بن عبد الرحمن الكوفي وهو ضعيف، وصحح اسناده النووى في الأذكار وتعقبه الحافظ في تخريج الأذكار كما في الفتوحات الربانية لابن علان فقال هذا حديث حسن وفيه علتان تحطه من مرتبة الصحيح (و ذكرتُ العلتين) .

- 2304(24) وَعَنْ أَبِىْ سَعِيْدٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" مَنْ قَالَ حِيْنَ يَأْوِىْ إِلٰى فِرَاشِهٖ : أَسْتَغْفِرُ اللهَ الَّذِىْ لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَىُّ الْقَيُّوْمُ وَأَتُوْبُ إِلَيْهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ غَفَرَ اللهُ لَهٗ ذُنُوْبَهٗ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ أَوْ عَدَدَ رَمْلِ عَالِجٍ أَوْ عَدَدَ وَرَقِ الشَّجَرِ أَوْ عَدَدَ أَيَّامِ الدُّنْيَا ". رَوَاهُ التِّرْمِذِىُّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ

ترجمه : او جناب ابوسعید خدری ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چه وویل کله چه بسترے ته راشی : استغفر الله الذی لا اله الا هو الحی القیوم واتوب الیه۔ درے کرته الله تعالیٰ به ورته گناهونه معاف کړی اگرکه د دریاب د زگ په اندازه وی، یا په شمار د شړو د عالج مقام او یا په شمار د پاڼړو د ونو سره یا په شمار د ورځو د دنیا۔ (ترمذیؒ روایت کړیدے او وئیلی ئے دی چه دا حدیث غریب دے)

تشریح : عَالِجٍ : په فتحه د لام او په کسره سره۔ په شام کښې یو ځای دے چه هلته شگے ډیرے دی۔ طیبیؒ وائی : په بادیه کښے یو ځای دے چه ډیرے شگے لری۔

نهایه کښې دی : عالج د شگو ډیرکو ته وئیلے شی چه د یو بل دپاسه وی۔ جمع ئے عوالج ده۔

پدے روایت کښې هم ددے ذکر ډیر لوی فضیلت راغلو چه ددے ویونکی ته مغفرت ملاویږی اگرکه گناهونه دومره لرے حد ته رسیدلی وی چه د شمار لاندے نهٔ راځی او د

الله فضل فراخه دے او ورکړه ئے عامه ده۔ مګر روايت ضعيف دے۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : أخرجه أحمد (٣/١٠) والترمذي (٣٣٩٧) وأبو يعلى في المسند (٢/٤٩٠) حديث (١٣٣٩) وفي إسناده عطية العوفي ضعيف، وعبيد الله بن الوليد الوصافي وهو ضعيف.

- 2305(25) وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَأْخُذُ مَضْجَعَهُ بِقِرَاءَةِ سُوْرَةٍ مِنْ كِتَابِ اللهِ إِلَّا وَكَّلَ اللهُ بِهِ مَلَكًا فَلَا يَقْرَبُهُ شَيْءٌ يُؤْذِيْهِ حَتّٰى يَهُبَّ مَتٰى هَبَّ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او شداد بن اوس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمايل : نشته يو مسلمان چه خپله ډېره لګول د کتاب الله نه په يو سورت لوستلو سره شروع کړی مګر الله تعالیٰ به په هغهٔ باندے يو ملائك مقرر کړی نو دۀ ته به هيڅ شے نۀ نزدے کيږی چه دۀ ته تکليف ورکړی تردے چه دے راپاڅيږی هرکله چه راپاڅيږی۔

تشريح : بِقِرَاءَةٍ : يعنی شروع کونکے وی په يو سورت لوستلو سره۔ يا متلبس وی د هغې په قراءت سره۔

وَكَّلَ اللهُ بِهِ مَلَكًا : يعنی الله تعالیٰ به پرے ملائك مقرر کړی چه ددهٔ حفاظت به کوی د ضرری څيزونو نه۔

حَتّٰى يَهُبَّ : د باب د نصر نه۔ بيداريدو ته وئيلے شی۔

مَتٰى هَبَّ : يعنی هرکله چه رابيداريږی، لږ وخت وی او که ډير۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : أخرجه أحمد (٤/١٢٥) والترمذي (٣٤٠٧) والنسائی فی عمل اليوم والليلة (٨١٢) وابن السني في عمل اليوم والليلة (٨١٢) في اسناده مجهول عن شداد بن اوس وابومسعود الجريري قد اختلط .

- 2306(26) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" خَلَّتَانِ لَا يُحْصِيْهِمَا رَجُلٌ مُسْلِمٌ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ أَلَا وَهُمَا يَسِيْرٌ وَمَنْ يَعْمَلُ بِهِمَا قَلِيْلٌ يُسَبِّحُ اللهَ فِيْ دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ عَشْرًا وَيَحْمَدُهُ عَشْرًا وَيُكَبِّرُهُ عَشْرًا " قَالَ : فَأَنَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَعْقِدُهَا بِيَدِهِ قَالَ : " فَتِلْكَ خَمْسُوْنَ وَمِائَةٌ فِي اللِّسَانِ وَأَلْفٌ

وَخَمْسُمِائَةٍ فِي الْمِيزَانِ وَإِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ يُسَبِّحُهُ وَيُكَبِّرُهُ وَيَحْمَدُهُ مِائَةً فَتِلْكَ مِائَةٌ بِاللِّسَانِ وَأَلْفٌ فِي الْمِيزَانِ فَأَيُّكُمْ يَعْمَلُ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ أَلْفَيْنِ وَخَمْسَمِائَةِ سَيِّئَةٍ ؟ " قَالُوا : وَكَيْفَ لَا نُحْصِيهَا ؟ قَالَ : "يَأْتِي أَحَدَكُمُ الشَّيْطَانُ وَهُوَ فِي صَلَاتِهِ فَيَقُولُ: اُذْكُرْ كَذَا اُذْكُرْ كَذَا حَتّٰى يَنْفَتِلَ فَلَعَلَّهُ أَنْ لَا يَفْعَلَ وَيَأْتِيهِ فِي مَضْجَعِهِ فَلَا يَزَالُ يُنَوِّمُهُ حَتّٰى يَنَامَ " . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُودَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ قَالَ : " خَصْلَتَانِ أَوْ خَلَّتَانِ لَا يُحَافِظُ عَلَيْهِمَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ. "وَكَذَا فِي رِوَايَتِهِ بَعْدَ قَوْلِهِ :" وَأَلْفٌ وَخَمْسُمِائَةٍ فِي الْمِيزَانِ " قَالَ : " وَيُكَبِّرُ أَرْبَعًا وَّثَلَاثِيْنَ إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ " وَيَحْمَدُ ثَلَاثًا وَثَلَاثِيْنَ وَيُسَبِّحُ ثَلَاثًا وَّثَلَاثِيْنَ ". وَفِي أَكْثَرِ نُسَخِ الْمَصَابِيحِ عَنْ : عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ

ترجمه : او جناب عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : دوه خویونه دی چه سړے مسلمان هغه په عمل کښې نهٔ راګیروی مګر جنت ته به داخل شی، خبر شئ هغه دواړه آسان دی او عمل کونکی پرے کم دی۔ د هر مانځه نه روستو به لس کرته سبحان الله وائی او لس کرته به الحمد لله وائی او لس کرته به الله اکبر وائی، هغه فرمائی : ما رسول الله ﷺ ولیدو چه په خپل لاس سره ئے په ګوتو سره هغهٔ شمارلے وے فرمایل : دا په ژبه سره یو نیم سل او په میزان (د نیکیو) کښې یو نیم زر شوے او کله چه ډډه ونیسی نو سل کرته سبحان الله او الحمد لله او الله اکبر ووائی نو دا په ژبه سل او په میزان کښې زر شوے، نو کوم یو ستاسو په ورځ او شپه کښې دوه نیم زره ګناهونه کوی؟ صحابه کرامو عرض وکړو : او مونږ به ولے ددے حفاظت نهٔ کوو ؟ وے فرمایل : یو تن ستاسو ته شیطان راشی او دے په مانځه کښې وی نو ورته ووائی : فلانے شے رایاد کړه، فلانے شے رایاد کړه تردے چه د مانځه نه ووځی نو کیدے شی چه دا اذکار ونکړی، او دهٔ ته شیطان د ډډے په ځای کښې راشی نو همیشه وی چه دهٔ لره اُوده کوی تردے چه (بغیر ددے اذکارو لوستلو نه) اُودهٔ شی۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، نسائیؒ)

او په روایت د ابوداودؒ کښې دی : وے فرمایل : دوه خصلتونه یا دوه خویونه دی چه بنده مسلمان په هغے باندے حفاظت نهٔ کوی۔ او دغه شان په روایت د ابوداودؒ کښې د (والف وخمسمائة فی المیزان) نه روستو دا الفاظ دی چه : الله اکبر ووائی څلور دیرش کرته کله

چه بسترې ته راشي او حمد ووائي درې ديرش کرته او سبحان الله ووائي درې ديرش کرته۔ او د مصابيح په اکثرو نسخو کښې دا روايت د عبد الله بن عمر ﷺ نه نقل دے يعني مؤلف د مشکاة خو دا روايت د عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ نه نقل کړيدے مګر د مصابيح په اکثرو نسخو کښې ددے حديث راوي عبد الله بن عمر ﷺ دے۔

تشريح : لَا يُحْصِيهِمَا : دلته د احصاء معنیٰ د محافظت ده لکه چه په روستو روايت کښې (لَا يُحَافِظُ عَلَيْهِمَا) لفظ راغلے دے۔ او ددے محافظت نه مراد په هغې باندے هميشوالے او هغه په دهيان او توجه سره لوستل دي چه ددے په معانو کښې فکر کوی۔

إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ : يعني اول نه به جنت ته داخليږي، او عذاب به ورته نۀ رسيږي، او دا ډير لوی فضيلت دے چه په معمولي عمل باندے د توحيد او د فرائضو د ادا کولو نه روستو انسان جنت ته داخليږي۔

يا مراد دا دے چه د سابقينو سره به جنت ته داخليږي، ورنه هر مؤمن جنت ته داخليږي اګرکه څه موده روستو وي۔

او پدے کښې د حسن الخاتمے بشارت هم دے، چه الله تعالیٰ به ورله خاتمه په ايمان باندے راولي۔

يَسِيرٌ : يعني آسان دي۔

وَمَنْ يَّعْمَلُ بِهِمَا : يعني په طريقه د دوام عمل کونکي پرے ډير کم دي۔

يُسَبِّحُ اللهَ : دا بيان د اول خصلت دے۔ او په (يُسَبِّحُ) کښې ضمير رجل مسلم ته راجع دے۔

يَعْقِدُهَا بِيَدِهٖ : يعني دا اذکارئے شمارل په خپل لاس سره۔ يعني په ګوتو سره۔ يا ددے په وجه ئے لاس راغوټه کولو، راماتولو۔

خَمْسُوْنَ وَمِائَةٌ : يعني دا اذکار په شپه او ورځ کښې يو نيم سل شول ليکن يوه نيکي په لس چنده ده نو په ميزان د حسناتو کښې يو نيم زر نيکيانے شوے۔

وَإِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهٗ : دا بيان د بل خصلت دے۔

او که يو تن د هر مانځه نه روستو درے ديرش کرته دا اذکار وائي او الله اکبر څلور ديرش کرته او د خوب په وخت کښے هم ورسره ملګرے کړه نو ټولے شپږ زره نيکيانے شوے۔

فَأَيُّكُمْ يَعْمَلُ : مطلب دا دے چه ددے ذکر په وجه به د انسان نيکيانے په ګناهونو باندے

غالبې وي، ځکه چه په ورځ او شپه کښې مؤمن غالباً دومره ډېر ګناهونه نهٔ کوي او هرکله چه نیکیانې غالبې وي نو الله تعالیٰ پدې سره ګناهونه ختموي، نو بیا به تاسو دا ذکر په پابندئ سره ولې نهٔ کوئ۔

په حاشیه د ابن ماجه کښې دي : چه دا نیکیانې دومره عدد ګناهونه ختموي، او که د بنده دومره ګناهونه نهٔ وي نو دهٔ دپاره پدې سره درجات پورته کیږي، او ډېر کم کرته انسان دومره عدد ګناهونه کوي، نو ضروري خبره ده چه ددې ورد او ذکر والا انسان به د ګناهونو د معاف کیدو سره ددې درجاتو فضیلت هم مومي۔

وَكَيْفَ لَا نُحْصِيهَا ؟ : صحابه کرامو تعجب وکړو چه دا څنګه کیدې شي چه پدې باندې مونږ همیشه عمل ونکړو او مونږ به کوم خبره ددې نه واړوی۔

دا د صحابه کرامو استبعاد وو چه ددې پریخودل خو تاوان دې۔ نو رسول الله ﷺ ئې وجه بیان کړه چه شیطان د مانځه په آخر کښې انسان ته زړې خبرې رایادې کړي، د دکان وغیره جلتي وي پرې نو زر پاخیږي او دا مسنون اذکار ترې پاتې شي، او د خوب په وخت کښې ئې شیطان په غوړونو وتپوي نو اُوده ئې کړي او دا ذکر ترې پاتې شي۔

عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ : یعني په کومو نسخو د مصابیح کښې چه عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه ددې روایت تذکره راغلې ده نو دا بیشکه خطاء ده ځکه چه دا روایت د ټولو مخرجینو په نیز د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما دې۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : أخرجه أحمد (٢/٢٠٤-٢٠٥) والبخاري في الأدب المفرد (١٢٢٨) وأبوداود (٥٠٦٥) والترمذي (٣٤١٠) وقال حديث حسن صحيح والنسائي (٧٤/٣) وابن ماجه (٩٢٦) .

- 2407 (27) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ غَنَّامٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " مَنْ قَالَ حِيْنَ يُصْبِحُ : اَللّٰهُمَّ مَا أَصْبَحَ بِيْ مِنْ نِعْمَةٍ أَوْ بِأَحَدٍ مِنْ خَلْقِكَ فَمِنْكَ وَحْدَكَ لَا شَرِيْكَ لَكَ فَلَكَ الْحَمْدُ وَلَكَ الشُّكْرُ فَقَدْ أَدّٰى شُكْرَ يَوْمِهِ وَمَنْ قَالَ مِثْلَ ذٰلِكَ حِيْنَ يُمْسِيْ فَقَدْ أَدّٰى شُكْرَ لَيْلَتِهِ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او عبد الله بن غنام ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چه د صبا په

وخت داسې ولوستل: اللهم ما اصبح الخ (ترجمه: اے الله! هغه چه په ما باندې يو نعمت شوې يا په يو تن ستا د مخلوقاتو باندې نو صرف يواځې ستا د طرف نه دې، ستا هيڅ شريك نشته، نو ستا دپاره حمدونه دي او ستا دپاره شکر دې) نو دهٔ ددغه ورځې شکر ادا کړو. او چا چه دغسې ووېل کله چه ماښام کړي نو دهٔ شکر د دغه شپې ادا کړو. (ابوداودؒ)

تشريح: عبد الله بن غنام بن اوس بن عمرو بن مالك بن عامر بن بياضة الانصاري البياضي رضي الله عنه صحابي دې.

مَا أَصْبَحَ بِيْ: يعني ماته صبا کښې نهٔ دې حاصل شوې يو نعمت.

بعض وائي: بِيْ متعلق دې د [مُتَّصِلًا] مقدر پورې. يعني نهٔ دې ګرځيدلې پيوسته ما پورې هيڅ يو نعمت.

فَمِنْكَ: اَىْ حَاصِلٌ مِنْكَ. يعني صرف ستا د طرفنه حاصل دې.

حِيْنَ يُمْسِيْ: بعض علماؤ وئيلي دي چه په ماښام کښې به (مَا اَمْسٰى بِيْ) لفظ استعمالوي، ليکن ظاهر دا ده چه په باب د اذکارو کښې قياس نهٔ چليږي بلکه همدا (مَا اَصْبَحَ بِيْ) لفظ په ماښام کښې هم استعمالول پکار دي.

شُكْرَ يَوْمِهٖ: دا دليل دې چه شکر د منعم حقيقي د نعمتونو اقرار کولو ته وئيلې شي، او د هر نعمت نسبت خپل حقيقي مالك ته دې.

او کمال دا دې چه انسان دا نعمتونه د مُنعم په رضا کښې استعمال کړي.

او پدې حديث کښې ډير لوی منقبت او فضيلت دې چه پدې لږو الفاظو سره د ورځې او د شپې د نعمتونو شکر ادا کيږي.

درجة الحديث: اسناده ضعيف او حسن: أخرجه أبوداود (٥٠٧٣) سوى قوله (او بأحد من خلقك) فهو من رواية النسائي وأخرجه النسائي في عمل اليوم والليلة (٧) وابن حبان (٢٣٦١) وابن السني (٤١) وفي إسناده عبد الله بن عنبسة لم يوثقه غير ابن حبان ومع ذلك فقد حسنه الحافظ في أمالي الأذكار وكذلك شعيب ارناووط فى تعليق مسند احمد (٨٦١) وضعفه الألباني.

- 2408(28) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهٗ كَانَ يَقُوْلُ إِذَا أَوٰى إِلٰى فِرَاشِهٖ:

"اَللّٰهُمَّ رَبَّ السَّمَاوَاتِ وَرَبَّ الْأَرْضِ وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ فَالِقَ الْحَبِّ وَالنَّوٰى، مُنْزِلَ التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيْلِ وَالْقُرْآنِ، أَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ ذِيْ شَرٍّ أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهٖ، أَنْتَ الْأَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ وَأَنْتَ الْآخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ وَأَنْتَ الظَّاهِرُ فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ وَأَنْتَ الْبَاطِنُ فَلَيْسَ دُوْنَكَ شَيْءٌ، إِقْضِ عَنِّي الدَّيْنَ وَأَغْنِنِيْ مِنَ الْفَقْرِ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَرَوَاهُ مُسْلِمٌ مَعَ اخْتِلَافٍ يَسِيْرٍ

ترجمه : او ابو هريره ﷺ د نبي كريم ﷺ نه روايت كوي چه هغهٔ به وئيل كله چه به بسترې ته راغلو : اللهم رب السماوات الخ ...... (ترجمه : اے الله ! چه تهٔ رب د آسمانونو او رب د زمكے ئے او رب د هر شي ئے، څوُنكے د دانو او د هډوكي ئے، نازلونكے د تورات او د انجيل او د قرآن ئے، زهٔ په تا پورے د ضرر د هر ضرري شي نه پناه غواړم چه تهٔ د هغے تندے رانيونكے ئے، تهٔ اول ئے ستا نه مخكښے هيڅ شے نشته، او تهٔ روستونے ئے ستا نه روستو هيڅ شے نشته، او تهٔ ښكاره ئے نو ستا نه پورته هيڅ شے نشته، او تهٔ پټ ئے نو ستا نه اخوا هيڅ شے نشته. ما نه قرض ادا كړه او ما د فقر نه بے پرواه كړه. (ابوداودؒ، ترمذيؒ، ابن ماجهؒ او دا مسلمؒ روايت كړيدے سره د لږ شان اختلاف نه).

تشريح : په مسلم او ابن السني كښے دي : سُهَيل راوي وائي : ابو صالح به مونږ ته حكم كولو چه كله زمونږ يو تن د خوب اراده وكړي او په ښي اړخ ډډه ولګوي، نو بيا دِے داسے ووائي : (اللهم رب السموات الى آخره)

او په روايت د ابن ماجه كښے دي چه رسول الله ﷺ دا دعاء فاطمے رضى الله عنها ته خودلے وه كله ئے چه د هغهٔ نه خادم طلب كړو، او هغهٔ ورته ووېل چه زهٔ به تا ته د خادم نه غوره شے وښايم، نو دا دعاء ئے ورته وخودله.

په رب السموات كښې د الله خالقيت او مالكيت معلوم شو، او په فَالِقَ الْحَبِّ كښے د الله تعالىٰ مُدَبّريت ته اشاره ده. او په مُنْزِلَ التوراة كښے اشاره ده چه الله تعالىٰ چه انسانان پيدا كړل نو دا ددے دپاره چه د هغهٔ عبادت وكړے شي او دا نهٔ معلوميږي مګر په كتابونو د الله تعالىٰ سره. نو ګويا كه پدے دعاء كښے بنده الله تعالىٰ ته داسے آواز كوي : يا مالك، يا مدبر يا هادي اعوذ بك الخ. (طيبيؒ)

وَأَنْتَ الْآخِرُ : يعني تهٔ باقي ذات ئے پس د فناء د مخلوقاتو نه.

وَأَنْتَ الظَّاهِرُ : تهٔ ظاهر ئے یعنی د هیڅ شی ظهور نشته او نهٔ د هغې وجود شته مګر هغه ستا د ظهور او وجود د آثارو نه دے۔

❁ یا ستا نه ډیر ظاهر بل هیڅ شے نشته ځکه چه په تا باندے ډیر ښکاره دلائل موجود دی۔ ❁ بعض وائی : ظاهر هغه دے چه په هر شی باندے ښکاره او دپاسه وی۔

او لَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ : یعنی په تا باندے هیڅ شے غلبه نشی کولے۔ په تا څوك غالب نشته۔

وَأَنْتَ الْبَاطِنُ : تهٔ هغه ذات ئے چه د مخلوق نظرونه ډِے په پرده کښے کړیدی د لیدلو خپلو نه۔ فَلَيْسَ دُوْنَكَ شَيْءٌ : یعنی ستا مخے ته د مخلوق نه هیڅوك پرده کیدے نشی۔ تهٔ هر مخلوق ته کتلے شے۔

بله معنیٰ ده : [فَلَيْسَ دُوْنَكَ شَيْءٌ : اَیْ وَرَاءَ كَ شَيْءٌ يَكُوْنُ أَبْطَنَ مِنْكَ]

یعنی ستا نه اخوا څه شے نشته چه ستا نه پټ شی۔ یا باطن هغه دے چه عالم وی په باطنی څیزونو۔

الدَّيْنَ : امام نوویؒ وائی : د دین نه حقوق الله او حقوق العباد دواړه مراد دی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : أخرجه مسلم مع اختلاف يسير (٢٧١٣) وأحمد (٢/٣٨١) وأبوداود (٥٠٥١) والترمذي (٣٤٠٠) وقال حسن صحيح وابن ماجه (٣٨٧٣) والحاكم (١/٥٤٦) وصححه ووافقه الذهبي.

- 2409(29) وَعَنْ أَبِي الْأَزْهَرِ الْأَنْمَارِيِّ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ مِنَ اللَّيْلِ قَالَ : "بِسْمِ اللهِ وَضَعْتُ جَنْبِي لِلّٰهِ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ ذَنْبِيْ وَاخْسَأْ شَيْطَانِيْ وَفُكَّ رِهَانِيْ وَاجْعَلْنِيْ فِي النَّدِيِّ الْأَعْلٰى ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ

ترجمه : او ابو زهر انماری ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ به چه کله بسترے ته د شپے نه راغلو نو داسے به ئے فرمایل : بسم الله وضعت جنبی لله...... (ترجمه : په نوم د الله ما خپل اړخ الله دپاره کیخودو، اے الله ! ما ته زما ګناه معاف کړه او زما شیطان وشړه او زما ځټ آزاد کړه او ما په اعلیٰ مجلس کښے وګرزوه۔ (ابوداودؒ)

ابو الازهر انماری، بعض وائی : ابو زهیر دے، انماری بعض وائی : نمیری دے، صحابی

دے په شام کښې اُوسیدلے دے، نوم ئے نۀ دے معلوم۔
بعض وائی : نوم ئے یحیی بن نُفَیر دے۔
تشریح : وَضَعْتُ جَنْبِیْ لِلّٰهِ : (لله) په تولو نسخو د مشکاة کښې ذکر دے، او دغه شان ئے په جامع الاصول کښې هم نقل کړیدے لیکن په مصابیح کښې په غیر د (لله) نه دے، او دغه شان په حصن حصین او جامع الصغیر او سنن ابی داود کښې هم دے۔
اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِیْ ذَنْبِیْ : دا ئے د امت د تعلیم دپاره وئیلی دی، د نبیٔ کریم ﷺ گناهونه نۀ وو۔
وَاخْسَأْ شَیْطَانِیْ : یعنی زما شیطان ذلیله کړه، او وے شړه، د شیطان نه مراد هغه قرین دے چه انسان سره لگیدلے وی۔
یا انسی او جنی دواړه قسمه شیطانان چه انسان گمراه کوی۔
رِهَانِیْ : رهان او رهن گانړے ته وائی۔ دلته ترے مراد نفس دے چه دا به په خپل عمل کښې گانړه وی۔ لکه ﴿کُلُّ نَفْسٍ بِمَا کَسَبَتْ رَهِیْنَةٌ﴾ (٧٤)
او مطلب دا دے چه زما نفس او ځټ د هر حق نه آزاد کړه چه په ما باندے دے۔
اَیْ خَلِّصْنِیْ مِمَّا أَنَا مَطْلُوْبٌ بِهٖ۔ (شرح مشکل الآثار ١٦٤/٧)
یعنی ما د هر هغه حق نه خلاص کړه چه زما نه د هغے مطالبه کیږی۔
او په مستدرك او عمل الیوم واللیلة د ابن السنی کښې ورسره دا الفاظ زیات دی :
وَثَقِّلْ مِیْزَانِیْ : یعنی زما میزان په نیکو اعمالو سره درون کړه۔
النَّدِیِّ الْأَعْلٰی : ندی او نادی مجلس ته وائی چه خلق پکښې راجمع وی، دلته ترے د ملائکو اُوچت مجلس مراد دے۔
پدے دعاء کښې د دنیا او د آخرت خیرونه راجمع دی نو پدے باندے همیش والے پکار دے۔
درجة الحدیث : اسناده حسن : أخرجه ابوداود (٥٠٥٤) واللفظ له والحاكم في المستدرك (٥٤٨/١) وقال صحيح الإسناد ووافقه الذهبي وحسن إسناده النووي في الأذكار وصححه الألباني (صحيح الجامع : ٤٦٤٩).

- 2410 (30) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنه: أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ كَانَ إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ مِنَ اللَّيْلِ

قَالَ : " اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ كَفَانِىْ وَآوَانِىْ وَأَطْعَمَنِىْ وَسَقَانِىْ وَالَّذِىْ مَنَّ عَلَىَّ فَأَفْضَلَ وَالَّذِىْ أَعْطَانِىْ فَأَجْزَلَ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰى كُلِّ حَالٍ، اَللّٰهُمَّ رَبَّ كُلِّ شَىْءٍ وَمَلِيْكَهُ وَإِلٰهَ كُلِّ شَىْءٍ، أَعُوْذُ بِكَ مِنَ النَّارِ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوٗدَ

ترجمه : او د جناب عبد الله بن عمر ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به كله د شپے نه بسترے ته راغلو نو داسے به ئے فرمايل : الحمد لله الذى ..... (ترجمه : ټول د كمال صفتونه هغه الله لره دى چه زما كافى شو او ما ته ئے ځاى راكړو او ما ته ئے خوراك او څكاك راكړو او هغه ذات دے چه په ما باندے ئے احسان وكړو او زياتى ئے وكړو. او هغه ذات دے چه ما ته ئے وركړه وكړه نو ډيره ئے وكړه. صفتونه د كمال الله لره دى په هر حال كښې، اے الله ! چه ته رب د هر شى ئے او بادشاه د هر شى ئے او معبود د هر شى ئے، په تا پورے د اُور نه پناه غواړم. (ابو داوٗد)

تشريح : دا هم بهترينه دعاء ده چه بنده پرے شكر ګذار جوړيږى.

وَآوَانِىْ : يعنى ما ته ئے ځاى راكړو چه د يخنئ او ګرمئ نه مے ساتى.

مَنَّ عَلَىَّ : د مَنّ نه دے، احسان كولو ته وئيلے شى.

فَأَفْضَلَ: اَىْ زَادَ. يعنى زيات ئے راكړو.

فَأَجْزَلَ: اَىْ اَعْظَمَ. اَوْ اَكْثَرَ مِنَ النِّعْمَةِ. يعنى لويه ئے كړه، يا زيات ئے كړو نعمت.

درجة الحديث : اسناده صحيح، أخرجه أبو داود (٥٠٥٨) والنسائى فى عمل اليوم والليلة (٧٩٨) وأخرجه ابن حبان (٢٣٧٥).

- 2411(31) وَعَنْ بُرَيْدَةَ ﷺ قَالَ : شَكَا خَالِدُ بْنُ الْوَلِيْدِ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا أَنَامُ مِنَ اللَّيْلِ مِنَ الْأَرَقِ فَقَالَ نَبِيُّ اللهِ ﷺ : " إِذَا أَوَيْتَ إِلٰى فِرَاشِكَ فَقُلْ: اَللّٰهُمَّ رَبَّ السَّمَاوَاتِ السَّبْعِ وَمَا أَظَلَّتْ وَرَبَّ الْأَرَضِيْنَ وَمَا أَقَلَّتْ وَرَبَّ الشَّيَاطِيْنَ وَمَا أَضَلَّتْ كُنْ لِىْ جَارًا مِنْ شَرِّ خَلْقِكَ كُلِّهِمْ جَمِيْعًا أَنْ يَفْرُطَ عَلَىَّ أَحَدٌ مِنْهُمْ أَوْ أَنْ يَبْغِىَ، عَزَّ جَارُكَ وَجَلَّ ثَنَاؤُكَ وَلَا إِلٰهَ غَيْرُكَ، لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِىُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِىِّ وَالْحَكَمُ بْنُ ظُهَيْرٍ الرَّاوِىُّ قَدْ تَرَكَ حَدِيْثَهُ بَعْضُ أَهْلِ الْحَدِيْثِ

ترجمه : او جناب بریده ﷺ فرمائي : خالد بن ولید نبي کریم ﷺ ته شکایت وکړو نو وې فرمایل : اې د الله رسوله ! زۀ د بې خوبئ د وجه نه د شپې نشم اُوده کیدې، نو نبي کریم ﷺ وفرمایل : کله چه تۀ بسترې ته راشې نو ووایه : اللهم رب السماوات الخ ......

(ترجمه : اې الله چه تۀ رب د اُوه آسمانونو ئې او د هغه شي چه هغې پرې سورې کړیدې او رب د زمکو ئې او هغه چه هغې پورته کړیدي او رب د شیطانانو ئې او د هغه څه چه هغوی ګمراه کړیدي، زما دپاره ستا د ټول مخلوق د شر نه پناه راکونکې شه چه زیاتې وکړي په ما باندې یو تن د دوی نه یا ظلم وکړي. عزتمن کیږي پناهي طلب کونکې ستا نه، او ستا صفت ډیر اوچت دې، او نشته حقدار د بندګئ سوا ستا نه، نشته حقدار د بندګئ مګر تۀ ئې. (دا ترمذیؒ روایت کړیدې او وئیلي ئې دي : دا حدیث دې چه سند ئې قوي نۀ دې او د حکم بن ظُهیر راوي حدیث لره بعض اهل حدیثو پریخودې دې)،

تشریح : مِنَ الْأَرَقِ : په فتحه د الف او راء سره د شپې بې خوبئ ته وئیلې شي د څه بیمارئ یا د وسوسې یا غم او پریشانئ د وجه نه. او مِنْ تعلیلیه دې، اَیْ مِنْ اَجْلِ الْاَرَقِ. د وجه د بې خوبئ نه.

وَمَا أَظَلَّتْ : د اِظلال نه دې، یعني هغه چه دې سورې واقع کړیدې.

وَمَا أَقَلَّتْ : د اِقلال نه دې، اَیْ حَمَلَتْ وَرَفَعَتْ مِنَ الْمَخْلُوْقَاتِ. یعني هغه چه دې کوم مخلوق پورته کړیدې.

وَمَا أَضَلَّتْ: د اِضلال نه دې، ګمراه کولو ته وئیلې شي.

جَارًا : پناه ورکونکې، حفاظت کونکې.

یَّفْرُطَ : د فَرط نه دې، د حد نه تجاوز ته وئیلې شي. اَیْ اَنْ یَّقْصِدَنِیْ بِالْاَذٰی مُسْرِعًا. یعني ما ته په جلتئ سره ضرر راکړي.

یَّبْغِيَ : په کسره د غین سره. یعني ظلم وکړي.

عَزَّ جَارُكَ : یعني تا نه چه څوك پناهي غواړي هغه غالب او عزت مند کیږي.

وَالْحَكَمُ بْنُ ظُهَيْرٍ : په تصغیر سره، کنیه ئې ابو محمد الفزاري دې، متروك دې، رُمِیَ بِالرَّفْضِ وَاتَّهَمَهُ ابْنُ مَعِیْنٍ.

درجة الحديث : اسناده ضعيف، أخرجه الترمذي (٣٥٢٣) وقال هذا حديث ليس

إسناده بالقوي والحكم بن ظهير قد ترك حديثه بعض أهل الحديث) وقال الحافظ متروك .

الفصل الثالث

- 2412(32) وَعَنْ أَبِي مَالِكٍ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ : " إِذَا أَصْبَحَ أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ : أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ هٰذَا الْيَوْمِ فَتْحَهُ وَنَصْرَهُ وَنُوْرَهُ وَبَرَكَتَهُ وَهُدَاهُ، وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِيْهِ وَمِنْ شَرِّ مَا بَعْدَهُ، ثُمَّ إِذَا أَمْسٰى فَلْيَقُلْ مِثْلَ ذٰلِكَ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او جناب ابو مالك ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمايل : كله چه يو تن ستاسو صبا كړى نو داسے دِے ووائى : اصبحنا واصبح ...... ترجمه : مونږ صبا كړو او صبا كړو بادشاهئ الله رب العالمين دپاره، اے الله ! زهٔ ستا نه ددے ورځے خير غواړم، ددے ورځے كاميابيدل، او ددے مدد او ددے رنړا او ددے بركت او ددے هدايت غواړم، او په تا پورے پناهى غواړم د شر د هغه څه نه چه پدے كښ دى او د شر د هغے نه چه ددے نه روستو دى۔ بيا چه كله بيګاه كړى نو ددے په شان دِے ووائى۔ (ابوداوٗد)

تشريح : فَتْحَهُ : يعنى كاميابيدل په مقصد باندے۔

وَنَصْرَهُ : يعنى په دشمن باندے غالبه كيدل۔

وَنُوْرَهُ : يعنى ددے رنړا، په توفيق د علم او عمل سره۔

وَبَرَكَتَهُ : او ددے بركات په رزق حلال آسانيدو سره۔

وَهُدَاهُ : او ددے هدايت يعنى په هدايت باندے كلكيدل۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : أخرجه أبوداود (٥٠٨٤) ينظر الضعيفة (٥٦٠٦) محمد بن اسماعيل بن عياش ضعيف والانقطاع بين شريح وأبي مالك وقد ذهل العراقي عن هذه العلة فقال : إسناده جيد.

- 2413(33) وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ قَالَ: قُلْتُ لِأَبِي: يَا أَبَتِ أَسْمَعُكَ تَقُوْلُ كُلَّ غَدَاةٍ: "اَللّٰهُمَّ عَافِنِي فِي بَدَنِي، اَللّٰهُمَّ عَافِنِي فِي سَمْعِي، اَللّٰهُمَّ عَافِنِي فِي بَصَرِي، لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ "تُكَرِّرُهَا ثَلَاثًا حِيْنَ تُصْبِحُ وَثَلَاثًا حِيْنَ تُمْسِي فَقَالَ: يَا بُنَيَّ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَدْعُوْ بِهِنَّ فَأَنَا أُحِبُّ أَنْ أَسْتَنَّ بِسُنَّتِهِ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او جناب عبد الرحمن بن ابی بکرؓ فرمائی : ما خپل پلار (ابوبکره ﷺ) ته وویل : اے پلاره ! زۀ تا نه آورم چه تۀ هر سهار داسے وائے : اللهم عافنی فی بدنی الخ

ترجمه : اے الله ! ما روغ وساته په بدن کښ، اے الله ما روغ وساته په غوږ زما کښ، اے الله ما روغ وساته په نظر زما کښ، نشته حقدار د بندګئ سِویٰ ستا نه۔ تۀ دا درے کرته لولے کله چه صبا کړے او درے کرته کله چه بیګاه کړے، نو هغۀ وفرمایل : اے بچیه ! ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه پدے کلماتو سره به ئے دعا کوله نو زۀ خوښوم چه د هغۀ په سنت باندے عمل وکړم۔ (ابوداودؒ)

تشریح : عبد الرحمن بن ابی بکره، د ابو بکره ﷺ نوم نُفَیع بن الحارث الانصاری البصری الثقفی دے، او دا عبد الرحمن په بصره کښ په سنه (١٤) هجری کښ پیدا شویدے کله چه مسلمانان هلته کښ نازل شول، او دا اولنے ماشوم وو چه ذ مسلمانانو نه په بصره کښ پیدا شو۔ تابعی کثیر الحدیث دے، د خپل پلار او علی بن ابی طالب رضی الله عنه نه ئے آوریدل کړیدی۔ حافظ وائی : ثِقَةٌ مِنْ كِبَارِ التَّابِعِينَ۔

عَافِنِيُ : یعنی ما د دردونو او بیماریانو نه بچ وساتے،

بَصَرِیُ : په بدن کښ خو سترګے او غوږونه هم داخل دی لیکن ددے د شرافت د وجه نه ئے دا جدا ذکر کړل۔

د صحابه کرامو محبت د سنت نبوی سره معلوم شو چه همدائے د ژوند مقصد وو۔

أَسْتَنَّ بِسُنَّتِهِ : اَیْ اَقْتَدِیْ اَوْ اَتَّبِعُ سُنَّتَهٗ۔ یعنی زۀ اقتداء وکړم او د هغه سنت پسے روان شم۔

درجة الحديث : اسناده حسن فی الشواهد والمتابعات، (شعیب) أخرجه أحمد (٢٠٤٤٦) وأبوداود (٥٠٩٢) والأدب المفرد (٧٠١) باسناد حسن وصحيح ابی داود (٥٠٩٠) وقال الحافظ فی نتائج الافكار (حسن وله شاهد) .

- 2414(34) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِیْ أَوْفٰی ﷺ قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا أَصْبَحَ قَالَ: " أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَالْكِبْرِيَاءُ وَالْعَظَمَةُ لِلّٰهِ وَالْخَلْقُ وَالْأَمْرُ وَاللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَمَا سَكَنَ فِيهِمَا لِلّٰهِ، اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ أَوَّلَ هٰذَا النَّهَارِ صَلَاحًا وَأَوْسَطَهٗ نَجَاحًا

وَآخِرَهُ فَلَاحًا يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ ". ذَكَرَهُ النَّوَوِيُّ فِي كِتَابِ الْأَذْكَارِ بِرِوَايَةِ ابْنِ السُّنِّيِّ.

ترجمه : او جناب عبد الله بن ابی اوفی ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ به چه کله صبا کړل داسے به ئے وئیل : اصبحنا واصبح الملك ...... الخ : ترجمه : مونږ صبا کړو او وګرزیده بادشاهی د الله تعالیٰ دپاره او الله لره حمدونه دی، او اُوچتوالے او لوی والے خاص الله دپاره دے، او پیدائش او حکم او شپه او ورځ او هغه څه چه پدے دواړو کښ وسیږی خاص الله دپاره دی، اے الله ! اول ددے ورځے برابروالے وګرزوه او مینځ ئے کامیابی او آخر ئے مقصد ته رسیدل، (یا د شرونو نه د حفاظت ذریعه) اے ارحم الراحمین !۔ (امام نوویؒ ذکر کړیدے په کتاب الاذکار کښ په روایت د ابن السنیؒ سره)

تشریح : وَالْكِبْرِيَاءُ : یعنی لوی والے د ذات۔

وَالْعَظَمَةُ : غټ والے او لوی والے د مرتبے۔

وَالْخَلْقُ : یعنی ایجاد (پیدا کول) یا په معنیٰ د مخلوق سره دے۔

وَالْأَمْرُ : جمع ئے اوامر ده۔ یعنی حکمونه۔ یا جمع ئے امور ده۔ کارونه او څیزونه۔

صَلَاحًا : یعنی ز مونږ د دین او د دنیا برابر والے۔

نَجَاحًا : کامیابی په هغه کارونو چه د دنیا او د آخرت د برابروالی ذریعه وګرځی۔

فَلَاحًا : کامیابی په هغه څه چه خاتمه برابره کړی او په جنت کښے درجات پوره کړی۔

د نجاح او فلاح فرق

(١) لسان العرب کښ ابن منظورؒ لیکی :

اَلنَّجَاحُ : اَلظَّفْرُ بِالشَّيْءِ۔ وَالْفَلَاحُ هُوَ الْبَقَاءُ عَلَى الْخَيْرِ وَالنَّجَاةُ مِنَ الشَّرِّ۔

یعنی نجاح په یو شی باندے کامیابیدو ته وائی او فلاح په خیر باندے همیشه پاتے کیدو او د شر نه بچ کیدو ته وائی۔

(٢) دارنګه فلاح همیشه کامیابی ده چه دا د آخرت سره تعلق لری، او نجاح د دنیاوی شخصی او فردی کارونو سره تعلق لری۔ مثلاً یو تن ته منصب، مال، جاه، شهرت ملاؤ شی نو دے ته نجاح وائی، او چه په دین عمل وکړی، ایمان بالغیب راوړی سره د نورو ایمانیاتو نه نو دے مُفلح شو۔ نو دا ضروری نهٔ ده چه هر نجاح به فلاح وی۔

(۳) مختصرًا دا هم وئيلے شي چه يو ځل كاميابيدو ته نجاح وائي او په هر ځل كاميابيدو ته فلاح وائي۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف جدا : فيه فائد ابو الورقاء وهو متروك، أخرجه الطبراني في كتاب الدعاء (٢٩٦) وذكره النووي في كتاب الأذكار برواية ابن السني .

- 2415(35) وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنَ أَبْزٰى قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ إِذَا أَصْبَحَ :" أَصْبَحْنَا عَلٰى فِطْرَةِ الْإِسْلَامِ وَكَلِمَةِ الْإِخْلَاصِ وَعَلٰى دِيْنِ نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ ﷺ وَعَلٰى مِلَّةِ أَبِيْنَا إِبْرَاهِيْمَ حَنِيْفًا وَّمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه : او جناب عبد الرحمن بن ابزیٰ رضی الله عنه فرمائي : رسول الله ﷺ به فرمايل كله چه به ئے صبا كړو : اصبحنا على فطرة الاسلام الخ : ترجمه : مونږ د اسلام په فطرت باندے او د اخلاص په كلمه باندے او په دين د خپل نبي محمد ﷺ او په ملت د خپل پلار ابراهيم عليه السلام باندے صبا كړو چه هغه پوخ موحد وو او د مشركانو نه نهٔ وو۔ (احمدؒ، دارميؒ)


تشريح : فِطْرَةِ الْإِسْلَامِ : يعنى دين حق۔ يا په معنىٰ د خِلْقَت سره دے۔

وَكَلِمَةِ الْإِخْلَاصِ : يعنى توحيد خالص چه هغه كلمه د لا اله الا الله ده۔

وَعَلٰى دِيْنِ نَبِيِّنَا : دا الفاظ ئے د اُمت د تعليم دپاره ذكر كړيدى۔ مګر ظاهر دا ده چه نبى كريم ﷺ هم پدے مامور وو چه په خپل ځان به ايمان لرى۔

مِلَّةِ أَبِيْنَا إِبْرَاهِيْمَ : يعنى په اصولو د دين او په بعض فروعو كښے لكه ختان او باقى لس سنن۔

درجة الحديث : اسناده حسن، أخرجه أحمد (٤٠٦/٣) (١٥٣٩٧) والدارمي (٢٦٢/٢) وابن السني في عمل اليوم والليلة صفحة (١٢) والسلسلة الصحيحة (٢٩٨٩) .



٧ - بَابُ الدَّعَوَاتِ فِي الْأَوْقَاتِ

د مختلفو اوقاتو د دعاګانو بیان

یعنې مختلفې دعاګانې په مختلفو اوقاتو کښې لوستل۔

دې کښې قانون دا دې چه کوم اذکار په کومه موقعه او محل او زمانه کښې ثابت وی نو هغه به په همدغه موقعه کښې لوستلې شی، د هغې نه اړول ئې صحیح نۀ دی۔

الفصل الأول

- 2416 (1) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَأْتِيَ أَهْلَهُ قَالَ: بِسْمِ اللّٰهِ، اَللّٰهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا فَإِنَّهُ إِنْ يُقَدَّرْ بَيْنَهُمَا وَلَدٌ فِيْ ذٰلِكَ لَمْ يَضُرَّهُ شَيْطَانٌ أَبَدًا ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او عبد الله بن عباس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : که چرې یو تن ستاسو کله چه اراده وکړی چه خپل اهل ته راشی داسې ووائی : بسم الله اللهم جنبنا الشیطان وجنب الشیطان ما رزقتنا (ترجمه : په نوم د الله تعالیٰ سره شروع کوم، اې الله! مونږ د شیطان نه جدا کړه او شیطان جدا کړه د هغه بچی نه چه تۀ ئې مونږ ته راکوې) نو که چرې پدې کور والی کښې د دوی دواړو ترمینځ بچې مقرر شی نو شیطان به ورته هیڅکله ضرر نشی ورکولې۔ (خاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : دا حدیث پدې خبره تیزی او دعوت ورکوی چه بنده له پکار دی چه د الله تعالیٰ ذکر په هر وخت کښې او هر حالت کښې وکړی برابره ده چه په طهارت کښې وی او که نۀ وی او پدې کښې رد دې په هغه چا چه ددې نه ئې انکار کړیدې،

او امام بخاریؒ پدې باندې باب ایخودې دې، [بَابُ التَّسْمِيَةِ عَلٰى كُلِّ حَالٍ وَعِنْدَ الْوِقَاعِ]

(یعنې بسم الله په هر حالت کښې او د جماع په وخت کښې لوستلو بیان)

او ددې نه دا هم معلومه شوه چه په بربنډه سره هم بسم الله وئيل جائز دي.
پدې مقام کښې امام غزاليؒ ليکلي دي چه ددې سره به داسې دعاء هم يو ځاى کړي :
[بِسۡمِ اللّٰهِ الۡعَلِيِّ الۡعَظِيۡمِ، اَللّٰهُمَّ اجۡعَلۡهَا ذُرِّيَّةً طَيِّبَةً اِنۡ كُنۡتَ قَدَّرۡتَ وَلَدًا يَخۡرُجُ مِنۡ صُلۡبِيۡ]
نو دا خبره بې دليله ده، او عبادتونه په قياسونو او خپلو رائې ګانو سره نۀ ثابتيږي.
پيغمبري الفاوظ کښې ددې الفاظو د معنىٰ نه ډير جامعيت او طاقت دې.
فائده : ابن عبد السلامؒ وئيلي دي چه د بندګانو کارونه په درې قسمه دي :
يو هغه دي چه په هغې کښې بسم الله وئيل مسنون دي،
او **دويم** هغه دي چه په هغې بسم الله وئيل مسنون نۀ دي، او دريم هغه دي چه په هغې بسم الله وئيل مکروه دي.
په کوم چه بسم الله وئيل مشروع دي نو غسل، اودس، تيمم، په وخت د ذبح کښې، قرائت د قرآن، خوراك، څکاك او جماع شوه. او چه بسم الله وئيل پرې مسنون نۀ وي لکه مونځ، اذان، حج، عمره، اذکار او دعوات (دعاګانې)،
او چه بسم الله وئيل پرې مکروه وي لکه حرامو څيزونو باندې وئيل ځکه چه بسم الله د برکت دپاره وي په هغه شي کښې چه د کوم دپاره بسم الله وئيلې شي او د حرام دپاره د ډير والي او د برکت سوال مقصود نۀ وي. (شرح صحيح البخاري للسفيري ٤٢/٤)
او د بسم الله لوستلو فائده د خوراك، څکاك، لباس او جماع په وخت کښې دا ده چه شيطان د انسان سره پدې کارونو کښې شريك کيږي نو د هغې د شرلو دپاره بسم الله لوستلې کيږي.
جعفر بن محمدؒ په آيت ﴿وَشَارِكۡهُمۡ فِي الۡاَمۡوَالِ وَالۡاَوۡلَادِ﴾ (الاسراء : ٦٤) کښې وئيلي دي چه شيطان د انسان په ذکر باندې کيني نو کله چه بسم الله ونۀ وائي نو د هغۀ سره په جماع کښې شريك شي. (المصدر السابق)
او پدې حديث کښې د بسم الله ډيره لويه فائده ذکر شوه نو مؤمن له په الله باندې ښۀ ګمان پکار دې، او ددې فائدې اميد ساتل ضروري دي چه اولادو ته به ئې شيطان ضرر نۀ ورکوي کله ئې چه بسم الله وئيلي وي.
مَا رَزَقۡتَنَا : صيغه د ماضي ئې د تفاؤل او د تحقيق الرّجاء دپاره راوړيده.
لَمۡ يَضُرَّهٗ : دې کښې دا احتمال شته چه ديني ضرر به ورته شيطان نشي رسولې چه هغه

گمراه کړي او کفر ته ئې بوځي. او هرچه گناه ده هغه ترې واقع کيدې شي.

او هرچه دنياوي ضرر دے نو هغه په طريقه د امتحان سره د گناهونو په بدله کښې کله نا کله رسيږي. مگر ځينې شارحين وائي چه ښۀ مطلب دا دے چه شارع د هر شي دپاره اسباب او مواقع گرزولي دي،

نو ددے دعا اثر دا دے چه بنده پرے د شيطان نه محفوظ کيږي خو که چرته موانع نۀ وي، او که موانع موجود شول نو بيا به ددے دعا اثر خراب کړي. لکه مُجامع به کله بسم الله ووائي او د شيطان نه به په الله پورے پناهي وغواړي ليکن دلته به موانع موجود وي هغه به ددے دعاء اثر ختم کړي. (تيسير العلام)

او بعض وائي: شيطان به ورته عقل او بدن او دين ته نقصان نۀ ورکوي. (عينيؒ)

او پدے کښې لوي بشارت دے چه که ددے جماع نه ماشوم پيدا شي نو هغه به په توحيد باندے مري.

شَيْطَانٌ: يعني يو شيطان د شيطانانو نه. که انسي وي او که جني. يا د اول شيطان نه مراد ابليس دے او په دويم سره عموم دے، يا ټول ملگري د شيطانانو مراد دي. (مرقاة)

او دا روايت دليل دے چه رزق يواځے خوراك ته نۀ وائي بلکه مال او اولاد، علم او مرتبه ټولو ته وئيلے شي. او پدے کښې اشاره ده چه شيطان د انسان سره انختے دے، ددۀ نه نۀ جدا کيږي مگر کله چه د الله ذکر کوي.

- 2417(2) وَعَنْهُ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يَقُوْلُ عِنْدَ الْكَرْبِ : " لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ الْعَظِيْمُ الْحَلِيْمُ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ، لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَرَبُّ الْأَرْضِ رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيْمِ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه: او د عبد الله بن عباس ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به د غم او پريشانئ په وخت داسے وئيل: لا اله الا الله الخ (ترجمه: نشته حقدار د بندگئ سِوئ د الله تعالىٰ نه چه لوي دے، صبرناك دے، نشته حقدار د بندگئ سِوئ د الله تعالىٰ نه چه رب د لوي عرش دے، نشته حقدار د بندگئ سوئ د الله تعالىٰ نه چه رب د آسمانونو او رب د زمکے او رب د عزتمن عرش دے. (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشریح : الْكَرْبِ : دا هغه غم ته وائی چه د انسان نفس ونیسی او هغه پریشانه کړی۔

بعض وائی : کرب سخت غم ته وائی۔ او بعض وائی : پټ غم ته وائی۔

او بعض وائی : مشقت ته وائی او دے تولو حالاتو کښے دا دعاء لوستل پکار دی۔

او په روایت د مسلم کښے ورسره دا دی : [كَانَ اِذَا حَزَبَهٗ اَمْرٌ] کله چه به رسول الله ﷺ باندے څه مُهم کار راپیښ شو، او په هغهٔ باندے به ئے غلبه وکړه۔

الْعَظِيْمُ : هغه لوی ذات چه هغهٔ باندے هیڅ شے نشی غتیدے۔ یا هغه ذات چه آخری درجاتو د عظمت ته رسیدلے وی۔

الْحَلِيْمُ : اَلَّذِيْ يُؤَخِّرُ الْعُقُوْبَةَ مَعَ الْقُدْرَةِ۔ چه د قدرت سره عذابونه روستو کوی۔

یا هغه ذات چه غضب او غصه ئے نهٔ بیخوده کوی او غضب ئے په جلتئ سره سزا ورکولو باندے نهٔ راپورته کوی او زر بدله نهٔ اخلی۔

رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ : دا په زیر سره صفت د عرش دے د جمهورو په نیز او ابن التینؒ د داودیؒ نه نقل کړیدی چه هغه پدے کښې العظیم په رفع سره هم نقل کړیدے بیا به صفت د رب وی۔ او دغه شان خبره په (الکریم) کښے هم ده۔

او عرش ته عظیم په اعتبار د ذات سره وئیلے کیږی، او کریم ورته په اعتبار د حسن سره یا پدے وجه چه رحمت ددے نه نازلیږی۔

یا عظیم ورته پدے وجه وائی چه عرش ډیر لوی جسم والا دے۔

حافظ ابن القیمؒ وئیلی دی چه دا ثناء ئے په ذکر د رب سره راوړله دے دپاره چه د مصیبت د لرے کولو سره مناسب شی ځکه چه دا هم تقاضا د تربیت ده۔ او د رب سره ئے د عظمت او د حلم صفتونه راوړل ځکه چه دا دواړه مستلزم دی کمال قدرت او کمال رحمت او احسان او تجاوز لره۔ او آسمانونه او زمکه ئے ذکر کړل دپاره د کمال تربیت د هغهٔ چه دا د مستلزم دے د هغهٔ توحید لره۔

او دے دعاء سره غم او تکلیف او پریشانی ځکه ختمیږی چه پدے کښے د الله تعالیٰ ذکر شوی صفاتو سره زړهٔ ته معرفت حاصلیږی او کله چه معرفت د رب حاصل شی، نو بیا د هغهٔ سره محبت او د هغهٔ اکرام او اجلال او توحید راځی، نو پدے سره به ددهٔ زړهٔ ته تازګی او خوشحالی ورسیږی او مصیبت او غم به ئے ختم شی۔

ددې دعاء د اَهميت په باره کښې

طبرئ وائی : سلفو به دې دعاء ته (دُعَاءُ الْكَرْب) وئيله او دا به ئې لوستله۔

ابن بطالؒ وئيلی دی : ما ته ابوبكر الرازیؒ وئيلی دی چه زۀ په اصفهان کښې د شيخ ابو نعيمؒ سره وم چه حديثونه مې ترې ليکل، او هلته يو بل شيخ وو چه ابوبکر بن علیؒ ئې نوم وو او دۀ ته فتویٰ حواله وه نو بعض خلقو ددۀ سره حسد وکړو نو بادشاه ته ئې څه شيطانی وکړه چه دۀ زياتې کړيدې، نو هغۀ جيل ته واچولو، او دا د رمضان مياشت وه۔

ابوبكر الرازیؒ وائی : ما نبی کريم ﷺ په خوب کښې وليدو چه تسبيحات ئې وئيل او ما ته ئې ووېل چه ابوبكر بن علیؒ ته ووايه چه دعاء الكرب دې وائی کومه چه په صحيح بخاری کښې راغلې ده، ددۀ نه به الله تعالىٰ مصيبت لرې کړی، نو زۀ سهار کښې ددۀ خوا ته راغلم او ددې خوب خبر مې ورکړو۔ نو هغۀ دا دعا ووئيله نو لږ وخت روستو د جيل نه را آزاد شو۔

ابن بطالؒ وائی : چه پدې خوب کښې نبی کريم ﷺ د بخاری په صحت باندې ګواهی ورکړيده۔

ابن ابی الدنيا په (الفرج بعد الشدة) کتاب کښې ليکلی دی چه وليد بن عبد الملك عثمان بن حيانؒ ته وليکل چه حسن بن الحسنؒ وګوره او سل درې ئې ووهه او خلقو ته ئې اُودروه، هغه وائی، د هغۀ پسې ئې سړې وليږلو او راوستې شو نو هغۀ ته علی بن الحسين راپاځيدۀ او ورته ئې ووېل چه اې د ترۀ ځويه کلام الفرج (د کشادګئ دعا) ووايه، الله به دربانډې فراخی راولی۔ نو هغه ولوسته نو عثمان هغۀ ته سر راپورته کړو او وې وئيل چه زۀ ددې سړی مخ وينم چه په دۀ باندې دروغ وئيلې شويدی، دې پريدئ۔ زۀ به امير المؤمنين ته ددۀ عذر وليکم نو هغه ئې پريخودو۔

حسن بن حسنؒ وائی : عبد الله بن جعفرؒ خپله لور حجاج ته په نکاح ورکړه نو هغې سره يواځې شو، او دا ئې ورته ووېل چه کله تا ته مرګ يا د دنيا يو پريشانئ والا کار راځی نو د هغې نه مخکښې داسې کلمات وايه :

[لَا إِلٰـهَ إِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحَانَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ]۔

حسن بن حسنؒ وائی : ما پسې حجاج سړې راوليږلو نو ما دا کلمات ولوستل، هرکله

چه زۀ د هغۀ مخې ته ودرولے شوم ما ته ئے ووېل : ما تا ته سرے دے دپاره رالیږلے وو چه زۀ غـوارم چـه ستا څښتن وو هم او اُوس ته داسے ئے چه ما ته ستا نه زیات عزتمن بل هیڅوک نشته، زما نه خپل حاجت وغواره۔

(مصنف عبد الرزاق۱۹۸/٦ حدیث : ۳۰٦۳۱)

پـه روایـت د مسند ابی عـوانه او عبد بن حُمید کښې دی چه اول به دا اذکار ووائی بیا به دعـاء وغـواړی، او پـه الادب الـمـفـرد ص (۱٦۱/۲) کښې دی : چـه پـه آخر کښې به داسے الفاظ ووائی : [اَللّٰهُمَّ اصْرِفْ عَنِّیْ شَرَّهٗ] (اے الله ! ما نه دده شر واړه وه)

او که صرف همدا اذکار ووائی هم کافی ده۔

- 2418(3) وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ صُرَدٍ ﷺ قَالَ : اِسْتَبَّ رَجُلَانِ عِنْدَ النَّبِيِّ ﷺ وَنَحْنُ عِنْدَهٗ جُلُوْسٌ وَأَحَدُهُمَا يَسُبُّ صَاحِبَهٗ مُغْضِبًا قَدِ احْمَرَّ وَجْهُهٗ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: " إِنِّيْ لَأَعْلَمُ كَلِمَةً لَوْ قَالَهَا لَذَهَبَ عَنْهُ مَا يَجِدُ : أَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ ". فَقَالُوْا لِلرَّجُلِ: لَا تَسْمَعُ مَا يَقُوْلُ النَّبِيُّ ﷺ؟ قَالَ : إِنِّيْ لَسْتُ بِمَجْنُوْنٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او سلیمان بن صرد ﷺ فـرمائی : د نبی کریم ﷺ په خوا کښې دوه کسانو رد بـد ووئیـل او مـونږ د هغۀ سره ناست وو او یو په دواړو کښې خپل ملګری ته کنځل کول چه غـصـه وو پـداسے حـال کـښې چه مخ ئے سور شوے وو۔ نو نبی کریم ﷺ وفرمایل : یـقـیـناً مـا تـه یـوه کـلـمه معلومه ده که دۀ ولوسته خامخا به ددۀ نه هغه غصه لاړه شی کـومـه چـه دے مـونـده کـوی (هـغه دا ده) اعوذ بالله من الشیطان الرجیم۔ نو خلقو هغه سړی ته ووېل : آیا تۀ نۀ آورے هغه خبره چه نبی کریم ﷺ ئے وائی ؟ هغۀ ووېل : زۀ خو څه لیونے نۀ یم۔ (بخاریؔ ومسلمؔ)

تشریح : رَجُلَانِ : حافظ وائی : ما ته ددے سړو نومونه نۀ دی معلوم۔

كَلِمَةً : د کلمے نه مراد معنی لغوی ده چه کلام او مفیدے جملے ته هم شاملیږی۔

لَذَهَبَ عَنْهُ مَا يَجِدُ : یعنی ددۀ نه به غضب لاړ شی۔ لکه چه په روایت د معاذ بن جبل کښې دی۔

دا حدیث ددے آیت نه اخستے شوید ے ﴿ وَإِمَّا يَنزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطَانِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللهِ إِنَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴾ (اعراف : ٢٠٠) (که تا ته د شیطان د اړخ نه څه وسوسه ورسیږي نو په الله پورے پناهي طلب کړه ځکه چه هغه آوریدونکے پوهه دے)۔

فَقَالُوا : په روایت د ابوداود وغیره کښے دي چه هغه سړي پسے معاذ بن جبل ﷺ ورپاځیدو او د نبي کریم ﷺ دغه خبره ئے ورته وکړه۔

مَا يَقُولُ النَّبِيُّ ﷺ : یعني پدے باندے عمل وکړه او دا کلمه ووایه۔

لَسْتُ بِمَجْنُونٍ : یعني زهٔ خو څه لیونے نهٔ یم، بلکه په خپل هوش کښې یم، او تهٔ خپل کار کوه۔ حافظ ابن حجرؒ وائي : چه ددے نه معلومیږي چه دا سړے کافر وو یا منافق وو۔ یا په دهٔ باندے غصے دومره غلبه کړے وه چه دے ئے د حد د اعتدال نه بهر کړے وو چه نصیحت کونکي ئے هم ورټلو۔

بعض وائي : د باندو والا د جُفاتو نه وو، او دا گمان ئے وکړو چه د شیطان نه پناهي غوښتل خو د لیوني دپاره وي، او پدے پوهه نهٔ وو چه غصه د شیطان شر او چونداره ده، پدے وجه د انسان د غصے په حالت کښے شکل بدل شي او د اعتدال د حد نه بهر شي۔

پدے وجه رسول الله ﷺ یو تن ته نصیحت کښے وفرمایل : [لَا تَغْضَبْ] غصه مهٔ کوه، بار بار ئے ورته همدا وئیل۔ او دا دلیل دے چه د غضب ډیر لوی شر وي۔

شوکانيؒ لیکي : دا حدیث دلیل دے چه غصه د شیطان د عمل نه راپیدا کیږي او په اعوذ بالله سره ختمیږي، نو څوك چه نا حقه او رشتیني نصیحت باندے غصه کیږي، نو دے ډیر پوهه شي چه پدے وخت کښے شیطان په دهٔ باندے لوبے کوي او دا د شیطان وسوسه ده، او پدے حدیث کښے ئے ډیر ښکلے علاج وخودلے شو۔

او نور علاجونه ئے هم شته چه انسان که ولاړ وي کیدني، او که ناست وي، پروت ډے وکړي، دارنګه اودس ډے وکړي۔

- 2419(4) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : " إِذَا سَمِعْتُمْ صِيَاحَ الدِّيَكَةِ فَسَلُوا اللهَ مِنْ فَضْلِهِ فَإِنَّهَا رَأَتْ مَلَكًا وَإِذَا سَمِعْتُمْ نَهِيقَ الْحِمَارِ فَتَعَوَّذُوا بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ فَإِنَّهُ رَأَى شَيْطَانًا " . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او جناب ابو هریره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمایل : کله چه تاسو د

چرګ آواز واورېدو نو د الله تعالىٰ نه د هغهٔ فضل وغواړئ ځکه چه هغهٔ ملائك ليدلے دے او کله چه تاسو د خر رمباړے واورئ نو په الله پورے د شيطان رټلے شوی نه پناهي وغواړئ ځکه چه هغهٔ شيطان ليدلے دے۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : الدِّيْکَةِ : دا جمع د دِيْكٌ ده، لکه فِيْلَةٌ د فِيْلٌ جمع ده، چرګانو ته وائي۔

او د چرګ يو داسے خصوصيت دے چه د بل هيڅ حيوان نهٔ دے چه د شپے وخت پيژني، او خپل آواز په هغے کښے تقسيموی، چه نزدے نهٔ ده چه هغے کښے فرق راشي، او د صبا د راختلو نه مخکښے او روستو پرله پسے بانګونه وائي، نزدے نهٔ ده چه خطاء شي برابره ده شپه اُوږده وی او که لنډه۔

فَسَلُوا اللهَ : يعني د الله نه د هغهٔ مهرباني او زياتي انعام په خپلو ځانونو وغواړئ۔

رَأَتْ مَلَکًا : يعني يو ملائك ويني۔

قاضي عياضؒ وائي : ګويا کښې سبب پدے کښې دا دے چه اميد وساتي چه ملائك به ددهٔ په دعاء باندے آمين ووائي او دهٔ له به استغفار وغواړي او ددهٔ په اخلاص به ګواهي ورکوی۔

او ددے نه ددے خبرے استحباب معلوميږي چه کله نيکان خلق دعاء کوی نو بنده هغے ته د تبرك په طور حاضر شي۔

او ابوداودؒ او ابن حبانؒ وغيره روايت راوړيدے چه [لَا تَسُبُّوا الدِّيْكَ فَإِنَّهُ يُوْقِظُ لِلصَّلَاةِ] تاسو چرګ ته کنځل مهٔ کوئ ځکه چه دے مانځه ته رابيدارول کوی)،

(ابوداود : ٥١٠٣)

او په بل روايت کښې دی : [فَإِنَّهُ يَدْعُوْ إِلَى الصَّلَاةِ] مانځه ته رابلل کوی)

(احمد : ٢١٧٢٣) وابن حبان (٣٨/١٣) واسناده صحيح على شرط الشيخين)

او په روايت د بزار کښې ئے د رسول الله ﷺ ددے وينا وجه دا خودلے ده چه يو چرګ آواز وکړو نو يو سړی په هغهٔ باندے لعنت ووئيلو نو رسول الله ﷺ ورته دا ارشاد وفرمايلو۔

(مسند البزار : ١٧٦٣)

حليميؒ وائي : ددے نه دا خبره اخستے کيږی چه هر هغه ځوك چه د هغهٔ نه خير حاصليږي نو هغهٔ ته ګنځل کول مناسب نهٔ دی، د هغهٔ سپکاوے به نهٔ کيږی بلکه د هغهٔ اکرام او هغهٔ سره به احسان کولے شي۔

نَهِيقَ الْحِمَارِ : یعنی رمبارے (ناکاره آواز) د خر۔
په روایت د ادب مفرد او ابوداود کښې دی چه کله د شپې آواز وکړی۔ لیکن دے روایت کښې مطلق راغلے دے، او هغه حدیث کښې شپه پدے وجه ذکر شوه چه د شپے شیطانان ډیر راخوریږی نو خرئے وینی پدے وجه آوازونه زیات کوی۔ د ورځے هم ددے وینا پکار ده۔
او په روایت د ابوداود (۵۱۰۵) او الادب المفرد (۱۲۳٤) کښې په اسناد صحیح سره ددے سره [نُبَاحَ الْكِلَابِ] د سپو آوازونه هم ذکر کړیدی۔
بیا چرگ او خر کله آوازونه بغیر د ملائك او د شیطان لیدو نه هم د څه اسبابو په وجه کوی لیکن دا خو نۀ ده معلومه چه کوم آواز ددے وجه نه دے، او کوم د بلے وجه نه، نو ددے وجه نه مطلقاً دعاء او استعاذه لوستل پکار دی۔
لیکن په حدیث د طبرانی او ابوموسی الاصبهانی کښې د حدیث د ابورافع ﷺ نه مرفوعاً نقل دی : [لَا يَنْهَقُ الْحِمَارُ وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ السُّنِّيِّ: وَلَنْ يَّنْهَقَ الْحِمَارُ حَتَّى يَرٰى شَيْطَانًا أَوْ يَتَمَثَّلَ لَهٗ شَيْطَانٌ]۔
یعنی خر رمبارے نۀ وهی مگر هله چه شیطان وینی یا ورته شیطان متشکل شی۔

- 2420(5) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ إِذَا اسْتَوٰى عَلٰى بَعِيْرِهٖ خَارِجًا إِلَى السَّفَرِ كَبَّرَ ثَلَاثًا ثُمَّ قَالَ :(سُبْحَانَ الَّذِيْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِيْنَ وَإِنَّا إِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ)، اَللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ فِيْ سَفَرِنَا هٰذَا الْبِرَّ وَالتَّقْوٰى وَمِنَ الْعَمَلِ مَا تَرْضٰى، اَللّٰهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنَا سَفَرَنَا هٰذَا وَاطْوِ لَنَا بُعْدَهٗ، اَللّٰهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ وَالْخَلِيْفَةُ فِي الْأَهْلِ وَالْمَالِ، اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ وَكَآبَةِ الْمَنْظَرِ وَسُوْءِ الْمُنْقَلَبِ فِي الْمَالِ وَالْأَهْلِ . "وَإِذَا رَجَعَ قَالَهُنَّ وَزَادَ فِيْهِنَّ : "آيِبُوْنَ تَائِبُوْنَ عَابِدُوْنَ لِرَبِّنَا حَامِدُوْنَ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او عبد الله بن عمر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ به چه کله په خپل اُوښ باندے برابر شو پداسے حال کښې چه سفرته به وتونکے وو نو درے کرته به ئے الله اکبر ولوستو بیا به ئے ووئیل : (سبحان الذی الخ ترجمه : پاکی ده هغه ذات لره چه تابع ئے کړه

مـونږ دپاره دا (سورلی) او نۀ یو مونږ دے لره راتیینګونکی او یقیناً مونږ به خپل رب ته ورګرزو۔ اللهم انی اسئلك الخ اے الله ! زۀ تا نه پدے سفر زمونږ کښې نیکی او تقوی غـوارم او د عـمـل نـه هغـه چه تۀ پرے راضی کیږے، اے الله ! مونږ باندے زمونږ دا سفر آسان کړه او ددے وړاندے والے مونږ دپاره راتاؤ کړه۔ اے الله ! تۀ په سفر کښې ملګرے او په اهـل او مـال کښې خـلیفه (روستو پاتے کیدونکے) ئے، اے الله ! زۀ پناه غوارم په تا پورے د مشـقـت د سفر نه او د خفه کونکی منظر نه او د بد ځای د راواپس کیدو نه په مال او اهل کښې۔ او کـلـه چـه بـه راواپس شـو نـو دغـه کلمات به ئے لوستل او په هغے کښې به ئے دا زیـاتـول : آیبـون : (یـعـنیٰ مونږ راواپس کیدونکی یو، توبه ویستونکی یو، د خپل رب عبادت کونکي او حمد ویونکی یو۔ (مسلمؒ)

تشریح : مُقْرِنِیْنَ : اَیْ مُطِیْقِیْنَ وَمُقْتَدِرِیْنَ عَلَیْهِ ۔ یعنی طاقت لرونکی او په هغے باندے قـدرت لرونکی۔ یعنی مونږه ددے د قهر او استعمال طاقت نۀ لرلو که الله تعالیٰ مونږ ته نۀ وے تابع کړی۔

وَاِنَّـا اِلٰـی رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ : ددے مـنـاسـبـت د مـاقبل سره دا دے چه سوریدل د نقل کیدو دپاره وی او لوی نقل کیدل هغه الله تعالیٰ ته ورګرزیدل دی، نو سوریدونکی له پکار دی چه ددے نه غافل نشی او د الله د ملاقات دپاره ځان تیار کړی۔

یـعـنی ددے نعمت شکر دا دے چه خپل عاقبت او انجام رایاد کړی او وپیژنی چه د ژوند په سورلئ باندے سوریدل داسے دی لکه ددے سورلئ په شا باندے سوریدل۔

دا دعـاء پـه هـره سـورلـئ بـانـدے د سوریدو په وخت مسنون ده، سفر دپاره وی او که غیر سـفـر۔ او دا لفظ وئیل چه (خَارِجًا اِلَی السَّفَرِ) دا حـکـایت د حال دے او ددے دپاره ئے ذکر کړیدے چه ما ته خبره مضبوطه یاده ده۔

اَلْبِرَّ : یعنی طاعت۔

وَالتَّقْوٰی : یعنی یره او بچ کیدل د ګناهونو نه۔

مَا تَرْضٰی : اَیْ بِهٖ عَنَّا۔ یعنی هغه عمل چه تۀ په هغے سره زمونږ نه راضی کیږے۔

وَاطْوِ لَنَا بُعْدَهٗ : یعنی مونږ ته ددے سفر وړاندے والے رانزدے کړه۔

یا مطلب دا دے چه مزل راله آسان کړه چه مونږ ته او زمونږ سورلئ له طاقت ورکړے۔

او دا راتـاوول پـه حـقیـقت بناء دی، نو پدے کښې اشاره ده طی المکان والزمان ته۔ یعنی

مونږ نه د سفر مشقت لرې کړه په رانزدې کولو د لرې مسافت سره مونږ ته په حس سره۔

أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ : یعنی ته زمونږ ملګرې ئې یعنی زمونږ حفاظت او اهتمام به کوې۔ او انسان په سفر کښې ملګرې طلب کوی، نو پدې کښې اشاره ده بنائسته اعتماد ته په الله باندې او د هغهٔ ملګرتیا د بل چا د ملګرتیا نه ډیره کافی ګنړل دی۔

وَالْخَلِيفَةُ فِي الْأَهْلِ : خلیفه هغه شخص دې چه د یو تن نه روستو پاتې کیږی د هغهٔ د کارونو د سنبالولو دپاره۔

وَعْثَاءِ السَّفَرِ : یعنی سخت والې او مشقت او ستړی والې د سفر۔ دا په اصل کښې د وَعْثٌ نه دې، شړو ته وائی او پدې کښې مزل ډیر ګران وی۔

وَكَآبَةِ الْمَنْظَرِ : کآبة، د سخت غم او خفګان د وجه نه د نفس تغیر ته وائی په انکسار سره۔ او منظر : هغه اهل او مال او حال ته وائی چه انسان ورته ګوری۔ (جزریؒ)

یا منظر مصدر میمی دې، په معنیٰ د تغیر د مخ سره د مرض یا د خفګان وغیره په وجه سره۔

وَسُوْءِ الْمُنْقَلَبِ : منقلب مصدر میمی دې، یعنی د بدې رجوع (واپسیٔ) نه۔

یا اسم مکان دې، یعنی چه کور ته راواپس شی او خپل اهل او مال کښې خفګان وګوری مثلًا مال ته ئې مصیبت رسیدلې وی، یا أهل ئې بیماران شوی وی۔

آيِبُوْنَ : د آبَ يَئُوْبُ نه دې رجوع ته وائی۔ یعنی مونږ د سفر نه خپل وطن ته په سلامتیا سره واپس کیدونکی یو۔

تَائِبُوْنَ : د ګناهونو نه طاعت طرفته واپس کیدونکی یو۔

دا دعاء د سفر د شروع په وخت کښې کولې شی۔

- 2421(6) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَرْجِسٍ ﷺ قَالَ :كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا سَافَرَ يَتَعَوَّذُ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ وَكَآبَةِ الْمُنْقَلَبِ وَالْحَوْرِ بَعْدَ الْكَوْرِ وَدَعْوَةِ الْمَظْلُوْمِ وَسُوْءِ الْمَنْظَرِ فِي الْأَهْلِ وَالْمَالِ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او جناب عبد الله بن سرجس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ به چه کله سفر

کولو نو پناهی به ئې طلب کوله د مشقت د سفر نه او د خفګان د واپسئ نه (یا د بد حالت د واپسئ نه) او د نقصان نه پس د زیاتی نه او د مظلوم د ښیرو نه او د بد حالت لیدو نه په مال او اهل کښې۔ (مسلمؒ)

تشریح : وَالْحَوْرِ بَعْدَ الْكَوْرِ : حور په اصل کښې پټکے سپړدل دی پس د تاوولو نه۔ او ګور د تکویر العمامة نه اخستې شویدے، راتاوول او جمع کول دی۔ او معنیٰ ئې دا ده :
[مِنَ الْاِنْتِقَاصِ بَعْدَ الزِّيَادَةِ وَالْاِسْتِكْمَالِ] یعنی د نقصان نه پس د زیادت او استکمال نه۔ یعنی د نقصان د حال او مال نه پس د زیادت د دوام او پوره والی د دوام نه۔ یعنی دے نه چه زمونږ حالت د خوشحالئ نه ضرر او تکلیف ته واوړی او د صحت نه مرض ته۔

❁ مِنْ فَسَادِ الْاُمُوْرِ بَعْدَ صَلَاحِهَا۔ د کارونو د خرابیدو نه پس د برابریدو د هغے نه۔

بعض وائی : مِنَ التَّفَرُّقِ بَعْدَ الْاِجْتِمَاعِ۔ د تفرق (تس نس) کیدو نه پس د راجمع کیدو او اتفاق نه۔

امام مسلمؒ په خپل صحیح کښې [مِنَ الْحَوْرِ بَعْدَ الْكَوْنِ] ذکر کړیدے په نون سره۔
کون د کَانَ يَكُوْنُ كَوْنًا نه دے، او کان تامه دے، او معنیٰ دا ده : د نقصان او تغیر نه پس د ثبات او استقرار (مضبوطوالی) نه۔

بعض وائی : د ښائسته حالت نه واپس کیدل پس د هغے نه چه په هغے باندے وو۔
یا رجوع د ایمان نه کفر ته او د طاعت نه معصیت ته۔
امام نوویؒ وائی چه بعض علماء ئې داسے معنیٰ کوی :
[اَعُوْذُ بِكَ مِنَ الرُّجُوْعِ عَنِ الْجَمَاعَةِ بَعْدَ اَنْ كُنَّا فِيْهَا]۔
یعنی زۀ پناهی طلب کوم د واپس کیدو نه د جماعت د مسلمانانو نه پس د هغے نه چه مونږ په هغے کښې وو۔

وَدَعْوَةِ الْمَظْلُوْمِ : پدے کښې یره ورکول دی د ظلم او د هغے د اسبابو نه۔ او ددے نه ئې پناهی پدے موقعه کښې وغوښته، وجه دا ده چه په سفر کښې دعاء او ښیرے زر قبلیږی اګرکه د مظلوم د ښیرو نه په حضر کښې هم یره پکار ده۔

وَسُوْءِ الْمَنْظَرِ : ١- یعنی په خپل اهل او مال کښې هغه شے وینی چه ددۀ نظر خفه کوی۔ ٢- یا ددے نه چه یو ظالم او فاجر ددۀ په مال او اهل کښې طمع ولری۔
٣- سندیؒ وائی : مراد د سوءُ المنظر نه هر هغه منظر دے چه هغے ته په نظر کولو سره

انسان خفه كيږي.

- 2422(7) وَعَنْ خَوْلَةَ بِنْتِ حَكِيمٍ قَالَتْ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ :" مَنْ نَزَلَ مَنْزِلًا فَقَالَ : أَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ لَمْ يَضُرَّهُ شَيْءٌ حَتّٰى يَرْحَلَ مِنْ مَنْزِلِهِ ذٰلِكَ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او د خوله بنت حكيم رضي الله عنها نه روايت دے فرمائي : ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمايل ئې : څوك چه يو ځاى كښې راكوز شو بيا ئې وويل : اعوذ بكلمات الله التامات من شر ما خلق . (زهٔ پناه طلب كوم په كلمو د الله تعالىٰ سره چه پوره دي، د شر د هغه څه نه چه هغهٔ پيدا كړيدى) هيڅ شے به ورته ضرر ورنكړى تردے چه كوچ وكړي د دغه ځاى نه. (مسلمؒ)

تشريح : التَّامَّاتِ : يعنى په پناهي وركولو كښے پوره فائده وركونكي كافي شافي دي، چه تعوذ كونكے د آفاتو نه ساتي.

او ددے نه امام احمدؒ دليل نيولے دے چه د الله تعالىٰ كلام غير مخلوق دے، ځكه چه په مخلوق باندے پناهي غوښتو نه رسول الله ﷺ منع فرمائيلے ده.

حَتّٰى يَرْحَلَ : يعني تردے چه نقل شي ددهٔ ځاى نه.

علامه زرقانيؒ وائي : ددے دعاء نه د فائدے اخستو شرط دا دے چه حضور او توجه او نيت سره به ئے وائي، او دا استحضار به كوى چه رسول الله ﷺ دا ددے دپاره خودلے دى چه بنده پدے سره محفوظ شي، او هغه رشتيني دے نو كه يو تن ووئيله او بيا هم څه شي ضرر وركړو نو دهٔ به په توجه او نيت او قوت د يقين سره نهٔ وى وئيلي، او دا د منازلو د سفر پورے خاص نهٔ دے بلكه عام دے په هر ځاى كښ چه كيني يا اُوده كيږي. آه

او پدے حديث كښے رد دے په رواج د جاهليت چه هغوى به كله يو ځاى كښ دمه وكړه نو د پيريانو د سردار نه به ئے پناهي طلب كوله او داسے به ئے وئيل : [اَعُوْذُ بِسَيِّدِ هٰذَا الْوَادِيْ]. (پناه غواړم په سردار ددے كندے او ميدان).

- 2423(8) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلٰى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا لَقِيْتُ مِنْ عَقْرَبٍ لَدَغَتْنِي الْبَارِحَةَ قَالَ :" أَمَا لَوْ قُلْتَ حِيْنَ أَمْسَيْتَ : أَعُوْذُ

بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ لَمْ تَضُرُّكَ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : يو سړي رسول الله ﷺ ته راغلو وې فرمايل : اې د الله رسوله ! د څه سره زۀ مـلاؤ شوم د لړم نه، چه زۀ ئې بيګاه وچيچلم۔ نبي كريم ﷺ وفـرمايـل : خبر شه كه چرې تا وئيلي وې كله چه تا بيګاه كړې وې : اعوذ بكلمات الله التـامـات مـن شـر مـا خـلـق۔ (پناه طلب كوم په كلمو د الله تعالىٰ سره چه پوره دي د شر د هغه څه نه چه هغه پيدا كړيدي) (نو لړم به) تا ته ضرر نۀ وې دركړې۔ (مسلمؒ)

تشريح : پـه "شـرح الـسـنـة" او "خـلـق افعال العباد" او "موطأ" كښې دي : چه د أسلم قبيلې يـو سـړي رسـول الله ﷺ تـه راغې چه بيګاه شپه ما خوب نۀ دې كړې، رسول الله ﷺ وفـرمـايـل : د څـه وجې نـه ؟ هغـۀ وويـل : زۀ لـړم وچيچلم۔ الحديث، ددې نـه معلوميږي چه دا سړې د أسلم قبيلې وو۔ او په روايت د ابوداود او نسائي كښې دي :

((ابـو صـالـح د يـو سـړي د اسـلـم قبيلې نه روايت كړيدې چه زۀ د رسول الله ﷺ په خوا كښې ناست وم نو يو سړې راغې او دغه خبره ئې وكړه))۔

دې نـه مـعـلـوميږي چه دا بيل شخص دې، نۀ اسلمي۔ يا احتمال شته چه دا دوه قصې وي، يو كرت د اسلمي او بل كرت د بيل شخص وي۔

مَا لَقِيتُ مِنْ عَقْرَبَ : ما استـفهاميه ده دپاره د تعجب۔ يعني د څه سره زۀ ملاؤ شوم د لړم د وجې نه۔ يعني زۀ د يو لوى كار سره او د سخت درد سره ملاؤ شوم۔

يا ما موصوله ده او خبرئې پټ دې۔ اَيِ الَّذِىْ لَقِيتُهُ لَا اَقْدِرُ وَصْفَهُ لِعَظْمِ شِدَّتِهِ۔

يعني هغه شې چه زۀ ورسره ملاؤ شوم زۀ د هغې په بيانولو قادر نۀ يم د وجه د سختئ د هغې نه۔ او روستو (لَدَغَتْنِي الْبَارِحَة) به ئې بيان وي۔

او په روايت د ابن السني (٧١٠) كښې دي : چه دا ذكر به درې كرته لولي۔

لَمْ تَضُرُّكَ : علامـه قرطبيؒ وائي : ما پدې تجربه كړيده نو رشتيني مې موندلې ده، ما نـه يـوه شپـه پاتې شوه نو لړم وچيچلم نو ما فكر وكړو نو ما ته پته ولګيده چه ما دا دعاء پريخې وه۔

- 2424 (9) وَعَنْهُ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ إِذَا كَانَ فِي سَفَرٍ وَأَسْحَرَ يَقُوْلُ : " سَمَّعَ سَامِعٌ بِحَمْدِ اللهِ وَحُسْنِ بَلَائِهِ عَلَيْنَا، رَبَّنَا صَاحِبْنَا وَأَفْضِلْ عَلَيْنَا عَائِذًا بِاللهِ مِنَ النَّارِ ".

رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی : نبی کریم ﷺ به چه کله په سفر کښې وو او سهار به ئې کړونو داسې به ئې وئیل : سمع سامع۔ (ترجمه) واوریدل یو آوریدونکې د الله تعالیٰ حمد لره او ښائسته نعمت د هغهٔ په مونږ باندې، اے ربه زمونږ، مونږ سره ملګرے شه او مهربانی وکړه په مونږ باندې (زهٔ دا خبره کوم) په داسې حال کښې چه زهٔ پناهی طلب کونکے یم په الله سره د اُور نه۔ (مسلمؒ)

تشریح : وَأَسْحَرَ : یعنی په وخت د سحر (یعنی چربانګ) کښې به داخل شو۔

سَمَّعَ : دا د تسمیع نه دے، مشدد دے، او دا قرائت د اکثرو راویانو د مسلم دے، او معنیٰ ئې ده : [بَلَّغَ سَامِعٌ قَوْلِيْ هٰذَا لِغَيْرِهِ]۔ یعنی ورسولو آوریدونکی زما دا وینا بل چا ته).

او دا جمله خبریه ده او معنیٰ ئې د امر ده۔ یعنی اُودِے رسوی وینا زما چه دا ده بل چا ته دے دپاره چه هغه هم پدے وخت کښې د الله حمد ووائی او د هغهٔ ذکر وکړی او د هغهٔ نه دعاء وغواړی۔

یا دا د سَمِعَ نه دے، او معنیٰ ئې د ګواهیٔ ده۔ یعنی ګواهی وکړه یو ګواهی کونکی۔ او پدے کښې هم معنیٰ د امر ده۔ او مقصد پکښې بل څوك ګواه کول دی په خپله دے دعاء باندے، او مطلب ئې دا دے [لِيَسْمَعْ كُلُّ مَنْ يَأْتِيْ مِنْهُ السَّمَاعُ وَلْيَشْهَدْ عَلٰى حَمْدِنَا لِلّٰهِ تَعَالٰى] ۔ چه آوریدونکے دے واورئ او ګواهی کونکے دِے ګواهی ورکړی زمونږ په حمد وئیلو سرهِ د الله تعالیٰ دپاره۔

وَحُسْنِ بَلَائِهٖ عَلَيْنَا : د هغهٔ د ښائسته انعام نه په مونږ باندے۔ یعنی مونږ پدے باندے اقرار کوو او ددے ګواهی کوو چه الله مونږ سره ښائسته انعام کړیدے۔

توریشتیؒ وائی : په خبر باندے حمل کول ډیر قوی او ظاهر دی، او مطلب دا دے

[مَنْ كَانَ لَهٗ سَمْعٌ فَقَدْ سَمِعَ بِحَمْدِنَا وَحُسْنِ بَلَائِهٖ عَلَيْنَا]

چه هر هغه څوك چه آوریدل کولے شی نو هغهٔ به زمونږ حمد او د الله ښائسته انعام په مونږ باندے آوریدلے وی۔ او دا دواړه کارونه، یعنی زمونږ حمد د الله دپاره د هغهٔ په نعمتونو او د هغه انعام په مونږ باندے دومره مشهور او عام شویدے چه نزدے نهٔ ده چه هغه په یو آوریدونکی شخص باندے پټ پاتے شی۔

بلائه : بلاء انعام ته وائی او الله تعالیٰ کله په بندګانو باندے امتحان کوی په تکلیفونو

دے دپاره چه صبر وکړی، او کله په خوشالیانو دے دپاره چه شکر وکړی.
رَبَّنَا صَاحِبْنَا : دا د مصاحبة نه امر دے، أَیْ كُنْ لَنَا صَاحِبًا بِالْإِعَانَةِ وَالْإِغَاثَةِ وَالْكَلَاءَةِ وَالْحِفْظِ. یعنی زمونږ ملګرے شه په مدد کولو او په فریادرسی کولو او په ساتنه او حفاظت کولو سره.
وَأَفْضِلْ عَلَيْنَا : دا امر دے د افضال نه، أَیْ أَحْسِنْ إِلَيْنَا وَتَفَضَّلْ عَلَيْنَا بِإِدَامَةِ النِّعْمَةِ وَالتَّوْفِيْقِ لِلْقِيَامِ بِحُقُوْقِهَا. یعنی مونږ سره احسان وکړه او زیات ئے کړه په مونږ باندے په همیشه پاتے کولو د نعمت سره، او ددے د حقوقو د ادا کولو په توفیق سره.
عَائِذًا بِاللّٰهِ : دا اسم فاعل دے د مصدر په ځای قائم دے، أَیْ نَعُوْذُ بِاللّٰهِ عِيَاذًا. یعنی مونږ په الله پورے پناهی طلب کوو، پناهی طلب کول.
یا فعل ناصبه مُقدر دے، او دا حال دے د هغے نه. أَیْ أَقُوْلُ ذٰلِكَ عَائِذًا بِاللّٰهِ مِنَ النَّارِ. یعنی زهٔ دا دعا وایم په داسے حال کښے چه د الله پورے پناهی طلب کونکے یم. او دے قول ته امام نوویؒ میلان کړیدے.

- 2425(10) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا قَفَلَ مِنْ غَزْوٍ أَوْ حَجٍّ أَوْ عُمْرَةٍ يُكَبِّرُ عَلٰى كُلِّ شَرَفٍ مِنَ الْأَرْضِ ثَلَاثَ تَكْبِيْرَاتٍ ثُمَّ يَقُوْلُ : "لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ، آيِبُوْنَ تَائِبُوْنَ عَابِدُوْنَ سَاجِدُوْنَ لِرَبِّنَا حَامِدُوْنَ، صَدَقَ اللّٰهُ وَعْدَهٗ وَنَصَرَ عَبْدَهٗ وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهٗ" . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او جناب عبد الله بن عمر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ به چه کله د غزا نه یا د حج نه یا د عمرے نه واپس کیدونو د زمکے نه په هر لوړ ځای به ئے درے تکبیرات وئیل بیا به ئے وئیل : لا اله الا الله : نشته حقدار د بندګئ سوئ د الله نه یواځے دے، هیڅ شریك ورله نشته، خاص هغهٔ دپاره بادشاهی ده او د هغهٔ دپاره حمدونه دی، او هغه په هر شی باندے قادر دے، (مونږ) راواپس کیدونکی یو، توبه ویستونکی یو، عبادت کونکی یو، خپل رب ته سجدے کونکی یو، حمد ویونکی یو. الله تعالیٰ خپله وعده رشتینی کړه، او د خپل بنده سره ئے مدد وکړو او یواځے ئے ډلو (د کفارو) لره شکست ورکړو. (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشريح : مِنْ غَزْوٍ : دلته راوی درې سفرونه ذکر کړيدی ځکه چه د رسول الله ﷺ سفرونه همدا درې قسمه وو. نو په دې کښې تخصيص ددې دريو نشته، لهذا دا ذکر د هر سفر نه د راواپس کيدو په وخت کښې کول مسنون دی.

شَرَفٍ : د زمکې اُوچتې حصې ته وئيلې شی، او ډيرکئ ذکر شوه ددې نه معلومه شوه چه د احوالو بدليدو په وخت دا ذکر کول مستحب دی. نو بنده له پکار دی چه د زمانې او د مکان په بدليدو سره، او د خکته او پورته کيدو سره د خپل رب د ذکر نه غافل نشی. او بل مناسبت دا دې چه لوئی طلب کول نفسونو ته محبوب وی، او په دې کښې ښکاره کيدل او غلبه وی نو پورته کيدونکی انسان لره پکار دی چه دا خبره رايادة کړی چه لوئی د الله سره ښائی او هغه د هر شی نه لوئی دې.

لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ : د تکبير نه روستو لا اله الا الله ذکر شوه، علامه قرطبیؒ ليکی : په دې کښې اشاره ده چه الله تعالیٰ ټول موجودات يواځې پيدا کړيدی، او هغه په ټولو اماکنو کښې معبود دې.

آيِبُوْنَ : دا خبر د مبتداء دې، اَیْ نَحْنُ آيِبُوْنَ. يعنی مونږ راواپس کيدونکی يو، او دلته خالص اخبار د راواپس کيدو نه نهٔ ورکوی ځکه چه هغه خو تحصيل د حاصل دې بلکه راواپس کيدل دی په خاص حالت کښې چه هغه د الله په طاعت او عبادت او اذکارو سره مشتمل وی.

تَائِبُوْنَ : دائې د امت د تعليم دپاره وئيلې دې، يا توبه د استمرار د طاعت دپاره وی.

صَدَقَ اللهُ : الله تعالیٰ خپله وعده رشتينی کړه چه دين ته ئې غلبه ورکړه.

وَنَصَرَ عَبْدَهُ : يعنی د نبی کريم ﷺ سره ئې مدد وکړو.

وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ : يواځې ئې خپله د کافرانو ډلو ته شکست ورکړو، لکه په غزا د خندق کښې. يا ټولو کافرانو ډلو ته ئې شکست ورکړيدې په هره زمانه او هره علاقه کښې.

- 2426(11) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِیْ أَوْفٰی ﷺ قَالَ : دَعَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَوْمَ الْأَحْزَابِ عَلَی الْمُشْرِكِيْنَ فَقَالَ : " اَللّٰهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ سَرِيْعَ الْحِسَابِ اَللّٰهُمَّ اهْزِمِ الْأَحْزَابَ، اَللّٰهُمَّ اهْزِمْهُمْ وَزَلْزِلْهُمْ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او جناب عبد الله بن ابی اوفیٰ ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ د احزاب په ورځ مشرکانو ته ښیرے وکړے نو وے فرمایل : اللهم منزل الکتاب۔ (ترجمه: اے الله چه ته نازلونکے د کتاب ئے، زر حساب کونکے ئے، اے الله ! (دے) ډلو ته شکست ورکړه، اے الله دوئ ته شکست ورکړه او دوئ باندے زلزله راوله۔ (یا دوئ په تکلیفونو پریشانه کړه) (یا دوی وخوزوه) (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : یَوْمَ الْأَحْزَابِ : یعنی د خندق په غزا کښے۔

مُنْزِلَ الْكِتَابِ : دا منادیٰ ده حرف نداء مقدر ده۔ یعنی یَا مُنْزِلَ الْكِتَابِ۔

منزل : د اِنْزَال نه دے، بعض وائی : د تنزیل نه دے او د کتاب نه مراد قرآن کریم دے، یا جنس آسمانی کتابونه مراد دی۔

سَرِیْعَ الْحِسَابِ : یعنی یَا سَرِیْعَ الْحِسَابِ۔ یعنی اے هغه ذاته چه حساب ئے زر راځی د هغے د وخت په راتللو سره۔ یا په جلتئ سره حساب کونکے دے د مخلوق سره په ورځ د قیامت۔

د الله تعالیٰ دا دوه صفتونه ئے خاص ذکر کړل ځکه چه پدے دواړو سره د حق او باطل ترمینځ فرق راځی، او پدے سره باطل والا دفع کیږی او د هغوی بنیاد ختمیږی نو، پدے دوه صفتونو سره ددے وجه نه توسل پکار دے۔

او په یو بل روایت د بخاری او مسلم کښے دی : [مُنْزِلَ الْكِتَابِ وَمُجْرِیَ السَّحَابِ هَازِمَ الْأَحْزَابِ] نو بیا په انزال د کتاب کښے دینی نعمت ته اشاره ده، او په مجری السحاب کښے دنیاوی نعمتونو او د نفسونو ژوندی کیدو ته په روانولو د وریځے سره چه دا سبب د بارانونو او رزقونو دے۔

او په دریم صفت کښے اشاره ده چه ددے په وجه د مخکنو دوه نعمتونو حفاظت کیږی۔

او پدے روایت کښے چه کومه سجع په دعاء کښے راغلے ده نو دا بغیر د قصد نه ناګهانی واقع شویده،

او کوم حدیث کښے چه په دعاء کښے د سجع نه منع راغلے ده، نو د هغے نه مراد دا دے چه د هغے دپاره تکلف کوی او مُقَفیٰ الفاظ تالاش کوی او د دعاء د معنیٰ نه غافل وی۔

او پدے دعاء کښے ددے دریے نعمتونو عظمت ته اشاره ده۔ (حافظ)

اهْزِمْهُمْ : پدے کښے تاکید او تعمیم دے۔

وَزَلْزِلْهُمْ : یعنی دوئ وخوزوه په تکلیفونو سره۔ د زلزال نه مراد هغه تکلیفونه دی چه انسانان خوزوی۔
او پدے کښے ښیرے دی چه کله دوئ شکست وخوری نو بیا د دوئ دپاره هیڅ قرارے پاتے نشی۔ (حافظ)
داودیؒ وائی : چه ددے نه مراد د جنګ په وخت د عقلونو خوزیدل او د قدمونو رپیدل دی چه مضبوط نشی۔
قسطلانیؒ وائی : د هلاکت ښیرے ئے ونکړے بلکه د شکست او زلزلے ښیرے ئے وکړے، ځکه چه په شکست کښے د هغوی نفسونه روغ رمټ وی، نو امید دے چه دوئ به د شرك نه توبه وباسی او اسلام ته به داخل شی۔ او هلاکولو سره دا مقصد فوت کیږی۔

- 2427(12) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُسْرٍ ﷺ قَالَ : نَزَلَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَلٰى أَبِىْ فَقَرَّبْنَا إِلَيْهِ طَعَامًا وَوَطْبَةً فَأَكَلَ مِنْهَا ثُمَّ أُتِىَ بِتَمْرٍ فَكَانَ يَأْكُلُهُ وَيُلْقِى النَّوٰى بَيْنَ أُصْبُعَيْهِ وَيَجْمَعُ السَّبَّابَةَ وَالْوُسْطٰى وَفِىْ رِوَايَةٍ : فَجَعَلَ يُلْقِى النَّوٰى عَلٰى ظَهْرِ أُصْبُعَيْهِ السَّبَّابَةِ وَالْوُسْطٰى ثُمَّ أُتِىَ بِشَرَابٍ فَشَرِبَهُ فَقَالَ أَبِىْ وَأَخَذَ بِلِجَامِ دَابَّتِهٖ :اُدْعُ اللهَ لَنَا فَقَالَ : " اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِيْمَا رَزَقْتَهُمْ وَاغْفِرْ لَهُمْ وَارْحَمْهُمْ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او جناب عبد الله بن بسر ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ زما پلار کره راغلو نو مونږ هغهٔ ته طعام او حلواء ورمخکښے کړه نو د هغے نه ئے خوراك وکړو بیا کجورے راوړے شوے نو رسول الله ﷺ هغه خوړلے او اُدوکے به ئے د دوه ګوتو ترمینځ غورزولو او مسواکئ او مینځومئ ګوته به ئے یو ځای کوله۔ او په یو روایت کښے دی : نو نبی کریم ﷺ شروع شو چه اُدوکی ئے د مسواکئ او د مینځومئ ګوتے په شا باندے غورزولو بیا شربت راوړے شو نو هغه ئے وڅکلو نو زما پلار وویل پداسے حال کښے چه هغهٔ د رسول الله ﷺ د اَس واګے نیولے وے : د الله تعالیٰ نه زمونږ دپاره دعا وکړه۔ نو هغهٔ وفرمایل : اللهم بارك لهم فیما رزقتهم واغفر لهم وارحمهم۔ (اے الله دوئ ته برکت واچوه په هغه رزق کښے چه تا ئے دوئ ته ورکوے، او بخنه ورته وکړه او رحم پرے وکړه)۔ (مسلمؒ)

تشريح : نَزَلَ : يعني ميلمه شو رسول الله ﷺ زما په والد باندے۔
وَوَطْبَةً : دا يو قسم حلواء ده چه د كجورو او پنير او غوړو نه جوړيږي۔ او پدے كښې بل قراء ت : (وطئة) دے، هغه هم د كجورو حلواء ته وئيلے شي۔
او بعض راويانو پكښې [رَطُبَةً] ذكر كړيدے ليكن هغې ته امام نوويؒ خطاء وئيلے دے۔
ثُمَّ اُتِيَ : يعني بيا راوړلے شوے۔
وَيُلْقِي : د اِلْقَاء نه دے، يعني غورزول ئے۔
النَّوٰى : جمع د نَوَاةٌ ده، دلته ترے جنس اَدوكے مراد دے۔
بَيْنَ اُصْبُعَيْهِ : يعني هډوكي به ئے د دوه گوتو ترمينځ كيخودو د وجه د كم والي د هغې نه، او د كجورو په لوښي كښې به ئے نۀ ارتول، دا د سنت خلاف دي۔ ځكه چه كيدے شي د هغې پورے لاړے انختے وي نو خلق به ددے وجه نه نورے كجورے بدے وگڼړي۔
بعض وائي : ددے معنیٰ دا ده چه د دواړو گوتو په شا باندے ئے راجمعه كړل بيا به ئے ويشتل لكه داسے الفاظ په روايت د ابن السنيؒ او احمدؒ كښې راغلي دي۔
بِشَرَابٍ : يعني اُوبۀ يا ددے قائم مقام شے دے۔
او په ټولو رواياتو كښې ددے نه روستو داسے الفاظ دي : [ثُمَّ نَاوَلَهُ الَّذِىْ عَنْ يَمِيْنِهِ] بيا ئے وركړل هغه چا ته چه ددۀ ښي اړخ ته ناست وو۔ نو دے نه معلومه شوه چه اُوبۀ او شربت وغيره به ښي طرف باندے گرزولے شي۔
وَأَخَذَ : دا جمله حاليه معترضه ده، او قَدْ پكښې مقدر دے۔ اَیْ وَقَدْ اَخَذَ۔ پداسے حال كښې چه هغۀ نيولے وو۔ ددے نه دا سنيت معلوميږي چه د مشرانو او د ميلمنو سورلۍ او د هغې واگے نيول بهتر عمل دے، دپاره د تواضع او د هغوئ د مائله كولو۔
اُدْعُ اللهَ : دے نه معلوميږي چه كوربه د ميلمه نه دعاء طلب كولے شي، او پدے كښې استحباب د طلب د دعاء دے د فاضل نه، او دعاء د ميلمه په فراخئ د رزق او مغفرت او رحمت سره۔ او رسول الله ﷺ پدے دعاء كښې د دنيا او د آخرت خيرونه راجمع كړيدي (قاله النوويؒ)

الفصل الثاني

- 2328 (13) عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ إِذَا رَأَى الْهِلَالَ قَالَ : " اَللّٰهُمَّ

أَهِلَّهُ عَلَيْنَا بِالْأَمْنِ وَالْإِيْمَانِ وَالسَّلَامَةِ وَالْإِسْلَامِ رَبِّيْ وَرَبُّكَ اللهُ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ ــــــــــــــــــــــــــــــ

ترجمه : او جناب طلحه بن عبيد الله رضي الله عنه فرمائي : نبي كريم ﷺ به چه كله مياشت وليدله نو داسے به ئے وئيل : اللهم اهله علينا الخ (ترجمه : اے الله ! دا په مونږ باندے راښكاره كړه په امن او ايمان او سلامتيا او اسلام سره، زما رب او ستا رب الله تعالىٰ دے)۔ (دا ترمذيؒ روايت كړيدے او وئيلي ئے دي : دا حديث حسن غريب دے)

تشريح :

طلحه بن عبيد الله التيمي المدني د عشره مبشره ؤ نه دے رضي الله عنه۔

الْهِلَالَ : سپوږمئ چه په اولنو درے ورځو كښے وي نو هغے ته هلال وائي بيا قمر شي، او دے ته هلال ځكه وائي چه كله دا څوكويني نو آواز پورته كوي چه د هغے نه خبر وركوي نو دا د اِهْلال نه دے چه آواز پورته كولو ته وئيلے شي۔

أَهِلَّهُ : د اِهْلال نه دے، يعني په مونږ باندے ئے دا راوخيژه وه۔ او مونږ ته ئے راښكاره كړه، او په مونږ باندے ئے ووينه۔

بِالْأَمْنِ : په بله نسخه د ترمذي او ابن السني او دارمي كښے (باليمن) لفظ راغلے دے۔ چه بركت او نيكبختئ ته وئيلے شي۔

وَالْإِيْمَانِ : يعني اطمينان په الله باندے۔ گويا كښے دعا كونكے ددے دواړو (نيك بختئ او ايمان) دوام او هميشوالے غواړي۔

وَالسَّلَامَةِ : او سلامتيا د هر تكليف او ضرر نه۔

وَالْإِسْلَامِ : او هميشوالے د اسلام۔ يا امن او ايمان باطني طور سره، او سلامتيا او اسلام ظاهرًا مراد دے۔ او په امن او سلامتيا كښے تنبيه ده په دفع كولو د هر تكليف سره، او په ايمان او اسلام سره په راښكلو د هر نفعمن شي ده په كامله طريقه او په مختصر عبارت سره۔

رَبِّيْ وَرَبُّكَ اللهُ : دا خطاب هلال ته دے، ځكه چه مخكښے ئے ددے په باره كښے امن او ايمان وغوښتو نو د سپوږمئ عظمت پيدا شو نو دے دپاره چه څوك د الله توحيد خراب نكړي سپوږمئ ته ئے خطاب وكړو چه ستا رب هم الله تعالىٰ دے۔

او ردي په هغه چا باندې چه د الله تعالیٰ سره په تدبير د مخلوقاتو كښې نور كائنات شريكوي او علوي آثارو په باره كښې غلطې خبرې كوي.
او دې حديث كښې پدې خبره باندې تنبيه ده چه د نحو د ښكاره كيدو او د رنړا كونكو څيزونو د حالاتو د بدليدو په وخت دعاء مستحب ده. او پدې كښې به توجه رب ته كولې شي نۀ مربوب ته. او پدې كښې به د الله كاريګرئ ته كتلې شي نۀ جوړ كړې شوي شي ته. (التوربشتيؒ)

درجة الحديث : اسناده صحيح : أخرجه الترمذي (٣٤٥١) وقال حديث حسن غريب والدارمي (٤/٢) وقد ورد بلفظ : اليمن والايمان عند احمد (١٣٩٧) باسناد حسن.

- 2329(14) وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ وَأَبِىْ هُرَيْرَةَ قَالَا: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:" مَا مِنْ رَجُلٍ رَأٰى مُبْتَلًى فَقَالَ : اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ عَافَانِىْ مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهٖ وَفَضَّلَنِىْ عَلٰى كَثِيْرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيْلًا، إِلَّا لَمْ يُصِبْهُ ذٰلِكَ الْبَلَاءُ كَائِنًا مَا كَانَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِىُّ

- 2430(15)

وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَه عَنِ ابْنِ عُمَرَ. وَقَالَ التِّرْمِذِىُّ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ وَعَمْرُو بْنُ دِيْنَارٍ الرَّاوِىُّ لَيْسَ بِالْقَوِىِّ.

ترجمه : او جناب عمر بن خطاب او ابو هريره رضى الله عنهما فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : نشته يو سړې چه يو مصيبت زده ويني نو داسې ووائي : الحمد لله الذى عافاني الخ. (ترجمه : حمدونه دي الله تعالىٰ لره هغه ذات چه زۀ ئې روغ ساتلے يم د هغې مصيبت نه چه تۀ ئې پرې اخته كړې ئې، او ما ته ئې غوره والے راكړې په ډيرو د هغه خلقو چه هغۀ پيدا كړيدي په غوره والي سره) مګر نۀ به رسيږي دۀ ته دغه مصيبت هر څنګه چه وي. (ترمذيؒ)

تشريح : مُبْتَلًى : يعني يو مصيبت زده ويني، بدني وي، لكه برص (برګى مرض) او جذام، يا ډير لند يا ډير اوږد، يا ړوند، يا ګوډ، يا د لاس كوږوالے، يا ديني وي لكه فسق او ظلم، بدعت او كفر وغيره.

عَافَانِىْ : اَىْ نَجَّانِىْ وَسَلَّمَنِىْ. يعني زۀ ئې خلاص كړې يم او بچ ئې ساتلے يم، يا روغ ئې ساتلے يم.

علماءً وائى : كه مصيبت زده انسان فاسق وى نو هغهٔ ته به ئے ښكاره ووائى او هغهٔ ته به ئے واوره وى، دے دپاره چه هغه منع شى، او كه مريض وى يا ناقص الخلقت وى، نو په پټه به ئے ووائى دے دپاره چه هغهٔ ته خفګان او درد ونهٔ رسيږى۔
او ددے خطاب (اِبْتَلَاكَ بِهٖ) نه ډا نهٔ لازميږى چه انسان به د مصيبت زده مخے ته ورځى او هغهٔ ته به ئے په زوره سره وائى۔ او كله چه د فاسق مخے ته ددے لوستلو نه فساد پيدا كيږى نو بيا به ئے هم ځان سره ووائى۔
وَفَضَّلَنِيْ عَلٰى كَثِيْرٍ : يعنى ما ته ئے غوره والے راكړے په ډير مخلوق باندے، يعنى زهٔ د دوئ نه ډير خير والا او ښائسته حالت والا ګرزولے يم۔
علی القاریؒ وائى : فِي الدِّيْنِ وَالدُّنْيَا وَالْقَلْبِ وَالْقَالِبِ ۔ يعنى په دين او دنيا او زړهٔ او ظاهرى جسم كښے ئے غوره والے راكړے۔
كَائِنًا مَا كَانَ : ظاهر دا ده چه دا حال دے د فاعل (يعنى البلاء) نه، يعنى په داسے حال كښے چه وى دغه بلاء هر شے چه وى۔
او بعض اهل علم وائى چه دا حال دے د (لَمْ يُصِبْهُ) د مفعول ضمير نه، يعنى ترڅو پورے چه دغه سړے باقى وى په دنيا كښے۔
په روايت د بزار (٣١١٨/٢٩/٤ كشف الاستار) كښے داسے الفاظ زيات دى : [فَاِنَّهٗ اِذَا قَالَ ذٰلِكَ كَانَ شُكْرَ تِلْكَ النِّعْمَةِ] نو كله چه سړے دا ووائى نو دا به د دغه نعمت شكر كړے وى ۔ او دے زيادت ته مُنذرىؒ او هيثمىؒ په مجمع الزوائد كښے حسن وئيلے دے۔
او شيخ البانىؒ په صحيح الجامع كښے ورته حسن وئيلے دے، او په سلسلة الاحاديث الضعيفة (٦٨٨٩) كښے منكر وئيلے دے۔
درجة الحديث : اسناده حسن، او صحيح: أخرجه الترمذي (٣٤٣١) (٣٤٣٢) وقال حديث غريب وصححه الألبانى فى الصحيحة (٢٧٣٧) ورواه ابن ماجه (٣٨٩٢) عن ابن عمر.

- 2431(16) وَعَنْ عُمَرَ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قال : " مَنْ دَخَلَ السُّوْقَ فَقَالَ: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِ وَيُمِيْتُ وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوْتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ، كَتَبَ اللهُ لَهٗ أَلْفَ أَلْفِ حَسَنَةٍ وَمَحَا عَنْهُ أَلْفَ أَلْفِ

سَيِّئَةٍ وَرَفَعَ لَهُ أَلْفَ أَلْفِ دَرَجَةٍ وَبَنٰى لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ وَفِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ : " مَنْ قَالَ فِيْ سُوْقٍ جَامِعٍ يُبَاعُ فِيْهِ " بَدَلَ "مَنْ دَخَلَ السُّوْقَ "

ترجمه : او جناب عمر ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چه بازار ته ننوزي او داسے ووائي : لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِ وَيُمِيْتُ وَهُوَ حَيٌّ لَا يَمُوْتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ. الله تعالىٰ به دهٔ دپاره لس لاكهه نيكئ وليكي او لس لاكهه گناهونه به ترے ورژوي او لس لاكهه درجے به ئے پورته كړي او دهٔ دپاره به په جنت كښے كور جوړ كړي. (دا ترمذيؒ او ابن ماجهؒ روايت كړيدے او ترمذيؒ وئيلي دي چه دا حديث غريب دے او په شرح السنه كښے په بدل ددے الفاظو كښ دي چه ((څوك بازار ته داخل شو)) داسے الفاظ دي : ((چا چه ووبل په داسے بازار كښے چه جامع وي چه په هغے كښے اخستل خرڅول كيږي)).

تشريح : طيبيؒ وائي : بازارئے خاص ذكر كړو ځكه چه دا د الله تعالىٰ د ذكر نه د غفلت ځاى دے، او پدے كښے په تجارت باندے مشغول كيدل دي، نو دا د شيطان د بادشاهئ او د هغهٔ د لښكرو د راجمع كيدو ځاى دے، نو ذاكر دلته د شيطان مقابله كوي، او د هغهٔ لښكرو له شكست وركوي نو دے ددے ذكر شوي ثواب لائق دے.

فَقَالَ : يعني په پټه يا ښكاره سره دا ذكر ووائي.

بعض وائي: پدے كښ جهر افضل دے، ځكه چه پدے كښے د غافلانو بيدارول دي، چه هغوي هم ددهٔ په شان ذكر وكړي، نو پدے كښے به ذكر هم وشي او متعدي فائده به هم حاصله شي، ليكن شرط دا دے چه د رياء او سُمعت نه په امن كښے وي.

طيبيؒ وائي : نو څوك چه په بازار كښے دا ذكر وكړي نو هغه به د هغه چا په ډله كښے داخل شي چه الله تعالىٰ د هغوي په حق كښے فرمائي :

﴿ رِجَالٌ لَا تُلْهِيْهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللهِ ﴾ (النور : ٣٧)

(مومنان) داسے سړي دي چه هغوي لره تجارت او اخستل خرڅول د الله د ذكر نه نهٔ غافل كوي.

كَتَبَ اللهُ لَهُ : يعني الله به ئے ورله ثابت كړي، يا به ملائكو ته ددے په ليكلو حكم

وکړي۔
أَلْفَ أَلْفِ سَيِّئَةٍ: یعنی لس لاکهه ګناهونه به ئې معاف شي که چرته وي، او که نهٔ وي نو ددې په اندازه به ئې نیکیانې ولیکلې شي۔
وَبَنٰى لَهٗ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ : او ددهٔ دپاره به په جنت کښې کور جوړ کړي، یعنی حکم به وکړي د هغې په جوړولو۔ او دا جمله په بل روایت د ترمذیؒ کښې د [وَرَفَعَ لَهٗ أَلْفَ أَلْفِ دَرَجَةٍ] په ځاې راغلې ده۔ یعنی ددهٔ دپاره به لس لاکهه درجات پورته کړې شي۔
حاکمؒ په مستدرك کښې وئیلي دي: محمد بن واسعؒ فرمائي:
زهٔ قُتَیبه بن مسلمؒ ته راغلم ما ورته ووئیل: ما تا ته یوه هدیه راوړې ده، او دا حدیث مې ورته بیان کړو نو (هغهٔ پرې داسې عمل وکړو چه) هغه په خپله سورلئ سور شو تردې چه د بازار دروازې ته به راغلو او دا دعاء به ئې ولوسته بیا به واپس شو۔
او دا روایت په اعتبار د کثرت د طرقو سره حسن درجه کښې دې چه شیخ البانیؒ د هغې اُوهٔ طرق ذکر کړیدي۔ بعض علماؤ ورته ضعیف وئیلې دې ددې وجه نه چه دې کښې ډیر زیات فضیلت ذکر شویدې،
جواب دا دې چه دا روایت د شواهدو په وجه علماؤ حسن ګڼړلې دې، او دغه شواهدو کښې سخت ضعف هم نشته، او د الله تعالیٰ رحمت فراخه دې، داسې فضائل خو په ډیرو صحیح روایاتو کښې هم راغلي دي لکه د لیلة القدر فضیلت، د جُمعې مانځه ته په راتلو کښې په یو یو قدم سره د یو کال د روژو او قیام اللیل ثواب ملاویږي، د الله تعالیٰ د رحمت نه بعیده نهٔ ده، بلکه الله تعالیٰ د جنت دپاره آسان او معمولي اسباب مقرر کړیدي۔
درجة الحديث: إسناده حسن بكثرة طرقه: اخرجه أحمد (١/٤٧) والدارمي (٢/٢٩٣) والترمذي (٣٤٢٨) وابن ماجه (٢٢٣٥) وضعفه الحافظ فی الفتح (١١/٢٠٦) وقال في سنده لِيْنٌ وقال ابو حاتم منكر، وَحَسَّنَهٗ المنذری فی الترغيب والترهيب (٣/٧) وقال اسناده متصل حسن ورواته ثقات اثبات وفي أزهر بن سنان خلاف وقال الدمياطی فی المتجر الرابح رقم (٢٣٣) إسناده حسن، وقال الشوكانی فی تحفة الذاكرين (٢٩٨) أَقَلُّ أَحْوَالِهٖ أَنْ يَّكُوْنَ حَسَنًا، وقال الالبانی حَسَنٌ لِغَيْرِهٖ، صحيح الترغيب (١٦٩٤) وصحيح الترمذی (٣٤٢٨) وقال ابن عدی فی الكامل فی الضعفاء (٦/١٦٧)

فيه عمران بن مسلم هو عندى ممن يكتب حديثه، (وقال الحافظ فى التقريب : عمران بن مسلم القصير صدوق ربما وهم وقال الذهبى : ثقة ووَثَّقَهُ يحيى بن سعيد القطان وابن معين) وقال البيهقى فى الاسماء والصفات (١٩١/١) له متابعة، وقال البغوى فى شرح السنة (١٢٨/٣) حسن غريب، وقال الذهبى فى تاريخ الاسلام (٢٩/٣٤٦) حسن غريب، وقال احمد شاكر فى عمدة التفسير (٣٠٣/١) فيه عمرو بن دينار مولى آل الزبير ضعيف جدا وللحديث اسناد آخر صحيح، وقال الالبانى فى السلسلة الصحيحة (٣١٣٩) رجال إسناده ثقات غير المهاصر بن حبيب وقد وَثَّقَهُ ابْنُ حِبَّان والْعِجْلِيُّ وَالْهَيْثَمِيُّ.

- 2432 (17) وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ ﷺ قَالَ : سَمِعَ النَّبِيُّ ﷺ رَجُلًا يَدْعُو يَقُولُ : اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ تَمَامَ النِّعْمَةِ فَقَالَ : " أَيُّ شَيْءٍ تَمَامُ النِّعْمَةِ ؟ " قَالَ : دَعْوَةٌ أَرْجُوْ بِهَا خَيْرًا فَقَالَ : " إِنَّ مِنْ تَمَامِ النِّعْمَةِ دُخُوْلَ الْجَنَّةِ وَالْفَوْزَ مِنَ النَّارِ ". وَسَمِعَ رَجُلًا يَقُوْلُ : يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ فَقَالَ : " قَدِ اسْتُجِيْبَ لَكَ فَسَلْ ". وَسَمِعَ النَّبِيُّ ﷺ رَجُلًا وَهُوَ يَقُوْلُ :اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ الصَّبْرَ فَقَالَ :" سَأَلْتَ اللهَ الْبَلَاءَ فَاسْأَلْهُ الْعَافِيَةَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او جناب معاذ بن جبل ﷺ فرمائی : نبی کریم ﷺ د يو سړی نه واوریدل چه دعا كښې ئې داسې وئيل : اے الله زۀ ستا نه پوره والے د نعمت غواړم۔ نو رسول الله ﷺ وفرمايل : كوم شے پوره والے د نعمت دے ؟ هغۀ ووېل : داسې (قبوله شوے) دعاء (غواړم) چه په هغې سره زۀ د خير اميد ساتم۔ نو نبی کریم ﷺ وفرمايل : د نعمت پوره والے جنت ته داخليدل او د اُور نه بچ كيدل دی۔ او د يو سړی نه ئې واوريدل چه وئيل ئې : يا ذا الجلال والاكرام۔ نو نبی کریم ﷺ وفرمايل : ستا دپاره قبول والے وكړے شو نو سوال كوه۔ او نبی کریم ﷺ د يو سړی نه واوريدل چه هغۀ وئيل : اے الله زۀ تا نه صبر غواړم۔ نو نبی کریم ﷺ وفرمايل : تا د الله تعالیٰ نه مصيبت (امتحان) وغوښتو نو د هغۀ نه عافيت (روغوالے) وغواړه۔ (ترمذیؒ)

تشريح : أَيُّ شَيْءٍ تَمَامُ النِّعْمَةِ ؟ : نبی کریم ﷺ په طريقه د امتحان سره ددے سړی نه تپوس وكړو چه د نعمت پوره والے كوم شے دے؟

دَعْوَةٌ : اَیْ مُسْتَجَابَةٌ۔ يعنی قبوله شوے دعاء غواړم چه په هغې سره زما مقصد حاصل

شی چه هغه ډیر مال دے۔ نو دا جواب دے په طریقه د کنایه سره۔ (طیبیؒ)۔
یا [هُوَ دَعْوَةٌ] یعنی دا هغه دعاء ده۔
أَرْجُوْ بِهَا خَيْرًا : اَیْ مَالًا كَثِيْرًا۔ یعنی زهٔ په هغے سره د ډیر مال امید لرم۔ خیر په قرآن کریم کښے مال ته وئیلے شویدے۔ (اِنْ تَرَكَ خَيْرًا) (بقره : ۱۸۰)
إِنَّ مِنْ تَمَامِ : هرکلمه چه ددے سړی د خیر نه ډیر مال مراد وو نو رسول الله ﷺ د هغهٔ ذهن د دنیا نه آخرت طرفته واړولو۔ او اشاره ئے ورکړه چه ﴿فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ﴾۔ (آلعمران : ۱۸۵) (یعنی اصل کامیابی خو د اُور نه بچ کیدل او جنت ته داخلیدل دی)۔
علی القاریؒ وائی : ډیره ظاهره دا ده چه دغه سړی د دنیا فانی کیدونکو او زائل کیدونکو نعمتونو ته نعمت ووئیلو نو رسول الله ﷺ ورته وخودل چه اصل نعمتونه خو د آخرت همیشه باقی پاتے کیدونکی نعمتونه دی۔
صاحب اللمعات داسے معنیٰ کوی : دا یوه دعاء ده چه زهٔ پدے سره د خیر امید لرم، او اجمالًا پوهیږم چه د الله تعالیٰ سره پوره نعمت شته نو هغه غواړم او نهٔ پوهیږم چه په حقیقت کښے د نعمت پوره والے څه شے دے؟ نو رسول الله ﷺ ورته حقیقت د تمام النعمة بیان کړو۔
يَا ذَا الْجَلَالِ : یعنی اے د اُوچت شان او کبریاء والا۔
وَالْإِكْرَامِ : او اے د خپلو اولیاؤ عزت کولو والا۔
اسْتُجِيْبَ لَكَ : په طریقه د تفاؤل سره ئے وویل چه ستا دعا قبوله شوه، یعنی الله به ئے قبلوی۔
دا دلیل دے چه په دعاء کښے یا ذا الجلال والاکرام وئیلو سره قبول والے د دعاء کیږی، او د الله فضل فراخه دے۔
الْبَلَاءَ : یعنی تا د الله تعالیٰ نه مصیبت وغوښتو ځکه چه صبر خو په مصیبت باندے کیږی۔
فَاسْأَلْهُ الْعَافِيَةَ : یعنی د الله تعالیٰ نه د عافیت سوال کوه ځکه چه هغه ډیر فراخه دے، او هرڅوک خو په مصیبت باندے د صبر کولو طاقت نهٔ لری۔ خو دا په هغه وخت کښے چه لا مصیبت واقع شوے نهٔ وی، نو سوال د صبر صحیح نهٔ دے، او کله چه امتحان او

مصيبت راشي نو بيا د صبر سوال كول بهتر دى لكه الله د ايمان والو په حقله فرمائى چه هغوى د خپل رب نه صبر غوښتے وو: ﴿ رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا﴾ ـ (البقره : ٢٥٠)

(اے ربه زمونږ ! په مونږ باندے صبر راتوى كړه)

درجة الحديث : اسناده ضعيف : أخرجه الترمذي (٣٥٢٧) والبخاري في الأدب المفرد (١٨٧/٢) وفيه ابو الورد بن ثمامة بن حزن القشيرى لم يُوَثِّقْهُ اَحدٌ ولذلك قال الحافظ مقبول (اَىْ عِنْدَ الْمَتَابَعَةِ- ولا متابع له) وضعفه الألبانى فى الضعيفة (٣٤١٦).

- 2433(18) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" مَنْ جَلَسَ مَجْلِسًا فَكَثُرَ فِيْهِ لَغَطُهٗ فَقَالَ قَبْلَ أَنْ يَّقُوْمَ : سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوْبُ إِلَيْكَ إِلَّا غُفِرَ لَهٗ مَا كَانَ فِيْ مَجْلِسِهٖ ذٰلِكَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعَوَاتِ الْكَبِيْرِ.

ترجمه : او جناب ابو هريره ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چه په يو مجلس كښے كيناستو او په هغے كښے ئے فضول خبرے زياتے وكړے او بيا ئے د پاڅيدو نه مخكښے داسے ووئيل : سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوْبُ إِلَيْكَ ـ مگر هغهٔ ته به وبخښلے شى هغه څه چه دده نه په دغه مجلس كښے شوى وى۔ (ترمذیؒ روايت كړيدے او بيهقیؒ په دعواتِ كبير كښے)۔

تشريح : دے دعاء ته كفارة المجلس وائى۔

لَغَطُهٗ : لغط آواز او شور او گنړو آوازونو ته وئيلے شى چه په معنىٰ ئے څوك نهٔ پوهيږى۔ (قاموس) دلته ترے بے فائدے خبرے مراد دى۔

على القاریؒ وائى : ددے نه مراد د گناه خبرے دى، ځكه چه (غُفِرَ لَهٗ) لفظ نه معلوميږى۔

او طيبیؒ وائى : ددے نه مراد د توقو خبرے او بے فائدے خبرے دى چه هغه صرف آواز وى او د معنىٰ نه خالى وى۔

او ددے دعاء بل فضيلت دا راغلے دے چه كه دا په نيك مجلس كښے ولوستلے شى نو دا به په مخكښنئ نيكئ باندے يو مهر شى، چه د قيامت په ورځ به دهٔ ته روغ ملاؤ شى

او كه د لغو په مجلس كښې ئے ولولى نو دا به ورله كفاره وګرزى۔
النسائى: (١٣٤٤) (المستدرك : ١٩٧٠) واسناده صحيح- البانىؒ والذهبىؒ)
نو مسلمان له ددے پريخودل نۀ دى مناسب۔
درجة الحديث : اسناده صحيح : أخرجه أحمد (٢/ ٣٩٤، ٤٩٥) وأبوداود (٤٨٠٨) والترمذي (٣٤٣٣) (وقال حسن غريب صحيح) والحاكم (١/ ٥٣٦، ٥٣٧) وقال الحاكم صحيح على شرط مسلم ووافقه الذهبي وقال الألباني وهو كما قالا.

- 2434(19) وَعَنْ عَلِيٍّ ﷺ : أَنَّهُ أُتِيَ بِدَابَّةٍ لِيَرْكَبَهَا فَلَمَّا وَضَعَ رِجْلَهُ فِي الرِّكَابِ قَالَ : بِسْمِ اللهِ فَلَمَّا اسْتَوٰى عَلٰى ظَهْرِهَا قَالَ: أَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ثُمَّ قَالَ : (سُبْحَانَ الَّذِىْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِيْنَ وَإِنَّا إِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ) ثُمَّ قَالَ : اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ثَلَاثًا وَاللهُ أَكْبَرُ ثَلَاثًا سُبْحَانَكَ إِنِّىْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ فَاغْفِرْ لِىْ فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ إِلَّا أَنْتَ، ثُمَّ ضَحِكَ فَقِيْلَ: مِنْ أَيِّ شَيْءٍ ضَحِكْتَ يَا أَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ ؟ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ صَنَعَ كَمَا صَنَعْتُ ثُمَّ ضَحِكَ فَقُلْتُ : مِنْ أَيِّ شَيْءٍ ضَحِكْتَ يَا رَسُوْلَ اللهِ؟ قَالَ: " إِنَّ رَبَّكَ لَيَعْجَبُ مِنْ عَبْدِهٖ إِذَا قَالَ: رَبِّ اغْفِرْ لِىْ ذُنُوْبِىْ يَقُوْلُ: يَعْلَمُ أَنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ غَيْرِىْ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او د جناب على ﷺ په باره كښې روايت دے چه هغۀ ته يوه سورلى راوستے شوه دے دپاره چه هغه پرے سورشى نو هركله چه هغۀ په ركاب (پاتكى) كښې خپه كيخوده نو وے وئيل : بسم الله، بيا هركله چه د هغے په شا باندے برابر كيناستو نو وے وئيل : الحمد لله، بيا ئے وويل : (سُبْحَانَ الَّذِىْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِيْنَ وَإِنَّا إِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ) (ترجمه ئے لږ وړاندے تيره شوه) بيا ئے درے كرته الحمد لله او درے كرته الله اكبر (اوبيا ئے) سُبْحَانَكَ إِنِّىْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ فَاغْفِرْ لِىْ فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ إِلَّا أَنْتَ، ولوستل، بيا ئے وخاندل نو دۀ ته وويل شو چه د كوم شى نه تا وخاندل اے امير المؤمنين !؟ هغۀ وويل : ما رسول الله ﷺ وليدو چه داسے كارئے وكړو لكه څنګه چه ما وكړو بيا ئے وخاندل نو ما تپوس وكړو د كوم شى نه تا وخاندل اے د الله رسوله ؟ ﷺ فرمايل : يقيناً ستا رب د خپل بنده نه تعجب كوى كله چه ووائى : (رَبِّ اغْفِرْ لِىْ ذُنُوْبِىْ) اے ربه زما ! ما ته زما ګناهونه

معاف کړه۔ الله وائي : زما دا بنده پو هيږي چه گناهونه نۀ معاف کوي بل څوك سِویٰ زما نه۔ (احمدؒ، ترمذيؒ، ابوداودؒ)

تشريح : وَضَعَ : يعني هرکله ئې چه اراده وکړه چه خپله خپه په رکاب کښې کيږدي۔
الرِّكَابِ : دا په پالان کښې د خپو هغه پاټکی ته وائي چه انسان په هغې کښې د خپې کيخودو په وجه په اس او اُوښ باندې پورته کيږي۔ او که دا د څرمنې نه وي نو هغې ته (غرز) وائي، لکه ابوبكر صديق ﷺ عمر فاروق ﷺ ته فرمائيلي وو۔ [فَاسْتَمْسِكْ بِغَرْزِهٖ]۔ ددې نبي رِكاب ونيسه۔
اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ : يعني د سوريدو پدې نعمت باندې الله تعالیٰ لره شکر دې۔
مُقْرِنِيْنَ : يعني راتينګوونکي، طاقت لرونکي۔
سُبْحَانَكَ : په حسن لغيره روايت د احمدؒ او ابن السنيؒ او حاكمؒ کښې دي :
[سُبْحَانَكَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ قَدْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ الخ]
لَيَعْجَبُ : دا د سَمِع نه دې، يعني خوشحاليږي او دا کار لوي گڼري۔
او تعجب هغه تحيّر دې چه بنده ته لاحق کيږي په وخت د ادراك د امر غريب کښې۔ او د الله په صفت کښې كما يليق بجلالهٖ وعظمةِ شانهٖ مراد دې۔ او دا حقيقي صفت دې، تاويل ته پکښې ضرورت نشته۔
يَقُوْلُ : يعني الله فرمائي : يعلم : بنده پو هيږي۔
درجة الحديث : إسناده صحيح : أخرجه أحمد (٩٧/١) وأبوداود (٢٦٠٢) والترمذي (٣٤٤٦) وقال حسن صحيح، والنسائي في عمل اليوم والليلة (٥٠٢) والحاكم (٩٨/٢، ٩٩) وقال صحيح على شرط مسلم ووافقه الذهبي، والبيهقي في الكبرى (٢٥٢/٥).

- 2435(20) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا وَدَّعَ رَجُلًا أَخَذَ بِيَدِهٖ فَلَا يَدَعُهَا حَتّٰى يَكُوْنَ الرَّجُلُ هُوَ يَدَعُ يَدَ النَّبِيِّ ﷺ وَيَقُوْلُ : " أَسْتَوْدِعُ اللهَ دِيْنَكَ وَأَمَانَتَكَ وَآخِرَ عَمَلِكَ "وَفِيْ رِوَايَةٍ "خَوَاتِيْمَ عَمَلِكَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْ دَاوٗدَ وَابْنُ مَاجَه وَفِيْ رِوَايَتِهِمَا لَمْ يَذْكُرْ :"وَآخِرَ عَمَلِكَ ". ________

ترجمه : او عبد الله بن عمر ﷺ فرمائي : نبي كريم ﷺ به چه کله يو سړې رخصتولو

نو د هغهٔ لاس به ئے ونیولو نو نهٔ به ئے پریخودو تردے چه هغه سړی به د نبی کریم ﷺ لاس پریخودو او داسے به ئے وئیل : (أَسْتَوْدِعُ اللهَ دِيْنَكَ وَأَمَانَتَكَ وَآخِرَ عَمَلِكَ) يعنى زهٔ الله تعالیٰ سره ستا دین او ستا امانت او ستا آخری عمل امانت ورکوم۔ او په یو روایت کښے دی : خَوَاتِيْمَ عَمَلِكَ ۔ یعنی ستا آخری اعمال۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ او په روایت د ابوداود او ابن ماجه کښے (وَآخِرَ عَمَلِكَ) لفظ نهٔ دے ذکر شوے۔

تشريح : رَجُلًا : یعنی یو مسافر سړے۔

فَلَا يَدَعُهَا : یعنی د زیاتے تواضع او عاجزئ او د اظهار د محبت او شفقت او خوش اخلاقئ د وجه نه به ئے د هغهٔ سړی لاس نهٔ پریخودو۔

وَيَقُوْلُ : یعنی رخصت اخستونکی ته به ئے وئیل۔

"أَسْتَوْدِعُ : اى أَسْتَحْفِظُ وَأَطْلُبُ مِنْهُ حِفْظَ دِيْنِكَ۔

یعنی زهٔ طلب د حفاظت کوم د الله نه د دین ستا۔

طیبیؒ لیکی : استودع : طلب د حفاظت د ودیعے (امانت) ته وائی۔ او پدے کښے یو قسم مشاکلت (مشابهت) دے د تودیع (رخصتولو) سره۔

او آسانه معنیٰ ئے ده : زهٔ الله سره امانت ږدم ستا د دین الخ۔

وَأَمَانَتَكَ : یعنی ساتل د امانت ستا یعنی کوم شے چه اخلے او ورکوے، او خلقو سره په سفر کښے ژوند کوے چه دے کښے درنه خیانت ونشی۔

یا د امانت نه مراد اهل او اولاد دے کوم چه دهٔ روستو پریخودی دی۔

یا دا مانت نه مراد د الله امانتونه دی چه د انسان سره دی، یا د مخلوق امانتونه دی، یا ددهٔ د بل چا سره امانتونه دی۔ (فتح الودود)

بعض وائی : ټول دینی کارونه امانت دے۔ لکه ﴿إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمٰوَاتِ﴾ (احزاب : ٧٢) کښے ذکر دے۔

او د امانت سره ئے دین ذکر کړو ځکه چه سفر کښے انسان د خوف او خطرو سره مخامخ کیږی، او کله په کښے انسان ته مصیبت او مشقت رسیږی نو پدے سره د دین ډیر کارونه خرابیږی، نو هغهٔ دپاره ئے د مدد او توفیق دعا وکړه۔ (خطابیؒ)

وَآخِرَ عَمَلِكَ : یعنی په سفر کښے یا په هر ځای کښے آخری عمل ستا۔ (القاری)

مګر ظاهر دا ده چه ددے نه مراد حُسن خاتمه ده، ځکه چه په آخرت کښے پدے باندے

خبره بناء ده، او ددې مطابق به فيصله کيږي او د ديم روايت الفاظ (وخواتيم اعمالك) پرې دليل دے. (تحفة الاحوذی)

درجة الحديث : اسناده صحيح : أخرجه أحمد (٢/٢٥) وأبوداود (٢٦٠٠) والترمذي (٣٤٤٢) (٣٤٤٣) ورواية آخر عملك والثانية : خواتيم عملك وقال عن الرواية الثانية هذا حديث حسن صحيح غريب من هذا الوجه من حديث سالم وصححه الحاكم والذهبي.

- 2436 (21) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ الْخَطْمِيِّ ﷺ قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَّسْتَوْدِعَ الْجَيْشَ قَالَ : "أَسْتَوْدِعُ اللهَ دِيْنَكُمْ وَأَمَانَتَكُمْ وَخَوَاتِيْمَ أَعْمَالِكُمْ ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ

ترجمه : او جناب عبد الله خطمي ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ به چه کله اراده وکړه چه يو لښکر رخصت کړي نو فرمايل به ئے : أَسْتَوْدِعُ اللهَ دِيْنَكُمْ وَأَمَانَتَكُمْ وَخَوَاتِيْمَ أَعْمَالِكُمْ - يعنى زهٔ الله ته سپارم ستاسو دين او ستاسو امانت او ستاسو آخرى اعمال. (ابوداودٌ)

تعارف د عبد الله بن زيد : عبد الله بن يزيد بن زيد الخطمي ابو موسیٰ الاوسی الانصاری ﷺ وړوکے صحابي دے، وړوکوالی کښے حُدَيبيه ته حاضر شويدے چه د اُولس کالو په عمر وو، او جنګ جمل او صفين کښے د علي بن ابی طالب ﷺ ملګرے وو. د ابن الزبير ﷺ د طرف نه د کوفے والي مقرر شوے وو. او شعبيّ ددهٔ کاتب وو.

تشريح : يَّسْتَوْدِعَ : يعنى رخصتول به ئے لښکر دشمن طرف ته.

نو مخکښي روايت کښے دا دعاء په لفظ د مفرد سره ده نو هغه به د يو تن دپاره استعمالولے شي او دلته په لفظ د جمعے سره ده نو دا به ډيرو دپره استعماليږي.

درجة الحديث : اسناده صحيح : أخرجه أبوداود (٢٦٠١) واللفظ له وأخرجه النسائی فی عمل اليوم والليلة (٥٠٧) وابن السنی فی عمل اليوم والليلة (٥٠٥) والحاكم (٢/٩٧، ٩٨).

- 2437(22) وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنِّيْ أُرِيْدُ سَفَرًا فَزَوِّدْنِيْ فَقَالَ :" زَوَّدَكَ اللهُ التَّقْوٰى ". قَالَ : زِدْنِيْ قَالَ :" وَغَفَرَ ذَنْبَكَ " قَالَ : زِدْنِيْ بِأَبِيْ أَنْتَ وَأُمِّيْ قَالَ : " وَيَسَّرَ لَكَ الْخَيْرَ حَيْثُمَا كُنْتَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ :

هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه : او جناب انس ﷺ فرمائي : يو سړي نبي كريم ﷺ ته راغلو عرض ئې وكړو اې د الله رسوله ! زۀ د سفر اراده لرم نو ما ته (څه) توښه راكړه نو نبي كريم ﷺ وفرمايل : زَوَّدَكَ اللهُ التَّقْوٰى. الله تعالىٰ دې تا ته تقوىٰ په توښه كښې دركړي. هغۀ وويل : ما ته نوره دعاء وكړه، هغۀ وفرمايل : وَغَفَرَ ذَنْبَكَ. او الله تعالىٰ دې ستا گناه معاف كړي. هغۀ وويل : ما ته نوره دعاء وكړه زما پلار او مور دې ستا نه قربان وي. هغه وفرمايل : وَيَسَّرَ لَكَ الْخَيْرَ حَيْثُمَا كُنْتَ. او تا ته دې خير آسان كړي هر چرته چه تۀ ئې.

(دا ترمذيؒ روايت كړيدے او وئيلي ئې دي چه دا حديث حسن غريب دے).

تشريح : فَزَوِّدْنِي : د تزويد نه دے، توښه وركولو ته وئيلے شي. يعنې ما ته د سفر توښه راكړه. يعنې ما ته داسے دعا وكړه چه د هغې بركت ما سره زما په سفر كښې د توښې په شان ملگرے وي.

او طيبيؒ وائي: كيدے شي چه هغۀ ظاهري خرچه او توښه غوښتې وي ليكن رسول الله ﷺ په طريقه د اسلوب الحكيم سره جواب وركړو. چه ظاهري توښه خو نشته خو الله تعالىٰ دې تا ته تقوىٰ په توښه كښې دركړي، يعنې چه د گناهونو او د هغۀ د معاصيو نه ځان وساتے. ددے وجه نه هغۀ چه كله د زيادت طلب وكړو نو د مغفرت دعاء ئې ورته وكړه.

التَّقْوٰى : بعض وائي : ددے نه استغناء د مخلوق نه مراد ده. يا امتثال الاوامر او اجتناب النواهي مراد دے.

زِدْنِيْ : ددے نه د زَاد (توښے) زيادت مراد دے، يا زيادت د دعاء دے.

بِأَبِيْ أَنْتَ وَأُمِّيْ : باء د تفديه ده، أَيْ أُفَدِيكَ بِهِمَا وَأَجْعَلُهُمَا فِدَائَكَ فَضْلًا عَنْ غَيْرِهِمَا.

يعنې زۀ خپل مور او پلار ستا نه قربانوم، پاتے لا نور څوك. او چونكه مغفرت صحابه كرامو ته ډير لوى شے ښكاره كيدو پدے وجه ئې ددے نه روستو د خوشحالئ په طور د رسول الله ﷺ دپاره خپل مور او پلار قربان كړل.

وَيَسَّرَ لَكَ الْخَيْرَ : يعنې د دنيا او آخرت خيرونه. يا ډير مال مراد دے.

علامه مناويؒ ليكي : مستحب دي هر هغه چا لره چه يو مسافر رخصتوي چه هغۀ ته دا دعا وكړي، او اصل سنت په (زَوَّدَكَ اللهُ التَّقْوٰى) سره حاصليږي ليكن ډيره كامله دا

ده چه تو له دعاء ذکر کړی۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : أخرجه الدارمي (٢/ ٢٨٦، ٢٨٧) والترمذي (٣٤٤٤) وقال حديث حسن غريب واللفظ له وأخرجه الحاكم (٩٧٢) وسكت عنه وتابعه الذهبي وصححه الألباني في صحيح الترمذي (٢٧٣٩).

- 2438(23) وَعَنْ أَبِىْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : إِنَّ رَجُلًا قَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنِّىْ أُرِيْدُ أَنْ أُسَافِرَ فَأَوْصِنِىْ قَالَ : " عَلَيْكَ بِتَقْوَى اللهِ وَالتَّكْبِيْرِ عَلٰى كُلِّ شَرَفٍ ". قَالَ : فَلَمَّا وَلَّى الرَّجُلُ قَالَ :" اَللّٰهُمَّ اطْوِ لَهُ الْبُعْدَ وَهَوِّنْ عَلَيْهِ السَّفَرَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِىُّ

ترجمه : او جناب ابو هريره ﷺ فرمائی : يو سړی ووېل : اے د الله رسوله ! يقيناً زهٔ اراده لرم چه سفر وکړم نو ما ته وصيت وکړه۔ نبی کريم ﷺ وفرمايل : په ځان باندے د الله تعالىٰ تقوىٰ لازم ونيسه او په هر اُوچت ځای باندے تکبير وئيل۔ راوی وائی : نو هرکله چه سړی شا راوګرزوله نبی کريم ﷺ ورته وفرمايل : اے الله ! دهٔ ته وړاندے والے راتاو کړه او په دهٔ باندے سفر آسان کړه۔ (ترمذیؒ)

تشريح : عَلَيْكَ : اسم فعل دے په معنىٰ د (خُذْ) سره۔ يعنی واخله، او حاصل معنىٰ ئے ده، اَلْزِمِ التَّقْوٰى وَدَاوِمْ عَلَيْهَا۔ يعنی تقوىٰ لازم ونيسه او پدے هميشوالے کوه۔ ځکه چه دا د الله وصيت دے چه پدے سره ئے تولو بندګانو ته وصيت کړيدے۔ ﴿وَلَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَاِيَّاكُمْ اَنِ اتَّقُوا اللهَ﴾۔ (النساء : ١٤١)

(او يقيناً وصيت کړے هغه کسانو ته چه کتاب ورکړے شوے ستاسو نه مخکښے او تاسو ته هم چه د الله تعالىٰ نه يره وکړئ)۔

وَالتَّكْبِيْرِ : يعنی الله اکبر وئيل په هر اُوچت ځای باندے۔

شَرَفٍ : اُوچت مکان ته وائی۔ د پورته ختو په وخت کښے د تکبير وئيلو مناسبت دا دے چه پورته والے او عالی کيدل نفسونو ته محبوب دی ځکه چه پدے کښے يو قسم لوئی والے دے، نو رسول الله ﷺ بنده لره د الله لوئی والی طرفته متوجه کول غواړی چه د الله لوئی رياده کړه۔ او د هغهٔ لوی بيان کړه چه د هغهٔ شکر ګذار بنده جوړ شے، او هغهٔ درته زيات فضل درکړی۔ (حافظ)

قَالَ : يعنې غائبانه ئے هغهٔ ته دا روستو دعا وکړه۔

اطْوِ لَهُ الْبُعْدَ : يعنې وړاندے والے ورته راټاو کړه۔ د زمکے په راټاوولو سره۔ چه سفر پرے اوږد نشي۔ يا ددهٔ نه مشقت د سفر لرے کړه په رانزدے کولو د اوږد مسافت سره حساً يا معنیً۔

وَهَوِّنْ عَلَيْهِ السَّفَرَ : يعنې دهٔ باندے د سفر کارونه او سترے آسانے کړه۔ او دا تعميم بعد التخصيص دے۔

نو ددے حديث نه دا معلومه شوه چه د يو مسافر پسے روستو دا دعاء کول مسنون دي، او دا د يو مؤمن دپاره خير خواهي ده چه بل مسلمان به ورته غائبانه دعاء کوی۔

درجة الحديث : اسناده حسن : أخرجه الترمذي (٣٤٤٥) واللفظ له والنسائى فى عمل اليوم والليلة (٥٠٥) وابن ماجه (٢٧٧١) وابن حبان كما فى الموارد (٢٩٧٨) والحاكم فى المستدرك (٢/٩٨) وقال صحيح على شرط مسلم ووافقه الذهبي والبيهقى فى السنن الكبرىٰ (٥/٢٥١).

- 2439(24) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷛ قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا سَافَرَ فَأَقْبَلَ اللَّيْلُ قَالَ : "يَا أَرْضُ رَبِّيْ وَرَبُّكِ اللهُ، أَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ شَرِّكِ وَشَرِّ مَا فِيْكِ وَشَرِّ مَا خُلِقَ فِيْكِ وَشَرِّ مَا يَدِبُّ عَلَيْكِ وَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ أَسَدٍ وَأَسْوَدَ وَمِنَ الْحَيَّةِ وَالْعَقْرَبِ وَمِنْ شَرِّ سَاكِنِ الْبَلَدِ وَمِنْ وَالِدٍ وَمَا وَلَدَ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او جناب عبد الله بن عمر ﷛ فرمائي : رسول الله ﷺ به چه کله سفر کولو او شپه به راغله نو داسے به ئے وئيل : اے زمکے زما رب او ستا رب الله تعالیٰ دے، زهٔ په الله پورے ستا د شر نه او د شر د هغه څه نه چه په تا کښې دي او د شر د هغه څه نه چه په تا باندے گرځي پناه غواړم، او پناه غواړم په الله پورے د زمري نه او د تور مار نه او د (عام) مار او د لړم نه او د شر د وسيدونکي د ښار نه او د پلار او هغه چه هغه زيږولي وي۔ (ابوداوٗد)

تشريح : يَا أَرْضُ : دا نداء د اختصاص دپاره ده۔ او د ځان متوجه کولو دپاره ده۔

رَبِّيْ وَرَبُّكِ اللهُ : يعنې هر کله چه زما او ستا خالق صرف الله دے، نو بس صرف هغه مستحق دے چه هغهٔ ته پناهي يوړے شي او په هغهٔ سره د شرونو نه پناهي طلب کړے

شي۔
مِنْ شَرِّكِ : د شر نه مراد خسف، زلزله، او د لارے نه ورك کيدل او په دشتو کښے حيرانتيا ده۔
مَا يَدِبُّ : اَیْ يَمْشِیْ وَيَتَحَرَّكُ۔ يعنی چه گرزی او حرکت کوی۔
عَلَيْكِ : يعنی ستا په شا باندے۔
وَأَسْوَدَ : ددے نه مراد جنس تور شے دے۔ يا هغه غټ تور مار دے چه دا په مارانو کښے ډير ناکاره دے، او ددے په باره کښے ذکر شويدی چه دا قافلو ته راوځی او د آواز پسے روانيږی تردے چه انسان باندے کامياب شی، ددے وجه نه دا خصوصی ذکر شو۔
سَاكِنِ الْبَلَدِ : ددے نه مراد انسانان دی، بعض وائی : پيريان مراد دی، او عرب هرے هموارے زمکے ته چه هغے ته حيوانات پناهی وړی او پکښں وسيږی بلد وائی، اگرکه آباديانے او کورونه پکښے نۀ وی۔ لکه آيت کښے دی : ﴿وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ يَخْرُجُ نَبَاتُهٗ بِإِذْنِ رَبِّهٖ﴾ (اعراف : ٥٨) (او پاکه (مزيداره) زمکه راوځی گياه ددے په حکم د رب ددے)۔
دلته دواړه مراد کول صحيح دی۔
درجة الحديث : اسناده ضعيف : الزبير بن الوليد مجهول، أخرجه أحمد (٢/١٣٢) وأبوداود (٢٦٠٣) والحاكم (٢/١٠٠) وقال صحيح الاسناد ووافقه الذهبي فما اصابا (السلسلة الضعيفة (٤٨٣٧).

- 2440(25) وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا غَزَا قَالَ : " اَللّٰهُمَّ أَنْتَ عَضُدِیْ وَنَصِيْرِیْ بِكَ أَحُوْلُ وَبِكَ أَصُوْلُ وَبِكَ أُقَاتِلُ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِیُّ وَأَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او انس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ به چه کله غزا کوله فرمايل به ئے : اے الله ! تۀ زما قوت ئے او زما مدد گارئے ، خاص په تا سره زۀ حيله جوړوم (يا په تا سره زۀ د گناه نه منع کيږم) او خاص په تا سره زۀ حمله کوم او خاص په تا سره زۀ جنگ کوم۔ (ترمذیؒ، ابوداودؒ)
تشريح : عَضُدِیْ : عين باندے زبر او ضاد باندے پيش دے، مُعْتَمَد (يعنی ځای د اعتماد) ته وئيلے شی۔ يعنی په تا باندے په ټولو کارونو د جنگ وغيره کښے اعتماد

کوم۔ یا ته زما قوت ئے په تا سره قوت حاصلوم لکه یو تن په خپل عضد (مټ) سره قوت مومی۔

أَحُوْلُ : (١) د حول نه دے په معنیٰ د حیله سره۔ حَالَ يَحُوْلُ حِيْلَةً۔ اَىْ اِحْتَالَ۔ يعنی په تا سره حیله جوړوم دپاره د دفع کولو د مکر د دشمنانو۔

(٢) یا د حول نه دے په معنیٰ د حرکت او انتقال سره۔ يُقَالُ : حَالَ الشَّخْصُ اِذَا تَحَرَّكَ۔ (حال الشخص معنیٰ دہ۔ حرکت ئے وکړو) یعنی زۀ په تا سره د یو حال نه بل حال ته نقل کیږم۔

(٣) یا په معنیٰ د منع او دفع سره دے، لکه (حَالَ بَيْنَ الشَّيْئَيْنِ) وئیلے شی کله چه یو شے د بل نه منع کړی۔ نو معنیٰ دا ده : لَا اَمْنَعُ وَلَا اَدْفَعُ اِلَّا بِكَ۔ زۀ خاص په تا سره شرونه دفع کوم۔ (٤) یا حول د دوه څیزونو ترمینځ فرق کولو ته وئیلے شی۔ یعنی خاص ستا په قوت او مدد سره زۀ د حق او د باطل ترمینځ فرق کوم۔

(٥) یا حول تردد (واپسئ) ته وئیلے شی۔ یعنی خاص په تا سره زۀ واپس کیږم۔

أَصُوْلُ : صَوْلَةٌ حملے ته وائی۔ یعنی خاص په تا سره حمله کوم په دشمن باندے او په هغۀ غلبه حاصلوم۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : أخرجه أحمد (١٨٤/٣) (١٢٩٣٢) وأبوداود (٢٦٢٣) والترمذی (٣٥٨٤) والنسائی فی عمل اليوم والليلة (٦٠٤) .

- 2441(26) وَعَنْ أَبِىْ مُوْسٰى ﷺ: أَنَّ النَّبِىَّ ﷺ كَانَ إِذَا خَافَ قَوْمًا قَالَ : " اَللّٰهُمَّ إِنَّا نَجْعَلُكَ فِىْ نُحُوْرِهِمْ وَنَعُوْذُ بِكَ مِنْ شُرُوْرِهِمْ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او د ابو موسی اشعری ﷺ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ به کله د یو قوم نه یره کوله نو فرمایل به ئے : اے الله ! مونږ تا لره د دشمنانو په سینو کښے ګرزوو (یعنی تا لره د دشمن په مقابله کښې ګرزوو) او په تا پورے د دوئ د شرونو نه پناه غواړو۔ (احمدؒ، ابوداودؒ)

تشريح : قَوْمًا : یعنی کله چه به د یو قوم د شر نه یریدو۔

نُحُوْرِهِمْ : جمع د نحر ده، مرئ ته وائی، دلته ترے مراد سینے دی۔ او تعبیرئے په نحر

سره وکړو ځکه چه مړئ سره دفع او ديکه کول په جلتئ سره کيږی۔ او دشمن د جنګ په وخت کښے مړئ مخامخ کوی۔ يا پدے کښے تفاول دے په نحر د هغوی سره، يعنی په قتل د هغوی۔ يعنی دوئ زمونږ د طرف نه قتل کړه۔

درجة الحديث : إسناده صحيح : أخرجه أحمد (٤/٤١٤) وأبوداود (١٥٣٧) وابن حبان (٢٣٧٣) والحاكم (٢/١٤٢) وقال صحيح على شرط الشيخين ووافقه الذهبي.

- 2442(27) وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهَا أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ إِذَا خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ قَالَ :" بِسْمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ، اَللّٰهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ مِنْ أَنْ نَزِلَّ أَوْ نَضِلَّ أَوْ نَظْلِمَ أَوْ نُظْلَمَ أَوْ نَجْهَلَ أَوْ يُجْهَلَ عَلَيْنَا ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوٗدَ وَابْنِ مَاجه قَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ: مَا خَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مِنْ بَيْتِيْ قَطُّ إِلَّا رَفَعَ طَرْفَهُ إِلَى السَّمَاءِ فَقَالَ : " اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوْذُ بِكَ أَنْ أَضِلَّ أَوْ أُضَلَّ أَوْ أَظْلِمَ أَوْ أُظْلَمَ أَوْ أَجْهَلَ أَوْ يُجْهَلَ عَلَيَّ "

ترجمه : او ام سلمه رضی الله عنها روايت کوی چه نبی کريم ﷺ به کله د خپل کور نه ووتو نو فرمايل به ئے : بسم الله توکلت على الله اللهم انا نعوذ بك الخ: ترجمه : اے الله مونږ په تا پورے پناه غواړو ددے نه چه وخوئيږو يا ګمراه شو يا ظلم وکړو يا په مونږ باندے ظلم وکړے شی، يا ناپوهی وکړو يا په مونږ باندے ناپوهی وکړے شی۔ (احمدؒ، ترمذیؒ، نسائیؒ)، او امام ترمذیؒ وئيلی دی : دا حديث حسن صحيح دے، او په روايت د ابوداودؒ او ابن ماجه کښې دی : ام سلمه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ زما د کور نه هيڅکله نۀ دے وتلے مګر خپل نظر به ئے آسمان طرفته پورته کړو او داسے به ئے وفرمايل : اللهم انی اعوذ بك الخ ترجمه : اے الله زۀ په تا پورے پناه غواړم ددے نه چه زۀ د حق نه واوړم يا ګمراه کړے شم يا ظلم وکړم يا په ما باندے ظلم وکړے شی يا ناپوهی وکړم يا په ما باندے ناپوهی وکړے شی۔

تشريح : تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ : يعنی ما په ټولو کارونو کښے په هغۀ باندے اعتماد کړيدے۔

نَزِلَّ : چه مونږ وخوئيږو۔ د زلل نه دے، غير اختياري خوئيدو ته وائی، دلته ترے مراد په ګناه او معصيت کښے واقع کيدل دی۔

نَضِلَّ : يعنی د حق او هدايت نه واوړو په قصد سره، نو مخکښے بغير د قصد نه ګناه مراد ده او دلته د قصد سره۔

نَظْلِمَ: يعنی په ځان يا په نورو خلقو ظلم وکړو۔

أَوْ نُظْلَمَ : مجهول صيغه ده، يعنی په مونږ باندے د بل چا د طرفنه ظلم وکړے شی۔

نَجْهَلَ : يعنی مونږ ناپوهه شو په کارونو د دين، يا په حقوق الله او حقوق العباد، يا په معاشره او مخالطت د ملګرو کښے، يا د خلقو سره د جاهلانو په شان کار وکړو په ضرر رسولو کښے هغوی ته۔

أَوْ يُجْهَلَ عَلَيْنَا : يعنی په مونږ باندے بل څوك جهالت وکړی۔ يعنی خلق مونږ سره د جاهلانو کار وکړی، ضرر راکړی۔ او مقصد پدے ټولے دعاء کښے امت ته تعليم ورکول دی، ورنه رسول الله ﷺ د ظلم او جهالت او هر قسم ګناه نه محفوظ او معصوم وو۔

درجة الحديث : إسناده صحيح : أخرجه احمد (٣٠٦/٦) وأبوداود (٥٠٩٤) والترمذي (٣٤٢٧) وقال حسن صحيح وابن ماجه (٣٨٨٤) والحاكم (٥١٩/١) وقال صحيح على شرط الشيخين ووافقه الذهبي .

- 2443 (28) وَعَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" إِذَا خَرَجَ الرَّجُلُ مِنْ بَيْتِهِ فَقَالَ: بِسْمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ يُقَالُ لَهُ حِيْنَئِذٍ هُدِيْتَ وَكُفِيْتَ وَوُقِيْتَ فَيَتَنَحّٰى لَهُ الشَّيْطَانُ وَيَقُوْلُ شَيْطَانٌ آخَرُ : كَيْفَ لَكَ بِرَجُلٍ قَدْ هُدِيَ وَكُفِيَ وَوُقِيَ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ إِلٰى قَوْلِهِ :" الشَّيْطَان "

ترجمه : او انس رضي الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چه يو سړے د خپل کور نه ووځی او داسے ووائی : بِسْمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ ۔ نو دۀ ته په دغه وخت کښے وئيلے شی : تا ته هدايت وکړے شو او ستا کفايت وکړے شو (يعنی تۀ په ټولو کارونو کښے د نورو نه مُسْتَغْنِیْ کړے شوے) او تۀ (د ټولو بدو نه) محفوظ کړے شوے

نو شيطان د هغهٔ نه جدا کړے شي، او بل شيطان (دے شيطان ته د تسلئ دپاره) وائي : تهٔ به څنګه په هغه سړي قابو مونده کړے (قادر شے) چه هغهٔ ته هدايت وشو او کفايت ئے وشو (يعني د غير نه مستغني کړے شو) او (د تمامو بدو نه) ئے ساتنه وشوه۔ (ابوداوُدؒ، او امام ترمذيؒ ددے قول (الشيطان) پورے روايت کړيدے)۔

تشريح : يُقَالُ لَهٗ حِيْنَئِذٍ : يعني ملائك ورته آواز کوي يا عبد الله۔

هُدِيْتَ : يعني تا ته هدايت وکړے شو۔ نيغه لاره (يعني لاره د حق) درته وخودلے شوه۔

وَكُفِيْتَ : او ستا پوره والے وکړے شو۔ يعني ستا د کارونو پوره والے وکړے شو۔

وَوُقِيْتَ : او ستا حفاظت وکړے شو د دشمنانو د شرونو نه۔

طيبيؒ وائي : دا وينا په طريقه د لف او نشر مرتب سره ده، يعني د بسم الله په برکت سره هدايت وشو او د توکل په وجه د کارونو کفايت وشو او د لا حول ولا قوة الا بالله په وجه ئے حفاظت او ساتنه وشوه۔

فَيَتَنَحّٰى لَهُ الشَّيْطَانُ : يعني شيطان (ابليس) ددهٔ نه جدا شي۔ يا کوم شيطان چه په دهٔ باندے مقرر دے هغه دهٔ ته لاره پريدي او ددهٔ نه وړاندے شي۔ (علي القاريؒ)

يا لام اجليه دے، يعني شيطان ددے قائل د وجه نه د هغهٔ د ګمراه کولو د لارے نه جدا شي چه افسوسونه کونکے وي۔

وَيَقُوْلُ شَيْطَانٌ آخَرُ : يعني بل شيطان دهٔ ته تسلي ورکوي او ددهٔ دپاره عذر ذکر کوي چه تهٔ ددهٔ نه په جدا کيدو او ددهٔ په نهٔ ګمراه کولے کښے معذور ئے، تهٔ ددے کلماتو په برکت سره ددهٔ په ګمراه کولو قادر نهٔ ئے۔

كَيْفَ لَكَ بِرَجُلٍ : اَیْ كَيْفَ يَحْصِلُ لَكَ إِضْلَالُ رَجُلٍ۔ يعني تا ته به ددے سړي ګمراه کول څنګه حاصل شي۔ طيبيؒ وائي : لَكَ متعلق دے په يَتَيَسَّرُ۔ پورے، او بِرَجُل په اعتبار د متعلق محذوف سره حال دے۔ اَیْ كَيْفَ يَتَيَسَّرُ لَكَ الْإِغْوَاءُ مُتَلَبِّسًا بِرَجُلٍ الخ۔

يعني تا ته به څنګه ګمراه کول آسان شي په داسے حال کښ چه ګمراهي مشتمل شي د سړي سره۔

سوال : شيطان ته څنګه پته لګي چه دے شخص ته هدايت او ددهٔ کفايت او ددهٔ حفاظت وشو ؟ **جواب** : حافظ ابن حجرؒ فرمائي : د عام امر نه ئے فهم کړه چه هر هغه څوک چه دا دعاء وکړي کوم ته چه رسول الله ﷺ ترغيب ورکړيدے نو د هغهٔ دعاء

قبليږي، آه- يا الله تعالىٰ ئے ورته په زړهٔ کښې اچوي.
يا د ملائِك آواز آوري چه هغه دے سړي ته وائي : (هُدِيتَ وَكُفِيتَ ووُقِيتَ).
درجة الحديث : إسناده صحيح : أخرجه ابوداود (٥٠٩٥) والترمذي (٣٤٢٦) وقال حسن صحيح غريب لا نعرفه الا من هذا الوجه والنسائى فى عمل اليوم والليلة (٨٩) .

- 2444(29) وَعَنْ أَبِيْ مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" إِذَا وَلَجَ الرَّجُلُ بَيْتَهٗ فَلْيَقُلْ : اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلِجِ وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ بِسْمِ اللهِ وَلَجْنَا وَعَلَى اللهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا ثُمَّ لِيُسَلِّمْ عَلٰى أَهْلِهٖ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او د جناب ابو مالك اشعري ﷺ نه روايت دے فرمائي چه رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چه يو سړے خپل کور ته ننوزي نو داسے دِے ووائي : اللهم الخ- يعني اے الله ! زهٔ ستا نه کور ته د داخليدو خير غواړم او د کور نه د وتلو خير، په نوم د الله تعالىٰ مونږ داخل شولو، او خاص په الله باندے چه زمونږ رب دے مونږ توکل وکړو- بيا دِے په خپل کور والو باندے سلام واچوي- (ابوداودؒ)
تشريح : وَلَجَ : يعني کله چه داخل شي يا اراده د داخليدو وکړي-
بَيْتَهٗ : دا قيد واقعي غالبي دے، غالباً انسان کور ته ننوزي-
الْمَوْلِجِ : په کسره د لام سره، اسم ظرف دے- او بعض راويانو فتحه د لام وئيلے ده، نو بيا مصدر دے، په معنىٰ د ولوج (داخليدو) سره- او دغه شان مخرج هم دواړه احتماله لري-
ميركؒ وائي : دواړو ځايونو کښے مصدري معنىٰ غوره ده، ځکه چه دلته مراد هغهِ خير دے چه د وتو او ننوتو نه راځي-
تَوَكَّلْنَا : يعني مونږ اعتماد کړيدے- يا مونږ کارونه ټول سپارلي دي او د هغهٔ په تصرف باندے راضي يو-
دا روايت اګرکه سنداً ضعيف دے، ليکن کور ته داخليدو په وخت کښې ذکر کولو سره د شيطان جدا کيدل د صحيح حديث نه ثابت دي- په روايت د مسلم کښے دي :
[إِذَا دَخَلَ الرَّجُلُ بَيْتَهٗ فَذَكَرَ اللهَ عِنْدَ دُخُوْلِهٖ وَعِنْدَ طَعَامِهٖ قَالَ الشَّيْطَانُ لَا مَبِيْتَ لَكُمْ وَلَا

عَشَاءَ وَإِذَا دَخَلَ فَلَمْ يَذْكُرِ اللَّهَ عِنْدَ دُخُولِهِ قَالَ الشَّيْطَانُ : أَدْرَكْتُمُ الْمَبِيتَ وَإِذَا لَمْ يَذْكُرِ اللَّهَ عِنْدَ طَعَامِهِ قَالَ : أَدْرَكْتُمُ الْمَبِيتَ وَالْعَشَاءَ] (مسلم : ٥٣٨١)

کله چه يو تن خپل کور ته ننوزي او د ننوتو او د طعام په وخت کښې د الله تعالىٰ ذکر وکړي نو شيطان (خپلو ملګروته) وائي : ستاسو دپاره د شپې تيره ولو ځاى او خوراك نشته، او کله چه ننوزي او د ننوتو په وخت د الله تعالىٰ ذکر ونکړي، شيطان وائي : تاسو د شپې ځاى وموندو، او کله چه د خوراك په وخت د الله تعالىٰ ذکر ونکړي نو ووائي : تاسو د شپې ځاى او خوراك وموندو) نو هرکله چه کور ته ننوتو وخت کښې ذکر مشروع دے نو دا ذکر کول ډير بهتر دي.

درجة الحديث : اسناده ضعيف : أخرجه ابو داود (٥٠٩٦) وفي إسناده محمد بن إسماعيل بن عياش وأبوه وفيهما مقال.

- 2445 (30) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ إِذَا رَفَّأَ الْإِنْسَانَ إِذَا تَزَوَّجَ قَالَ :" بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ وَبَارَكَ عَلَيْكُمَا وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِيْ خَيْرٍ " رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : نبي کريم ﷺ به چه کله يو انسان ته دعاء کوله کله چه به هغهٔ نکاح کړے وه نو داسې به ئې وئيل : بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ وَبَارَكَ عَلَيْكُمَا وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِيْ خَيْرٍ. يعنى الله تعالىٰ دِے تا له برکت درکړي او په تاسو دواړو کښې دِے برکت واچوي او ستاسو د دواړو ترمينځ دِے په خير سره جمع والے راولي. (احمدؒ، ترمذيؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ)

تشريح : رَفَّأَ الْإِنْسَانَ : د راء زبر او د فاء تشديد دے. دا د تَرْفِئَةٌ نه دے، واده کړي شخص ته مبارکي ورکولو ته وئيلے شي. يعنى کله چه به ئې مُتَزَوِّج ته دعاء کوله.

إِذَا تَزَوَّجَ : دا اذا محض ظرفيه ده. په معنىٰ د وقت سره ده. او اوله اذا شرطيه ده.

قَالَ : دا جزاء د اولے اذا ده. اَىْ إِذَا هَنَّأَهُ وَدَعَا لَهُ حِيْنَ تَزَوُّجِهِ قَالَ بَارَكَ اللّٰهُ الخ.

يعنى کله چه به ئې مبارکي ورکوله او دعا به ئې هغهٔ ته کوله په وخت د نکاح د هغهٔ کښې نو داسې به ئې وئيل : بارك الله الخ.

يعنى د عربو ددے وينا [بِالرِّفَاءِ وَالْبَنِيْن] په بدله كښ به ئے دغه دعاء ورته كوله۔ او دا كلمه به عربو په جاهليت كښ لوستله نو ددے نه منع وشوه۔
ددے مطلب دا دے : (تهٔ وادهٔ وكړه په جوړخ او ځامنو سره) يعنى ستاسو جوړخ دِے راشى او ستا اولاد دِے پيدا شى۔
عقيل بن ابى طالب ﷛ د بنى جشم نه يوه ښځه وكړه خلقو ورته ووئيل : [بِالرِّفَاءِ وَالْبَنِيْن] نو هغهٔ ووئيل : داسے مهٔ وايئ (رسول الله ﷺ مونږ ددے نه منع كړى يو) ليكن هغه څه وايئ چه رسول الله ﷺ به وئيل :

[اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ وَبَارِكْ عَلَيْهِمْ]

(صحيح ابن ماجه : ١٥٤٧) آداب الزفاف رقم (٣٥)

(يعنى اے الله ! دوئ ته بركت وركړه او په دوئ باندے خيرونه نازل كړه)۔
عَلَيْكُمَا : سنديؒ ليكى : بركت پدے وجه چه فائده وركونكے دے نو په لام سره متعدى كيږى، او پدے وجه چه د بره نه نازليدونكے دے نو په علىٰ سره متعدى كيږى نو حديث كښ دواړه الفاظ راغلل په طريقه د تاكيد او تفنن سره او دعاء محل د تاكيد دے۔
او بخارى او مسلم د عبد الرحمن بن عوف ﷛ په روايت كښے نقل كړيدى چه كله هغهٔ وادهٔ وكړو نو رسول الله ﷺ ورته صرف [بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ] الفاظ ووئيل۔ (بخارى : ٥١٥٥)
او دغه شان جابر بن عبد الله ﷛ چه كله رسول الله ﷺ ته د خپل وادهٔ خبر وركړو چه دهٔ وادهٔ كړيدے نو ورته ئے وفرمايل : [بَارَكَ اللّٰهُ عَلَيْكَ]۔ (صحيح بخارى ٦٣٨٧)
او امام بخاريؒ په روايت د عبد الرحمن بن عوف باندے داسے باب ايخودے دے (٥٧: بَابُ كَيْفَ يُدْعٰى لِلْمُتَزَوِّجِ) يعنى وادهٔ كړى ته به څنګه دعاء كولے شى۔
نو معلومه شوه چه وادهٔ كونكى ته د بركت دعاء پكار ده۔ او هيڅ شك نشته چه دا جامع لفظ دے هر مقصود پكښے داخليږى اولاد وغيره۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : أخرجه أحمد (٢/٣٨١) (٨٩٤٣) والدارمي (٢/١٣٤) وأبوداود (٢١٣٠) والترمذي (١٠٩١) وقال حسن صحيح وابن ماجه (١٩٠٥).

- 2446(31) وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : " إِذَا

تَـزَوَّجَ أَحَـدُكُـمُ امْـرَأَةً أَوِ اشْتَرٰى خَادِمًا فَلْيَقُلْ اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ خَيْرَهَا وَخَيْرَ مَا جَبَلْتَهَا عَـلَيْـهِ وَأَعُـوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ وَإِذَا اشْتَرٰى بَعِيْرًا فَلْيَأْخُذْ بِذِرْوَةِ سَنَامِهٖ وَلْيَقُلْ مِثْلَ ذٰلِكَ ". وَفِيْ رِوَايَةٍ فِي الْمَرْأَةِ وَالْخَادِمِ : " ثُمَّ لِيَأْخُذْ بِنَاصِيَتِهَا وَلْيَدْعُ بِالْبَرَكَةِ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَهْ

ترجمه : او جناب عمرو بن شعيب د خپل پلار نه او هغه د خپل نيكه نه هغه د نبى كريم ﷺ نه روايت كوى چه هغهٔ وفرمايل : كله چه يو تن ستاسو يوه ښځه وادهٔ كړى يا خادم واخلى نو داسے دِے ووائى : اللهم الخ يعنى اے الله ! زهٔ ستا نه ددے خيرے او د هغه څه خير غواړم چه تا پرے دا پيدا كړيدے او پناه غواړم په‌تا سره د شر ددے نه او د شر د هغه څه نه چه تا پرے دے پيدا كړيدے، او كله چه اُوښ واخلى نو د هغهٔ د قوب بره طرف دِے ونيسى او دغه شان دعاء دِے ووائى۔ او په يو روايت كښ د ښځے او د خادم په باره كښ دى : بيا دِے د هغے تندے ونيسى او د بركت دعاء دِے وكړى۔ (ابوداودؒ، ابن ماجهؒ)

تشريح : خَادِمًا : دا وينځے او غلام دواړو ته شامل دے۔ او تانيث د روستو ضمير په اعتبار د نسمه يا نفس سره دے۔

خَيْرَهَا : يعنى ددے د ذات خير۔

جَبَلْتَهَا عَلَيْهِ : يعنى تا چه په كومو اخلاقو سره دا پيدا كړيده۔

لِيَأْخُذْ بِنَاصِيَتِهَا : يعنى ددے تندى باندے دِے لاس كيږدى، برابره ده چه ويښته پرے وى او كه نهٔ۔ او دا دعا دِے ووائى۔ او بعض وائى : چه د تندى نه مراد مطلق سر دے۔

بِذِرْوَةِ سَنَامِهٖ : په ذال باندے زبر، زير او پيش درے واړه جائز دى، د قُوب بره طرف ته وائى۔ نو ددے حديث نه دا معلومه شوه چه دا سنت دى چه انسان د وادهٔ په شپه په ښځه باندے يا د حيوان يا د غلام او وينځے يا يو بل شى اخستو په وخت كښے دا دعاء ووائى۔

او په روايت د ابن ماجه، ابن السنىؒ او حاكم كښ ورسره (دَابَّةً) هم راغلے ده۔ يعنى د يو حيوان اخستو په وخت كښے۔

او په يو بل روايت د ابوداود كښ دى : [ثُمَّ لِيَأْخُذْ بِنَاصِيَتِهَا وَلْيَدْعُ بِالْبَرَكَةِ فِي الْمَرْأَةِ وَالْخَادِمِ] يعنى ددے تندے دِے ونيسى او د ښځے او د خادم په صورت كښ دِے د بركت

دعاء وکړي. ليکن مخکني روايت کښې ورسره (دابّه) هم ذکر ده نو هغے کښې هم دغه دعاء او بيا د برکت دعاء کولے شي.

درجة الحديث : إسناده حسن : أخرجه البخاري فى خلق افعال العباد ص (٤٠) وأبوداود (٢١٦٠) والنسائى فى عمل اليوم والليلة (٢٦٣) وابن ماجه (١٩١٨) والحاكم (٢/١٨٥) (حديث صحيح).

- 2447(32) وَعَنْ أَبِىْ بَكْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:" دَعَوَاتُ الْمَكْرُوْبِ : اَللّٰهُمَّ رَحْمَتَكَ أَرْجُوْ فَلَا تَكِلْنِيْ إِلٰى نَفْسِىْ طَرْفَةَ عَيْنٍ وَأَصْلِحْ لِىْ شَأْنِىْ كُلَّهٗ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او جناب ابوبکره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : د غمزده (مصيبت زده) انسان دعاګانے دا دی : اللهم رحمتك ارجو الخ يعني اے الله ! زۀ ستا د رحمت اُميد ساتم نو ما خپل نفس ته د سترګے د رپ په اندازه هم مۀ سپاره او ما لره زما ټول حالت برابر کړه، نشته حقدار د بندګئ سِوئ ستا نه. (ابوداوّد)

تشريح : اَلْمَكْرُوْبِ : هغه انسان چه په کرب يعني غم او پريشانئ کښے اخته شوے وی. او د دعوات نه مراد هغه دعاګانے دی چه دۀ ته فائده ورکوی، او دده پريشاني ختموی، او دے ته ئے دعوات (د جمع په صيغه سره) وويل ځکه چه دے کښے دا دعاء په ډيرو جامعو معانيو باندے مشتمله ده.

رَحْمَتَكَ أَرْجُوْ : يعني په ما باندے رحم وکړه. دا يوه دعاء شوه. او رحمتك ئے مقدم کړو. يعني زۀ صرف او صرف ستا د رحمت اميد ساتم، نۀ د بل چا.

فَلَا تَكِلْنِيْ : يعني ما خپل ځان ته مۀ سپاره او مۀ مے پريده، ځکه چه دا زما ډير لوی دشمن دے، او دا زما د حوائجو پوره کولو نه عاجز دے.

وَأَصْلِحْ لِىْ شَأْنِىْ كُلَّهٗ : او زما ټول کارونه برابر کړه نو دا په بيشماره خيزونو باندے مشتمل دعاء ده. شأن : کار، امر، حالت ته وائي.

لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ : مناویؒ وائي : پدے سره ئے دعاء ختمه کړه، اشاره ده چه دعاء مصيبت زده انسان ته هله فائده ورکوی او دده غم ختموی کله چه په حضور او توجه سره وی، او

ځوك چه د توحيد گواهي وركړي سره د جمع كولو د همت نه او د توجه د زړه نه نو دے لائق دے چه غم ئے په دنيا كښے ختم شي او رحمت پرے وشي او په آخرت كښے اُوچت درجات وركړے شي۔

درجة الحديث : إسناده حسن : أخرجه احمد (٢٠٤٤٧) (٤٢١/٥) والبخاري في الأدب المفرد (٧٠٢) وأبوداود (٥٠٩٠) وغيرهم.

- 2448(33) وَعَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ ﷺ قَالَ : قَالَ رَجُلٌ : هُمُومٌ لَزِمَتْنِي وَدُيُوْنٌ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ : " أَفَلَا أُعَلِّمُكَ كَلَامًا إِذَا قُلْتَهُ أَذْهَبَ اللهُ هَمَّكَ وَقَضٰى عَنْكَ دَيْنَكَ ؟ " قَالَ: قُلْتُ :بَلٰى قَالَ :" قُلْ إِذَا أَصْبَحْتَ وَإِذَا أَمْسَيْتَ :اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحُزْنِ وَأَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ وَقَهْرِ الرِّجَالِ . "قَالَ : فَفَعَلْتُ ذٰلِكَ فَأَذْهَبَ اللهُ هَمِّي وَقَضٰى عَنِّي دَيْنِي . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

ترجمه : او جناب ابوسعيد خدري ﷺ فرمائي : يو سړي ووئيل : اے د الله رسوله ! غمونه او قرضونه ما سره پيوسته شويدي۔ هغۀ وفرمايل : آيا نو زۀ تا ته داسے كلام نۀ ښايم چه كله تۀ هغه ووائے نو الله تعالىٰ به ستا نه غم ختم كړي او قرض به درنه اداء كړي؟ هغۀ وائي : ما ووئيل : ولے نۀ، وے فرمايل : كله چه تۀ صبا كړے او كله چه بيگاه كړے نو داسے وايه : اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحُزْنِ وَأَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَاَعُوْذُ بِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ وَقَهْرِ الرِّجَالِ۔ ترجمه : اے الله ! زۀ په تا پورے پناه غواړم د پريشانئ او غم نه او په تا پورے پناه غواړم د عاجزئ او سستئ نه، او په تا پورے پناه غواړم د بزدلئ او كنجوسئ نه، او په تا پورے پناه غواړم د قرض د غلبے نه، او د سړو د غالبه كيدو نه۔ هغه وائي : نو ما داسے كار وكړو نو الله تعالىٰ زما پريشاني ختمه كړه او زما قرض ئے ادا كړو۔ (ابوداودؒ)

تشريح : قَالَ رَجُلٌ : د حديث اول داسے دے : چه ابوسعيد خدري ﷺ فرمائي : يوه ورځ رسول الله ﷺ مسجد ته داخل شو نو د انصارو د يو سړي سره ملاؤ شو چه هغۀ ته ئے ابوامامه وئيلو، نو وے فرمايل : اے ابو امامه ! څه وجه ده چه زۀ تا په مسجد كښے

د مانځه د وخت نه په غير ناست وينم۔ هغهٔ ووئيل :
هُمُوْمٌ۔ نو دلته خبر د مبتداء محذوف دے۔ اَیْ سَبَبُ جُلُوْسِیْ فِی الْمَسْجِدِ فِیْ غَيْرِ وَقْتِ الصَّلَاةِ هُمُوْمٌ وَدُيُوْنٌ۔
يعنى د مانځه د وخت نه په غير په مسجد كښے زما د ناستے سبب غمونه او قرضونه دى، چه زهٔ خپل رب ته د هغهٔ په كور كښے التجاء او زارى كوم۔
هُمُوْمٌ : جمع د هَمٌّ ده، غمونه، سوچونه او فكرونه دى۔
لَزِمَتْنِیْ : دا صفت د هُموم دے، او خبر ئے نهٔ دے۔ او دا دواړه د «شَرٌّ اَهَرَّ ذَا نَابٍ » په شان مبتداء او خبر جوړول غوره نهٔ دى لكه چه طيبیؒ جوړ كړيدى، او په نا غوره كيدوئے مخكښے واقعه دليل ده۔
قُلْتُ : ظاهر دا ده چه (قَالَ) لفظ ووائى ځكه چه ابو سعيد ﷺ دا قصه ددے سرى نه نهٔ نقل كوى بلكه خپله ئے حالت ليدلے دے۔ يا كيدے شى چه دغه شخص ورته قصه بيان كړى وى چه ما رسول الله ﷺ ته داسے ووئيل۔ او همدا خبره د روستو [قَالَ : فَفَعَلْتُ] لفظ نه صراحةً معلوميږى۔

د هم او حزن فرقونه

الهم والحزن : هَمّ موجوده غم او پريشانى ده، او حُزن په تير شوى زمانه باندے وى۔
Oيا هَمّ د آينده زمانے فكرونه وى، او حزن په تيره شوے زمانه كښے راغلى مصيبتونو باندے وى، يا په فوت شوى څيز باندے وى۔
Oيا هَمّ هغه ذهنى پريشانى ده چه د يو ضررى شى د رايادولو په وجه پيدا كيږى د كوم چه په آينده كښے توقع كيږى۔ او غم هغے ته وائى چه زړهٔ ته د حاصل شوى څيز په وجه راپيدا كيږى۔ او حزن هغه خفگان ته وائى چه د يو محبوب شى د ورك كيدو په وجه حاصليږى چه د هغے ورك كيدل په بنده باندے گران تماميږى۔ (ميركؒ)
O يا هَمّ هغه خفگان دے چه جسم ويلى كوى نو دا اَبْلَغ دے د حُزن نه ځكه چه حزن كښے معنىٰ د خشونت (زيږوالى/ سختئ) ده۔
حافظ ابن القيمؒ داسے فرق كوى : په زړهٔ باندے چه كوم ناكاره (ناگواره) حالت راځى كه هغه په تير شوى څيز باندے وى نو دا حزن پيدا كوى، او كه د مستقبل زمانے وى نو هَمّ

راپیدا کوي او که حاضر ځیز په وجه وي نو غم راپیدا کوي. (الفوائد لابن القيّم)

الْعَجْزِ : د عین زبر او د جیم سکون دے. د قدرت ضد دے. دلته ترے مراد د قدرت ختمیدل دي په ادا کولو د طاعت او عبادت، او په دفع کولو د فساد او برداشت کولو د مصیبت او تکلیف.

وَالْكَسَلِ : یعنی سستي د طاعاتو نه اګرکه په هغے باندے قادره وي. او خپل نفس د خیر دپاره نهٔ راپورته کول او په خیر کښے رغبت (مینه) نهٔ لرل، سره د وجود د قدرت نه په هغے باندے.

الْجُبْنِ : (بزدلي) یعنی د قتال په وخت کښے یره، او دارنګه د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په وخت جرأت نهٔ کول. بعض وائي : جبن د زړهٔ کمزوري ده چه ددے په سبب د یرے په کارونو باندے اقدام نشي کولے.

غَلَبَةِ الدَّيْنِ : یعنی قرضونه دومره زیات شي چه په انسان باندے غالبه شي، او هغه ترے لاندے راشي. او په بل روایت کښ [وَضَلَعِ الدَّيْنِ] راغلے دے، یعنی د قرض درون کیدل چه انسان د نیغ والي نه کوږ کړي.

وَقَهْرِ الرِّجَالِ : یعنی چه ظالمان راباندے مسلط شي په ناحقه سره او مال رانه قبضه کړي، یا راسره جنګ جګړے او شر شرابه شروع کړي.

یا اضافت د مصدر دے مفعول ته. یعنی چه زهٔ په خلقو ظالم شم. نو پدے کښے پناهي طلب شویده د ظالمانه جاه او مرتبے نه او د سپکونکي ذلت نه.

او د قرض او غمونو او پریشاني د ختمولو دپاره ذا دعا ډیره مجربه نسخه ده.

درجة الحديث : اسناده حسن : أخرجه أبوداود (١٥٥٥) وقال ايمن صالح شعبان اسناده حسن (تعليق جامع الاصول)، وضعفه الالباني وقال فيه غسان بن عوف وهو لين الحديث وقال المنذري في الترغيب والترهيب (٣/٥٥) : لا ينزل عن درجة الحسن وقد يكون على شرط الشيخين أو أحدهما) وَيُؤَيِّدُهُ أَوَّلُ حَدِيثِ الْبَابِ الآتِيُ الْمُتَّفَق عليه.

- 2449 (34) وَعَنْ عَلِيٍّ ﷺ: أَنَّهُ جَاءَهُ مُكَاتَبٌ فَقَالَ : إِنِّي عَجِزْتُ عَنْ كِتَابَتِي فَأَعِنِّي قَالَ :أَلا أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ عَلَّمَنِيهِنَّ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَوْ كَانَ عَلَيْكَ مِثْلُ جَبَلٍ كَبِيرٍ دَيْنًا أَدَّاهُ اللهُ عَنْكَ . قُلْ : " اَللّٰهُمَّ اكْفِنِي بِحَلَالِكَ عَنْ حَرَامِكَ وَأَغْنِنِي بِفَضْلِكَ عَمَّنْ

سِوَاكَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعْوَاتِ الْكَبِيْرِ
وَسَنَذْكُرُ حَدِيْثَ جَابِرٍ :" إِذَا سَمِعْتُمْ نُبَاحَ الْكِلَابِ " فِيْ بَابِ "تَغْطِيَةِ الْأَوَانِيْ " إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى

ترجمه : او جناب علي ﷺ نه روايت دے چه هغهٔ ته يو مكاتب راغلو نو عرض ئے وكړو چه زهٔ د خپل كتابت د بدل نه عاجز شوے يم نو ما سره مدد وكړه، هغه (ورته) ووېل : آيا زهٔ تا ته داسې كلمات ونهٔ ښايم چه ما ته رسول الله ﷺ راخودلې دي، كه چرے په تا باندے د لوى غر په شان قرض وى، نو الله تعالىٰ به ئے ستا نه اداء كړي، داسے وايه : اَللّٰهُمَّ اكْفِنِيْ بِحَلَالِكَ عَنْ حَرَامِكَ وَأَغْنِنِيْ بِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ ـ (اے الله ! تهٔ د حرامو نه زما دپاره په خپل حلال سره كافي شه او په خپل فضل سره ما بے پروا كړه د هغه چا نه چه ستا نه سوىٰ دي. (ترمذيؒ او بيهقيؒ په دعواتِ كبير كښے روايت كړيدے).
او زر دے چه مونږ به حديث د جابر اذا سمعتم نباح الكلاب په باب تغطية الأواني كښ ذكر كړو ان شاء الله تعالى. (ځكه چه د هغه ځاى سره ډير مناسب دے)

تشريح : مُكَاتَبٌ : يعني د بل چا مكاتب راغے. مكاتب هغه غلام ته وائى چه مالك ورته وئيلي وى چه دومره دومره مال راوړه تهٔ به آزاد ئے.
عَنْ كِتَابَتِيْ : اَىْ عَنْ بَدَلِ كِتَابَتِيْ . يعني د بدل د كتابت نه. او كتابت هغه مال دے چه غلام د خپل مالك سره د هغے ليكل كړى وى چه كه دا ادا كړم نو زهٔ به آزاد يم. نو دلته ترے مراد دا دے چه د كتابت د مال د ادا كولو وخت رارسيدلے دے او ما سره مال نشته.
او بعض د كتابت معنىٰ دا كوى :
[هِيَ تَحْرِيْرُ الْمَمْلُوْكِ يَدًا (اَىْ تَصَرُّفًا فِي الْبَيْعِ وَالشِّرَاءِ) وَرَقَبَةً مَآلًا (اَىْ عِنْدَ اَدَاءِ الْبَدَلِ)]
يعني غلام ته په بيع شراء كښ آزادى وركول او د هغهٔ څټ آزادول كله چه خاص بدل ادا كړى. (مرعاة)
بعض داسے معنىٰ كوى : [هِيَ تَحْرِيْرُ الْمَمْلُوْكِ يَدًا فِي الْحَالِ وَرَقَبَةً فِي الْمَآلِ] (عمدة القاري) في الحال غلام ته آزادى وركول د تصرف په اعتبار سره مگر ترڅو چه ئے مال نهٔ وى ادا كړے نو په انجام كښے به غلام وى). كله ئے چه مال ادا كړو نو پوره به آزاد شي.
فَأَعِنِّيْ : يعني ما سره په مال سره مدد وكړه. يا په دعاء كولو سره د فراخئ د مال.
أَلَا أُعَلِّمُكَ : طيبيؒ ليكي : مكاتب مال غوښتے وو نو هغهٔ ورته دعاء وخودله، يا خو

پدے وجه چه د هغهٔ سره مال نهٔ وو چه ددهٔ مدد پرے وکړی نو په ښائسته طريقه سره ئے هغه رد کړو دپاره د عمل کولو پدے آيت ﴿قَوْلٌ مَعْرُوفٌ وَمَغْفِرَةٌ خَيْرٌ مِنْ صَدَقَةٍ﴾ ـ (بقره: ٢٦٣)، يا ئے ورته ارشاد وکړو پدے کښے اشاره وه چه ددهٔ دپاره غوره او فائده منه دا ده چه د الله تعالیٰ نه د هغے د ادا کولو مدد وغواړی، او په بل چا باندے توکل ونکړی، او ددے احتمال تائيد د روستو الفاظو (وَأَغْنِنِي بِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ) نه کيږی۔

جَبَلٍ كَبِيرٍ: په روايت د ترمذی کښے (جبل صِيْرٍ) دے، او دا د طيء قبيلے په علاقو کښے يو غر دے۔ او په جامع الاصول کښں (صَبِيْر) لفظ دے او دا په يمن کښے يو غر دے۔

دَيْنًا: دا منصوب دے، ځکه چه تمييز دے د اسم د كان نه چه هغه (مثل) لفظ دے۔

وَأَغْنِنِي بِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ: اَیْ قِنِیْ وَاحْفَظْنِیْ بِالْحَلَالِ عَنِ الْوُقُوْعِ فِی الْحَرَامِ۔

يعنی ما وساته او زما حفاظت وکړه په حلالو سره د واقع کيدو نه په حرامو کښے۔

وَأَغْنِنِي: دا د اغناء نه دے، مالداره کول او بے حاجته کول۔

څوك چه دا دعاء په رشتينی زړهٔ سره ووائی نو د قبول والی اثر به ضرور ومومی۔

وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ جَابِرٍ: هغه حديث په مصابيح کښے داسے راغلے دے:

[اِذَا سَمِعْتُمْ نُبَاحَ الْكِلَابِ وَنَهِيْقَ الْحِمَارِ بِاللَّيْلِ فَتَعَوَّذُوْا بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ فَاِنَّهُنَّ، (اَیْ الْكِلَابُ وَالْحَمِيْرُ) يَرَيْنَ مَا لَا تَرَوْنَ]۔

يعنی كله چه تاسو د شپے د سپو غپارے او د خرهٔ رمبارے واورئ نو په الله تعالیٰ پورے د شيطان نه پناهی طلب کړئ ځکه چه دوئ هغه څه وينی چه تاسو ئے نهٔ وينئ۔ (يعنی شيطانان)

تَغْطِيَةِ الْأَوَانِي: دا حديث د هغه مقام سره مناسب دے ځکه چه روستو الفاظ او جملے ئے ددے باب سره نهٔ لگيږی نو هلته به ئے ذکر کړی۔

درجة الحديث: اسناده حسن: أخرجه أحمد (١٥٣/١) والترمذی (٣٥٦٣) واللفظ له والحاكم (٥٣٨/١) وقال صحيح الاسناد وحسنه الالبانی).

الفصل الثالث

- 2450(35) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ كَانَ إِذَا جَلَسَ مَجْلِسًا أَوْ صَلَّى تَكَلَّمَ بِكَلِمَاتٍ فَسَأَلْتُهُ عَنِ الْكَلِمَاتِ فَقَالَ: " إِنْ تَكَلَّمَ بِخَيْرٍ كَانَ طَابِعًا

عَلَيْهِنَّ إِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَإِنْ تَكَلَّمَ بِشَرٍّ كَانَ كَفَّارَةً لَهُ : سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ ". رَوَاهُ النَّسَائِيُّ

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائي : رسول الله ﷺ به چه کله يو مجلس کښې کيناستو يا به ئې مونځ وکړو نو (روستو به ئې) څه کلمات لوستل نو ما ترې د هغه کلماتو په باره کښې تپوس وکړو (چه دا ولې وائې؟) نو ورته فرمايل : که (يو بنده) د خير خبرې کړې وي، نو دا به په هغې باندې تر قيامته پورې مهر وهونکې شي او که د ضرر خبرې ئې کړې وي نو دا به کفاره شي د هغۀ دپاره. (هغه کلمات دا دي) سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ لَا إِلٰـــهَ إِلَّا أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ . (اے الله ! تا لره پاکي ده، او ستا دپاره صفتونه د کمال دي، نشته حقدار د بندګئ سِویٰ ستا نه، ستا نه بخنه غواړم او تا ته توبه وباسم). (نسائیؒ)

تشريح : أَوْ صَلّٰى : يعني يا به ئې يو مونځ وکړو.

تَكَلَّمَ بِكَلِمَاتٍ : يعني څه کلمات ئې ولوستل د سلام ګرزولو نه روستو او کله چه به د مجلس نه پاڅيدو اراده وکړه.

عَنِ الْكَلِمَاتِ: يعني ددې کلماتو فائده مې ترې وتپوسله.

تَكَلَّمَ بِخَيْرٍ : صيغه مجهول ده. يعني که خبرې پکښې شوي وي. او په بله نسخه کښې د معلوم صيغه هم راغلې ده. يعني که يو تن پکښې د خير خبرې کړې وي.

كَانَ طَابِعًا عَلَيْهِنَّ : كَانَ کښې ضمير دغه ذکر او مخکنو کلماتو ته راجع دې، او عَلَيْهِنَّ ضمير کلماتو د خير ته راجع دې. ځکه چه غالباً د خير کلمات ډير وي. نو ضمير د جمع ئې ورته ځکه راجع کړو.

او پدې کښې ترغيب دې چه د خير خبرې ډيرې پکار دي او د شر خبرې کمې. او مطلب دا دې چه دا ذکر به دغه د خير کلمات مقام د قبوليت ته پورته کړي او د رد کولو نه به ئې په امن کښې کړي. (سنديؒ)

بِشَرٍّ : يعني د ګناه خبرې.

نو په هر مجلس کښې دا ذکر لوستل انتهائي ضروري دي، که څوک د خير طلبګار او د مغفرت خوښونکې وي. او پدې کښې اشاره ده چه ددې انسان خاتمه به په خير سره

کیږي۔
سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ : دا په ترکیب کښې اسم د کَانَ طَابِعًا دے۔
درجة الحديث : اسناده صحيح : أخرجه النسائى (١٣٤٤) وأحمد (٦/٧٧) وشعب الايمان (٦٢٠) والطبرانى (٢/١٥٨٦) والحاكم (١/٥٣٧) من حديث جبير بن مطعم (راجع الصحيحة ٨١) .

2451 (36) وَعَنْ قَتَادَةَ رَحِمَهُ اللهُ: بَلَغَهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ إِذَا رَأَى الْهِلَالَ قَالَ :" هِلَالُ خَيْرٍ وَرُشْدٍ، هِلَالُ خَيْرٍ وَرُشْدٍ، هِلَالُ خَيْرٍ وَرُشْدٍ، آمَنْتُ بِالَّذِىْ خَلَقَكَ" ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ يَقُوْلُ : "اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ ذَهَبَ بِشَهْرِ كَذَا وَجَاءَ بِشَهْرِ كَذَا ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ

ترجمه : او جناب قتاده رحمه الله ته رسیدلی دی چه رسول الله ﷺ به کله میاشت ولیدله (نو داسے) به ئے دریے کرته فرمایل : هلال خیر ورشد الخ یعنی دا سپوږمۍ د خیر او د نیکۍ (فائدو) وګرځوه، دا سپوږمۍ د خیر او د نیکۍ (هدایت وګرځوه)۔ ما ایمان راوړے په هغه ذات چه ته ئے پیدا کړے ئے۔ بیا به ئے وئیل : الحمد لله الذى ذهب بشهر كذا وجاء بشهر كذا۔ حمدونه دی الله تعالىٰ لره چه فلانۍ میاشت ئے بوتله او فلانۍ میاشت ئے راوسته۔ (ابوداودؒ)

تشریح : د قتاده نوم : قتاده بن دِعَامه السَّدُوْسِی جلیل القدر تابعی دے۔ او دا حدیث مرسل دے او مرسل د اقسامو د ضعیف نه دے۔
هِلَالُ خَيْرٍ : دا خبر د مبتداء محذوف دے، یعنی [هٰذَا یا هُوَ هِلَالُ خَيْرٍ] یعنی دا یا هغه د خیر او برکت میاشت ده۔ یا دا منصوب دے۔ په پټ فعل سره۔ اَىْ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا۔ یعنی اے الله! دا زمونږ دپاره د خیر میاشت جوړه کړه۔ یعنی چه په رزق کښے برکتونه راشي۔
وَرُشْدٍ : یعنی هدایت چه مونږ پکښے د الله بندګیانو ته راپاخیږو۔
آمَنْتُ بِالَّذِىْ خَلَقَكَ : پدے کښے رد دے په هغه چا چه د سپوږمۍ عبادت کوی۔
بِشَهْرِ كَذَا : یعنی یوه میاشت ئے په خیر او سلامتیا سره ختمه کړه او بله ئے راوسته نو پدے کښے د عمر په اوږدوالی او د صحت او عافیت نعمت باندے شکر کول دی۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : أخرجه أبو داود (٥٠٩٢) والبغوي في شرح السنة (١٢٩/٥) وقال أبو داود .(ليس من النبي ﷺ في هذا الباب حديث مسند صحيح وقال في مراسيله كما في التحفة (١٩٢٢٤/١٣) روى متصلا ولا يصح.

- 2452(37) وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ : " مَنْ كَثُرَ هَمُّهٗ فَلْيَقُلْ :اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ عَبْدُكَ وَابْنُ عَبْدِكَ وَابْنُ أَمَتِكَ وَفِيْ قَبْضَتِكَ نَاصِيَتِيْ بِيَدِكَ مَاضٍ فِيَّ حُكْمُكَ، عَدْلٌ فِيَّ قَضَاؤُكَ، أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ سَمَّيْتَ بِهٖ نَفْسَكَ أَوْ أَنْزَلْتَهٗ فِيْ كِتَابِكَ أَوْ عَلَّمْتَهٗ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ أَوْ أَلْهَمْتَ عِبَادَكَ أَوِ اسْتَأْثَرْتَ بِهٖ فِيْ مَكْنُوْنِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ أَنْ تَجْعَلَ الْقُرْآنَ رَبِيْعَ قَلْبِيْ وَجَلَاءَ هَمِّيْ وَغَمِّيْ. مَا قَالَهَا عَبْدٌ قَطُّ إِلَّا أَذْهَبَ اللهُ غَمَّهٗ وَأَبْدَلَهٗ فَرَجًا ". رَوَاهُ رَزِيْنٌ.

ترجمه : او د جناب عبد الله بن مسعود ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : د چا غمونه چه زیات وی نو ذاسے دِے ووائی : اللهم انی عبدك وابن عبدك الخ ترجمه : اے الله ! زهٔ ستا بنده یم او ستا د بنده څوی یم، او ستا د وینځے څوی یم، او ستا په قبضه کښے یم، زما تندے ستا په لاس کښے دے، په ما کښے ستا حکم جاری (نافذ) دے، په ما کښے ستا فیصله د عدل ده، زهٔ ستا نه په هر نوم سره سوال کوم چه هغه ستا دپاره وی، تا په هغے سره د خپل ځان نوم ایخودے وی، یا تا هغه په خپل کتاب کښے نازل کړے وی، یا دِے د خپل مخلوق نه یو تن ته خودلے وی، یا دِے خپلو بندګانو ته په زړهٔ کښے اچولے وی، یا دِے د خپل ځان سره په پټو غیبو کښے هغه غوره کړے وی، چه تهٔ قرآن کریم زما د زړهٔ سپرلے او زما د پریشانئ او غم لرے کیدل وګرځوه. هیچرے یو بنده دا نهٔ ده وئیلے مګر الله تعالیٰ د هغهٔ غم ختم کړے او په بدل کښے ئے ورته کشادګی ورکړیده. (رزینؒ)

تشریح: په روایت د احمدؒ کښے داسے الفاظ دی : [مَا اَصَابَ اَحَدًا قَطُّ هَمٌّ وَلَا حُزْنٌ فَقَالَ اَللّٰهُمَّ] - یعنی هیڅ یو تن ته هیڅکله یو غم او خفګان نهٔ دے رسیدلے پس چه داسے ووائی۔

وَفِيْ قَبْضَتِكَ : قبضه د قاف په زبر سره د قبض نه دے، یعنی ستا په تصرف کښے یم او ستا د فیصلے او تقدیر لاندے یم۔ او پدے کښے اقرار دے په ربوبیت باندے او مخکښے

اقرار وو په عبوديت باندے۔
نَاصِيَتِيُ بِيَدِكَ : زما تندے ستا په لاس كښے دے، يعنى ته په ما باندے پوره قادريے۔
مَاضٍ فِيَّ : يعنى جارى او نافذ او ثابت ده زما په باره كښے ستا فيصله۔ يعنى ستا د فيصلے څوك واپس كونكے نشته۔ حكم نه مراد حكم كوني دے، يعنى مړ كول او ژوندى كول او وركول او منع كول۔ او حكم تشريعى هم صحيح ده، يعنى تا اوامر په ما كښے نافذ دى، مؤمن د دواړو حكمونو لاندے دے، برابره ده چه دے ئے غواړى او كه نۀ؟ البته د حكم كونى مخالفت ممكن نۀ دے او هرچه حكم شرعى دے نو بنده كله د هغے خلاف كوى۔
عَدُلٌ فِيَّ قَضَاؤُكَ : يعنى انصاف والا ده زما په باره كښے فيصله ستا ځكه چه دا ستا په ملكيت كښے تصرف دے او ستا د حكمت موافق دے۔
او پدے كښے رد دے په قدريه ؤ باندے چه د بندگانو كارونه د الله په قضاء او تقدير سره كيدل نۀ منى۔
سَمَّيُتَ بِهٖ نَفُسَكَ : يعنى تا چه كوم نوم او صفت ځان ته ايخودے وى۔ او دا اجمال دے او روستو ئے تفصيل دے۔
فِيُ كِتَابِكَ : دے نه جنس مُنَزَّل كتابونه مراد دى۔
أَوُ عَلَّمُتَهٗ أَحَدًا مِنُ خَلُقِكَ : يعنى تا د خالصو بندگانو نه يو تن ته خودلے وى چه هغه انبياء او رسولان عليهم الصلوات والتسليمات الدائمات دى۔
أَوِ اسُتَأُثَرُتَ بِهٖ : اَىُ اِخُتَرُتَهٗ وَتَفَرَّدُتَّ بِهٖ۔ يعنى تا غوره كړے وى او ځان دپاره دِے يواځے كړے وى۔
مَكُنُونِ الُغَيُبِ : يعنى پټ غيب۔ او په روايت د احمدؒ او ابن السنىؒ او حاكمؒ كښے (عِلُمِ الُغَيُبِ) لفظ ذكر دے۔
عِنُدَكَ : يعنى هيڅ مخلوق ته دِے نۀ وى خودلے۔
دا حديث دليل دے چه د الله تعالىٰ نومونه او صفتونه په (٩٩) نهه نوى كښے بند او راګير نۀ دى بلكه د الله تعالىٰ ډير زيات نومونه دى۔ او پدے حديث كښے د الله تعالىٰ په نومونو باندے وسيله نيول ذكر شويدى،
او دا درے قسمه خودلے شويدى، يو هغه دى چه الله تعالىٰ خپل ځان دپاره ايخودى دى

او بندګانو د هغې نه څه حصه پیژندلې ده، او څه ئې نۀ ده پیژندلې،
او دویم هغه دی چه الله تعالیٰ په خپل کتاب کښې نازل کړې وی،
او دریم هغه دی چه الله تعالیٰ په علم الغیب کښې ځان سره پټ ساتلی دی نو هیڅ مقرب ملائك او نبی مرسل ته ئې د هغې اطلاع نۀ ده ورکړې۔
او الله تعالیٰ ته په دعاء کښې د هغۀ نومونه وسیله کول د ټولو نه لویه وسیله ده، او الله تعالیٰ ته ډیره محبوبه ده، او مقصد حاصلیدو ته زیاته نزدې ده۔
أَنْ تَجْعَلَ : دا د (اَسْأَلُكَ) مفعول دې۔
رَبِيعَ قَلْبِي : د قرآن تشبیه ئې د سپرلی زمانې سره ورکړه چه د الله تعالیٰ د رحمت آثار پکښې رابښکاره کیږی او زړۀ پرې ژوندې کیږی، او خوشحالیږی او راحت حاصلوی۔
یعنی زما زړۀ په قرآن باندې تازه کړه او په هغې کښې ئې وځروه چه پدې کښې تدبر کوی او ددې د تلاوت سره شوق او مینه لری، او پدې باندې خوشحالیږی۔ او ددې په ونو او میوو کښې - چه هغه علمونه او معارف او قِسم قسم حکمتونه او لطائف دی - وځروه۔
او په روایت د احمد کښې ورسره (وَنُوْرَ صَدْرِيْ) الفاظ زیات دی، یعنی زما د سینې رڼړا ئې وګرځوه چه ددې په وجه د حق او د باطل تمییز وکړې شم۔
شوکانیؒ وائی : یعنی قرآن زما د بصیرت رڼړا کونکے وګرزوه۔
فائده : ربیع باران ته هم وائی، او پدې سره تازګی او ژوند حاصلیږی او دغه شان رڼړا حاصلیږی، او قرآن کریم باندې هم دغه شان حیات او نور دواړه حاصلیږی۔
بیا هرکله چه سینه زړۀ نه زیاته فراخه وی نو کومه رڼړا چه هغې ته حاصله شی هغه زړۀ ته هم ورځی، او هرکله چه د ټول بدن او اندامونو ژوند د زړۀ په ژوند بناء دے نو د زړۀ نه ژوند سینې ته بیا نورو اندامونو ته نقل کیږی نو ځکه ئې د هغې دپاره ژوند په ربیع (باران) سره وغوښتو چه دا ماده د ژوند ده۔
او هرکله چه حزن او هم او غم د زړۀ د ژوند او د هغې د رڼرائی مخالف دې نو وې غوښتل چه د هغې ختمیدل په قرآن سره وشی ځکه چه دا به ډیر لائق وی چه بیرته راواپس نشی، او کله چه هغه د قرآن نه سوئ په بل شی سره ختم شی لکه صحت، یا دنیا، یا جاه یا زوجه یا اولاد نو هغه د دغه څیزونو په ختمیدو سره بیا راواپس کیږی۔
(الفوائد لابن القیمؒ ١/٢٦)

وَجَلَاءَ : د جيم په زير سره، يعني لرے کول د غم او پريشاني. يا صفائي د غم الخ.
په روايت د احمدؒ، حاکمؒ، ابن حبانؒ او ابن سنيؒ کښې دي : صحابه کرامؓ عرض وکړو :
[يَا رَسُولَ اللّٰهِ ! يَنبَغِي لَنَا أَنْ نَتَعَلَّمَ هٰؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ؟ قَالَ : أَجَلْ يَنبَغِي لِمَنْ سَمِعَهُنَّ أَنْ يَتَعَلَّمَهُنَّ]
اے د الله رسوله ! مونږ لره پکار دي چه دا کلمات زده کړو. وے فرمايل : آؤ هر هغه څوك چه دا واوري هغۀ لره پکار دي چه دا زده کړي.
او حافظ ابن القيمؒ په شفاء العليل ص (٢٧٨/٢٧٤) او دغه شان په «الفوائد» کښې ددے حديث زياته تشريح او پدے کښې فوائد او قواعد بيان کړيدي هغے ته رجوع پکار ده.
درجة الحديث : اسناده صحيح : أخرجه أحمد (١/٣٩١، ٤٥٢) وابن حبان (٣/٩٧٢) والطبراني في الكبير (١٠٣٥٢) والحاكم (١/٥٠٩) وقال صحيح على شرط مسلم ان سلم من إرسال عبد الرحمن بن عبد الله عن أبيه اهـ، وقد سلم منه فقد جزم غير واحد من أهل العلم بسماعه منه كالثوري وابن معين والبخاري وله شواهد ذكرها الحافظ في شرح الأذكار (١٣/١٢/٤) وحسّنه، والألباني في الصحيحة (١٩٩).

- 2453(38) وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ : كُنَّا إِذَا صَعِدْنَا كَبَّرْنَا وَإِذَا نَزَلْنَا سَبَّحْنَا . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : او جناب جابر ﷺ فرمائي : مونږ به چه کله پورته ختلو نو الله اکبر به مو وئيلو او کله چه به خکته کيدو نو سبحان الله به مو وئيله. (بخاريؒ)
تشريح : كُنَّا : يعني مونږ به په سفر کښے وو. مګر سفر حالت پورے تخصيص نشته، دا ذکر په هر خکته پورته کيدو پکار دے، خو چونکه سفر کښے لوړے ژورے زياتے راځي نو هلته خصوصي لوستلے کيږي.
إِذَا صَعِدْنَا : يعني کله چه به مونږ په اُوچت ځاې ختلو لکه غر، او ديره کئ.
كَبَّرْنَا : مونږ به الله اکبر وئيلو، دپاره د ښکاره کولو د کبرياء او لوئي د الله تعالیٰ.
او کله چه به کوزيدو نو سبحان الله به مو وئيله. په وخت د کوزيدو کښے سبحان الله ځکه ذکر شوه چه کوزيدو کښے تنګ والي ته اشاره وي،
او په سبحان الله سره د تنګئ او سختئ نه نجات ملاويږي لکه يونس ﷺ په د ماهي

په خيته کښې تسبيحات وئيل نو د غم نه خلاص شو۔

نو رسول الله ﷺ هم امت ته د يونس ﷺ د تابعدارئ په طور وخودل چه کله دوی د کندو په خيتو کښې ورخکته شي نو سبحان الله دې ووائي چه الله ورته ددې نه نجات ورکړی او دشمنان ئې هم رالاندې نکړی۔

يا په خکته والی کښې تسبيح ځکه مشروع شوه چه په تسبيح کښې تنزيه (پاکوالے) وی، نو اشاره ده چه الله تعالىٰ د صفاتو د خکته والی نه مُنزه (پاك) دې لکه تکبير د اُوچتو ځايونو سره مناسب دې۔

درجه : اخرجه البخاري (٢٩٩٣)

- 2454(39) وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ إِذَا كَرَبَهُ أَمْرٌ يَقُوْلُ : " يَا حَيُّ يَا قَيُّوْمُ بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيْثُ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ وَلَيْسَ بِمَحْفُوْظٍ

ترجمه : او انس ﷺ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ به کله يو کار په غم کښې واچولو نو داسې به ئې وئيل : يَا حَيُّ يَا قَيُّوْمُ بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيْثُ۔ (اې هميشه ژونديه، تدبير کونکيه خاص ستا د رحمت په ذريعه سره زۀ فريادرسي (مدد) غوارم)۔ (ترمذیؒ روايت کړيدې او وئيلی ئې دی چه دا حديث غريب دې او محفوظ نۀ دې)۔

تشريح : كَرَبَهُ أَمْرٌ : يعني په پريشانئ کښې به واچولو يو کار، او هغې به غمجن کړو۔

او په روايت د حاکم کښې په حديث د ابن مسعود ﷺ کښې داسې دی :

[إِذَا نَزَلَ بِهٖ هَمٌّ اَوْ غَمٌّ]۔

کله چه به په هغهٔ باندې يو غم او پريشاني راغله۔

يَا حَيُّ : اې هميشه ژونديه !۔ قَيُّوْمُ : کامل تدبير کونکے او د بندګانو د کارونو پروګرام چلونکے۔

بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيْثُ : خاص ستا په رحمت سره مدد طلب کوم۔

حافظ ابن القيم په (الطب النبوي ص : ١٥٩) کښې ليکي : ددې دعاء د غم او پريشانئ د ختمولو سره يو ناشنا مناسبت دې، ځکه چه حيات داسې صفت دې چه ټولو صفاتو د کمال لره راجمع کونکے دې، او قيوميه ټولو صفاتو د افعالو لره متضمن دې، دې وجه

نـه الحي القيوم د الله اسم اعظم دے، کله چه پدے سره دعاء وکړے شي نو قبليږي، او کله چه پدے سره سوال وکړے شي نو ورکړے کيږي،

او پـوره حيات د ټولو بيماريانو او دردونو ضد او مخالف دے، پدے وجه د جنتيانو ژوند کـامـل دے نـو هلتـه بـه بيمـاري او پريشـانـي نهٔ وي، او نقصان د حيات افعالو ته ضرر ورکـوي او د قيـومـيـت منافي دے، نو په الحي القيوم سره وسيله نيولو دپاره تاثير دے په زائله کولو د هغه ځيزونو کښے چه هغه د حيات ضد دي او افعالو ته ضرر ورکـوي۔

مقصد دا چه الحي القيوم دپاره په دعاګانو قبليدو کښے او مصيبتونو لرے کيدو کښے خاص اثر شته۔

وَلَيْسَ بِمَحْفُوْظٍ : مـصنف ته پدے مقام کښے سهوه لګيدلے ده ځکه چه امام ترمذيؒ دا الفاظ د بل روايت سره وئيلي دي چه (اَلِظُّوْا بِيَا ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ) او پدے روايت کښے ئے صرف (هذا حديث غريب) وئيلے دے۔

درجة الحديث : اسـنـاده حسن : أخرجه الترمذي (٣٥٢٤) وابن السني في عمل اليوم والـلـيـلـة (٣٣٢) وفـي اسناده زيد بن اَبَان الرقاشي قال في التقريب : اِنَّهٗ زَاهِدٌ ضَعِيْفٌ، وقال السَّاجِي : كَانَ يَهِمُ وَلَا يَحْفَظُ وَيُحْمَلُ حَدِيْثُهٗ لِصِدْقِهٖ وَصَلَاحِهٖ وَالظَّاهِرُ اَنَّهٗ ضُعِّفَ لِاَنَّهٗ غَفَلَ عَـنْ حِـفْـظِ الْـحَـدِيْثِ شُغْلًا بِالْعِبَادَةِ،آه۔ وَحَسَّنَ إِسْنَادَهُ الْحَافِظُ كما في الفتوحات الربانية (٤/٥-٦) وَحَسَّنَهُ الألباني في صحيح الجامع (٤٧٧٧) والصحيحة (٣١٨٢).

- 2455 (40) وَعَـنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ ﷺ قَـالَ : قُلْنَا يَوْمَ الْخَنْدَقِ: يَا رَسُوْلَ اللهِ هَلْ مِنْ شَيْءٍ نَقُوْلُهٗ ؟ فَقَدْ بَلَغَتِ الْقُلُوْبُ الْحَنَاجِرَ قَالَ : " نَعَمْ : اَللّٰهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِنَا وَآمِنْ رَوْعَاتِنَا " قَالَ : فَضَرَبَ اللهُ وُجُوْهَ أَعْدَائِهٖ بِالرِّيْحِ وَهَزَمَ اللهُ بِالرِّيْحِ. رَوَاهُ أَحْمَدُ

ترجمه : او جناب ابوسعيد خدري ﷺ فـرمائي : مونږ د خندق په ورځ ووئيل اے د الله رسوله ! آيا څه دعاء شته چه مونږه ئے ووايو ځکه چه (زمونږ) زړونه (د خفګان نه) مريو ته ورسيدل۔ وے فرمايل : آؤ، (داسے وايئ) اَللّٰهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِنَا وَآمِنْ رَوْعَاتِنَا۔

اے الله ! زمـونږ عيبونه پټ کړه او زمونږ يرے په امن بدلے کړه۔ هغه فرمائي : نو (ددے دعـاء پـه بـرکت سره) الله تعالىٰ د دشمنانو مخونه په هواء سره ووهل او الله تعالىٰ په هواء

سره شکست ورکړو۔ (احمدؔ)

تشریح : يَوْمَ الْخَنْدَقِ : د خندق ورځ نه مراد د خندق غزا ده لکه دے ته غزوهٔ احزاب هم وائي۔ پدے موقعه کښے الله تعالیٰ مسلمانانو سره پدے طريقه مدد وکړو چه تيزه هوا راوالوته چه په دشمنانو د دين باندے مسلط شوه چه هغے ورله د خيمو موګی ويستل او د هغوی کټوئ ئے الټه کړے او اُور نه ئے ورله مړهٔ کړل، هغوی ئے په قِسم قِسم تکليفونو او مصيبتونو کښے اخته کړل، او تيښتے ته ئے مجبوره کړل، اُو په سخته يخنئ او توره تيارهٔ کښ واقع شو نو رعب پرے راغے او وتښتيدل۔

او ددے خندق د کنستو سبب دا وو چه رسول الله ﷺ ته دا خبر ورسيدو چه مکے والو د هغهٔ د جنګ دپاره ډلے راجمع کړيدی او په مدينه باندے په يو ځل حمله کوی او اهل کتاب ئے هم ځان سره ملګری کړيدی، نو رسول الله ﷺ د خپلو ملګرو سره مشوره وکړه، پدے کښے سلمان فارسی ﷺ مشوره ورکړه چه زمونږ د علاقو د عادت مطابق ګير چاپيره لويه کنده دِے وکنستے شي چه په هغے باندے دشمن نشي راپورے وتلے نو مسلمانان او زنانه او ماشومان به محفوظ شي،

نو رسول الله ﷺ خپله او د هغهٔ ملګری په کنستو کښے څه دپاسه لس ورځو پورے مصروف شول او په هغے کښے ئے تکليف او لوږے تيرے کړے او معجزات ئے وليدل او دا د شوال پنځم (سنه ٥) هجری وو، او بعضو پکښے نور اقوال هم کړيدی۔

او ددے واقعے تفصيل زمونږ په کتاب سيرت رسول ﷺ کښے وګورئ۔

فَقَدْ بَلَغَتِ الْقُلُوْبُ : يعنی زمونږ زړونه د يرے او رعب نه مريو ته رارسيدلی دی۔

الْحَنَاجِرَ : جمع د حَنْجَرَةٌ ده، د مرئ مينځ (ډډ) ته وئيلے شي۔

يعنی زړونه د خپلو ځايونو نه راپورته شويدی او د يرے او پريشانئ نه مريو ته رسيدلی دی۔

او عرب داسے الفاظ په زياته پريشانئ کښے استعمالوی، نو د هغوی د محاورے مطابق ئے وئيلی دی۔

فراءٓ وئيلی دی : ددے وجه دا ده چه د کمزوری زړهٔ والا انسان چه کله يره سخته شی نو د هغهٔ پرپوس وپړسيږی او کله چه هغه وپړسيږی نو زړهٔ مرئ ته پورته شی، ددے وجه نه د بزدل په باره کښے عرب وائي: [اِنْتَفَخَ سَحْرُهٗ] د فلانی پرپوس وپړسيدو۔

عَوْرَاتِنَا : جمع د عَوْرَةٌ ده، چه انسان د هغې په ښكاره كولو شرميږي او خفه كيږي۔
رَوْعَاتِنَا : جمع د رَوْعَةٌ ده، يريے او گبراهټ ته وئيلے شي۔
درجة الحديث : اسناده ضعيف : أخرجه أحمد (٣١٣) وفى اسناده ربيح، قال أحمد ليس بمعروف، وقال البخارى منكر الحديث وقال ابوزرعة شيخ، وقال ابن عدى أرجو انه لا بأس به وذكره ابن حبان فى الثقات فهو متردد بين تضعيف حديثه وتحسينه والأول ارجح واليه اشار الحافظ بانه مقبول أى عند المتابعة والا فهو لين الحديث وقد توبع على الدعاء دون القصة كما فى الطبرانى الكبير (٤/٩٤/٣٧١٠) وفيه مجهول، وله شاهد آخر صحيح كما فى الكلم الطيب (١٤) .

- 2456 (41) وَعَنْ بُرَيْدَةَ ﷺ قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا دَخَلَ السُّوقَ قَالَ : " بِسْمِ اللهِ اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ خَيْرَ هٰذِهِ السُّوْقِ وَخَيْرَ مَا فِيْهَا وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا فِيْهَا، اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ أَنْ أُصِيْبَ فِيْهَا صَفْقَةً خَاسِرَةً ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعْوَاتِ الْكَبِيْرِ

ترجمه : او جناب بريده ﷺ فرمائى : نبى كريم ﷺ به چه كله بازار ته داخليدو (نو داسے به ئے) فرمايل : په نوم د الله تعالىٰ سره شروع كوم، اے الله ! زهٔ ستا نه ددے بازار خير او پدے كښے چه څه دى، د هغے خير غوارم او په تا سره ددے د شر او پدے كښے چه څه دى د هغے د شر نه پناه غوارم، اے الله ! زهٔ په تا پورے پناه غوارم ددے نه چه زهٔ پدے كښے تاوانى بيعے سره مخامخ شم۔ (بيهقىؒ په دعوات كبير كښے روايت كړيدے)
تشريح : إِذَا دَخَلَ السُّوْقَ : يعنى كله چه به د بازار په اول سر كښے شروع كيدو۔
هٰذِهِ السُّوْقِ : سوق مؤنث سماعى دے څكه ورته ضميرونه د مؤنث راجع شويدى۔
وَخَيْرَ مَا فِيْهَا : يعنى بازار كښے چه د څيزونو كوم خير وى چه په هغے سره بنده دنياوى امورونه فائده اخلى او د الله بندگى پرے كوى۔
يا په آسانئ سره حلال رزق او گټور عمل او بركت مراد دے۔
وَشَرِّ مَا فِيْهَا : يعنى د غش او خيانت او دهوكے نه۔
صَفْقَةً : يعنى بيعه/ سودا ۔
خَاسِرَةً : يعنى داسے بيعه چه زهٔ په هغے كښې تاوان وكړم۔

د بازار خيرئې وغوښتو او د هغې د شر نه ئې پناهي طلب کړه ځکه چه په بازار کښې د خلقو زړونه په غفلت کښې وي، نو دا کلمات ئې راوړل دې دپاره چه د غفلت نه ووځي- (المناويؒ) روايت ضعيف دې- مګر يوه عامه دعاء ده- او بازار ځائې د غفلت دې، نو لوستل ئې جائز دي مګر سنت به ئې نۀ ګڼړي-

درجة الحديث : اسناده ضعيف : رواه ابن السنى في عمل اليوم والليلة (١٧٧) والطبرانى فى الكبير (١١٥٧/٢) والحاكم (٥٣٩/١) وقال فى مجمع الزوائد (١٢٩/١٠) وفيه محمد بن ابان الجعفى وهو ضعيف وقال الذهبي فى التلخيص : لا يعرف وهو في ضعيف الجامع الصغير (٤٣٩١).

OOOOOO

٨- بَابُ الْإِسْتِعَاذَةِ

د پناهی غوښتلو بیان

یعنی هغه دعاګانے چه په هغے کښے پناهی غوښتلے شویده۔

استعاذه د عَوْذٌ نه دے، اِلتجاء او پناهی طلب کولو ته وئیلے شی۔ په استعاذه سره مصیبتونه دفع کیږی۔

که **سوال** وکړے شی چه مخکښے خو تیر شویدی چه تقدیر نهٔ بدلیږی نو بیا د تعوذ او استعاذه کولو څه فائده ده ؟

جواب دا دے چه استعاذه او تعوذ هم په تقدیر سره وی، یعنی کله الله تعالیٰ په بنده باندے د مصیبت راوستو فیصله کړی وی لیکن ددے سره ئے دا فیصله هم کړی وی چه که دے دعا وغواړی نو مصیبت به ترے لرے شی، لهذا د دواړو خیزونو تقدیر شوے وی۔

د استعاذے او دعاء فائده دا ده چه بنده خپل رب ته خپله فاقه (حاجت) او عاجزی او زاری ښکاره کړی، او دا الله تعالیٰ ته ډیر محبوب عمل دے۔

الفصل الأول

- 2457(1) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " تَعَوَّذُوْا بِاللهِ مِنْ جَهْدِ الْبَلَاءِ وَدَرَكِ الشَّقَاءِ وَسُوْءِ الْقَضَاءِ وَشَمَاتَةِ الْأَعْدَاءِ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او جناب ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : په الله پورے پناه وغواړئ د کړاؤ (مشقت) د مصیبت نه او مونډلو د بد بختئ نه او د بدے فیصلے نه او د دشمن د خوشحالئ نه۔ (بخاری ومسلم)

تشریح : په روایت د احمدؒ او نسائیؒ کښے دی : ((کَانَ یَسْتَعِیْذُ))۔ یعنی رسول الله ﷺ به داسے پناهی طلب کوله۔ نو دا به قولی او فعلی دواړه حدیثونه شی۔

جَهْدِ الْبَلَاءِ : جهد د جیم په زبر سره مشقت او کړاؤ ته وئیلے شی۔ یعنی سختوالے د

مصيبت چه بنده ښۀ په مشقت کښې واچوي او ښۀ ئې اُوکړوي۔ او د جيم په پيش سره کوشش ته وئيلے شي۔

نهايه کښې ابن الاثيرؒ ليکي : جهد البلاء نه مراد [اَلْحَالَةُ الشَّاقَّة] دے، يعنې د مشقت حالت۔

او بعض وائي: د امتحان حالت مراد دے چه په هغې کښې بنده د مرګ آرمان وکړي۔

يا جهد البلاء هر مشقت او تکليف دے چه بنده ته ورسيږي چه د هغۀ د هغې د پورته کولو طاقت نۀ وي او نۀ د هغې د دفع کولو قوت وي۔

د ابن عمر ﷺ نه نقل دي چه ددے نه مراد کموالے د مال او کثرت د عيال دے۔ ليکن عموم غوره دے۔ او دا مخکني صورتونه هم پکښې داخليږي۔

د جهد البلاء نه ئې پناهي طلب کړه ځکه چه کله د بنده نه په بعض کارونو د دين کښې کوتاهي واقع کيږي او کله ئې سينه تنګه شي، صبر ونکړي نو دا سبب د ګناه ګرځي۔

وَدَرَكِ الشَّقَاءِ : دَرَك، اِدْرَاك : لحوق او وصول ته وئيلے شي۔ يعنې د لاندے کولو او پيوسته کيدو او رسيدو د بد بختئ نه۔

الشقاء : شِدّت او عُسُر (يعنې سختئ او تنګدستئ) ته وائي۔ ضد د سعادت دے۔

شوکانيؒ وائي : درك الشقاء په کارونو د دنيا کښې سخت مشقت او په بنده باندے د هغې تنګيدل او هغۀ ته په بدن او اهل او مال کښې کامل ضرر رسيدل دي، او کله دا په اعتبار د اُخروي امورو سره وي چه انسان ته سزا د ګناهونو په وجه ملاؤ شي۔ او ددے نه ئې پناه طلب کړه ځکه چه کله انسان باندے مصيبت سخت شي نو صبر نشي کولے نو په دنيا کښې به سترې والے او په آخرت کښې به سزا راجمع کړي۔ انتهى۔

يا دَرَك مفرد د درکات دے، د جهنم طبقاتو او منازلو ته وئيلے شي، او مراد اهل الشقاء دي، يعنې ځاى د بدبختانو ، مو بچ کړه چه جهنم دے۔

يا د هغه ځائے نه چه په هغې کښې شقاوت (بد بختي) ملاويږي۔

وَسُوْءِ الْقَضَاءِ : دا هغه بده فيصله ده چه انسان خفه کوي، برابره ده چه په بنده باندے په دين کښې وي، يا په دنيا کښې يا په نفس کښې يا په اهل يا په مال کښې۔

يا په بچو يا په خاتمه او معاد کښې وي۔ (ابن بطالؒ وغيره)

وَشَمَاتَةِ الْأَعْدَاءِ : د دشمنانو د خوشحالئ نه مراد دا دے چه بنده ته داسے تکليفات

ورسیږی چه په هغې سره دشمن خوشحاله شي۔
پـدې نـاشـنا لفظ سره ئې دعاء ختمه کړه ځکه چه دا متضمن دے سوال د حفاظت لره د تولو ګناهونو نه، او پدې کښې هم امت ته تعليم دے۔

- 2458 (2) وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَقُولُ : " اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحُزْنِ وَالْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَالْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَضَلَعِ الدَّيْنِ وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او انس ﷺ فرمائي : نبي كريم ﷺ به فرمايل : اللهم انى اعوذ بك الخ :
تـرجـمـه : اے الله ! زهٔ په تا پورے پناه غواړم د غم او خفګان نه او د کمزورئ او سستئ نه او د بزدلئ او بخل نه او د بوج د قرض او د سړو د غالبه کیدو نه۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)
تشريح : يَقُوْلُ : يـعـنـي دا دعـاء بـه ئې په عامو اوقاتو کښې کوله۔ تخصیص د مانځه پکښې نشته نو په مانځه کښې ئې هم لوستل جائز دی۔
او مـخـکښې حديث د ابو سعید خدري ﷺ په روایت د ابوداود تیر شو چه دا د غمونو او قـرضـونـو پـه وخت لوستل هم پکار دی۔ او هغې کښې دا وو : چه صبا او مابنام ئې لوله۔ حديث رقم (٣٣)
وَالْحُزْنِ : دا پـه زبـر د حـاء او زاء سـره دے، او دارنـګـه پـه پـیش د حاء او سکون د زاء سره هم۔ لکه د رَشَد او رُشْد په شان۔
وَالْعَجْزِ : په خير باندے نهٔ قادریدو ته وائي۔ (نوویؒ)۔
بـعـض وائـي : د کـوم شي کول چه واجب وي هغه پریخودل او په هغې کښې سستوالے کول دی۔ او عجز سلب د قوت او توفیق نهٔ ملاویدو ته هم وائي۔
وَالْكَسَلِ : سستـوالے او درونـد والي ته وئيلے شي چه د يو شي په كولو قادر وي لیکن د سستئ او درونـد کیدو په وجه ترے پاتے شي۔ نو عاجز معذور دے او کسلان نهٔ ۔
وَضَلَعِ الدَّيْنِ : په زبر د ضاد او لام سره۔ کوږ والي ته وائي۔ مراد ترے نه دلته بوج دے۔
بعض سلف وائي : مَا دَخَلَ هَمُّ الدَّيْنِ قَلْبًا إِلَّا أَذْهَبَ مِنَ الْعَقْلِ مَا لَا يَعُوْدُ إِلَيْهِ۔
د قـرض غـم يـو زړهٔ تـه نهٔ داخليږي مګر د عقل نه هغه برخه ختموي چه بيرته ورته نهٔ راواپس كيږي۔

فائده : حافظ ابن قيمؒ وائي: پدے دعاء کښے هر دوه څيزونه قَرِيْنَتَان (يو بل سره تړلے شوی) دی۔ هَم او حُزُن قرينتان دی ځکه چه کوم خفګان په زړۀ باندے راځی که په مستقبل کښے د واقع کيدو د وجه نه وی نو هم راپيدا کوی او که د تير شوی څيز په وجه وی نو حزن دے۔ او که بنده د اسبابو د خير نه روستو پاتے شو نو د قدرت د نۀ کيدو په وجه وو نو عجز دے او که د ارادے د نشتوالی په وجه وی نو کسل دے،

او جبن او بخل قرينتان دی، ځکه چه بل ته فائده نۀ ورکول که په بدن سره وی نو دا جبن (بزدلی) دے، او که په مال سره وی نو بخل دے۔

او ضلع الدين او قهر الرجال قرينتان دی ځکه چه د بل چا غلبه او تسلط که په حق سره وی نو ضلع الدين دے او که په باطل سره وی نو قهر الرجال دے۔

- 2459 (3) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَقُوْلُ : " اَللّٰهُمَّ إِنِّىْ أَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَالْهَرَمِ وَالْمَغْرَمِ وَالْمَأْثَمِ، اَللّٰهُمَّ إِنِّىْ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ النَّارِ وَفِتْنَةِ النَّارِ وَفِتْنَةِ الْقَبْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْغِنٰى وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْفَقْرِ وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْمَسِيْحِ الدَّجَّالِ، اَللّٰهُمَّ اغْسِلْ خَطَايَاىَ بِمَاءِ الثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَنَقِّ قَلْبِىْ كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ وَبَاعِدْ بَيْنِىْ وَبَيْنَ خَطَايَاىَ كَمَا بَاعَدْتَّ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی : نبی کريم ﷺ به داسے فرمايل : اللهم انی اعوذ بك الخ : اے الله ! زۀ په تا پورے د سستئ او بوډاوالی او د تاوان او د ګناه نه پناه غوارم، اے الله ! زۀ په تا پورے د دوزخ د اُور نه او د دوزخ د فتنے نه او د قبر د فتنے نه او د قبر د عذاب نه او د ضرر د فتنے د مالدارئ نه او د ضرر د فتنے د غريبئ نه او د ضرر د فتنے د مسيح الدجال نه پناه غوارم۔ اے الله ! زما ګناهونه د واورے او ګلئ په اُوبو سره وينځه، او زما زړۀ صفا کړه لکه چه سپينه جامه د خيری نه پاکولے شی او زما او زما د ګناهونو ترمينځ داسے جدائی راوله لکه چه تا د مشرق او د مغرب ترمينځ جدائی راوستے ده۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشريح : وَالْهَرَمِ : ددے نه مراد داسے بوډا والے دے چه انسان پکښے رذيل عمر ته

ورسيږي۔ او ددے نه پناه وغوښتے شوه ځکه چه پدے زمانه کښے د انسان عقل کښے فرق راشي او حواس ئے ضعيف شي او خوئے د ماشومانو جوړ شي په خبره ښه نۀ پوهيږي او انسان پکښے د طاعاتو نه پريوزي۔

شوكانيؒ وائي : هرچه اُوږد عمر دے سَره د سلامتيا د حواسو نه او صحت د اِدراك نه نو د هغے دپاره خو دعاء پكار ده ځكه چه په اُوږد ژوند كښے سره د سلامتيا د صحت نه پدے كښے د مؤمن دپاره ډير ثوابونه او خيرونه جمعه كول دي۔

وَفِتْنَةِ النَّارِ : يعني داسے فتنه چه په هغے سره انسان د اُور عذاب ته ورسيږي۔ يا د فتنة النار نه مراد د خَزَنه (خزانچيانو ملائكو) تپوس كول دي په طريقه د توبيخ سره۔

وَفِتْنَةِ الْقَبْرِ : يعني په قبر كښے د ملائكو په جواب كښے حيرانيدل۔

شوكانيؒ وائي: د بعض رواياتو نه معلوميږي چه شيطان مړي ته په قبر كښے د ملائكو د تپوس په وخت هم وسوسے اچوي او د هغۀ د گمراه كولو كوشش كوي۔

فِتْنَةِ الْغِنٰى : د مالدارئ فتنے نه مراد تكبر او طغيان دے او مال په حرامه طريقه حاصلول، او بيا ئے په گناه كښے لگول، او په مال باندے فخرونه كول، او جاه طلب كول، او په واجب او مستحب كارونو كښے په مال باندے بخل كول دي۔

فِتْنَةِ الْفَقْرِ : د غريبئ فتنه دا ده چه انسان د الله تعالىٰ نه نا راضه شي، صَبر ئے كم شي، او په حرامو كښے يا په شبهاتو كښے واقع شي د ضرورت د وجه نه۔

علي القاريؒ وائي : ددے نه مراد د مالدارو سره كينه او حسد كول او د هغوي د مالونو طمع كول او خپل عزت خيرنول په ځان ذليله كولو سره هغوي ته، او د الله تعالىٰ په تقسيم باندے نۀ راضي كيدل او خپل دين نيمگړے (كندم) كول دي۔

يا د فتنے نه مراد امتحان دے، يعني چه مالداري او فقيري زما دپاره امتحان وگرزي۔

يا فتنے نه مراد بلاء (مصيبت) دے۔ يعني چه مالداري او غريبي زما دپاره مصيبت جوړ شي او زمونږ نه شر حاصل شي۔

او دے دواړو سره ئے د شر لفظ كيخودو، وجه دا ده چه پدے كښے خير هم شته په يو اعتبار سره او شر هم شته په بل اعتبار سره۔

- 2460(4) وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ ﷺ قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ : " اَللّٰهُمَّ إِنِّیْ

أَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَالْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَالْهَرَمِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ اَللّٰهُمَّ آتِ نَفْسِيْ تَقْوَاهَا وَزَكِّهَا أَنْتَ خَيْرُ مَنْ زَكَّاهَا أَنْتَ وَلِيُّهَا وَمَوْلَاهَا، اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ وَمِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ وَمِنْ نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ وَمِنْ دَعْوَةٍ لَا يُسْتَجَابُ لَهَا ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او جناب زيد بن أرقم ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ به داسے دعاء كوله : اللهم انى اعوذ بك الخ (اے الله ! زۀ پـه تـا پـورے د كمزورئ او سستئ او بزدلئ او بخل او بـوډاوالي او د قبر د عذاب نه پناه غواړم ، اے الله ! زما نفس ته د هغے تقوىٰ وركړه او هغه پاك كړه، (ځكه چه) تۀ غوره هغه څوك ئے چه هغه پاكوے، تۀ د هغے دوست او د هغے واكدار ئے، اے الله ! زۀ پـه تا پورے د داسے علم نه چه فائده نۀ وركوى او د داسے زړۀ نه چه خشوع نۀ كوى او د داسے نفس نه چه نۀ مړيږى او د داسے دعاء نه چه د هغے قبولوالے نۀ وى پناه غواړم۔ (مسلمؒ)

تشريح : دا هم يـوه عـامه جامعه دعاء ده چه په مونځونو او بهر د مونځونو نه په هر وخت كښے ئے لوستل پكار دى۔ او زيد بن ارقم ﷺ نه چا تپوس وكړو چه مونږ ته د رسول الله ﷺ يو حديث بيان كړه نو هغۀ ورته وفرمايل چه زۀ به تاسو ته هغه حديث بيان كړم چه رسول الله ﷺ به مونږ ته د هغے تعليم راكولو او پدے باندے به ئے مونږ ته حكم كولو۔ (سنن النسائى : ٥٤٤٣) لهذا ددے يادول هم ضرور پكار دى۔

وَالْجُبْنِ : بزدلى يو په جهاد كښے ده، او بله په دين كښے د اُوچتو مرتبو د طلب كولو د انجام نه يريږى۔ او بخل يو په مال سره دے، او بل دا چه خلق ددۀ علم ته محتاج وى او ددۀ نه مطالبه هم كوى، او دے د هغوى نه علم منع كړى نو دا بخيل دے۔

وَعَذَابِ الْقَبْرِ : يعنى د قبر تنگى، تيارۀ والے، يواځے والے، او گورزونه وهل، مارانو لړمانانو تكونه وغيره۔ يا ددے نه مراد هغه كارونه دى چه په هغے سره د قبر عذاب ملاويږى لكه چغلى كول، او د بولو نه ځان پاك نۀ ساتل وغيره۔

تَقْوَاهَا : يعنى زما نفس محفوظ كړه د گناهونو نه۔ يا مطلب دا دے چه زما نفس ته بچاؤ وركړه د هغه څه نه چه په دنيا او آخرت كښے ورته ضرر وركوى۔ او دے كښے د خواهشاتو تابعدارى او بے حيائى او هر قسم گناهونه داخل دى۔

وَزَكِّهَا : يعنى دے ته په كامل ايمان باندے پاكى وركړه۔

أَنْتَ خَيْرُ مَنْ زَكَّاهَا : د تزكيه نسبت ئې الله ته وكړو، په دې كښې اشاره ده چه اصل تزكيه وركونكې الله تعالىٰ دې او بنده به صرف خپل كوشش كوي.

وَلِيُّهَا : أَيِ الْمُتَصَرِّفُ فِيهَا وَمُصْلِحُهَا وَمُزَيِّنُهَا.

يعنې ته ددې واكداري كونكې او ددې برابرونكې او ددې ښائسته كونكې ئې. يا ته ددې مددگار ئې.

وَمَوْلَاهَا : مالك ئې، مددگار ئې، ددې بچ كونكې ئې. يا دا عطف تفسير د ولي دې.

لا يخشع : ١- اَىْ لَا يَخَافُ اللّٰهَ. يعنې د الله نه نۀ يرېږي.

٢- يا لَا يَخْشَعُ لِذِكْرِ اللّٰهِ وَلَا لِاسْتِمَاعِ كَلَامِهٖ.

يعنې عاجزي نۀ كوي د الله ذكر ته او نۀ د هغۀ د كلام آوريدو ته. او دا سخت زړۀ دې چه د الله نه لرې دې.

٣- يا لَا يَسْكُنُ وَلَا يَطْمَئِنُّ بِذِكْرِ اللّٰهِ. (على القاريّ)

چه سكون او اطمينان نۀ حاصلوي په ذكر د الله تعالىٰ سره.

وَمِنْ نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ : يعنې الله چه څه وركړي وي په هغې باندې قناعت نۀ كوي، او د مالونو د راجمع كولو نه نۀ ستړې كيږي ځكه چه حرص ئې زيات وي. يا په مناصبو او عهدو طلب كولو كښې حرص كوي.

يا داسې نفس چه ډير خوراكونه كوي او مړخ ئې نۀ راځي. ځكه چه ډير خوراك سره بخارات په دماغو لگيږي چه بيا انسان له خوب ورځي او بدن ئې سست شي.

- 2461(5) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ : كَانَ مِنْ دُعَاءِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ: " اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ زَوَالِ نِعْمَتِكَ وَتَحَوُّلِ عَافِيَتِكَ وَفُجَاءَةِ نِقْمَتِكَ وَجَمِيعِ سَخَطِكَ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او جناب عبد الله بن عمر ﷺ فرمائي : د رسول الله ﷺ د بعض دعاگانو نه (دا هم) وه. اللهم اني اعوذ بك الخ : اې الله ! زۀ په تا پورې پناه غواړم د زائل كيدو د نعمت ستا نه او التهه كيدو (بدليدو) د عافيت ستا نه، او ستا د ناڅاپي عذاب راتللو نه او د تمامو غصو ستا نه. (مسلمؒ)

تشريح : نِعْمَتِكَ : يعنې دنياوي او اخروي نعمتونه ختميدل بغير د بدل نه.

بعض اهل علم فرمائی : چه نعمت هغه څيز ته وائی چه انجام ئے ښهٔ وی، دنياوی او كه اُخروی، پدے معنیٰ سره په كافرانو باندے هيڅ نعمت نشته ځكه چه د هغے انجام ښهٔ نهٔ دے. او د نعمت د زوال نه پناهی طلب كولو كښے اشاره ده چه د گناهونو نه مے محفوظ وساته چه دا د نعمتونو د زائله كيدو سبب دے. ځكه چه څوك د يو نعمت شكر كوی نو هغه ترے نهٔ اخستلے كيږی.

وَتَحَوُّلِ عَافِيَتِكَ : يعنی چه روغ حالت په مصيبت او امتحان سره بدل شی. او د تحول او د زوال فرق دا دے چه زوال دے ته وائی چه بيخی ختم شی، او تحول دے ته وائی چه په نعمت كښے نقصان او بدلون راشی، لكه صحت په مرض بدل شی او مالداری په فقيرئ. نو پدے كښے دوام د عافيت او سلامتيا د آفاتو او بيماريانو نه غوښتلے شويده.

وَفُجَاءَةِ نَقْمَتِكَ : ددے نه مراد دا دے چه پوره سزا وركړے شی او بدله واخستے شی په غضب او عذاب سره. او د ناڅاپی سزا نه ئے پناه طلب كړه ځكه چه كله مصيبت تدريجی وی نو څه نا څه آسان وی، انسان ته پكښے د توبے توفيق ملاؤ شی او ناڅاپی مصيبت سره انسان ته د توبے او د نيك عمل موقعه نهٔ ملاويږی. (علی القاریؒ)

وَجَمِيعِ سَخَطِكَ : يعنی ټول هغه اسباب چه ستا غصے ته رَسول كوی.

- 2462(6) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ : كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَقُولُ : " اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَمِلْتُ وَمِنْ شَرِّ مَا لَمْ أَعْمَلْ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله به دا دعاء كوله : اللهم انی الخ : اے الله ! زهٔ په تا پورے پناه غواړم د ضرر د هغے كار نه چه ما كړيدے او د ضرر د هغے نه چه ما نهٔ دے كړے. (مسلمؒ)

تشريح : **مِنْ شَرِّ مَا عَمِلْتُ** : د رسول الله ﷺ هيڅ گناه نهٔ وه خو دا ئے امت ته د تعليم دپاره وئيلی دی، چه امت الله تعالیٰ ته هميشه خپله عاجزی وړاندے كړی چه د بدو اعمالو د ضرر او تكليف نه ئے بچ وساتی، او پدے كښں د رب العالمين عظمت دے.

مَا لَمْ أَعْمَلْ : يعنی آينده زمانه كښے چه ما نه كومه گناه كيږی نو د هغے د ضرر نه هم تا پورے پناهی طلب كوم.

یا په آینده کښې مې هم د ګناهونو نه بچ وساته هسې نۀ چه د هغې ضرر راورسيږی۔
یا مطلب دا دې چه کوم ګناهونه ما نۀ دی کړی نو په خود پسندئ او تکبر کښې راشم نو ددې تکبر د شر نه مې هم وساته، ځکه چه د ګناهونو نه محفوظ ساتل هم ستا فضل او مهربانی ده۔
یا ددې نه مراد د نورو خلقو د عملونو د شر دې، لکه دې ته اشاره شویده په آیت
﴿وَاتَّقُوا فِتْنَةً لَا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنكُمْ خَاصَّةً﴾ (انفال : ۲۵)
(ویریږئ د داسې فتنې نه چه ستاسو نه به صرف ظالمانو ته نۀ رسيږی)۔
سندیؒ وائی : مِنْ شَرِّ مَا عَمِلْتُ مِنَ السَّيِّئَاتِ وَمَا لَمْ أَعْمَلْ مِنَ الْحَسَنَاتِ اَىْ تَرَكْتُهَا۔
يعنی د ضرر د هغه ګناهونو نه چه ما کړيدی او د ضرر د هغه نیکیانو نه چه ما پريخودې دی۔

- 2463(7) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ كَانَ يَقُولُ : " اَللّٰهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ وَبِكَ خَاصَمْتُ، اَللّٰهُمَّ إِنِّىْ أَعُوْذُ بِعِزَّتِكَ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ أَنْ تُضِلَّنِىْ أَنْتَ الْحَىُّ الَّذِىْ لَا يَمُوْتُ وَالْجِنُّ وَالْإِنْسُ يَمُوْتُوْنَ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او د جناب ابن عباس ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ به فرمايل : اللهم لك اسلمت الخ : اې الله ! خاص تا ته ما غاړه ايخودې ده، او خاص په تا مې ايمان راوړې او خاص تا ته مې ځان سپارلې او خاص تا ته عاجزی کوم، او خاص ستا په مدد سره (د دشمن سره) جنګ کوم۔ اې الله ! زۀ ستا په عزت پورې پناه اخلم، نشته حقدار د بندګئ سوئ ستا نه ددې نه چه تۀ ما ګمراه کړې، تۀ هميشه ژوندئ هغه چه مرګ پرې نۀ راځی، او جنات او انسانان به مری۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)
تشریح : لَكَ أَسْلَمْتُ : يعنی خاص تا ته ما غاړه ايخودې ده، او ستا د حکم تابعدار يم۔
وَبِكَ آمَنْتُ : او په تا او ستا په کتابونو او رسولانو مې تصديق کړيدې۔
وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ : يعنی خاص تا ته مې رجوع کړيده په زړۀ سره۔ يا ما خپل همت او عزم او طاعت تا ته متوجه کړيدی او ستا د سوئ نه مې اعراض کړيدې۔
وَبِكَ خَاصَمْتُ : يعنی خاص ستا په قوت او مدد سره زۀ ستا د دشمنانو سره قتال او

جنګ کوم۔ یا هغه چه تا ما ته کوم براهین او دلائل راکړیدی په هغے سره زۀ د کافرانو سره جګړه کوم۔

بِعِزَّتِكَ : یعنی ستا په قوت سره یا ستا په غلبے سره۔ او عزت د الله صفت دے۔

لَا إِلٰـهَ إِلَّا أَنْتَ : دا جمله معترضه ده دپاره د تاکید د عزت۔

أَنْ تُضِلَّنِي : ددے نه پناه غواړم چه تۀ ما ګمراه کړے او د حق نه مے واړوے، یا د نیغے لارے توفیق رانکړے۔

أَنْتَ الْحَيُّ : یعنی ستا ژوند حقیقی دے چه مرګ ورسره په هیڅ حال کښے نۀ جمع کیږی۔

وَالْجِنُّ وَالْإِنْسُ يَمُوتُونَ : یعنی چا باندے چه مرګ راځی نو هغه مستحق د عبادت نشی ګرزیدے۔ او د هغۀ نه ګُلی حاجتونه نشی غوښتے کیدے۔

الفصل الثاني

- 2464 (8) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ : " اَللّٰهُمَّ إِنِّىْ أَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْأَرْبَعِ : مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ وَمِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ وَمِنْ نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ وَمِنْ دُعَاءٍ لَا يُسْمَعُ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُوْدَاوُدَ وَابْنُ مَاجَه

- 2465 (9) وَرَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو . وَالنَّسَائِيُّ عَنْهُمَا

ترجمه : او جناب ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ به داسے فرمایل : اللهم الخ : اے الله ! زۀ په تا پورے د څلورو څیزونو نه پناه نیسم، د داسے علم نه چه فائده نۀ ورکوی، او د داسے زړۀ نه چه نۀ یریږی (د الله نه) او د داسے نفس نه چه نۀ مړیږی، او د داسے دعاء نه چه هغه نه آوریدلے کیږی۔ (نۀ قبلیږی) (احمدؒ، ابوداوُدؒ، ابن ماجهؒ) او دا روایت ترمذیؒ د عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما نه او نسائیؒ د دواړو نه راوړیدے۔

تشریح : **لَا يَخْشَعُ** : یعنی هغه زړۀ چه د الله د ذکر په وخت کښے خشوع نۀ راځی۔

لَا يُسْمَعُ : اَیْ لَا يُسْتَجَابُ۔ یعنی چه نۀ قبلیږی۔

طیبیؒ وائی : پدے څلورو څیزونو ذکر کولو کښے فائده دا ده چه دا څلور څیزونه د دغه روستنو مقاصدو دپاره اراده کولے شی، علم د نفع دپاره حاصلولے شی، که نۀ وی په انسان باندے وبال ګرزی، او زړۀ د الله تعالیٰ دپاره د خشوع کولو دپاره پیدا دے، چه زړۀ

پکښې نـنـوزي او سيـنـه کولاوه شي، که نۀ وي نو دا سخت زړۀ دے چه پناهي ترے پکار ده۔ او نـفـس ددے دپاره پيـدا دے چه د دهـوکے د کور نه بـه د هميشوالي کور ته انابت او رجـوع کـوي، او کـلـه چـه دا پـه دنيا بـانـدے حـارص وي نو دا لوي دشمن دے، او دعاء نۀ قبليـدل دليـل دے چـه دعـا کـونـکـي د خپـل عـلـم او عمل نه فائده نۀ اخستے، او زړۀ ئے خشوع نۀ ده کړے، او نفس ئے نۀ دے موړ شوے۔

او ددے څيـزونـو نـه پـه پـنـاهي طـلـب کـولـو کښې اظهـار د عبوديت او تعظيم د رب العالمين دے۔ او بنده لره هميشه خوف او هميشه الله تعالیٰ ته فقيري کول پکار دي۔

درجة الحديث : اسـنـاده صـحيـح : أخـرجـه أحمد (٢/٣٦٥) (٨٤٦٩) وأبو داود (١٥٤٨) والـنـسـائـى (٨/٢٦٣) وابـن مـاجـه (٢٥٠) والتـرمذى عن عبد الله بن عمرو (٣٤٨٢).

- 2466(10) وَعَنْ عُمَرَ ﷺ قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَتَعَوَّذُ مِنْ خَمْسٍ : مِنَ الْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَسُوْءِ الْعُمُرِ وَفِتْنَةِ الصَّدْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ . رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ

ترجمه : او جـنـاب عمر فاروق ﷺ فـرمـائي : رسول الله ﷺ به د پنځو څيزونو نه (الله پورے) پناهي غوښتله، د بزدلئ نه او د بخل نه او د ناکاره عمر نه او د سينے د فتنے نه او د قبر د عذاب نه۔ (ابو داودؒ، نسائيؒ)

تشريح : وَسُوْءِ الْعُمُرِ : د بـد عـمـر نه مراد رذيل عمر دے، چه بنده پکښې داسے حد ته ورسيـږي چـه طـاقـتـونـه ئے کـمـزوري شي او په عقل اوبے وقوفتيا کښې د ماشوم پشان شي۔

يا هغـه عمر دے چه انسان پکښې نيك عمل نشي کولے، يعني هسے ترے تير شي چه په آخرت کښې ورله فائده نۀ ورکوي بلکه په آخرت کښې دۀ لره خفه کوي۔

وَفِتْنَةِ الصَّدْرِ : يعني هغه وسوسے چه شيطان ئے په زړۀ کښې اچوي۔

يا ددے نـه مـراد د زړۀ سختـوالے او د دنيـا محبت دے، يا ددے نه مراد د زړۀ مړ کيدل او فاسد کيدل دي۔

درجة الحديث : اسـناده صحيح لغيره : أخرجه ابو داود (١٥٣٩) والنسائى (٨/٢٥٥) وابـن ماجه (٣٨٤٤) والحاكم فى المستدرك (١/٥٣٠) وقال صحيح على شرط الشيخين

ووافقه الذهبي واسناده صحيح صححه احمد شاكر (فى تعليق مسند احمد : ٨٦/١) والسخاوى والطبرى فى مسند عمر (٥٧٣/٢) .

- 2467(11) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يَقُوْلُ : " اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْفَقْرِ وَالْقِلَّةِ وَالذِّلَّةِ وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ أَنْ أَظْلِمَ أَوْ أُظْلَمَ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ

ترجمه : او د ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به فرمايل : اللهم الخ۔ اے الله ! زۀ په تا پورے د فقر او کموالي او ذلت نه پناه نيسم، او په تا پورے پناه نيسم ددے نه چه زۀ (په چا) ظلم وکړم، يا په ما باندے ظلم وکړے شي۔ (ابوداودؒ، نسائيؒ)

تشريح : د فقر نه مراد د زړۀ فقيري ده، يو بنده چه د يو شي په راجمع کولو حرص کوي نو دا فقير دے اګرکه بنده به ډير مال والا وي۔

تورپشتيؒ وائي : چه دلته د فقر نه مراد د نفس فقيري ده، او د هغے حرص دے چه انسان د الله تعالیٰ د نعمتونو ناشکره، او د هغۀ د ذکر هيره ونکے جوړه وي، او د هغے په وجه انسان خپل عزت خيرنوي او دين خرابوي۔

فقر په څلور قسمه دے (١) ضروري حاجت موندل، پدے معنی سره ټول کائنات او موجودات الله تعالیٰ ته محتاج دي، ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَنْتُمُ الْفُقَرَاءُ إِلَى اللهِ﴾ (فاطر : ١٥)

(٢) چه لاس کښ ئے مالونه نۀ وي، لکه ﴿لِلْفُقَرَاءِ الَّذِيْنَ أُحْصِرُوْا﴾ (البقره : ٢٧٣)

(٣) فقر د نفس - يعني قناعت نۀ کول او دا د غِنَى النفس مقابل دے۔

(٤) فقر الى الله۔ ﴿رَبِّ إِنِّيْ لِمَا أَنْزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيْرٌ﴾ (القصص: ٢٤)

دلته دويم او دريم قسم فقر مراد دے۔

وَالْقِلَّةِ : ددے نه د مال کموالے مراد دے چه دومره رزق ورسره نۀ وي چه د عباداتو د وظائفو د ادا کولو نه عاجز شي، بال بچ ورپسه غاړه وي۔ يا ددے نه مراد د صبر او د مددګارو کموالے دے، يا کموالے د شمار او سامانونو، يا ټول مراد دي۔

تورپشتيؒ وائي چه مراد ددے نه په نيکيانو کښے کموالے دے، ځکه چه نبي کريم ﷺ به دنيا کښے کموالے خوښولو۔

وَالذِّلَّةِ : يعني د خلقو په سترګو کښے ذليله کيدل مراد دي۔ يا ددے نه مراد د ګناه په

وجه ذليله كيدل دى، يا مالدار و ته د فقيرى ښكاره په وجه ذليله كيدل دى۔
أَنْ أَظْلِمَ : چه زهٔ ظلم وكړم په ځان باندے په ګناهونو سره او يا په بل باندے ظلم وكړم۔
درجة الحديث : اسناده صحيح : أخرجه أحمد (٨٢٩٤) وأبوداود (١٥٤٤) والنسائى (٢٦١/٨) وابن ماجه (٣٨٤٢) والحاكم (٥٣١/١) وقال صحيح الاسناد والأدب المفرد (٦٧٨).

- 2468 (12) وَعَنْهُ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يَقُوْلُ : " اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنَ الشِّقَاقِ وَالنِّفَاقِ وَسُوْءِ الْأَخْلَاقِ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوْدَ وَالنَّسَائِيُّ

ترجمه : او جناب ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به داسے فرمايل : اللهم الخ۔ اے الله! زهٔ په تا پورے پناه نيسم د اختلاف نه او د منافقت نه او د بدو اخلاقو نه۔ (ابوداودؒ، نسائىؒ)

تشريح : الشِّقَاقِ : جګړے او مخالفتونه۔ ددے نه ئے پناهى پدے وجه وغوخته چه پدے كښے د مسلمانانو ترمينځ هِجران او قطع تعلق راځى۔
يا ددے نه مراد د حق نه مخالفت كول دى۔ (على القارىؒ)
وَالنِّفَاقِ : ددے نه مراد دا دے چه ظاهره كښے خو اسلام ښكاره كوى ليكن مينځ كښے كفر كوى، يا ددے نه مراد عملى منافقت دے، چه هغه ډير دروغ وئيل، او امانت كښے خيانت او د وعدے خلاف كول دى۔
وَسُوْءِ الْأَخْلَاقِ : دا عطف د عام دے په خاص باندے، پدے كښے اشاره چه مخكنى دوه ګناهونه د ټولو نه لويه بد اخلاقى ده، ځكه چه د هغے ضرر بل چاته رسيږى۔ د اخلاقو نه مراد د مخ كولاوالے او نرمى كول دى۔
ابن الملكؒ وائى چه د بد اخلاقئ نه مراد اهل حقوقو ته او خپل اهل او اقاربو ته تكليف وركول او په ناروا سره هغوئ ته سختے خبرے كول دى، او هغوى نه برداشت نهٔ كول او معافى نهٔ كول دى كله چه د هغوى نه يوه غلطى صادره شى۔
درجة الحديث : اسناده ضعيف لجهالة ضُبارة بن عبد الله بن أبى السليك، أخرجه ابوداود (١٥٤٦) والنسائى (٢٦٤/٨) (٥٤٧١) والحاكم (١٠٤/١) .

- 2469 (13) وَعَنْهُ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يَقُوْلُ : " اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْجُوْعِ فَإِنَّهُ بِئْسَ الضَّجِيْعُ وَأَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْخِيَانَةِ فَإِنَّهَا بِئْسَتِ الْبِطَانَةُ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوْدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ

ترجمه : او د ابو هريره ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به فرمايل : اللهم الخ۔ اے الله ! زۀ په تا پورے د لوږے نه پناه غواړم ځکه چه دا بد انختے ملګرے دے او په تا پورے د خيانت نه پناه غواړم ځکه چه دا بد باطنی خصلت دے۔ (ابوداوُد، نسائیؒ، ابن ماجہؒ)

تشريح : اَلْجُوْعِ : لوږے نه ئے پناهی طلب کړه ځکه چه د لوږے اثر په ظاهری او باطنی قوتونو باندے کيږی چه پدے سره د الله تعالیٰ د طاعاتو نه منع کيږی۔

اَلضَّجِيْعُ : ضجيع هغه د ډېرے ملګرے دے چه په بستره ورسره پروت وی، يعنی لوږه د انسان سره په ويښه او خوب تولو حالتونو کښے لازمه وی۔

او ددے نه مراد هغه هميشه لوږه ده چه انسان سره انختی وی چه د عبادتونو نه ئے ويستلے وی او غلط فکرونه او خيالات ورله راپورته کوی۔

او په ضجيع لفظ کښے اشاره ده چه هغه لوږه مراد ده چه انسان د شپے د خوب نه منع کوی۔ نو پدے سره احتراز راغلو د هغه عارضی لوږے نه کومه چه په روژے سره حاصليږی۔

اَلْبِطَانَةُ : يعنی باطنی خوئی او خصلت۔ بنده اکثرو حالاتو کښے خيانت نۀ راښکاره کوی نو پدے وجه ئے دے ته بطانه وئيلے ده۔

درجة الحديث : اسناده حسن صحيح : أخرجه أبوداود (١٥٤٧) والنسائی (٨/٢٦٣) (٥٤٦٨) وابن ماجه (٣٣٥٤).

- 2470 (14) وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يَقُوْلُ : " اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبَرَصِ وَالْجُذَامِ وَالْجُنُوْنِ وَمِنْ سَيِّءِ الْأَسْقَامِ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوْدَ وَالنَّسَائِيُّ

ترجمه : او جناب انس ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به دا دعا کوله : اللهم۔ اے الله ! زۀ په تا پورے پناه غواړم د برګی بيمارئ نه او د جذام (ننکو) نه او د ليونتوب نه او د بدو بيماريانو نه۔ (ابوداوُد، نسائیؒ)

تشريح : اَلْبَرَصِ : دا هغه بیکاره سپینوالے دے چه د انسان په ظاهری بدن باندے د مزاج د خرابوالی په صورت کښے راښکاره کیږی۔
وَالْجُذَامِ : دا یوه بیکاره بیماری ده، چه په ټول بدن کښے د سوداء د خوریدو نه پیدا کیږی نو د اندامونو مزاج او شکل او هیئت خراب کړی او چه کله زیات شی نو جوړونه خراب کړی چه بیا اندامونه خوړلے کیږی او غورزیږی۔
وَمِنْ سَيِّءِ الْأَسْقَامِ : ناکاره بیماریانے چه بندګان د هغے نه نفرت کوی او اندامونه پکښے خراب شی لکه استسقاء، سل، فالج، یرقان، او ایډز او شوګر وغیره دائمی بیماریانے۔
او پدے ټولو دعاګانو کښے امت ته تعلیم ورکول دی ورنه الله تعالیٰ خپل انبیاء علیهم السلام د داسے مرضونو نه بچ ساتلی دی چه خلق د هغے نه نفرت کوی۔
درجة الحديث : اسناده صحيح : أخرجه أحمد (١٣٠٢٧) وأبوداود الطيالسي (٢٠٠٨) وأبوداود (١٥٥٤) والنسائي (٨/٢٧٠) والحاكم (١/٥٣٠) (١٩٤٤) وقال صحيح على شرط الشيخين ووافقه الذهبي .

- 2471 (15) وَعَنْ قُطْبَةَ بْنِ مَالِكٍ ﷺ قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَقُولُ : " اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ مُنْكَرَاتِ الْأَخْلَاقِ وَالْأَعْمَالِ وَالْأَهْوَاءِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او جناب قطبه بن مالك ﷺ فرمائی : نبی کریم ﷺ به دا دعاء کوله : اللهم الخ : اے الله ! زهٔ په تا پورے د ناکاره اخلاقو او اعمالو او خواهشاتو نه پناه نیسم۔ (ترمذیؒ)
تشريح : قطبة بن مالك الثعلبي ثم الذبياني، دا د زیاد بن عِلاقه تره دے چه دا روایت ئے د هُم هغهٔ نه نقل کریدے۔ دا صحابی دے او کوفه کښے وسیدلے دے۔
مُنْكَرَاتِ الْأَخْلَاقِ : ددے نه مراد باطنی ناکاره اعمال دی لکه حسد، بخل، کینه، بزدلي وغیره۔ دے نه ئے پناهی طلب کړه ځکه چه دا هر شر راکاری او هر خیر ختموی۔
وَالْأَعْمَالِ : یعنی ښکاره او پټو بدو اعمالو نه، او دا واړه او غټو ټولو ګناهونو ته شامل دے۔

وَالْأَهْوَاءِ : جمع د هَوٰی ده۔ اصل کښې مصدر دے، بیا استعمالیږی په معنیٰ د هغه شی سره چه د هغے شوق او خواهش کیدے شی برابره ده ښهٔ وی او که بد، بیا غالب استعمال ئے په بد خواهش کښې دے۔
او دا هم صحیح ده چه هَوٰی په معنیٰ لغوی سره مراد وی یعنی خواهش کول۔ د غلطو خواهشاتو نه مراد د دین نه ککړیدل او په شهواتو کښې ننوتل او د الله د طاعاتو نه غافل کیدل دی۔
په یو روایت د معجم الصحابة (٢/٣٦٣) ددے سره [وَالْاَدْوَاءِ] لفظ هم راغلے دے، یعنی د ناکاره بیماریانو نه پناهی طلب کوم۔ نو هغه هم ورسره ملګرے کول پکار دی۔ رقم (٩٠٨) او په روایت د ابن حبان (٩٦٠) او ابن ابی شیبه (٣٠٢١٠) او شعب الایمان (٨١٨٢) کښې هم ورسره [وَالْاَدْوَاءِ] لفظ شته لیکن اول کښې [اَللّٰهُمَّ جَنِّبْنِیْ مُنْكَرَاتِ الْاَخْلَاقِ] الفاظ دی۔ واسناده صحیح۔
درجة الحديث : إسناده صحيح : أخرجه الترمذي (٣٥٩١) والبزار ذكره الهيثمى فى كشف الأستار (٣٢٠٩) وابن حبان كما فى موارد الظمآن (٢٤٢٢) والطبرانى فى الكبير (١٩/١٩) رقم (٣٦) والحاكم (١/٥٣٢) وقال صحيح على شرط مسلم ووافقه الذهبي.

- 2472(16) وَعَنْ شُتَيْرِ بْنِ شَكَلِ بْنِ حُمَيْدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ : قُلْتُ : يَا نَبِيَّ اللهِ ! عَلِّمْنِيْ تَعْوِيْذًا أَتَعَوَّذُ بِهِ قَالَ : " قُلْ اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ سَمْعِيْ وَمِنْ شَرِّ بَصَرِيْ وَشَرِّ لِسَانِيْ وَشَرِّ قَلْبِيْ وَشَرِّ مَنِيِّ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ

ترجمه : او جناب شُتیر بن شکل بن حُمید د خپل پلار نه روایت کوی چه هغه فرمائی : ما ووېل : اے د الله نبی ! ما ته داسے دم راوښایه چه زهٔ په هغے سره پناهی حاصلوم، هغهٔ وفرمایل : داسے وایه : اللهم الخ : اے الله ! زهٔ په تا پورے د شر د خپل غوږ نه او د شر د خپل نظر نه او د شر د ژبے نه او د شر د خپل زړهٔ نه او د شر د خپلے منئ نه پناه غواړم۔ (ابوداودؒ، ترمذیؒ، نسائیؒ)
تشریح : شُتیر بن شکل، دهٔ د جاهلیت زمانه هم لاندے کړیده او روستو زمانه کښې ئے ایمان راوړیدے، ثقه تابعی دے، په ولایت د ابن الزبیر ﷺ کښې وفات شویدے۔ او ددهٔ

پلار شکل د حذيفه بن اليمان ﷺ د قبيلے نه دے، په کوفه کښے وسيدلے دے او صحابی دے۔
تَعْوِيْذًا : اَیْ مَا يُتَعَوَّذُ بِهٖ۔ يعنی هغه دعاء راوښايه چه زهٔ په هغے سره ځان دموم، په صحاح (۵٦۷/۲) کښے جوهرئ ليکی : چه عَوْذَةٌ او مَعَاذٌ او تَعْوِيْذٌ ټول په يوه معنیٰ سره دی۔ يعنی دمول او پناهی طلب کول۔
قاموس کښے مجدّ ليکی : عوذة، رقيه يعنی دم ته وائی لکه څنګه چه معاذ او تعويذ دم ته وائی۔
په روايت د ابوداود کښے داسے الفاظ دی : [عَلِّمْنِیْ دُعَاءً] ما ته دعاء راوښايه۔
او په روايت د نسائی کښے دی : [عَلِّمْنِیْ دُعَاءً اَنْتَفِعُ بِهٖ] ما ته داسے دعاء وښايه چه زهٔ پرے فائده واخلم۔
ددے وجه نه دلته په جواب کښے داسے اِلفاظ راغلل چه (قُلْ) يعنی داسے دعا induced ووايه۔ نو ددے نه د تعويذ ګنډو والو دليل نيول صحيح نهٔ دی، ځکه چه دا طريقه د رسول الله ﷺ په زمانه کښے نهٔ وه چه په کاغذونو کښے به ئے ليکل کول او ماشومانو او مريضانو ته به ئے زوړندول۔
أَتَعَوَّذُ بِهٖ : يعنی زهٔ ئے خاص د خپل ځان دپاره وايم۔
او په روايت د ترمذی کښے ددے نه پس داسے الفاظ دی : [فَاَخَذَ بِکَفِّیْ]
يعنی رسول الله ﷺ زما لاس ونيولو۔
او دا لاس نيول د زيات اهتمام د تعليم او د متوجه کولو دپاره دے۔
وَشَرِّ لِسَانِیْ : يعنی چه زهٔ په ژبه داسے خبرے وکړم چه ما ته فائده نهٔ راکوی۔
يا دا چه د شر خبرے وکړم، ځکه چه اکثر ګناهونه د ژبے نه پيدا کيږی۔ او دے اندامونو کښے د شر ګمان زيات کيږی نو ځکه ئے ددے نه پناهی طلب کړه۔
وَشَرِّ قَلْبِیْ : د زړهٔ شر دا دے چه غلطه عقيده وساتی، او کينه او حسد پکښې وی، د غلطو کارونو اراده وی۔
يا د الله تعالیٰ د حکم نه علاوه په بل څه باندے مصروف شی۔
وَشَرِّ مَنِيِّ : ددے نه مراد د انسان ماده ده، ددے شر دا دے چه دا په غير د خپل محل کښے وا چوی، يا ئے منی په مقدماتو د زنا کښے وا چوی، لکه نظر، ګوتے لګول، خکلول، او

مزل او عزم کول۔

یا ددے نه مراد دا دے چه مني دومره غالبه شي چه انسان په زنا او مقدماتو د زنا کښے واقع کړي۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : أخرجه أحمد (٣/٤٢٩) وأبو داود (١٥٥١) والترمذي (٥/٤٢٣) والنسائي (٨/٢٥٥) رقم (٥٤٤٤) والحاكم في المستدرك (١/٥٣٢، ٥٣٣) وقال صحيح الإسناد ووافقه الذهبي والألباني.

- 2473(17) وَعَنْ أَبِي الْيَسَرِ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يَدْعُوْ : "أَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْهَدْمِ وَأَعُوْذُ بِكَ مِنَ التَّرَدِّيْ وَمِنَ الْغَرَقِ وَالْحَرَقِ وَالْهَرَمِ، وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ أَنْ يَتَخَبَّطَنِيَ الشَّيْطَانُ عِنْدَ الْمَوْتِ وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ أَنْ أَمُوْتَ فِيْ سَبِيْلِكَ مُدْبِرًا وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْ أَنْ أَمُوْتَ لَدِيْغًا ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَزَادَ فِيْ رِوَايَةٍ أُخْرٰى "الْغَمِّ "

ترجمه : او د جناب ابو اليسر ﷺ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به دا دعاء کوله : اللهم الخ۔ (اے الله ! زۀ په تا پورے د ديوال (يا کور) پريوتو نه (په ما) پناه غواړم، او په تا پورے پناه نيسم د رغړيدو نه او د غرقيدو نه او د سوزيدو او د ډير بوډ والي نه، او په تا پورے پناه نيسم ددے نه چه ما لره شيطان ګډوډ کړي د مرګ په وخت کښے او پناه نيسم په تا پورے ددے نه چه زۀ ستا په لاره کښے شا ګرزونکے مړ شم، او پناه نيسم په تا پورے ددے نه چه زۀ مړ شم چيچلے شوے۔ (ابوداوډ، نسائيؒ او نسائيؒ په بل روايت کښے د غم لفظ زيات ذکر کړيدے)۔

تشريح : ابو اليسر ﷺ نوم ئے کعب بن عمرو بن عباد السلمي انصاري صحابي دے ﷺ، په کُنيه او نوم باندے شهور دے، عقبے ته هم حاضر شويدے او بدر ته هم، په بدر کښے ئے ډيره قرباني ورکړے وه، او دا هغه شخص دے چه عباس ﷺ ئے قيد کړے وو، او دا هغه صحابي دے چه د مشرکانو جنډه ئے د ابو عَزيز بن عمير د لاس نه راخکلے وه۔ بيا باقي غزواتو ته د رسول الله ﷺ سره حاضر شويدے۔ بيا په جنګ صفين کښے د علي بن ابي طالب ﷺ سره ملګرے وو۔ په مدينه کښے په سنه (٥٥) هـ کښے وفات شوے او عُمرئے د سلو کالو نه اوړيدلے وو۔

الْهَدْمِ : يعني د آبادي نړيدو نه. ديوالونه راپريوتو نه چه انسان د هغې نه لاندې راشي. او كه د هاء او د دال په زبر سره شي نو بيا ترې مراد اَلْبِنَاءُ الْمَهْدُوْم ده. يعني نړولې شوې آبادې. او مراد دا دې چه په ما باندې ديوال راپريوزي ددې نه پناه غوارم.

التَّرَدِّيْ : د اُوچت ځاى نه ارغړيدو ته وائي. يا كوهي ته پريوتو ته وائي. د ردئ نه دې په معنیٰ د هلاكت سره.

وَالْحَرَقِ : په اُور باندې سوزش ته وئيلې شي.

دې كارونو نه ئې پناهي پدې وجه طلب كړه چه دا ناڅاپي انسان ختموي چه وصيت ته هم نهٔ برابريږي، او كله پكښې كلمه د شهادت هم ونهٔ وائي.

يَتَخَبَّطَنِيَ الشَّيْطَانُ : يعني چه شيطان ما راوپرزوي او په ما باندې لوبې وكړي، او زما دين او عقل خراب كړي.

تخبط په اصل كښې دې ته وائي چه اُوښ په خپل لاس سره يو شے ووهي نو پريوزي. او خبط گمراه كولو او په يو كار باندې غالبه كيدو ته هم وائي. او قبيح كار ښائسته ښكاره كولو او ښائسته كار قبيح ښكاره كولو ته هم وائي. (شوكانيؒ)

حاصل معنیٰ ئې د گډوډ كولو ده.

عِنْدَ الْمَوْتِ : يعني د مرگ د سلگو په وخت كښې چه پدې وخت كښې د انسان خپې خوئيږي او عقلونه ختميږي. او شيطان پدې وخت كښې هم د انسان د گمراه كولو كوشش كوي.

مُدْبِرًا: يعني د حق نه گرزيدونكې. يا د قتال د كفارو نه تختيدونكې په هغه وخت كښې چه تيخته حرامه وي.

لَدِيْغًا : يعني چيچلې شوې په زهريله حيوان سره، او دا كنايه ده د ناڅاپي او زر مرگ نه. يا د چيچلو په وجه دومره سخت درد كښې وي چه عبادتونه ترې پاتې شي.

توربشتيؒ وائي : د چيچلو مرگ په معنیٰ كښې مشابه دې د مرگ د هغه اسبابو سره چه مخكښې كوم ذكر شو.

درجة الحديث : اسناده صحيح أخرجه أحمد (٤٣٧/٣) وأبوداود (١٥٥٤) والنسائى (٢٨٣/٨) (٥٥٣١) والحاكم (٥٣١/١) (١٩٤٨) وقال صحيح الاسناد.

- 2474(18) وَعَنْ مُعَاذٍ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : " اِسْتَعِيذُوا بِاللّٰهِ مِنْ طَمَعٍ يَهْدِيْ إِلٰى طَبَعٍ" . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعْوَاتِ الْكَبِيرِ

ترجمه : او جناب معاذ رضي الله عنه د نبي كريم ﷺ نه ارشاد نقل كوى چه هغه فرمائى : د الله تعالىٰ پورے پناه طلب كړئ د هغه طمع نه چه رَسَول كوى (طبع) يعنى عيب او شرم ته. (احمدؒ، بيهقي دعوات كبير)

تشريح : مِنْ طَمَعٍ : يعنى د سخت حرص نه. او طمع د نفس راپورته كيدل دى يو شى ته د وجه د شوق كولو نه د هغے سره.

يَهْدِيْ : د هدى او هداية نه دے، رَسَول او خودلو ته وئيلے شى. دلته ترے مراد رَسَول او نزدے كول دى،

طَبَعٍ : ددے نه مراد عيب او شرم دے، او طبع په اصل كښے هغه خِيرے دے چه تورے ته لګيږى. دلته ترے مراد د ګناهونو خيرى او عيبونه دى، او د عزت او سرپټوب خيرنول دى.

درجة الحديث : اسناده ضعيف، لضعف عبد الله بن عامر الأسلمي، أخرجه أحمد (٢٢٠٧٤) والطبراني في الكبير (٩٣/٢٠) رقم (١٧٩) والحاكم (٥٣٣/١) وقال حديث مستقيم الاسناد ووافقه الذهبي وضعفه الالباني كما في الضعيفة (١٣٧٣) والبوصيري في اتحاف الخيرة المهرة (٥٠٩/٦) .

- 2475 (19) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَظَرَ إِلَى الْقَمَرِ فَقَالَ : " يَا عَائِشَةُ اِسْتَعِيذِيْ بِاللّٰهِ مِنْ شَرِّ هٰذَا فَإِنَّ هٰذَا هُوَ الْغَاسِقُ إِذَا وَقَبَ " . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او عائشه رضى الله عنها نه روايت دے چه (يوه ورځ) نبى كريم ﷺ سپوږمۍ طرفته وكتل او وے فرمايل : اے عائشے ! د الله پورے ددے د شر نه پناه طلب كړه، ځكه چه دا هغه غاسق (يعنى هغه تيارۀ خورنكے شے) دے هركله چه بے نوره شى. (يا غائب شى).

تشريح : شَرِّ هٰذَا : يعنى سپوږمۍ.

الْغَاسِقُ : غَسَق د شپې د اولې حصې تيارهٔ ده، د غاسق نه مراد يا خو سپوږمۍ ده او ددې وقوب (داخليدل) دا دی چه په تياره کښې داخله شي، چاند ګرهن شي، او توره شي.

يا د غاسق نه مراد شپه ده، او د هغې وقوب دا دې چه کله د هغې شفق (سرخی) غائب شي. يا سپوږمۍ ته غاسق پدې وجه وئيل شويدې چه د سپوږمۍ په راختو سره شپه راځي.

د سپوږمۍ د توريدو نه ئې پناهي پدې وجه طلب کړه چه دا يوه نخه ده د الله تعالیٰ د قدرت د نخو نه چه د يو مصيبت په راتللو دلالت کوی چه الله تعالیٰ پرې خپل بندګان يره وی.

درجة الحديث : اسناده حسن : أخرجه أحمد (٦/٢٣٧) رقم (٢٤٣٦٨) والترمذی (٣٣٦٦) وقال حسن صحيح والحاكم (٢/٥٤٠) وقال صحيح الاسناد ووافقه الذهبي.

- 2476(20) وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ ﷺ قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ ﷺ لِأَبِي : "يَا حُصَيْنُ! كَمْ تَعْبُدُ الْيَوْمَ إِلٰهًا ؟ "قَالَ أَبِي : سَبْعَةً : سِتًّا فِي الْأَرْضِ وَوَاحِدًا فِي السَّمَاءِ قَالَ : "فَأَيُّهُمْ تَعُدُّ لِرَغْبَتِكَ وَرَهْبَتِكَ ؟ " قَالَ : الَّذِي فِي السَّمَاءِ قَالَ : " يَا حُصَيْنُ ! أَمَا إِنَّكَ لَوْ أَسْلَمْتَ عَلَّمْتُكَ كَلِمَتَيْنِ تَنْفَعَانِكَ " قَالَ : فَلَمَّا أَسْلَمَ حُصَيْنٌ قَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! عَلِّمْنِيَ الْكَلِمَتَيْنِ اللَّتَيْنِ وَعَدْتَنِي فَقَالَ : " قُلْ : اَللّٰهُمَّ أَلْهِمْنِي رُشْدِي وَأَعِذْنِي مِنْ شَرِّ نَفْسِي ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او جناب عمران بن حصين ﷛ فرمائی : نبی کريم ﷺ زما پلار ته (کله چه هغه لا په اسلام مشرف شوې نهٔ وو) وفرمايل : اې حصينه ! تهٔ نن صبا د څو معبودانو عبادت کوې؟ زما پلار ووئيل : د اُوو، شپږ په زمکه کښې او يو په آسمان کښې. ورته ئې وفرمايل : نو کوم يو د دوئ نه تهٔ د خپلې مينې او د خپلې يرې دپاره تياروې؟ وې وئيل : هغه چه په آسمان کښې دې، نبی کريم ﷺ وفرمايل : اې حُصينه ! خبر شه که چرې تهٔ اسلام راوړې نو زهٔ به تا ته دوه کلمې وښايم چه تا ته به فائده درکړي، جناب عمران ﷛ فرمائی : نو هر کله چه (زما ابوجان) حصين اسلام قبول کړو نو وې فرمايل : اې د الله رسوله ! ما ته هغه دوه کلمې وښايه چه تا ما سره وعده کړې وه. نو وې فرمايل : وايه :

اَللّٰهُمَّ أَلْهِمْنِيْ رُشْدِيْ وَأَعِذْنِيْ مِنْ شَرِّ نَفْسِيْ. اے الله ! ما ته زما هدايت په زړۀ كښې واچوه او ما د خپل نفس د شر نه وساته. (ترمذيؒ)

تشريح : عمران بن حصين بن عبيد بن خلف الخزاعي ﷺ صحابي دے.

فِي السَّمَاءِ : يعني په بره طرف كښې، ځكه چه الله تعالىٰ د آسمانونو نه بهر د عرش دپاسه دے.

تَعُدُّ : اَيْ تَعُدُّهٗ اِلٰهًا. يعني كوم يو اله شمارے دپاره د مينے او يرے خپلے. يا دا د إعداد نه دے، يعني تۀ ئے تيار ساتے ددے دپاره چه تا ته فائده دركړي.

رُشْدِيْ : رُشد د حق په لاره باندے نيغ روانيدل دى سره د كلك والى نه په هغے باندے. (قاموس) يا رشد نيكئ طرفته هدايت كول دى.

شوكانيؒ وائي: دا حديث د جوامع الكلم نه دے، ځكه چه د هدايت په الهام سره د هرے گمراهئ نه سلامتيا ملاويږي، او د شر نه د پناهي طلب كولو سره د اكثرو گناهونو نه سلامتيا حاصليږي چه هغه د نفس امّاره نه پيدا كيږي.

درجة الحديث : اسناده ضعيف : أخرجه أحمد (٤٤٤/٤) والترمذى (٣٤٨٣) والنسائى (٩٩٣) والحاكم (٥١٠/١) وقال صحيح على شرط الشيخين ووافقه الذهبى وقال ايمن صالح شعبان فى تعليق جامع الاصول : اسناده حسن، آه۔ ولكن فى اسناده شبيب بن شيبة قال يحيى بن معين ليس بثقة وقال ابوزرعة وابوحاتم ليس بالقوى وقال النسائى والدارقطنى ضعيف، (المزى فى تهذيب الكمال ٢٧٦/٨) وضعفه الالبانى.

- 2477(21) وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ :" إِذَا فَزِعَ أَحَدُكُمْ فِي النَّوْمِ فَلْيَقُلْ :أَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ غَضَبِهٖ وَعِقَابِهٖ وَشَرِّ عِبَادِهٖ وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِيْنِ وَأَنْ يَّحْضُرُوْنِ فَإِنَّهَا لَنْ تَضُرَّهٗ " وَكَانَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَمْرٍو يُعَلِّمُهَا مَنْ بَلَغَ مِنْ وُلْدِهٖ، وَمَنْ لَمْ يَبْلُغْ مِنْهُمْ كَتَبَهَا فِيْ صَكٍّ ثُمَّ عَلَّقَهَا فِيْ عُنُقِهٖ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَهٰذَا لَفْظُهٗ

ترجمه : او جناب عمرو بن شعيب د خپل پلار نه او هغه د خپل نيكه نه روايت كوى چه بيشكه رسول الله ﷺ وفرمايل : كله چه يو تن ستاسو په خوب كښې ويريږي نو

داسے دِیے ووائی : اعوذ بكلمات الله الخ۔ زۀ پناه غواړم په كلماتو د الله سره چه پوره دی د هغۀ د غضب او د هغۀ د عذاب نه، او د هغۀ د بندګانو د شر نه او د شيطانانو د وسوسو نه، او ددیے نه چه دوئ ما ته حاضر شی۔ نو يقيناً دا به دۀ ته ضرر ورنكړی۔ او عبد الله بن عمرو ﷺ به دا (كلمات) خودل هغه چا ته چه بالغ شوی وو د هغۀ د اولادو نه، او چه څوك به نۀ وو بالغ شوی د دوئ نه نو دا به ئے وليكل په يو كاغذ كښے بيا به ئے د هغۀ په څټ كښے زوړندل كړل۔ (ابوداوٗدؒ او ترمذیؒ روايت كړيدے، او دا الفاظ د ترمذیؒ دی)۔

تشريح : فَزِعَ : اَیْ خَافَ۔ يعنی ويريږی۔

فِي النَّوْمِ : يعنی په خوب كښے، يا په وخت د ارادے د خوب كښے نو دا دعاء دِیے ووائی۔

التَّامَّاتِ : يعنی كامل كلمات چه هغه د الله تعالیٰ نومونه او صفتونه او د هغۀ د كتاب آيتونه دی۔

وَشَرِّ عِبَادِهٖ: يعنی د الله تعالیٰ د بندګانو د شر نه يعنی د هغوی د ظلم او د ګناهونو نه۔ او دا د شَرِّ خَلْقِهٖ نه خاص دیے۔

هَمَزَاتِ: جمع د هَمَزة ده، نخس (چونډارے) ديكه كولو او وسوسے اچولو ته وائی۔

يَّحْضُرُوْنِ : په نون وقايه باندے كسره ده، ځكه چه نون اعرابی په داخليدو د (اَنْ) ناصبه سره حذف شو۔ او ياء د نون وقايه نه د اختصار دپاره حذف شويده۔

يعنی چه ما ته حاضر شی زما په كارونو كښے لكه مونځ او تلاوت د قرآن كريم او خوب وغيره كښے۔

فَإِنَّهَا : يعنی دا وسوسے د شيطانانو۔

دا حديث دليل دیے چه يره د شيطان د طرف نه وی، او يره ونكی خوبونه هم اكثر شيطانی وی۔

مَنْ بَلَغَ : يعنی دیے دپاره چه بالغان دا كلمات ووائی او پديے سره پناهی حاصله كړی۔

فِيْ صَكٍّ : چيك، او صفحے ته وائی چه په هغے كښے ليكل كيږی۔

د تعويذونو په باره كښے

دا حديث بعض علماؤ د هغه تعويذونو د جواز دپاره دليل ګرزولے دیے چه په كوم كښے د الله تعالیٰ نومونه يا آيتونه ليكلے شوی وی۔ لكه دا قول عبد الله بن عمرو بن العاص

ﷺ ته منسوب دے، د ابوجعفر الباقرؒ قول دے، او يو روايت د امام احمدؒ نه دے، او دوئ هغه احاديث چه په هغے كښے د تعويذونو د اچولو نه منع راغلے ده هغه ئے حمل كړيدى په هغه صورت باندے چه په هغے كښے شركى كلمات وى، يا داسے كلمات وى چه د هغے په معنىٰ انسان نۀ پوهيږى۔

او بلے طائفے د علماؤ دا هم ناجائز گنړلى دى، يعنى اگركه قرآنى آيتونه يا حديثونه پكښے ليكلے شوى وى، ددے نه تعويذونه جوړول ناجائز دى۔ او دا قول د عبد الله بن مسعود ﷺ او عبد الله بن عباس ﷺ او ظاهر قول د حذيفه بن اليمان ﷺ او عقبه بن عامر ﷺ او عبد الله بن عُكيم ﷺ دے، او د يو جماعت د تابعينوؒ دے۔

دليل پرے حديث د عقبه بن عامر ﷺ دے په صحيح ابن حبان كښے او حديث د عبد الله بن عكيم ﷺ په مسند احمدؒ او ترمذىؒ او ابوداودؒ او حاكمؒ كښے دے۔ حديث د ابن عكيم ﷺ كښې داسے الفاظ دى : رسول الله ﷺ فرمائى :

[مَنْ تَعَلَّقَ شَيْئًا وُكِلَ اِلَيْهِ]

(الترمذى : ٢٠٧٢) ومسند احمد : (١٨٨٠٣) واسناده حسن)

(چا چه څه شے ځان پورے وتړلو نو هغے ته به وسپارلے شى)۔

وائى چه ددے نه كراهت د تعويذونو معلوميږى۔

او په حديث د ابن مسعود ﷺ كښې دى : [اِنَّ الرُّقٰى وَالتِوَلَةَ وَالتَّمَائِمَ شِرْكٌ]

(ابو داود، ابن ماجه، ابن حبان، حاكم وقال صحيح وَاَقَرَّهُ الذَّهَبِيُّ)۔

شركى دمونه او د محبت تعويذونه، او كنجكے او دم شوى اميلونه شرك دے۔

او ابو بشير الانصارى رضى الله عنه فرمائى : رسول الله ﷺ په بعض سفرونو كښے وو نو يو استازے ئے راوليږلو او داسے ئے وفرمايل :

[لَا يُبْقَيَنَّ فِىْ رَقَبَةِ بَعِيْرٍ قِلَادَةٌ مِنْ وَتَرٍ اَوْ قِلَادَةٌ اِلَّا قُطِعَتْ]

د اُوښ په څټ كښے د ليندے اميل او عام اميل دِے (كوم كښے چه تعويذ اچولے شوے وى د نظر نه د بچاؤ دپاره) پريكړے شى۔ (بخارى : ٣٠٠٥، ومسلم : ٥٦٧١)

(اعانة المستفيد للشيخ صالح الفوزان حفظه الله)

عبد الرحمن بن حسن بن الشيخ محمد بن عبد الوهابؒ په فتح المجيد شرح كتاب التوحيد كښے ليكى : چه همدا مذهب صحيح دے، د درے وجو نه :

(۱) اول دا چه احادیث د نهی عام دی، او د هغې مخصص نهٔ دے موجود۔
(۲) دویم: په دے کښې سد الذریعه ده، ځکه چه عام خلق د صحیح او غیر صحیح تعویذ فرق نشي کولے، او کیدے شي چه یو باطل پرست ورله داسے تعویذ جوړ کړي چه په هغې کښې سحري او ناروا دمونه او کلمات وی۔ نو عقیده به ئے خرابه شي۔
(لکه نن صبا اکثرو عوامو کښې دا تمییز نشته چه ملا ته ووائی چه دا تهٔ کوم تعویذ جوړه وې آیا په دے کښې شرکي کلمات شته او که نهٔ صرف آیتونه دی۔ بس عقیده ئے صرف په تعویذ جوړه شوې وی، او د هر حاجت د پوره کیدو دپاره تعویذ ته رجوع کوی۔ او په دفع د شرونو کښې په دے باندے عقیده ساتی، او د الله تعالیٰ نه د سوال او دعاء توجه ئے نهٔ وی لکه په خپله معاشره کښې سوچ وکړه، ددے وجه نه ددے منع پکار ده، یو تن به مُلا ته ددے دپاره ورغلے وی چه ما له تعویذ وکړه هغهٔ به پکښې شرکي کلمات لیکلی وی او دے به د هغې په ذریعه پناهي غواړی نو شرك کښې به اخته شي او په ځان به نهٔ پو هیږی۔ والله المستعان)
(۳) دریم دا چه کله پکښې آیتونه یا حدیثونه لیکلے شوی وی نو د هغې به بیعزتی کیږی، د قضاءِ حاجت په وخت کښې او د استنجاء په وخت کښې به ورسره وی۔ (نو د صحت غم به کوی او په گناه کښې به اخته شي)۔
لکه چه دا بیماری د ډیرو انسانانو ده چه کله بیمار شي بیا دے ته نهٔ گوری چه بابا او زیارت له لاړ شي او که جادوگر (جادوشکن) له لاړ شي او که مشرك ملا له خو چه ددهٔ صحت بنه شي۔ صحت غواړی او عقیده د لاسه ورکړی، فلا حول ولا قوة الا بالله والله المستعان۔
(٤) او بعضو پکښې څلورمه وجه هم زیاته کړیده چه په دے کښې د الله تعالیٰ د آیتونو پورے اِستهزاء او مسخرے دی، او آیتونه چه کوم مقصد لره راغلی دی د هغې مخالف کار دے، ځکه چه د الله تعالیٰ آیتونه خو ددے دپاره نهٔ دی راغلی دی چه انسان به ئے ځانونو ته زوړندوی او د هغې په ذریعه به خوراکیان خپلے خیټے مړه وی۔
قرآن کریم ټول شفاء والا کتاب دے، په دے باندے دمونه اچول بهتر عمل دے۔
او دے قول والا ددے حدیث د عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ نه جواب ورکړیدے چه دا د سند په اعتبار سره ضعیف دے، اگرکه ترمذیؒ ورته حسن وئیلے، او حاکمؒ ورته صحیح،

لیکن ددې په سند کښې محمد بن اسحاقؒ دے، او هغه مدلس دے، او دلته ئې عنعنه کړیده۔

دویم: که فرض شي چه دا حدیث صحیح دے، نو بیا هم پدې کښې دلیل نشته، ځکه چه پدې کښې خو دا خبره نشته چه رسول الله ﷺ دا کار لیدلے او ددې نه ئې انکار نۀ دے کړے۔

دریم دا چه دا د عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما یو انفرادي عمل دے، نو پدې سره به د رسول الله ﷺ حدیث او د کبار صحابه کرامو عمل نشي پریخودلے کومو چه دا عمل نۀ دے کړے۔

او علامه شوکانيؒ فرمائي: بل طرفته په صحیح سند سره ثابت دي چه تعویذونه زوړندول جائز نۀ دي نو په عمل د عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما به د هغې په مقابله کښې عمل نشي کیدے۔

څلورم دا چه ددې نه صرف دا خبره معلومیږي چه صحیح تعویذ ماشومانو ته اچول جائز دي کوم چه ناپوهه وي، او د کلماتو په یادولو باندې قادر نۀ وي، او کومو خلقو چه صحیح تعویذ جائز کړیدے نو هغوی خو مطلقا جائز کړیدے، د ماشومانو پورې ئې نۀ دے خاص کړے، بلکه د غټانو، او ښځو بلکه فاسقانو او فاجرانو دپاره ئې هم کوي، او پدې کښې دومره قبائح دي چه د هیچا نه خفي نۀ دي۔

لهذا احتیاط پدې کښې دے چه انسان د خپلے عقیدے لحاظ وساتي او داسے عمل ونکړي چه په هغې سره ددۀ عقیدے ته خرابوالے ورسیږي، یا ددۀ په وجه د بل چا عقیده خرابه شي۔ ډیر خلق د الله تعالیٰ نه د تعویذونو په وجه واوړیدل او نظر ئې صرف په دمګرو او فالګرو او جادوګرو باندے ولګیدو، چه کله ورته څه مصیبت ورسیږي نو سمدست دغه خلقو ته متوجه کیږي، مسلمان له پکار دي چه ځان خپله دم کړي، او د الله نه دعاء وغواړي او ورسره لږ صبر وکړي نو الله تعالیٰ به ورته راحت ورکړي۔ خو یقین پکار دے۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف: أخرجه أحمد (٢/١٨١) وأبوداود (٣٨٩٣) والترمذي (٣٥٢٨) والنسائي في عمل اليوم والليلة (٧٦٥) وقال الالباني حسن دون قوله: فكان عبد الله الخ وضعفه ايمن صالح شعبان في تحقيق جامع الأصول، فيه عنعنة ابن

اسحاق.

- 2478(22) وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" مَنْ سَأَلَ اللهَ الْجَنَّةَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَالَتِ الْجَنَّةُ :اَللّٰهُمَّ أَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ وَمَنِ اسْتَجَارَ مِنَ النَّارِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَالَتِ النَّارُ : اَللّٰهُمَّ أَجِرْهُ مِنَ النَّارِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ

ترجمه : او انس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : چا چه د الله تعالیٰ نه درے کرته جنت وغوښتو نو جنت وائی : اے الله ! دے جنت ته داخل کړه او چا چه د اُور نه درے کرته پناهي وغوښته نو اُور وائی : اے الله ! دهٔ لره د اُور نه بچ وساته۔ (ترمذیؒ، نسائیؒ)

تشریح : سَأَلَ اللهَ الْجَنَّةَ : یعنی چا چه د زړهٔ په اخلاص او پوره یقین او مضبوطیا سره د الله تعالیٰ نه درے کرته جنت وغوښتو۔ چه داسے ووائی :

اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْئَلُكَ الْجَنَّةَ (اے الله ! زهٔ تا نه جنت غواړم) یا داسے ووائی : اَللّٰهُمَّ أَدْخِلْنِي الْجَنَّةَ۔ اے الله ! ما جنت ته داخل کړه۔

ثَلَاثَ مَرَّاتٍ : یعنی په یو مجلس کښے یا په جدا جدا مجلسونو کښے۔

قَالَتِ الْجَنَّةُ : یعنی په لسان الحال سره وائی، یا په ظاهر حمل دے چه الله تعالیٰ جماداتو نه هم خبرے ویستلے شی او همدا خبره راجح ده۔

یا ددے نه مراد د جنت حورے او غلمان او خزانچیان دی۔

وَمَنِ اسْتَجَارَ : یعنی چا چه پناهي وغوښته چه داسے ئے ویل : اَللّٰهُمَّ اَجِرْنِي مِنَ النَّارِ۔ اے الله ! ما د اُور نه ما محفوظ وساته۔

او دا حدیث دلیل دے چه د الله تعالیٰ نه جنت غوښتل پکار دی او د هغه د عذابونو نه پناهي غوښتل۔ او الله تعالیٰ پدے خوشحالیږی۔

درجة الحديث : صحيح: أخرجه أحمد (١١٧/٣) (١٢١٩١) والترمذي (٢٥٧٢) والنسائي (٢٧٩/٨) وابن ماجه (٤٣٤٠) وابن حبان ذكره الهيثمي في موارد الظمآن (٢٤٣٣).

الفصل الثالث

- 2479(23) عَنِ الْقَعْقَاعِ :أَنَّ كَعْبَ الْأَحْبَارِ رَحِمَهُ اللهُ قَالَ : لَوْلَا كَلِمَاتٌ أَقُوْلُهُنَّ

لَجَعَلَتْنِي يَهُوْدُ حِمَارًا فَقِيْلَ لَهُ: مَا هُنَّ ؟ قَالَ: أَعُوْذُ بِوَجْهِ اللهِ الْعَظِيْمِ الَّذِيْ لَيْسَ شَيْءٌ أَعْظَمَ مِنْهُ وَبِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ الَّتِيْ لَا يُجَاوِزُهُنَّ بَرٌّ وَلَا فَاجِرٌ وَبِأَسْمَاءِ اللهِ الْحُسْنٰى مَا عَلِمْتُ مِنْهَا وَمَا لَمْ أَعْلَمْ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ وَذَرَأَ وَبَرَأَ . رَوَاهُ مَالِكٌ

ترجمه : او د جناب قعقاع بن حکیمؒ نه روایت دے چه کعب الاحبارؒ وئیلی دی: که چرې څه کلمات نهٔ وے چه زهٔ ئے وایم نو یهودیانو به ما نه خر جوړ کړے وے، نو دهٔ ته ووئیل شو چه هغه څه دی؟ وے فرمایل: اعوذ بوجه الله العظیم الخ. پناه غواړم په مخ د الله تعالیٰ سره چه لوی دے، هغه ذات دے چه هیڅ شے د هغهٔ نه لوی نشته، او د الله په پوره کلماتو سره چه د هغے نه هیڅ نیك او بد نهٔ تیریږی او په نومونو د الله تعالیٰ سره چه ښائسته دی، هغه چه ما ته د هغے نه معلوم دی او هغه چه ما ته نهٔ دی معلوم، د شر د هغه څه نه چه الله پیدا کړی، او هغهٔ خوارهٔ کړی او هغهٔ برابر کړی (یعنی مناسب اعضاء والائے جوړ کړی یا جدا جدا ئے پیدا کړی) (مالك)

تشریح : قعقاع بن حکیم الکنانی، المدنی ثقه تابعیؒ دے،

حِمَارًا : یعنی کم عقل، یعنی زهٔ به ئے کم عقل جوړ کړے وے چه په هیڅ به نهٔ پو هیدے لکه د خر په شان. یا به ئے ذلیل کړے وے لکه خر چه څنګه تابع او ذلیل وی. یعنی یهودیان خو د اسلام دشمنان دی او دوئ جادوګر دی، او زما په اسلام ډیر غصه دی، نو که ما دا کلمات نهٔ وئیلے، نو په ما به قادر شوی وے.

او دا حدیث دلیل دے چه سحر حقیقت لری، او ددے په وجه څیزونه بدلولے شی، اګر که کول ئے کفر دے.

وَبِكَلِمَاتِ اللهِ : د کاملو کلماتو نه مراد قرآن کریم دے، او ددے نه د تجاوز نهٔ کولو معنیٰ دا ده چه ددے د ثواب او عذاب وغیره نه هیڅوك هم خارج نهٔ دے، مثلًا الله تعالیٰ چه په قرآن کریم کښے چا ته د اَجر او ثواب وعده کړیده یا د چا په عذاب کښے اخته کولو فیصله ئے کړیده، یا کوم څیزونه ئے چه بیان کړیدی هغه ټول به خامخا کیږی او په هغے کښے هیڅ قسم تغیر او تبدل ممکن نهٔ دے.

یا د کلماتو نه مراد د الله تعالیٰ صفات او د هغهٔ علوم دی چه د هغے نه هم هیڅ شے بهر

نۀ دے بلکه هر څه باندے احاطه کونکی دی۔

لَا يُجَاوِزُهُنَّ : يعنى ددے کلماتو نه هيڅوك تجاوز نشى کولے، ددے نه معلومه شوه چه د کلماتو نه مراد د الله تعالىٰ هغه نافذ او شامل علم دے چه هيڅ شے ترے غائب نۀ دے۔ يا د کلماتو نه مراد قرآن کريم دے، چه ددے د وعد او وعيد نه هيڅ نيك او بد انسان بهر نۀ دے۔

وَذَرَأَ : اَىْ بَثَّ وَنَشَرَ۔ يعنى خوارۀ کړى ئے دى۔

وَبَرَأَ : (او جدا جدا ئے پيدا کړيدے) يعنى د مخلوق هر اندام ئے جدا جدا په خپل مناسب ځاى کښے پيدا کړيدے۔ او ددے نه بارئ اخستے شويدے، چه جدا جدا اندامونه پيدا کونکى ته وائى۔ او د بُرأ نه جوړولو او برابرولو ته هم وئيلے شى۔

درجة الحديث : اسناده أخرجه مالك (٢/٩٥١) رقم (١٧٠٧) وعبد الرزاق وابن ابى شيبة (٣٠٢١٧) وصححه الفيروز آبادى فى سفر السعادة (٣١٠) .

- 2480(24) وَعَنْ مُسْلِمِ بْنِ أَبِىْ بَكْرَةَ قَالَ : كَانَ أَبِىْ يَقُوْلُ فِىْ دُبُرِ الصَّلَاةِ : اَللّٰهُمَّ إِنِّىْ أَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْكُفْرِ وَالْفَقْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ فَكُنْتُ أَقُوْلُهُنَّ فَقَالَ :أَىْ بُنَىَّ عَمَّنْ أَخَذْتَ هٰذَا ؟ قُلْتُ : عَنْكَ قَالَ : إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يَقُوْلُهُنَّ فِىْ دُبُرِ الصَّلَاةِ . رَوَاهُ النَّسَائِىُّ وَالتِّرْمِذِىُّ إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ فِىْ دُبُرِ الصَّلَاةِ

وَرَوٰى أَحْمَدُ لَفْظَ الْحَدِيْثِ وَعِنْدَهُ : فِىْ دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ.

ترجمه : او جناب مسلم بن ابى بکره رحمه الله فرمائى : زما پلار (ابوبکره ﷺ) به د هر مانځه نه روستو دا دعاء کوله : اللهم انى اعوذ بك الخ۔ اے الله ! زۀ په تا پورے د کفر او د فقر او د قبر د عذاب نه پناه غواړم، نو ما به هم دا وئيل : نو (ما ته ئے) ووئيل : اے ځويه ! دا تا د چا نه اخستى دى؟ ما ووئيل : ستا نه، وے فرمايل : يقيناً رسول الله ﷺ به دا د مانځه نه روستو وئيل۔ (نسائىؒ، ترمذىؒ مگر ترمذىؒ فى دبر الصلاة (د مانځه نه روستو) الفاظ نۀ دى ذکر کړى، او امام احمدؒ د حديث الفاظ روايت کړيدى او د هغۀ سره داسے الفاظ دى : (فِىْ دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ) د هر مانځه نه روستو (به ئے لوستل)۔

تشريح : مسلم بن ابى بکره بن الحارث الثقفى البصرىؒ صدوق راوى دے د اوساط

التابعين نه. ابن حبانؒ او عجلیؒ ورته ثقه وئيلې دې، په حدودو د سنه (٩٠ هـ) کښې وفات دې.
كَانَ أَبِيُ : يعني زما پلار ابوبکره ﷺ چه نوم ئې نُفَيع بن الحارث دې.
وَالْفَقْرِ : فقرئې د کفر سره يو ځاى کړو ځکه چه فقر انسان کفر ته راکاږى، فقير انسان اکثر د الله په تقدير راضى نهٔ وى، او د رزق په باب کښې نا اميده وى. او دا کفر ته راخکل کوى.
أَيُ بُنَيَّ : په تصغير سره. دپاره د شفقت ئې وئيلې دې.
عَمَّنْ أَخَذْتَ : پدې کښې اشاره ده چه بنده له پکار دى چه په منقولو دعاګانو باندې دعاء وکړى.
قَالَ : إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ : دا ددې دپاره وائى چه هغهٔ ته سند ذکر کوى چه د هغهٔ ورسره شوق نور هم زيات شى چه دا د رسول الله ﷺ وينا ده.
په روايت د احمدؒ او نسائىؒ کښې دى : [فَالْزَمْهُنَّ] نو دا مضبوط راونيسه.
فِيُ دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ : يعنى د هر فرض مانځه نه روستو. او همدا ظاهره ده او پدې سره امام نسائى ترجمة الباب ايخودې دې.
درجة الحديث : إسناده صحيح : أخرجه أحمد (٥/ ٣٦/ ٢٠٦٥٢) والنسائى (١٣٤٧) (٣/٧٣) وصححه الالبانىؒ وقال ايمن صالح شعبانؒ : إسناده حسن .

- 2481(25) وَعَنْ أَبِيُ سَعِيْدٍ ﷺ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ :" أَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الْكُفْرِ وَالدَّيْنِ "فَقَالَ رَجُلٌ : يَا رَسُوْلَ اللهِ! أَتَعْدِلُ الْكُفْرَ بِالدَّيْنِ ؟ قَالَ :" نَعَمْ ". وَفِيُ رِوَايَةٍ "اَللّٰهُمَّ إِنِّيُ أَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْكُفْرِ وَالْفَقْرِ ". قَالَ رَجُلٌ : وَيَعْدِلَانِ ؟ قَالَ :" نَعَمْ ". رَوَاهُ النَّسَائِيُّ

ترجمه : او جناب ابوسعيد خدرى ﷺ فرمائى : ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمايل ئې : أَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الْكُفْرِ وَالدَّيْنِ(الله پورې پناه غواړم د کفر او د قرض نه) نو يو سړى ووېل : اې د الله رسوله ! آيا تهٔ کفر د قرض سره برابروې ؟ وې فرمايل : آؤ، او په يو روايت کښې دى : اَللّٰهُمَّ إِنِّيُ أَعُوْذُ بِكَ مِنَ الْكُفْرِ وَالْفَقْرِ . (اې الله ! زهٔ په تا پورې د کفر او فقر نه پناه غواړم) يو سړى ووېل : آيا او دا دواړه برابر دى؟ وې فرمايل : آؤ، (نسائىؒ)
تشريح : أَتَعْدِلُ الْكُفْرَ بِالدَّيْنِ ؟ : د تپوس کونکى مطلب دا وو چه کفر د قرض سره

شريك ذكر كولو نه هم مساوات د دواړو معلوميږي په ضرر كنبے، نو آيا واقعي قرض داسے مرتبے ته رسيدلے دے چه د كفر سره برابر شي او په ذكر كنبے د هغهٔ سره يو ځائے ذكر شي؟۔

نو رسول الله ﷺ جواب وركړو چه خبره همدغسے ده، ځكه چه قرض سره هم انسان جنت ته نشي داخليدلے، لكه د كفر په شان۔ آؤ، كفر سره هميشه په جنت بنديږي او په قرض سره تر ادائيګئ پورے۔

نَعَمْ : يعني قرضدارے او كافر او منافق ډير كرته برابريږي ځكه چه سړي باندے كله قرض واوړي نو دروغ وائي او وعده خلافي كوي او دا د منافقانو صفات او علامات دي، او فقير هم چه كله صبر نهٔ كوي نو ددهٔ فقر كفر ته رسيږي، نو دا د قرضدارۍ نه ډير بد حاله دے۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : أخرجه أحمد (١١٣٥١) وأخرجه النسائي (٦٤/٨) رقم (٥٤٧٣) فيه دراج ابو السمح وفيه ضعف.

0000

٩- بَابٌ جَامِعُ الدُّعَاءِ

د جامعو دعاګانو بیان

دا اضافت د صفت دے موصوف ته۔ یعنی هغه دعاګانے چه په مختصرو الفاظو کښے ډیرو معانیو او مقاصدو لره راګیرونکی دی۔ او دا عمومی دعاګانے دی چه څه خاص موقعه پورے خاص نهٔ دی۔

الفصل الأول

- 2482 (1) عَنْ أَبِيْ مُوْسَى الْأَشْعَرِيِّ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهٗ كَانَ يَدْعُوْ بِهٰذَا الدُّعَاءِ :" اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ خَطِيْئَتِيْ وَجَهْلِيْ وَإِسْرَافِيْ فِيْ أَمْرِيْ وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهٖ مِنِّيْ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ جِدِّيْ وَهَزْلِيْ وَخَطَئِيْ وَعَمْدِيْ وَكُلُّ ذٰلِكَ عِنْدِيْ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ وما أَنْتَ أَعْلَمُ بِهٖ مِنِّيْ أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ وَأَنْتَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : جناب ابو موسی اشعری رضی الله عنه د نبي کریم ﷺ نه روایت کوی چهٔ هغه به دا دعاء کوله : اللهم اغفر لی الخ۔ اے الله ! ما ته زما خطائی او زما ناپوهی او زما په کار کښے زما زیاتے معاف کړه او هغه ګناه چه تهٔ په هغے سره زما نه زیات پوهه ئے، اے الله ! ما ته زما رشتیا او زما توقه او زما خطائی او زما قصد معاف کړه او دا ټول ما سره دی۔ اے الله ! ما ته وبخه هغه څه چه ما مخکښے کړی وی او هغه چه ما روستو کړی وی او هغه چه ما په پټه کړی وی او هغه چه ما ښکاره کړی وی او هغه چه تهٔ په هغے باندے زما نه ښه پوهه ئے، تهٔ مخکښے کونکے ئے بعضو لره او تهٔ روستو کونکے ئے بعضو لره او تهٔ په هر شی قدرت لرونکے ئے۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : يَدْعُوْ بِهٰذَا الدُّعَاءِ : حافظ ابن حجرؒ وائی : ددے دعاء محل نهٔ دے ذکر، عامه

دعاء ده، هر ځای کښې لوستلې شي. مګر په حديث د ابن عباس ﷺ کښې په مسلم کښې راغلې دي چه دا به ئے د شپې په مانځه کښې لوستل، بيا په کوم مقام کښې ؟

نو په روايت د مسلم کښې دي چه د تشهد او د سلام ترمينځ، او په روايت د احمدؒ او ابوداودؒ او ترمذيؒ کښې دي : [إِذَا سَلَّمَ] چه کله به ئے سلام وګرزولو.

نو د دواړو ترمينځ يو تطبيق دا دے چه د إِذَا سَلَّمَ نه مراد اراده د سلام ده.

دويم دا چه کله به ئے په آخر کښې لوستله او کله د سلام نه روستو. نو دواړو ځايونو کښې لوستل ئے صحيح دي.

خَطِيْئَتِيْ : يعنې زما ګناه.

وَجَهْلِيْ : يعنې هغه ګناه چه ما نه په جهالت سره شوې وي.

يا په هغه کارونو کښې چه په ما باندې د هغې علم او عمل واجب وو.

يا د جهل نه مراد هغه کارونه دي چه زۀ پرې پوهه نۀ يم، او زما نه شوي وي.

فِيْ أَمْرِيْ : يعنې په ټولو کارونو کښې.

وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّيْ : يعنې هغه ګناهونه او تقصيرات چه تۀ پرې زما نه ښۀ خبردار ئے، او ما ته معلوم نۀ دي.

جِدِّيْ : يعنې کوشش زما او تحقيق زما.

وَهَزْلِيْ : يعنې زما ټوقې او ګپ شپ. يعنې زما نه چه په دواړو حالاتو کښې کوم تقصيرات شوي وي.

يا ددې نه مراد د مسخرو او باطلې او بکواس خبرې دي.

وَخَطَئِيْ : د خطاء نه مراد ګناه ده. يا هغه کار چه په غير د قصد نه وشي.

وَعَمْدِيْ : يعنې زما قصد سره ګناه کول.

وَكُلُّ ذٰلِكَ عِنْدِيْ : يعنې دا مذکوره ټول ګناهونه ما سره موجود دي، او دا ئے د تواضع او د ځان د عاجزئ او د الله تعالىٰ د نعمتونو د شکر په طور وئيلې دي ځکه چه دعاء عبادت دے، او په دے کښې امت ته تعليم دے.

وَمَا أَخَّرْتُ : يعنې هغه ګناهونه چه ما نه روستو واقع کيږي. يا هغه چه ما په هغې باندې عمل پريښودے وي. يا مطلب دا دے چه مَا قَدَّمْتُ الْفَاضِلَ وَأَخَّرْتُ الْأَفْضَلَ.

يعنې ما يو عام عمل مخکښې کړے وي او ډير غوره عمل مې روستو کړے وي.

أَنْتَ الْمُقَدِّمُ : يعنى تهٔ چه چا له وغواړے خپل رحمت ته ئے مخکښے کوے۔
وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ : تهٔ چه چا له وغواړے د رحمت نه ئے روستو کوے۔

- 2483(2) وَعَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ :كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَقُولُ :" اَللّٰهُمَّ أَصْلِحْ لِى دِينِى الَّذِى هُوَ عِصْمَةُ أَمْرِى وَأَصْلِحْ لِى دُنْيَاىَ الَّتِى فِيهَا مَعَاشِى وَأَصْلِحْ لِى آخِرَتِى الَّتِى فِيهَا مَعَادِى وَاجْعَلِ الْحَيَاةَ زِيَادَةً لِى فِى كُلِّ خَيْرٍ وَاجْعَلِ الْمَوْتَ رَاحَةً لِى مِنْ كُلِّ شَرٍّ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او جناب ابو هريره ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ به فرمايل : اللهم اصلح لى الخ(اے الله ! برابر کړه زما دپاره دين زما هغه چه هغه زما د کار بچاؤ (حفاظت) دے، او برابر کړه زما دپاره زما دنيا هغه چه په هغے کښے زما ژوند دے، او برابر کړه زما دپاره زما آخرت هغه چه په هغے کښے زما واپسى ده، او وګرځوه ژوند زما دپاره زياتوالے په هر خير کښے او وګرځوه مرګ راحت زما دپاره د هر شر نه۔ (مسلمؒ)

تشريح : أَصْلِحْ لِى : اَىْ عَنِ الْخَطَإِ. يعنى زما دين د خطائى نه برابر کړه۔
عِصْمَةُ أَمْرِى : يعنى بچاؤ زما د کارونو دے، چه ما د اُور او د الله د غضب نه بچ کوى۔
ځکه چه د نفس او مال او عزت حفاظت په دين سره راځى۔
علامه مناوىؒ وائى : د چا چه دين خراب شى د هغهٔ ټول کارونه خراب شى، او دنيا او آخرت کښے د تاوان سره مخامخ شى۔
مَعَاشِى : يعنى دنيا کښے چه زهٔ څه ته محتاج يم د فساد نه د هغے حفاظت وکړه۔
وَأَصْلِحْ لِى آخِرَتِى : يعنى د نيك عمل او عباداتو توفيق راکړه او اخلاص راکړه او خاتمه مے برابره کړه چه آخرت مے برابر شى۔
مَعَادِى : يعنى زما رجوع ده۔
وَاجْعَلِ الْحَيَاةَ : يعنى زما ژوند د نيك اعمالو او طاعاتو د زياتوالى سبب وګرزوه۔
مِنْ كُلِّ شَرٍّ : يعنى د هرے فتنے او مصيبتونو نه۔ يعنى په مرګ سره زما د دنيا غمونه ختم کړه، او په آخرت کښے راحتونه راکړه۔
ډيره جامعه دعاء ده چه هر قسم خيرونه د دنيا او د آخرت پکښے غونښتلے شويدى۔

- 2484 (3) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رضی اللہ عنہ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهٗ كَانَ يَقُوْلُ : " اَللّٰهُمَّ إِنِّیْ أَسْأَلُكَ الْهُدٰى وَالتُّقٰى وَالْعَفَافَ وَالْغِنٰى ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او جناب عبد الله بن مسعود رضی اللہ عنہ د نبی کريم ﷺ نه روايت کوی چه هغهٔ به فرمايل : اللهم الخ۔ اے الله ! زهٔ ستا نه هدايت او تقویٰ او پاکدامنی او (د زړهٔ) مالداری غواړم۔ (مسلمؒ)

تشريح : اَلْهُدٰى : هدايت کول نيك اعمالو او هر مناسب کار طرفته۔

وَالتُّقٰى : تقویٰ۔ او ځان ساتل د ټولو ګناهونو او شرکونو او نا مناسبه کارونو نه۔

وَالْعَفَافَ : يعنی پاکدامنی د ګناهونو نه۔

وَالْغِنٰى : يعنی مالداری، او ددے نه د زړهٔ مالداری مراد ده، چه زړهٔ مالداره وی، په لږه باندے قناعت کوی، او د خلقو نه او د هغوی په لاس کښے د څيزونو نه مستغنی (بے پرواه) وی، هغوی ته ځان نهٔ ذليله کوی، ورنه د رسول الله ﷺ مسکنت خوښ وو۔

- 2485 (4) وَعَنْ عَلِيٍّ رضی اللہ عنہ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " قُلْ : اَللّٰهُمَّ اهْدِنِیْ وَسَدِّدْنِیْ وَاذْكُرْ بِالْهُدٰى هِدَايَتَكَ الطَّرِيْقَ وَبِالسَّدَادِ سَدَادَ السَّهْمِ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او جناب علی رضی اللہ عنہ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمايل : داسے ووايه : اللهم۔ اے الله ! ما ته هدايت وکړه او (زما اعمال او افعال برابرولو سره) ما برابر کړه، او ياد کړه (په ذهن کښے) په هدايت خپل سره (نيغه) لاره۔ او په برابروالی سره د غشی برابروالے۔ (دشمن طرفته)۔ (مسلمؒ)

تشريح : وَسَدِّدْنِیْ : اَیْ اِجْعَلْنِیْ عَلَى السَّدَادِ وَهُوَ الْإِسْتِقَامَةُ۔

يعنی په نيغه لاره او استقامت باندے مے روان کړه۔ او ما ته توفيق راکړه او ما په ټولو کارونو کښے مستقيم (برابر) جوړ کړه۔

وَاذْكُرْ : يعنی اے علی ! په هدی سره نيغے لارے طرفته خودل راياد کړه او په سداد سره

د غشي برابرېدل چه په دشمن باندې صحيح لګېږي،
يا داسې برابرېدل لکه چه غشې ځنګه هدف طرفته برابرېږي.
طيبيؒ وائي : دا خبره ئې ورته ځکه وکړه چه پکار ده چه د ذکر په وخت کښې په زړهٔ کښې دا راياد کړي چه زهٔ داسې هدايت ته ورسېږم لکه يو تن چه په نيغه لاره روان شوې وي او داسې په حق روان شم او کارونه مې برابر شي لکه چه غشې برابرېږي، آه.
نو د حاجت غوښتو په وخت کښې د هغه شي استحضار پکار دې چه دعاء د هغې مطابق په اخلاص او کوشش سره وکړې شي.

- 2486 (5) وَعَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ عَنْ أَبِيهِ قَالَ : كَانَ الرَّجُلُ إِذَا أَسْلَمَ عَلَّمَهُ النَّبِيُّ ﷺ الصَّلَاةَ ثُمَّ أَمَرَهُ أَنْ يَدْعُوَ بِهٰؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ : " اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَاهْدِنِي وَعَافِنِي وَارْزُقْنِي ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او جناب ابومالك اشجعي ﷺ د خپل پلار نه روايت کوي ، هغه فرمائي : يو سړی چه به کله اسلام قبول کړو نو نبي کريم ﷺ به ورته مونځ خودلو بيا به ئې ورته حکم وکړو چه پدې کلماتو سره دعاء وغواړي : اللهم اغفر لي الخ. اې الله ! ما ته بخنه وکړه او په ما باندې رحم وکړه او ما ته نيغه لاره وښايه او ما روغ وساته او ما ته رزق راکړه. (مسلمؒ)

تشريح : ثُمَّ أَمَرَهُ : يعني د اسلام نه روستو به ئې ورته دا عاء خودله چه دا په مانځه کښې وايه، دا په هغه وخت کښې چه کله ئې مونځ نهٔ وي ياد. نو پدې اذکارو سره هم مونځ کېږي. يا د ډېر اهتمام د وجه نه به ئې ورته دا دعاء د ټولو نه مخکښې خودله ځکه چه په مختصرو الفاظو کښې ډېره جامعه دعاء ده.

- 2487 (6) وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ : كَانَ أَكْثَرُ دُعَاءِ النَّبِيِّ ﷺ "اَللّٰهُمَّ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او جناب انس ﷺ فرمائي : د نبي کريم ﷺ اکثره دعاء دا وه : اللهم آتنا الخ.

اے الله ! مونږ ته په دنيا کښے ښه ژوند او په آخرت کښې ښائسته ژوند راکړه او د جهنم د عذاب نه مو وساته۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : كَانَ أَكْثَرُ : دا دعاء به رسول الله ﷺ پدے وجه ډيره کوله چه يو خو جامعه ده د دنيا او د آخرت خيرونو لره۔

دويم پدے وجه چه ددے ويونکی صفت الله تعالیٰ په قرآن کريم کښے کړيدے۔

په روايت د مسلم وغيره کښے دی : چه انس بن مالك ﷺ به کله يوه دعاء غوښتله نو دا دعاء به ئے کوله۔

حَسَنَةً : يعنی نعمت، ښهٔ حالت، خوشحالی، او هر هغه شے چه انسان پرے خوشحالیږی او هغه مباح او حلال وی۔

او مفسرينو بيا ددے حسناتو مصداقات هم بيان کړيدی۔ لکه علم نافع، عبادت، رزق طيب، عمل صالح، نيکه ښځه۔ فراخه کور۔ نيکان اولاد، مزيداره سورلی۔ ثناء جميل (ښکلے صفتونه)۔

وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً : يعنی په آخرت کښے نعمتونه، او ښکلے مرتبه۔

وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ : دا ئے تتميم دے، يعنی که ما نه کوم گناهونه شوی وی نو هغه راته معاف کړه۔ او د عذاب راکولو نه مخکښے مو جنت ته داخل کړه۔

الفصل الثاني

- 2488 (7) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَدْعُو يَقُولُ : " رَبِّ أَعِنِّي وَلَا تُعِنْ عَلَيَّ وَانْصُرْنِي وَلَا تَنْصُرْ عَلَيَّ وَامْكُرْ لِي وَلَا تَمْكُرْ عَلَيَّ وَاهْدِنِي وَيَسِّرِ الْهُدٰى لِي وَانْصُرْنِي عَلٰى مَنْ بَغٰى عَلَيَّ، رَبِّ اجْعَلْنِي لَكَ شَاكِرًا لَكَ ذَاكِرًا لَكَ، رَاهِبًا لَكَ، مِطْوَاعًا لَكَ، مُخْبِتًا إِلَيْكَ أَوَّاهًا مُنِيبًا، رَبِّ تَقَبَّلْ تَوْبَتِي وَاغْسِلْ حُوْبَتِي وَأَجِبْ دَعْوَتِي وَثَبِّتْ حُجَّتِي وَسَدِّدْ لِسَانِي وَاهْدِ قَلْبِي وَاسْلُلْ سَخِيمَةَ صَدْرِي ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوْدَ وَابْنُ مَاجَهْ

ترجمه : او جناب ابن عباس ﷺ فرمائی : نبی کريم ﷺ به دعاء کوله نو داسے به ئے فرمايل : رب اعني الخ۔ اے ربه ! ما سره مدد وکړه او زما په خلاف مدد مهٔ کوه، او ما ته فتح راکړه او په ما باندے هيچا ته فتح مهٔ ورکوه، او زما دپاره مکر وکړه او زما د ضرر

دپاره مکر مهٔ کوه، او ما ته هدایت وکړه او ما ته هدایت آسان کړه، او ما سره مدد وکړه په هغه چا چه ظلم کوی په ما باندې، اې ربه زما ! ما ستا دپاره شکر گذاره جوړ کړه، ستا دپاره ذکر کونکې، ستا دپاره یریدونکې، ستا ډیر تابعدار، ستا دپاره ډیره عاجزي کونکې، تا ته زاري کونکې، او رجوع کونکې (جوړ کړه) اې ربه ! زما توبه قبوله کړه او زما گناه وینځه او زما دعا قبوله کړه، او زما دلیل مضبوط کړه، او زما ژبه (رشتینې او) برابره کړه، او زما زړهٔ ته هدایت وکړه او زما د سینې تور والې ویاسه۔ (ترمذيؒ، ابوداودؒ، ابن ماجهؒ)

تشریح : رَبِّ أَعِنِّيْ : د اِعانة نه دې، یعني ما سره زما د دشمنانو په مقابله کښې مدد وکړه چه نفس او شیطان او جنات او انسانان دي۔

وَلَا تُعِنْ عَلَيَّ : یعني زما په مقابله کښې بل هیچا سره مدد مهٔ کوه۔

وَلَا تَنْصُرْ عَلَيَّ : یعني ما باندې هیڅوك مهٔ مسلط کوه چه ما ذلیل کړي۔

وَامْكُرْ لِيْ : یعني زما دپاره تدبیر وکړه او زما په خلاف ئې مهٔ کوه۔ یعني ما سره زما د دشمنانو په خلاف مدد وکړه چه خپل مکر په هغوي واقع کړه نهٔ په ما باندې۔

وَيَسِّرِ الْهُدٰى لِيْ : یعني ما ته د هدایت پسې روانیدل او د هدایت د لارې تابعداري کول آسان کړه چه زهٔ ستا طاعت درون ونهٔ گنړم او د طاعت نه مشغول نشم۔

بَغٰى عَلَيَّ : یعني ظلم کوی په ما باندې۔

رَاهِبًا : یعني ډیره یره کونکې ستا نه۔

مِطْوَاعًا : یعني ډیر تابعدار او خبره منونکې۔

مُخْبِتًا : ډیره خشوع او عاجزي کونکې، او ستا په ذکر باندې اطمینان کونکې۔

أَوَّاهًا: یعني ډیر تأوه کونکې، عاجزي کونکې۔ یا ډیرې دعاء والا۔ یا ډیرې ژړا والا۔ یا ډیر غمجن په کوتاهي کولو باندې۔

مُنِيْبًا : تا ته په ټولو کارونو کښې راواپس کیدونکې۔ انابت د غفلت نه ذکر طرفته راواپس کیدو ته وائي۔

حُوْبَتِيْ : په حاء باندې زبر دې او پیش هم جائز دې۔

یعني زما گناهونه زائل او محوه کړه۔ او په وینځلو سره ئې تعبیر وکړو اشاره ده چه بیخي ختم شي او پوره صفائي د گناهونو د اثر نه راشي۔

وَأَجِبْ دَعْوَتِيْ : یعني زما دعاء قبوله کړه۔

وَثَبِّتْ حُجَّتِيْ : يعنى زما دليل زما د دشمنانو په خلاف مضبوط کړه په دنيا او په آخرت کښې. يا زما په دنيا کښې وينا او تصديق مضبوط کړه او په قبر کښې د ملائکو د جواب په وخت کښې.

وَسَدِّدْ لِسَانِيْ : يعنى زما ژبه برابره کړه چه صرف په رشتيا او حق باندے گويا وى.

وَاهْدِ قَلْبِيْ : يعنى زما زړۀ ته هدايت وکړه يعنى چه ستا معرفت راته حاصل شى. يا زما زړۀ ورسوه معرفت د حقائقو د شريعت ته.

وَاسْلُلْ : د سَلَّ السَّيْفَ نه دے، يعنى اُوباسه.

سَخِيْمَةَ صَدْرِيْ : د سين زبر او د خاء زير دے، تورولى ته وائى. او ددے نه سُخَامُ الْقِدْرِ اخستے شويدے، يعنى تورولے د کتهوئ. دلته ترے خيانت، دهوکه او کينه او گنده اخلاق مراد دى.

درجة الحديث : اسناده صحيح : أخرجه أحمد (١/٢٢٧) (١٩٩٧) وأبوداود (١٥١٠) والترمذى (٣٥٥١) وابن ماجه (٣٨٣٠) والأدب المفرد (٦٦٤) وابن حبان (٢٤١٤) والحاكم (١/٥١٩، ٥٢٠) ووافقه الذهبي والألباني.

- 2489(8) وَعَنْ أَبِيْ بَكْرٍ ﷺ قَالَ : قَامَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَلَى الْمِنْبَرِ ثُمَّ بَكٰى فَقَالَ : " سَلُوا اللهَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فَإِنَّ أَحَدًا لَمْ يُعْطَ بَعْدَ الْيَقِيْنِ خَيْرًا مِنَ الْعَافِيَةِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ إِسْنَادًا

ترجمه : او جناب ابوبکر صديق ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ په منبر باندے ودريدو بيا ئے وژړل نو وے فرمايل : د الله تعالىٰ نه عفو او عافيت وغواړئ ځکه چه يو تن ته د يقين نه روستو د عافيت نه غوره شے نۀ دے ورکړے شوے. (ترمذىؒ، ابن ماجهؒ، او ترمذىؒ وئيلي دى : دا حديث حسن غريب سند والا دے).

تشريح : ثُمَّ بَكٰى: بعض وائى : پدے وجه ئے وژړل چه رسول الله ﷺ ته معلومه شوه چه د هغۀ امت به په فتنو کښې واقع کيږى، او شهوات او د مالونو د جمع کولو حرص به پرے غلبه کوى نو په طلب د عفو او عافيت ئے حکم وکړو چه پدے سره د فتنو نه بچ شى. او بيا چه کله ابوبکر صديق ﷺ خليفه جوړ شو نو په منبر باندے ودريدو او دغه

شان ئے وژړل او دا حديث ئے بيان کړو او پدے باندے امر وکړو۔ (مسند احمد)
الْعَافِيَةِ : په دين کښے د فتنو نه سلامتيا او په بدن کښے د بيماريانو او مشقتونو نه۔
بَعْدَ الْيَقِينِ : په روايت د احمد کښے (بعد كلمة الاخلاص) لفظ دے، يعنى پس د توحيد نه۔ (احمد رقم : ١٠)
خَيْرًا مِنَ الْعَافِيَةِ : يعنى سلامتيا د آفاتو نه، نو پدے کښے عفوه هم داخله ده، پدے وجه ئے صرف د عافيت په ذکر کولو باندے اکتفاء وکړه۔
يعنى كه يو انسان ته د يقين او د توحيد نه روستو بل هيڅ شے ورنکړے شى او عافيت ورکړے شى نو دۀ ته هر شے حاصل شو۔
او رسول الله ﷺ خپل ترۀ عباس رضی اللہ عنہ ته درے کرته د عافيت دعاء خودلے وه کله چه ترے هغۀ مطالبه وکړه چه ما ته داسے څه وښايه چه زۀ پرے د الله تعالىٰ نه سوال کوم۔ (ترمذى : ٣٥١٤)
دا دليل دے چه په دے دعاء سره هر خير راخکلے کيږى او هر شر دفع کيږى۔
درجة الحديث : اسناده حسن صحيح، أخرجه أحمد (٣/١) رقم (٥) (١٧) والترمذي (٣٥٨٨) وابن ماجه (٣٨٤٩) والأدب المفرد (٧٢٥) .

- 2490(9) وَعَنْ أَنَسٍ رضی اللہ عنہ أَنَّ رُجُلًا جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ! أَيُّ الدُّعَاءِ أَفْضَلُ ؟ قَالَ : " سَلْ رَبَّكَ الْعَافِيَةَ وَالْمُعَافَاةَ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ " ثُمَّ أَتَاهُ فِي الْيَوْمِ الثَّانِيْ فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ! أَيُّ الدُّعَاءِ أَفْضَلُ ؟ فَقَالَ لَهُ مِثْلَ ذٰلِكَ ثُمَّ أَتَاهُ فِي الْيَوْمِ الثَّالِثِ فَقَالَ لَهُ مِثْلَ ذٰلِكَ قَالَ :" فَإِذَا أُعْطِيْتَ الْعَافِيَةَ وَالْمُعَافَاةَ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ فَقَدْ أَفْلَحْتَ " . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ إِسْنَادًا.

ترجمه : او جناب انس رضی اللہ عنہ فرمائى : يو سړے نبى کريم ﷺ ته راغلو عرض ئے وکړو اے د الله رسوله ! کومه دعاء ډيره غوره ده ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : د خپل رب نه عافيت (يعنى په دين او بدن کښے سلامتى) او په دنيا او په آخرت کښے معافات وغواړه (يعنى چه الله تعالىٰ تا د خلقو نه او خلق ستا نه په عافيت او حفاظت کښ وساتى) بيا ورته په دويمه ورځ راغلو نو وے وئيل اے د الله رسوله ! کومه دعاء بهتره ده ؟ نو همغه

شان خبره ئې ورته وکړه بیا ورته په دریمه ورځ راغلو او هغه شان عرض ئې وکړو، رسول الله ﷺ وفرمایل : هرکله چه تا ته عافیت او معافات په دنیا او په آخرت کښې درکړے شو نو ته کامیاب شوے. (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ او ترمذیؒ وئیلی دی دا حدیث حسن غریب سند والا دے)

تشریح : اَلْعَافِيَةَ وَالْمُعَافَاةَ : نهایه کښې دی : عافیت دا دے چه ته د بیماریانو او مصیبتونو نه بچ شے نو دا صحت ته او ضد د مرض ته وائی.

او معافاة دا دے چه الله تعالیٰ تا لره د خلقو نه بے حاجته او بے پرواه کړی او خلق ستا نه بے پرواه کړی، د هغوی ضرر تا ته نهٔ رسی او ستا ضرر هغوی ته نهٔ رسی.

یعنی عافیت د بدن روغوالے دے او معافات د خلقو د ضرر نه بچ کیدل دی.

بعض وائی : معافاة د عفو نه دے، یعنی یو بل ته معافی کول، یعنی چه خلق تا ته معافی وکړی او ته خلقو ته معافی وکړے.

او په روایت ابو هریره رضی الله عنه کښې مرفوعا راغلی دی :

[مَا مِنْ دَعْوَةٍ يَدْعُو بِهَا الْعَبْدُ أَفْضَلَ مِنْ : اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ الْمُعَافَاةَ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ]

(ابن ماجه (٣٨٥١) وصحيح الجامع (٥٧٠٣) اسناده صحيح)

نشته یوه دعاء چه بنده ئې غواړی غوره ددے دعاء نه. اے الله ! زهٔ تا نه په دنیا او په آخرت کښې روغوالے غواړم.

درجة الحديث : اسناده حسن :أخرجه أحمد (١٢٧/٣) (١٢٣١٣) قال شعيب اسناده حسن لغيره وهذا اسناد ضعيف لضعف سلمة بن وردان المدنى والترمذى (٣٥١٢) وابن ماجه (٣٨٤٨) وصححه الالبانى فى صحيح الادب المفرد (٦٣٧) وضعفه فى الضعيفة (٢٨٥١).

- 2491(10) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ يَزِيْدَ الْخَطْمِيِّ رضی الله عنه عَنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ أَنَّهُ كَانَ يَقُوْلُ فِيْ دُعَائِهِ :" اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنِيْ حُبَّكَ وَحُبَّ مَنْ يَّنْفَعُنِيْ حُبُّهُ عِنْدَكَ، اَللّٰهُمَّ مَا رَزَقْتَنِيْ مِمَّا أُحِبُّ فَاجْعَلْهُ قُوَّةً لِّيْ فِيْمَا تُحِبُّ، اَللّٰهُمَّ مَا زَوَيْتَ عَنِّيْ مِمَّا أُحِبُّ فَاجْعَلْهُ فَرَاغًا لِّيْ فِيْمَا تُحِبُّ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او عبد الله بن یزید خطمی رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه ارشاد نقل کوی چه هغهٔ

به په خپله دعاء کښې فرمايل : اللهم ارزقنى الخ۔ اے الله ! ما ته ستا محبت رانصيب کړه او محبت د هغه چا چه ما ته د هغهٔ محبت ستا په دربار کښې فائده راکړی، اے الله ! هغه چه تهٔ ئے ما ته راکوے د هغه څيزونو نه چه زهٔ ئے خوښوم نو هغه زما دپارهٔ قوت جوړ کړه په هغه څيزونو کښې چه تهٔ ئے خوښوے (يعنى عبادت) اے الله ! تا چه زما نه کوم شے لرے کړے د هغه څيزونو نه چه زهٔ ئے خوښوم نو هغه زما دپاره د فراغت سبب جوړ کړه په هغه څه کښې چه تهٔ ئے خوښوے۔ (ترمذیؒ)

تشريح : سيدنا عبد الله بن يزيد الخطمى ﷺ، منسوب دے خَطْمَه بن جُشَم بن مالك بن الاوس، دا د غوره صحابه کرامو نه دے، ابن الاثيرؒ وائی : کُنيه ئے ابو موسیٰ ده، ددهٔ په کوفه کښې يو کور هم وو۔ حُديبيه ته د (١٧) کالو په عمر حاضر شويدے، او بيا روستنو غزواتو کښې شريك شويدے، او عبد الله بن زبير ﷺ په کوفه باندے گورنر مقرر کړو۔

دارقطنیؒ وائی : دے او ددهٔ پلار دواړه صحابه دی۔ بيعة الرضوان ته په وړوکوالی کښې حاضر شويدے۔ او ددهٔ پلار اُحد ته حاضر شويدے او د مکے د فتح نه مخکښې وفات شويدے۔

وَحُبَّ مَنْ يَّنْفَعُنِىْ حُبُّهٗ عِنْدَكَ : يعنى ملائك او انبياء او نيکان متقيان بندگان۔

مَا رَزَقْتَنِىْ مِمَّا أُحِبُّ : يعنى هغه څيزونه چه زما محبوب دی او تا ما ته راکړيدی چه هغه د بدن صحت او عافيت او اطمينان دے، او د دنيا سامانونه او مال او مرتبه او اولاد او فراغ او تول نعمتونه دی۔

فَاجْعَلْهُ قُوَّةً : يعنى زما دپاره دا سامان وګرځوه او طاقت ئے جوړ کړه چه دا زهٔ ستا په محبوب شی کښې ولګوم چه هغه ستا طاعت او عبادت دے۔

مَا زَوَيْتَ : دا د زَوٰى يَزْوِىْ زَىٌّ نه دے، اخستو او لرے کولو ته وئيلے شی۔

يعنىٰ کوم څيزونه چه تا زما نه تاو کړی او قبض کړی او هغه ما ته محبوب وی نو زما د زړهٔ د فراغت سبب ئے وګرځوه په هغه ذکر او فکر او عبادت کښې چه تا ته محبوب دے۔ يعنى په هغے سره زما زړهٔ ستا بندګئ ته فارغ کړه۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف: أخرجه الترمذى (٣٤٩١) فيه سفيان بن وكيع قال الحافظ عنه : كَانَ صَدُوْقًا اِلَّا اَنَّهُ ابْتُلِىَ بِوَرَّاقِهٖ فَاَدْخَلَ عَلَيْهِ مَا لَيْسَ مِنْ حَدِيْثِهٖ فَنُصِحَ فَلَمْ يَقْبَلْ فَسَقَطَ حَدِيْثُهٗ .

- 2492(11) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ : قَلَّمَا كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَقُوْمُ مِنْ مَجْلِسٍ حَتّٰى يَدْعُوَ بِهٰؤُلَاءِ الدَّعَوَاتِ لِأَصْحَابِهِ : " اَللّٰهُمَّ اقْسِمْ لَنَا مِنْ خَشْيَتِكَ مَا تَحُوْلُ بِهٖ بَيْنَنَا وَبَيْنَ مَعَاصِيْكَ وَمِنْ طَاعَتِكَ مَا تُبَلِّغُنَا بِهٖ جَنَّتَكَ وَمِنَ الْيَقِيْنِ مَا تُهَوِّنُ بِهٖ عَلَيْنَا مُصِيْبَاتِ الدُّنْيَا، وَمَتِّعْنَا بِأَسْمَاعِنَا وَأَبْصَارِنَا وَقُوَّتِنَا مَا أَحْيَيْتَنَا وَاجْعَلْهُ الْوَارِثَ مِنَّا، وَاجْعَلْ ثَأْرَنَا عَلٰى مَنْ ظَلَمَنَا وَانْصُرْنَا عَلٰى مَنْ عَادَانَا وَلَا تَجْعَلْ مُصِيْبَتَنَا فِيْ دِيْنِنَا وَلَا تَجْعَلِ الدُّنْيَا أَكْبَرَ هَمِّنَا، وَلَا مَبْلَغَ عِلْمِنَا وَلَا تُسَلِّطْ عَلَيْنَا مَنْ لَا يَرْحَمُنَا ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ

ترجمه : او جناب عبد الله بن عمر ﷺ فرمائي : ډير کم کرته به رسول الله ﷺ د يو مجلس نه پاڅيدو تردے چه خپل ملګروته به ئے پدے دعاګانو سره دعاء کوله : اللهم اقسم لنا الخ- اے الله ! برخه راکړه مونږ ته د خپلے يرے نه هغه اندازه چه تهٔ پرده واقع کوے په هغے سره زمونږ ترمينځ او ستا د نافرمانيو ترمينځ او ستا د طاعت نه هغه اندازه راکړه چه تهٔ مونږ په هغے سره ورسوے خپل جنت ته، او د يقين نه هغه اندازه چه تهٔ په هغے سره په مونږ باندے د دنيا مصيبتونه آسان کړے، او مونږ ته زمونږ په غوږونو او زمونږ په سترګو او قوتونو فائده راکړه څو پورے چه تهٔ مونږ ژوندی ساتے، او دا زمونږ نه روستو پاتے جوړ کړه، او زمونږ کينه او بدله په هغه چا باندے وګرځوه چه په مونږ باندے ظلم کوی- (يعنی مونږ ته دومره طاقت راکړه چه مونږ د خپلو ظالمانو نه بدله واخلو، يا زمونږ د طرف نه تهٔ د هغوی نه بدله واخله) او مونږ سره مدد وکړه په هغه چا باندے چه زمونږ سره دشمنی کوی او مهٔ ګرزوه مصيبت زمونږ په دين زمونږ کښے او مهٔ ګرزوه دنيا لوی مقصد زمونږ (د فکرونو مرکز زمونږ) او زمونږ د علم آخر سر، او په مونږ باندے مهٔ مسلط کوه هغه څوک چه په مونږ باندے رحم نهٔ کوی- (ترمذیؒ روايت کړيدے او وئيلی ئے دی چه دا حديث حسن غريب دے) -

تشريح : قَلَّمَا : مَا كَافّه مُلْغَاةُ الْعَمَلِ د قَلَّ پورے پيوسته شوه نو عمل ئے ورله ختم کړو او قَلَّ اُوس فاعل نهٔ غواړی، نو دا بيا دوه معانی لری، يو صرف په معنیٰ د نفی سره، دويم د معمولی شی اثبات- نو دلته صرف په معنیٰ د نفی سره دے- اَیْ مَا کَانَ- يعنی نهٔ وو-

لِأَصْحَابِهِ : يعنى خپلو ملگروته به ئے په مجلس كښے دا دعاء كوله.
اقْسِمْ لَنَا : يعنى مونږ ته برخه راكړه د خپل خشيت نه دومره اندازه چه تهٔ پرے مونږ د گناهونو نه بچ وساتے.
تَحُولُ : دا يا مخاطب صيغه ده، يعنى چه تهٔ پرده واقع كيږے د هغے په سبب زمونږ او زمونږ د گناهونو ترمينځ. او په بعض نسخو د ترمذى كښ (يَحُولُ) دے، نو ضمير په كښے (ما) ته راجع دے، چه مراد ترے حصه او برخه ده.
وَبَيْنَ مَعَاصِيكَ : ځكه چه د گناهونو نه لوى منع كونكے شے د الله تعالىٰ نه خشيت او يره كول دى. او بعض وائى چه زړهٔ چه كله د خوف نه ډك شى، نو اندامونه د گناهونو نه منع شى، او څومره چه خوف كميږى نو هغومره په گناهونو باندے ورتلل وى، خو كله چه خوف بيخى كم شى، او غفلت غلبه وكړى نو دا علامه د بد بختيا ده،
ددے وجه نه اهل علم وائى : گناهونه د كفر ډاكى دے، لكه خكلول د جماع ډاكى دے، او تهنگ تهكور د زنا ډاكى دے، او نظر د عشق او مرض د مرگ ډاكى دے، او د گناهونو ډير بد آثار دى چه عقل او بدن او دنيا او دين ته نقصان وركوى.
تُبَلِّغُنَا بِهِ : يعنى تهٔ مونږ ورسوے په هغے سره. سَرَه د رحمت ستا نه.
وَمِنَ الْيَقِينِ : په تا باندے او ستا په وعدو او تقدير باندے دومره يقين راكړه چه په هغے سره مونږ ته مصيبتونه د دنيا او د آخرت آسان شى.
وَمَتِّعْنَا : د تمتيع نه دے، يعنى مونږ ته فائدے راكړه.
بِأَسْمَاعِنَا : په غوږونو سره چه دا ستا په طاعت كښے استعمال كړو. يا دا تر مرگ پورے روغ رمټ وساته چه ددے نه فائده واخلو.
او دا دواړه ئے خاص كړل ځكه چه د الله تعالىٰ معرفت او د هغهٔ توحيد ته رسونكى دلائل پدے دواړو لارو سره معلوميږى ځكه چه څه مُنَزل آيتونه دى او څه آفاقى دليلونه دى. اول په غوږونو معلوميږى او دويم په سترگو سره.
او كله چه دا دواړه حاصل شى نو پدے باندے عبادت مرتب كيږى نو قوت ئے وغوښتو دے دپاره چه په هغے سره د الله په بندگئ باندے قادر شى.
وَقُوَّتِنَا : د قوت نه مراد د باقى اندامونو طاقت دے.
وَاجْعَلْهُ : ضمير مذكور ته راجع دے.

الْوَارِثَ : يعنى باقيمانده، او روستو پاتے۔ يعنى چه په ژوند كښے خراب نشي۔
ثَأْرَنَا : يعنى وګرزوه موندل د بدلے زمونږ په هغه چا باندے چه په مونږه ئے ظلم كړيدے۔ يعنى صرف او صرف زمونږ بدله د ظالم نه واخله، او داسے ونشي چه مونږ په غير ظالم باندے زياتے وكړو۔
ثأر په اصل كښے حقد (كينه) او غضب ته وائي۔ بيا ئے غالب استعمال په انتقام او د وينے په بدله اخستو كښ شويدے۔
عَادَانَا : چه مونږ سره ئے دشمنى كړيده۔ يعنى مونږ د هغهٔ په بدله باندے قادر كړه او مونږ لره ترے بدله واخله۔
مُصِيْبَتَنَا فِيْ دِيْنِنَا : يعنى داسے مصيبت مهٔ رارسوه چه په هغے سره زمونږ دين كښے نقصان راشي چه غلطه عقيده اختيار كړو، يا حرام مال وخورو، يا په عبادت كښے سست شو۔
أَكْبَرَ هَمِّنَا : هَمّ قصد او غم ته وائي۔ يعنى طلب د مال او جاه زمونږ لوى مقصد او لوى غم مهٔ ګرزوه۔ يا زمونږ لوى قصد يا غم د دنيا د وجه نه مهٔ ګرزوه بلكه زمونږ لوى مقصد او لوى غم د آخرت د كارونو دپاره وګرزوه۔
دے نه معلومه شوه چه لږ قصد او لږ غم د طلب د معاش دپاره جائز بلكه مستحب بلكه واجب دے۔ (مرعاة المفاتيح)
وَلَا مَبْلَغَ عِلْمِنَا : يعنى غايه او مقصد او انتهاء د علم زمونږ، چه زمونږ پوهه صرف دنيا ته رسيږى او صرف د دنيا فكر راسره وى۔
وَلَا تُسَلِّطْ : ١- يعنى ظالمان زمونږ حاكمان مهٔ جوړه وه۔
٢- ددے نه مراد ملائك د عذاب او د قبر دى۔ دواړه صحيح دى۔
درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه الترمذى (٣٥٠٢) والنسائى فى عمل اليوم والليلة (٤٠١) وابن السنى (٤٤٨) والحاكم (١/٥٢٨) وقال صحيح على شرط البخارى ووافقه الذهبي .

- 2493(12) وَعَنْ أَبِىْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ : " اَللّٰهُمَّ انْفَعْنِىْ بِمَا عَلَّمْتَنِىْ وَعَلِّمْنِىْ مَا يَنْفَعُنِىْ وَزِدْنِىْ عِلْمًا، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰى كُلِّ حَالٍ وَأَعُوْذُ بِاللهِ مِنْ

حَالِ أَهْلِ النَّارِ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَه وَقَالَ التِّرمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ إِسْنَادًا.

ترجمه : او جناب ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ به فرمايل : اللهم انفعني الخ۔ اے الله! ما ته فائده راكړه په هغه څه چه تا پرے ما ته پو هه راكړے او راوښايه ما ته هغه څه چه فائده راكړي ما ته، او زيات كړه زما علم، حمدونه خاص الله لره دي په هر حال كښے، او زهٔ په الله پورے پناه نيسم د حال د اُور والو نه۔ (ترمذيؒ، ابن ماجهؒ او امام ترمذيؒ وئيلي دي : دا حديث غريب سند والا دے)۔

تشريح : مَا يَنْفَعُنِيْ : دا دليل دے چه بنده به د علم نه هغه طلب كوي چه نافع وي، او نافع هغه علم دے چه د دين سره بالذات تعلق لري، يا د دنيا سره تعلق لري ليكن په دين باندے انسان آماده كوي۔

اوكه صرف د دنيا علم وي نو د هغے په باره كښے الله فرمائي :

﴿ وَيَتَعَلَّمُوْنَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ ﴾ (بقره: ١٠٢)

(يهوديانو به هغه علم زده كولو چه ضرر به ئے وركولو او فائده ئے نهٔ وركوله)۔

نو دلته ئے د سِحر علم نه نفي وكړه ځكه چه په آخرت كښے ئے فائده نهٔ وركوله اګركه دوي ته به ئے په دنيا كښے فائده وركوله۔

وَزِدْنِيْ عِلْمًا : د علم زيادت ئے وغوښتو، پدے كښے اشاره ده چه چا په خپل علم عمل وكړو نو الله به ورته د هغه شي علم وركړي چه په كوم نهٔ پو هيږي۔

او دارنګه پدے كښے اشاره ده چه په علم كښے به زيادت طلب كولے شي تردے چه انسان لره الله تعالىٰ ته ورسوي، نو دے نه معلومه شوه چه علم د عمل دپاره وسيله ده، او دواړه متلازمان دي۔

عَلٰى كُلِّ حَالٍ : يعني د خوشحالئ او د تكليف په ټولو حالتونو كښے الله تعالىٰ لره حمد دے، ځكه چه الله تعالىٰ پرے ددے نه سخت تكليف نازل نكړو۔

يا ډير كرته په مصيبت او تكليف كښے هغه مزيدار عواقب او عزتمنے تحفے وي چه په هغے باندے د الله تعالىٰ حمد كول پكار دي۔

غزاليؒ وائي : د تكليف او مصيبت نه شاته داسے نعمتونه او فائدے ترلے شوي وي چه په هغے باندے شكر او حمد وئيل پكار دي۔

حَالِ أَهْلِ النَّارِ : يعنى د فسق او كفر نه په دنيا كښې او د عذاب او سزا نه په آخرت كښې۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه الترمذى (٣٥٩٣) وابن ماجه (٢٥١) (٣٨٣٣) فى إسناده موسى بن عبيدة الربذى عن محمد بن ثابت وموسى ضعفه النسائي وغيره ومحمد بن ثابت لم يروه عنه غير موسى قال الذهبى مجهول، (ذكره المناوى) وقال الحافظ فى التقريب (محمد بن ثابت عن ابى هريرة مجهول).

- 2494(13) وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ﷺ قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ الْوَحْيُ سُمِعَ عِنْدَ وَجْهِهِ دَوِيٌّ كَدَوِيِّ النَّحْلِ فَأُنْزِلَ عَلَيْهِ يَوْمًا فَمَكَثْنَا سَاعَةً فَسُرِّيَ عَنْهُ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ وَقَالَ : " اَللّٰهُمَّ زِدْنَا وَلَا تَنْقُصْنَا وَأَكْرِمْنَا وَلَا تُهِنَّا وَأَعْطِنَا وَلَا تَحْرِمْنَا وَآثِرْنَا وَلَا تُؤْثِرْ عَلَيْنَا وَأَرْضِنَا وَارْضَ عَنَّا ". ثُمَّ قَالَ : " أُنْزِلَ عَلَيَّ عَشْرُ آيَاتٍ مَنْ أَقَامَهُنَّ دَخَلَ الْجَنَّةَ "ثُمَّ قَرَأَ : (قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ) حَتّٰى خَتَمَ عَشْرَ آيَاتٍ . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او عمر بن خطاب ﷺ فرمائى : نبى كريم ﷺ باندې به چه كله وحى نازلولے شوه (نو) د هغه مخې ته به شور آوريدے كيدو لكه د مچو د شور په شان، نو يوه ورځ په هغهٔ باندې وحى نازله كړے شوه نو مونږ لږ وخت ايسار شو (پدې انتظار كښې چه د وحى د نزول چه كومه سختى په هغهٔ باندې وه هغه ختمه شى) نو د هغهٔ نه د وحى كيفيت لرې كړے شو نو قبلې ته ئې مخ كړو او دواړه لاسونه ئې پورته كړل او وې فرمايل : اللهم زدنا الخ۔ اے الله ! زمونږ (دنياوى او اُخروى نعمتونه يا د مسلمانانو تعداد) زيات كړه، او ميونږ مهٔ كموه او مونږ ته عزت راكړه او مونږ (ددې نعمتونو نه د محروم كيدو په وجه) مهٔ ذليله كوه۔ او مونږ ته (د دنيا او د آخرت خيگړې) راكړه او مونږ مهٔ محرومه وه او مونږ غوره جوړ كړه او په مونږ باندې نور مهٔ غوره كوه (يا په مونږ باندې زمونږ دشمن مهٔ غالبه كوه) او مونږ راضى كړه او زمونږ نه راضى شه، بيا ئې وفرمايل : په ما باندې لس آيتونه نازل شويدى، چا چه په هغې باندې عمل وكړو جنت ته به داخليږى، بيا ئې ولوستل : قد افلح المؤمنون تردې چه لس آيتونه ئې ختم كړل۔ (احمدؒ، ترمذىؒ)

تشریح: عِنْدَ وَجْهِهٖ : يعنى د هغهٔ د مخ په خوا كښې۔
دُوِیٌّ : ګونړاړے، بنګیدل۔ چه بل څوك ئے په آواز باندے نهٔ پوهيږى، او دا د جبريل عليه السلام آواز وو چه رسول الله ﷺ ته به ئے وحى راوړله او نورو حاضرينو به هغه نهٔ آوريدو۔
يا د وحى د دِرون والى په وجه به د رسول الله ﷺ د خولے مبارکے نه آوسيلى ختل۔
فَمَكَثْنَا : يعنى مونږ لږ وخت ايسار شو چه انتظار مو کولو چه د رسول الله ﷺ حالت برابر شى۔
فَسُرِّیَ : د تَسرِيَه نه دے، كشف او ازالے ته وائى۔ يعنى لرے كړے شو ددهٔ نه دا حالت او كيفيت او سختى د وحى۔
زِدْنَا : يعنى زمونږ خير او ترقى زياته كړه۔ يا زمونږ نفرى زياته كړه۔
وَلَا تَنْقُصْنَا : يعنى زمونږ خير او مرتبه او شمار او سامانونه مهٔ كموه۔
وَأَكْرِمْنَا : يعنى مونږ ته عزت راكړه په پوره کولو د حاجتونو د دنيا او په پورته کولو د مرتبو زمونږ په آخرت كښے۔
وَلَا تُهِنَّا : د اِهانة نه دے، په اصل كښ تُهْوِنَنَا دے، يعنى مونږ مهٔ سپكوه او مهٔ ذليله كوه۔
وَآثِرْنَا : د اِيْثَار نه دے، اَیْ اِخْتَرْنَا بِرَحْمَتِكَ وَاِكْرَامِكَ وَعِنَايَتِكَ۔
يعنى مونږ غوره كړه په خپل رحمت او اكرام او مهربانئ سره۔
وَلَا تُؤْثِرْ عَلَيْنَا : يعنى مونږ باندے بل څوك مهٔ غوره كوه، چه رحمت بل چا ته وركړے او مونږ ترے محروم كړے۔ يا معنىٰ دا : لَا تَغْلِبْ عَلَيْنَا أَعْدَاءَ نَا۔
مونږ باندے زمونږ دشمنان مهٔ غالبه كوه۔
وَأَرْضِنَا : يعنى مونږ راضى كړه د خپل ځان نه۔ يعنى ستا په تقدير او فيصله باندے مو راضى وګرزوه۔
وَارْضَ عَنَّا : مونږ نه راضى شه په لږ طاعت كوم چه زمونږ د وَس مطابق دے۔
أُنْزِلَ عَلَیَّ : يعنى ما باندے اُوس نازل شو۔
مَنْ أَقَامَهُنَّ : يعنى چا چه ددے حفاظت وكړو او پدے ئے هميشوالے وكړو او عمل ئے پرے وكړو۔
دَخَلَ الْجَنَّةَ : يعنى اول كښے به جنت ته داخل شى۔ د حديث د زياتے تشريح او فوائدو

دپاره تحفة الذاكرين د علامه شوكانيؒ ته رجوع وكړئ۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه احمد (١/٢٤) (٢٢٣) والترمذى (٣١٧٣) والنسائي في الكبرى كما في تحفة الاشراف (٨/٨٣) الحديث (١٠٥٩٣) وصححه الحاكم في المستدرك (١/٥٣٥) (٢/٣٩٢) ووافقه الذهبي مع ان فيه يونس بن سليم الصنعاني وهو مجهول (تقريب) ويونس بن يزيد الأيلي في روايته عن الزهري وهمٌ قليل، وضعفه الالباني ايضا.

الفصل الثالث

- 2495(14) عَنْ عُثْمَانَ بْنِ حُنَيْفٍ ﷺ قَالَ : إِنَّ رَجُلًا ضَرِيْرَ الْبَصَرِ أَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَ :اُدْعُ اللهَ أَنْ يُّعَافِيَنِيْ فَقَالَ : " إِنْ شِئْتَ دَعَوْتُ وَإِنْ شِئْتَ صَبَرْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ ". قَالَ : فَادْعُهُ، قَالَ : فَأَمَرَهُ أَنْ يَّتَوَضَّأَ فَيُحْسِنُ الْوُضُوْءَ وَيَدْعُوْ بِهٰذَا الدُّعَاءِ : " اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ وَأَتَوَجَّهُ إِلَيْكَ بِنَبِيِّكَ مُحَمَّدٍ نَبِيِّ الرَّحْمَةِ إِنِّيْ تَوَجَّهْتُ بِكَ إِلٰى رَبِّيْ لِيَقْضِيَ لِيْ فِيْ حَاجَتِيْ هٰذِهِ اَللّٰهُمَّ فَشَفِّعْهُ فِيَّ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ غَرِيْبٌ

ترجمه : او جناب عثمان بن حُنَيف ﷺ فرمائي : يو ړوند سړے نبي كريم ﷺ ته راغلو عرض ئے وكړو : د الله تعالىٰ نه وغواړه چه ما روغ كړي، نو نبي كريم ﷺ وفرمايل : كه ته غواړے دعاء به وكړم او كه غواړے صبر وكړه نو دا به ستا دپاره غوره وي۔ هغهٔ ووېل : د الله نه دعاء وغواړه۔ نو رسول الله ﷺ هغهٔ ته حكم وكړو چه هغه اودس وكړي او ښائسته اودس وكړي او بيا دا دعاء ووائي : اللهم انى اسألك الخ اے الله ! زهٔ تا نه سوال كوم او تا ته متوجه كوم ستا نبي محمد (ﷺ) چه د رحمت نبي دے، يقيناً زهٔ تا خپل رب ته متوجه كوم دے دپاره چه زما دا حاجت پوره كړي، اے الله ! ددهٔ سفارش زما په باره كښے قبول كړه۔ (دا ترمذيؒ روايت كړيدے او وئيلي ئے دي چه دا حديث حسن صحيح غريب دے)۔

تشريح : عثمان بن حنيف : بن واهب الانصارى الاوسى المدنى ﷺ مشهور صحابي دے، اُحد او روستو غزواتو كښے شريك شوے۔ سيدنا عمر فاروق ﷺ په سواد العراق باندے گورنر مقرر كړے وو، او علي بن ابى طالب ﷺ په بصره باندے، بيا په واقعه د جَمَل

كښې طلحه او زبير رضى الله عنهما د بصرې نه وويستو. او دې په كوفه كښې وسيدو.
او د معاويه رضي الله عنه په خلافت كښې وفات دې.
ضَرِيرَ الْبَصَرِ : يعنى ضعيف نظر والا يا روند. (القاريؒ)
مګر په روايت د نسائى كښې دى [إِنَّ أَعْمٰى أَتَى النَّبِيَّ ﷺ] يو روند راغلو.
فَأْمَرَهُ : يعنى رسول الله ﷺ يواځې په خپله دعاء اكتفاء ونكړه بلكه دې ئې ځان سره په
دعاء كښې شريك كړو، چه زهٔ به درله سفارش كوم او تهٔ هم دا دعاء وكړه.
فَيُحْسِنُ الْوُضُوْءَ : په روايت د ابن ماجهؒ او حاكمؒ كښې ورسره داسې الفاظ هم دى :
[وَيُصَلِّيْ رَكْعَتَيْنِ] يعنى دې دې دوه ركعاته مونځ هم وكړى.
أَسْأَلُكَ : يعنى زهٔ تا نه خپل حاجت غواړم.
وَأَتَوَجَّهُ إِلَيْكَ بِنَبِيِّكَ : يعنى زهٔ تا ته د نبى دعاء او د هغهٔ سفارش متوجه كوم.
إِنِّيْ تَوَجَّهْتُ بِكَ : بيا ئې خطاب وكړو نبى كريم ﷺ ته، چه زهٔ تا خپل رب ته متوجه
كوم. ګويا كه د رسول الله ﷺ دعاء ئې الله ته وسيله كړه، او په زړهٔ كښې ئې رسول الله ﷺ
حاضر كړو او د هغهٔ د دعاء تصور ئې وكړو، لكه څرنګ چه په تشهد كښې [اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ
أَيُّهَا النَّبِيُّ] په زړهٔ كښې حاضرولې شى.
إِنِّيْ تَوَجَّهْتُ بِكَ إِلٰى رَبِّيْ : باء د استعانت دپاره ده. يعنى زهٔ متوجه شوم خپل رب ته
په مدد د دعاء ستا سره.
فَشَفِّعْهُ فِيَّ : دا الفاظ ښكاره دليل دې چه دا دعاء ده په دعاء د نبى كريم ﷺ باندې
ځكه چه شفاعت نهٔ وى مګر په دعاء سره، ځكه كه دا توسل بالذات وې، نو بيا د
شفاعت هيڅ معنىٰ نهٔ جوړيږى، شفاعت خو هله وى چه سفارش كونكے څه خو
ووائى. او دلته رسول الله ﷺ هم دعاء كوى او دې هم دعاء كوى.
نو ددې مثال داسې دې لكه چه تهٔ يو تن ته ووائې چه ما له دعاء وغواړه او بيا الله ته
ووائې چه اې الله ! دا فلانے چه زما دپاره كوم سفارش كوى او دعاء غواړى، دا زما په حق
كښې قبول كړه. او دا كار جائز دې. او دا توسل دې په خپله دعاء سره او په دعاء د يو
ژوندى سره. او دا جائز دې.
او دا حديث اول نه د توسل په باره كښې نهٔ دې بلكه د دعاء په باره كښې دې. لكه إِنْ
شِئْتَ دَعَوْتُ لفظ پرې دليل دې، او په (فَشَفِّعْهُ فِيَّ) لفظ دليل دې.

بله دا چه (اَتَوَجَّهُ اِلَيْكَ بِنَبِيِّكَ) كښې او په (تَوَجَّهْتُ بِكَ) د توجه نه مراد توجه په عمل سره ده، نۀ په ذات سره، او عمل نه مراد دلته دعاء او شفاعت دے۔ فتدبر۔

علامه مناوىؒ وائى : دے شخص اول كښې د الله نه په طريقه د خطاب سره سوال وكړو چه خپل نبى ته اجازت وركړى چه هغه ددۀ دپاره سفارش وكړى، بيا نبى كريم ﷺ ته متوجه شو چه د هغۀ نه ئے سفارش طلب كولو، بيا خپل رب ته متوجه شو چه د هغۀ نه ئے دا غوښتل چه د نبى كريم ﷺ سفارش ددۀ په حق كښې قبول كړى۔

د توسل په باب كښې صحيح عقيده دا ده چه په نبى كريم ﷺ باندے توسل كول د هغۀ په ژوند كښې يعنى د هغۀ په دعاء او د هغه په سفارش باندے وسيله نيول جائز دى، لكه چه دا پدے حديث د اعمىٰ كښې مراد دے،

او د رسول الله ﷺ نه علاوه په نورو نيكانو باندے د هغوى په ژوند كښې د هغوى په دعاء او سفارش سره وسيله نيول هم جائز دى، او هرچه پس د مرگ نه په رسول الله ﷺ يا په نورو نيكانو باندے وسيله نيول دى، نو دا جائز نۀ دى، برابره ده چه د هغوى په ذواتو باندے وى او كه د هغوى په جاه، حرمت، طفيل، كرامت او حق باندے وى، نو دا په اسلام كښې بدعت دے، او دا قول د ائمه اربعو دے۔ فقه حنفى كښې دى :

[وَيُكْرَهُ اَنْ يَّقُوْلَ الرَّجُلُ فِيْ دُعَائِهٖ بِحَقِّ فُلَانٍ اَوْ بِحَقِّ اَنْبِيَائِكَ وَرُسُلِكَ لِاَنَّهٗ لَا حَقَّ لِلْمَخْلُوْقِ عَلَى الْخَالِقِ] [العناية شرح الهداية ١٤/٢٩٦، فتح القدير ٢٢/٣١١ وغيره]۔

(دا مكروه دى چه يو سړے په دعاء كښې ووائى : زۀ تا نه سوال كوم په حق د فلانى او په حق د انبياء او رسولانو ستاسو، ځكه چه د مخلوق په خالق باندے هيڅ واجب حق نشته)

دارنگه مړو او غائبينو ته د مدد آوازونه كول جائز نۀ دى، لكه همدا خبره شيخ الاسلام ابن تيميهؒ په خپله رساله التوسل والوسيله كښې ذكر كړيده۔

او ددے مسئلے زيات تفصيل علامه شهسوانىؒ په ((صيانة الانسان)) كښې كړيدے۔

صاحب المنار وائى : كوم خلق چه وسيله په اشخاصو سره نيسى، نو د هغوى د حال نه دا معلومه ده چه دوئ د دغه اشخاصو په ذواتو باندے وسيله نيسى كوم چه په خپلو صفاتو او اعمالو باندے مشهور دى ځكه چه دوئ دا عقيده لرى چه ددے خلقو دپاره په حاصليدو د مطلوب كښې تاثير دے، كله چه په دوئ سره وسيله ونيول شى يا الله تعالىٰ د

دوئ د وجه نه کار کوی، یا دوئ خپله حاجتونه پوره کوی د وجه د کرامت د دوئ نه، او مونږ دا دواړه خبرې د دوئ نه آوریدلی دی او دواړه خبرې باطلې دی۔

او هر چه دا روایت د ضریر البصر دے، نو د اکثرو ائمو په نیز ضعیف دے۔ ځکه چه په روایت کښې ئې ابوجعفر دے او د هغۀ په باره کښې شك دے چه که هغه خطمی شی نو هغه قوی راوی دے او که غیر خطمی شی نو هغه ضعیف دے،

او امام ترمذیؒ وئیلی دی چه هغه غیر خطمی دے، لیکن روایت ته ئې پدے وجه صحیح وئیلے دے چه شعبه ترے نقل کړیدے او شعبهؒ د ثقاتو نه روایت نقل کوی مگر ترمذیؒ په تصحیح او تحسین کښې متساهل دے د حاکمؒ په شان، پدے وجه شعبهؒ کله نا کله د غیر ثقاتو نه هم روایت نقل کوی۔ لکه ددے تفصیل صاحب المرعاة کړیدے، هغے ته رجوع وکړه۔

او چونکه ترمذیؒ د خپلو راویانو په باره کښې زیات بصیرت والا دے پدے وجه هغه چه وائی دا غیر خطمی دے، نو د هغۀ قول لره به ترجیح وی۔ مگر په روایت د ابونعیم کښې په معجم الصحابه رقم: (٤٩٢٦) کښې تصریح ده چه دا خطمی دے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه الترمذي (٣٥٧٣) واحمد (١٧٢٧٩) وصحيح ابن خزيمة (١٢١٨) وصححه الأعظمي والالباني وقال المنذرى اسناده صحيح او حسن او ما قاربهما (الترغيب والترهيب ١/٣٢٦).

- 2496 (15) وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" كَانَ مِنْ دُعَاءِ دَاوٗدَ يَقُوْلُ : " اَللّٰهُمَّ إِنِّیْ أَسْأَلُكَ حُبَّكَ وَحُبَّ مَنْ يُّحِبُّكَ وَالْعَمَلَ الَّذِیْ يُبَلِّغُنِیْ حُبَّكَ، اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ حُبَّكَ أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْ نَفْسِیْ وَمَالِیْ وَأَهْلِیْ وَمِنَ الْمَاءِ الْبَارِدِ ". قَالَ : وَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا ذَكَرَ دَاوٗدَ يُحَدِّثُ عَنْهُ يَقُوْلُ :" كَانَ أَعْبَدَ الْبَشَرِ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ

ترجمه : او جناب ابودرداء ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : د داود ﷺ د دعا گانو نه (یوه دعاء) دا وه چه هغۀ به فرمایل : اللهم انی اسألك الخ۔ اے الله ! زۀ ستا نه ستا محبت غواړم او د هغه چا محبت چه تا سره محبت کوی او هغه عمل چه ما ستا

محبت ته ورسوی، اے الله ! وګرزوه خپل محبت ډیر محبوب ما ته د خپل نفس نه او د خپل مال نه او د خپل اهل نه او د یخو اُوبو نه۔

ابو درداء ﷺ فرمائی : او رسول الله ﷺ به چه هرکله داود علیه السلام رایاد کړو نو د هغهٔ په باره کښې به ئے دا بیان کولو چه هغه د ټولو انسانانو نه زیات عبادت ګذار وو۔ (دا ترمذیؒ روایت کړیدے او وئیلی ئے دی چه دا حدیث حسن غریب دے)۔

تشريح : يَقُوْلُ : دا په تقدير د اَنْ سره اسم د کان دے۔

حُبَّكَ : دا اضافت د مصدر دے فاعل یا مفعول ته۔ یعنی زما محبت تا سره۔ یا ستا محبت ما سره۔

وَالْعَمَلَ الَّذِىْ: دا منصوب دے په (حبك) باندے عطف دے، او د اَسْأَلُكَ مفعول دے۔

يُبَلِّغُنِىْ حُبَّكَ : یعنی چه ما رسوی ستا محبت ته۔

اجْعَلْ حُبَّكَ : یعنی زما محبت تا سره۔

الْمَاءِ الْبَارِدِ : دا ورسره ځکه وائی چه د یخو سره محبت ساتل فطری /طبعی غیر اختیاری شے دے، نو پدے کښې اشاره ده چه دا محبت زما طبیعت او فطرت ته داخل شوے وی، او دا د محبت اعلیٰ مرتبه ده۔

يَقُوْلُ : دا جواب د اِذَا دے۔

كَانَ اَعْبَدَ الْبَشَرِ : طیبیؒ وائی : یعنی په خپله زمانه کښې د ټولو نه زیات عبادت ګذار وو۔

علی القاریؒ وائی : که مطلقاً مراد واخستے شی نو هم څه ممانعت نشته ځکه چه د اعبدیت نه دا نهٔ لازمیږی چه انسان به زیات عالِم وی، پاتے لا افضلیت۔

درجة الحديث : إسناده ضعيف : أخرجه الترمذی (٣٤٩٠) فيه عبد الله بن ربيعة بن يزيد الدمشقی قال احمد : احاديثه موضوعة، وقال الحافظ ابن حجر : مجهول . و قوله (كَانَ دَاوُدَ اَعْبَدَ الْبَشَرِ) له شاهد من حديث ابن عمرو، رواه مسلم)

- 2497(16) وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ : صَلّٰى بِنَا عَمَّارُ بْنُ يَاسِرٍ ﷺ صَلَاةً فَأَوْجَزَ فِيهَا فَقَالَ لَهُ بَعْضُ الْقَوْمِ : لَقَدْ خَفَّفْتَ وَأَوْجَزْتَ الصَّلَاةَ فَقَالَ أَمَّا عَلَىَّ ذٰلِكَ لَقَدْ دَعَوْتُ فِيهَا بِدَعَوَاتٍ سَمِعْتُهُنَّ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَلَمَّا قَامَ تَبِعَهُ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ هُوَ

أَبِيْ غَيْرَ أَنَّهُ كَنٰى عَنْ نَفْسِهٖ فَسَأَلَهُ عَنِ الدُّعَاءِ ثُمَّ جَاءَ فَأَخْبَرَ بِهِ الْقَوْمَ : " اَللّٰهُمَّ بِعِلْمِكَ الْغَيْبَ وَقُدْرَتِكَ عَلَى الْخَلْقِ أَحْيِنِيْ مَا عَلِمْتَ الْحَيَاةَ خَيْرًا لِيْ وَتَوَفَّنِيْ إِذَا عَلِمْتَ الْوَفَاةَ خَيْرًا لِيْ، اَللّٰهُمَّ وَأَسْأَلُكَ خَشْيَتَكَ فِي الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، وَأَسْأَلُكَ كَلِمَةَ الْحَقِّ فِي الرِّضٰى وَالْغَضَبِ وَأَسْأَلُكَ الْقَصْدَ فِي الْفَقْرِ وَالْغِنٰى وَأَسْأَلُكَ نَعِيْمًا لَا يَنْفَدُ وَأَسْأَلُكَ قُرَّةَ عَيْنٍ لَا تَنْقَطِعُ وَأَسْأَلُكَ الرِّضٰى بَعْدَ الْقَضَاءِ وَأَسْأَلُكَ بَرْدَ الْعَيْشِ بَعْدَ الْمَوْتِ وَأَسْأَلُكَ لَذَّةَ النَّظَرِ إِلٰى وَجْهِكَ وَالشَّوْقَ إِلٰى لِقَائِكَ فِيْ غَيْرِ ضَرَّاءَ مُضِرَّةٍ وَلَا فِتْنَةٍ مُضِلَّةٍ، اَللّٰهُمَّ زَيِّنَّا بِزِيْنَةِ الْإِيْمَانِ وَاجْعَلْنَا هُدَاةً مَهْدِيِّيْنَ ". رَوَاهُ النَّسَائِيُّ

ترجمه : او عطاء بن سائب رحمه الله د خپل پلار نه نقل کوی فرمائی : مونږ ته عمار بن یاسر ﷛ یو مونځ وکړو نو په هغې کښې ئې اختصار وکړو، نو هغهٔ ته بعض خلقو وویل : یقیناً تا آسان او مختصر مونځ وکړو، نو هغهٔ وفرمایل : زما دپاره دد ے تخفیف هیڅ ضرر نشته ځکه چه ما پد ے کښې هغه دعاګانې وکړ ے چه ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلے وې، بیا هر کله چه پاڅیدو نو د هغهٔ پسے د خلقو نه یو سړ ے روان شو (عطاءؒ وائی) چه هغه زما پلار وو لیکن هغهٔ خپل ځان پټ ساتلے دے، (یعنی هغهٔ دا بیان کړی چه عمار ﷛ سره زهٔ روان شوم بلکه د خپل ځان د پټ ساتلو دپاره ئې داسے وویل چه یو شخص د هغهٔ سره شو) نو هغهٔ د عمار نه د هغه دعاء په باره کښې تپوس وکړو بیا راغے او په هغې سره ئې خلقو ته خبر ورکړو (هغه دعاء دا ده) اللهم بعلمك الغيب الخ- یعنی اے الله ! تهٔ په حق د علم غیب خپل او په حق د قدرت ستا په مخلوق باند ے ما ژوند ے وساته تر څو پور ے چه تهٔ ژوند زما دپاره غوره ګڼړ ے، او ما وفات کړه کله چه تهٔ وفات زما دپاره بهتر ګڼړ ے- اے الله ! او زهٔ ستا نه په غیب او ښکاره کښې ستا یره غواړم او غواړم ستا نه حقه وینا په خوشحالئ او غصه کښې، او غواړم ستا نه درمیانه روی په فقر او مالدارئ کښې، او غواړم ستا نه داسے نعمتونه چه نهٔ ختمیږی او غواړم ستا نه یخوالے د سترګې چه نهٔ قطع کیږی، او غواړم ستا نه خوشحالی پس د فیصلے (ستا) نه- او غواړم ستا نه یخ ژوند پس د مرګ نه، او غواړم ستا نه خوند مزه د نظر کولو ستامخ ته او شوق ستا ملاقات ته په غیر د تکلیف نه چه ضرر رسوی او بغیر د داسے فتنې نه

چه ګمراه کونکي وي، اے الله ! مونږ د ايمان په ډول باندے ښائسته کړه، او مونږ هدايت کونکي هدايت کړے شوي جوړ کړه۔ (نسائیؒ)

تشريح : عطاء بن السائب الثقفي الكوفيؒ كُنيه ئے ابو محمد ده، حافظ په تقريب كښ وائي : صَدُوْقٌ اِخْتَلَطَ ۔ په سنه (١٣٦) كښ وفات دے، چا چه دده نه د اختلاط نه مخكښے آوريدل كړي لكه ثوريؒ، شعبةؒ، زائدةؒ او حماد بن زيدؒ نو دده حديث صحيح دے، او چا چه تر دے په روستو زمانه كښے آوريدل كړي، نو د هغوي په حديث كښے نظر دے، او د دوئ نه جريرؒ، هُشيمؒ او ابن عُليةؒ دے۔

عَنْ أَبِيْهِ : يعني السائب بن مالكؒ يا ابن زيد الثقفي الكوفيؒ ثقه دے د كبار التابعين نه۔

لَقَدْ خَفَّفْتَ : يعني اركانو كښے دِے تخفيف وكړو، پداسے طريقه چه ادنىٰ درجه اركان دِے ادا كړل۔

وَاَوْجَزْتَ : يعني داسے اختصار دے وكړو چه ادنىٰ درجه سنن دِے پكښے ادا كړل۔

يا د تخفيف نه مراد دا دے چه دعاګانو كښے دِے اختصار وكړو، يا قراءت دِے مختصر وكړو۔

او د جواب مطلب دا وو چه ما اګركه مونځ كښے قراءت كم وكړو ليكن د هغه نقصان جبيره مے په دے دعاء سره وكړه۔

او په روايت د احمدؒ او نسائيؒ كښے دي : خلقو په هغهٔ باندے انكار وكړو نو هغه ووېل : آيا ما ركوع او سجده پوره ونكړه۔ خلقو ووېل : ولے نهٔ۔

شوكانيؒ وائي : كيدے شي چه عمار ﷺ داسے اختصار كړے وي چه دا اختصارئے د هغه مانځه سره برابر نهٔ وي كوم باندے چه دوئ رسول الله ﷺ ليدلے وو ځكه چه بيا د انكار هيڅ وجه نهٔ ښكاره كيږي، ځكه چه په مسلمؒ وغيره كښے دي :

ما د هيچا نه روستو دومره مختصر مونځ نهٔ دے كړے چه هغه د رسول الله ﷺ د مانځه نه ډير مختصر وي، سره د پوره والي نه۔

او د فَاَنْكَرُوْا عَلَيْهِ نه معلومه شوه چه چا په مانځه كښے داسے اختصار وكړو چه هغهٔ ئے پوره ادا نكړو نو هغهٔ باندے انكار كول جائز دي۔

اَمَا عَلَيَّ ذٰلِكَ : دے كښے درے مقاصد دي (١) اما كښ همزه د انكار دپاره ده، او ما

نافيه ده، يعني تاسو خو دا خبره کوئ او په ما باندے انکار کوئ [وَمَا عَلَيَّ ضَرَرٌ مِنْ ذٰلِكَ] حال دا چه په ما باندے ددے هيڅ ضرر نشته.

(٢) يا همزه د نداء د قريب دپاره ده، يعني يَا فُلَانُ لَيْسَ عَلَيَّ ضَرَرٌ مِنْ ذٰلِكَ.
يعني اے فلانيه ! ما باندے ددے هيڅ ضرر نشته.

(٣) اما حرف د تنبيه دے، او په تخفيف سره دے، او [عَلَيَّ بَيَانُ ذٰلِكَ] يعني ما باندے ددے خبرے بيان دے، ظاهر دا ده چه دا اَمَا د خالص تاکيد دپاره راغلے ده.

فِيْهَا : دا به ئے په سجده يا په آخر د مانځه کښے لوستلے وي.

بِدَعَوَاتٍ : دعوات ئے جمع راوړه پدے اعتبار سره چه هره کلمه مستقله دعاء ده.

سَمِعْتُهُنَّ : دا دعاگانے به رسول الله ﷺ يا په مانځه کښے لوستلے نو عمار ﷺ آوريدلى دى، يائے عامو اوقاتو کښے لوستلى دى، او عمار ﷺ پرے په مانځه کښں عمل کړيدے.

كَنٰى عَنْ نَفْسِهٖ : يعني کنايه ئے کړيده ذ خپل ځان نه. يعني خبره ئے د خلقو نه پټه کړيده د ځان په باره کښے.

بِعِلْمِكَ الْغَيْبَ : يعني اے الله ! زهٔ تا نه ستا په علم سره سوال کوم.

مَا عَلِمْتَ الْحَيَاةَ : ما مصدريه ظرفيه ده. يعني ترڅو چه زما دپاره ژوند بهتر وي. چه زهٔ پکښے خيرونه کولے شم او ايمان مے نهٔ خرابيږي.

فِي الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ: ددے نه مقصد ټول اوقات دى. او خشيت د هر خير سر دے.

كَلِمَةَ الْحَقِّ : يعني چه حقه خبره زما د خولے نه وځي.

فِي الرِّضٰى وَالْغَضَبِ : يعني چه خلق زما نه رضا وي يا غصه وي، نو چه زهٔ د هغوى سره مداهنت او منافقت ونکړم. يا په حالت د رضا او غصه زما کښے، چه غصه ما لره د حق خلاف خبرو باندے آماده نکړي.

الْقَصْدَ: يعني درميانه چليدل چه افراط او تفريط پکښں نهٔ وي. يعني نهٔ اسراف وي او نهٔ کموالے. قصد په لغت کښے اِسْتِقَامَةُ الطَّرِيْقِ او اعتدال تـه وائى او کله ضد د تفريط کښں استعماليږي او دلته ئے همدا معنىٰ ظاهره ده. (شوکانیؒ)

لَا يَنْفَدُ: چه نهٔ ختميږي او نهٔ کميږي او دا د آخرت نعمتونه دى.

قُرَّةَ عَيْنٍ لَا تَنْقَطِعُ : د سترگو يخوالى نه مراد نيکان اولاد دى. يعني چه تر قيامته پورے ئے نسل باقي پاتے وي او د الله بندگي کوي.

یا ددې نه مراد په مانځه باندې همیشوالې دې، ځکه چه مونځ د سترګو یخوالې دې.
یا ددې نه مراد د جنت نعمتونه او ثوابونه دی چه نهٔ ختمیږی.
اَلْقَضَاءِ : یعنی تا چه ما ته څه مقرر کړی وی چه په هغې زهٔ راضی شم.
بَرْدَ الْعَيْشِ : یخوالې د ژوند یعنی ښائسته او مزیدار ژوند.
وَالشَّوْقَ إِلٰى لِقَائِكَ : یعنی په آخرت کښې ستا د ملاقات شوق مې پیدا کړه. ځکه چه څوك د الله تعالیٰ محبت خوښوی نو الله تعالیٰ هم د هغهٔ محبت خوښوی. او د الله محبت د اسبابو د مغفرت نه دې. یا ددې نه مراد په جنت کښې د الله تعالیٰ لیدل دی.
فِيْ غَيْرِ ضَرَّاءَ : یعنی په غیر د تکلیف نه. یعنی چه دا شوق زما په سیر او سلوك کښې څه فرق رانهٔ ولی چه ما منع کړی او یا راته تکلیف راکړی.
یا فی غیر ضراء متعلق د اَحْيِنِيْ پورې دې. یعنی ما ژوندې وساته په غیر د تکلیفونو نه. او همدا ظاهر ده. د ضراء سره ئې مُضِرَّةٍ ووئیلو ځکه چه کله تکلیف په انجام کښې فائده ورکوی نو د هغې نه پناهی طلب کول مناسب نهٔ وی، خو چه کله داسې تکلیف وی چه د انسان په اعمالو کښې فرق راولی نو دا ښه نهٔ ده.
فِتْنَةٍ مُضِلَّةٍ : یعنی ګمراه کونکې فتنې. چه انسان په حیرانتیا کښې واچوی، او هلاکت ته ئې بوځی.
بِزِيْنَةِ الْإِيْمَانِ : یعنی چه په ایمان باندې مو همیشه باقی پریدې، او د طاعاتو توفیق راکړې. مناویؒ وائی : ددې نه مراد د باطن زینت دې، ځکه چه زینت په دوه قسمه دې، د بدن زینت او د زړهٔ زینت او دا روستنې ډیر قدر والا دې.
هُدَاةً مَهْدِيِّيْنَ : د انسان کمال دا دې چه حق وپیژنی او بیا ئې تابعدار شی، او بیا ئې بل ته تعلیم ورکړی نو ځکه ئې دا ذکر کړل.
بیا ئې د هُدَاة په صفت کښې مهديين راوړو ځکه چه بل ته لاره خودونکې کله چه خپله مهتدی (هدایت موندونکې) نهٔ وی نو هغه بل ته لاره نشی خودلې، ځکه چه هغه به خلق په غیر شعوری طور سره په ګمراهئ کښې اچوی.
درجة الحدیث : اسناده جید : اخرجه النسائی (٣/٥٤) (٥٥) وابن حبان (١٩٧١) وسماع حماد بن زید من عطاء بن السائب قبل الاختلاط، والبزار (١٣٩٣) وصححه الحاکم (١٩٢٣).

- 2498(17) وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهَا أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَقُولُ فِي دُبُرِ صَلَاةِ الْفَجْرِ : " اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا وَعَمَلًا مُتَقَبَّلًا وَرِزْقًا طَيِّبًا ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَهْ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعْوَاتِ الْكَبِيْرِ.

ترجمه : او ام سلمه رضی الله عنها نه روایت دے چه بیشکه نبی کریم ﷺ به د سهار د مانځه نه روستو داسے دعاء کوله : اللهم انی اسألك الخ۔ اے الله ! زهٔ ستا نه فائده من علم او قبول کړے شوے عمل او پاك رزق غواړم۔ (احمدؔ، ابن ماجهؔ، بیهقیؔ دعواتِ کبیر)

تشریح : دُبُرِ صَلَاةِ الْفَجْرِ : دے نه مراد د سهار مانځه نه روستو دے۔ لکه په روایت د احمد (٣١٨/٦) کښ دی : [كَانَ يَقُوْلُ اِذَا صَلَّى الصُّبْحَ حِيْنَ سَلَّمَ] دا به ئے وئيل کله چه به ئے د سهار د مانځه نه سلام وګرزولو۔

عِلْمًا نَافِعًا : يعنى هغه علم چه عمل پرے وكړم چه زما دپاره حجت شی نهٔ په ما باندے۔ یا علم شرعی مراد دے۔

وَعَمَلًا مُتَقَبَّلًا : يعنى هغه عمل چه په اخلاص سره وی او په تابعدارئ د رسول الله ﷺ سره وی۔ که عمل قبول نشی نو خواری به ضائع شی او نفس به په تکلیف شی۔

وَرِزْقًا طَيِّبًا : مزيدار رزق دا دے چه حلال وی او انسان له په طاعت باندے مددګار جوړ شی۔

په بل روایت د احمدؔ او ابن ماجهؔ کښ د رزق سوال په عمل باندے مخکښ ذکر شویدے۔

او په طبرانی صغیر کښ رزق د علم او عمل دواړو نه مخکښ ذکر شویدے او همدا ترتیب ظاهر دے، او نورو روایاتو کښ کیدے شی چه د راویانو نه تصرف شوے وی۔ (مرعاة)

درجة الحديث : اسناده حسن : اخرجه احمد (٢٩٤/٦) وابن ماجه (٩٢٥) وفي اسناده نظر لأنه من حديث شعبة عن موسى ابن ابى عائشة عن مولى لأم سلمة، قال البوصيرى فى الزوائد : رجال إسناده ثقات خلا مولى ام سلمة فانه لم يسمع ولم أر احدا

صَنَّفَ في المبهمات ذَكَرَهُ، ولا أدري ما حاله آهـ، ولكن الحديث له شاهد عند الطبراني في الصغير ص (١٥٢) من طريق عامر بن ابراهيم بن واقد الأصبهاني عن النعمان بن عبد السلام عن الثوري عن منصور عن الشعبي عن ام سلمة، وهذا سند جيد) قال الهيثمي بعد ذكر الحديث (١١١/١٠) رواه الطبراني في الصغير ورجاله ثقات.

- 2499 (18) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : دُعَاءٌ حَفِظْتُهُ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ لَا أَدَعُهُ : ' اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ أُعْظِمُ شُكْرَكَ وَأُكْثِرُ ذِكْرَكَ وَأَتْبَعُ نُصْحَكَ وَأَحْفَظُ وَصِيَّتَكَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه : او جناب ابو هريره ﷺ فرمائي : يوه دعاء ده چه ما د رسول الله ﷺ نه ياده كړيده، هغه زهٔ (هيڅكله) نهٔ پريدم (هغه دا ده) : اللهم اجعلني الخ۔ اے الله ! ما داسے وګرځوه چه زهٔ ستا لوی شكر وكړم او ستا ذكر زيات وكړم او ستا د خير خواهۍ تابعداري وكړم او ستا وصيتونه ياد كړم۔ (ترمذیؒ)

تشريح : دُعَاءٌ : دا مبتداء ده او (حَفِظْتُهُ) ئے صفت دے او خبرئے (لَا اَدَعُهُ) دے۔

لَا أَدَعُهُ : يعني د وجه د غوره والي د هغے نه ئے زهٔ ئے نهٔ پريدم۔

أُعْظِمُ : اى مُعَظِمًا۔ چه زهٔ لوی او زيات شكر وكړم۔

وَأُكْثِرُ : په تخفيف او تشديد سره دے،

ذِكْرَكَ : يعني په ژبه او په زړهٔ سره۔

وَأَتْبَعُ : د اتباع نه دے، اى اَتَّبِعُ، زهٔ تابعداري وكړم۔ يا دِ تَبْعُ نه دے، أَتْبَعُ۔ يعني زهٔ روان شم۔

وَأَحْفَظُ وَصِيَّتَكَ : يعني ستا د وصيت حفاظت وكړم چه ماموراتو باندے عمل وكړم او د منهياتو نه منع شم۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : أخرجه الترمذى (٣٦٠١) وقال حديث غريب واحمد (٨٠٨٧) قلت فى اسناده الفرج بن فضالة وهو ضعيف كما قال الحافظ فى التقريب.

- 2500(19) وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو ﷺ قَالَ :كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ : " اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ الصِّحَّةَ وَالْعِفَّةَ وَالْأَمَانَةَ وَحُسْنَ الْخُلُقِ وَالرِّضٰى بِالْقَدَرِ "

ترجمه : او جناب عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما فرمائی : رسول الله ﷺ به داسے دعاء کوله : اللهم الخ۔ اے الله ! زهٔ ستا نه صحت او پاکدامنی او امانتداری او ښائسته اخلاق او په تقدیر باندے راضی کیدل غوارم۔

تشریح : اَلصِّحَّةَ : یعنی صحت د بدن، یا صحت د احوالو او اقوالو او اعمالو مراد دے۔

وَالْعِفَّةَ : پاکدامنی۔ یعنی د ناجائزو او نامناسبو کارونو نه ځان پاک او جدا ساتل۔

وَالرِّضٰی بِالْقَدَرِ : دا پکښې ځکه وائی چه کله انسان په تقدیر راضی نهٔ وی نو د هغهٔ زړهٔ همیشه په غمونو مشغول وی چه دا فلانے کار داسے ولے ونهٔ شو او داسے ولے کیږی؟ نو عبادت ته به فارغ نهٔ وی۔

دویم : که څوك په تقدیر راضی نشی نو هغهٔ باندے د الله غضب نازلیږی سره ددے نه چه پدے کښې فائده هم نشته ځکه چه څه تقدیر وی هغه به ضرور کیږی، بنده راضی وی او که نهٔ۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه ابن عساكر، وقال الهيثمي في مجمع الزوائد (١٠/١٧٣) رواه الطبراني في الكبير والبزار في مسنده وقال : اَسْئَلُكَ الْعِصْمَةَ بَدَلَ الصِّحَّةِ، وفيه عبد الرحمن بن زياد بن أنعم وهو ضعيف الحديث .

- 2501(20) وَعَنْ أُمِّ مَعْبَدٍ رضی الله عَنْهَا قَالَتْ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ : "اَللّٰهُمَّ طَهِّرْ قَلْبِيْ مِنَ النِّفَاقِ وَعَمَلِيْ مِنَ الرِّيَاءِ وَلِسَانِيْ مِنَ الْكَذِبِ وَعَيْنِيْ مِنَ الْخِيَانَةِ فَإِنَّكَ تَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُوْرُ ". رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعَوَاتِ الْكَبِيْرِ

ترجمه : او ام معبد رضی الله عنها فرمائی : ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی چه فرمایل ئے : اللهم الخ۔ (اے الله ! زما زړهٔ د منافقت نه او زما عمل د ریاء نه او زما ژبه د دروغو نه او زما سترګے د خیانت نه صفا کړه ځکه چه تهٔ پو هیږے په خیانت د سترګو او په هغه

څه چه سینې ئې پټوی۔ (دا دواړه روایتونه بیهقیؒ په دعواتِ کبیر کښې روایت کړیدی)۔

تشریح : ام معبد : بعض وائی : دا انصاریه ده، او بعضو نقل کړیدی چه دا ام معبد الخزاعیه رضی الله عنها ده کوم باندې چه رسول الله ﷺ د هجرت په سفر کښې میلمه شوې وو۔ ظاهر دا ده چه دا یوه بله صحابیه ده چه هیڅ بیان ئې نهٔ دې شوې۔

طَهِّرْ قَلْبِيْ : یعنی په دین کښې راته یقین راکړه، او ظاهر او باطن حالت مې برابر کړه۔ او پدې کښې هم امت ته تعلیم غرض دې۔

خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ : یعنی خیانت د سترګو۔ ددې نه مراد د سترګو اشارې، یا حرامو ته کتل دی،

یا دا اضافت د صفت دې موصوف ته یعنی خیانت کړې سترګې۔

وَمَا تُخْفِي الصُّدُوْرُ : یعنی هغه وسوسې او امانت او خیانت چه زړونه ئې پټ ساتی کوم چه په سینو کښې دی۔

درجة الحديث : اسناده ضعیف: اخرجه الحکیم الترمذی في نوادره (ص ٢٠٢) والخطیب فی تاریخه والبیهقی فی الدعوات الکبیر (٢٢٧) وفي اسناده الفرج بن فضالة عن عبد الرحمن بن زیاد عن مولی لام معبد عن ام معبد وهما ضعیفان کما قال الحافظ وایضا مولی ام معبد مجهول، وقال العراقی فی تخریج الاحیاء سنده ضعیف.

- 2502(21) وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ: إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ عَادَ رَجُلًا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ قَدْ خَفَتَ فَصَارَ مِثْلَ الْفَرْخِ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" هَلْ كُنْتَ تَدْعُو اللهَ بِشَيْءٍ أَوْ تَسْأَلُهُ إِيَّاهُ ؟ ". قَالَ : نَعَمْ كُنْتُ أَقُوْلُ : اَللّٰهُمَّ مَا كُنْتَ مُعَاقِبِيْ بِهِ فِي الْآخِرَةِ فَعَجِّلْهُ لِيْ فِي الدُّنْيَا . فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" سُبْحَانَ اللهِ لَا تُطِيْقُهُ أَوْلَا تَسْتَطِيْعُهُ أَفَلَا قُلْتَ : اَللّٰهُمَّ آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ". قَالَ : فَدَعَا اللهَ بِهِ فَشَفَاهُ اللهُ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او انس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ (یوه ورځ) د مسلمانانو نه د یو سړی بیمار پرسی وکړه چه هغه کمزورې شوې وو او د مارغهٔ د بچی په شان ګرزیدلې وو، نو رسول الله ﷺ هغهٔ ته وفرمایل : آیا تا د الله تعالیٰ نه کومه دعاء غوښتې وه یا کوم سوال دې د

هغهٔ نه کړے وو؟ هغهٔ وویل: آؤ، ما به وئیل: اللهم الخ۔ اے الله! هغه څه چه تهٔ پرے ما ته سزا راکوے په آخرت کښې نو ما ته ئے په دنیا کښې په جلتئ سره راکړه نو رسول الله ﷺ وفرمایل: سبحان الله (تعجب دے) تهٔ خو ددے طاقت یا قدرت نشے لرلے، تا داسے ولے نهٔ وئیل: اے الله! مونږ ته په دنیا کښې ښه ژوند راکړه او په آخرت کښې (هم) ښائسته ژوند راکړه او د اُور د عذاب نه مو وساته۔ انس رضی الله عنه فرمائی: هغه سړی دا دعاء د الله تعالیٰ نه وکړه نو الله تعالیٰ ورته شفاء ورکړه۔ (مسلمؒ)

تشریح: عَادَ: د عیادت نه دے، بیمار پرسی۔

قَدْ خَفَتَ: اَیْ ضَعُفَ۔ یعنی ضعیف شوے وو۔ د خَفُتُ الصوت نه دے، آواز خکته کولو ته وئیلے شی۔

اَلْفَرْخ: د مرغئ بچی ته وائی کله چه د اَنډے نه راوځی۔

هَلْ کُنْتَ: یعنی تا د الله نه کومه دعاء کړیده او که نهٔ، یا دِے ترے څه غوښتلی دی؟

اَوْلَا تَسْتَطِیْعُهٗ: دا شك د راوی دے۔

اَفَلَا قُلْتَ: یعنی که دا دعاء دِے کړے وے نو الله به درته گناهونه معاف کړی وے او مرض نه به ئے بچ ساتلے وے۔

امام نوویؒ وائی: پدے حدیث کښے ددے نه منع ده چه بنده ځان دپاره په جلتئ سره عذاب وغواړی، ځکه چه بیا به ئے طاقت نهٔ لری، او د هغے نه به تنگ شی او ډیر کرته به شکایتونه شروع کړی، او مصیبت به هر چا ته ښکاره کړی۔ او ددے دعاء (اللهم آتنا) ډیر لوی فضیلت دے۔

درجة الحديث: اسناده صحيح: اخرجه مسلم (٢٦٨٨).

- 2503(22) وَعَنْ حُذَيْفَةَ رضی الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " لَا يَنْبَغِيْ لِلْمُؤْمِنِ أَنْ يُّذِلَّ نَفْسَهٗ ". قَالُوْا: وَكَيْفَ يُذِلُّ نَفْسَهٗ؟ قَالَ: " يَتَعَرَّضُ مِنَ الْبَلَاءِ لِمَا لَا يُطِيْقُ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ

ترجمه: او جناب حذیفه رضی الله عنه فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: مؤمن دپاره دا مناسب

نۀ دي چه خپل ځان ذليله کړي، صحابه کرامو عرض وکړو: (اے د الله رسوله!) خپل ځان به څنګه ذليله کوي؟ وے فرمايل: چه هغه مصيبت ته ځان وړاندے کړي چه د هغے طاقت نۀ لري۔ (ترمذیؒ، ابن ماجهؒ او بيهقي په شعب الايمان کښ راوړيدے او ترمذیؒ وئيلي دي چه دا حديث حسن غريب دے)

تشريح: أَنْ يُذِلَّ: د إِذلال نه دے، ذليله کول۔

وَكَيْفَ يُذِلُّ نَفْسَهُ؟: تعجبی تپوس ئے پدے وجه وکړو چه هر انسان ته د خپل نفس عزت ډير محبوب دے۔

يَتَعَرَّضُ مِنَ الْبَلَاءِ: يعني ځان هغه مصيبت ته پيش کوی چه طاقت ئے نۀ لری، او ددے يو صورت دا دے چه ځان ته ښيرے وکړی، يا د مصيبت عادی اسباب اختيار کړی۔

او ددے يو صورت دا هم دے چه انسان په باب د نهی عن المنکر کښ داسے صورت اختيار کړی چه ځان مصيبت ته وړاندے کړی چه په هغے باندے ئے طاقت نۀ وی۔

درجة الحديث: اسناده حسن: اخرجه الترمذی (٣٥٨٠) وقال حديث حسن غريب وابن ماجه (٤٠١٦) واسناده حسن كما قال الألباني وفی اسناده علی بن زيد بن جدعان ضعفه البخاری ووثقه ابوبكر البزار وهو منقطع ايضا لكن له شاهد من حديث ابن عمر مرفوعا وهو اسناد صحيح رواه الطبرانی فی الاوسط وانظر الصحيحة (٦١٣).

- 2504(23) وَعَنْ عُمَرَ رضي الله عنه قَالَ: عَلَّمَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ قَالَ: " قُلْ: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ سَرِيْرَتِيْ خَيْرًا مِنْ عَلَانِيَتِيْ وَاجْعَلْ عَلَانِيَتِيْ صَالِحَةً، اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ مِنْ صَالِحِ مَا تُؤْتِي النَّاسَ مِنَ الْأَهْلِ وَالْمَالِ وَالْوَلَدِ غَيْرِ الضَّالِّ وَلَا الْمُضِلِّ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه: او جناب عمر فاروق رضي الله عنه فرمائی: ما ته رسول الله ﷺ (دا دعاء) راوخودله وے فرمايل: وايه: اللهم اجعل الخ۔ اے الله! زما باطنی حالت زما د ښکاره حالت نه ډير بهتر جوړ کړه او زما ښکاره حالت نيک جوړ کړه۔ اے الله! زۀ ستا نه سوال کوم د نيک هغه څه نه چه تۀ ئے خلقو ته ورکوے د اهل او مال او اولاد نه چه خپله هم ګمراه نۀ وی او بل لره هم ګمراه کونکے نۀ وی۔ (ترمذیؒ)

تشريح : سَرِيْرَتِيْ : سريره په معنیٰ د سِرّ (راز) سره دے، يعنی باطنی حالت۔
وَاجْعَلْ عَلَانِيَتِيْ صَالِحَةً : دا د دفع د وَهْم دپاره وائی چه ډیر کرته باطنی حالت بهتر وی د هغه ښکاره حالت نه چه نيك نهٔ وی۔
نو فرمائی چه زما ښکاره حالت هم نيك وګرزوه۔
مِنْ صَالِحٍ : دا مِنْ د اَخفش په نيز زائد دے،
او بعض وائی : مِنْ تبعيضيه دے، او مِنَ الْاَهْلِ بيان د مَا دے۔
غَيْرِ الضَّالِّ : يعنی چه پخپله ګمراه نهٔ وی،
يا فاعل ذُوْ كَذَا دے، يعنی ګمراهئ والا نهٔ وی۔
وَلَا الْمُضِلِّ : يعنی بل لره هم ګمراه کونکے نهٔ وی۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه الترمذی (٣٥٨٠) وقال حديث غريب لا نعرفه الا من هذا الوجه وليس إسناده بالقوي آهـ وفی إسناده محمد بن حميد بن حيان ضعيف.

وصلى الله على نبينا محمد وعلى آله وصحبه وسلم تسليماً كثيراً

وانهى كلامى بتسبيح ربى : وسبحانك اللهم ربنا وبحمدك اللهم اغفر لی۔

OOOO

۷- كِتَابُ الْمَنَاسِكِ

د حج د احكامو بيان

دلته یو څو مسائل او بحثونه دی : (۱) معنیٰ لغوی د مناسك او د حج۔ (۲) او د حج اصطلاحی معنیٰ وغیره چه ترتیب وار راروان دی۔

نو المناسك كښې الف لام عهدی یا عوضی دی، یعنی مناسك الحج۔

جمع د مَنْسَك ده، په فتحه د سین دے، او كسره هم صحیح ده۔

دا یا مصدر میمی دے د نَسَكَ يَنْسِكُ (ضرب نه) په معنیٰ د عبادت سره دے، بیا تولو كارونو د حج ته مناسك وائی۔ (علی القاریؒ)

یا صیغه د ظرف زمان او مكان ده، أي الْمُتَعَبَّد۔ یعنی ځائے د عبادت او وخت د عبادت۔

ابن جریرؒ وائی : منسك په كلام د عربو كښې

[اَلْمَوْضِعُ الْمُعْتَادُ الَّذِیْ يَعْتَادُهُ الرَّجُلُ وَيَأْلَفُهٗ لِخَيْرٍ اَوْ شَرٍّ]

هغه عادتی ځای دے چه سړے هغے ته د تلو راتلو عادت لری او د هغے سره مینه او الفت ساتی د خیر یا د شر دپاره۔

او د حج كارونو ته مناسك پدے وجه ووئیل شو چه پدے كښې خلق هغه ځایونو ته واپس كیږی چه په هغے كښې اعمال د حج او د عمرے ادا كیږی۔

دارنګه منسك په معنیٰ د مَذْبَح (ځای د ذبح) سره هم راځی۔

او کله په معنیٰ د طاعت او عبادت او هر هغه شے چه په هغے سره الله تعالیٰ ته نزدیکت کیږی۔ هم استعمالیږی۔

او ناسك په معنیٰ د غابد سره دے۔

د ثعلبؒ نه تپوس وشو چه ناسك څه ته وائی؟ هغه وفرمایل: دا ماخوذ دے د نسیکة نه، وَهِيَ سَبِيْكَةُ الْفِضَّةِ الْمُصَفَّاةِ۔ او دا ویلی کړے شوی صفا کړے شوی سپینو زرو ته وائی، ګویا که ناسك خپل ځان د الله دپاره صفا کړے وی۔

(مرعاة و العینی والنهایة فی غریب الاثر (١١٧/٥)

الحج: دا په فتحه د حاء او کسره دواړو سره صحیح دے، چا یو ته او چا بل ته زیات استعمال وئیلے دے، مګر طبریؒ نقل کړیدی چه فتحه د حاء لغت د نجد دے، او کسره د نورو ده۔

حج ته یو بل نوم حِجَّةٌ هم وائی، هغه په فتحه د حاء سره یو ځل حج ته وائی۔

او په کسره د حاء سره حالت او هیئت د حج ته وائی لکه تلبیه او اجابت۔

او جوهریؒ وائی: حجة په فتحه سره نوم د حج دے او په کسره سره یو کرت حج ته وائی او دا شاذ دے، ځکه چه د قیاس مطابق فتح د حاء پکار ده۔

او حج په لغت کښ قصد ته وائی،

او خلیلؒ وائی: كَثْرَةُ الْقَصْدِ اِلٰى مُعَظَّمٍ۔ یو لوی شی او کار دپاره ډیر او بار بار قصد کول دی۔

او طبریؒ د حسین الجعفیؒ نه نقل کړیدی چه حج په کسره د حاء سره مصدر دے، او په فتحه د حاء سره نوم د حج دے۔ او چا برعکس فرق کړیدے۔

او سیبویهٔ وائی: په کسره سره مصدر دے، او نوم دے د کار د حج۔ او په فتحه سره صرف مصدر دے۔ بعضو برعکس فرق کړیدے۔

په عرف د شریعت کښ: اَلْقَصْدُ اِلٰى زِيَارَةِ الْبَيْتِ الْحَرَامِ (وَالْأَمَاكِنِ الْمُقَدَّسَةِ) عَلٰى وَجْهِ التَّعْظِيْمِ فِيْ وَقْتٍ مَخْصُوْصٍ بِأَفْعَالٍ مَخْصُوْصَةٍ كَالطَّوَافِ وَالسَّعْيِ وَالْوُقُوْفِ بِعَرَفَةَ وَغَيْرِهَا۔

د بیت الله او مقدس ځایونو د ملاقات اراده کول په طریقه د تعظیم سره په خاص وقت کښ په خاصو کارونو کولو سره لکه د حج کارونه دا دی: طواف، سعی، سر خرئیل، دارنګه په عرفات، منیٰ، مزدلفه کښے وقوف کول، جمرات ویشتل، او داسے نور کارونه

دی۔
او د حج فرضیت په کتاب او سنت او اجماع سره ثابت دے، ددے وجه نه ددے نه انکار کفر دے په اتفاق د علماؤ سره، او د حج سبب بیت الله دے ددے وجه نه دا په عمر کښې یو کرت فرض دے، ځکه چه سبب ئے مکرر نهٔ دے، حافظ عسقلانیؒ وائی مګر د عارض د وجه نه مکرر کیږی لکه نذر شو۔

(۳) بحث : د حج فرضیت

حج کله فرض شو ؟

پدے باره کښې د علماؤ ډیر اقوال دی (۱) ځینی وائی چه په پنځم کال د هجرت کښې فرض شو، اکثر علماء وائی چه په (٦ هـ) کښې ئے فرضیت شویدے، لیکن زیات صحیح قول د هغه علماؤ دے چه دا وائی چه حج په (۹ هـ) کښې فرض شویدے کله چه دا آیت ﴿وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيْلًا﴾ نازل شو، لکه دا خبره په روستو بحث کښې بیا راځی۔

(٤) دریم بحث :

آیا حج فوری اداء کول فرض دی او که تراخی پکښې جائز ده ؟

(۱) امام مالكؒ، احمدؒ، ابو یوسفؒ، د شوافعو نه مزنیؒ اول قول کړیدے (۲) او شافعیؒ، ثوریؒ، اوزاعیؒ، او محمد بن الحسنؒ دویم قول کړیدے، او ماوردیؒ د ابن عباس، انس، جابر، رضی الله عنهم نه او عطاءؒ او طاووسؒ نه نقل کړیدے، او د امام ابو حنیفهؒ نه پدے باره کښې مختلف اقوال راغلی دی۔ فائده د اختلاف دا راوځی چه که څوك سره د قدرت نه حج روستو کړی او هیڅ عذر ئے نهٔ وی نو دے به ګناهګار وی د اول قول والو په نیز او نهٔ به وی ګناهګار د دویم قول والا په نیز۔

د اول قول دلائل : یو آیت دے ﴿وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ﴾ پدے کښې امر راغلے دے او امر تقاضا د فوریت کوی۔

۲- حدیث دے : [تَعَجَّلُوا الْحَجَّ فَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَا يَدْرِىْ مَا يَعْرِضُ لَهٗ] (اخرجه احمد)

۳- فصل ثانی کښې حدیث د ابن عباس ﷺ کښې دی : [مَنْ أَرَادَ الْحَجَّ فَلْيُعَجِّلْ]
(یعنی د چا چه د حج اراده وی نو هغهٔ دے جلتی وکړی)۔

۳- او حديث د علي ﷺ كښې دى : [فَلَا عَلَيْهِ اَنْ يَّمُوْتَ يَهُوْدِيًّا اَوْ نَصْرَانِيًّا)
٤- او په فصل ثالث كښې دى : مَنْ لَمْ يَمْنَعْهُ مِنَ الْحَجِّ حَاجَةٌ ظَاهِرَةٌ الخ
٥- پنځم دليل دا دے چه كه دا په تراخئ سره واجب شي نو بيا دا د مرتبے د واجباتو نه وباسى ځكه چه دا به روستو كړے شي غير غايه او نهايه ته او ددے د ادا كولو نه مخكښے په مرګ سره به انسان نۀ ګناهګاريږى ځكه چه شارع به ورته په تاخير كښے رخصت وركړے وى۔ او په مرګ باندے خو څه نښه هم نشته چه د هغے نه روستو د حج په ادا كولو قادر شي۔ (المنهل العذب المورود شرح سنن ابى داود ۱۰/ ۲۷۲)

دويم قول والا ددے نه جوابونه وركوى چه دا روايات اكثر ضعيف دى، او بل پدے كښې امر د تعجيل د استحباب دپاره دے، نۀ د وجوب دپاره۔ او په اتموا الحج كښے حكم دے په اتمام د حج باندے پس د شروع كولو نه، او پدے سره فرضيت د حج نۀ دے مراد لكه چه دا په سنه (٦) هجرى كښې نازل دے د حُديبيه په كال باندے۔

او دليل پدے باندے د رسول الله ﷺ حج روستو كول دى ځكه چه د اكثرو ائمه كرامؒ په نيز حج مخكښې فرض شوے وو په سنه پنځم يا شپږم كښے او رسول الله ﷺ په لسم كال باندے كړيدے او په نهم كال ئے ابوبكر صديق ﷺ د حج امير جوړ كړو۔

دا دليل دے چه حج كښې تراخي جائز ده، ځكه چه رسول الله ﷺ په قتال وغيره باندے مشغول نۀ وو، او هيڅ عذر ئے نۀ وو او هغۀ روستو ادا كړو۔ او دا د ټولو نه قوى دليل دے، مګر ددے نه اولني قول والا جواب كوى چه پدے كښې اختلاف دے چه د حج فرضيت كله شويدے؟ ډير اقوال دى، يو دا چه په نهم كال شويدے لكه دا امام نوويؒ په ((الروضة)) كښې نقل كړيدے او قاضي عياضؒ او قرطبيؒ ورته صحيح وئيلے دے۔

دويم دا چه په اَواخرو د نهم كال يا په لسم كال فرض شويدے لكه دا عينيؒ د امام الحرمينؒ نه نقل كړيدے، او پدے باندے حافظ ابن القيمؒ په زاد المعاد (۱/ ۱۸۰) كښې جزم كړيدے، نو بناء پدے د رسول الله ﷺ په حج كښې تاخير نۀ وو ځكه چه هركله په ﴿ وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ﴾ (آل عمران :۹۷) باندے په آخر د نهم كال كښې فرضيت راغلو او دا كال د وفدونو وو يا په لسم كال نو نبى كريم ﷺ په حج باندے جلتى وكړه بغير د تاخير نه۔

دويم : كه ومنلے شي چه حج د لسم كال نه وړاندے فرض شوے وو په پنځم كال باندے

لکه چه په قصه د ضمام بن ثعلبه ﷺ کښې په حج باندې امر ذکر دې۔ او د هغهٔ راتلل د واقدیؒ او د محمد بن حبیبؒ د ذکر مطابق په پنځم کال وو۔ یا په شپږم کال فرض دې لکه چه دا د جمهورو علماؤ مشهور قول دې پدې بناء چه په همدې کال ﴿وَاَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ﴾ نازل شوې او مراد د اتمام نه به ابتداء د فرضیت وی لکه چه قرائت د علقمهؒ او مسروقؒ او ابراهیم النخعیؒ د [وَاَقِيْمُوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ] په لفظ سره راغلې دې، چه طبریؒ د هغوی نه په صحیح اسانیدو سره نقل کړیدی،

نو بیا تراخی د رسول الله ﷺ د عذر په وجه سره وو، سره ددې نه چه د هغهٔ علم وو په خپل ژوند باندې دې دپاره چه تبلیغ سر ته ورسوی۔

ابن الهمامؒ وائی : د رسول الله ﷺ تاخیر کښې فوت کیدو د حج ته تعریض نشته کوم چه فوریت لازموی ځکه چه نبی کریم ﷺ ته دا علم وو چه دې به دومره ژوند تیره وی چه حج به کوی او خلقو ته به د حج کارونه او طریقه ښائی دې دپاره چه تبلیغ سر ته ورسوی۔

علی القاریؒ وائی : اظهر دا ده چه نبی کریم ﷺ د پنځم کال یا د شپږم کال نه حج روستو کړو ځکه چه مکه لا نهٔ وه فتح شوې۔ او د اتم کال نه ئې روستو کړو ځکه چه د مشرکانو نسیء عادت وو او په دغه کال کښې نسیء شوې وه او د نهم کال نه ئې روستو کړو ددې وجه ما په موقف د صدیق اکبر کښې ذکر کړیده۔

او ابن رشدؒ وائی چه رسول الله ﷺ حج لسم کال ته پدې وجه روستو کړو چه مشرکانو به په بربنډه طوافونه کول نو په نهم کال ئې ابوبکر صدیق ﷺ د حج امیر مقرر کړو دې دپاره چه هغه مشرکانو ته حکم وکړی چه آینده کال کښې به مشرك حج له نهٔ راځی او په بربنډه طوافونه به ختم شی۔ او د ابوبکر صدیق ﷺ حج هم فرض وو، نفلی نهٔ وو، او هغه په ذی القعده کښې وو ځکه چه مشرکانو نسیء په ذی القعده کښې کوله او د نسیء د منسوخ کیدو نه مخکښې همدا وخت د حج وو بیا کال له نسیء منسوخ شوه او رسول الله ﷺ حج په ذی الحجه کښې وکړو او حساب د میاشتو بیرته هغه شان برابر شو کوم وخت نه چه الله تعالیٰ آسمانونه او زمکه پیدا کړی وو۔

مگر توربشتیؒ وائی چه دا خبره د عتاب بن اسید ﷺ په کال (یعنی اتم کال هجرت پس د فتح نه) احتمال لری چه حج په ذی القعده کښې شوې وی مگر د ابوبکر صدیق

ﷺ په نهم کال کښې هم حج په ذي الحجه کښې ادا شويدے، نو اصل وجه د روستو کولو د رسول الله ﷺ حج لره دا وه (والله اعلم) چه رسول الله ﷺ دا نهٔ خوښوله چه د حج موسم ته حاضر شي چه په هغې کښې مشرکان هم حاضر وي، نو يا به هغوي په خپله طريقه پريدي کوم چه د حق دين مخالف طريقه ده، نو دا خو بيا په دين کښې کمزوري جوړيږي او يا به ئې منع کوي نو بيا خو به د حج نه خبره قتال طرفته لاړه شي او بيا د حرم بے حرمتئ ته نو رسول الله ﷺ ځان ته د مخکښې نه لاره هموار کړه، بيا ئې حج وکړو۔

ﷺ دارنګه يو دليل ئې دا وئيلے دے چه که يو تن حج روستو کړي او په دويم کال کښې ئې وکړي نو دا به قضاء راوړونکے نهٔ وي بلکه ددهٔ دا حج به اداء ګڼړلے کيږي، نهٔ قضاء نو دا دليل دے چه ددے وجوب په تراخئ سره دے۔

مګر ددے نه جواب دا دے چه قضاء په هغه عبادت کښې وي چه د هغې دپاره وخت معيّن وي او بيا دغه معين وخت وځي، او حج دپاره خو وخت معين نهٔ دے، بلکه ټول عمر ئې وخت دے۔

او حافظ په اصابه کښې وئيلي دي چه واقديؒ وئيلي دي چه د ضمام بن ثعلبه ﷺ راتلل په پنځم کال وو ليکن پدے کښې نظر دے، او ابن هشام د ابو عبيدؒ نه نقل کړيدي چه د ضمام راتلل په نهم کال وو، او همدا خبره زما په نيز راجح ده، آه۔

حافظ ابن قيمؒ په زاد المعاد کښې ليکي: که ووئيلے شي چه تاسو دا د کوم ځاي نه معلوموئ چه حج په نهم کال يا په لسم کال فرض شويدے؟

نو **جواب** دا دے چه د سورة آل عمران اولنی آيتونه د وفدونو راتللو په کال باندے نازل شوي وو او په هغې کښې د نجران وفد رسول الله ﷺ ته راغلے وو او رسول الله ﷺ هغوي سره (د مناظرے او د مباهلے د اعلان نه پس) په جزيه باندے صلح وکړه، او جزيه خو د تبوك د غزا په کال يعني په نهم کال کښې نازل شوے ده، آه۔

(بيا په همدغه سورت کښې روستو فرمائي: ﴿ وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا ﴾ (آلعمران:۹۷) پدے سره فرضيت د حج ثابت شو)۔

حاصل دا شو چه حج باندے جلتي کول ضروري دي، البته که يو سخت ضرورت انسان ته متوجه شي نو بيا که روستو کړے شي نو ان شاء الله چه بنده به نهٔ وي ګناهګار، اُبي المالکي په شرح د مسلم کښې ليکلي دي چه د تراخئ قول په هغه وخت

کښې دے چه د فوات نه نهٔ يريږي او د فوت کيدو نه يريدل دا دي چه د بنده عمر ډير وي، يا د امراضو زياتيدو نه يريږي او د ډير عمر حد ابن رشدؒ شپيته کاله ذکر کړيدے. والله اعلم. (راجع للتفصيل فی ذلك مرعاة المفاتيح ٢٩١/٨ واضواء البيان للشنقيطی (٣٤٣/٤) مګر پدے تحديد باندے هيڅ دليل نشته.

علامه شنقيطیؒ د ډير تفصيل نه روستو فرمائی : زما په نيز ډير ظاهر او ډير لائق قول په عظمت د خالق السموات والارض دا دے چه د الله تعالیٰ د اوامرو وجوب (لکه حج) په فوری طور باندے دے نهٔ په تراخئ سره، د وجه د هغه نصوصو نه چه مونږ مخکښې ذکر کړل ﴿وَسَارِعُوٓا اِلٰى مَغۡفِرَةٍ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ﴾ او د وجه د يرے د ناڅاپی مرګ راتللو نه.

او پدے وجه چه شرع او لغت او عقل درے واړه دلالت کوی چه د الله تعالیٰ امرونه په فوری طريقه واجب دی. آه.

او دا قول علامه ابوالحسن المبارکفوریؒ هم غوره کړيدے. والله اعلم وبالله التوفيق.

(٥) آيا حج په پخوانو امتونو لازم وو او که ددے امت پورے خاص دے ؟

نو ظاهر دا ده چه حج په پخوانو امتونو کښې هم وو لکه چه رسول الله ﷺ د موسیٰ عليه السلام او دغه شان د هود او صالح عليهم السلام په باره کښې فرمايلی دی چه په وادی عسفان باندے راتير شوی وو او د حج تلبيه ئے وئيله. (اخرجه احمد (٢٠٦٧) باسناد ضعيف فيه زمعة بن صالح)

(٦) بحث : د حج د فرض کيدو شرطونه :

حج د راتلونکی شرطونو د موجوديدو نه روستو فرض کيږی : (١) مسلمان کيدل، په کافر باندے حج فرض نهٔ دے. (٢) آزاد کيدل، په غلام او وينځه باندے حج فرض نهٔ دے.
(٣) عاقل کيدل، په ليونی، او مستانه او بيهوشه باندے حج فرض نهٔ دے.
(٤) بالغ کيدل، په نا بالغه ماشومانو باندے حج فرض نهٔ دے، خو که ادا ئے کړی نو ادا کيږی او اجر به ئے د مور او پلار ته هم رسيږی . د بلوغ نه روستو به ئے دوباره کوی.
(٥) روغ صحت والا او تندرست کيدل، په بيمار، ړوند، ګوډ باندے فرض نهٔ دے.
(٦) قادر کيدل. يعنی د دومره مال مالك کيدل چه د ضرورتِ اصليه او د قرض نه

زیات وي، او ددهٔ د لارې کرایه، تیکټ او خرچې دپاره کافي شي او په دهٔ باندې چه د چا نفقه واجب ده هغوی دپاره هم دومره مال پریدی چه ددهٔ د واپس کیدو پورې د هغوی کفایت وکړی۔

(۷) په لاره کښې به امن وي، او پدې باره کښې اکثر لره اعتبار دې، یعنی که اکثر خلق په امن او امان سره حج ته رسیږی نو حج به فرض وي، مثلًا که اکثر خلق په لاره کښې په ډاکو او غلا وغیره سره لوټ کیږی، یا داسې دریاب او سمندر حائل شي چه په هغې کښې کشتئ او جهازونه زیات ډوبیږی او اکثر خلق هلاکیږی، یا په لاره کښې داسې بل خوف وي نو بیا حج فرض نهٔ دې، البته که دا حادثات کله نا کله راپیښیدل نو پدې سره د حج فرضیت نهٔ ساقطیږی۔

(۸) د ښځې دپاره د خاوند یا د بل کوم محرم موجودیدل۔ کله چه ددې ځای نه تر مکې پورې د درې ورځو د سفر فاصله وي۔ که خاوند یا محرم نهٔ وي نو ښځې دپاره د حج سفر کول جائز نهٔ دی، او پدې باندې حج فرض نهٔ دې اگرکه مالداره هم وي۔

(۷) د حج فوائد او حکمتونه

د حج د فرض کیدو ډیر دیني او دنیوی منافع او فائدې او حکمتونه دی:

(۱) د خاصو افعالو په ادا کولو سره د الله عبادت کول لکه الله تعالیٰ ته تذلل او عاجزی کول او د سفرونو تکلیفونه برداشت کول او مالونه لګول او د دنیا د خوندونو نه ځان رابنکل په جامې ویستلو سره او صرف په څادر او لنګ اغوستلو سره سَره د خشوع د زړونو او وښکو د سترګو سره او په ژبو تلبیه ویونکو سره۔

(۲) ثقافتي فائده ئې دا ده چه الله تعالیٰ په سیر في الارض باندې حکم کړیدې دپاره د عبرت اخستو او د هغهٔ د قدرت نظارې کتلو۔

(۳) په حج کښې د مسلمانانو د ټول عالَم نه مختلف خلق خالص د دین په بنیاد جمع کیدل او په خپل مینځ کښې د یو بل سره تعارف کول او یو بل ته ارشاد او لارښوونه کول۔ عرب او عجم مسلمانان په یو ځائے کښې جمع کیدل، د نسب او د ملك او د رنګ وغیره نه پورته کیدل او د یو الله په عبادت کښې په یو ځائے کښې راجمع کیدل، او یو

عبادت په شريكه ادا كول، داسې عملونه دي چه هيڅ يو مؤمن بنده ددې نه د اثر اغستو نه بغير نۀ پاتے كيږي. الله فرمائي: ﴿لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ﴾ [الحج: ۲۸]
(دے دپاره چه دا خلك خپلو ښيګړو ته حاضر شي).
(٤) حج مسلمانانو ته د اتحاد او اتفاق دعوت وركول دي، او دوي په يوه كلمه باندے راجمع كول دي. هركله چه مسلمان ددے اسلامي اجتماعاتو ثمراتويني نو پوهه شي چه ددۀ يو عظيم دين شته چه هغه ددۀ نه د الله تعالىٰ د عبادت نه روستو ددے عالم صلاحيت او برابروالے غواړي ځكه چه داسے اجتماع د امت د وحدت لوي سګنل دے.
(تيسير العلام شرح بلوغ المرام بتصرف)
(۵) د نفس رياضت او تذليل دے ځكه چه حج د ابتداء د شروع نه تر آخره پورے د يو شعور نوم دے چه انسان زړۀ ته حاضره وي او انسان چه څومره دغه اماكن مقدسهؤ ته نزدے كيږي هغومره ددۀ دا شعور زياتيږي.

الفصل الأول

- 2505 (1) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : خَطَبَنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَقَالَ : " يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ فُرِضَ عَلَيْكُمُ الْحَجُّ فَحُجُّوْا " فَقَالَ رَجُلٌ : أَكُلَّ عَامٍ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟ فَسَكَتَ حَتّٰى قَالَهَا ثَلَاثًا فَقَالَ :"لَوْ قُلْتُ : نَعَمْ لَوَجَبَتْ وَلَمَا اسْتَطَعْتُمْ" ثُمَّ قَالَ: ذَرُوْنِيْ مَا تَرَكْتُكُمْ فَإِنَّمَا هَلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ بِكَثْرَةِ سُؤَالِهِمْ وَاخْتِلَافِهِمْ عَلٰى أَنْبِيَائِهِمْ فَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِشَيْءٍ فَأْتُوْا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ وَإِذَا نَهَيْتُكُمْ عَنْ شَيْءٍ فَدَعُوْهُ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : مونږ ته (يوه ورځ) رسول الله ﷺ تقرير وكړو نو وے فرمايل : ((اے خلقو ! يقيناً په تاسو باندے حج فرض كړے شويدے نو حج وكړئ)) نو يو سړي عرض وكړو : اے د الله رسوله ! آيا په هر كال كښے (فرض كړے شويدے) ؟ نو رسول الله ﷺ غلے شو تردے چه هغۀ دا خبره درے كرته وكړه. بيا ئے وفرمايل : كه ما وئيلي وے، آؤ، نو (هر كال به) فرض شوے وے، او تاسو به طاقت نۀ لرلے، بيا ئے وفرمايل : ما پريدئ څو پورے چه ما تاسو پريخودے يئ، ځكه چه ستاسو نه مخكني خلق د ډيرو تپوسونو او د انبياؤ سره د هغوئ د اختلافاتو په وجه هلاك شول، نو كله چه زۀ تاسو ته په يو شي

بانـدې حـکـم وکړم نو هغې ته هغه اندازه راتلل کوئ چه څومره ستاسو وس وي او کله چه زۀ تاسو د يو شي نه منع کړم نو هغۀ پريدئ۔ (مسلمؒ)

تشريح : خَطَبَنَا : دا خـطبـه پـه کـوم وخت کـښې وه ؟، نو ځينى وائي چه دا په هغه کال وه چه حج پکښې فرضيت کړے شو نو رسول الله ﷺ د الله تعالىٰ حکم خلقو ته ورسولو۔ يا ئے دا پـه حـجـة الـوداع کـښې کـړے وه۔ او کيدے شي چه په دواړو وختونو کښې ئے کړې وي۔

فَحُجُّوا : دا صيغه د امر ده۔

فَـقَالَ رَجُلٌ : ددے سـړي نـه مـراد اقـرع بـن حابس تميمي ﷺ دے، د فـصـل ثاني په اول حـديث د ابن عباس ﷺ کښې ذکر دے، چه داد بـنـو تـميم قبيلې سره تعلق لري۔ د مکې د فتـح نه پس چه د بنو تميم کوم وفد نبي ﷺ ته راغلے وو، په هغې کښې دا شامل وو۔ په مؤلفة القلوب کښې شمار دے۔ په جاهليت او اسلام دواړو کښې د خپلې قبيلې سردار وو۔ د عمر ﷺ پـه دورِ خـلاف کـښې وفـات شـو۔ باقي تعارف ئے ددے باب په فصل ثاني کښې وګوره۔

أَكُلَّ عَامٍ : يعني آيا حج هر کال فرض دے؟۔

امام نـوويؒ وائـي : د اصـولـينو پدے کـښـې اختـلاف دے چه آيا امر تقاضا د تکرار کوي ؟ نـو يـو قـول دا دے چـه تـقاضا د تکرار نۀ کوي، او بل قول دا دے چه تقاضا د تکرار کوي، دريـم قـول د يـو کـرت ادا کـولـو نـه پس تـوقف دے چـه نۀ تقاضا د تکرار کوي او نۀ د نۀ تکرار۔

او پـدے حديث سره دليل نيولے کيږي د توقف والو دپاره ځکه چه دلته تپوس کونکي [أَفِيْ كُلِّ عَامٍ ؟] ووېـل نـو کـه مطلق امر تقاضا د تکرار کولے يا ئے نۀ کولے نو داسے تپوس بـه ئے نۀ کولے، او نبي کريم ﷺ بـه ورتـه وئيـلي وے چه دے تپوس ته حاجت نشته بلکه مطلق امر حمل دے په فلاني شي باندے۔

مـګـر بـعـض عـلـماء جواب ورکوي چه دا تپوس ئے د احتياط او د حکم د ښکاره کيدو دپاره کړے دے۔ خو دا قول چه (ذَرُوْنِيْ مَا تَرَكْتُكُمْ) ښکاره دليل دے چه امر تقاضا د تکرار نۀ کوي۔

مازريؒ وائي : کيدے شي چه د اقرع ﷺ په نيز باندے د امر تکرار د بلے وجے نه وي ځکه

چه حج په لغت کښې هغهٔ قصد ته وائي چه په هغې کښې تکرار وي نو د هغهٔ په نیز به د اشتقاق د لغت د وجه نه تکرار وي نهٔ د امر د وجه نه. انتهیٰ.

علي القاريؒ وائي: کیدے شي چه هغهٔ په مانځه او زکاة وغیره اعمالو باندے قیاس کړے وي.

فَسَكَتَ: رسول الله ﷺ د هغهٔ د جواب نه ولے غلې پاتے شو؟ نو دا سکوت د هغهٔ د زجر او رټنے دپاره وو چه داسے تپوس نهٔ دے پکار چه د هغې نه سکوت کول غوره وي ځکه چه رسول د شريعت د بيان دپاره رالیږلے شوے وي، نو هغه د هغه شي د امر د بيان نه غلے نهٔ پاتے کيږي چه اُمت هغې ته ضرورت لري نو دا مشابه کيږي د تَقَدم بَيْنَ يَدَيِ الله وَرَسُوْلِه سره . او بل پدے کښې په امت باندے سختي راوستل دي. (توريشتيؒ)

علي القاريؒ وائي: کیدے شي چه رسول الله ﷺ د وحې په انتظار کښې غلے شوے وي او دا هم ظاهره ښکاره کيږي.

فوائد: (۱) دے حدیث نه ثابته شوه چه حج په ټول عمر کښې صرف يو ځل فرض دے، ددے نه زيات نفل او مستحب دے. او دا د الله تعالیٰ د طرفه يو خاص سهولت او آساني ده، ځکه که هر کال فرض وے نو په دے کښې به ډير زيات مشقت وے ځکه چه حج يو داسے عمل دے چه هغه په لږ وخت کښې نهٔ کيږي بلکه پرله پسے څلور پنځه ورځے غواړي، دارنګه دے طرفته د لرو لرو ځايونو نه راتلل او خرچه کول به ډير ګران کار وے. نو الله تعالیٰ په خلقو مهربانه شو او صرف يو ځل ئے په دوئ حج فرض کړو. او دا هم په هغه چا چه طاقت لري.

(۲) د کوم شي د بيانولو نه چه الله او رسول ﷺ خاموشي اختيار کړي د هغې نه خاموشي اختيارول پکار دي، او د هغې نه بحث او تالاش نهٔ دے پکار. مطلق اوامرو کښې تپوس کول او د هغې قيودات لټولو نه منع ده بلکه په هغې باندے په اطلاق سره عمل پکار دے، تردے چه په هغې کښې قيد راشي.

دلته نبي کريم ﷺ د دغه صحابي خبره ښه ونهٔ ګڼړله او هغهٔ ته ئے دا رهنمائي وفرمايله چه که زهٔ ((آؤ!)) ووايم نو هر کال به درباندے حج فرض شي او بيا به تاسو ددے نه عاجزه شئ.

(۳) [لَوْ قُلْتُهَا لَوَجَبَتْ] نه معلوميږي چه بعضِ احکام الله تعالیٰ د نبي کريم ﷺ

صوابديد ته سپارلې، نبي كريم ﷺ چه كومه خبره د خپل طرفه وكړي او الله تعالیٰ د هغې رد ونهٔ كړي نو هغه هم شريعت ګرځي، ځكه الله تعالیٰ خپل نبي د حق نه علاوه په بله خبره برقرار نهٔ ساتي. (حافظ والسندي)

(٤) او ددې جملې نه معلومه شوه چه د نبي كريم ﷺ امر د وجوب دپاره دې.

وَلَمَا اسْتَطَعْتُمْ: يعني تاسو كښې به هريو تن هر كال د حج كولو طاقت ونهٔ لري. او الله تعالیٰ خو د انسانانو د وس مطابق احكام راليږي.

ذَرُوْنِيْ: په روايت د بخاري كښې (دَعُوْنِيْ) لفظ دې، د دواړو معنیٰ يوه ده. يعني ما نه په مطلق امرونو كښې د قيدونو تپوسونه مهٔ كوئ. (سنديّ)

مَا تَرَكْتُكُمْ : يعني زهٔ خو نبي يم، د شريعت د بيانولو دپاره راغلے يم نو كوم چه مشروع وي هغه به درته زهٔ خپله بيانوم لهذا تپوس ته حاجت نشته. او دلته (مَا) مصدريه ظرفيه ده. [أَيْ مُدَّةَ تَرْكِيْ إِيَّاكُمْ عَنِ التَّكْلِيْفِ بِالْقُيُوْدِ فِيْهَا]

يعني ترڅو پورې چه ما تاسو پريخودي يئ د قيدونو لګولو نه پدې كښې او دا مطلب نهٔ دې چه ما نه علم مهٔ طلب كوئ ترڅو پورې چه زهٔ درته پخپله بيان نكړم. (سنديّ)

حافظ داسې تعبير كوي : [مُدَّةَ تَرْكِيْ إِيَّاكُمْ بِغَيْرِ أَمْرٍ بِشَيْءٍ وَلَا نَهْيٍ عَنْ شَيْءٍ]

ترڅو پورې چه ما درته په يو كار حكم نهٔ وي كړے يا مې د يو كار نهٔ وئ منع كړي نو ما په خپل حال پريدئ.

وَاخْتِلَافِهِمْ : دا په كثرة السؤال باندې عطف دې نهٔ په السؤال باندې ځكه چه اختلاف اګركه كم وي نو هلاكت ته رسيږي. او دا هم صحيح ده چه په السؤال باندې عطف شي نو بيا پدې كښې اخبار دې د پخوانو د زيات اختلاف نه په واقع كښې چه هغې هلاكت ته ورسول او دا ددې سره منافات نهٔ لري چه ګنې كم اختلاف فساد ته رَسَول كوي. (سنديّ)

عَلٰى أَنْبِيَائِهِمْ: يعني كله چه به دوئ ته انبياء عليهم السلام يو حكم وكړو د تپوس كولو نه روستو يا مخكښې نو دوئ به د هغوي سره اختلافات شروع كړل نو پدې سره هلاك شول. او علیٰ د ضديت دپاره دې. يعني په مخالفت د انبياؤ كښې.

فَأْتُوْا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ : پدې جمله كښې تاكيد او مبالغه ده په احكامو باندې د عمل كولو، يعني د الله او د رسول په احكامو باندې د عمل كولو چه څومره طاقت لرئ د هغې

مطابق عمل کوئ۔
یا پدے جملے سره د حرج پورته کیدو ته اشاره کوی لکه د مانځه د بعض شرائطو او ارکانو د ادا کولو نه که تاسو عاجز شوئ نو څومره چه ستاسو طاقت وی د هغے مطابق عمل کوئ، او د کوم چه طاقت نۀ لرئ هغه پریدئ، لکه د ودریدو طاقت نۀ وی نو په ناسته وکړئ، که په ناسته طاقت نۀ وی نو په اړخ سره وکړئ مګر عمل ضرور وکړئ۔
امام نوویؒ فرمائی : دا جمله د اسلام د مُهمو قواعدو نه او د جوامع الکلم نه اهمه قاعده او کلام دے چه پدے کښے ډیر عبادات او احکام داخلیږی۔ او دا حدیث مطابق دے د آیت ﴿ فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ ﴾ التغابن (۱٦) سره۔
وَإِذَا نَهَيْتُكُمْ : حافظ وائی : دا حدیث دلیل دے چه د شریعت په نیز د منهیاتو اهتمام زیات دے په نسبت د ماموراتو باندے ځکه چه د منهیاتو په باره کښے ئے په مطلق اجتناب باندے حکم وکړو بغیر د قید نه اګرکه د هغے په پریخودو کښے به تکلیف هم وی۔ او په ماموراتو کښے ئے د استطاعت قید ولګولو۔ او دا خبره د امام احمدؒ نه منقول ده۔
او د امر په باب کښے ئے د استطاعت قید ځکه ولګولو چه غالباً عاجز والے په کولو د یو فعل کښے کیږی او هرچه نهی ده نو په هغے کښے عاجز والے نۀ وی مګر په ډیر کم وخت کښے چه هغه حالت د اضطرار دے۔

- 2506 (2) وَعَنْهُ ﷺ قَالَ : سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ ؟ قَالَ : " إِيْمَانٌ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ " قِيْلَ : ثُمَّ مَاذَا ؟ قَالَ : " اَلْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ " . قِيْلَ : ثُمَّ مَاذَا ؟ قَالَ : "حَجٌّ مَبْرُوْرٌ " . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی : د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه چه کوم یو عمل ډیر بهتر دے ؟ وے فرمایل : په الله تعالیٰ او د هغۀ په رسول باندے ایمان لرل۔ ووئیل شو بیا کوم یو ؟ وے فرمایل : د الله په لاره کښے جهاد کول۔ عرض وشو : بیا کوم ؟ وے فرمایل : قبول کړے شوے حج۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)
تشریح : سُئِلَ : دا تپوس کونکے ابو ذر غفاری ﷺ دے لکه چه په بخاری کتاب العتق

کښې ذکر دے۔
أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ ؟ : رسول الله ﷺ سائلينو ته د افضل عمل په باره کښې مختلف جوابونه ورکړيدي، ځکه چه د سائلينو د احوالو او حيثياتو او د هغوی د مقاماتو د تفاوت په اعتبار سره د عمل افضليت مختلف کيږی۔ نو دلته هم ظاهر دا ده چه رسول الله ﷺ ددے شخص په باره کښې دا اعمال افضل وګڼړل۔
إِيْمَانٌ بِاللهِ : ايمان ئے نکره راوړه دپاره د تعظيم او تفخيم يعنی داسے تصديق چه پيوسته وی د اخلاص سره چه د بدن نه نيك عملونه راپيدا کړی۔
امام نوویؒ وائی : دا حديث ښکاره دليل دے چه د عمل اطلاق په ايمان باندے کيږی، او دلته د ايمان نه مراد هغه تصديق دے چه انسان پرے اسلام ته راداخليږی چه هغه په زړهٔ سره تصديق او په ژبه شهادتين لوستل دی، نو تصديق د زړهٔ عمل دے، او شهادتين لوستل د ژبے عمل دے۔ او دلته په ايمان کښې ټول هغه اعمال نهٔ دی مراد چه په اندامونو سره کيږی ځکه چه روستو ئے جهاد او حج قسيم د ايمان ذکر کړيدے۔
حَجٌّ مَبْرُوْرٌ : مبرور د بِرّ نه دے فراخه نيکئ او قبول (يعنی قبليدو) ته وائی۔ د حج مبرور (مقبول) په معنیٰ کښې څو قوله دی :
(۱) هغه حج چه په هغے کښې ګناه ونهٔ کړے شی۔
(۲) مقبول حج : او د مقبوليت نښه داده چه د حج کولو نه پس ئے دينی اواخلاقی حيثيت د مخکښې په نسبت ډير بهتر شوے وی، او تبديلی پکښې راغلی وی۔
(۳) شيخ ابن عثيمينؒ فرمائی: د حج د مبرور (مقبول) کيدو دپاره څلور **صفتونه** دی :
اول : چه خالص د الله عز وجل دپاره وی، هيڅ ريا او شهرت يا بل غرض په کښې نهٔ وی۔ **دويم** چه په حلال مال سره وی، په حرام مال سره شوی حج ته حج مبرور نهٔ وائی۔
دريم : چه انسان په کښې ټول واجبات په خپله ادا کړی۔
ځينے خلك په رمی کښې وکيل مقرروری، په مکه کښې شپه تيروی او ددے په عوض هديه ورکوی، دغه شان نور کارونه هم په خپل خپل وخت کښې نهٔ کوی۔
څلورم : چه په دے کښې د ګناه، نافرمانئ، بدعت او مخالفت نه ځان وساتی : الله تعالیٰ فرمائی: ﴿فَمَنْ فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ﴾ [البقرة: ۱۹۷] (چا چه په دے کښې په خپل ځان حج لازم کړو نو هغه به بے حيائی نهٔ کوی او نهٔ

بـه په حج کښې نافرماني او جګړې کوی) په دې کښې دا هم داخله ده چه ښځه به د محرم نه بغير حج نۀ کوی۔ که وې کړو نو دا به حج مبرور نۀ وی۔

بعضِ علماؤ ورسره دوه نور صفتونه هم زياتي کړی :

پنځم : ښائسته اخلاق استعمالول، نرمي کول او د نورو خلکو د حقونو لحاظ ساتل۔

شپږم: د الله تـعـالـیٰ د شعائرو تعظيم او ادب کول، او د حج افعال په ادب او احترام او د زړۀ پـه مـحبـت او اجـلال سره ادا کول، او خانه پوری نۀ کول۔دغه شان دا افعال په ذکر او تسبيح تهليل، تحميد او استغفار سره ادا کول، آهـ۔

او په يو حديث کښې حج مبرور دې ته وئيل شويدې [اِطْعَامُ الطَّعَامِ وَاِفْشَاءُ السَّلَامِ وَطِيْبُ الْكَلَامِ] چـه پـه هـغې کښې صدقه وکړې شی، بل باندې خوراك وکړې شی، او سلامونه پـکښې زيات وکړې شی او نرمې خبرې، خوش اخلاقی۔ (طبرانی، احمد، حاکم وحسن اسناده المنذری فی الترغيب والهيثمی فی مجمع الزوائد وقال الذهبی صحيح)

- 2507(3) وَعَنْهُ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" مَنْ حَجَّ لِلّٰهِ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَيَوْمَ وَلَدَتْهُ اُمُّهُ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمايل : چا چه د الله دپاره حج وکړو، او بې حياء خبرې ئې ونکړې او ګناه ئې ونکړه، (نو د حج نه به داسې صفا) راواپس شی لکه په کومه ورځ چه مور زيږولې وی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشريح : مَنْ حَجَّ : دلته د حج نه مراد مطلق قصد د زيارت د بيت الله دې، نو عُمرې ته هم شامل دې لکه چه په بل روايت د مسلم کښې (مَنْ اَتٰی) لفظ راغلې دې۔

او د الله دپاره د حـج کـولـو مـطـلب دا دې چه خالص د الله د رضا او خوشحالولو دپاره او صـرف د هـغـۀ د حـکـم د عملی کولو حج وکړی، د خودنې او آورونې جذبه يا بل غرض او مقصد ئې په نظر کښې نۀ وی۔

فَـلَـمْ يَـرْفُثْ : رفـث جـمـاع تـه وائـی او د جـمـاع تعـريض اونې حياء خبـرو دپاره هم استعماليږی۔ از هریؒ وائی : رفث نوم دې د هر هغه شی چه سړې ئې د ښځې نه غواړی،

او ابـن عـمر او ابن عباس رضی الله عنهما به دا د ښځو په مخامخ د هغوی سره د یے حیاء خبرو کولو پورے خاص کولو۔
وَلَمْ يَفْسُقْ : يعنی گناه ئے ونکړه۔ یا د الله تعالیٰ د حدودو نه ئے تجاوز ونکړو۔
رَجَعَ : یعنی دیے به د حج نه راواپس شی، او کور ته راواپس کیدل مراد کول بعید دی۔
وَلَدَتْهُ أُمُّهُ : یعنی هیڅ گناه به ورپورے نهٔ وی۔ ظاهر دا ده چه پدے سره صغائر او کبائر ټول معاف کیږی۔ سوئ د پردی حقونو نه۔
مـگـر طبریؒ وائی چه پدے کښے هغه مظالم هم داخلیږی چه انسان د هغے نه توبه ویستلی وی او د هغے د وفادارئ نه عاجز وی۔

- 2508(4) وَعَنْهُ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:" اَلْعُـمْـرَةُ إِلَى الْعُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُمَا وَالْحَجُّ الْمَبْرُوْرُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلَّا الْجَنَّةَ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : عُمره تر عُمرے پورے هغه گناهونو لره رژونکے ده کوم چه د دِواړو ترمینځ وی، او د قبول کړے شوی حج بدله نشته مگر جنت دے۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : عـمره په لغت کښ زیارت ته وائی۔ بعض وائی : اَلْقَصْدُ اِلٰی مَكَانٍ عَامِرٍ ۔ یو آباد ځای ته قصد کول۔ بعض وائی : دا د عِمارة المسجد الحرام نه مشتق ده، یعنی آباد ساتل د مسجد حرام په عبادت سره۔
او په شریعت کښ : [زِيَارَةُ الْبَيْتِ الْحَرَامِ وَقَصْدُهٗ بِكَيْفِيَّةٍ مَخْصُوْصَةٍ وَشُرُوْطٍ مَخْصُوْصَةٍ] د بیت الله زیارت کول او هغے ته اراده کول په خاص کیفیت او خاصو شرطونو سره۔
یا عمره : احرام، سعی، طواف او سر خرئیل یا لنډولو ته وئیلے شی۔
إِلَى الْعُمْرَةِ : اَیْ مُنْتَهِيَةٌ اِلَى الْعُمْرَةِ۔ یعنی عمره چه ورسیږی بلے عمرے ته۔
او بعض وائی :.چه اِلٰی په معنیٰ د مَعَ سره دے لکه په (مَنْ اَنْصَارِیْ اِلَى اللهِ) کښے چه اِلٰی په مـعـنیٰ د مَعَ سره دے۔ نو په اول صورت کښے به یوه عمره گناهونه رژوی، او په دویم صورت کښے به دوه عمرے گناهونه رژونکے شی۔

او پدې حديث كښې مقصد بار بار عمرې كولو ته ترغيب وركول دي، او دا مطلب نۀ دې چه چا په عمر كښې يو كرت عمره وكړه د هغۀ گناهونه به نۀ معاف كوي.

او أبيّ د خپل شيخ (ابو عبد الله يعنى ابن عرفه) نه نقل كړيدي چه عمره كله بار بار ونكړې شي نو بعض هغه گناهونه رژوي چه د عمرې نه روستو شوې وي نۀ ټول او الله تعالىٰ ته د هغۀ بعضو علم دې.

او زرقانيّ په شرح د موطأ كښې ذكر كړيدیٰ: ابن عبد البرّ وائي چه دلته واړه گناهونه مراد دي نۀ كبائر، او بعض علماؤ ددې نه تعميم مراد كړيدې، او وئيلي ئې دي چه الفاظ د عموم به په خپل عموم باندې حمل وي مگر هغه چه دليل ئې خاص كړي.

د شيخ الاسلام ابن تيميهؒ، علامه ابن قيمؒ او نورو بعضِ محققينو په نيز كوم ځاى كښې چه قيد راغلې هلته به مراد وي او كوم ځاى كښې چه گناهونه مطلق راغلي نو هلته صغيره او كبيره دواړو ته شامل دي. دوئ فرمائي: كله چه په نيكئ كښې طاقت زيات وي نو په دې سره غټ گناهونه هم بخښل كيږي،

او ددې گنړ مثالونه دي لكه د بدر په غزا سره بدري صحابه كرامؓ ته ټول گناهونه معاف شول. دارنگ د حج په باره كښې راغلي چه څوك په دې كښې فسق او فجور ونۀ كړي نو د گناهونو نه به داسې پاك شي لكه په كومه ورځ چه مور زيږولې وو. او په دې ورځ په دۀ نۀ وړه گناه وي او نۀ غټه. نو دلته هم دواړه گناهونه مراد دي.

علامه سنديّ ليكي: كه د چا صغيره نۀ وي يا وي ليكن په بل سبب سره معاف شوې وي، نو عمره به د هغۀ دپاره فضيلت وي، (رفع د درجاتو به پرې كيږي) او كه يو تن د كبائرو نه ځان نۀ ساتي نو عمره به د هغۀ صغيره معاف كوي.

فائده: دا حديث په كال كښې د ډيرو عمرو كولو د استحباب دليل دې، نو پدې كښې رد دې په هغه چا چه په كال كښې د يوې عمرې نه زيات مكروه گنړي لكه مالكيهٗ او په هغه چا هم رد دې چه وائي په مياشت كښې به يوه عمره كولې شي.

او د دوئ دليل دا دې چه نبي كريم ﷺ څلور عمرې په څلورو كالو كښې كړيدي او د نبي كريم ﷺ افعال يا په جوب حمل دي يا په استحباب.

مگر دا خبره ضعيفه ده ځكه چه استحباب يواځې د رسول الله ﷺ په افعالو پورې خاص نۀ دې بلكه كله نا كله به هغۀ يو شې سَره د استحباب نه پريخودو دپاره د رفع د

مشقت د امت نه، او دلته ئې ډيرو عمرو ته په خپلو الفاظو سره دعوت ورکړيدے نو په غير د څه قيد نه د ډيرو عمرو استحباب ثابت شو۔

البته په يو سفر کښې دومره ډيرے عمرے کول چه هره ورځ ورته لګيدلے وی، د حدودو د حرم نه بهر وځی او بيرته د عمرے نيت تړی، دا کار د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامو او سلفو نه نهٔ دے نقل۔ او د سلفو نه کمه موده د دويمے عمرے لس ورځے نقل دی، نو ددے ترمينځ عمره کول مستحب نهٔ دی، او دا هم په هغه وخت کښې چه جدا سفر ورله کوی يعنی خپل کلي ته راواپس شی بيا لاړ شی۔

او هرچه په يو سفر کښې ډيرے عمرے جُمعه کول دی نو ددے نه د سلفو يوے ډلے منع فرمائيلے ده لکه سعيد بن جبيرؒ او طاووسؒ چه د ابن عباس رضی الله عنهما اَهم شاګردان دی،

طاووسؒ فرمائی : [اَلَّذِيْنَ يَعْتَمِرُوْنَ مِنَ التَّنْعِيْمِ مَا أَدْرِيْ أَيُؤْجَرُوْنَ عَلَيْهَا أَمْ يُعَذَّبُوْنَ ؟]۔

(هغه کسان چه د تنعيم (مسجد عائشے) نه عمرے کوی، زهٔ نهٔ پوهيږم چه دوی ته به پدے سره اجر ملاويږی او که عذاب؟)۔ (الباعث على انكار البدع والحوادث لابی القاسم المقدسی) ص (۷۰) والاشباه والنظائر (۱/۴۱۲) للسيوطی، والسلسلة الصحيحة رقم (۲۶۲۶)

او امام شافعیؒ په خپل مسند کښې د انس بن مالك ﷺ د بعض اولادو نه نقل کړيدی چه کله به د انس بن مالك ﷺ سر د ويښتو نه تور شو (پس د خرئيلو نه) نو عمرے ته به راووتو۔ او عادت دا دے چه سر په ويښتو سره په لسو ورځو کښې توريږی لکه چه امام احمدؒ وئيلی دی۔

او شيخ ابن بازؒ هم وئيلی دی چه په مياشت کښې د ډيرو عمرو کولو نه هيڅ مانع نشته، او که په يوه هفته کښې ئې هم وکړی نو حرامه نهٔ ده خو په داسے طريقه چه نورو حاجيانو ته تکليف نهٔ وی او خپله حج کونکي ته هم تکليف نهٔ وی۔ او هره ورځ او هره شپه نهٔ وی۔ (فتاوی نور علی الدرب)

وَالْحَجُّ الْمَبْرُوْرُ لَيْسَ لَهٗ جَزَاءٌ إِلَّا الْجَنَّةَ : ددے حديث نه د حج مبرور لوی ثواب معلوم شو هغه دا چه ددے بدله صرف جنت دے۔

❁ او معلومه شوه چه حج د عُمرے نه غوره دے ځکه په عُمرے سره ګناهونه معاف کيږی او په حج سره آخری مقصد (جنت) حاصليږی چه د الله د رضا مظهر دے۔

او علامه سنديؒ وائي چه دلته دخول اولي مراد دے ورنه اصل دخول خو په ایمان سره دے۔
او حافظ ابن القیمؒ فرمائي : دا حدیث دلیل دے چه د حج او د عمرے ترمینځ په تکرار کښې فرق شته ځکه چه که عمره هم په کال کښې صرف یوه کیدے شوے نو بیا به ئے د دواړو ترمینځ فرق نهٔ کولے۔

- 2509 (5) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" إِنَّ عُمْرَةً فِيْ رَمَضَانَ تَعْدِلُ حَجَّةً ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابن عباس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمایل : یوه عمره په رمضان میاشت کښې د حج سره برابره ده۔ (بخاريؒ ومسلمؒ)
تشریح : ددے حدیث سبب د ورود دا دے چه هرکله رسول الله ﷺ د حجة الوداع نه راستون شو نو ام سنان انصاریه رضی الله عنها ته ئے وفرمایل : [مَا مَنَعَكِ أَنْ تَحُجِّيْ مَعَنَا] تا له څه شوی وو چه تا زمونږ سره حج ونکړو؟۔ هغے وفرمایل :
[لَمْ يَكُنْ لَنَا اِلَّا نَاضِحَانِ فَحَجَّ اَبُوْوَلَدِهَا وَابْنُهَا عَلٰى نَاضِحٍ وَتَرَكَ لَنَا نَاضِحًا نَنْضَحُ عَلَيْهِ]۔
زمونږ صرف دوه اُوښان وو چه په یو باندے پلار او ځوی حج ته لاړل، او بل ئے مونږ ته د اُوبو راوړو دپاره پریخودو۔ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : هرکله چه رمضان راشي نو عمره وکړه ځکه چه عمره په رمضان کښې د حج سره برابره ده۔
تَعْدِلُ حَجَّةً : یعني په ثواب کښې د حج سره برابره ده ځکه چه کله ثواب د وخت د فضیلت د وجه نه زیاتیږي۔ (المظهر)
علامه طیبيؒ وائي : عمره د حج سره چرته برابره کیدے شي خو پدے کښې ډیره تیزی ورکول دی چه تاسو په رمضان کښې عمره کوئ۔ آه۔
او ددے دا مطلب نهٔ دے چه دا د فرضي حج یا نذری حج د طرفنه کافي کیږي بلکه ثواب مراد دے، او د الله تعالیٰ فضل ډیر فراخه دے۔
ابن العربيؒ وائي : د عمرے دا حدیث صحیح دے، او د الله تعالیٰ فضل او نعمت دے چه عمرے د حج مرتبه ونیوله کله چه رمضان ورسره ملګرے شي۔ مګر مخکښې د طیبيؒ

قول ذکر شو۔
او په روایت د مسلم کښې دي: [تَعْدِلُ حَجَّةً مَعِيْ] په رمضان کښې عمره د هغه حج سره برابره ده چه ما سره شوې وي۔

بیا پدې کښې اختلاف دے چه ددې زنانه نه کوم حج فوت شوے وو؟

بعضو وئیلي دي چه دې زنانه نه نفلي حج فوت شوے وو ځکه چه پدې باندې د امت اجماع ده چه عمره د فرضي حج په ځای نهٔ قائمیږي۔ او کیدے شي چه دې زنانه د ابوبکر صدیق ﷺ سره تیر شوے کال فرضي حج کړے وي نو ددې نه فرضي حج ساقط وو، بیائې اراده کړې وه چه د نبي کریم ﷺ سره حجة الوداع ته حاضره شي نو د سورلۍ د نهٔ موجودیدو د وجه نه پاتې شوه۔

بعض وائي: ددې نه فرضي حج فوت شوے وو او دا اولنے فرضي حج وو چه رسول الله ﷺ وکړو او د ابوبکر صدیق ﷺ حج اِنْذار او اعلان وُو خلقو ته۔ نو دې زنانه فرضي حج مخکښې نهٔ وو کړے او د دویم حج وخت لا راغلے نهٔ وو نو پدې وخت کښې ورته رسول الله ﷺ د تسلۍ دپاره وفرمایل چه په جلتۍ سره په راتلونکي رمضان کښې عمره وکړه تا ته به د داسې حج ثواب ملاؤ شي چه ما سره ادا کړے شوے وي۔

مګر دا خبره هله منلے شي چه دا خبره یقیني ثابته شي چه حج په لسم کال فرض شوے وو مګر پدې کښې خو اختلاف مخکښې بیان شو۔

نو حاصل دا شو چه که ددې نه فرضي حج فوت شوے وي نو بیا به د حدیث مطلب په رمضان کښې د عمرې فضیلت بیانول وي، او دا خبردارے ورکول وي چه ددې ثواب د حج په شان دے، داسې نهٔ چه دا د حج په ځائے قائمیږي۔ اوکه دا نفلي حج فوت شوے وي نو بیا عمره په رمضان کښې د نفلي حج په ځائے قائمیدے شي۔

بیا رسول الله ﷺ څلور واړه عمرې په ذي القعده کښې کړیدي، او دلته فضیلت د رمضان د عمرې راغلو نو ددې وجه نه چا وئیلي دي چه رسول الله ﷺ خو ځان دپاره بهتر عمل خوښوي نو ددې وجه نه د حج په میاشتو کښې عمره کول افضل دي،

مګر صحیح وجه دا ده چه په رمضان کښې عمره مطلقاً غوره ده، او رسول الله ﷺ په رمضان کښې ددې وجه نه نهٔ دي کړي چه کیدے شي چه په رمضان کښې د هغهٔ دپاره نور عبادات وو چه هغهٔ پدې وخت کښې عمره نشوه کولے،

يا پدې وجه چه په امت باندې مشقت رانهٔ ولي، ځکه که رسول الله ﷺ په رمضان کښې عمره کولې نو خلق به سَره د تکليف نه د هغهٔ سره تللي ځکه چه يو طرف ته به د سفر مشقت وې او بل طرف به روژه وه،

او کله به رسول الله ﷺ يو افضل عمل او افضل وخت کښې عمل پريخودو پدې يره چه په امت باندې فرض نهٔ شي.

حافظ وائي : داسې ښکاره کيږي چه په رمضان کښې د غير نبي دپاره عمره افضل ده، او د رسول الله ﷺ په حق کښې هغهٔ چه څه کړي وي همغه بهتر دي ځکه چه د رسول الله ﷺ عمل د جاهليت والو د کار د جواز د بيان دپاره وو چه هغوی به پدې وخت کښې عمره منع کوله. نو رسول الله ﷺ په ويتنا او عمل دواړو سره په هغوی باندې رد کول وغوښتل. آه.

تنبيه : عُمْرَةٌ فِيْ رَمَضَانَ الفاظ دلالت کوي چه تکرار د عمرې او زياتوالې د عمرې مستحب دې.

محب طبريؒ وائي چه ددې وجه دا ده چه (عمرةٌ) نکره ده په سياق د تفضيل کښې واقع شويده، نو ددې نه به عموم ظاهر وي لکه يو تن ووائي [رَجُلٌ مِنْ بَنِيْ تَمِيْمٍ يَعْدِلُ قَبِيْلَةً مِنْ غَيْرِهَا] نو ذهن ته ددې نه دا خبره راځي چه د بني تميمو هر سړې د بلې قبيلې سره برابريږي. نو دغه شان دلته هره عمره په رمضان کښې مراد ده.

- 2510(6) وَعَنْهُ رضي الله عنه قَالَ :إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ لَقِيَ رَكْبًا بِالرَّوْحَاءِ فَقَالَ : " مَنِ الْقَوْمُ ؟ " قَالُوْا : الْمُسْلِمُوْنَ . فَقَالُوْا: مَنْ أَنْتَ ؟ قَالَ : " رَسُوْلُ اللهِ " فَرَفَعَتْ إِلَيْهِ امْرَأَةٌ صَبِيًّا فَقَالَتْ :أَلِهٰذَا حَجٌّ ؟ قَالَ : " نَعَمْ وَلَكِ أَجْرٌ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او ابن عباس رضي الله عنه فرمائي : يقيناً نبي کريم ﷺ په روحاء مقام کښې د يوې قافلې والو سره ملاؤ شو نو تپوس ئې وکړو ؟ تاسو څوك يئ ؟ هغوی ووېل : (مونږ) مسلمانان يو. بيا هغوی ووېل : تهٔ څوك ئې ؟ هغهٔ وفرمايل : (زهٔ) د الله رسول يم. نو يوې زنانه هغهٔ ته يو ماشوم راپورته کړو او عرض ئې وکړو : آيا ددې (ماشوم) دپاره حج شته ؟ نبي

کریم ﷺ وفرمایل : آؤ، او اجر ستا دپاره (هم) دے۔ (مسلمؒ)

تشریح : لَقِيَ رَكْبًا : رکب جمع د راکب ده، یا اسم جمعه ده۔ لسو اُوښانو والو ته وائي، بیا پکښے توسع شویده نو هر جماعت ته وائي۔

بِالرَّوْحَاءِ : روحاء د مدینے نه (۷۴) څلور اویا کیلو میټره وړاندے د بدر او د مدینے ترمینځ واقع دے، او دے ځای کښے به قافلو والو دمے کولے۔ (المعالم الاثیرة۱/۱۱۲)

او پدے وخت کښے رسول الله ﷺ د مکے نه مدینے طرف ته روان وو۔

او بعض وائي : دا واقعه مکے ته په تللو کښے راغلے ده۔

قَالَ :" رَسُوْلُ اللهِ: اَیْ اَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ۔ یعنی زهٔ د الله رسول یم۔

قاضي عیاضؒ وائي : کیدے شي چه دا ملاقات د شپے وو او دوی رسول الله ﷺ نهٔ وو پیژندلے۔ او کیدے شي چه د ورځے وو لیکن دے خلقو لا تر اُوسه رسول الله ﷺ نهٔ وو لیدلے ځکه چه دوئ په خپلو علاقو کښے ایمان راوړے وو، او ددے نه مخکښے ئے هجرت نهٔ وو کړے۔ لکه چه په قصه د حجة الوداع کښے راغلي دي چه رسول الله ﷺ د حجة الوداع دپاره په خلقو کښے اعلان وکړو نو مدینے ته ډیر خلق راغلل دے دپاره چه د رسول الله ﷺ اقتداء وکړي، نو کیدے شي چه دا هغه خلق دي چه رسول الله ﷺ ئے نهٔ وو لیدلے، ځکه چه د رسول الله ﷺ سره په حجة الوداع کښے ایك لاکھ تیس هزار صحابه کرام وو۔ (المرقاة)

او په روایت د مالك کښے په موطأ کښے راغلي دي چه رسول الله ﷺ په یوه ښځه ورتیر شو چه هغه په کجاوه کښے ناسته وه نو هغے ته وویل شو [هٰذَا رَسُوْلُ اللّٰهِ] دا د الله تعالیٰ رسول راغے۔ الحدیث۔ باجيؒ وائي : چه دے زنانه ایمان راوړے وو لیکن رسول الله ﷺ ئے نهٔ وو لیدلے او د هغهٔ ذات گرامي ئے نهٔ وو پیژندلے۔

فَرَفَعَتْ إِلَيْهِ امْرَأَةٌ صَبِيًّا : علامه سیوطيؒ د بعض اهلِ لغتو نه نقل کړیدی فرمائي: ماشوم چه کله د مور په خیټه کښے وي نو دهٔ ته (جَنِیْن) وائي، اوکله چه پیدا شي نو (صبي) ورته وائي او کله چه د تي نه پریکړے شي نو تر اوو کالو پورے ورته (غلام) یعني هلك وائي۔ (منحة العلام شرح بلوغ المرام۱/۱۲۸)

أَلِهٰذَا حَجٌّ ؟ : اَیْ یَحْصِلُ لِهٰذَا الصَّبِيِّ حَجٌّ اَیْ ثَوَابُهٗ۔ یعني آیا ددے ماشوم دپاره د حج ثواب شته؟

وَلَكِ أَجْرٌ : دا ئے په سوال باندے زیات ذکر کړو دپاره د ترغیب د هغے۔
علی القاریؒ وائی : دا اجر د سببیت په وجه دے، چه دے ورته تعلیم ورکړیدے که هغه مُمیّز وی، یا اجر د نیابت دے په احرام او رمی او وقوف او پورته کولو په طواف کښے او سعی وغیره کښے که هغه ډیر ماشوم وی۔
[وَلَكِ أَجْرٌ] یعنی د هغهٔ د بارولو او د احرام د ممنوعاتو نه د بندولو او د طواف وغیره کارونو کولو په وجه به تاته اجر ملاوېږی، او دا مطلب نهٔ دے چه گنے د هغهٔ د حج اجر به تاته ملاوېږی۔ ځکه بیا داسے پکار وو : [وَلَكِ أَجْرُهُ].
دا حدیث دلیل دے چه د ماشومانو حج هم جائز دے بلکه بهتر دے، اگرکه ممیز نهٔ وی یعنی په ښهٔ او بد نهٔ پو هیږی، هرکلهٔ چه ددهٔ ولی ددهٔ دپاره ټول هغه کارونه وکړی کوم چه حاجی دپاره کول ضروری وی نو حج ئے صحیح دے، او دا به ددهٔ نفلی حج وی۔لکه څنگه چه د ماشوم مونځ صحیح دے او دا ددهٔ نفلی مونځ وی، او اجر به ئے مور او پلار ته هم رسیږی د وجه د خواریٔ د هغوی نه۔
او دا د جمهورو علماؤ قول دے، قاضی عیاضؒ وائی : ددے په جواز کښے بعض مبتدعینو خلاف کړیدے لیکن قول ئے مردود دے په فعل د نبی کریم ﷺ او د هغهٔ د اصحابو او اجماع د امت سره۔ ابوبکر صدیق ﷺ عبد الله بن زبیر ﷺ باندے طواف کړے وو چه هغه په ټوټه (کپړه) کښے تاؤ وو۔ او نبی کریم ﷺ د بنی عبد المطلب په هلکانو باندے حج کړے وو، او سلفو په خپلو ماشومانو باندے حجونه کړیدی، لهذا دا مستحب عمل دے۔ (التمهید لابن عبد البر ۱/۱۰٤)
سائب بن یزید ﷺ فرمائی : ((په ما باندے رسول الله ﷺ سره شریك حج وکړے شو او زهٔ د اوو کالو ووم)) [بخاری:۱۸۵۸]
بعض احنافو نه دا نقل دی چه د ماشوم حج نهٔ کیږی مگر صرف د تدریب او تعلیم په طریقه ئے حج جائز دے۔
فوائد الحدیث : (۱) ماشوم چه کله حج وکړی نو دا نفلی حج دے، دا د فرضی حج په ځای نهٔ قائمیږی بلکه کله چه ماشوم بالغ شی او د حج طاقت ئے وی نو دوباره به فرضی حج کوی۔ لکه دا په بل حدیث کښے راغلی دی : ابن عباس ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمایل : [أَيُّمَا صَبِيٍّ حَجَّ، ثُمَّ بَلَغَ الْحِنْثَ، فَعَلَيْهِ أَنْ يَحُجَّ حَجَّةً أُخْرَى]

كوم ماشوم چه حج وكړي او بيا وخت ته ورسيږي (بالغ شي) نو په هغهٔ باندے واجب دي چه بل حج وكړي. (ابن أبي شيبة : ١٤٨٧٥، البيهقي: ٤/٣٢٥، ابن خزيمة: 3050، حاكم: ١/٤٨١، ارواء الغليل: ٩٨٦، صحيح الجامع الصغير: ٢٧٢٩).

(دا روايت مرفوعاً او موقوفاً دواړه ثابت دے).

ځينے علماؤ د [نَعَمْ] نه دا معلومه كړے چه كه ماشوم حج وكړو نو دا به د فرضي حج په ځاى قائميږي، خو دا خبره درست نهٔ ده، بلكه حج د مانځه پشان دے، د ماشوم مونځ صحيح دے خو دا د فرض مانځه په ځاى نهٔ قائميږي. دغه شان دا حديث په هغه چا هم رد دے چه هغوئ وائي : د ماشوم حج صحيح نهٔ دے.

(۲) ماشوم كه په ښهٔ بد پو هيږي او تميز لري نو ددهٔ ولي به دهٔ ته د احرام طريقه ورښائي او ځان سره به ئے شريك طواف وغيره كارونو كښے گرځوي او كوم افعال چه ادا كولے شي هغه به خپله ادا كوي، او كوم چه نشي ادا كولے لكه جمرات ويشتل وغيره نو ددهٔ ولي به ددهٔ نائب جوړ شي، اوكه مُميز نهٔ وي بلكه ډير ماشوم وي نو د هغهٔ له طرفه به د هغهٔ ولي نيت وكړي او په طواف وغيره كښے به ئے د ځان سره بار كړے وي او ددهٔ دپاره مستقل طواف ته ضرورت نشته، ځكه نبي ﷺ دغه ښځے ته ددے حكم نهٔ دے فرمايلے، سره ددے چه دا د بيان مقام دے.

او دا د شيخ ناصر السعديؒ او شيخ ابن بازؒ قول دے.

او شيخ ابن عثيمينؒ فرمائي: ددهٔ دپاره به مستقل طواف كوي او يا به ئے يو معتمد سړي ته وسپاري چه هغه پرے طواف وكړي، او دليل دا وائي چه د ماشوم نه نهٔ نيت موجود شوے او نهٔ عمل، نيت خو بارورنكي كړے او يو عمل د دوه كسانو د طرفه نهٔ صحيح كيږي. **راجح** قول اولنے دے ددے حديث د وجه نه.

(منحة العلام شرح بلوغ المرام لصالح الفوزان ١/١٣٠)

(٤) زنانه دپاره جائز دي چه د پردي سړي نه د مسئلے پوښتنه وكړي په دے شرط چه په خبرو كښے به لچك او نرمائش نهٔ پيدا كوي بلكه سمه او غوڅه خبره به كوي.

(٥) او معلومه شوه چه د ديني مسائلو د پوښتنے دپاره علماؤ ته رجوع پكار ده.

(٦) [مَنِ الْقَوْمُ؟] نه معلومه شوه چه مسلمانانو د يو بل سره د ملاقات په وخت تعارف او پيژندگلو كول مستحب دي. او دغه خلقو د نبي ﷺ ددے خبرے نه دا معلومه كړه چه

د هغوئ مقصد د قوم او نسب ښودل نهٔ دی بلکه اسلام ښکاره کول مقصد دی چه دوئ دوستان دی او که دشمنان۔

(۷) او معلومه شوه چه ماشومانو له په ماشوم والی کښې اسلامی تربیت ورکول پکار دی، دې دپاره چه دوئ ددې سره آموخته شی او بیا د بلوغ نه پس ورته د اسلام په احکامو عمل کول آسان وی، او ددې تربیت اجر او ثواب به والدینو ته ملاویږی ځکه رسول الله ﷺ وفرمایل چه ستا دپاره به ددې تربیت کولو ضرور اجر ملاویږی۔

- 2511(7) وَعَنْهُ ﷺ قَالَ : إِنَّ امْرَأَةً مِنْ خَثْعَمَ قَالَتْ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! إِنَّ فَرِيْضَةَ اللهِ عَلٰى عِبَادِهٖ فِي الْحَجِّ أَدْرَكَتْ أَبِيْ شَيْخًا كَبِيْرًا لَا يَثْبُتُ عَلَى الرَّاحِلَةِ أَفَأَحُجُّ عَنْهُ ؟ قَالَ : "نَعَمْ " وَذٰلِكَ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابن عباس ﷺ نه روایت دې فرمائی چه د خثعم قبیلې یوې ښځې ووېل اې د الله رسوله ! بیشکه د الله فریضه چه د حج په باره کښې په خپلو بندګانو باندې ده هغې زما پلار په داسې حال کښې راګیر کړې چه هغه ډیر بوډا دې، سورلئ دپاسه نشی تینګیدې نو آیا زهٔ د هغه د طرفه حج کولې شم ؟ نبی ﷺ وفرمایل : آؤ ! او دا واقعه په حجة الوداع کښې راپیښه شوې وه۔ (بخاریؒ، مسلمؒ)۔

تشریح : وَعَنْهُ ﷺ : یعنی د ابن عباس ﷺ نه روایت دې۔ دلته د صحیحینو دوه قسمه روایتونه دی، یو کښې دا دی چه دا روایت ډائرکټ ابن عباس ﷺ کوی۔

دویم دا چه عن ابن عباس عن الفضل بن عباس دې۔ یعنی دا روایت د مسند د فضل نه دې، امام ترمذیؒ وائی : ما د محمد بن اسماعیل البخاریؒ نه ددې په باره کښې تپوس وکړو نو هغهٔ وفرمایل : ډیر صحیح پکښې دا ده چه عن ابن عباس عن الفضل روایت دې۔ خو دا احتمال هم شته چه ابن عباس د فضل نه آوریدلې وی، او د بل چا نه ئې هم آوریدلې وی بیا ئې بغیر د واسطې نه نقل کړې وی انتهی۔

حافظ ابن حجرؒ وائی : امام بخاری روایت د فضل ځکه غوره کړیدې چه هغه د نبی کریم ﷺ سره پدې موقعه کښې شاته سور وو۔

او عبد الله بن عباس ﷺ پدې وخت کښې د کمزورو سره د مزدلفې نه منیٰ ته تلې وو، او بخاري په باب التلبيه والتكبير کښې د عطاء عن ابن عباس روايت راوړيدې چه نبي کريم ﷺ د ځان سره شاته فضل سور کړو بيا فضل ﷺ خپل ورور ابن عباس ﷺ ته خبر ورکړو چه رسول الله ﷺ هميشه وو چه تلبيه ئې وئيله تردې چه جمره عقبه ئې ويشتله. نو فضل خپل ورور ته دغه ليدلې شوې حالت بيان کړو. او دا احتمال هم شته چه ددې خثعميه زنانه سوال د جمرة العقبه د ويشتلو نه روستو شوې وي، نو ابن عباس ﷺ هم ورته حاضر شوې وي نو يو ځل ئې د ورور نه نقل کوي ځکه چه هغه صاحبِ قصه دې، او بل ځل خپل ليدلې شوې حالت بيانوي.

او ددې تائيد هم شته چه دا تپوس د زنانه د جمرة العقبه د ويشتلو نه روستو واقع شوې وو او عباس ﷺ هم دې ته حاضر شوې وو، امام احمد (۷۵/۱) او د هغۀ ځوی عبد الله (۱/ ۷٦) او طبريؒ د علي ﷺ نه روايت راوړيدې فرمائي :

رسول الله ﷺ په عرفات کښې ودريدو نو وې فرمايل : دا موقف دې او عرفات ټول د ودريدو ځاى دې. بيا ئې حديث ذکر کړو او په هغې کښې دا دي : بيا د قربانۍ ځاى ته راغلو ...... او په روايت د عبد الله بن احمد کښې دي : [ثُمَّ جَاءَتْهُ امْرَأَةٌ شَابَّةٌ مِنْ خَثْعَمَ] بيا ورته د خثعم قبيلې يوه ځوانه ښځه راغله نو وې وئيل چه زما پلار ډير بوډا دې چه دماغ ئې کمزوري شويدې او هغه د الله تعالىٰ فريضې په باره د حج کښې رالاندې کړيدې نو آيا د هغۀ د طرفنه دا جائز کيږي چه زۀ د هغۀ نه ادا کړم؟ وې فرمايل : آؤ، او تۀ ئې د خپل پلار نه ادا کړه.

راوي وائي : رسول الله ﷺ د فضل څټ (يو طرف ته) تاؤ کړو نو عباس ﷺ وويل : اې د الله رسوله ! تا ولې د خپل ترۀ ځوى څټ تاؤ کړو ؟ وې فرمايل :

[رَأَيْتُ شَابًّا وَشَابَّةً فَلَمْ آمَنْ عَلَيْهِمَا الشَّيْطَانَ]

(ما ځوان هلك او ځوانه جينۍ وليده نو زۀ په دوى باندې د شيطان نه په امن کښې نۀ شوم). او يو بل روايت د بخاري کښې دي چه فضل ښائسته وو او د خثعم قبيلې دغه جينۍ هم ښائسته وه، او فضل هغې ته کتل نو رسول الله ﷺ ورله مخ تاؤ کړو.

نو هرکله چه دلته عباس ﷺ حاضر دې نو هيڅ مانع نشته چه د هغۀ ځوى عبد الله به هم د هغۀ سره حاضر وي. انتهىٰ ترجمة قول الحافظ.

[خَثْعَمَ] : دا يوه قحطاني قبيله ده چه د دوئ كورونه د طائف نه اَبها طرفته تلے لاره باندے پراته دي۔

فِي الْحَجِّ : يعني د حج په باره كښے۔ او ممكن ده چه فِيْ په معنىٰ د مِنْ بيانيه سره وي۔ او معنىٰ ئے ده (يعني حج)۔

شَيْخًا : دا حال دے او كبيرًا د هغے نعت دے۔

سنديؒ وائي : اَدْرَكَتْ اَبِيْ شَيْخًا كَبِيْرًا نه دا خبره فائده كيږي چه د حج د فرضيت دپاره قدرت په سفر باندے شرط نۀ دے، (لكه دلته دا بوډا په سورلئ نشي تينګيدے او بيا هم پرے حج فرض دے) او رسول الله ﷺ دا خبره ثابته وګرځوله، نو دا تائيد كوي چه د حج د فرضيت په باره كښے د بدن استطاعت معتبر نۀ دے۔ بلكه صرف زاد او راحله كافي ده۔ والله اعلم۔ (مرعاة والسندي)

لَا يَثْبُتُ عَلَى الرَّاحِلَةِ: دا بل نعت دے، يا حال دے د احوال متداخله ؤ نه۔

او مطلب دا دے چه زما په پلار باندے حج فرض شويدے پدے طريقه چه هغۀ اسلام راوړيدے پداسے حال كښے چه هغه بوډا دے او مال ورسره شته، يا مخكښے نه مسلمان دے ليكن اُوس ورته مال حاصل شو۔

په يو بل روايت كښے دي هغے ووئيل : إِنْ شَدَدْتُهٗ خَشِيْتُ اَنْ يَّمُوْتَ۔

((كه زۀ دے په سورلئ وتړم نو يريږم چه مړ به شي))۔

امير يمانيؒ ددے نه استدلال كړيدے چه ظاهر ددے حديث سره د زيادت نه دا خبره ثابتوي چه د بل چا د طرف نه حج كولو دپاره دوه شرطونه دي، يو دا چه خپله په سورلئ باندے نشي كيناستے، او دويم دا چه د هغۀ په سورلئ باندے تړلو كښے هغۀ ته ضرر او تكليف رسيږي، نو بس چا ته چه تړل ضرر نۀ رسوي لكه يو تن په كجاوه كښے كينولے شي نو هغۀ دپاره د بل چا حج نۀ كيږي۔

وَذٰلِكَ : يعني دا ټوله ماجرىٰ په حجة الوداع كښے په منىٰ كښے وشوه۔

فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ: وداع د واو په زبر سره دے او زير هم جائز دے، يعني د رخصتئ حج، او دا په لسم كال د هجرت وو، په دے حج سره نبي كريم ﷺ د خپلو صحابو نه رخصتي واغسته۔ او دا د نبي كريم ﷺ اولنے او آخرنے حج وو۔ ددے نه تقريبًا درے مياشتے پس وفات شو۔

فوائد الحديث: (۱) دلته پدې مقام کښې په رواياتو کښې ډير اختلاف راغلے دے چه آيا د چا په باره کښې چه تپوس کړے شويدے سړے وو او که ښځه وه، دارنګه تپوس کونکے سړے وو او که ښځه؟

نو حافظ په فتح الباري (۷/۲۲۱) کښې ددے ډير تفصيل کړيدے: ابن شهابؒ چه د سليمانؒ نه روايت کوی نو په هغے کښې تپوس کونکے ښځه ذکر کوی، او هغے د خپل پلار په باره کښې تپوس کړے مګر ددے مخالف يحيى بن ابى اسحاق چه د سليمانؒ نه روايت کوی نو هغهٔ سائل سړے ذکر کوی چه زما پلاره مړ شويدے۔

او ابن سيرينؒ د هغهٔ نه روايت کوی چه يو سړے راغے او وے وئيل: زما مور ډيره بوډئ ده۔ او ابن عُليهؒ د هغهٔ نه روايت کوی چه يو سړے راغے وے وئيل: زما مور او پلار،

او ددے ټولو مخالف معمر د يحيى نه روايت کوی چه يوے ښځے د خپلے مور په باره کښې تپوس وکړو او دا اختلاف ټول د سليمان بن يسارؒ نه نقل دے، نو مونږ به د نورو راويانو الفاظو ته وګورو، نو چه مونږ وکتل نو کُريب د ابن عباسؓ نه هغه د حصين بن عوف خثعمي ﷺ نه روايت کوی چه ما ووئيل اے د الله رسوله! زما پلار لره حج رالاندے کړيدے۔

او عطاء الخراسانيؒ د ابو الغوث بن حصين خثعمي نه روايت کوی چه هغهٔ د رسول الله ﷺ نه تپوس وکړو د هغه حج په باره کښې چه د هغهٔ په پلار باندے وو۔

(دا دواړه رواياتو نه ابن ماجهؒ راوړيدی) خو اول روايت د سند په لحاظ ډير قوی دے۔

او دا د مخکښنو رواياتو سره پدے کښې متفق دے چه تپوس کونکے سړے وو او د پلار په باره کښې ئے تپوس کړے،

نو پدے رواياتو کښې حافظ زين الدين العراقيؒ (شيخ الحافظ العسقلانيؒ والعينيؒ) داسے جمع والے کړيدے چه دا واقعات مختلف دی، او تپوس ډير کرته واقع شويدے، کله ښځے د پلار په باره کښې کړيدے او کله ئے د مور په باره کښې کړيدے۔ او کله سړی د پلار په باره کښې کړيدے او کله تپوس د بوډا په باره کښې دے او کله د مړی په باره کښې۔

ليکن حافظ وائی: ما ته د مجموعه طُرقو نه داسے ښکاره کيږی چه تپوس کونکے سړے دے او د هغهٔ لور د هغهٔ سره وه نو هغے هم تپوس وکړو او د چا په باره کښې ئے چه تپوس کولو نو هغه د سړی پلار او مور دواړه وو او ددے خبرے تائيد حديث د ابويعلى

باسناد قوي كوي ابن عباسؓ د فضل نه روايت كوي چه زۀ د رسول الله ﷺ سره سوروم او يو اعرابي وو چه د هغۀ سره ښائسته لور وه، نو اعرابي شروع شو چه رسول الله ﷺ ته ئې هغه مخې ته مخې ته كوله پدې اميد چه هغه به ئې په نكاح واخلي او زۀ شروع شوم چه ما هغې ته كتل او رسول الله ﷺ به زما سر رانيولو او تاوولو به ئې نو هغۀ به تلبيه وئيله تردې چه جمره عقبه ئې ويشتله.

نو بناء پدې دا قول ددې جينۍ [اِنَّ اَبِیُ] يعنې زما پلار. كيدې شي چه ددې نه ددې مراد نيكه وي، ځكه چه ددې پلار خو ددې سره ملګرې وو او ګويا كه پلار دې ته حكم كړې وو چه د نبي كريم ﷺ نه تپوس وكړي دې دپاره چه هغه ددې خبرې واوري او دې لره ويني پدې اميد چه نكاح به ورسره وكړي، نو هركله چه رسول الله ﷺ هغه خوښه نكړه نو د هغې پلار د خپل پلار په باره كښې تپوس وكړو او هيڅ مانع نشته چه هغۀ د خپلې مور په باره كښې هم تپوس كړې وي، او د رواياتو نه دا معلوميږي چه دا شخص حصين بن عوف خثعمي وو. او كوم روايت كښې چه ابو الغوث بن حصين دې هغه ضعيف دې، او كيدې شي چه په هغې كښې ابو الغوث حصين الفاظ وي او په روايت كښې ابن لفظ زيات شوې وي، يا كيدې شي چه ابو الغوث د حصين سره موجود وو نو هغۀ هم تپوس كړې لكه چه پلار او خورئې تپوس وكړو. والله اعلم انتهیٰ.

صاحب المرعاة وائي: ډيره ښه دا ده چه په روايت د ابو يعلى كښې چه كومه لور ذكر شوه نو هغه د خپل ترۀ سره راغلې وه نۀ د پلار سره ځكه چه [مَعَهُ بِنتٌ لَهٗ] كښې تاويل كول آسان دي په نسبت ددې چه په ټولو هغه رواياتو كښې تاويل وكړې شي چه په هغې كښې [اِنَّ اَبِیُ شَيُخٌ كَبِيُرٌ] الفاظ راغلي دي، نو دلته لور د خپل پلار په باره كښې تپوس كړې او د هغې ترۀ د خپل پلار په باره كښې تپوس كړې، دغه شان كه د حافظ خبره واخستې شي نو بيا خو به د سړي د خپل پلار په باره كښې تپوس ته حاجت رانشي پس د هغې نه چه لورئې د هغۀ (يعني نيكه) په باره كښې تپوس كړې وي. والله اعلم.

(۲) **فائده** : حديث نه ثابته شوه چه څوك په خپل بدن سره د حج كولو نه عاجز وي خو په مال سره پرې قادر وي نو ددۀ له طرفه حج بدل كول جائز دي، بلكه دۀ باندې لازم دي چه بل چا ته به حكم كوي چه ددۀ د طرفنه حج وكړي، او دا به داسې وي لكه چه خپله ئې حج كړې وي، لكه دلته ددې بوډا پلار له طرفه ددۀ لور حج كوي. (خطابیؒ)

(٣) : د ډير بوډا په حکم کښې هغه مريض هم دے چه د هغهٔ د رغيدو اميد نشی کيدے لکه يوتن ګوډ شل دے، او يا په سفر کښې پرے بيهوشي اوبے خودي راځي، نو د هغهٔ حکم هم دا شان دے چه ددهٔ له طرفه حج کول جائز دی۔ البته که د چا مرض داسے وی چه د رغيدو اميد ئے وی نو هغه به بيا د مرض د ښهٔ کيدو انتظار کوی او حجِ بدل به ددهٔ له خوا نشی کيدے، لکه په دے حديث کښې بوډا والے يو داسے عذر دے چه په عامه توګه د ښهٔ کيدو اميد ئے نشته۔ او دا قول د ابوحنيفه او شافعیؒ دے۔

(المغنی لابن قدامۃ ٣/٢٢٧)

او پدے کښې امام مالكؒ وائی چه څوك خپله طاقت نهٔ لری نو په هغهٔ باندے حج لازم نهٔ دے ځکه چه آيت کښې دی ﴿ مَنِ اسۡتَطَاعَ اِلَيۡهِ سَبِيۡلًا ﴾ او دا سړے مستطيع (طاقت لرونکے) نهٔ دے۔ ابن قدامۃؒ وائی : مګر دا خبره د ډيرو احاديثو مخالف ده۔ بيا ئے هغهٔ ذکر کړيدی۔ يو د هغے نه دا حديث الباب دے۔

دارنګه استطاعت په مال سره داسے دے لکه استطاعت په بدن سره۔ لکه دے حديث کښې سوچ وکړه۔

(٤) د حجِ بدل دپاره دا ضروری نهٔ ده چه نائب به د منوب د ملك او علاقے نه احرام تړی بلکه که په حجِ بدل کښې د هر ملك د ميقات نه احرام تړی نو تړل ئے جائز دی، ځکه نبی ﷺ دلته هيڅ شرط نهٔ دے لګولے، اوکومو فقهاؤ چه دا شرط لګولے نو د هغویٔ خبره ضعيفه ده، ځکه مکے پورے سفر کول بذاتِ خود مقصود نهٔ دی بلکه د احرام تړلو نه پس د حج افعال سرته رسول مقصود وی، او ددے نه مخکښې کارونه وسيله او ذريعه ده۔

(٥) حديث نه معلومه شوه چه زنانه د نارينه د طرفه (او دغسے نارينه د زنانه د طرفه) د حج افعال ادا کولے شی ځکه چه نبی ﷺ دا زنانه چه د خپل پلار د طرف نه ئے حج کولو په دے حج کولو برقراره ساتلے، خو جمهور علماء ورسره يو قيد لګوی هغه دا چه دے زنانه به اول خپله حج کړے وی نو هله به د بل د طرفه حج کيږی، لکه دا خبره روستو حديث کښې راځی ان شاء الله۔

ابن قدامۃؒ او ابن بطالؒ فرمائی : دے کښې حسن بن صالحؒ مخالفت کړيدے او د ښځے حج ئے د سړی د طرف نه جائز نهٔ دے ګڼړلے پدے بهانه چه ښځه په احرام کښې هغه جامه نشی اغوستلے کومه چه سړے اغوندی، مګر ابن المنذرؒ وائی : دا د ښکاره سنت نه

غفلت دے۔

(٦) او معلومه شوه چه په سورلئ باندے ځان سره بل تن کینول جائز دی هر کله چه هغه ددے طاقت لری۔ علامه ابن علانؒ فرمائی: نبی ﷺ په مختلفو اوقاتو کښے د خپل ځان سره د ځلوینښتو نه زیات کسان په سورلئ شاته کینولی۔

(۷) او معلومه شوه چه په شرعی عباداتو او معاملاتو کښے د علماؤ نه د ښځو د حاجت په وخت فتویٰ غوښتل مشروع دی او د نارینه ؤ دپاره د حاجت په وخت د ښځو خبرے آوریدل جائز دی هر کله چه په دے کښے فتنه نهٔ وی۔ والله تعالیٰ اعلم.

(۸) دا نیابت په فرض حج کښے وو، نو په نفل حج کښے به په طریقه اولیٰ سره جائز وی۔ (۹) د زنانو احرام په مخ کښے وی د احرام په حالت کښے به زنانه خپل مخ لوڅ (بربنډ) ساتی، البته د پردو سړو د نظر نه د بچ کیدو کوشش پکار دے۔

دلته نبی ﷺ د فضل ؓ مخ بل طرفته په دے وجه اړولو چه هسے نهٔ دا په فتنه کښے چرته پریوځی ځکه چه هلك هم ښائسته او ښځه هم ښائسته وه، او یو بل ته ئے کتل راکتل نو نبی ﷺ د فضل ؓ مخ بل طرفته واړولو۔

(۱۰) خطابیؒ وائی: پدے حدیث کښے ددے خبرے بیان دے چه حج د بل چا د طرفنه جائز دے برابره ده چه هغه عاجز شخص ژوندے وی یا مړے وی۔ او دا د مانځه او روژو او نورو بدنی اعمالو په شان حکم نهٔ لری چه په هغے کښے نیابت نهٔ دے جائز۔ او دا مذهب د امام شافعیؒ دے او د امام مالكؒ دا رأیه نهٔ ده، هغه وائی چه که دا کارئے وکړو نو د بل د طرفنه نهٔ جائز کیږی۔ او هغهٔ به دا وئیل چه که مړی د حج کولو وصیت نهٔ وی کړے نو د هغهٔ د طرف نه صدقه کول او غلام آزادول ما ته د هغهٔ د طرفنه د حج کولو نه زیات بهتر دی۔ او ابراهیم نخعیؒ او ابن ابی ذئبؒ وائی چه هیڅوك به د بل چا نه حج نهٔ کوی۔ لیکن دا حدیث په هغوی باندے حجت دے۔ انتهیٰ۔

ابوبکر ابن العربیؒ وائی: دا حدیث د خثعمیه د شریعت د هغے قاعدے نه بهر دے چه ﴿ اَنْ لَّیْسَ لِلْاِنْسَانِ اِلَّا مَا سَعٰی ﴾ د هر انسان دپاره د هغه شی فائده ده چه هغه ئے خپله کوشش کړے وی۔ او دا د الله تعالیٰ د طرف نه مهربانی او آسانی ده چه د بچی او د هغهٔ د مال په وجه هغه نقصان راواپس کیږی کوم چه د سړی نه شوے وی۔

مګر بعض علماؤ پدے باندے رد کړیدے چه بچے او د هغهٔ مال هم په سعی د انسان

كښې داخل دي. (مرعاة المفاتيح ۸/۳۱۹).

- 2512(8) وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: أَتَى رَجُلٌ النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَ: إِنَّ أُخْتِي نَذَرَتْ أَنْ تَحُجَّ وَإِنَّهَا مَاتَتْ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: " لَوْ كَانَ عَلَيْهَا دَيْنٌ أَكُنْتَ قَاضِيَهُ ؟ " قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: " فَاقْضِ دَيْنَ اللهِ فَهُوَ أَحَقُّ بِالْقَضَاءِ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه :او د ابن عباس ﷺ نه روايت دے هغه فرمائي چه يو سړے نبي كريم ﷺ ته راغلو نو عرض ئے وكړو: يقيناً زما خور نذر كړيدے چه هغه به حج كوي او هغه (د نذر نه روستو) مړه شوه (نو آيا زۀ د هغې د طرفنه حج كولے شم؟) نو نبي كريم ﷺ وفرمايل: كه چرے په هغې باندے قرض وے آيا تا به د هغې نه ادا كولے ؟ هغۀ ووېل : آؤ، وے فرمايل : نو د الله تعالىٰ قرض ادا كړه ځكه چه هغه د ادا كولو ډير لائق دے. (بخاريؒ ومسلمؒ)

تشريح : د بخاري په كتاب الحج او الاعتصام كښې داسے روايت دے [إِنَّ امْرَأَةً مِنْ جُهَيْنَةَ جَاءَتْ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَتْ : إِنَّ أُمِّي نَذَرَتْ أَنْ تَحُجَّ].

حافظ دے روايت ته ترجيح وركړيده چه تپوس كونكے ښځه وه. مګر دا هم صحيح ده چه دواړو يعني ورور تپوس كړے وي په باره د خور كښې او لور په باره د مور كښې. شوكانيؒ وائي : د دواړو ترمينځ څه منافات نشته، ځكه چه دواړه جدا جدا واقعات دي. يا كه قصه يوه وي نو بيا مور او لور دواړو نذر كړے وو نو ورور د خور په باره كښې او لور د مور په باره كښې تپوس وكړو.

او حافظ وئيلي دي چه دغه سړے عقبه بن عامر ﷺ وو. او د جُهَنِيَه ښځې په باره كښې ئے وئيلي دي چه دا د سِنان بن سلمه جُهَني ښځه وه لكه په نسائي كښې دي او په مسند احمد كښې (سِنان بن عبد الله) راغلے دے، او همدا ډير صحيح دے.

نَذَرَتْ : نذر منښته، هغه شے په ځان لازمول چه شريعت ابتداءً نۀ وي لازم كړے.

لَوْ كَانَ عَلَيْهَا دَيْنٌ : يعني كه په هغې باندے د مخلوق قرض وے او تا هغه ادا كولے نو هغه به ادا كيدلے؟ نو هغۀ ووېل : آؤ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : نو دغه شان د الله تعالىٰ قرض هم ادا كړه، د هغۀ قرض ډير لائق د ادا كولو دے.

په روايت د جامع الاصول کښې دی : (فاقض الله) ای فَاقْضِ حَقَّ اللّٰهِ ـ (د الله تعالیٰ حق ادا کوئ)

فوائد الحديث: (۱) دا حديث دليل دے چه چا حج نۀ وی کړے او د حج نذر ومنی نو کله چه حج وکړی نو دا ئے د فرضی حج نه کافی کيږی د جمهورو علماؤ په نيز او نذری حج به بيا هم کوی۔ او بعض وائی چه دا حج ئے نذری شو او دوباره به فرضی حج کوی۔ او بعض وائی چه د دواړو د طرفنه کافی کيږی۔

انظر (القرى لقاصد ام القرى ص (۶۲) للطبرىّ)

(۲) دا حديث دليل دے چه څوك مړ شی او د هغۀ په ذمه باندے د الله حق وی لکه حج يا کفاره يا نذر وی نو د هغے قضائی راوړل واجب دی۔

(۳) دا حديث دليل دے چه څوك د حج نذر وکړی او بيا مړ شی او حج ئے نۀ وی کړے نو دا جائز ده چه وارث د هغۀ د طرف نه حج وکړی يا غير وارث ځکه چه دلته رسول الله ﷺ د ورور نه دا تفصيل طلب نکړو چه آيا دے د هغۀ وارث دے او که نۀ، او دا قانون دے چه تَرْكُ الْاِسْتِفْصَالِ فِیْ مَقَامِ الْاِحْتِمَالِ يُنَزَّلُ مَنْزِلَةَ الْعُمُوْمِ فِی الْمَقَالِ۔

(يعنی د احتمال په ځای کښې تفصيل نۀ طلب کول داسے دی لکه عامه خبره کول) يعنی دا به په عموم باندے محموليږی۔ لکه دا خبره په اصولو کښې ثابته شويده۔ او دا الفاظ چه [فَاقْضِ دَيْنَ اللّٰهِ فَاللّٰهُ اَحَقُّ بِالْوَفَاءِ] هم دليل دے۔

(۴) دا حديث دليل دے چه څوك نذر ومنی او بيا د پوره کولو نه مخکښے مړ شی نو دده ولی دپاره دا مشروع دی چه د هغۀ د طرفه ئے ادا کړی۔ بيا که مړی مال پريښے وی نو ادا کول به واجب وی اگرکه وصيت ئے نۀ وی کړے ځکه چه دا په يو مالداره سړی باندے قرض دے نو پوره کول به ئے واجب وی۔ اوکه مال ئے نۀ وی پريښے نو د جمهورو علماؤ په نيز د ولی دپاره ئے ادا کول مستحب دی، واجب نۀ دی۔

(۵) او حديث دليل دے چه په عباداتو کښے نذر منعقد کيږی چه يوتن يو داسے عبادت په ځان لازم کړی چه هغه په اصل کښے شريعت په دۀ نۀ وی لازم کړے۔ او بيا دا نذر پوره کول واجب دی خو په دے شرط چه دا د نيکئ نذر وی،

نبی ﷺ فرمائی: [مَنْ نَذَرَ اَنْ يُّطِيْعَ اللّٰهَ فَلْيُطِعْهُ]

(څوك چه د الله د بندگئ څۀ شے په ځان ومنی نو هغه دِے پوره کړی) [بخاری: ۶۶۹۶]

او دا پوره کول مرې ته فائده رسوي ولې چه نبي ﷺ دغه ښځې ته د نذر پوره کولو حکم وکړو، نو که هغې ته ئې نفع نۀ رسولے نو دا حکم به ئې ورته نۀ کولے.
دغه شان که دا نذر پوره کول واجب نۀ وے نو هغې ته به ئې د پوره کولو حکم نۀ کولے.
(٦) نذر منل مکروه دي ځکه حديث کښې دي: ((نذر په خير راتګ نۀ کوي، دے سره خو د بخيل نه مال راويستل کيږي)) [مسلم: ١٦٣٩]
نو بهتره داده که انسان نه څۀ خير ښيګړه کيږي نو هغه دے نقد کوي او نذرونه دے نۀ مني، ځکه کيدے شي چه دا پوره نۀ کړے شي، لکه دے ښځې هم حج نذر منلے وو مګر ادا کولو نه مخکښې مړه شوه. خو ددے باوجود که څوك نذر وکړي او هغه د طاعت او عبادت څۀ عمل وي، نو د هغې پوره کول به واجب وي، ځکه چه الله تعالیٰ د مومنانو په صفت کښې فرمائي:
﴿يُوفُونَ بِالنَّذْرِ﴾ [الانسان: ۷]
(دوئ خپلې منښتې پوره کوي) دے حديث کښې هم نبي ﷺ د نذر پوره کولو دعوت ورکړے.
(۷) د نذري حج په حکم کښې زکاة، کفاره او نور واجب حقونه هم دي، که څوك مړ شو نو اګرکه وصيت ئې نۀ وي کړے د هغۀ د مال نه به دا شيان ادا کولے شي. خو که مال ئې نۀ وي پريښے نو د جمهورو علماؤ په نيز دا حقونه ادا کول مستحب دي، او د ظاهريه ؤ په نيز واجب دي ځکه په دے حديث کښې په حج کولو امر راغلے او امر د وجوب دپاره وي. (الحافظ ابن حجرؒ والنوويؒ)
خو د جمهورو قول د دوو وجو نه راجح دے:
(أ) که دا امر د وجوب دپاره شي او ولي د مړي حق پوره نۀ کړو نو ولي به ګنهګار وي، حالانکه دا ددے آيتِ کريمه خلاف راځي: ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ أُخْرٰى﴾ [فاطر: ۱۸]
(ب) دا قاعده ده چه کله امر د سوال په جواب کښې راشي نو بيا ترے وجوب نۀ معلوميږي، لکه دلته دغه ښځې سوال کړے چه آيا زۀ د مړي له طرفه حج وکړم؟ يعنی ما دپاره دا حج کول جائز دي که نه؟ نو نبي ﷺ ورته وفرمايل: حج ترے وکړه، يعنی تا دپاره دا جائز دي. نو دا په استحباب حمليږي نۀ په وجوب.
البته که په بچي باندے د والدينو د طرفه حج کولو ته واجب وويل شي نو دا به لرے نۀ

وی، ځکه مور پلار سره نیکی کول مطلقًا واجب دی، د هغوئ د ژوند په حالت کښې وی اوکه د مرګ نه پس۔

(۸) او معلومه شوه چه لکه څنګه په فرضی حج کښې نیابت جائز دے (لکه مخکښې حدیث کښې تیر شو) نو دغه شان په نذری حج کښې هم نیابت جائز دے۔

(۹) علماء فرمائی: دا حدیث د شرعی قیاس په حجیت باندے دلیل دے ځکه دلته نبی کریم ﷺ د الله حق د بندګانو په حق قیاس کړے، لکه څنګه چه د بندګانو حق ادا کول ضروری دی نو دغه شان د الله حق ادا کول هم ضروری دی۔ او لکه څنګه چه یو انسان د بندګانو حق د چا د طرفه ادا کړی نو ادا کیږی، دغه شان که څوك د الله حق د چا د طرفه ادا کړی نو دا هم ادا کیږی۔ (مرعاة المفاتیح وفتح الباری)

(۱۰) فَاللّٰهُ اَحَقُّ بِالْقَضَاءِ وَفِیْ رِوَایَةٍ : بِالْوَفَاءِ :

دا الفاظ بعض علماؤ دلیل ګرځولے دے ددے دپاره چه د الله حق به د بنده په قرض مقدم وی، او دا یو قول د امام شافعیؒ دے، او بعضو ددے برعکس خبره کړیده،

مګر ظاهر دا ده چه د بندګانو حق مقدم دے په حق د الله تعالیٰ نو بیا د (فَهُوَ اَحَقُّ) څه معنیٰ ده ؟ نو جواب دا دے چه ددے معنیٰ دا ده چه لکه څنګه چه تهٔ د بندګانو د حقوقو رعایت کوے نو دغه شان به د الله تعالیٰ هم رعایت کوے نو پدے کښ د تقدیم او تاخیر هیڅ خبره نشته۔ ځکه چه دلته ئے داسے نهٔ دی وئیلی [فَاللّٰهُ اَحَقُّ بِالتَّقْدِیْمِ] یعنی چه د الله تعالیٰ حق مخکښې ادا کول پکار دی۔ دا پکښې نشته۔

او طیبیؒ دلته بله خبره کړیده چه دغه شخص چه نذر کړے وو هغهٔ مال پریخودے وو نو نبی کریم ﷺ ورته وفرمایل چه د الله تعالیٰ حق د بندګانو په حق باندے مقدم دے نو په دغه مال کښې (د ثُلُث نه) به ددهٔ د طرف نه حج ادا کړے شی۔

(۱۱) بعض علماؤ ددے نه دلیل نیولے دے چه د بل چا د طرف نه نیابةً حج ادا کول جائز دی اګرکه خپله ئے حج نهٔ وی کړے ځکه چه دلته نبی کریم ﷺ ددهٔ نه تپوس ونکړو چه تا خپله حج کړے او که نهٔ، دویم دا حج ئے د قرض سره مشابه کړو۔

لیکن ددے جواب روستو په حدیث د شبرمه کښې راځی۔

درجة الحدیث : دا روایت صرف بخاریؒ راوړیدے او مصنف پدے باب کښې د جامع الاصول تقلید کړے نو په خطائی کښې واقع شویدے ځکه چه دا په مسلم کښې نشته۔

- 2513(9) - وَعَنْهُ ﷺ: قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: لَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ وَلَا تُسَافِرَنَّ امْرَأَةٌ إِلَّا وَمَعَهَا مَحْرَمٌ ، فَقَالَ رَجُلٌ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! اُكْتُتِبْتُ فِيْ غَزْوَةِ كَذَا وَكَذَا، وَخَرَجَتْ امْرَأَتِيْ حَاجَّةً،قَالَ : اِذْهَبْ، فَاحْجُجْ مَعَ امْرَأَتِكَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : د ابن عباس ﷺ نه روايت دے، رسول الله ﷺ و فرمايل: هيڅ يو سړے دِے د هيڅ يوے (پردۍ) ښځے سره نۀ ځانله کيږی، او نۀ به يوه ښځه سفر کوی مگر که هغے سره څوك محرم رشته داروی، نو يو سړی عرض وکړو : اے د الله رسوله ! زما د فلانۍ فلانۍ غزا دپاره نوم ليکل شوے، او زما ښځه حج دپاره وتلے ده، نو نبی ﷺ وفرمايل : تۀ لاړ شه او د خپلے ښځے سره حج وکړه۔ (بخاریؒ، مسلمؒ)۔

تشريح : لَا يَخْلُوَنَّ : د خلوت نه دے تنهايئ او يواځے والی ته وائی۔ او نهی تاکيد دے۔

او په يو حديث کښے ورسره دی : [اِلَّا ثَالِثُهُمَا الشَّيْطَانُ] مگر دريم به ورسره شيطان وی۔

[ترمذی: ۲۱۶۵، صحيح]

بيا اختلاف دے چه آيا غير مَحْرَم د مَحْرَم په ځای کافی کيږی او که نۀ پدے طريقه چه د خلوت معنیٰ ختمه شی لکه معتمدے زنانه ورسره وی، نو بعض وائی چه غير محرم د محرم ځائے نيسی ځکه چه په سړی باندے تهمت ضعيف کيږی ځکه چه د نهی مناسب معنیٰ دا ده چه د شيطان د دواړو ترمينځ فتنه اچولو نه يره ده۔

قفالؒ وئيلی دی چه بل څوك نۀ دے جائز بلکه صرف محرم ضروری دے، شوکانیؒ وائی همدا ظاهر د حديث دے۔

نو دارنگه که د ښځے او سړی سره داسے ماشوم وی لکه د يو کال يا د دوه کالو يا درے کالو چه د هغے نه شرم او حياء نۀ کيږی نو دا هم د خلوت حکم لری، ناجائز دے، ځکه چه د هغۀ وجود او عدم برابر دے۔

وَلَا تُسَافِرَنَّ امْرَأَةٌ : دا عامه ده چه د حج سفر وی يا بل سفر وی، لنډ سفر وی او که اُوږد۔ او ښځه بوډۍ وی او که ځوانه۔ ځکه چه حديث مطلق دے او په بعض رواياتو

كښې ددې اطلاق سره قيدونه راغلي دي لكه (لَا تُسَافِرُ ثَلَاثًا) (فَوْقَ ثَلَاثٍ) (يَوْمَيْنِ) (يَوْمًا وَلَيْلَةً) (يَوْمًا) (لَيْلَةً) (بَرِيْدًا) لكه ابوداود او بيهقي او حاكم كښې دا راغلي دې۔ او په طبرانيؒ كښې (ثَلَاثَ أَمْيَالٍ) راغلي دې۔

حافظ وائي: اكثرو علماؤ پدې باب كښې په مطلق باندې عمل كړيدې ځكه چه دا قيدونه مختلف دي۔

قاضي عياضؒ دا مختلف الفاظ ذكر كړي بيا ئې وئيلي دي چه ددې ترمينځ هيڅ تنافر او تضاد نشته ځكه چه دا په مختلفو احوالو او مختلفو واقعاتو حمل دي نو هر چا چه څه آوريدلي هغه ئې نقل كړي۔

او امام نوويؒ وائي: ددې الفاظو اختلاف د سائلينو او مواطنو په اختلاف باندې بناء دې۔ بيهقيؒ وائي ګويا كه د رسول الله ﷺ نه تپوس شوې چه ښځې درې ورځې بغير د محرم نه سفر كولې شي؟ نو وې فرمايل نه، دوه ورځې كولې شي؟ يوه ورځ يا يوه شپه كولې شي؟ وې وئيل: نه، دغه شان نور واخله۔

او دا ټول روايات صحيح دي، او په مختلفو موقعو باندې حمل دي۔ نو هر هغې شي چه هغې ته سفر وائي نو ښځه به بغير د محرم نه منع كولې شي۔ انتهىٰ۔

خو په دې كښې تقييد او حد بندي غرض نۀ ده بلكه دا په مختلفو واقعاتو كښې نبي كريم ﷺ مختلف جوابونه وركړي او مقصود ترې د سفر منع والې دې۔

مَحْرَم: محرم په فتحه د ميم او سكون د حاء او فتحه د راء سره دې۔

د ښځې مَحْرَم، خپلوان يعني خاوند او هغه څوك چه هميشه دپاره پرې ددې ښځې سره نكاح حرامه وي او د هغوئ نه د ښځې پرده نۀ وي۔ لكه ځوي، نمسې (اګركه هر څومره ښكته وي)، پلار او نيكۀ (اګركه هر څومره پورته وي) ورور، ترۀ، ماما، وراره، خورئې۔ رضاعي ځوي او ورور، د مور خاوند (چه مور ئې ورله وادۀ كړې وي) زوم، سخر، ښځې۔

اُكْتُتِبْتُ: (زۀ ليكلې شوې يم) يعني زما نوم د مجاهدينو په فهرست كښې ليكل شوې او زۀ د فلانئ غزا دپاره تيار كړې شوې يم۔

وخرجت امرأة: يعني اراده د وتلو ئې كړې ده دپاره د حج۔ او د هغې سره څوك محرم نشته۔ يا روانه شويده۔

فوائدالحديث: (۱) حديث نه معلومه شوه چه پردئ ښځې سره تنهائي او يوائې

والے اختیارول حرام دی، اګرکه د ورور یا د ترهٔ یا د ماما ښځه وی، ځکه د عقبه بن عامر ﷺ په حدیث کښے دی، نبی ﷺ وفرمایل: [اِيَّاكُمْ وَالدُّخُوْلَ عَلَى النِّسَاءِ] تاسو پردو ښځو کره مهٔ ورځئ، نو د انصارو یو سړی عرض وکړو: یارسول الله ! [اَفَرَأَيْتَ الْحَمْوَ] د لیور څهٔ حکم دے؟ وے فرمایل: [اَلْحَمْوُ الْمَوْتُ] دا خو مرګ دے۔ [بخاری: ۵۲۳۲، مسلم: ۲۱۷۲]

په لیور کښے د ترهٔ ځوی او د خاوند نور خپلوان هم داخل دی۔ او لیور ته ئے مرګ ځکه وفرمایل چه لکه څنګه چه د مرګ نه انسان ته خطره وی نو دغسے ددهٔ نه هم خطره ده ځکه پردے سړے خو کور ته څوك نهٔ پریدی، نو د هغهٔ نه دومره خطره نهٔ وی، او لیور دپاره ورندار ته رسیدل آسان وی نو ددهٔ نه خطره زیاته ده۔

او دا خلوت عام دے که په کمره او کوټه کښے وی یا په ګاړی یا جهاز کښے وی، یا په تعلیم او تعلم کښے وی، او یا طبیب او ډاکټر سره وی، دا ټول حرام دی۔ او دا خلوت په دریم کس سره ختمیږی، دے وجے نه یوه زنانه ډرائیور سره په ګاړی او رکشه کښے نشی تلے، خو که دوه زنانه وی نو بیا ددے حکم جدا دے۔

(۲) او معلومه شوه چه د خاوند او محرم نه بغیر د ښځے دپاره سفر کول حرام دی، برابره خبره ده که دا سفر د ملاقات دپاره وی اوکه د حج یا عمرے دپاره، او دا سفر د عبادت وی اوکه د غیر عبادت، دغه شان که دا سفر په سورلئ باندے وی اوکه په ګاړی، موټر، ریل ګاړی او جهاز وغیره کښے وی۔ او برابره خبره ده که دا سفر د یوے ورځے وی اوکه د شو اروز اوکه د درے ورځونه زیات، لکه چه دا خبره مخکښے ذکر شوه۔

او برابره خبره ده که دا ښځه ځوانه وی اوکه بوډئ۔ ددے ټولو دپاره محرم ضروری دے۔ او په محرم کښے دا شرط دے چه هغه به عاقل بالغ وی ځکه په دے کښے غرض د ښځے حفاظت دے او هغه د عقل او بلوغ نه بغیر نهٔ راځی۔

(۳) د حج د وجوب دپاره مخکښے بیان شو چه پنځه شرائط دی: (۱) اسلام (۲) بلوغ (۳) عقل (٤) آزادی (۵) استطاعت۔ خو د ښځو لپاره ددے شرائطو سره مزید دوه شرطونه نور هم دی: (۱) د مَحرم موجودیدل (۲) ښځه به په عدت کښے نهٔ وی۔ دے وجے نه کومه ښځه کښے چه نور شرائط موجود وی خو مَحرم ورسره نهٔ وی نو په دے حج فرض نهٔ دے ځکه دا استطاعت نهٔ لری، الله تعالیٰ فرمائی: ﴿وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا﴾ [آل عمران: ۹۷]

امام احمدؒ فرمائي: مَحرم د سبيل نه دے۔ يعني كه محرم موجود وو نو ښځه به استطاعت والا حسابيږي اوكه نهٔ وي نو نهٔ به حسابيږي۔ (فتح الباري والمرعاة)

(٤) د ښځے د سفر دپاره محرم شرط كول د شريعت كمال دے، په دے سره د ښځے د عفت او عصمت حفاظت غرض دے، ځكه زنانه ناقص العقل او نرم طبيعت والا ده، په آسانئ سره ددے په عقل لويے كيدے شي او اخلاق ئے خرابيدے شي خصوصًا د سفر په حالت كښے، دے وجے نه پكار ده چه دے سره په سفر كښے هغه څوك وي چه ددے د عزت حفاظت كوي۔ دا د امام احمدؒ، اسحاقؒ، ابوحنيفهؒ او نورو علماؤ قول دے، او همدا راجح دے۔ د وجے د ښكاره نصوصو نه۔ (تيسير العلام وغيره)

مسئله : آيا زنانه د معتمدو ښځو سره د حج سفر كولے شي ؟

د امام مالكؒ، شافعيؒ او په يو روايت كښے د امام احمدؒ او د سلفو د يو جماعت قول دادے چه كله ښځه د نورو ثقه او معتمدو ښځو په ډله كښے حج ته سفر كوي او د هغوئ سره يو نګران او محافظ وي نو په ښځه باندے د دوئ سره حج كول فرض دى او دوئ سره ددے سفر كول جائز دى۔

امام اوزاعيؒ فرمائي: د عادلانو نارينه ؤ سره وتلے شي۔

د دوئ دليل دادے : په صحيح بخاري كښے راځي عمر فاروق ﷺ ازواج مطهراتو ته په خپل آخري حج كښے اجازت وركړے وو، او د هغوئ سره ئے عثمان بن عفان او عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنهما ليږلي وو۔ [بخاري: ١٨٦٠، تعليقًا]

او پدے باندے دغه درے صحابه كرام متفق دى او په دوئ باندے نورو صحابه كرامو اعتراض نهٔ دے كړے۔ (فتح الباري)

ليكن دا وئيل كيدے شي چه د ازواج مطهراتو حكم د امت د نورو زنانو نه جدا دے۔ دوئ خو د ټول امت ميندے دى، نورے زنانه په دوئ نشي قياس كيدے۔ (مرعاة)

او سبب د اختلاف دادے چه دے علماؤ معنىٰ او مقصد له اعتبار وركړے، چه كله خطره وي نو محرم ضروري دے، اوكه خطره او فتنه نهٔ وي بلكه امن وي نو بيا محرم ضروري نهٔ دے۔ او هغه مخكنو علماؤ د نصوصو ظاهر ته كتلي او همدا قوي خبره ده۔

حافظ ابن حجرؒ او حافظ ابن قدامهؒ د امام بغويؒ نه نقل كړيدي چه ددے نه صرف دوه

صورتونه مستثنیٰ دي: ❁ يو دا چه: که د كافرانو د ملك نه ښځه مسلمانانو ته هجرت كوي او څوك ورسره نهٔ وي نو بغير د محرم نه دا هجرت او سفر كول ئې د ضرورت په وجه درست دي. ❁ دويم دا چه يوه زنانه په صحرا كښې وركه شوه او هيڅوك ورسره نهٔ وي نو بغير د محرم نه د دغه ځائے نه راوتل جائز دي ځكه دا د ځان او د دين د بچاؤ صورتونه دي. (فتح الباري والمغني لابن قدامه)

(۵) او حديث نه معلومه شوه چه په دوه كارونو كښې تعارض راشي نو په دے كښې چه كوم زيات اَهم وي هغه به مخكښې كولے شي لكه دلته جهاد له تلل فرضِ كفائي وو او د ښځے حفاظت كول فرضِ عين وو، نو دويم له په اول باندے ترجيح وركړے شوه.

- 2514(10) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ : اِسْتَأْذَنْتُ النَّبِيَّ ﷺ فِي الْجِهَادِ. فَقَالَ :" جِهَادُكُنَّ الْحَجُّ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او عائشه رضی الله عنها فرمائي : ما د رسول الله ﷺ نه د جهاد په باره كښې اجازه وغوښته نو هغهٔ وفرمايل : ستاسو جهاد حج دے. (بخاريؒ، مسلمؒ)

تشريح : ددے روايت نور الفاظ په بخاري كښې داسے راغلي دي : عائشه ﷺ فرمائي: ما عرض وكړو: اے د الله رسوله ! مونږ تاسره ولے غزا له نهٔ ځو؟ نو نبي ﷺ وفرمايل: ((ستاسو دپاره ښهٔ او مناسب جهاد حج دے، داسے حج چه مقبول وي)).

بل روايت كښې دي: عائشه ﷺ فرمائي: ((يا رسول الله ! مونږ ته جهاد د ټولو نه غوره عمل ښكاري نو آيا مونږ جهاد نهٔ كوو؟ وے فرمايل: نهٔ، ليكن بهترين جهاد مقبول حج دے)). د بخاري په روايت كښې صرف حج ذكر دے، د عُمرے تذكره نشته.

مطلب دا چه : كله امهات المؤمنين ﷺ د جهاد لويه مرتبه او فضيلت واوريدهٔ نو دوئ د نبي كريم ﷺ سره د جهاد دپاره د وتو مطالبه وكړه، نو نبي ﷺ دوئ له تسلي وركړه چه ستاسو جهاد حج دے. يعنې كوم مشقت او تكليف چه د الله د دين دپاره په جهاد كښې وي نو دا مشقت او تكليف او الله دپاره ځان سترے كول په حج كښې هم دي.

فوائد: (۱) حديث نه ثابته شوه چه په ښځو جهاد فرض نهٔ دے، ځكه چه په دے كښې

دشمن ته چیلنج ورکول وی او هغهٔ سره مقابله او مبارزه کول وی، او دا کار د ښځو نه نهٔ کیږی۔ البته که د نارینه ؤ د مرهم پټئ دپاره وځی او یا د خپل ځان نه دشمن دفع کوی نو دا جائز دی۔ ابن بطالؒ فرمائی : دا حدیث دلیل دے چه په ښځو جهاد فرض نهٔ دے او دوی پدے آیت [اِنۡفِرُوۡا خِفَافًا وَّثِقَالًا] کښې داخل نهٔ دی،

او ددے حدیث دا مطلب نهٔ دے چه زنانه جهاد ته وتلے نشی بلکه پدے کښې صرف دا خبره ده چه حج دوئ دپاره زیات بهتر دے۔ (شرح ابن بطال)

او ام سُلیم او ام عمّاره او عائشه وغیره رضی الله عنهن په احد غزا کښې د مریضانو د پټئ وغیره دپاره شریکے شوے وے۔

(۲) حج او عُمره د زنانو په حق کښې د جهاد فی سبیل الله پشان اجر او ثواب لری۔

(۳) حج او عُمره هم په جهاد فی سبیل الله کښې داخل دی، ځکه جهاد ویل کیږی، د الله د دین د وچتوالی دپاره د خپل وس مطابق کوشش کول، او دا په حج او عمره کښې هم وی۔

- 2515 (11) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " لَا تُسَافِرُ امْرَأَةٌ مَسِيْرَةَ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ إِلَّا وَمَعَهَا ذُوْ مَحْرَمٍ " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او ابو هریره ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : یوه زنانه به د یوے ورځے او شپے د مسافت په اندازه سفر نهٔ کوی مگر دا چه د هغے سره محرم وی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : لا تسافر : برابره ده چه د حج سفر وی او که غیر حج، او په گاړی کښې وی او که په ریل گاړی کښې، او دا نفی ده خو معنیٰ ئے د نهی ده۔ یعنی سفر دِ ے نکوی۔

دا روایت صریح دلیل دے چه زنانه د یوے ورځ او یوے شپے په اندازه سفر هم بغیر د محرم نه نشی کولے، او کومو روایاتو کښې چه درے ورځے راغلی نو هغه نفی د یوے ورځ یا د یوے شپے نهٔ کوی، او اهل علمو د سفر د تحدید په باره کښې هم اختلاف کړے د وجه د اختلاف د احادیثو نه خو پدے کښې د ډیر احتیاط خبره دا ده چه په کمه درجه به عمل کولے شی ځکه چه کمه اندازه د زیات سره منافات نهٔ لری۔ او دا جوابونه د سائلینو د حال مطابق ورکړے شویدی۔

نو ددے نه معلومه شوه چه کومو فقهاءِ احنافو (لکه صاحب هدایه) چه دا خبره کړیده چه د سفر د حد د مسافت نه کم ځای ته د زنانه سفر جائز دے چه هغه اته څلویښت (٤٨) میله دی۔ نو دا ددے احادیثو مخالف معلومیږی۔

او چا چه د هغوی دپاره دا توجیه کړیده چه شرعاً د سفر اطلاق د درے ورځو نه په کم باندے نهٔ کیږی نو دا خبره هم ضعیفه ده۔

ذُوْ مَحْرَمٍ : دلته د ذُوْ لفظ زیاتی دے۔

مَسِيْرَةَ : دا مصدر میمی دے، یعنی سیر لکه د مَعِيْشَةٌ په شان چه په معنیٰ د عَيْشٌ سره دے۔

- 2516(12) وعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ وَقَّتَ لِأَهْلِ الْمَدِيْنَةِ: ذَا الْحُلَيْفَةِ، وَلِأَهْلِ الشَّامِ: الْجُحْفَةَ، وَلِأَهْلِ نَجْدٍ: قَرْنَ الْمَنَازِلِ، وَلِأَهْلِ الْيَمَنِ: يَلَمْلَمَ. هُنَّ لَهُنَّ وَلِمَنْ أَتٰى عَلَيْهِنَّ مِنْ غَيْرِ أَهْلِهِنَّ لِمَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ، فَمَنْ كَانَ دُوْنَهُنَّ فَمُهَلُّهُ مِنْ أَهْلِهِ وَكَذَاكَ وَكَذَاكَ حَتّٰى أَهْلُ مَكَّةَ يُهِلُّوْنَ مِنْهَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : ابن عباس ﷺ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ مدینے والو دپاره ذو الحلیفه، شام والو دپاره جُحفه، نجد والو دپاره قرن المنازل او یمن والو دپاره یلملم میقات مقرر کړے۔ دا میقاتونه په دے ملکونو کښے وسیدونکو دپاره دی او د هغه خلقو دپاره هم دی چه د حج او عمرے په اراده سره د بل ځائے نه په دے علاقو باندے راتیریږی، او څوك چه ددے میقاتونو نه دننه وی نو د هغهٔ د احرام تړلو ځای د هغهٔ کور دے، او دغه شان او دغه شان تردے چه مکے والا به د مکے نه احرام تړی۔ (بخاریؒ ومسلمؒ) ۔

تشریح : وَقَّتَ : د توقیت نه دے، په لغت کښے یو شی لره خاص وخت مقرر کولو ته وائی مگر بیا پکښې توسع شویده، او د مطلق تحدید (مقررولو) دپاره، او دارنگه د مکان دپاره استعمالیږی۔ یعنی میقات ئے مقرر کړے۔ او میقات هغه وقت یا مکان ته وائی چه د عبادت کولو دپاره شریعت مقرر کړے وی۔

د حج میقاتونه دوه قِسمه دی :

(۱) **میقات زمانی** : یعنی هغه وختونه چه شارع د حج ادا کولو دپاره مقرر کړی۔ او

دا د حج میاشتے دی، الله تعالیٰ فرمائی: ﴿اَلْحَجُّ اَشْهُرٌ مَّعْلُوْمَاتٌ﴾ [البقرة :۱۹۷]
یعنی د حج کولو وخت معلومے مشهورے میاشتے دی، چه د حج هیڅ یو عمل ددے نه مخکښے نۀ کیږی، او د حج د اعمالو نه اولنے عمل احرام دے، چه دا به ددے میاشتو نه مخکښے نۀ تړل کیږی۔
د علماؤ په اجماع سره د حج میاشتے : شوال، ذو القعده او لس ورځے د ذو الحجے دی (د جمهورو په نیز) یا ټوله ذو الحجه ده۔ او دا میقاتِ زمانی صرف د حج دپاره دے۔ د عُمرے دپاره میقاتِ زمانی نشته، بلکه دا په هر وخت کښے ادا کیدے شی۔
(۲) **میقات مکانی** : یعنی هغه ځایونه چه د احرام نه بغیر د هغے نه تیریدل جائز نۀ دی کوم چه په دے حدیث کښے ذکر شوی۔ اودا میقاتِ مکانی د حج او عُمرے دواړو دپاره دے۔ او په دے میقاتونو مقررولو کښے مقصد د بیت الله او البلد الحرام تعظیم، ادب او احترام کول دی، چه په دے به حج یا عمره کونکے د احرام په حالت کښے په تعظیم او په خشوع خضوع سره ور تیریږی۔ (مرعاة المفاتیح)
بل په دے کښے د مسلمانانو اتفاق او اتحاد ته اشاره ده چه په یو سپین لباس کښے ټول ددے میقاتونو نه ور تیریږی۔
لِأَهْلِ الْمَدِيْنَةِ: مدینے والو دپاره، مدینے والا عام دی که ددے اصلی باشنده وی یا هلته وسیدونکے وی۔
[ذَا الْحُلَيْفَةِ] ذا او ذو خاوند ته وائی، او حُلیفه د حلفاء تصغیر دے، د یو بوټی نوم دے چه دلته به زرغونیدهٔ، یعنی داسے ځای چه خاوند د دغه بوټی دے۔ او دا یو کلے دے چه اوس په دے وخت کښے په ((ابیار علی)) مشهور دے، ابیار علی ورته ځکه وائی چه دلته یو کوهے وو، ددے په حقله خلقو دا مشهوره کړے وه چه دے ځائے کښے علی ﷺ د پیریانو سره جنګ کړے، خو دا بے بنیاده خبره ده۔
ذو الحلیفه د مدینے نه تقریبًا (۱۰) او د مکے نه (۴۲۰) کلو میټره لرے دے، په ټولو میقاتونو کښے دا میقات د مکے نه زیات لرے دے۔ دا د مکے نه لس مرحلے لرے دے، او یوه مَرحله (پړاؤ) تقریبًا (۴۰) کلو میټره وی۔ دلته اُوس یو مسجد جوړ شوے چه هغے ته ((مسجد ذو الحلیفه)) وائی، د هغے نه خلك احرام تړی۔ (منحة العلام)
الْجُحْفَةَ : ددے خپل نوم مَهْیَعَه وو۔ لیکن سیلاب پرے راغے او هر څهٔ ئے وبهیول،

دے وجے نـه هغے ته جُحفه وویل شوه، ځکه جُحفه د اجتحاف نه ده، د ویخ نه وښکلو ته وائی، او دا هم سیلاب د ویخ نه وښکلے وه۔

او دا د یو پخوانی کلی نوم دے چه د مکے او مدینے په لاره کښے سمندر ته نزدے راځی، دا د مکے نه شمالِ مغربی طرفته په (۱۸۷) کلو میټره فاصله باندے واقع دے۔

دا د شام، ترکی، سوریا، لبنان، اردن، فلسطین او د مصر نه راتلونکو خلقو دپاره او خوك چه ددے ملکونو په لاره راتیریږی د هغوئ دپاره میقات دے۔ او دا کلے اوس وران ویجاړ دے، دے وجے نه اوس خلق د ((رابغ)) نه احرام تړی چه دا د جُحفے نه لږ شان را مخکښے (د ۱۵ کیلو میټره فاصله) یوه علاقه ده، ځکه دلته د اوبو انتظام دے۔او دلته اوس جومات هم جوړ شوے۔

لِأَهْلِ نَجْدٍ: نجد د عراق نه حجازه پورے شرقًا او غربًا، او د یمن نه شام پورے جنوبًا او شمالًا اُوږد سرحد دے۔

قَرْنَ الْمَنَازِلِ: دا د یو گول او ځلیدونکی غرۀ یا میدان نوم دے چه گنړ ځایونه په کښے دی، اوس وخت کښے ورته ((السیل الکبیر)) وائی، دا د مکے نه (۷۸) کیلو میټره فاصله باندے دے، دا د اهلِ نجد (ریاض) او د طائف او د کویت نه د راتلونکو خلقو میقات دے۔ (تیسیر العلام)

وَلِأَهْلِ الْيَمَنِ : یمن : دا د هغه ښارونو نوم دے چه د جزیرۀ نمائے عرب جنوبی طرفته واقع دی۔ یمن ورته ځکه وائی چه دا د کعبے نه یمین (ښی) طرفته واقع دے۔

يَلَمْلَمَ : د مکے مکرمے نه جنوب طرفته د دوه مرحلو (پړاوونو) په مسافت باندے واقع د تهامے د غرونو نه د یو غرۀ نوم دے۔ددے او د مکے ترمینځه تقریبًا (۹۲) کیلو میټره مسافت دے۔ اوس وخت کښے ورته [اَلسَّعْدِيَّة] وائی، او سعدیه یوه ښځه وه چه هغے دلته کوهے جوړ کړے وو۔ دا د یمن، چین، بنگله دیش، افغانستان، هندوستان او پاکستان نه راتلونکو دپاره میقات دے۔ (تیسیر والمرعاة)

هُنَّ لَهُنَّ : په بل روایت کښے [لِأَهْلِهِنَّ] الفاظ دی، یعنی دا میقاتونه د دغه ملکونو د خلقو دپاره مقرر شوی میقاتونه دی۔

وَلِمَنْ أَتَى عَلَيْهِنَّ : او د هغه چا دپاره هم چه هغوئ په دے ملکونو باندے راتیریږی۔

مِنْ غَيْرِ أَهْلِهِنَّ: چه هغوئ ددے علاقو وسیدونکی نهٔ وی خو صرف پرے راتیریږی۔

لِمَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ : خو د هغه چا دپاره چه څوك د حج يا عُمرے په نيت په دے ميقاتونو راتيرېږي، نۀ د تجارت يا زيارت وغيره مقصدونو دپاره. ځكه كه د حج او عُمرے نيت ئے نۀ وي نو بيا ددے ميقاتونو نه په غير د احرام نه هم تيريدلے شي او مكے ته ننوتلے شي.

فَمَنْ كَانَ دُوْنَهُنَّ : او څوك چه ددے ميقاتونو نه دننه وي. [دُوْنَ] په معنیٰ د قريب سره دے، يعني ددے ميقاتونو او د مكے ترمينځه وي، مكے ته نزدے وي.

ددے مطلب دا دے چه كوم خلق د ميقات نه دننه او د حرم د حدود نه بهر وسيږي نو د هغوي دپاره د احرام د تړلو ځاى د هغوي د كور نه تر حدودو د حرم پورے دے، هغوي دپاره د احرام تړلو په وخت ميقات ته تلل ضروري نۀ دي اگركه ميقات هغۀ ته نزدے ولے نۀ وي.

او كوم خلق چه خاص په ميقات كښے وسيږي نو د هغوي په باره كښے پدے حديث كښے هيڅ حكم نشته ليكن جمهور علماء وائي چه د هغوي حكم هم هغه دے كوم چه د ميقات نه دننه وسيدونكو دے.

وَكَذَاكَ وَكَذَاكَ : (او دغه شان او دغه شان) ددے تعلق د مخكنۍ جملے سره دے، چه حل (يعني د حرم د حدودو نه بهر چه) كوم مواقيت دي د هغے پورے چه كوم زمكه ده په هغے كښ چه څوك وسيږي هغوي به د همدغه ځاى نه احرام تړي يعني د ميقات او د حرم د حدودو ترمينځ چه كوم خلق وسيږي هغوي به د خپل كور نه احرام تړي، برابره ده چه ميقات بيخي نزدے وي او يا ميقات د هغوي نه هر څومره لرے وي او د حرم حدودو ته هر څومره نزدے وي.

حَتّٰى أَهْلُ مَكَّةَ يُهِلُّوْنَ مِنْهَا : ددے مطلب دا دے چه مكے والا (يعني اهل حرم) به د مكے نه احرام تړي. كوم خلق چه خاص د مكے په ښار كښے وسيږي نو هغوي به خاص د مكے نه احرام تړي او كوم خلق چه خاص د مكے په ښار كښے نۀ وي بلكه د ښار نه بهر وي مگر د حرم په حدودو كښے وسيږي نو هغوي به د مكے د حرم نه احرام تړي.

ددے الفاظو نه خو په ظاهره كښے دا معلوميږي چه مكے والو دپاره د احرام تړلو ځاى مكه ده برابره ده چه د حج احرام وي او كه د عمرے دپاره، ليكن دے كښے تفصيل دا دے چه عمره كونكے به حِل طرف ته ځي يعني د حدودو د حرم نه به بهر وځي او هلته نه به

احرام تړي او بيا به حرم ته راداخليږي ځکه چه نبي کريم ﷺ عائشه رضي الله عنها ته حکم کړے وو چه هغه د عمرے احرام تړلو دپاره د خپل ورور عبد الرحمن بن ابي بکر رضي الله عنه سره تنعيم ته لاړه شي چه هغه د حدودو د حرم نه بهر دے، [بخاري:۲۹۸٤، مسلم: ۱۲۱۱]
نو ددے نه معلومه شوه چه د عُمرے احرام دپاره د حرم نه وتل ضروري دي۔ او په همدے باندے تقريبًا اتفاق دے۔

لهذا دلته به دا وئيلے شي چه ددے حديث تعلق صرف د حج سره دے۔ يعني دا حکم د مکے والو دپاره دے چه کله هغوی د حج اراده کوی نو احرام به د مکے نه تړی او که د عمرے کولو اراده لری نو بيا به د حرم د حدودو نه بهر وځي۔

او عقلي دليل هم په دے دليل دے هغه دا چه: په نُسك (حج او عُمره) کښے حل او حرم دواړه جمع کولے شی، په حج کښے چونکه عرفات ته وتل دی (چه د حرم نه بهر دے) نو احرام ئے د حرم نه تړل کيږی چه په دے کښے حل او حرم دواړه جمع شو۔ او د عُمرے افعال په حرم کښے دننه ادا کيږی نو ځکه ددے دپاره د احرام په وخت د حرم نه بهر وتل ضروري دی، دے دپاره چه حل او حرم دواړه جمع شي۔

بله دا چه: عُمره د اعتمار نه ده، زيارت ته وائی، او زيارت د يو مکان (زمينِ حل) نه بل مکان (حرم) ته وی۔ او کله چه مکان بدل نشی نو بيا زيارت نۀ راځي۔ بهر حال حديث الباب صرف د حج په باره کښے دے، نۀ د عُمرے په باره کښے۔

او پدے حديث کښے د اهل مکه نه مراد عام دے، اصلي باشنده ګان وی او که عارضي وسيدونکي وی۔

فوائد او مسائل

(۱) حديث نه خلور ميقاتونه ثابت شول چه ددے نه مکے طرفته تجاوز کول جائز نۀ دی خو په دے شرط چه څوك د حج يا عمرے اراده لری، ځکه دا کار د الله د حدونو نه ورتيريدل دی۔ البته دے ميقاتونو ته د رسيدو نه مخکښے احرام تړل جائز دی، علامه ابن منذرؒ ددے په صحت باندے اجماع د علماؤ نقل کړے، او دا د علي رضي الله عنه او د صحابه کرامو رضي الله عنهم د يوے ډلے نه نقل شوی۔

او علامه عراقيؒ د ابن المنذرؒ نه نقل کړيدی چه هغه فرمايلي دی: د عبد الله بن عمر

ﷺ نه ثابت دی چه هغهٔ د ایلیاء نه احرام تړلے وو۔ (یعنی بیت المقدس) او اسودؒ او علقمهؒ او عبد الرحمنؒ او ابو اسحاقؒ به د خپلو کورونو نه احرامونه تړل۔ (طرح التثریب ۲۲۷/۵)

او ابن ابی شیبهؒ د عثمان بن ابی العاص ﷺ نه نقل کړیدی چه هغهٔ د منجشانیة نه احرام تړلے وو چه دا په بصره کښې یو کلے دے۔

او د ابن سیرینؒ نه ئې نقل کړیدی چه هغهٔ او حُمید بن عبد الرحمنؒ او مسلم بن یسارؒ د دارات نه احرام وتړلو، او ابو مسعود ﷺ د سیلحین نه،

او ابوداودؒ وائی: الله تعالیٰ دِې په وکیعؒ باندې رحم وکړی چه د بیت المقدس نه ئې احرام تړلے وو۔ او ابن سیرینؒ سره د انس ﷺ نه د عقیق نه۔ او معاذ بن جبل ﷺ د شام نه او د هغهٔ سره کعب الحبرؒ وو۔ او عمران بن حصین ﷺ د بصرې نه او ابن عباس ﷺ د شام نه، او ابن مسعود ﷺ د قادسیه نه احرام تړلے وو۔ (مرعاة)

او علامه ابن حزمؒ او اسحاقؒ فرمائی: ددې میقاتونو نه مخکښې احرام تړل جائز نهٔ دی۔ مګر په دې کښې **راجح** قول دادې چه افضله داده چه د میقات نه احرام وتړل شی نهٔ مخکښې، په همدې کښې د نبی ﷺ اقتداء ده، ځکه چه نبی کریم ﷺ د مدینې نه احرام نهٔ دې تړلے بلکه د ذو الحلیفې نه ئې تړلے۔ مګر که یو انسان ته میقات نهٔ وی معلوم او په جهاز کښې په میقات ورتیریږی چه خطره وی چه د هغې نه به بغیر د احرام نه ورتیر شی نو بیا مخکښې تړل د ضرورت په وجه جائز دی۔

(۲) حدیث نه ثابته شوه چه دا میقاتونه د دغه ملکونو والو دپاره دی او د هر هغه چا دپاره هم دی چه هغه د نورو ملکونو نه په دې میقاتونو راتیریږی۔

مثلًا: که عراقی په ذو الحلیفه راتیریږی نو ددې نه به احرام تړی، یا یمن والا په قرن المنازل راتیریږی نو ددې نه به احرام تړی، او په دواړو صورتونو کښې به هغه دا تکلیف نهٔ کوی چه خپل خپل میقات ته لاړ شی۔او په دې کښې یُسر اوسهولت دے۔

البته په دې کښې اشکال دے چه شامی سړے په ذو الحلیفه ورتیریږی نو آیا هغهٔ باندې دا واجب دی چه ددې نه به احرام تړی اوکه نهٔ هغهٔ له دا جائز دی چه خپل احرام جُحفې ته روستو کړی، ځکه چه جُحفه ددهٔ مخې ته راروانه ده؟

نو د شوافعو او حنابلو په نیز په دهٔ واجب دی چه د ذو الحلیفې نه به احرام تړی، ځکه هر کله چه دے په دې راتیر شو نو دا ددهٔ دپاره همدا میقات شو چه ددې نه ورله بغیر د

احرام نه تجاوز كول جائز نهٔ دی، كه د حج او عمرے نيت لری۔ (يعنی شامی كه په مدينے طرف راتيريږی نو دا هم د مدينے والو نه جوړ شو نو ددهٔ دپاره د ذو الحليفے نه تيريدل جائز نهٔ دی نو جحفه به د شامی دپاره هله ميقات وی چه مدينے طرف باندے راتير نشی) (سبل السلام)۔

او احناف او مالكيان وائی: ددهٔ دپاره جائز دی چه جُحفے ته احرام روستو كړی، البته افضله داده چه د ذو الحليفے نه احرام وتړی۔ ځكه مقصد دادے چه په غير د احرام نه څوك د ميقات نه تير نشی او كله ئے چه د ميقات نه احرام وتړلو – كه هغه هر ميقات دے – نو خپله ذمه وارى ئے فارغه كړه۔ دا قول شيخ الاسلام ابن تيميهٔ غوره كړے۔

(منحة العلام شرح بلوغ المرام ۱/۱٤۹)

(۳) [لِمَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ] دلته واو په معنیٰ د (اَوْ) سره دے۔ يا ددے نه مراد مكان د حج او د عمرے دے، او پدے تعبير كښے تنبيه ده چه د مسلمان شان دا نهٔ دے چه مكے ته داخليږی او حج او عمره نهٔ كوی۔

او دے نه معلومه شوه چه څوك په دے ميقاتونو تيريږی او د حج يا عمرے اراده نهٔ لری بلكه مكے ته د څهٔ حاجت دپاره ننوځی لكه د چا ملاقات، يا تجارت دپاره ځی يا مكی سړے د سفر نه راځی نو ددهٔ دپاره احرام تړل واجب نهٔ دی بلكه ددے ميقاتونو نه په غير د احرام نه ورتيريدل جائز دی۔ او پدے باندے امام بخاریؒ باب تړی [بَابُ دُخُوْلِ الْحَرَمِ وَمَكَّةَ بِغَيْرِ اِحْرَامٍ] او ابن عمر ﷺ بغير د احرام نه داخل شو۔

(اخرجه مالكؒ فی الموطأ)

او دا مذهب د زهریؒ، حسن بصریؒ، مشهور قول د شافعیؒ او يو روايت د امام مالكؒ نه دے، او دا قول د ابن وهبؒ او داود بن علیؒ او د هغهٔ د ملگرو اهل ظواهرو دے۔

او مذهب د عطاء بن ابی رباحؒ، ليث بن سعدؒ، ثوریؒ، ابوحنيفهٔ، او د هغهٔ د ملگرو او يو روايت د مالكؒ او يو قول د شافعیؒ او احمدؒ، ابوثورؒ او حسن بن حیؒ دا دے چه څوك د ميقات نه بهر وی د هغهٔ دپاره مكے ته بغير د احرام نه داخليدل جائز نهٔ دی، كه همداسے داخل شو نو گناهگار دے خو د امام شافعیؒ او ابوثورؒ په نيز پرے هيڅ نشته او د ابوحنيفهٔ په نيز په هغهٔ باندے حج يا عمره كول لازم دی۔

او په درمختار كښے د احنافو مذهب داسے بيان شويدے چه د ميقات نه بهر (آفاقی)

دپاره دا جائز نۀ دی چه مکے ته بغیر د احرام نه داخل شی اګرکه د حج نه علاوه بل ضرورت لری، لکه سیل، لیدنه، یا تجارت دپاره ځی۔ دارنګه دا حکم د هغه چا هم دے چه څوك په حدودو د حرم کښے وی یا د حدودو د حرم نه بهر وی او هغه میقات پورے لاړ شی نو بیرته به بغیر د احرام نه مکے ته نۀ داخلیږی، البته که یو تن د میقات نه دننه وسیږی نو هغه مکے ته بغیر د احرام نه داخلیدے شی۔ امام نوویؒ په شرح مسلم کښ فرمائی : چه دا حدیث د جواز دپاره ښکاره دلیل دے۔

او رسول الله ﷺ په فتح د مکه کښے بغیر د احرام نه مکے ته ننوتے وو او د هغۀ په سر باندے مِغفر (د وسپنے توپئ) وه او دغه شان د هغۀ ملګری هم وو۔ [مسلم : ۱۳۵۸]

بلـه دا چه د شارع د طرف نه ددے خبرے ایجاب هم نۀ دے راغلے او نۀ د رسول الله ﷺ له طرفه د احرام نه بغیر تیریدو نه منع راغلے۔ (مرعاة)۔

بلـه دا چه اولنی قول والا هم دا شرط لګوی چه بار بار به داخلیدو ته حاجت نۀ وی ورنه احرام ضروری نۀ دے۔ وبالله التوفیق

(۵) **فائده** : که په دے میقاتونو باندے د ورتیریدو په وخت د چا د حج یا عمرے اراده نۀ وه، لیکن کله چه تیر شو نو روسته ئے د حج یا عمرے اراده وکړه، نو هغه به د ارادے د ځائے نه احرام تړی۔ او میقات ته واپس کیدل ضروری نۀ دی۔ لکه جدے ته لاړ شی بیا ئے هلته نه د عمرے یا د حج اراده وشی۔

(۶) دا میقاتونه مقررول د نبی کریم ﷺ د معجزاتو نه یوه لویه معجزه ده، ځکه ددے میقاتونو مقررولو په وخت ددے اهل لا مسلمانان شوی نۀ وو، نو په دے کښے اشاره ده چه ددے علاقو خلك به ډیر زر مسلمانان شی، حج او عمرے به کوی۔

(۷) بیا دا هم د شریعت آسانی ده چه د هر چا دپاره ئے جدا جدا میقاتونه مقرر کړی، که چرے د ټولو دپاره یو میقات مقرر وے نو په دے کښے به بیا ډیره سختی وه۔

- 2517(13) وَعَنْ جَابِرٍ ﷺ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ قَالَ : " مُهَلُّ أَهْلِ الْمَدِيْنَةِ مِنْ ذِي الْحُلَيْفَةِ وَالطَّرِيْقِ الآخَرِ الْجُحْفَةُ وَمُهَلُّ أَهْلِ الْعِرَاقِ مِنْ ذَاتِ عِرْقٍ، وَمُهَلُّ أَهْلِ نَجْدٍ قَرْنٌ، وَمُهَلُّ أَهْلِ الْيَمَنِ يَلَمْلَمُ ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه : او د جابر ﷺ د رسول الله ﷺ ارشاد نقل کوی چه هغه فرمائی : د مدینې والو دپاره د احرام تړلو ځای ذو الحلیفه او بله لاره جحفه ده، او د عراق والو دپاره د احرام تړلو ځای ذات عرق دے، او د نجد والو دپاره ځای د احرام تړلو قرن المنازل دے، او د یمن والو دپاره د احرام تړلو ځای یلملم دے۔ (مسلمؒ)

تشریح : مُهَلُّ : په ضمه د میم سره مَوْضِعُ الْإِهْلَال ته وائی او اهلال آواز پورته کولو ته وائی او دلته ترې مراد د احرام په وخت کښې په لبیك سره آواز پورته کول دی۔ او حاصل معنیٰ ئې ده احرام تړل۔ یعنی ځای د احرام تړلو۔ (میقات)۔

وَالطَّرِيْقِ الْآخَرِ الْجُحْفَةُ : اَیْ مُهَلُّ اَهْلِ الطَّرِيْقِ الآخَرِ الَّذِیْ لَا يَمُرُّ سَالِكُهُ بِذِی الْحُلَيْفَةِ وَلَا يُجَاوِزُهَا يُمْنَةً اَوْ يُسْرَةً هُوَ الْجُحْفَةُ۔ (ابن حجرؒ)

یعنی میقات د دویم لارے والو دپاره چه د هغے تلونکے په ذو الحلیفه نۀ ورتیریږی او نۀ د هغے سره ښی یا گس طرف ته راځی نو هغه جحفه ده۔ ددے مطلب دا دے چه مدینے والو دپاره د احرام تړلو دویم ځای جحفه ده، که هغوی مکے ته د مدینے نه هغه لاره اختیاره وی چه په هغے کښې جحفه راځی (ځکه چه جحفه مدینے ته نزدے ده) نو هغوی دِے بیا د جحفے نه احرام وتړی، ذو الحلیفے ته تللو ته ضرورت نشته۔

[ذَاتَ عِرْقٍ] عِرق وړوکی غر ته وائی او دا داسے علاقه ده چه ښوره ناکه ده، چه طرفاء (ځنگلی) ونے پکښې رازرغونیږی۔

اُوس دے علاقے ته ضَریبه وائی، دا د مکے نه مشرق طرفته په (۱۰۰) کلو میټره فاصلے باندے واقع دے، اوس ددے نه خوك میقات نۀ تړی ځکه چه په دے باندے لاره نۀ ده ورغلے، او کوم حاجیان چه د مشرق له خوا راځی هغوئ مکے ته په (قرن المنازل) میقات باندے ورتیریږی چه دا په سیل کبیر کښې دے۔ مخکښې به پدے لاره عراق او ایران والا او ټول مشرقی علاقو والا راتیریدل۔

فوائد: (۱) حدیث نه ثابته شوه چه ذاتِ عرق پنځم نمبر میقات دے، او دا د عراق والو دپاره نبی کریم ﷺ یا عمر فاروق ﷺ مقرر کړے۔ اصل میقات خو نبی ﷺ مقرر کړے خو د عراق والا خلقو په شکایت باندے عمر فاروق ﷺ په خپل اجتهاد سره د دوئ دپاره ذات عرق میقات مقرر کړو، او د دوئ اجتهاد د مرفوع حدیث سره برابر شو۔ نو په دے کښې د

عمر ﷺ ښکاره فضيلت دے، چه دا د الله د طرفه مُوَفَّق دے۔

په صحيح بخاري کښے راځي، عبد الله بن عمر ﷺ فرمائي: ((کله چه دا دوه ښارونه (بصره او کوفه) فتح شول نو خلك عمر ﷺ ته راغلل او عرض ئے وکړو: اے امير المؤمنين! رسول الله ﷺ د نجد والو دپاره د احرام تړلو ځائے قرن المنازل مقرر کړے او زمونږ لاره په دے نۀ ده ورغلے. که مونږ قرن المنازل طرفته ورځو نو مونږ ته ډيره ګرانيږي. نو عمر ﷺ ورته وفرمايل: نو تاسو په خپله لاره کښے ددے برابر کوم ځائے تجويز کړئ. نو بيا هغۀ د دوئ دپاره ذاتِ عرق ميقات مقرر کړو))۔

[صحيح بخاري: ١٥٣١]

پدے روايت د جابر ﷺ کښے بعض محدثين (نوويؒ) وائي چه پدے باندے دليل نۀ نيولے کيږي ځکه چه پدے کښے ابو الزبير راوي شك کړے چه دا مرفوع دے او که موقوف. آهـ. مګر صحيح خبره دا ده چه په صحيح مرفوع حديث د عائشه رضي الله عنها کښے راغلي دي چه هغه احمدؒ، ابوداودؒ، نسائيؒ، طحاويؒ او دارقطنيؒ په اسناد صحيح سره نقل کړے (کما قال النوويؒ) چه رسول الله ﷺ د عراق والو دپاره ذات عرق ميقات مقرر کړو۔

نو اصل کښے رسول الله ﷺ مقرر کړے وو، خو عمر فاروق ﷺ ته هغه حديث نۀ وو رسيدلے نو ځکه ئے اجتهاد وکړو او د رسول الله ﷺ د حديث سره برابر شو. (النوويؒ)

(٢) ددے حديث نه معلومه شوه چه څوك د يو داسے ځائے نه حج دپاره راځي چه هغه په ميقات باندے نۀ ورتيريږي نو بيا به دا د هغه ځائے نه ميقات تړي کوم چه د ميقات په محاذات او برابرئ کښے واقع وي. يعني څومره فاصله چه د دغه ميقات او د مکے ترمينځه وي، نو هم دومره فاصله به ښي يا ګس اړخ ته واغستل شي او د دغه ځائے نه به احرام وتړل شي۔

(٣) په هوائي جهازونو کښے د احرام تړونکو هم دا حکم دے چه دوئ به په محاذات او برابرئ باندے عمل کوي. دوئ چه په کوم ميقات باندے د پاسه ورتيريږي نو د هغے نه به مخکښے احرام وتړي۔

(٤) په محاذاة او برابرئ به هغه څوك عمل کوي چه د هغوئ مخے ته ميقات نۀ راځي، او که ميقات راتللو نو بيا د خپل خپل ميقات نه به احرام تړي۔

- 2518(14) وَعَنْ أَنَسٍ ﷺ قَالَ : إِعْتَمَرَ رَسُولُ اللهِ ﷺ أَرْبَعَ عُمَرٍ كُلُّهُنَّ فِي ذِي الْقَعْدَةِ إِلَّا الَّتِي كَانَتْ مَعَ حَجَّتِهِ :عُمْرَةٌ مِنَ الْحُدَيْبِيَّةِ فِي ذِي الْقَعْدَةِ وَعُمْرَةٌ مِنَ الْعَامِ الْمُقْبِلِ فِي ذِي الْقَعْدَةِ وَعُمْرَةٌ مِنَ الْجِعِرَّانَةِ حَيْثُ قَسَمَ غَنَائِمَ حُنَيْنٍ فِي ذِي الْقَعْدَةِ وَعُمْرَةٌ مَعَ حَجَّتِهِ ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه : او انس ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ (په ټول عمر کښې) څلور عمرې کړېدی، ټولې په ذی القعده میاشت کښې سوئ د هغې عمرې نه چه د حج سره ئې یو ځای وه، یوه عمره د حُدیبیه نه په ذی القعده کښې او بله عمره د راتلونکی کال نه په ذی القعده کښې او بله عمره د جعرانې نه وه کوم ځای ئې چه د حنین غنیمتونه تقسیم کړل په ذی القعده کښې، او بله عمره د هغهٔ د حج سره یو ځای وه۔ (بخاریؒ ومسلمؒ)

تشریح : عُمَر جمع د عمرة ده۔

حدیبیه د یو ځای نوم دے چه د مکے مکرمے نه مغربی طرفته تقریباً (۲۲) کیلو میټره فاصله باندې جدے ته د تللو په لاره باندې واقع دے۔ دلته د جبل الشمیسی په نوم سره یو غر دے چه د هغې اکثره حصه په حرم کښې داخل ده، او بعض حصه ئې بهر ده۔ د حدیبیه د عمرې اجمالی بیان دا دے چه په (٦سنه ھ) کښې د ذی القعدے میاشتے په اولنی تاریخ د دوشنبے په ورځ نبی کریم ﷺ د عمرې په اراده د مدینے نه روان شو څوارلس سوه یا دده نه څه زیات ملګری ورسره وو۔ کله چه نبی کریم ﷺ حدیبیه مقام ته ورسیدو نو د مکے قریش راجمع شول او د هغهٔ خواته راغلل او د بیت الله د زیارت نه ئې هغه بند کړو، د ډیرې بحث مباحثے نه روستو د رسول الله ﷺ او د مکے د قریشو ترمینځ یو معاهده وشوه چه هغه د صلح حدیبیه یا معاهدهٔ حدیبیه په نوم سره مشهوره ده،

پدې معاهده کښې دا خبره هم راغله چه نبی کریم ﷺ به سره د خپلو ملګرو نه دا کال مدینے ته واپس ځی او په راتلونکی کال کښې دِې عمره وکړی نو رسول الله ﷺ ددے صلحے سره د عمرې نه بغیر مدینے ته واپس شو لهذا په حقیقت کښې خو نبی کریم ﷺ عمره ادا نکړه مګر د عمرې ثواب ملاویدو په وجه دا د هغهٔ اولنۍ عمره شمار کړې شوه۔

په همدې موقعه باندې د اِحصار حکم مشروع شو۔ نو بیا په آینده کال کښې د عمرې د قضائی راوړو دپاره رسول الله ﷺ تشریف راوړو، درې ورځې په مکه کښې دیره شو او عمره ئې ادا کړه او په څلورمه ورځ د هغه ځای نه واپس شو۔ دا دویمه عمره شوه، دې عمرې ته عمرة القضاء وائی۔ دا نوم په احادیثو کښې هم راغلے دے۔

دریمه عمره نبی کریم ﷺ د جعرانې نه کړې وه۔ جعرانه د مکې او د طائف ترمینځ د یو ځای نوم دے، کله چه مکه په اتم کال فتح شوه او د هغې نه روستو د حنین غزا راغله نو پدې کښې ډیر مالونه په غنیمت کښې ونیولے شول،

پدې موقعه کښې رسول الله ﷺ په جعفرانه کښې پنځلس شپاړس ورځو پورې وسیدو او هغه غنیمتونه ئې په صحابه کرامو کښې تقسیم کړل، په دې ورځو کښې یوه ورځ رسول الله ﷺ د ماسخوتن مانځه نه روستو مکې مکرمې ته تشریف یوړو او عمره ئې ادا کړه او په همدې شپه واپس راغلو او په جعرانه کښې ئې د سهار مونځ وکړو۔

څلورمه عمره هغه وه چه د حج د فرض کیدو نه روستو په (۱۰ سنه ھ) کښې ئې د حج سره ادا کړې۔ لهذا دا عمره خو په ذی الحجه کښې وشوه او باقی عمرې په ذی قعده کښې کړې وې، او رسول الله ﷺ په اسلام کښې صرف یو کرت حج ادا کړو او هغه فرضی حج وو۔ د جاهلیت په زمانه کښې به قریشو حج کولو نبی کریم ﷺ به هم په هغه وخت حج کولو لیکن د هغې تعداد په روایاتو کښې صحیح معلوم نۀ دے۔

- 2519(15) وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ ﷺ قَالَ : إِعْتَمَرَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فِيْ ذِی الْقَعْدَةِ قَبْلَ أَنْ يَّحُجَّ مَرَّتَيْنِ ". رَوَاهُ الْبُخَارِیُّ

ترجمه : او براء بن عازب ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ په ذی القعده میاشت کښې د حج کولو نه مخکښې دوه کرته عمره وکړه۔ (بخاریؒ)

تشریح : ددې حدیث د مخکښې روایت سره هیڅ منافات نشته، ځکه چه براء بن عازب ﷺ د حدیبیه والا عمره نۀ ده شمارلې پدې وجه چه هغه نۀ وه پوره شوې۔ او کومه عمره ئې چه د حج سره کړې وه نو هغه په حج کښې داخله وه پدې وجه ئې هغه مستقله عمره نۀ ده شمارلې نو جدا دوه عمرې پاتې شوې۔

او ډيره صحيح خبره دا ده چه څلور واړه عمرے په ذى القعده کښے شوے وے په څلورو کلونو کښے لکه دا خبره د عائشے او ابن عباس رضى الله عنهما نه ثابت دى چه رسول الله ﷺ صرف په ذى القعده کښے عمرے کړيدى۔ او دے سره د رسول الله ﷺ هغه عمره چه د حج سره ئے يو ځاى کړے وه منافات نۀ لرى، وجه دا ده چه د هغے دپاره ئے احرام د ذى القعدے په آخرى ورځو کښے چه پنځه ورځے پاتے وے تړلے وو۔ اګرکه بيا ادا کړے شوه په ذى الحجه کښے نو دواړه خبرے (نفى او اثبات) صحيح شوے، چه په ذى القعده کښے هم وشوه او په ذى الحجه کښے هم۔

الفصل الثانى

- 2520(16) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ اللهَ كَتَبَ عَلَيْكُمُ الْحَجَّ ". فَقَامَ الْأَقْرَعُ بْنُ حَابِسٍ ﷺ فَقَالَ: أَفِى كُلِّ عَامٍ يَا رَسُوْلَ اللهِ؟ قَالَ :" لَوْ قُلْتُهَا : نَعَمْ لَوَجَبَتْ وَلَوْ وَجَبَتْ لَمْ تَعْمَلُوْا بِهَا وَلَمْ تَسْتَطِيْعُوْا وَالْحَجُّ مَرَّةً فَمَنْ زَادَ فَتَطَوُّعٌ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه : او ابن عباس ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ وفرمايل : اے خلقو ! يقيناً الله تعالىٰ په تاسو باندے حج فرض کړيدے، نو اقرع بن حابس ﷺ پاڅيدو نو عرض ئے وکړو : اے د الله رسوله ! آيا په هر کال کښے (فرض دے) ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : که ما دا وئيلى وے، آؤ، خامخا به (هر کال) فرض شوے وے، او که چرے (هر کال) فرض شوے وے نو تاسو به پرے عمل نۀ وے کړے او نۀ به تاسو د هغے د کولو طاقت لرلے، نو حج يو کرت (لازم) دے، نو چا چه زياتى وکړل نو هغه نفل دے۔ (احمدؒ، نسائىؒ، دارمىؒ)

تشريح : يعنى الله تعالىٰ پدے آيت ﴿وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا﴾ [آل عمران: ۹۷] (خاص الله دپاره په خلکو باندے د بيت الله حج کول ضرورى دى خو د هغه چا دپاره چه ديته د لارے وس لرى) سره په تاسو باندے حج فرض کړيدے۔

د اقرع بن حابس ﷺ تعارف

اقرع بن حابس بن عقال بن محمد بن سفيان بن مجاشع التميمى المجاشعى الدارمى دے، دا د بنو تميم قبيلے سردار وو، رسول الله ﷺ ته په وفد کښے راغلے وو او فتح د مکے او

حنین او طائف ته حاضر شوے او دا د مؤلفة القلوب نه وو، او اسلام ئے ډیر ښه شوے وو۔
ابن اسحاق وائی: اقرع بن حابس د مکے د فتح نه روستو د بنو تمیمو د اشرافو عَطارد بن حاجب بن زرارة او زِبرِقان بن بدر او قَیس بن عاصم وغیره سره راغلے وو، او اقرع بن حابس او عُیَینَه بن حِصن فَزاری دواړه د رسول الله ﷺ سره فتح د مکے او حنین او طائف ته حاضر شوی وو، بیا هرکله چه د تمیم قبیلے وفد راغلو نو دا دواړه ورسره ملګری وو۔
ابن دُرید وائی: د اقرع نوم فِراس وو، خو اقرع ئے ورته پدے وجه وئیلو چه د سر نه ئے ویخته غورزیدلی وو ځکه چه قرع د ویښتو غورزیدو (بالچر) ته وائی۔ او دے په جاهلیت او اسلام دواړو کښے شریف او سردار وو۔ او دے د خالد بن الولید رضی الله عنه په ملګرتیا کښے د اهل عراقو جنګ ته حاضر شو او د فوج په مخکښئ دسته کښے وو۔
او بیا عبد الله بن عامر په هغه لښکر باندے مشر مقرر کړو کوم ئے چه خراسان ته لیږلے وو نو په جوزجان علاقه کښے دے هم شهید شو او فوج ته هم مصیبت ورسیدو، او دا وخت د عثمان رضی الله عنه خلافت وو۔
او رضی شاطبی وئیلی دی چه دے په غزا د یرموك کښے د لسو ځامنو سره په یو ځای شهید شو۔ رضی الله عنهم ورضوا عنه) دا ډیر لوی منقبت دے۔
أَفِی کُلِّ عَامٍ : اَیُ اُکتِبَ فِیُ کُلِّ عَامٍ؟۔ آیا دا هر کال فرض دے؟۔ دهٔ دا خیال وکړو چه حج به د روژے او زکاة په شان وی چه اول بدنی او دویم مالی عبادت دے، او حج د دواړو نه مرکب دے۔
لَوُ قُلْتُهَا : نَعَمُ : دا روایت په مسند احمد کښے اته کرته راغلے دے لیکن په یو ځای کښے هم د (قُلْتُهَا) ضمیر او د نَعَمُ ترمینځ جَمُع نشته۔ صرف (لَوُ قُلْتُ: نَعَمُ) الفاظ دی۔ یا صرف (لَوُ قُلْتُهَا) دے۔
لَوَجَبَتُ : ضمیر د مؤنث (حَجّة) ته راجع دے۔
لَمُ تَعُمَلُوُا بِهَا : تاسو به پرے عمل ونکړئ ځکه چه پدے کښے ډیر زیات مشقت دے۔
وَلَمُ تَسُتَطِیُعُوُا : دا یا عطف تفسیر د لَمُ تَعُمَلُوُا دے۔ او دا خطاب تقدیری دے ټول امت ته۔ یا اول خطاب حاضرینو ته دے، او نور امت د هغوی تابع دی۔ یا عطف تغایر دے، یعنی عمل به هم ونکړئ د مشقت د وجه نه او لرے خلقو دپاره به ددے طاقت هم نهٔ وی۔
وَالْحَجُّ مَرَّةٌ : دا مبتداء او خبر دی، اَیُ وُجُوُبُ الْحَجِّ مَرَّةٌ وَاحِدَةٌ۔ یعنی حج صرف یو

كرت واجب دے۔ يا مرةً ظرف د پټ عامل دے۔ يعنى اَلْحَجُّ وَاجِبٌ مَرَّةً ۔ حج يو كرت واجب دے۔

فَمَنْ زَادَ فَتَطَوُّعٌ : اَىْ فَهُوَ تَطَوُّعٌ يعنى چا چه زياتے وكړو په يو كرت باندے نو د هغهٔ حج يا د هغهٔ زيادت نفل دے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : أحمد: ١/٢٥٥، أبوداود: ١٧٢١، ابن ماجه: ٢٨٨٦، نسائى: ٥/١١١، ذارمى: ١٧٨٨، دارقطنى: ٢/٢٨٠، حاكم: ١/٤٤١. [وأصله فى مسلم: ١٣٣٧) كما مر فى الفصل الاول۔

- 2521(17) وَعَنْ عَلِيٍّ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" مَنْ مَلَكَ زَادًا وَرَاحِلَةً تُبَلِّغُهُ إِلٰى بَيْتِ اللهِ وَلَمْ يَحُجَّ فَلَا عَلَيْهِ أَنْ يَّمُوْتَ يَهُوْدِيًّا أَوْ نَصْرَانِيًّا وَذٰلِكَ أَنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى يَقُوْلُ :(وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيْلًا ﴾

رَوَاهُ التِّرْمِذِىُّ وَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ، وَفِىْ إِسْنَادِهٖ مَقَالٌ وَهِلَالُ بْنُ عَبْدِ اللهِ مَجْهُوْلٌ وَالْحَارِثُ يُضَعَّفُ فِى الْحَدِيْثِ

ترجمه : او علی ﷺ فرمائی : رسول الله ﷺ وفرمایل : څوك چه د توښے او د داسے سورلئ مالك وى چه هغهٔ لره بيت الله ته ورسوى او دے حج ونكړى نو په دهٔ باندے هيڅ (باك) نشته چه دے يهودى مرى يا نصرانى، او ددے وجه دا ده چه الله تعالىٰ فرمائى : ولله على الناس الخ۔ او خاص د الله دپاره په خلقو باندے لازم دى حج كول د بيت الله د چا چه هغے ته د لارے طاقت وى۔ (دا ترمذیؒ روايت كړے او وئيلى ئے دى چه دا حديث غريب دے، او ددے په سند كښے خبرے اترے دى او هلال بن عبد الله راوى مجهول دے او حارث په روايت د حديث كښے ضعيف گنړلے شى)

تشريح : وَرَاحِلَةً : يعنى اگركه دا عاريةً (يعنى د تحفے په طور) چا وركړى وى۔

زَادًا : زاد هغه طعام چه د سفر دپاره تياره ولے شى، او واپس راتلو پورے د اهل وعيال دپاره د خرچ نه زياتى مال۔

راحله : هر قسمه سورلئ ته شامل دے لكه : اوښ، اس، قچر، بحرى جهاز، هوائى جهاز، گاړے وغيره)

فَلَا عَلَيْهِ : اَیْ فَلَا بَأْسَ، وَلَا مُبَالَاةَ وَلَا تَفَاوُتَ عَلَيْهِ۔ يعنى هيڅ باك او فرق په دهٔ باندے نشته۔

يَهُوْدِيًّا أَوْ نَصْرَانِيًّا : يعنى كه عقيده د وجوب نهٔ لرى نو د يهود يا نصاراؤ په شان به په كفر كښے وفات شى او كه عقيده د وجوب لرى، نو بيا به د هغوى په شان په عصيان (نافرمانئ) كښے وفات كيږى۔ بعض وائى : دا د تغليظ او د دهمكئ د سختوالى په طور وئيلے شويدے هغه چا ته چه د حج په كولو قادر وى، او د هغے د وجوب عقيده لرى، او بيا هم ددے په ادا كولو كښے سستى كوى۔

مګر ډيره ظاهره دا ده چه ددے دواړو ډلو تخصيص ئے وكړو ځكه چه دا دواړه ډلے اهل كتاب دى، او د حج او د عمرے د نهٔ كولو په وجه په خپل كتاب عمل نكوى۔ نو د دوئ سره هر هغه څوك مشابه دے چه حج پريدى ځكه چه دهٔ هم د الله په كتاب عمل ونكړو او هغه ئے شا ته وغورزولو۔ (قاله القارئ)

شاه ولى الله الدهلوئ په ((حجة الله)) كښے ليكى : د اسلام يو ركن پريخودل د دين نه د وتلو سره مشابه دى، نو پدے وجه د حج پريخودونكے د يهود او نصاراؤ سره او د مونځ پريخودونكے ئے د مشرك سره مشابه كړے ځكه چه يهود او نصارىٰ مونځونه كوى ليكن حج نهٔ كوى او د عربو مشركانو به حجونه كول ليكن مونځ به ئے نهٔ كولو۔ آهـ۔

محب الطبرئ ليكى : چه پدے خبره اجماع ده چه دا حديث په خپل ظاهر باندے حمل نهٔ دے ځكه چه كه يو مسلمان سَره د قدرت نه حج ونكړو نو دے كافر نهٔ دے، بلكه دا په مُسْتَحِل (د حج نهٔ كول حلال ګڼرونكى) باندے حمل دے، يا ددهٔ دا كار د يهود او نصاراؤ د كار سره مشابه دے۔

او دا حديث دليل دے چه حج په فورى توګه كول پكار دى او بغير د ضرورت نه ددے روستو كول ګناه ده، ځكه چه د مرګ پته نهٔ لګى۔

وَذٰلِكَ : يعنى دا مذكور (زاد او راحله او ددے عبادت په پريخودو باندے وعيد) پدے وجه دے چه الله تعالىٰ حكم كړيدے۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف والحديث له اصل: اخرجه الترمذى (٨١٢) وقال حديث غريب وفي إسناده مقال وهلال بن عبد الله مجهول والحارث يضعف فى الحديث، اعلم انه ورد فى وعيد من ترك الحج طرق كثيرة ذكرها الحافظ وقال للحديث

طريق صحيحة الا انها موقوفة رواه سعيد بن منصور والبيهقي عن عمر ﷺ قال : لَقَدْ هَمَمْتُ اَنْ اَبْعَثَ رِجَالًا اِلَى اَهْلِ الْاَمْصَارِ فَيَنْظُرُوْا كُلَّ مَنْ كَانَ لَهٗ جِدَةٌ وَلَمْ يَحُجَّ فَيَضْرِبُوْا عَلَيْهِمُ الْجِزْيَةَ مَا هُمْ بِمُسْلِمِيْنَ مَا هُمْ بِمُسْلِمِيْنَ (رواه سعيد بن منصور) ولفظ البيهقي (٤/٣٣٤) : اَنَّ عُمَرَ قَالَ : لِيَمُتْ يَهُوْدِيًّا اَوْ نَصْرَانِيًّا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ رَجُلٌ مَاتَ وَلَمْ يَحُجَّ وَجَدَ لِذٰلِكَ سَعَةً وَخُلِّيَتْ سَبِيْلُهٗ] قال الحافظ : و اذا انضم الى مرسل بن سابط عُلِمَ اَنَّ لِهٰذَا الْحَدِيْثِ اَصْلًا، وقال الشوكاني بعد سوق الطرق : وهذه الطرق يُقَوِّيْ بَعْضُهَا بَعْضًا وبذلك تَتَبَيَّنُ مُجَازَفَةُ ابْنِ الْجَوْزِيِّ في عَدِّهٖ لهذه الاحاديث من الموضوعات فان مجموع الطرق لا يقصر عن كون الحديث حسنا لغيره وهو محتج به عند الجمهور ولا يقدح في ذلك قول العقيلي والدارقطني ((لا يصح في الباب شيء)) لأن نفي الصحة لا يستلزم نفي الحسن انتهىٰ۔ وانظر مرعاة المفاتيح)

- 2522(18) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :" لَا صَرُوْرَةَ فِي الْإِسْلَامِ ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ

ترجمه : او ابن عباس ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : صرورت (يعنی حج نهٔ كول) په اسلام كښې نشته۔ (ابوداودؒ)

تشريح : صرورة په وزن د ضرورة سره د صَرٌّ نه دے ، حبس (بندولو) او منع كولو ته وائي۔ او پدے كښې تاء د مبالغې دپاره ده، ددے وجه نه ددے اطلاق په سړي او ښځه دواړو باندے كيږي، وئيلے شي رَجُلٌ صَرُوْرَةٌ او اِمْرَأَةٌ صَرُوْرَةٌ۔

د صرورة درے معاني دي : (۱) المصباح المنير ليكي : صرورة هغه شخص ته وائي چه حج ئے نهٔ وي كړے،آه۔ او دا نفي ده معنىٰ ئے د نهي ده، يعني څوك چه طاقت لري نو هغه به حج نهٔ پريدي۔ نو چا چه سره د استطاعت نه حج پريخودو نو دهٔ د خپل نفس نه ډير خير منع كړو۔

علي القاريؒ وائي : يعني چا باندے چه حج لازم شي او هغهٔ ئے ونكړي نو هغه به په اسلام كښې نهٔ وي، طيبيؒ وائي : هغه به كامل مسلمان نهٔ وي۔

(۲) معنىٰ : صرورة هغه شخص دے چه نكاح نهٔ كوي او د پيرتوب په شان گوشه

نشینی ئې اختیار کړی وی۔ او ددې نه منع شویده۔

او مطلب به دا وی چه په اسلام کښې پیرتوب نشته او د خلقو نه بالکلیه یکسوئی نشته، او نکاح پریخودل نشته۔ یعنی هیچا له دا جائز نهٔ دی چه داسې ووائی چه زهٔ نکاح نهٔ کوم ځکه چه دا د مؤمنانو اخلاق نهٔ دی، بلکه د نصاراؤ کار دې۔

(۳) ددې معنیٰ دا هم ده چه څوك په حرم کښې قتل وکړی نو هغهٔ به پرې قتل کولې شی، او د هغهٔ دا خبره به قبوله نهٔ وی چه وائی: (إِنِّي صَرُورَةٌ) ما حج نهٔ دې کړې او ما ته د حرم حرمت نهٔ دې معلوم۔ په جاهلیت کښې به یو تن فساد وکړو او حرم ته به راغلو نو هغهٔ ته به ضرر نهٔ ورکړې کیدو، کله چه به د وینې تپوس کونکې راغلو نو خلقو به ورته ووېل چه دا صروره (بند کړې شوې محفوظ) دې، دهٔ ته تکلیف مهٔ ورکوه۔

علامه خطابیؒ په معالم السنن (۲/۲۷۸) کښې صرف اولنئ دوه معانی ذکر کړیدی۔ او دلته اوله معنیٰ مناسب ده۔

درجة الحديث: اسناده ضعيف او صحيح: اخرجه احمد (۱/۳۱۲) وابوداود (۱۷۲۹) والحاكم فى المستدرك (۱/٤٤٨) وقال صحيح الاسناد ووافقه الذهبى۔ وقد اختلف العلماء فى عمر بن عطاء فى هذا الحديث لانه لم يقع منسوبا فمن قال: انه عمر بن عطاء بن وراز فهو ضعيف، ضعفه احمد وابن معين وغيره ومن قال انه عمر بن عطاء بن ابى الخوار فهو موثق۔ قال الالبانى هو الأول وقال ابن الملقن فى البدر المنير (۷/٤۲۷) (وكلاهما يروى عنهما ابن جريج وقد وقع فى اكبر معاجم الطبرانى منسوبا فقال: عن ابن جريج عن عمر بن عطاء بن ابى الخوار عن عكرمة ولذلك قال المنذرى والنووى والحاكم والهيثمى رجاله ثقات)۔

- 2523(19) وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: " مَنْ أَرَادَ الْحَجَّ فَلْيُعَجِّلْ ". رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: او ابن عباس ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمایل: د چا چه د حج اراده وی نو هغه دې جلتی وکړی۔ (ابوداوّد، دارمیؒ)

تشريح : مَنْ أَرَادَ الْحَجَّ : دلته ذكر د ارادے دے مراد ترے طاقت او قدرت دے په حج باندے ځکه چه اراده د کار نه مخکښے وی۔ او د کار نه قدرت مخکښے وی۔

فَلْيُعَجِّلْ : يعنى څوك چه د حج طاقت لرى په زاد او راحله سره نو هغهٔ له پكار دى چه د مانع راپيښں كيدو نه مخكښے مخكښے حج وكړى۔

او دا حديث دليل دے چه حج د طاقت نه پس فوراً واجب دے۔ او دے باره كښے اختلاف سره د دلائلو نه مخكښے په ابتداء د باب كښے ذكر شويدے

درجة الحديث : إسناده حسن : احمد (١/ ٢٢٥) والدارمي (٢/ ٢٨) وأبوداود (١٧٣٢) والحاكم في المستدرك (١/ ٤٤٨) وقال صحيح الاسناد ووافقه الذهبى وفيه مهران ابو صفوان محهول ولكنه قد توبع وصححه الالبانى فى الارواء (٩٩٠)

2524 - (20) وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : " تَابِعُوْا بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ فَإِنَّهُمَا يَنْفِيَانِ الْفَقْرَ وَالذُّنُوْبَ كَمَا يَنْفِي الْكِيْرُ خَبَثَ الْحَدِيْدِ وَالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ وَلَيْسَ لِلْحَجَّةِ الْمَبْرُوْرَةِ ثَوَابٌ إِلَّا الْجَنَّةَ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ

2525 - (21) وَرَوَاهُ أَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَهُ عَنْ عُمَرَ إِلٰى قَوْلِهِ : " خَبَثَ الْحَدِيْدِ "

ترجمه : او ابن مسعود ﷺ فرمائى : رسول الله ﷺ وفرمايل : د حج او د عمرے ترمينځ پرله پسے والے وكړئ ځكه چه دا دواړه فقر او گناهونه ختموى لكه څنګكه چه بټئ د وسپنے او سرو او سپينو زرو خيرے ختموى، او د قبول شوى حج دپاره بدله نشته مگر جنت دے۔ (ترمذیؒ، نسائیؒ) او دا امام احمدؒ او ابن ماجهؒ د عمر ﷺ نه تر (خبث الحديد) لفظ پورے نقل كړيدے۔

تشريح : تَابِعُوْا : يعنى يو بل پسے والے وكړئ د حج او د عمرے ترمينځ۔ چه هريو د بل تابع وګرځوئ۔ يعنى كله چه مو حج وكړو بيا عمره وكړئ او چه عمره مو وكړه نو بيا حج وكړئ۔ او د دوئ ترمينځ ډيره جدائى مهٔ راولئ۔ نو مقصد پدے امر كښے اهتمام د حج او عمرے دے۔

اَلْفَقْرَ : يعنى ظاهرى غريبى هم ختموى چه مالدارى حاصليږى، او باطنى فقر هم چه

زړهٔ غني کيږي. او دا هم د غلو مو د نبوت سره تعلق لري چه حج او عمره څنګه غربت ختموي. الله تعالیٰ خپل نبي ته خبر ورکړے چه د حج او عمرے پرله پسے کول فقر او ګناه ختموي، پدے باندے به ايمان لرے، ديته ايمان بالغيب وائي.

او د كَمَا يَنْفِي الْكِيْرُ خَبَثَ الْحَدِيْدِ د تشبيه نه معلوميږي چه د ګناهونو نه عام ګناهونه مراد دي.

د حج او عمرے پرله پسے کول ګناهونو لره زائل کول ئے د اُوږ د سرو او سپينو زرو خِيرو لره صفا کولو سره مشابه کړل ځکه چه د انسان په مزاج او طبيعت کښے قوت شهواني او قوت غضبي موجود دے چه ددے د زائل کولو دپاره رياضت ته ضرورت دے، او حج کښے ډير قسم رياضات موجود دي، لکه مال لګول، نفس په لوږه او تنده او بے خوبئ او مزلونو باندے او د وطن او ملګرو او بچو په پريخودو باندے کړه ول دي.

او دلته ئے عمره د حج سره په امر کښے يو ځائے کړه (تَابِعُوْا) ددے دليل الاقتران نه بعض علماؤ دليل نيولے چه عمره هم واجب ده.

ليکن دلالت اقتران دليل د وجوب ګرځول ضعيف وي کله چه د وجوب مَخالف دلائل موجود وي. لکه چه روستو حديث د ابورزين العُقيلي ﷺ کښے به راشي.

درجة الحديث : إسناده حسن : احمد (۱/۳۸۷) والترمذى (۸۱۰) وقال حديث حسن صحيح غريب من حديث ابن مسعود والنسائى (۵/۱۱۵-۱۱٦) وابن خزيمة (۲۵۱۲) واسناده حسن من اجل عاصم وهو ابن ابى النجود ورواه احمد (۳/۴۴۷) وابن ماجه (۲۹۱۸) وصححه الألباني في الصحيحة (۱۲۰۰)

- 2526(22) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا يُوْجِبُ الْحَجَّ ؟ قَالَ :" اَلزَّادُ وَالرَّاحِلَةُ ". رَوَاهُ التِّرمِذِيُّ وَابْنُ مَاجه

ترجمه : او عبد الله بن عمر ﷺ فرمائي : يو سړے نبي كريم ﷺ ته راغلو عرض ئے وکړو: اے د الله رسوله ! څه شے حج لره فرض کوي ؟ وئے فرمايل : توښه او سورلي. (ترمذيؔ، ابن ماجةؔ)

تشريح : مَا يُوجِبُ : أَیْ مَا شَرْطُ وُجُوبِ الْحَجِّ؟ يعنى د حج د فرضيت دپاره كوم شرط دے؟۔

فوائد: (۱) دا حديث ضعيف دے۔ مگر ددے په شان نور احاديث په صحيح سندونو موجود دی۔ نو په دے كښے ذكر شوے مسئله صحيح ده،او په دے باندے د قرآن كريم آيت كريمه (مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا) دليل دے، چه ددے نه معلوميږی چه د حج د فرضيت دپاره وس او طاقت ضروری دے، وجه داده چه په حج كښے لرے سفرے كول دی نو په دے كښے وس او طاقت شرط دے۔

(۲) څوك چه لرے وسيږی نو هغۀ باندے حج هله فرض كيږی چه زاد او راحله ورسره وی۔

(۳) د امام مالك په نيز استطاعت د هرچا د طاقت په اندازه وی، كله انسان زاد او راحله مومی خو په مزل كولو قادر نۀ وی، او كله څوك په پياده مزل كولو قادر وی اگركه سورلئ نۀ لری۔او دا د عبد الله بن زبير رضي الله عنه او عطاءً قول دے، او ابن جرير غوره كړے۔

وجه دا ده چه هر كله الله تعالىٰ په خلكو حج فرض كړو نو ددے دپاره ئے استطاعت شرط كړو، او دا واضح لفظ دے بيان ته حاجت نۀ لری، نو هر هغه څوك چه په خپل مال يا بدن سره استطاع لری نو دا په دے عموم كښے داخل دے۔

او همدا قول **صحيح** دے ځكه ددے ماخذ او دليل قوی دے، ولے چه (سبيل) په عربئ كښے لارے ته وائى، نو څوك چه حج طرفته لاره مومی او د مرض يا عجز يا دشمن يا د مزل نه د كمزورئ او يا په لاره كښے د اُوبو يا توښے د كمی وغيره څۀ خطره ورته نۀ وی نو په دۀ حج فرض دے، او چاته چه په دے شيانو كښے څۀ شے راپيښيږی نو په هغۀ حج فرض نۀ دے۔ وبالله التوفيق۔

(٤) الله تعالىٰ فرمائى: ﴿وَتَزَوَّدُوْا فَاِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوٰی﴾ [البقرة: ١٩٧]

ددے آيت نه زاد (توښه) معلومه شوه، او ورسره دا بيان شو چه تقوىٰ د آخرت د سفر دپاره غوره توښه ده نو د حج په سفر كښے به هم توښه او سورلئ پكار وی، ځكه په دے سره انسان حج ته رسى۔

(٥) ابن قدامة وائى : كه د يو انسان زمكه وی چه دے يا ددۀ بچی ورته د وسيدو دپاره محتاج وی، يا د هغے مزدورئ او كرايه ته خپله يا د بچو د نفقے دپاره محتاج وی، يا

سامان او پنګه ورسره وی چه که هغه کمه شی نو د هغې ګټه کمیږی بیا د دوئ د خرچې دپاره نۀ کافی کیږی، یا یو انسان څاروی لری چه دے ورته محتاج وی، نو دۀ باندے حج نۀ دے لازم، که یو انسان د هغې نه څه اندازه خرڅه کړی او ددۀ د حج دپاره کافی کیږی نو بیا پرے حج لازم دے۔ او که ددۀ دپاره کتابونه وی چه دے ورته محتاج وی، نو دۀ باندے د حج دپاره د هغې خرڅول لازم نۀ دی۔

او که دۀ سره یو کتاب په دوه نسخو کښے موجود وی چه یو د بل په ځای کافی کیږی نو کوم ته ئے چه ضرورت نۀ وی هغه به خرڅوی۔ (او حج له به ځی) او که ددۀ په مالداره شخص باندے قرض وی چه هغه ئے ورته ورکولے شی او ددۀ دپاره هغه کافی کیږی نو په دۀ هم حج لازم دے ځکه چه دے قادر دے، او که په تنګدست باندے قرض وی یا د هغې ورکول ورته مشکل وی نو بیا پرے لازم نۀ دے۔ (المغنی لابن قدامهٔ)

درجة الحديث : اسناده ضعيف والحديث صحيح : اخرجه الترمذی (۸۱۳) وقال حديث حسن وابن ماجه (۲۸۹٦) والدارقطنی (۲/۲۱۷) رقم (۱۱،۱۲) في اسناده ابراهيم بن يزيد الخوزی قد تكلم فيه بعض اهل الحديث من قبل حفظه۔ وضعفه ابن معين وغيره۔ وقال الشنقيطی في اضواء البيان (٤/٣١٦) بعد ذكر احاديث الزاد والراحلة : اَلَّذِیُ يَظُهَرُ لِیُ – والله اعلم– اَنَّ حَدِيُثَ الزَّادِ وَالرَّاحِلَةِ الْمَذْكُورِ حَدِيُثٌ ثَابِتٌ لَا يَقِلُّ عَنُ دَرَجَةِ الْاِحُتِجَاجِ لِاَنَّ الطَّرِيُقَيْنِ اللَّتَيْنِ اَخُرَجَهُمَا بِهِ الْحَاكِمُ فِي الْمُسْتَدُرَكِ عَنُ اَنَسٍ قَالَ : كِلْتَاهُمَا صَحِيُحَةُ الْاِسْنَادِ، وَاَقَرَّ تَصُحِيُحَهُمَا الْحَافِظُ الذَّهَبِيُّ وَلَمْ يَتَعَقَّبْهُ بِشَیْءٍ، وَالدَّعُوٰی عَلٰی سَعِيُدِ بُنِ اَبِی عَرُوُبَةَ وَحَمَّادِ بُنِ سَلَمَةَ فِی رِوَايَتِهِمَا الْحَدِيُثَ عَنُ اَنَسٍ عَنِ النَّبِیِّ ﷺ اَنَّهَا غَلَطٌ، وَاَنَّ الصَّحِيُحَ عَنُ قَتَادَةَ عَنِ الْحَسَنِ مُرُسَلًا – دَعُوٰی لَا مُسْتَنَدَ لَهَا، بَلُ هِیَ تَغُلِيُطٌ وَتَوُهِيُمٌ لِلْعُدُوُلِ الْمَشْهُوُرِيُنَ مِنُ غَيُرِ اسْتِنَادٍ اِلٰی دَلِيُلٍ۔ انتهیٰ۔

- 2527(23) وَعَنُهُ ﷺ قَالَ : سَأَلَ رَجُلٌ رَسُوُلَ اللهِ ﷺ فَقَالَ: مَا الْحَاجُّ ؟ فَقَالَ : "اَلشَّعِثُ التَّفِلُ ". فَقَامَ آخَرُ فَقَالَ : يَا رَسُوُلَ اللهِ اَیُّ الْحَجِّ اَفُضَلُ ؟ قَالَ :" اَلْعَجُّ وَالثَّجُّ ". فَقَامَ آخَرُ فَقَالَ : يَا رَسُوُلَ اللهِ مَا السَّبِيُلُ ؟ قَالَ :" زَادٌ وَرَاحِلَةٌ " . رَوَاهُ فِی شَرُحِ السُّنَّةِ . وَرَوَی ابُنُ مَاجَه فِی سُنَنِهٖ اِلَّا اَنَّهٗ لَمُ يَذُكُرِ الْفَصُلَ الْاَخِيُرَ

ترجمه : او عبد الله بن عمر ﷺ فرمائي : يو سړي د رسول الله ﷺ نه تپوس وکړو وے فرمايل : د حاجي صفت او کيفيت څه دے ؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل : پراګنده (خړپړ) ويښتو والا، هغه چه د خولے او د ځيرو په وجه ترے بد بوئي ځي۔ نو بل يو تن پاڅيدو عرض ئے وکړو اے د الله رسوله ! کوم حج بهتر دے ؟ وے فرمايل : په لبيك سره آواز پورته کول او د قرباني يا هدي وينه تويه کول۔ نو بل يو تن پاڅيدو عرض ئے وکړو اے د الله رسوله ! سبيل څه شے دے ؟ (يعني په قرآن کريم کښے چه (مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا) وئيل شويدي نو ددے نه څه مراد دے؟) هغهٔ وفرمايل : توښه او سورلي۔ (شرح السنه) او ابن ماجهٔ په خپل سنن کښے دا روايت کړے مګر هغهٔ آخري حصه (يعني د العج والثج نه پس فقام آخر نه تر آخره پورے) نۀ ده ذکر کړے۔

تشريح : په (مَا) کلمے سره کله د جنس او کله د وصف په باره کښے تپوس کيږي نو دلته معنیٰ دا ده چه د حاجي صفت څه دے؟، او د حاج نه مراد کامل حاجي دے۔

اَلشَّعِثُ : پراګنده خړ پړ سر والا چه ډير وخت نه ئے وينځلے نۀ وي او نۀ ئے ګمنز کړے وي۔ مراد ترے نه هغه شخص دے چه زينت ئے نۀ وي کړے

التَّفِلُ : دا هغه شخص دے چه د خوشبوئي نۀ لګولو په وجه د هغهٔ نه بيکاره بوئي ځي۔

اَیُّ الْحَجِّ : يعني کوم کارونه او خصال د حج پس د ارکانو د هغے نه بهتر دي ؟ او د افضل نه مراد زيات ثواب والا دے۔

اَلْعَجُّ وَالثَّجُّ : عج په تلبيه باندے آواز پورته کول دي، او ثج د قربانئ (هدي) وينه بهيول دي۔ يعني قرباني کول، بُدنے حلالول۔ بعض وائي : چه ددے دواړو الفاظو ذکر کولو نه مراد ټول ارکان او کارونه د حج راګيرول دي، ځکه چه حج په احرام او تلبيه سره شروع کيږي او په قرباني ذبح کولو سره غالباً ختميږي، نو دلته ئے اکتفاء د اول او د آخر په ذکر کولو سره کړيده۔

مَا السَّبِيْلُ ؟ : يعني قرآن کريم کښے چه (مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا) راغلے دے، د هغه سبيل (لارے) نه څه مراد دے؟۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه الشافعي في الام (۲/۱۱۶) والترمذي

(٢٩٩٨) وابن ماجه (٢٨٩٦) والدارقطني (٢/٢١٧) رقم (١٠) وفيه ابراهيم بن يزيد السابق وقد تكلم فيه.

- 2528(24) وَعَنْ أَبِي رَزِيْنٍ الْعُقَيْلِيِّ ﷺ أَنَّهُ أَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّ أَبِيْ شَيْخٌ كَبِيْرٌ لَا يَسْتَطِيْعُ الْحَجَّ وَلَا الْعُمْرَةَ وَلَا الظَّعْنَ قَالَ : " حُجَّ عَنْ أَبِيْكَ وَاعْتَمِرْ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ

ترجمه : او ابو رزين عُقيلي ﷺ فرمائي : چه هغهٔ نبي كريم ﷺ ته راغلو عرض ئې وكړو اې د الله رسوله ! يقيناً زما پلار ډير بوډا دې، د حج او د عمرې او د سفر كولو طاقت نهٔ لري۔ (آيا زهٔ د هغهٔ د طرفنه حج او عمره كولې شم ؟) وې فرمايل : د خپل پلار د طرف نه حج او عمره وكړه۔ (ترمذيؒ، ابوداودؒ، نسائيؒ او امام ترمذيؒ وئيلي دي چه دا حديث حسن صحيح دې)۔

د ابورزين ﷺ تعارف

نوم ئې لقيط بن عامر العامري دې، رسول الله ﷺ ته د بني المنتفق په وفد كښې راليږلې وو۔ حافظ په تقريب كښې وائي : دا لقيط بن صبره دې، او د پلار نوم ئې عامر دې۔ مشهور صحابي دې، او كنيه ئې ابو رزين عقيلي ده۔ خو اكثر اهل علم وائي چه دا دوه كسان دي۔ انتهىٰ۔

تشريح : لَا يَسْتَطِيْعُ الْحَجَّ : يعني حج او عمرې ته پياده هم نشي تللې او په سورلئ هم نشي تللې۔

حُجَّ عَنْ أَبِيْكَ وَاعْتَمِرْ : دا حديث دليل دې چه څوى د خپل كمزوري پلار د طرف نه حج او عمره كولې شي۔

مسئله : آيا عمره واجب ده ؟

(٢) او د (اِعْتَمِرْ) امر نه دليل نيولې شويدې پدې خبره چه عمره واجب ده۔ او ددې په وجوب باندې د اهل الحديث يوې ډلې قول كړيدې او دا مشهور مذهب د شافعيؒ او احمدؒ دې او دې باندې اسحاقؒ او ثوريؒ او مزنيؒ قول كړيدې۔ او دا قول امام بخاريؒ په

خپل صحيح كښې غوره كړيدې.
او دا د عُمر، علی، زيد بن ثابت، ابن عباس، ابن عمر، عائشې ﷺ طاووسؒ، حسن بصریؒ، ابن سيرينؒ، سعيد بن جبيرؒ، مجاهدؒ، عطاءؒ، امام بخاریؒ او مباركفوریؒ قول دے.
امام احمدؒ وائی : په ايجاب د عمره كښې ددے حديث نه ډير كره او ډير صحيح حديث ما ته نهٔ دے معلوم.
مګر سندیؒ جواب كړيدے چه دلته خو امر شويدے په حج او عمره كولو سره د بل چا د طرف نه، او حال دا چه دا دواړه د بل د طرفنه واجب نهٔ دی نو معلوميږی چه دلته امر محمول دے په ندب او استحباب باندے.
شنقيطیؒ وائی : (وَاعْتَمِرْ) امر د ابو رزين ﷺ د سوال په جواب كښې راغلے دے او دا اصولی قاعده ده چه د منع يا د سوال نه روستو چه كوم امر راشی نو هغه دليل د جواز وی نهٔ د وجوب، ځكه چه جواب كښې واقع كيدل قرينه وی چه وجوب نهٔ دے مراد.
(۲) مشهور مذهب د مالكيه ؤ او د احنافو دا دے چه عمره واجب نهٔ ده بلكه سنت او مستحب ده. د امام مالكؒ، امام ابو حنيفهؒ او د امام احمدؒ په يو روايت كښې: عُمره واجب نهٔ بلكه سنت ده، او ديته شيخ الاسلام ابن تيميهؒ، امام ابن قيمؒ، علامه شوكانیؒ او امام صنعانیؒ غوره ويلی دی.
د وجوب دلائل : ۱- يو دا حديث الباب دليل دے.
۲- حديث د جابر ﷺ كښې مرفوعاً دی : [اَلْحَجُّ وَالْعُمْرَةُ فَرِيْضَتَانِ]
(حج او عمره فرض دی) (ابن عدیؒ، بيهقیؒ)
ليكن دا روايت د ابن لهيعهؒ د وجه نه ضعيف دے. ابن عدیؒ وائی دا روايت د جابر ﷺ نه محفوظ نهٔ دے.
۳- دليل : دويم حديث د فصل ثانی كښې دی :
[أَعَلَى النِّسَاءِ جِهَادٌ ؟ قَالَ: نَعَمْ، عَلَيْهِنَّ جِهَادٌ لَا قِتَالَ فِيْهِ، الْحَجُّ وَالْعُمْرَةُ]
په دے كښې [عَلَيْهِنَّ] لفظ راغلے او (عَلیٰ) د الزام او وجوب دپاره راځی، نو معلومه شوه چه په زنانو باندے حج او عُمره واجب ده.
ليكن جواب دا دے چه ((علیٰ)) لفظ په وجوب كښې صريح نهٔ دے، بلكه د وجوب او سنت مؤكد دواړو دپاره راځی. نو كله چه د وجوب دپاره وی نو د بهر نه به دليل راوړل

ضروري وي، او دلته قوي دليل نشته.

٤- دليل: مخكښې روايت د ابن مسعود ﷺ تير شو [تَابِعُوا بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ] دے كښې هم امر په عمره باندے راغلے دے. (ددے جواب هم مخكښې ذكر شو)

٥- آيت كښې دي: ﴿وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ﴾ [البقرة]

دلته د حج سره په عُمرے هم امر راغلے او امر د وجوب دپاره وي.

جواب: دلته امر په اتمام اوپوره كولو باندے راغلے او اتمام د شروع كولو نه پس وي، يعنې كله چه څوك د حج يا عُمرے احرام وتړي نو په اتفاق د علماؤ سره ددے پوره كول واجب دي، نو يو د عُمرے شروع كول دي، او بل ددے پوره كول، اول سنت او دويم واجب دي.

دلائل د عدم وجوب: ١- په حديث د جابر ﷺ كښې دي چه يو اعرابي د رسول الله ﷺ نه تپوس وكړو؟ يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أَخْبِرْنِي عَنِ الْعُمْرَةِ، أَوَاجِبَةٌ هِيَ؟ فَقَالَ: (لَا، وَأَنْ تَعْتَمِرَ خَيْرٌ لَكَ) رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالرَّاجِحُ وَقْفُهُ.

آيا عمره واجب ده؟ وے فرمايل: نه، مگر كه ته عمره كوے نو ستا دپاره بهتره ده. (احمد، بيهقي، ترمذي)

جواب: پدے روايت كښې حجاج بن ارطاة ضعيف دے، او مدلس راوي دے او دا روايت ئے په عَنْ سره نقل كړے. او د ترمذي تصحيح كښې نظر دے، ځكه چه حجاج د اكثرو محدثينو په نيز ضعيف دے.

او په روايت د ابن عدي (٤/١٥٠) كښې ابوعصمه كذاب دے.

٢- دارقطنيّ او ابن حزمؒ او بيهقيّ د ابو هريره ﷺ نه مرفوع روايت راوړيدے: [اَلْحَجُّ جِهَادٌ وَالْعُمْرَةُ تَطَوُّعٌ] (حج جهاد دے او عمره نفلي عبادت دے).

ليكن دے روايت ته حافظ ضعيف وئيلے دے. او ابن ماجه كښې د طلحه ﷺ نه ددے په شان روايت دے ليكن هغه هم ضعيف دے. حافظ وائي: ددے نه هيڅ روايت صحيح نهٔ دے. او شوكانيّ په مجموع الطرق سره ورته حسن وئيلے دے.

شوكانيّ د دواړو فريقينو د دلائلو ذكر كولو نه روستو وئيلي دي چه حقه خبره دا ده چه عمره واجبه نهٔ ده، ځكه چه اصل برائت د ذمے دے، او ددے نه به انتقال نشي كيدے

مګر په داسې دلیل سره چه په هغې باندې تکلیف راځي،
او دلته داسې دلیل نشته چه هغه وجوب د عمرې ثابت کړي سره ددې نه چه د عدم وجوب احادیث ددې تائید کوي، او دارنګه د [بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلٰى خَمْسٍ] حدیث ئې هم تائید کوي. او الله تعالیٰ قرآن کښې په آیت ﴿وَلِلّٰهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ﴾ کښې صرف حج ذکر کړیدې.
او دارنګه ددې تائید ددې نه هم کیږي چه یو سړي وویل : [لَا اَزِيْدُ عَلٰى هٰذَا وَلَا اَنْقُصُ...... لَئِنْ صَدَقَ لَيَدْخُلَنَّ الْجَنَّةَ]
او علامه عبد الرحمن مبارکفوريؒ (صاحب تحفة الاحوذی) د عمرې د وجوب دلائل ذکر کولو نه روستو فرمائي : زما په نیز ظاهر وجوب د عمرې دې.
شنقیطيؒ د جانبینو دلائل ذکر کولو نه روستو فرمائي : هغه خبره چه ما ته ښکاره کیږي هغه دا ده چه دواړو فریقینو چه کوم احادیث ذکر کړل دا د حسن لغیره درجې نه کم نۀ دي، لهذا د دواړو ترمینځ ترجیح لازم ده، او شوکانيؒ عدم وجوب راجح کړیدې د وجه د براءت اصلیه نه لیکن د اصول الحدیث د قواعدو مطابق دلائلو د جوب ته ترجیح ډیره لائق ده په دلائلو د عدم وجوب او دا په درې طریقو سره ده :
(۱) اول : اکثر اصولین هغه خبر ته ترجیح ورکوي چه هغه د اصل نه نقل کونکې وي په هغه خبر باندې چه هغه په اصل برائت باندې باقي پریخودونکې وي.
(۲) د اصولینو یوه ډله هغه خبر ته ترجیح ورکوي چه په وجوب دلالت کوي په هغه خبر باندې چه په عدم وجوب دلالت کوي. او ددې وجه احتیاط دې او د طلب د ذمه واریٔ نه وتل دي. (۳) که د وجوب والا په قول عمل وکړې شې نو په اجماع د اهل علمو سره ستا ذمه د مطالبې نه فارغه شوه، او که تۀ هغه د وجوب په طریقه نۀ ادا کوې نو د ډیرو علماؤ په قول به ستا نه مطالبه کیدې شي. او نبي کریم ﷺ فرمائي :
[دَعْ مَا يَرِيْبُكَ اِلٰى مَا لَا يَرِيْبُكَ] او فرمائي : [فَمَنِ اتَّقَى الشُّبُهَاتِ فَقَدِ اسْتَبْرَأَ لِدِيْنِهٖ وَعِرْضِهٖ].
حُجَّ عَنْ اَبِيْكَ وَاعْتَمِرْ : نه بله مسئله دا معلومیږي چه حج د بل چا د طرف نه جائز دې. لکه چه ددې تفصیل مخکښې تیر شو او بعض تفصیل ئې روستو حدیث کښې راروان دې.

درجة الحديث : اسناده صحيح : ابوداود (۱۸۱۰) والترمذی (۹۱۰) وثانی حديث

حسن صحيح والنسائي (۵/۱۱۱) وابن ماجه (۲۹۰۶) وابن حبان (۹۶۱) والحاكم في المستدرك (۱/۴۸۱) وقال صحيح على شرط الشيخين وأقره الذهبي ونقل المنذري في مختصر سنن أبي داود (۲/۳۳۳) عن الامام احمد قوله : لا أعلم في إيجاب العمرة حديثا أجود من هذا ولا أصح منه.

- 2529(25) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قال : إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ سَمِعَ رَجُلًا يَقُوْلُ : لَبَّيْكَ عَنْ شُبْرُمَةَ. قَالَ : (مَنْ شُبْرُمَةُ ؟) قَالَ : أَخٌ لِيْ، أَوْ قَرِيْبٌ لِيْ، قَالَ : (أَحَجَجْتَ عَنْ نَفْسِكَ ؟) قَالَ : لَا. قَالَ: (حُجَّ عَنْ نَفْسِكَ، ثُمَّ حُجَّ عَنْ شُبْرُمَةَ) رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ وأَبُوْدَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَةَ.

ترجمه : ابن عباس ﷺ نه روايت دے، نبي ﷺ د يو سړي نه واوريدل چه هغهٔ ويل : لَبَّيْكَ عَنْ شُبْرُمَةَ (اے الله ! زهٔ د شبرمه له طرفه تاته حاضر يم) نبي کريم ﷺ وفرمايل : شبرمه څوك دے ؟ هغهٔ ويل : زما ورور يا (ئے وويل) زما نزدے رشته دار دے۔ نبي کريم ﷺ وفرمايل : آيا تا د خپل طرفه حج کړے ؟ هغهٔ ويل : نه، نبي کريم ﷺ وفرمايل : اول د خپل ځان له خوا حج وکړه او بيا روسته د شبرمه له خوا حج کوه۔ (ابوداودٌ، ابن ماجهٌ، ابن حبانٌ ديته صحيح ويلي او د احمدٌ په نيز ددے موقوف کيدل راجح دی)۔

تشريح : لَبَّيْكَ عَنْ شُبْرُمَةَ: يعني د شبرمه د طرف نه تا ته حاضريم۔ يعني په حج او عمره کښے د هغهٔ د طرف نه نائب يم۔

شبرمه : دا صحابي دے او د رسول الله ﷺ په ژوند کښے وفات شويدے۔

أَخٌ لِيْ، أَوْ قَرِيْبٌ: دلته (أو) د شك دپاره دے، راوي ته شك لګيدلے چه هغه سړي داسے وويل چه شُبرمه زما ورور دے يا ئے داسے وويل چه زما خپلوان دے۔

فوائد الحديث : (۱) حديث نه معلومه شوه چه چا خپله فرضي حج نهٔ وي کړے نو هغه د بل چا له طرفه حج نشي کولے۔

د ابن ماجهٌ او ابن حبانٌ په روايت کښے راغلي :

((دا حج د خپل ځان د طرفنه وګرځوه، بيا د شبرمه د طرفنه حج کوه))

دے نه معلومه شوه چه څوك د بل د طرفه حج کوي او خپله ئے حج نهٔ وي کړے نو دا حج ددهٔ د طرفنه جوړيږي او کوم مال ئے چه د هغه سړي نه اغستے هغه به ورته واپس

کړي۔

ابـن حبانؒ وائي : اِجْعَلْ هٰذِهٖ عَنْ نَفْسِكَ۔ کښې امر د وجوب دے۔ او ثُمَّ حُجَّ عَنْ شُبْرُمَةَ ۔ امر د اباحت دے۔

(۲) او معلـومـه شـوه چـه د خپل خپلوان دپاره حج بدل کول او د هغهٔ نه په حج کښې نـائب کيدل جائز دی، برابره خبره ده که هغه کس ژوندے وی خو د حج کولو نه عاجز وی او يا مړ وی۔ ځکه که عاجز نهٔ وی او يا فی الحال عاجز وی خو د عجز لرے کيدو اميد ئے وی نو بيا نائب نشی مقررولے۔

(۳) څـوك چه د چا د طرفنه حج کوی نو مستحبه داده چه د تلبيے ويلو په وخت د هغهٔ نـوم ذکـر کړی۔ کـه هـغـهٔ يـواځے په حج کولونائب مقرر کړے وی نو،د تلبيه په وخت به [لَبَّيْكَ حَجًّا عَنْ فُلَانٍ] وائی، اوکه عُمره ترے کوی نو [لَبَّيْكَ عُمْرَةً عَنْ فُلَانٍ]

اوکـه دواړه ترے کوی نو [لَبَّيْكَ حَجًّا وَعُمْرَةً عَنْ فُلَانٍ] بـه وائـی، د فلانی نوم به اخلی، اوکـه د هـغـهٔ نـوم تـرے هيـر شو نو باك نهٔ لری ځکه په زړهٔ کښے خو ئے د هغهٔ دپاره نيت کړے۔

(٤) مـفـتـی او عـالـم دپاره پکار دی چه په احتمالی څيزونو کښے وضاحت طلب کړی، لـکـه دلته نبی کريم ﷺ هـغـهٔ تـه وفـرمـايـل: شبرمه څوك دے ؟ ځکه ممکنه ده چه دے نـاپـوهـه وی، تـلـبيـه د شبـرمـه د طـرفـنه وائی او مقصد ئے خپل ځان وی، او کله چه پته ولګيده چه شبرمه بل څوك دے نو حکم ئے ورته بيان کړو۔

(٥) څـوك چـه د چا د طـرفـنه په حج کولو نائب جوړيږی نو هغهٔ له مناسب نهٔ دی چه ددے نـه مـقـصـد ددهٔ مـال ګـټـل وی ځـکـه د نيـکـئ په کارونو رزقونه اغستل د نيکانو طـريـقـه نـهٔ ده۔ بـلـکـه پـکـار ده چه هغهٔ سره احسان او ښيګړه او د هغهٔ ذمه فارغول ئے غـرض وی، او ورسـره ددے عـزتـمـنـو ځايونو ليدل او په هغے کښے عبادت کول ئے غرض وی، چه په دے سره دا کس د محسنينو نه حسابيږی۔

اوکوم مال چه د هغه کس له طرفه اخلی نو هغه په مناسبه طريقه خرچ کول پکار دی اوکـه څـهٔ تـرے پـاتـے شی نو بيرته ئے ورته واپس کول پکار دی۔ دغه شان هغهٔ چه د کوم عبادت دپـاره دا نـائب مقرر کړے نو دهٔ له پکار دی چه د هغهٔ دا حج يا عمره په ښے طريقے سره ورلـه ادا کـړی او په هيڅ يو کار او عبادت کښے سستی ونهٔ کړی، ولے چه دا امانتدار

کنټرل شوے۔

او چونکه دا وکیل دے نو د خپل مُوکل نه دے پوره وضاحت وغواړي چه هغه ئے د حج دپاره وکیل جوړوي اوکه عُمرے دپاره، او د حجِ قِران یا تمتع دپاره اوکه حج افراد دپاره؟ که چرے نائب دا شرط ولګوي چه عُمره به زما دپاره وي او حج به ستا دپاره او موکل ورسره موافقه وکړي، نو دا هم جائز ده۔

او کوم قولي او فعلي مناسك او د حج کارونه چه نائب کوي، نو دا د موکل دپاره حسابیږي،

البته ددے نه زیاتي چه نور کوم عبادتونه وي لکه مونځ، تلاوت، صدقه، ذکر او دعاء نو دا د نائب دپاره دي۔ والله تعالیٰ اعلم۔

مسئله : آیا نائب دپاره مخکښے خپله حج کول ضروري دي او که نهٔ ؟

پدے کښے **اختلاف** دے؟ (۱) نو امام شافعیؒ، امام احمدؒ، اوزاعیؒ او اسحاقؒ فرمائي: ضروري دي، که نهٔ وي نو نیابت نهٔ صحیح کیږي۔ او دلیل کښے دا حدیث پیش کوي۔

(۲) امام مالكؒ، ثوريؒ او امام ابوحنیفهؒ فرمائي: مخکښے خپله حج کول شرط نهٔ دي ځکه په حج کښے نیابت کول جائز دي، نو داسے شوه لکه یو سړے د بل چا قرض ادا کړي او خپله پرے قرض وي هغه ئے نه وي ادا کړے، د بل چا زکاة ادا کړي او خپله ئے نهٔ وي ادا کړے نو هغه درست دے۔ اګرکه خپله په تاخیر سره ګنهګاریږي که وس ئے کیږي۔

دوئ دلیل دا پیش کوي چه مخکښے د ابن عباسؓ حدیث تیر شو، په هغے کښے نبي ﷺ هغه خثعمیه ښځے ته وفرمایل: [حُجِّي عَنْهُ] (ددهٔ د طرفنه حج وکړه) دلته نبي ﷺ د دغه ښځے نه دا پوښتنه ونهٔ کړه چه تا خپله حج کړے اوکه نهٔ ؟

ددے نه اول قول والا جواب کوي چه رسول الله ﷺ ته معلومه شوے وه چه دے ښځے مونږ سره حج وکړو اُوس د خپل پلار په باره کښے تپوس کوي ځکه چه هغه تپوس په حجة الوداع کښے په منیٰ کښے د جمره عقبے د ویشتو نه روستو وو چه عام افعال د حج شوي وو۔ لکه دا خبره صاحب د فتح الملهم شرح مسلم (۳/۳۷۲) ذکر کړیده او په هغه احناف علماؤ ئے رد کړے چه هغه دا حدیث په استحباب باندے حمل کوي۔

ابن قدامهؒ د زکاة او د حج ترمینځ فرق بیانوي چه حج د زکاة نه پدے طریقه جدا دے

چه په زکاة کښې د بل چا نيابت جائز دے، اګرکه په هغۀ باندے بعض زکاة پاتے وی، او دلته دا جائز نۀ ده چه يو تن په حج کښې شروع وکړی او د هغے د پوره کولو نه مخکښې هغه د بل چا د طرف نه وګرځوی۔ آه۔

دارنګه ددے مثال داسے دے چه يو تن باندے خپله قرض وی او ددۀ نه د هغے مطالبه کيږی، او ددۀ سره د هغے په اندازه روپۍ وی نو دۀ له نۀ دی جائز چه هغه د خپل قرض نه سوئ په بل شی کښې ولګوی۔

احناف د حديث د شبرمه نه جوابونه کوی۔ يو دا چه دا مضطرب دے په مابين د رفع او وقف کښے۔ يا مرسل دے او د قتادهؒ عنعنه پکښے ده۔ او هغه په تدليس مشهور دے۔

ليکن ددے **جواب** دا دے چه دا حديث موقوف او مرفوع دواړه روايت شوے، لکه چه روستو راځی او که موقوف شی نو بيا دا د يو داسے صحابی خبره ده چه ددے خلاف ثابت نۀ دے۔

دويم داسے وائی چه حديث د شبرمه نه استحباب معلوميږی او حديث د خثعميه نه جواز۔ يعنی که يو تن د بل د طرف نه د حج کولو نه مخکښے خپله حج وکړی نو دا به بهتره وی او که خپله ئے ونکړی نو جائز به وی۔ (قاله ابن همامؒ)

جواب دا دے چه د دواړو حديثونو ترمينځ هيڅ تعارض نشته، چه مونږ تطبيق او جمع ته محتاج شو بلکه حديث د شبرمه خاص دے او حديث د خثعميه عام دے، او دا قاعده ده چه د عام او د خاص ترمينځه هيڅ تعارض نۀ وی، بلکه خاص به فيصله کونکے وی په عام باندے۔

او عام به حمل وی په خاص باندے۔ نو ګويا که د خثعميه د حديث مطلب به دا شی چه (حج وکړه د خپل پلار نه خو پدے شرط چه تا خپله حج کړے وی) لکه ددے حديث د شبرمه نه دا شرط والے معلوميږی۔

لهذا حديث د شبرمه په استحباب باندے حمل کولو دپاره هيڅ دليل ثابت نشو۔ لکه چه د صاحب د فتح الملهم په عبارت کښے ذکر شو۔

او پدے جواب سره دا خبره هم ضعيفه شوه چه څوک وائی چه حديث د شبرمه منسوخ دے، يا د دغه مخاطب پورے خاص دے۔ دا جوابونه به هله صحيح وے چه کله د دواړو حديثونو ترمينځ تعارض وے، او دلته د تعارض هيڅ صورت پاتے نشو۔ نو

خاص به مقدم وي په عام باندې. او تخصيص د حکم په يو شخص پورې خلاف الاصل دې، او دلته مُخصص هم نشته.

لهذا اولنی قول راجح دې.

درجة الحديث : اسناده صحيح : أخرجه أبوداود : ۱۸۱۱، ابن ماجه: ۲۹۰۳، ابن حبان: ۳۹۸۸، الدارقطني: ۲/۲۷۰، البيهقي: ۵/۳۳۶ وقال إسناده صحيح ليس في هذا الباب أصح منه.

- 2530(26) وَعَنْهُ ﷺ قَالَ: وَقَّتَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لِأَهْلِ الْمَشْرِقِ الْعَقِيْقَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ.

ترجمه : او د ابن عباس ﷺ نه روايت دې چه نبي ﷺ د مشرق والو دپاره عقيق ميقات مقرر کړې. (ترمذيؒ، ابوداودؒ)

تشريح : لِأَهْلِ الْمَشْرِقِ: نه مراد اهلِ عراق دي. او هغه خلق چه د حرم نه بهر د مکې مشرقي طرف کښې تر آخر سر د مشرقي ښارونو پورې چه دې ته عراقيان وائي.

الْعَقِيْقَ : دا يو لوئې ميدان دې چه د مکې په مشرقي طرف کښې واقع دې او د (ذات عرق) سره شرقًا برابر دې، دا د ذاتِ عرق نه (۲۰) او د مکې نه (۱۲۰) کلوميټره لرې دې.

او ددې نه هغه وادي عقيق نهٔ دې مراد کوم چه په مدينه کښې دې.

دا روايت ضعيف دې، دې وجې نه قابلِ عمل نهٔ دې.

درجة الحديث : إسناده ضعيف : أحمد ۳۴۴/۱، أبوداود: ۱۷۴۰، ترمذي: ۸۳۲، بيهقي: ۲۸/۵، فيه يزيد بن ابي زياد يروى عن محمد بن على بن عبد الله بن عباس ومحمد بن على يروى عن جده ابن عباس وزيد ضعيف ومحمد بن على لم يعلم له سماع عن جده كما قال مسلم فى كتاب ((التمييز)) ففيه انقطاع ايضا.

- 2531(27) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ وَقَّتَ لِأَهْلِ الْعِرَاقِ ذَاتَ عِرْقٍ . رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها فرمائي : رسول الله ﷺ د عراق والو دپاره ذات عرق

ميقات مقرر کړے۔ (ابوداوَدٌ، نسائیؒ)

تشريح : ذَاتَ عِرْقٍ : ددے بيان مخکښې ذکر شو، دا مشرقي طرف د مکے دے او د عقيق نه شاته دے۔

ابن الملك وائي : ګويا که رسول الله ﷺ د مشرق والو دپاره دوه ميقاته مقرر کړل، عقيق او ذات عرق نو چا چه د عقيق نه احرام وتړلو مخکښې ددے نه چه ذات عرق ته ورسيږي نو دا افضل ده۔ او څوك چه د عقيق نه واوړي او د ذات عرق نه احرام تړي نو دا جائز ده او هيڅ شے پرے نشته۔ ليکن مخکښې ذکر شو چه د عقيق والا روايت ضعيف دے۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه أبوداود : ۱۷۳۹) والنسائي (۵/۱۲۵) والدارقطني (۲/۲۳٦) (رقم ۵)

- 2532(28) وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ : "مَنْ أَهَلَّ بِحَجَّةٍ أَوْ عُمْرَةٍ مِنَ الْمَسْجِدِ الْأَقْصٰى إِلَى الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ أَوْ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ . رَوَاهُ أَبُوْدَاوٗدَ وَابْنُ مَاجَهُ

ترجمه : او ام سلمه رضی الله عنها فرمائي : ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه هغهٔ فرمايل : چا چه د مسجد اقصیٰ نه تر مسجد حرام پورے د حج يا د عمرے احرام وتړلو هغهٔ ته به مخکني او روستني ګناهونه ويخښلے شي يا ئے داسے وفرمايل : چه هغهٔ دپاره به جنت واجب شي۔ (ابوداوَدٌ، ابن ماجهٌ)

تشريح : أَوْ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ : دا (أَوْ) د راوي شك دے، چه مخکني الفاظ ئے وئيلي دي يا ئے روستني الفاظ۔ خطابيٌ وئيلي دي چه ددے حديث نه دليل نيولے کيږي چه احرام د ميقات نه مخکښې ډير وړاندے ځاى نه هم تړل جائز دي لکه چه ددے مسئلے تفصيل مخکښې ذکر شويدے او دا روايت ضعيف دے،

او کومو روايتونو کښې چه د عمر فاروق او عثمان رضی الله عنهما نه انکار نقل دے په هغه چا باندے چه د ميقات نه مخکښې ئے احرام تړلے وو نو هغه په دے وجه چه څوك په دين کښې بدعت پيدا نکړي او د ميقات معنیٰ ختمه نشي او د رسول الله ﷺ طريقه

څوك خرابه نكړي.
او بل ئے منع د شفقت په وجه كړيده چه د مسافت د لرے والي د وجه نه به محرم ته داسے آفت راپيښ شي چه ددۀ احرام به خراب كړي. (معالم السنن والمرعاة)

درجة الحديث : إسناده ضعيف لجهالة ام حكيم بنت أمية ولاضطرابه. اخرجه احمد (٦/٢٩٩) وأبوداود (١٧٤١) وابن ماجه (٣٠٠١) (٣٠٠٢) والدارقطني (٢/٢٨٣) رقم (٢١٠) والبيهقي في الكبرى (٥/٣٠)

الفصل الثالث

- 2533 (29) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ﷺ قَالَ : كَانَ أَهْلُ الْيَمَنِ يَحُجُّوْنَ فَلَا يَتَزَوَّدُوْنَ وَيَقُوْلُوْنَ: نَحْنُ الْمُتَوَكِّلُوْنَ فَإِذَا قَدِمُوْا مَكَّةَ سَأَلُوا النَّاسَ فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالٰى : ﴿وَتَزَوَّدُوْا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوٰى﴾. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه : عبد الله بن عباس ﷺ فرمائي : يمن والو به حج كولو نو توښے به ئے نۀ راوړلے او وئيل به ئے چه مونږ توكل كونكي يو. بيا چه كله به مكے ته راغلل نو د خلقو نه به ئے سوالونه كول نو الله تعالىٰ آيت نازل كړو : وتزودوا الخ ترجمه : او توښه راوړئ بيشكه غوره توښه تقوىٰ ده. (بخاريؒ)

تشريح : فَلَا يَتَزَوَّدُوْنَ : صحيح لفظ په روايت د بخاري او سنن ابي داود وغيره كښے په (وَلَا يَتَزَوَّدُوْنَ) دے په واو سره. څكه چه دا حال دے او مشكاة كښے د ناسخينو د قلم نه سهوه لګيدلے ده.

قَدِمُوْا مَكَّةَ : يعني په لاره به ئے هم سوالونه كول او په مكه كښے به ئے هم كول. يا دومره معمولي توښه به ئے راواخسته چه په لاره به ورته ختمه شوه بيا به ئے په مكه كښے سوالونه شروع كړل.

وَتَزَوَّدُوْا : يعني د طعام نه توښه ځان سره واخلئ او د خلقو د سوالونو او د هغوى د تنكولو او په هغوى باندے د بوچ كيدو نه ځان وساتئ څكه چه غوره توښه ځان بچ كول دي د سوالونو نه.

شوكانيؒ وائي : پدے جمله كښے دا خبر وركول دي چه غوره تقوىٰ د منهياتو نه ځان

ساتل دي نو گويا كه داسې ئې وفرمايل :

[إِتَّقُوا اللّٰهَ فِيْ اِتْيَانِ مَا أَمَرَكُمْ بِهٖ مِنَ الْخُرُوْجِ بِالزَّادِ فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوٰى] ـ

يعنې د الله نه ويريږئ په هغه كار كښې چه الله تعالىٰ تاسو ته حكم كړيدے چه هغه د توښې سره راوتل دي ځكه چه غوره توښه تقوىٰ ده۔ يعنې د توښې نه بغير همدا راوتل د شريعت خلاف دي او د تقوىٰ مخالفت كول دي۔

او بعض وائي : معنىٰ دا ده : غوره توښه هغه ده چه مسافر په هغې سره ځان د هلاكت او سوال ته د حاجت نه ځان وساتي۔ انتهى۔

دے خلقو توكل ته د توښې درجه وركړے وه او دا عقيده ئې جوړه شوے وه چه حج دپاره ضروري اخراجات پوره كولو نه بغير توكل بهترين شے دے، ليكن په حقيقت كښې نۀ خو هغه توكل وو او نۀ دا كومه غوره خبره وه چه د حج دپاره مكې ته په رسيدو كښې خلقو ته لاسونه اُوږده كړي چه دا د انساني شرافت او عظمت خلاف ده پدے وجه ئې وفرمايل چه د تولو نه لويه او بهترينه خبره دا ده چه د ځان سره توښه واخله او د سوال نه ځان وساته۔

دا آيت او حديث ښكاره دليل دے چه توكل دے ته نۀ وائي چه انسان اسباب معطل (بيكاره) كړي، بلكه اسباب استعمالول او الله تعالىٰ باندے يقين كول بعينهٖ توكل دے۔

علامه قسطلانیؒ فرمائي : پدے حديث كښې د توكل بدي نشته بلكه دوئ چه كوم كار كولو نو دا تاكل وو نۀ توكل۔

يعنې د خلقو نه خوراكونه كول وو، ځكه چه توكل دے ته وائي چه د اسبابو نه دِے نظر پورته شي سره ددے نه چه اسباب به دِے اختيار كړي وي۔

او بالكليه د اسبابو پريخودو ته توكل نۀ وائي۔ نو متوقع يا واقع كيدونكے ضرر دفع كول د توكل منافي نۀ دي، بلكه واجب دي لكه د راپريوتونكي ديوال نه منډه وهل يا نورئ په اُوبو سره تيره ول۔

درجة الحديث : اسناده صحيح : اخرجه البخاري (۱۵۴۱)

- 2534 (30) وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ : قُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ عَلَى النِّسَاءِ جِهَادٌ ؟ قَالَ :" نَعَمْ عَلَيْهِنَّ جِهَادٌ لَا قِتَالَ فِيْهِ : اَلْحَجُّ وَالْعُمْرَةُ ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ

ترجمه : او عائشه رضي الله عنها فرمائي : ما وویل : اے د الله رسوله ! آیا په زنانو باندے جهاد شته؟ وے فرمایل : آؤ، په دوئ باندے داسے جهاد دے چه قتال (جنګ پکښې نشته، یعنی حج او عمره. (ابن ماجهٓ)

تشریح : دے نه معلومه شوه چه اسلام په زنانو باندے جهاد فرض کړے نۀ دے لیکن چونکه دا یو داسے عظیم سعادت دے چه ددے نه غالباً زنانه محرومه پاتے کیږی، پدے وجه د دوئ په حق کښے حج او عمرے ته د جهاد درجه ورکړے شوه چه دوئ ته به د جهاد د ثواب سعادت ملاویږی.

په حج او عمره کښے اګرکه قتال او جنګ جګړه نۀ وی لیکن پدے کښے د سفر مشقت، د کور والو نه او د وطن او د دوستانو نه جدائی، او په کارونو د حج کښے مشقت برداشت کول داسے دی لکه څنګه چه په جهاد کښے وی، پدے وجه زنانه کمزورے مخلوق دے نو د دوئ په حق کښے حج او عمره د جهاد په شان شوه.

دا روایت د هغه چا دپاره دلیل دے چه عمرے ته واجب وائي. لکه چه مخکښے مسئله کښے ئے تفصیل وشو.

درجة الحدیث : اسناده صحیح : اخرجه ابن ماجه (۲۹۲۳)

- 2535(31) وَعَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ :" مَنْ لَمْ يَمْنَعْهُ مِنَ الْحَجِّ حَاجَةٌ ظَاهِرَةٌ أَوْ سُلْطَانٌ جَائِرٌ أَوْ مَرَضٌ حَابِسٌ فَمَاتَ وَلَمْ يَحُجَّ فَلْيَمُتْ إِنْ شَاءَ يَهُوْدِيًّا وَإِنْ شَاءَ نَصْرَانِيًّا ". رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ .

ترجمه : او ابو امامه ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمایل : چا لره چه د حج نه څه ظاهری ضرورت یا ظالم بادشاه یا بندونکی مرض منع نکړو او هغه مړ شو په داسے حال کښے چه حج ئے ونکړو نو هغه دِے مړ شي که غواړي یهودی او که غواړی نصرانی. (دارمیٓ)

تشریح : حَاجَةٌ ظَاهِرَةٌ : د ښکاره حاجت نه مراد دا دے چه توښه او د لارے سورلی نۀ

مونده کوی۔
أَوْ سُلْطَانٌ جَائِرٌ : یعنی ظالم بادشاه ئے په ظلم او سختئ سره منع کوی۔ یا دا چه په لاره کښے ظالم بادشاه ئے وژنی یا ترے مالونه اخلی۔
أَوْ مَرَضٌ حَابِسٌ : یا داسے بیماری وی چه منع کوی دۀ لره د سفر کولو نه ځکه چه ډیر سخت وی۔ نو د بدن سلامتیا هم د حج د فرضیت دپاره شرط دے۔
يَهُودِيًّا وَإِنْ شَاءَ نَصْرَانِيًّا : یعنی دۀ په خپل کتاب باندے عمل ونکړو سره ددے نه چه ایمان پرے لری او تلاوت ئے کوی او په بعض احکامو عمل کوی لکه یهود او نصاریٰ چه دغه شان دی۔
درجة الحديث : اسناده حسن : الدارمی (۲/۴۵) واخرجه سعید بن منصور فی السنن واحمد وابویعلی والبیهقی (۴/۳۳۴) کلهم من طریق شریك عن لیث بن ابی سلیم عن عبد الرحمن بن سابط عن ابی امامة وهذا اسناد ضعیف۔ قال المبارکفوری : وللحدیث شاهدان ضعیفان من حدیث علی وهو ثانی احادیث الفصل الثانی ومن حدیث ابی هریرة وقد تقدم تخریجه هناك مع الكلام علیه وله شاهد صحیح من قول عمر بن الخطاب ﷺ رواه سعید بن منصور والبیهقی فهو بمجموع الطرق لا یقصر عن كوم الحدیث حسنا لغیره وهو محتج به عند الجمهور۔

- 2536(32) **وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ : " اَلْحَاجُّ وَالْعُمَّارُ وَفْدُ اللهِ إِنْ دَعَوْهُ أَجَابَهُمْ وَإِنِ اسْتَغْفَرُوْهُ غَفَرَ لَهُمْ ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ**

ترجمه : او ابو هریره ﷺ د نبی کریم ﷺ نه ارشاد نقل کوی چه هغۀ فرمایلی : حاجیان او عمره کونکی د الله تعالیٰ وفد (میلمانۀ) دی، که دوی د هغۀ نه دعا غواړی قبلوی به ئے دوئ لره او که د هغۀ نه بخنه غواړی، بخنه به ورته کوی۔ (ابن ماجهٓ)
تشریح : **اَلْحَاجُّ** : پدے کښے الف لام جنسی دی، یعنی جنس حاجی۔ او دا د حجاج مفرد دے لیکن په معنیٰ کښے جمع دہ۔ حافظ ابن حجرؒ د حاج مفرد راوړو او د عمار جمع راوړو حکمت دا بیانوی چه پدے کښے اشاره ده چه حج د عمرے نه جدا حیثیت لری چه

حج کونکي انسان اګر که يو اځي وي نو دا ددې قابل دې چه د يو لوی وفد په ځای قائم شي- په خلاف د عمرې نه چه هغه په مرتبه کښې د حج نه روستو ده چه يو عمره کونکې د لوی وفد په ځای نۀ قائميږي-

مګر په روايت د ابن ماجه کښې په صحيح نسخو کښې او دارنګه په روايت د بزار، شعب الايمان او الترغيب د منذری کښې (الحجاج) په جمع لفظ سره راغلې دې-

وَالْعُمَّارُ : جمع عامر ده، په معنیٰ د مُعتمر (عمره کونکی) سره-

وَفْدُ اللهِ : دا اضافت د تشريف او تکريم دپاره دې- په اصل کښې وَفْدُ حَرَمِ اللّٰهِ دې-

يعنی د الله تعالیٰ د حرم ميلمانۀ دی- وفد هغه ميلمنو ته وائی چه د يو امير او بادشاه قصد لری د هغۀ د ملاقات يا د هغۀ نه د فائدو او تحفو حاصلولو وغيره ؤ، نو دلته معنیٰ دا ده چه دوئ په خپل سفر سره د الله تعالیٰ تقرب (او نزديکت) طلب کوی-

درجة الحديث : اسناده ضعيف : اخرجه ابن ماجه (۲۸۹۲) وقال في الزوائد : في إسناده صالح بن عبد الله قال فيه البخاري منكر الحديث- وقال في التقريب : مجهول.

- 2537 (33) وَعَنْهُ ﷺ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ : " وَفْدُ اللهِ ثَلَاثَةٌ الْغَازِيُ وَالْحَاجُّ وَالْمُعْتَمِرُ". رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائی : ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل چه فرمايل ئې : د الله تعالیٰ وفد (ميلمانۀ) درې قسمه خلق دی، د الله په لاره کښې د غزا په نيت وتونکې، حاجي او عمره کونکې- (نسائیؒ، بيهقیؒ شعب الايمان)

تشريح : وَفْدُ اللهِ : يعنیٰ هغه خلق چه د الله ميلمستيا ته ورتلونکي وی هغه دا درې قسمه خلق دی- او دا درې واړه د نورو مسلمانانو نه پدې وجه جدا دی چه دوئ بدنی او مالی او د خپل اهل نه د جدائی تکليفونه برداشت کوی- او د عبادت سفرونه غالباً هم دا درې دی نو ځکه ئې دا خاص ذکر کړل- او د هجرت سفر ئې ذکر نکړو ځکه چه يا خو حديث د هجرت د منقطع کيدو نه روستو وئيل شويدې،

يا پدې وجه چه هجرت هميشه نۀ وی، او د علم سفر غالباً اُوږد نۀ وی نو هغه هم ذکر نشو-

او حديث: [لَا تُشَدُّ الرِّحَالُ اِلَّا اِلٰى ثَلَاثَةِ مَسَاجِدَ]
(چه سفرونه به درے مساجدو ته کولے شی)۔
هغه د حج او عمرے په شان نهٔ دے نو هغه هم ذکر نشو۔ او دا هم کيدے شی چه دلته حصر مقصود نهٔ وی نو د نورو نفی نهٔ کوی۔

درجة الحديث: اسناده صحيح: أخرجه النسائي (٥/١١٣) رقم (٢٦٢٥) والبيهقي في شعب الايمان و كذا في السنن الكبرى (٥/٢٦٢) واخرحه ايضا ابن خزيمة (٢٥١١) وابن حبان (٣٦٩٢) في صحيحيهما وانظر صحيح الجامع الصغير (٧١١٢)

- 2538(34) وعَنِ ابْنِ عُمَرَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: " إِذَا لَقِيتَ الْحَاجَّ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ وَصَافِحْهُ وَمُرْهُ أَنْ يَسْتَغْفِرَ لَكَ قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ بَيْتَهُ فَإِنَّهُ مَغْفُوْرٌ لَهُ ". رَوَاهُ أَحْمَدُ

ترجمه: او ابن عمر ﷺ فرمائی: رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چه تهٔ د حاجی سره ملاؤ شے نو سلام پرے واچوه او هغهٔ سره لاس ملاؤ کړه او حکم ورته وکړه چه تا دپاره بخنه وغواړی مخکښے ددے نه چه کورته ننوځی ځکه چه هغهٔ ته بخنه شويده۔ (احمدؒ)

تشريح: لَقِيتَ الْحَاجَّ: يعنی حاجی چه کله د حج نه فارغ شی يا کله چه د حج نه کورته راواپس شی، او ددے په معنیٰ کښے عمره کونکے هم دے۔

فَسَلِّمْ عَلَيْهِ: يعنی هغهٔ طرفته جلتی وکړهٔ او سلام پرے واچوه او د تواضع په وجه هغهٔ سره مصافحه وکړه۔

أَنْ يَّسْتَغْفِرَ لَكَ: پدے کښے د حاجی په حق کښے ډيره لويه مبالغه شويده چه د هغهٔ د استغفار په وجه بل چا ته بخنه کيږی، اشاره ده چه هغه د ګناهونو نه بيخی پاك شويدے، او د پاك انسان دعا زر قبليږی۔

قَبْلَ أَنْ يَّدْخُلَ بَيْتَهُ: يعنی کورته د داخليدو نه مخکښے دا کارونه وکړه، وجه دا ده چه کله نا کله هغه کورته د داخليدو نه پس لهو او لعب او په غفلتونو کښے اخته شی۔ او دا قيد د اَوْلَوِيت دپاره دے۔ نو بهتره دا ده چه کورته د داخليدو نه مخکښے ترے استغفار

طلب کړے شي۔ او دا روايت دليل دے چه د بل نه طلب د استغفار جائز دے۔

دا روايت اګرکه ضعيف جدا او موضوع دے ليکن د بل نه دعاء او استغفار طلب کولو دپاره نور دلائل شته۔

او مسلمانان به د يو بل خير خواه وي، يو بل ته به دعاګانے کوي۔

مَغْفُوْرٌ لَهٗ : يعني واړه او غټ ګناهونه ئے معاف شويدي۔ سوئ د حقوق العباد نه۔ لکه په نورو احاديثو کښے ورسره دا قيد ذکر شويدے۔

درجة الحديث : اسناده موضوع : اخرجه احمد (۲/۶۹، ۱۲۸) وابن حبان في المجروحين (۲/۲۶۵) وفي إسنادِه ابن البيلماني واسمه محمد بن عبد الرحمن البيلماني وهو متهم بوضع نسخة ومحمد بن الحارث ضعيف، انظر السلسلة الضعيفة رقم (۲۴۱۱)

- 2539(35) وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ:" مَنْ خَرَجَ حَاجًّا أَوْ مُعْتَمِرًا أَوْ غَازِيًا ثُمَّ مَاتَ فِيْ طَرِيْقِهٖ كَتَبَ اللهُ لَهٗ أَجْرَ الْغَازِيْ وَالْحَاجِّ وَالْمُعْتَمِرِ ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ

ترجمه : او ابو هريره ﷺ فرمائي : رسول الله ﷺ وفرمايل : څوك چه حج کونکے يا عمره کونکے يا د غزا په نيت راووتو بيا په لاره کښے مړ شو الله تعالیٰ به هغهٔ دپاره د غازي او حاجي او عمره کونکي اجر ليکي۔ (بيهقيؒ شعب الايمان)

تشريح : غَازِيًا : يعني د الله په لاره کښے د غزا اراده لرونکے۔

فِيْ طَرِيْقِهٖ : يعني د عمل د پوره کيدو نه مخکښے مړ شي۔

كَتَبَ اللهُ لَهٗ أَجْرَ الْغَازِيْ : پدے باندے دليل دا آيت دے ﴿وَمَنْ يَّخْرُجْ مِنْۢ بَيْتِهٖ مُهَاجِرًا إِلَى اللهِ وَرَسُوْلِهٖ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهٗ عَلَى اللهِ﴾ (النساء : ۱۰۰)

(څوك چه د خپل کور نه الله او د هغهٔ رسول ته د هجرت په نيت ووتو بيا هغهٔ لره مرګ رالاندے کړو نو يقيناً چه د هغهٔ اجر په الله تعالیٰ باندے واقع شو)۔

درجة الحديث : اسناده ضعيف والحديث صحيح : اخرجه البيهقي في الشعب (۴۰۹۸) وَيُؤَيِّدُهٗ حديث ابی هريرة مرفوعاً بلفظ : (مَنْ خَرَجَ حَاجًّا فَمَاتَ كَتَبَ اللهُ لَهٗ أَجْرَ

الْحَاجِّ اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَمَنْ خَرَجَ مُعْتَمِرًا فَمَاتَ كُتِبَ لَهٗ اَجْرُ الْمُعْتَمِرِ اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَمَنْ خَرَجَ غَازِيًا فَمَاتَ كُتِبَ لَهٗ أَجْرُ الْغَازِي اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ) ذَكَرَهُ الْهَيْثَمِيُّ فِی مجمع الزوائد وقال رواه الطبرانی فی الاوسط وفیه جمیل بن أبی میمونة وقد ذکره ابن أبی حاتم ولم یذکر فیه جرحًا ولا تعدیلًا، وذکره ابن حبان فی الثقات ـ

صَحَّحَهُ الالبانی فی الصحیحة (۲۵۵۳) (۱۱٦/٦) وفیه عنعنة محمد بن اسحاق ولکن له اسناد آخر عن عطاء بن یزید اللیثی وتفصیله فی الصحیحة ، ویؤیده الآیة الکریمة.

تم المجلد الثامن من **الحق الصریح شرح مشکاة المصابیح** ویلیه الجزء التاسع ان شاء اللّٰه تعالیٰ، واوله باب الاحرام والتلبیة بعون اللّٰه العظیم الجبار

OOOO

فهرست مضامین الحق الصریح